کشف الباری
عما فی
صحیح البخاری

کشف الباری

عما فی

صحیح البخاری

تالیف ← صدر وفاق المدارس مولانا سلیم الله خان شیخ الحدیث
جامعه فاروقیه کراچی

کتاب الصلاة (۲)

خصوصیات

- ← داحادیثو تخریج
- ← د تعلیقات بخاری تخریج
- ← داسماء الرجال مختصر تعارف
- ← د گرانو لغاتو لغوی صرفی اونحوی حل
- ← ماقبل باب سره د ربط پوره تحقیق
- ← دشرحی دهري خبري لاندي په حاشیه کښې حواله
- ← د ترجمة الباب مقصد بیانولو کښې پوره تحقیق
- ← د مختلفو مذاهبو تحقیقی بیان اوبیا د مذهب حنفی ترجیح
- ← د بخاری د احادیثو اطراف خودل

خورونکی:← فیصل کتب خانه محله جنگی پیښور
موبائل:- ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵ .... ۰۳۱۵۹۵۹۵۷۱۷

دکتاب نوم:- کشف الباری عما فی صحیح البخاری

شارح:- صدر وفاق المدارس مولانا سلیم اللہ خان

شیخ الحدیث جامعہ فاروقیہ کراچی

د ملاویدو پتې: د فیصل کتب خانه پېښور څخه علاوه

- رحیمی کتب خانه خوست -- ۰۷۹۹۱۶۱۳۱۳
- اسلامی کتب خانه خوست--
- دیوبند کتب خانه خوست-- ۰۷۹۹۸۸۶۶۸۰
- روغانیول کتب خانه جلال آباد
- دعوت کتب خانه جلال آباد-- ۰۷۷۶۰۹۷۹۶۵
- رشیدیه جدید کتب خانه کابل
- انتشارات نعمانیه کابل
- انتشارات علامه تفتازانی کابل ۰۷۷۷۴۹۰۵۰۰--
- قدرت کتب خانه کابل--
- واحدی کتب خانه خوست
- صداقت کتب خانه کابل-- ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷
- مکتبة القرآن والسنة کابل
- مکتبه صدیقیه غزنی
- مکتبه فریدیه خوست
- مسلم کتب خانه جلال اباد-- ۰۷۷۶۰۰۶۴۱۶
- غزنوی کتب خانه غزنی -- ۰۷۴۸۵۷۵۱۹۹

خورونکی: ⬅ فیصل کتب خانه محله جنګی پېښور

موبائل:- ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵ .... ۰۳۱۵۹۵۹۵۸۱۷

اجمالی فہرست

شمیرہ	مضمون	صفحہ
۱۹	باب إذا أصاب ثوب المصلي امرأته إذا سجد	۲۷
۲۰	باب: الصلاة على الحصير	۲۹
۲۱	باب: الصلاة على الخمرة	۴۷
۲۲	باب: الصلاة على الفراش	۴۸
۲۳	باب: السجود على الثوب في شدة الحر	۵۹
۲۴	باب: الصلاة في النعال	۶۲
۲۵	باب: الصلاة في الخفاف	۷۱
۲۶	باب: إذا لم يتم السجود	۷۹
۲۷	باب: يبدي ضبعيه ويجافي في السجود	۹۰
۱۰	ابواب القبلة	۹۸
۱	باب: فضل استقبال القبلة	۹۸
۲	باب قبلة أهل المدينة وأهل الشام والمشرق	۱۲۷
۳	باب: قول الله تعالى: {واتخذوا من مقام إبراهيم مصلى} [البقرة:۱۲۵]	۱۳۹
۴	باب: التوجه نحو القبلة حيث كان	۱۲۸
۵	باب: باب ما جاء في القبلة، ومن لا يرى الإعادة على من سها، فصلى إلى غير القبلة	۲۰۴
۱۱	أبواب المساجد	۲۲۲
۱	باب حك البزاق باليد من المسجد	۲۲۲
۲	باب حك المخاط بالحصى من المسجد	۲۳۷
۳	باب: لا يبصق عن يمينه في الصلاة	۲۴۱
۴	باب: ليبزق عن يساره، أو تحت قدمه اليسرى	۲۴۵
۵	باب: كفارة البزاق في المسجد	۲۴۸
۶	باب: دفن النخامة في المسجد	۲۵۱

٧- بَابٌ: إِذَا بَدَرَهُ البُزَاقُ فَلْيَأْخُذْ بِطَرَفِ ثَوْبِهِ ٢٥٥
٨- بَابٌ: عِظَةِ الإِمَامِ النَّاسَ فِي إِتْمَامِ الصَّلَاةِ، وَذِكْرِ القِبْلَةِ ٢٥٩
٩- بَابٌ: هَلْ يُقَالُ: مَسْجِدُ بَنِي فُلَانٍ؟ ٢٧٣
١٠- بَابٌ: القِسْمَةِ، وَتَعْلِيقِ القِنْوِ فِي المَسْجِدِ ٢٨٠
١١- بَابٌ: مَنْ دَعَا لِطَعَامٍ فِي المَسْجِدِ وَمَنْ أَجَابَ فِيهِ ٢٩١
١٢- بَابُ القَضَاءِ وَاللِّعَانِ فِي المَسْجِدِ بَيْنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ ٢٩٥
١٣- بَابٌ: إِذَا دَخَلَ بَيْتًا يُصَلِّي حَيْثُ شَاءَ أَوْ حَيْثُ أُمِرَ وَلَا يَتَجَسَّسُ ٣٠٠
١٤- بَابٌ: المَسَاجِدِ فِي البُيُوتِ ٣١٣
١٥- بَابٌ: التَّيَمُّنِ فِي دُخُولِ المَسْجِدِ وَغَيْرِهِ ٣٣٠
١٦- بَابٌ: هَلْ تُنْبَشُ قُبُورُ مُشْرِكِي الجَاهِلِيَّةِ، وَيُتَّخَذُ مَكَانُهَا مَسَاجِدَ ٣٣٤
١٧- بَابٌ: الصَّلَاةِ فِي مَرَابِضِ الغَنَمِ ٣٦٤
١٨- بَابٌ: الصَّلَاةِ فِي مَوَاضِعِ الإِبِلِ ٣٦٦
١٩- بَابٌ: مَنْ صَلَّى وَقُدَّامَهُ تَنُّورٌ أَوْ نَارٌ، أَوْ شَيْءٌ مِمَّا يُعْبَدُ، فَأَرَادَ بِهِ اللّٰهَ ٣٧٤
٢٠- بَابٌ: كَرَاهِيَةِ الصَّلَاةِ فِي المَقَابِرِ ٣٨١
٢١- بَاب: الصَّلَاةِ فِي مَوَاضِعِ الخَسْفِ وَالعَذَابِ ٣٨٨
٢٢- بَابٌ: الصَّلَاةِ فِي البِيعَةِ ٣٩٥
٢٣- بَابٌ: قَوْلِ النَّبِيِّ a (جُعِلَتْ لِيَ الأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُورًا) ٤٠٧
٢٤- بَابٌ: نَوْمِ المَرْأَةِ فِي المَسْجِدِ ٤٠٩
٢٥- بَابٌ: نَوْمِ الرِّجَالِ فِي المَسْجِدِ ٤١٢
٢٦- بَابٌ: الصَّلَاةِ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ ٤٣٨
٢٧- بَابٌ: إِذَا دَخَلَ المَسْجِدَ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ ٤٤٨

.....

تفصيلي فهرست

صفحه	مضمون	شميره

١٩ – بَابُ إِذَا أَصَابَ ثَوْبُ الْمُصَلِّي امْرَأَتَهُ إِذَا سَجَدَ

دَ ترجمة الباب مقصد: ٢٧
دَ حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله رائې: ٢٧
ترجمه حديث: ٢٨
تراجم رجال: ٢٨
شرح حديث: ٢٨
دَ حديث مبارك دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ٢٨
دَ حديث مبارك نه مستفاد امور او آداب: ٢٩

٢٠ – باب: الصَّلَاةِ عَلَى الْحَصِيرِ

دَترجمة الباب مقصد: ٢٩
دَحضرت عائشه رضي الله عنها دَ اثر تخريج: ٢٩
دَ حصير تعريف: ٣٠
تعليق: ٣٠
دَتعليق ترجمه: ٣٠
دَ تعليق تخريج: ٣٠
دَ تعليق رجال: ٣١
دَتعليق دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ٣١
دَ حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله رائې: ٣١
دَ علامه ابن المنير رحمه الله رائې: ٣١
دَحافظ ابن حجر رحمه الله رائې: ٣٢
دَ علامه عيني رائې: ٣٢
په كشتئى كښې دَ مونځ كولو حكم او مسئلې: ٣٢
دَ حافظ بن حجر رحمه الله يو قول او دَ هغې جواب: ٣٢
دويم تعليق: ٣٣
دَ تعليق ترجمه: ٣٣
دَتعليق تخريج: ٣٣
دَ تعليق راوى: ٣٣
تشريح: ٣٤
ترجمه حديث: ٢٧
تراجم رجال: ٣٥
مُليكه: ٣٦
دَ "جدته" دَ ضمير مرجع: ٣٦

شرح حديث: ۳۷
په يوشان واقعاتو كښې د حضورپاك مختلف طرزعمل: ۳۷
د «فَلِأُصَلِّ لَكُمْ» تركيبي حيثيت: ۳۸
د حافظ صاحب په احنافو باندې رد او د هغې جواب: ۴۰
د يتيم معنى او مطلب: ۴۱
په حديث مذكوره كښې د يتيم مصداق څوك دې؟: ۴۱
د العجوز مصداق: ۴۲
د مذكوره حديث شريف نه مستنبط شوې امور او احكام: ۴۲
د صف جوړولو ترتيب: ۴۳
د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه مذهب: ۴۳
د ابن الملقن رحمه الله د احنافو طرف ته د يوې مسئلې په نسبت كښې سهو: ۴۴
د مذكوره سهو رد: ۴۴
د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه د مذهب جواب: ۴۴
د نوافل د جمع شرعي حكم: ۴۵
د تداعي مطلب او حكم: ۴۵
د علامه انور شاه كشميري رحمه الله رائې: ۴۵
د بعضې اكابرو په رمضان كښې نوافل په جمع سره اداكول: ۴۶
د محاذاة مسئله: ۴۶

۲۱- بَاب: الصَّلَاةِ عَلَى الْخُمْرَةِ

د ترجمة الباب مقصود: ۴۷
د شيخ الحديث صاحب رحمه الله رائې: ۴۷
ترجمه حديث: ۴۷
تراجم رجال: ۴۷
شرح حديث: ۴۸

۲۲- بَاب: الصَّلَاةِ عَلَى الْفِرَاشِ

د ترجمة الباب مقصد: ۴۹
د حضرت گنگوهي رحمه الله رائې: ۴۹
تعليق اول: ۴۹
د تعليق ترجمه: ۴۹
د تعليق راوي: ۴۹
د تعليق تخريج: ۵۰
دويم تعليق: ۵۰
د تعليق ترجمه: ۵۰
د تعليق تخريج: ۵۰
تشريح: ۵۰
د تعليق ترجمة الباب سره مناسبت: ۵۰

ترجمه: ۵۱
تراجم رجال: ۵۱
دَ حديث شرح: ۵۱
دَ حديث دَترجمة الباب سره مناسبت: ۵۳
دَمذكوره حديث شريف نه مستنبط فوائد او احكام: ۵۳
دَمونځ ګذار مخې ته كه څوك ښځه وى نودَ مونځ حكم: ۵۳
دَ مس مرأة دَ وجې نه دَ اودس حكم: ۵۴
تراجم رجال: ۵۵
شرح حديث: ۵۶
دَ روايت دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۵۶
ترجمه حديث: ۵۷
تراجم رجال: ۵۷
شرح حديث: ۵۹
دَ روايت دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۵۹

۲۳–بَاب: السُّجُودِ عَلَى الثَّوْبِ فِي شِدَّةِ الحَرِّ

دَ ترجمة الباب مقصد: ۵۹
تعليق: ۶۰
دَ تعليق ترجمه: ۶۰
دَتعليق تخريج: ۶۰
دَ تعليق رجال: ۶۰
دَ تعليق تشريح: ۶۱
دَ تعليق دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۶۱
په لستونړى باندې دَ سجدې كولو شرط: ۶۲
دَ پټكى په ول باندې دَ سجدې كولو حكم: ۶۲
ترجمه حديث: ۶۳
تراجم رجال: ۶۳
شرح حديث: ۶۴
دَ حديث دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۶۵
دَحديث شريف نه مستفاد امور او آداب: ۶۵
په كپړا باندې دَ سجدې كولو باره كښې دَ ائمو مذاهب: ۶۵

۲۴–بَاب: الصَّلاَةِ فِي النِّعَالِ

دَ مذكوره باب دَ ماقبل سره مناسبت: ۶۶
ترجمه حديث: ۶۷
تراجم رجال: ۶۷
دَ ترجمة الباب مقصد: ۶۸
شرح حديث: ۶۸

دَنعال نه څه مراد دي؟ ۷۱
دَحديث دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۷۱

۲۵– باب: الصَّلاَةِ فِي الخِفَافِ

دَترجمة الباب مقصد: ۷۱
ترجمه حديث: ۷۲
تراجم رجال: ۷۲
شرح حديث: ۷۴
سائل څوك وو؟: ۷۴
دَ علامه کشميری رحمه الله قول: ۷۶
په موزو باندې مسح يو اجماعي مسئله ده: ۷۷
دَمذکوره حديث دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۷۷
دَ حديث شريف نه مستنبط فوائد او احکام: ۷۷
ترجمه حديث: ۷۸
تراجم رجال: ۷۸
شرح حديث: ۷۹
دَمذکوره حديث دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۷۹

۲۶– باب: إِذَا لَمْ يُتِمَّ السُّجُودَ

دَترجمة الباب مقصد: ۷۹
دَ حضرت شاه ولي الله رحمه الله رائې: ۷۹
دَ حافظ ابن حجر رحمه الله رائې: ۸۰
دَعلامه عينی رحمه الله رائې: ۸۰
دَعلامه کشميری رحمه الله رائې: ۸۱
دَ حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله رائې: ۸۱
ترجمه حديث: ۸۲
تراجم رجال: ۸۲
شرح حديث: ۸۴
دَ فطرت نه څه مراد دي؟: ۸۶
په مانځه کښې دَتعديل ارکان حکم: ۸۶
دَعلامه انورشاه کشميری رحمه الله رائې: ۸۶
دَعلامه عثمانی رحمه الله رائې: ۸۷
دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۸۹
دَحديث شريف نه مستفاد امور: ۸۹

۲۷– باب: يُبْدِي ضَبْعَيْهِ وَيُجَافِي فِي السُّجُودِ

دَترجمة الباب مقصد: ۹۰
دَ ترجمة الباب دَ ماقبل سره مناسبت: ۹۰

ترجمه حديث: ۹۱
تراجم رجال: ۹۱
شرح حديث: ۹۲
دَ نبی کریم ﷺ دَ سجدې شکل: ۹۲
دَ سجدې د مذکوره هیئت خکمتونه: ۹۵
دَعلامه کشمیری رحمه الله په حافظ صاحب رحمه الله باندې رد: ۹۵
دَ حديث دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۹۶
دَحديث شريف نه مستنبط فوائد او احكام: ۹۶
تعليق: ۹۶
دَ تعليق ترجمه: ۹۶
دَتعليق تخريج: ۹۶
دَتعليق رجال: ۹۷
دَتعليق مقصد: ۹۷

۱۰ - ابواب القبلة

۱ - باب: فَضْلِ اسْتِقْبَالِ القِبْلَةِ

دَمذكوره باب دَماقبل باب سره مناسبت: ۹۸
دَ دې جملې متعلق دَ شيخ الحديث صاحب رحمه الله رائې: ۹۸
دَتعليق تخريج: ۹۹
دَتعليق رجال: ۱۰۰
دَتعليق مقصد: ۱۰۰
دَتعليق دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۱۰۱
ترجمه حديث: ۱۰۱
تراجم رجال: ۱۰۱
شرح حديث: ۱۰۳
دَ مسلمانيدو دَپاره ضروری امور: ۱۰۴
استقبال قبله مستقلاً ذکرکولو حکمت: ۱۰۴
دَ "اکل ذبيحة" دَ شرط اهميت: ۱۰۵
دَ علامه گنگوهی رحمه الله رائې: ۱۰۵
دَحضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله رائې: ۱۰۵
دَ علامه طيبی رحمه الله رائې: ۱۰۵
دَ حديث دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۱۰۷
دَ حديث مبارك نه مستفاد امور او احكام: ۱۰۷
دَ اسلام دَپاره هم دَ دغه دريو امورو دَانتخاب حکمت: ۱۰۸
اهل قبله سره متعلق يو تحقيق: ۱۰۸
دَ اهل قبله تعريف: ۱۰۹
دَ ابن اميرا لحاج رحمه الله تشريح: ۱۱۰

دعلامه تفتازانی رحمه الله تشریح: ۱۱۱
دَ صاحب غاية التحقيق علامه عبدالعزیز البخاری رحمه الله تشریح: ۱۱۱
دَعلامه عبدالعزیز الفرهاوی رحمه الله تشریح: ۱۱۲
دَعلامه شمس الدین محمدبن عبدالرحمن السخاوی رحمه الله تشریح: ۱۱۳
دَعلامه انورشاه کشمیری رحمه الله تشریح: ۱۱۳
دَاهل قبله دَتکفیر مسئله: ۱۱۳
دَ یوې مغالطې ازاله: ۱۱۴
دَایمان، اسلام او ضروریات دین تشریح: ۱۱۵
دَدین دَ ضروریاتو تفصیل: ۱۱۶
② حدوث عالم: ۱۱۶
③ په قضاء اوقدر باندې ایمان: ۱۱۷
دکفر خبرې: ۱۱۸
تراجم رجال: ۱۱۹
شرح حدیث: ۱۱۹
دَ توحید اقرار سره دَ رسالت اقرار دَ نه ذکرکولو حکمت: ۱۱۹
یولغوی اشکال اودَ هغې جواب: ۱۲۰
تعلیق: ۱۲۲
دَتعلیق تخریج: ۱۲۲
دَ تعلیق رجال: ۱۲۳
دَ تعلیق مقصد: ۱۲۴
دویم تعلیق: ۱۲۴
دَتعلیق ترجمه: ۱۲۴
دَ تعلیق رجال: ۱۲۵
دَ تعلیق شرح: ۱۲۵
یو اشکال اودَ هغې جواب: ۱۲۶
دَتعلیق مقصد: ۱۲۶

٢ – بَابُ قِبْلَةِ أَهْلِ الْمَدِينَةِ وَأَهْلِ الشَّأْمِ وَالْمَشْرِقِ

دَترجمة الباب مقصد: ۱۲۷
دَحضرت شیخ الحدیث رحمه الله رائې: ۱۲۷
دَ حضرت کشمیری رحمه الله رائې: ۱۲۸
دَعلامه شبیر احمدعثمانی صاحب رحمه الله رائې: ۱۳۰
دَ حضرت کاندهلوی رحمه الله رائې: ۱۳۰
دَعلامه ابن بطال رحمه الله او علامه کورانی رحمه الله رائې: ۱۳۰
دکلام خلاصه: ۱۳۱
تعلیق: ۱۳۲
دَ تعلیق ترجمه: ۱۳۲

دَتعلیق تخریج:........................ ۱۳۲
دَتعلیق مقصد:........................ ۱۳۳
ترجمه حدیث:........................ ۱۳۳
تراجم رجال:........................ ۱۳۳
شرح حدیث:........................ ۱۳۴
دَ حضرت ابو ایوب انصاری رضی الله عنه دا مذکوره کلام په شام کښې اوشو که په مصر کښې؟:........ ۱۳۵
دَانحراف عن القبله مطلب:........................ ۱۳۶
انحراف عن القبله باندې دَ استغفار وجه:........................ ۱۳۶
دَ حدیث شریف نه مستنبط شوې فوائد:........................ ۱۳۸
تعلیق:........................ ۱۳۸
دَتعلیق تخریج:........................ ۱۳۸

۳-باب: قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: {وَاتَّخِذُوا مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى}

دَترجمة الباب غرض:........................ ۱۳۹
دَ حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله رائې:........................ ۱۳۹
دَعلامه فخرالدین احمد صاحب رحمه الله رائې:........................ ۱۴۰
دَمقام ابراهیم په مراد کښې یو څو اقوال:........................ ۱۴۰
دَعلامه عثمانی رحمه الله رائې:........................ ۱۴۱
ترجمه حدیث:........................ ۱۴۱
تراجم رجال:........................ ۱۴۲
شرح حدیث:........................ ۱۴۲
دَعمرې نه حلالیدو باره کښې دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما مذهب:........................ ۱۴۴
دَ حدیث شریف دَ ترجمة الباب سره مناسبت:........................ ۱۴۴
دَمذکوره حدیث شریف نه مستنبط شوې احکام:........................ ۱۴۶
تعلیق:........................ ۱۴۶
دَتعلیق ترجمه:........................ ۱۴۶
دَتعلیق تخریج:........................ ۱۴۶
دَتعلیق مقصد:........................ ۱۴۷
ترجمه حدیث:........................ ۱۴۷
تراجم رجال:........................ ۱۴۸
شرح حدیث:........................ ۱۵۰
نبی اکرم ﷺ په کعبه کښې دننه څورکعته مونځ کړې دې؟:........................ ۱۵۲
نبی کریم ﷺ کعبه کښې په کوم ځائې کښې مونځ اداکړو؟:........................ ۱۵۲
دَ روایت دَ ترجمة الباب سره مطابقت:........................ ۱۵۷
دَ حدیث نه مستنبط شوې احکام او فوائد:........................ ۱۵۷
بیت الله شریف کښې دننه دَ داخلیدو آداب او متعلقه مسائل:........................ ۱۵۸
ترجمه حدیث:........................ ۱۶۰

تراجم رجال: ۱۲۰
شرح حديث: ۱۲۱
دَ "هذه القبلة" وئيلو مطلب اومقصد: ۱۲۱
نبی کریم ﷺ په بيت الله کښې دننه مونځ اوکړو که نه؟ ۱۲۲
په متعارض احاديثو کښې تطبيق: ۱۲۲
په متعارض احاديثو کښې ترجيح: ۱۲۴
بيت الله کښې دَ مونځ دَ جواز يا دَ عدم جواز حکم: ۱۲۶
دَ صاحب هدايه رحمه الله يو سهو: ۱۲۷
دَمذکوره حديث شريف دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۱۲۸

۴-باب: التَّوَجُّهِ نَحْوَ الْقِبْلَةِ حَيْثُ كَانَ

.... ۱۲۸
دَ ترجمة الباب مقصد: ۱۲۹
تعليق: ۱۲۹
دَ تعليق ترجمه: ۱۲۹
دَ تعليق تخريج: ۱۷۰
دَتعليق مقصد: ۱۷۰
دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۱۷۰
دَ حديث ترجمه: ۱۷۰
تراجم رجال: ۱۷۱
شرح حديث: ۱۷۳
"رجل" نه څوك مراد دي؟: ۱۷۳
دَ روايت دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۱۷۳
دَ حديث شريف نه مستفاد شوی فوائد او احکام: ۱۷۴
دَ حديث ترجمه: ۱۷۴
تراجم رجال: ۱۷۵
دَ حديث شرح: ۱۷۶
دَ حديث شريف دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۱۷۶
دَ حديث شريف نه مستنبط فوائد او احکام: ۱۷۶
په سورلئ باندې دَمونځ (فرض وی که نفل) کولو حکم: ۱۷۷
په ريل گاډی کښې دَ سفر کولو په حالت کښې دَ مونځ حکم: ۱۷۷
په سورلئ باندې دَمونځ کولو وخت کښې قبلې ته دَ مخ کولو حکم: ۱۷۸
دَ حديث ترجمه: ۱۷۹
تراجم رجال: ۱۷۹
شرح حديث: ۱۸۱
دَخبرو اترو کولو نه پس دَمونځ دَ باقی کيدو حکم: ۱۸۲
په مونځ کښې دَ خبرو اترو کولو حکم: ۱۸۲
دَ احنافو مذهب: ....

دَ شوافعو مذهب: ۱۸۲
دَ مالکيؤ مذهب: ۱۸۲
دَ حنابلؤ مذهب: ۱۸۳
دَ احنافو رومبۍ دليل: ۱۸۳
دويم دليل: ۱۸۳
دريم دليل: ۱۸۴
ځلورم دليل: ۱۸۴
دَ ائمه ثلاثو دليل: ۱۸۵
دَ ائمه ثلاثو دَ دليل رومبۍ جواب: ۱۸۵
دويم جواب: ۱۸۵
دريم جواب: ۱۸۶
ځلورم جواب: ۱۸۶
عقلي دليل: ۱۸۶
دَ سجده سهو کولو متعلق دَ حضرت کشميری رحمه الله رائې: ۱۸۷
دَ پنځو رکعتو والا مونځ، دَ ماسپښين مونځ څنګه جوړشو؟: ۱۸۷
نبی کريم ﷺ نور وو که بشر؟: ۱۸۹
دَنسيان معنی: ۱۹۰
دَ انبياء کرامو عليهم السلام نه هيره ممکن ده که نه؟: ۱۹۰
نبی کريم ﷺ ته څوځل سهو پيښه شوې وه؟: ۱۹۱
دَ امام بخاری رحمه الله په نيز په مونځ کښې دکلام الناس دَ جواز حکم: ۱۹۲
دَ شك معنی اومفهوم: ۱۹۲
دَ شك په وخت کړی دَتحری په بنياد باندې دَ مونځ پوره کولو حکم: ۱۹۴
په مذکوره روايت باندې يو اشکال اودَهغې جواب: ۱۹۷
سجده سهو به دَ سلام نه مخکښې کولې شی که دَ سلام نه پس؟: ۱۹۷
دَ احنافو مذهب: ۱۹۷
دَ سجده سهودَ پاره دَ سلام ګرځولو طريقه: ۱۹۷
دَ شوافعو مذهب: ۱۹۸
دَ مالکيؤ مذهب: ۱۹۹
دَ حنابلؤ مذهب: ۲۰۰
دَ احنافو دلائل: ۲۰۰
دَ احنافو دَ مذهب دَ ترجيح وجه: ۲۰۲
په مذکوره مسئله کښې د مذاهبو دَ اختلاف حيثيت: ۲۰۲
دَ حضرت ګنګوهی رحمه الله يوه سهو او صحيح خبره: ۲۰۲
دَحديث دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۲۰۳
دَمذکوره حديث نه مستنبط شوی احکام او فوائد: ۲۰۳

۵-باب: بَابُ مَا جَاءَ فِي الْقِبْلَةِ، وَمَنْ لَا يَرَى الإِعَادَةَ عَلَى مَنْ سَهَا، فَصَلَّى إِلَى غَيْرِ الْقِبْلَةِ

دَترجمة الباب وضاحت: ۲۰۴
دَ ترجمة الباب مقصد: ۲۰۵
دَ قبلې مشتبه كيدو په صورت كښې دَ مونځ حكم: ۲۰۵
تعليق: ۲۰۶
دَ تعليق ترجمه: ۲۰۶
دَ تعليق تخريج: ۲۰۶
دَ تعليق ترجمة الباب سره مناسبت: ۲۰۶
دَ حديث ترجمه: ۲۰۷
تراجم رجال: ۲۰۷
دَ حديث شرح: ۲۰۸
موافقات عمر رضي الله عنه: ۲۰۹
دَموافقات عمر رضي الله عنه تعداد: ۲۱۰
رب سره دَ موافقت وجه: ۲۱۲
دَ خطاء نه محفوظ صرف انبياء كرام عليهم السلام دى: ۲۱۲
په حضرت عمر فاروق رضي الله عنه باندې يو اشكال اودَ هغې جواب: ۲۱۵
دَ حجاب دَ آيت په مصداق كښې اختلاف: ۲۱۷
حضرت عمر رضي الله عنه له په كومه خبره غيرت راغلو؟: ۲۱۷
دَ حديث مبارك ترجمة الباب سره مناسبت: ۲۱۸
تعليق: ۲۱۹
دَ حديث ترجمه: ۲۲۰
تراحم رجال: ۲۲۰
دَ حديث شرح: ۲۲۰
دَ قبلې دَ بدليدو حكم په كوم مونځ كښې اوشو؟: ۲۲۱
دا راتلونكې سړې څوك وو؟: ۲۲۱
دَ حديث مبارك دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۲۲۲
دَ حديث مبارك نه مستنبط شوى فوائد او احكام: ۲۲۳
دَحديث ترجمه: ۲۲۴
تراجم رجال: ۲۲۴
دَ حديث شرح: ۲۲۵
دَحديث شريف دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۲۲۵

۱۱- أبواب المساجد

ماقبل سره مناسبت: ۲۲۶

۱- بَابُ حَكِّ الْبُزَاقِ بِالْيَدِ مِنَ الْمَسْجِدِ

دَ ترجمة الباب مقصد: ۲۲۶

دحضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله رائې: ۲۲۶
دعلامه شبيراحمد عثمانى رحمه الله رائې: ۲۲۷
دعلامه ابن رجب الحنبلى رحمه الله رائې: ۲۲۷
ترجمه حديث: ۲۲۸
تراجم رجال: ۲۲۸
شرح حديث: ۲۲۸
د بلغم د پاكوالي يا ناپاكوالى حكم: ۲۳۳
دحديث شريف د ترجمة الباب سره مناسبت: ۲۳۳
د حديث شريف نه مستفاد امور او آداب: ۲۳۳
دحديث ترجمه: ۲۳۴
تراجم رجال: ۲۳۴
د حديث شرح: ۲۳۵
د حديث مبارك د ترجمة الباب سره مناسبت: ۲۳۵
د حديث ترجمه: ۲۳۶
تراجم رجال: ۲۳۶
د حديث شرح: ۲۳۷
دحديث شريف د ترجمة الباب سره مناسبت: ۲۳۷

۲ - بَابُ حَكِّ الْمُخَاطِ بِالْحَصَى مِنَ الْمَسْجِدِ

د مذكوره باب د ماقبل سره مناسبت: ۲۳۷
تعليق نمبر(: ۲۳۸
د تعليق تخريج: ۲۳۸
دتعليق ترجمه: ۲۳۸
د تعليق د ترجمة الباب سره مناسبت: ۲۳۸
دتعليق د ترجمة الباب سره مناسبت: ۲۳۹
دحديث ترجمه: ۲۳۹
تراجم رجال: ۲۳۹
د حديث شرح: ۲۴۰
د حديث مبارك د ترجمة الباب سره مناسبت: ۲۴۰

۳ - بَابُ: لاَ يَبْصُقْ عَنْ يَمِينِهِ فِي الصَّلاَةِ

دترجمة الباب مقصد: ۲۴۱
د حضرت شيخ الحديث صاحب نورالله مرقده رائې: ۲۴۱
د حضرت مولانا محمد ادريس كاندهلوى رحمه الله رائې: ۲۴۲
د حديث ترجمه: ۲۴۲
تراجم رجال: ۲۴۲
د حديث شرح: ۲۴۳
د حديث مبارك د ترجمة الباب سره مناسبت: ۲۴۳

دَ حديث ترجمه: ۲۴۴
تراجم رجال: ۲۴۴
دَ حديث شرح: ۲۴۴
دَ حديث مبارك دَ ترجمة الباب سره مطابقت: ۲۴۵

۴ - بَابٌ: لِيَبْزُقْ عَنْ يَسَارِهِ، أَوْتَحْتَ قَدَمِهِ الْيُسْرَى

دَ ترجمة الباب مقصد: ۲۴۵
دَ حديث ترجمه: ۲۴۵
تراجم رجال: ۲۴۵
دَ حديث شرح: ۲۴۶
دَمذكوره حديث دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۲۴۶
دَ حديث ترجمه: ۲۴۶
تراجم رجال: ۲۴۷
دَ حديث شرح: ۲۴۷
دَ مذكوره حديث دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۲۴۷

۵ - بَابٌ: كَفَّارَةِ الْبُزَاقِ فِي الْمَسْجِدِ

دَ ترجمة الباب مقصد: ۲۴۸
په جمات كښې دَ توكلو يا نه توكلو دَ احكاماتو خلاصه: ۲۴۸
دَ حديث ترجمه: ۲۴۹
تراجم رجال: ۲۴۹
دَ حديث شرح: ۲۴۹
دَ حديث مبارك دَ ترجمة الباب سره مطابقت: ۲۵۰

۶ - بَابٌ: دَفْنِ النُّخَامَةِ فِي الْمَسْجِدِ

دَ ترجمة الباب مقصد: ۲۵۱
دَ حديث ترجمه: ۲۵۱
تراجم رجال: ۲۵۱
دَ حديث شرح: ۲۵۲
په جمات كښې دَتوكلو ممانعت صرف دَ مونځ دوران كښې دي كه دَ مونځ نه بهر هم دي؟ ۲۵۲
ښي طرف ته توكلو كښې ولې دَ فرښتې بې احترامي نشته؟ ۲۵۳
توكانړې په جمات كښې دَ دفن كولو صورت: ۲۵۴
دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۲۵۴

۷ - بَابٌ: إِذَا بَدَرَهُ الْبُزَاقُ فَلْيَأْخُذْ بِطَرَفِ ثَوْبِهِ

دَترجمة الباب مقصد: ۲۵۵
دَ حديث ترجمه: ۲۵۶
تراجم رجال: ۲۵۶
دَ حديث شرح: ۲۵۷

د روايت د ترجمة الباب سره مناسبت: ۲۵۷
د حديث مبارك نه مستنبط شوى احكام او مسائل: ۲۵۸

۸- بَابٌ: عِظَةِ الإِمَامِ النَّاسَ فِي إِتْمَامِ الصَّلاَةِ، وَذِكْرِ القِبْلَةِ

د ترجمة الباب ماقبل سره مناسبت او مقصد: ۲۵۹
د حديث ترجمه: ۲۶۱
تراجم رجال: ۲۶۱
د حديث شرح: ۲۶۲
د نبى كريم ﷺ د شاته كتلو مطلب: ۲۶۳
د منكرينو اشكالات او د هغوى دلائل: ۲۶۶
د اشكالاتو جواب: ۲۶۶
د حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله ذكركړې شوې تشريح: ۲۶۷
د كلام خلاصه: ۲۶۸
د نبى كريم ﷺ د پاره د علم غيب په ثبوب باندې يو غلط استدلال: ۲۶۹
ترجمة الباب سره د حديث شريف مناسبت: ۲۶۹
د حديث شريف نه مستنبط شوى امور او احكام: ۲۷۰
د حديث ترجمه: ۲۷۱
تراجم رجال: ۲۷۱
د حديث شرح: ۲۷۱

۹- بَابٌ: هَلْ يُقَالُ: مَسْجِدُ بَنِي فُلاَنٍ؟

د ترجمة الباب د ماقبل ابوابو سره مناسبت: ۲۷۳
د ترجمة الباب مقصد: ۲۷۳
د حديث ترجمه: ۲۷۴
تراجم رجال: ۲۷۴
د حديث شرح: ۲۷۵
د مسابقه نه مراد: ۲۷۵
د تضمير د دوو معنو بيان: ۲۷۶
حفياء نه مراد: ۲۷۶
د ثنية الوداع د تسميې وجه او مطلب: ۲۷۶
د بنى زريق مصداق: ۲۷۷
د اسونو زغلولو حكم: ۲۷۸
د اسونو زغلولو په شركاؤ كښې د نبى كريم ﷺ د انعام تقسيمول: ۲۷۹
د حديث شريف ترجمة الباب سره مناسبت: ۲۷۹
د حديث مبارك نه مستنبط شوې فوائد او احكام: ۲۷۹

۱۰- بَابُ: القِسْمَةِ، وَتَعْلِيقِ القِنْوِ فِي المَسْجِدِ

د ترجمة الباب مقصد او د حضرت گنگوهى رحمه الله رائې: ۲۸۰

دحضرت شیخ الحدیث صاحب نور الله مرقده رائې: ۲۸۱
دحضرت کشمیری صاحب رحمه الله رائې: ۲۸۲
فائده مهمه: ۲۸۴
تعلیق او یو وضاحت: ۲۸۴
د تعلیق مقصد اوتشریح: ۲۸۴
د حدیث ترجمه: ۲۸۵
تراجم رجال: ۲۸۶
د حدیث شرح: ۲۸۶
د بحرین نه څنګه او څومره مال راولیږلې شو؟: ۲۸۶
په جمات کښې د مال ډهیری کولو وجه: ۲۸۸
د حضرت عباس رضي الله عنه د سوال کولو وجه: ۲۸۸
د فدیې ورکولو مطلب: ۲۸۹
نبی کریم ﷺ د حضرت عباس رضي الله عنه امداد ولې اونه کړو؟: ۲۸۹
د حدیث شریف ترجمة الباب سره مناسبت: ۲۹۰
د حدیث نه مستنبط شوی فوائد او احکام: ۲۹۰

۱۱ - بَابٌ: مَنْ دَعَا لِطَعَامٍ فِي الْمَسْجِدِ وَمَنْ أَجَابَ فِيهِ

دترجمة الباب تشریح: ۲۹۱
د ترجمة الباب مقصد: ۲۹۱
د حدیث ترجمه: ۲۹۲
تراجم رجال: ۲۹۲
د حدیث شرح: ۲۹۳
د حدیث د ترجمة الباب سره مناسبت: ۲۹۴
د حدیث شریف نه مستفاد امور او احکام: ۲۹۴

۱۲ - بَابُ الْقَضَاءِ وَاللِّعَانِ فِي الْمَسْجِدِ بَيْنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ

دترجمة الباب تشریح، د قضاء لغوی او اصطلاحی تعریف: ۲۹۵
په جمات کښې د قضاء حکم: ۲۹۵
د لعان لغوی او اصطلاحی تعریف: ۲۹۶
د لعان طریقه: ۲۹۷
د حدیث ترجمه: ۲۹۸
تراجم رجال: ۲۹۸
د حدیث شرح: ۲۹۹
د حدیث مبارك د ترجمة الباب سره مناسبت: ۳۰۰

۱۳ - بَابٌ: إِذَا دَخَلَ بَيْتًا يُصَلِّي حَيْثُ شَاءَ أَوْ حَيْثُ أُمِرَ وَلَا يَتَجَسَّسُ

دترجمة الباب مقصد: ۳۰۰
د چاکورته د تلو ادب: ۳۰۲

دَ حديث ترجمه: ۳۰۲
تراجم رجال: ۳۰۳
دَ حديث شرح: ۳۰۴
نبى كريم ﷺ پخپله راغلو؟ يا حضورپاك راغوښتې شوې وو؟: ۳۰۴
دَ نوافلو دَ جمع حكم: ۳۰۵
دَ احنافو مسلك: ۳۰۵
دَ تداعى نه مراد: ۳۰۸
دَمالكيۇ مذهب: ۳۰۸
دَ حنابلۇ مذهب: ۳۰۸
دَ شافعيۇ مذهب: ۳۰۹
دَ سلف صالحينو په آثار سره دَ تبرك حكم: ۳۰۹
دَ حديث دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۳۱۲
دَ حديث شريف نه مستفاد امور اواحكام: ۳۱۲

۱۴-بَابٌ: المَسَاجِدِفِي البُيُوتِ

دَ ترجمة الباب وضاحت: ۳۱۳
په كورونوكښې دَ جماتونو جوړولو مطلب: ۳۱۳
په كورونوكښې دَ جمع كولو حكم: ۳۱۳
دَ ترجمة الباب مقصد: ۳۱۴
تعليق: ۳۱۵
دَ تعليق تخريج: ۳۱۵
دَ تعليق رجال: ۳۱۵
دَ تعليق ترجمه او تشريح: ۳۱۵
دَ تعليق مقصد: ۳۱۵
دَ تعليق دَ ترجمة الباب سره مناسب: ۳۱۵
دَ حديث ترجمه: ۳۱۲
تراجم رجال: ۳۱۷
دَ حديث شرح: ۳۱۸
حضرت عتبان بن مالك ﷺ نابينا وو كه كم نظر والا؟: ۳۱۹
دَ ان شاء الله وئيلو مقصد: ۳۲۱
نبى كريم ﷺ سره څومره صحابه كرامو تشريف راوړو؟: ۳۲۱
په دوو مختلفو مقاماتو كښې دَ نبى d مختلف عمل: ۳۲۳
حضرت عبدالله بن ام مكتوم ﷺ ته خو په كوركښې دَمونځ كولو اجازت نه وو ملاؤ شوې بيا ده ته څنګه ملاؤ شو؟: ۳۲۳
دَ "خَزِيرَة" معنى: ۳۲۴
صحيح لفظ "الدُخَيْشِن" نه بلكه "الدُخَيْشِم" دي: ۳۲۵

دَ روايت دَ ترجمة الباب سره مطابقت:.......... ۳۲۸
دَ حديث شريف نه مستنبط شوي فوائد او احکام:.......... ۳۲۸

۱۵ - بَابٌ: التَّيَمُّنِ فِي دُخُولِ الْمَسْجِدِ وَغَيْرِهِ

دَترجمة الباب تشريح:.......... ۳۳۰
دَ ترجمة الباب مقصد:.......... ۳۳۰
تعليق:.......... ۳۳۱
دَ تعليق ترجمه:.......... ۳۳۱
دَتعليق تخريج:.......... ۳۳۱
دَ تعليق مقصد:.......... ۳۳۱
دَ تعليق دَ ترجمة الباب سره مطابقت:.......... ۳۳۱
دَ حديث ترجمه.......... ۳۳۱
تراجم رجال:.......... ۳۳۲
دَ حديث شرح:.......... ۳۳۲
دَ حديث مبارك دَ ترجمة الباب سره ربط:.......... ۳۳۴

۱۶ - بَابٌ: هَلْ تُنْبَشُ قُبُورُ مُشْرِكِي الْجَاهِلِيَّةِ، وَيُتَّخَذُ مَكَانُهَا مَسَاجِدَ

دَ ترجمة الباب تشريح:.......... ۳۳۴
دَ لعنت په سبب کښې دَ علامه نووي رحمه الله تشريح:.......... ۳۳۶
دَ لعنت په سبب کښې دَ ملاعلي قاري رحمه الله تشريح:.......... ۳۳۶
دَ لعنت په سبب کښې دَ حضرت ګنګوهي رحمه الله تشريح:.......... ۳۳۶
دَ لعنت په سبب کښې دَ کشميري رحمه الله تشريح:.......... ۳۳۷
دَ لعنت په سبب کښې دَ علامه شبير احمد عثماني رحمه الله تشريح:.......... ۳۳۷
دَ لعنت په سبب کښې دَ حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله تشريح:.......... ۳۳۷
دَ قبرمخامخ دَمونځ کولو حکم:.......... ۳۳۷
دَ احنافو مذهب:.......... ۳۳۷
دَ مالکيؤ مذهب:.......... ۳۳۸
دَ حنابلؤ مذهب:.......... ۳۳۸
دَ حنابلؤ په نيز دَ قبرستان تعريف:.......... ۳۳۸
دَ شوافعؤ مذهب:.......... ۳۳۸
دَ حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله رائې:.......... ۳۳۹
دَ حضرت عمر رضي الله عنه دَ اثر تخريج:.......... ۳۴۱
دَ صالحينو دَ مزاراتو سره نيزدې دَ جماتونو حکم:.......... ۳۴۱
دَ حديث ترجمه:.......... ۳۴۲
تراجم رجال:.......... ۳۴۲
دَ حديث شرح:.......... ۳۴۳
: بت پرستنې شروع څنګه شوې ده؟:.......... ۳۴۴
دَ شرار لغوي تحقيق:.......... ۳۴۵

دَ شرار الخلق مصداق کوم خلق دی؟ ۳۴۵
دَ حدیث شریف دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۳۴۲
دَ حدیث شریف نه مستنبط شوی فوائد او احکام: ۳۴۸
دَ حدیث ترجمه: ۳۴۸
تراجم رجال: ۳۴۹
دَ حدیث شرح: ۳۵۰
دَ نبی کریم ﷺ مدینې ته راتګ کله شوې وو؟: ۳۵۰
دَ جمعې فرضیت مکه کښې شوې وو: ۳۵۱
تورې زورندولو سره دَ راتلو څه مقصد وو؟: ۳۵۲
دَ حضرت ابوبکر رضی الله عنه دَ نبی کریم ﷺ دَ ردیف جوړیدو وجه: ۳۵۲
اوښه دَ الله تعالی دَ طرف نه مامور وه: ۳۵۳
دَدې واقعې سره متعلق دَ سیر یو عجیبه روایت: ۳۵۳
دَ حضرت ابوایوب انصاری رضی الله عنه دَ کور تاریخ: ۳۵۴
په وخت دَ ضرورت دَ مشرکانو قبرونو ورانولو جواز: ۳۵۸
دَ حضرت عمار بن یاسر رضی الله عنه دَ شهادت خبر: ۳۵۹
دَ نبی کریم ﷺ او دَ صحابوؤ شعرونه وئیل: ۳۵۹
دَ سماع په مباح کیدو باندې استدلال: ۳۶۰
دَ انصارو دَ تسمیه وجه: ۳۶۲
دَ مهاجرینو دَ تسمیه وجه: ۳۶۲
دَ حدیث مبارك دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۳۶۳
دَ حدیث مبارك نه مستفاد امور او احکام: ۳۶۳

۱۷ - بَابٌ: الصَّلَاةِ فِيْ مَرَابِضِ الْغَنَمِ

دَ ترجمة الباب مقصد: ۳۶۴
دَ حدیث ترجمه: ۳۶۴
تراجم رجال: ۳۶۴
دَ حدیث شرح: ۳۶۵
دَ حدیث شریف دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۳۶۶

۱۸ - بَابٌ: الصَّلَاةِ فِيْ مَوَاضِعِ الْإِبِلِ

دَ ترجمة الباب مقصد: ۳۶۷
دَ علامه سندهی رحمه الله رائې: ۳۶۸
دَ حضرت ګنګوهی رحمه الله رائې: ۳۶۸
دَ علامه کاندهلوی رحمه الله رائې: ۳۶۸
دَ اوښانو باره کښې دَ مونځ کولو حکم: ۳۶۸
دَ حنابله دَ دلیل جواب: ۳۶۹
دَ غواګانو باره کښې دَ مونځ ادا کولو حکم: ۳۷۰
دَ حدیث ترجمه: ۳۷۰

تراجم رجال: ۳۷۱
دَ حدیث شرح: ۳۷۲
دَ حدیث شریف دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۳۷۳
دَ حدیث مبارك نه مستنبط فوائد او احکام: ۳۷۳

۱۹ - بَابٌ: مَنْ صَلّٰى وَقُدَّامَهُ تَنُورٌ أَوْنَارٌ، أَوْشَيْئٌ مِمَّا يُعْبَدُ، فَأَرَادَبِهِ اللّٰهَ

دَ ترجمة الباب تشریح: ۳۷۴
دَ ترجمة الباب مقصد: ۳۷۵
تعلیق: ۳۷۵
دَ تعلیق ترجمه: ۳۷۵
دَ تعلیق تخریج: ۳۷۶
تعلیق اوترجمة الباب کښې مطابقت: ۳۷۶
دَ تعلیق نه طریق دَ استدلال: ۳۷۶
دَ احنافو مسلك اودَ امام بخاری رحمه الله دَ استدلال جواب: ۳۷۶
دَ امام بخاری رحمه الله په مسلك باندې یو اعتراض: ۳۷۸
دَ حدیث ترجمه: ۳۷۸
تراجم رجال: ۳۷۸
دَ حدیث شرح: ۳۷۹
دَ صلاة کسوف اوخسوف مصداق: ۳۷۹
دَترجمة الباب سره مطابقت: ۳۸۰
دَ حدیث مبارك نه مستفاد امور: ۳۸۰
دَ جماتونو دَ قبلې والا دیوال کښې هیټر یا ګیس یا لیمپ وغیره دَ لګولو حکم: ۳۸۱

۲۰ - بَابٌ: كَرَاهِيَةِ الصَّلَاةِ فِي الْمَقَابِرِ

قبرستان کښې دَ مونځ حکم: ۳۸۱
دَ ترجمة الباب مقصد: ۳۸۲
دَ حدیث ترجمه: ۳۸۲
تراجم رجال: ۳۸۲
دَ حدیث شرح: ۳۸۳
په کورونو کښې دَنوافل کولو باره کښې دَ علامه قرطبی رحمه الله مؤقف: ۳۸۳
دَ قاضی عیاض رحمه الله مؤقف: ۳۸۳
دَ جمهورو مؤقف: ۳۸۴
په کورونو کښې دَ نوافل کولو فائدې: ۳۸۴
کورونه قبرستان نه جوړولو سره متعلق دَ حضرت شیخ الحدیث رحمه الله رائې: ۳۸۴
دَ علامه خطابی رحمه الله رائې: ۳۸۵
دَ علامه توربشتی رحمه الله رائې: ۳۸۵
د ملاعلی قاری رحمه الله رائې: ۳۸۶

دَ علامه خطابی رحمه الله يو اشكال اودَ هغې جواب: ٣٨٦
دَ حديث شريف دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ٣٨٧
دَ علامه كورانی رحمه الله رائې: ٣٨٧

٢١ - بَاب: الصَّلاَةِ فِي مَوَاضِعِ الْخَسْفِ وَالْعَذَابِ

دَ ترجمة الباب تشريح: ٣٨٨
دَ خسف نه مراد كومه واقعه ده؟: ٣٨٨
دَ ترجمة الباب مقصد: ٣٨٩
يو اشكال اودَ هغې جواب: ٣٨٩
تعليق: ٣٨٩
دَ تعليق تخريج: ٣٨٩
دَ تعليق ترجمه: ٣٩٠
دَ تعليق دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ٣٩٠
بابل ښار: ٣٩٠
دَ بابل دَ تسميه وجه: ٣٩٠
دَ حديث ترجمه: ٣٩١
تراجم رجال: ٣٩١
دَ حديث شرح: ٣٩٢
حجر كوم يو مقام دي؟: ٣٩٢
قوله: لا يصيبكم ما أصابهم، باندې يو شبه اودَ هغې جواب: ٣٩٤
دَ حديث شريف دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ٣٩٥
دَ حديث شريف نه مستنبط شوی احكام او آداب: ٣٩٥

٢٢ - بَابٌ: الصَّلاَةِ فِي الْبِيْعَةِ

دَ ترجمة الباب تشريح: ٣٩٥
"بيعة" او "كنيسه" كښې فرق: ٣٩٥
دَ ترجمة الباب مقصد: ٣٩٦
دَ حضرت ګنګوهی رحمه الله رائې: ٣٩٦
سابقه يو باب سره تعارض اودَ هغې حل: ٣٩٦
رومبې تعليق: ٣٩٦
دَ تعليق ترجمه: ٣٩٦
دَ تعليق تخريج: ٣٩٧
دَ تعليق تشريح: ٣٩٧
دَ تعليق دَ ترجمة الباب سره مطابقت: ٣٩٧
دويم تعليق: ٣٩٨
دَ تعليق ترجمه: ٣٩٨
دَ تعليق تخريج: ٣٩٨
دَ تعليق دَ ترجمة الباب سره مطابقت: ٣٩٨

دَ حديث ترجمه: ۳۹۹
تراجم رجال: ۳۹۹
دَ حديث شرح: ۴۰۰
دَ حديث شريف دَ ترجمة الباب سره مطابقت: ۴۰۰
حديث باب (دويم حديث): ۴۰۰
دَ نسخو فرق: ۴۰۰
دَ حديث ترجمه: ۴۰۱
تراجم رجال: ۴۰۱
دَ حديث شرح: ۴۰۲
يو اشكال اودَ هغې جواب: ۴۰۴
آيا ښخه نبي كيدې شي؟: ۴۰۵
دَ حديث دَ شريف ترجمة الباب سره مطابقت: ۴۰۵
دَ حديث ترجمه: ۴۰۶
تراجم رجال: ۴۰۶
دَ حديث شرح: ۴۰۷

۲۳ - بَابٌ: قَوْلِ النَّبِيِّ ﷺ (جُعِلَتْ لِيَ الْأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُورًا)

دَ ترجمة الباب مقصد: ۴۰۷
دَ حديث ترجمه: ۴۰۷
تراجم رجال: ۴۰۸
دَ حديث شرح: ۴۰۸
دَ حديث مبارك دَ ترجمة الباب سره مطابقت: ۴۰۸

۲۴ - بَابٌ: نَوْمِ الْمَرْأَةِ فِي الْمَسْجِدِ

دَ ترجمة الباب مقصد: ۴۰۹
دَ حديث ترجمه: ۴۱۰
تراجم رجال: ۴۱۰
دَ حديث شرح: ۴۱۱
دَ حديث شريف دَ ترجمة الباب سره مطابقت: ۴۱۵
دَ حديث شريف نه مستفاد فوائد او احكام: ۴۱۵

۲۵ - بَابٌ: نَوْمِ الرِّجَالِ فِي الْمَسْجِدِ

دَ ترجمة الباب مقصد: ۴۱۶
رومبې تعليق: ۴۱۷
دَ تعليق ترجمه: ۴۱۷
دَ تعليق تخريج: ۴۱۷

دَ تعلیق رجال: ۴۱۷
دَ تعلیق دَ ترجمة الباب سره مطابقت: ۴۱۷
دویم تعلیق: ۴۱۷
دَ تعلیق ترجمه: ۴۱۷
دَ تعلیق تخریج: ۴۱۷
دَ تعلیق رجال: ۴۱۸
صفه او اصحاب صفه: ۴۱۸
دَ تعلیق دَ ترجمة الباب سره مطابقت: ۴۲۱
دَ حدیث ترجمه: ۴۲۱
تراجم رجال: ۴۲۱
دَ حدیث شریف شرح: ۴۲۲
دَ انسانی عمر مختلف ارتقائی ادوار: ۴۲۲
دَ "العلماء العزاب" تعارف: ۴۲۳
دَ حدیث مبارك دَ ترجمة الباب سره مطابقت: ۴۲۴
دَ حدیث شریف نه مستفاد امور او آداب: ۴۲۴
په جمات کښې دَ اوده کیدو باره کښې دَ ائمه کرامو مذهب: ۴۲۴
دَ احنافو مسلك: ۴۲۴
دَ مالکیۆ مسلك: ۴۲۴
دَ شوافعو او حنابلۆ مسلك: ۴۲۵
دَ تبلیغی جماعت والو په جمات کښې اوده کیدل: ۴۲۵
دَ دینی مدارسو دَ طالبانو په جمات کښې اوده کیدل: ۴۲۵
دَ حدیث ترجمه: ۴۲۸
تراجم رجال: ۴۲۸
دَ حدیث شرح: ۴۲۹
دَناخوښۍ خبره دَ دوارو طرفونه شوې وه: ۴۳۰
دَ حضرت فاطمه رضي الله عنها صفا خبره: ۴۳۰
لوښی خو کرنګیږی: ۴۳۰
دَ قیلوله حکم: ۴۳۱
دَ حضرت علی رضي الله عنه کنیت دَ ابوتراب دَ تسمیه وجه: ۴۳۲
دَ حدیث مبارك دَ ترجمة الباب سره مطابقت: ۴۳۳
دَ حدیث مبارك نه مستفاد امور و آداب: ۴۳۳
دَ حدیث ترجمه: ۴۳۴
تراجم رجال: ۴۳۴

فائده: ۴۳۵
دَ حدیث شرح: ۴۳۶
دَ اصحاب صفه تعداد: ۴۳۶
دَ مدارسو او خانقاهونو اصل: ۴۳۶
دَ حدیث مبارك دَ ترجمة الباب سره مطابقت: ۴۳۷

۲۶ - بَابٌ: اَلصَّلَاةِ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ

دَ ترجمة الباب مقصد: ۴۳۸
تعلیق: ۴۳۸
دَ تعلیق ترجمه: ۴۳۸
دَتعلیق تخریج: ۴۳۹
دَ تعلیق راوی: ۴۳۹
دَ تعلیق مقصد: ۴۴۴
دَ حدیث ترجمه: ۴۴۴
تراجم رجال: ۴۴۵
دَ حدیث شرح: ۴۴۶
دَ حدیث دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۴۴۶
دَ حدیث مبارك نه مستفاد امور او آداب: ۴۴۷

۲۷ - بَابٌ: إِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ

دَ ترجمة الباب مقصد: ۴۴۸
رومبې مسئله: په مکروه وختونو کښې دَ تحیة المسجد حکم: ۴۴۸
دویمه مسئله: تحیة المسجد صرف په داخلیدونکی باندې دې، او که تیریدونکی باندې هم؟: ۴۴۹
دریمه مسئله: تحیة المسجد واجب دی که مستحب؟: ۴۵۰
څلورمه مسئله: دَنفل مونځ دَ کم نه کم څو رکعاته؟: ۴۵۱
پنځمه مسئله: دَ تحیة المسجد وخت: ۴۵۲
دَ حدیث ترجمه: ۴۵۵
تراجم رجال: ۴۵۵
دَ حدیث شرح: ۴۵۶
دَ حدیث مبارکه دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ۴۵۶

.....

بسم الله الرحمن الرحيم

۱۹ –(۱) بَابُ إِذَا أَصَابَ ثَوْبُ الْمُصَلِّي امْرَأَتَهُ إِذَا سَجَدَ

دا باب دې په دې باره کښې چه کله د مونځ گذار کپړې د سجدې په وخت هغه ښځې سره اولگی (نو د مونځ څه حکم دې؟)

د ترجمة الباب مقصد: علامه عینی رحمه الله فرمائی چه د امام بخاری رحمه الله عادت دادې چه په ترجمة الباب کښې دا قسم عبارت هغه وخت راوړی کله چه په یو شرعی حکم کښې د یو امام اختلاف وی لیکن په دې مقام کښې خلاف عادت داسې مسئله بیان شوې ده په کوم کښې چه د چا هم اختلاف نشته دې.(۲)

د حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله رائې: شیخ الحدیث صاحب رحمه الله فرمائی چونکه مس مراة د بعضو په نیز ناقض وضو دې نو ممکن ده چه چاته دا وهم وی چه که چرې د مونځ گذار کپړا ښځې سره اولگی د مونځ په حالت کښې، نو دا به د کراهت سبب وی. په دې وجه امام بخاری رحمه الله دا وهم دفع کوی او فرمائی چه په دې سره په مونځ کښې هیڅ خلل نه راځی. مگر ما بیان کړې دې چه امام بخاری رحمه الله خو په مس مراة سره د اودس کولو قائل دې او نه د ذکر په مس کولو سره، او نه په قهقهې سره. هغه په مسائلو کښې نه د احنافو سره دې او نه د شوافع سره دې.

او د امام بخاری رحمه الله دویم غرض دا هم کیدې شی چه په احنافو باندې رد دې ځکه چه احناف محاذاة مراة مفسد صلاة گرځوی او دلته په روایت کښې د "حذاء" لفظ موجود دې لیکن په دې سره په احنافو باندې رد نه شی کیدې ځکه چه احناف مطلقاً محاذات مفسد نه منی بلکه د هغې د پاره څه شرطونه دی. مثلاً چه امام د ښځې د امامت نیت کړې وی او ښځه د هغه سره په مونځ کښې شریکه وی. لیکن چونکه امام بخاری رحمه الله استدلال کوی په دې وجه ممکن ده چه د "حذاء" د لفظ نه ئې استدلال کړې وی.(۳)

حدیث باب: [حدیث نمبر ۳۷۲ صفحه ۴۴]

۴۹۰- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ عَنْ خَالِدٍ قَالَ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ الشَّيْبَانِيُّ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَدَّادٍ عَنْ مَيْمُونَةَ قَالَتْ(۴) كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يُصَلِّي وَأَنَا حِذَاءَهُ وَأَنَا حَائِضٌ وَرُبَّمَا أَصَابَنِي ثَوْبُهُ إِذَا سَجَدَ. قَالَتْ وَكَانَ يُصَلِّي عَلَى الْخُمْرَةِ.

---

(۱) کشف الباری کښې د ډاکټر مصطفی دیب البغا چه کومه نسخه د متن په توگه بنیاد جوړ کړې شوې ده هغه نسخې مطابق د دې باب نمبر ۱۸ دې خو په نورو نسخو کښې کوم چه فتح الباری، عمدة القاری او ارشاد الساری وغیره کښې دی د هغې مطابق د دې باب نمبر ۱۹ دې.

(۲) عمدة القاری: ۱۶۰/٤.

(۳) الکنز المتواری: ٤/٦٥-٦٤ تقریر بخاری شریف: ۱۳۵/۲، سراج القاری: ۴۰۸/۲.

(۴) مر تخریجه فی کشف الباری، کتاب الحیض، باب، رقم الحدیث: ۳۳۳.

ترجمه حديث د حضرت ميمونه ﷝ نه روايت دي چه رسول الله ﷺ مونځ کولو او زه د حضور پاكؐ په اړخ کښې ملاسته ووم په داسې حال کښې چه زه حائضه ووم. او کله کله به چه حضور پاكؐ سجدې ته تلو نو دَ حضور پاكؐ کپړې به زما بدن سره لګيدلې. حضرت ميمونه ﷝ فرمائي چه حضور پاك به په پوزکي باندې مونځ کولو.

تراجم رجال په مذکوره حديث مبارك کښې پنځه رجال دی:

① مسدد رحمه الله: دا مسدد بن مسرهد بن مسر بل بن مرعبل اسدی رحمه الله دي. دَ دوی تذکره کشف الباری کتاب الصلاة باب: من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه، کښې تيرشوي دي. [1]

② خالد رحمه الله: دا خالد بن عبد الله بن عبد الرحمن الطحان الواسطی رحمه الله دي. دَ دوی تذکره کشف الباری کتاب الوضو، باب: من مضمض واستنشق من غرفة واحدة کښې تيره شوې ده [2]

③ سليمان الشيباني رحمه الله: دا سليمان بن ابی سليمان ابو اسحاق شيبانی کوفی رحمه الله دي. دَ دوی تفصيلي احوال کشف الباری کتاب الحيض، باب: مباشرة الحائض دَ دويم حديث لاندې تير شوی دی. [3]

④ عبدالله بن شداد رحمه الله: دَ دوی تفصيلي احوال کشف الباری کتاب لحيض باب: مباشرة الحائض دَ دويم حديث لاندې تيرشوی دی. [4]

⑤ ميمونه ﷝: دا ام المؤمنين حضرت ميمونه بنت الحارث ﷝ ده. دَ دوی تذکره کشف الباری کتاب العلم، باب: السمر في العلم کښې تيره شوې ده. [5]

شرح حديث: دَ مذکوره حديث مبارك مکمل شرح دَ کتاب الحيض دَ آخری باب لاندې تيره شوې ده. صرف دَ "وانا حذاءه" ترکيبی حالت باره کښې عرض دي چه "حذاءه" منصوب او مرفوع دواړه شان لوستل صحيح دی. "نصب" به دَ ظرفيت په وجه وی او مرفوع به دَ خبر په توګه دَ ظرفيت په صورت کښې به جمله ((أنا مفترشة حذاء النبی صلی الله عليه وسلم)) وی [6]

قوله: على الخُمرة: بضم الخاء المعجمة وسكون الميم، دَ کهجورو دَ پاڼو نه جوړ شوې پوزکې، جائې نماز ته وائی. ددې پوره تشريح هم د کتاب الحيض دَ آخری باب لاندې تيره شوې ده

دَ حديث مبارک دَ ترجمة الباب سره مناسبت دَ مذکوره حديث مبارك دَ ترجمة الباب سره مناسبت واضح دي چه په ترجمه کښې "إذا أصاب ثوب المصلي امرأته إذا سجد" دي او هم دغه خبره دَ حديث شريف جملې "ربما أصابني ثوبه إذا سجد" کښې موجود ده.

---

[1] کشف الباری: ۲/۲.
[2] کشف الباری، کتاب الوضو، باب: من مضمض واستنشق من غرفة واحدة.
[3] کشف الباری کتاب الحيض باب، مباشرة الحائض، الحديث الثاني، ص: ۲۵۰.
[4] کشف الباری کتاب الحيض باب مباشرة الحائض، الحديث الثاني، ص: ۲۵۰.
[5] کشف الباری: ۴۲۰/۴.
[6] شرح الکرمانی: ۴۴/۴، عمدة القاري: ۱۶۰/۴.

دَ حديث مبارک نه مستفاد امور او اداب: ددې حديث مبارك نه ډير اموراو اداب مستنبط كيږي مثلاً:

① دَ حائضه ښځې بدن ناپاکه نه وی، ځکه که چرته دَ حائضه ښځې بدن نجس وې نو نبی کریم ﷺ به مانځه کښې خپلې کپړې دَ حضرت میمونه ﷺ سره لګولو ته نه پریخودې اوهم دغه حکم دَ نفاس والا ښځې هم دې.

② حائضه ښځه که مونځ ګذار سره نیزدې وې نو په دې سره په مونځ کښې هیڅ خرابی نه پیدا کیږی ③ حائضې ښځې ته مونځ معاف دې

④ دکهجورو دَ پاڼرونه جوړ شوې پوزکی باندې مونځ کول صحیح دی.(۱)

۲۰– باب : الصَّلَاةِ عَلَى الحَصِيرِ

دا باب دې په پوزکی باندې دَ مونځ کولو باره کښې

دَترجمة الباب مقصد: حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله فرمائی بعضې شارحینو دلته حدیث «جعلت لی الأرض مسجدا وطهورا» ذکرکولو سره په غیرارض باندې دَ مونځ دَ جواز ذکرکړې دې. خوزما په نیز دَ امام بخاری رحمه الله غرض یوه بله مسئله بیانول دی. هغه دا چه غالبًا ابن ابی شیبه رحمه الله دَ حضرت عائشه صدیقه ﷺ نه نقل کړی دی چه هغوی «صلوة علی الحصیر» ته مکروه وائی اودَ هغوی استدلال دَدې آیت مبارك ﴿وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ لِلْكٰفِرِيْنَ حَصِيْرًا﴾ نه دې نوچونکه الله تعالی جهنم دَ کافرانو دَپاره حصیر جوړ کړې دې نودلته اشتراك اسمی موندلې شی. لهذا په حصیر باندې به مونځ مکروه وی. نو اوس امام بخاری رحمه الله دَ حضرت عائشه صدیقه ﷺ په قول باندې رد کوی چه دَ حضور پاكﷺ نه خو «صلوة علی الحصیر» ثابت دې.(۲) حافظ ابن حجر رحمه الله هم دې نکتې طرف ته اشاره کړې ده.(۳)

دَحضرت عائشه ﷺ دَ اثر تخریج: دَ حضرت عائشه ﷺ مذکوره اثر په مسند ابی یعلی الموصلی کښې موجود دې. پوره اثر اوګورئ: «حدثنا أبوبكر،حدثنا يزيد بن مقدام عن المقدام بن شريح، عن أبيه أنه سأل عائشة: أكان رسول الله صلى الله عليه وسلم يصلى على الحصير؟ فإنى سمعت فى كتاب الله ﴿وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ لِلْكٰفِرِيْنَ حَصِيْرًا﴾ قالت: "لم يكن يصلى عليه"»(۴)

په ظاهره داسې معلومیږی چه دَامام بخاری رحمه الله په نیز مذکوره اثر ثابت نه دې یا هغوی دا شاذ ګرځولو سره رد کړې دې. ځکه چه دَدې معارض دَدې نه قوی حدیث موجود وو لکه حدیث باب. بلکه امام بخاری رحمه الله باب: صلوة اللیل کښې دَ حضرت ابوسلمه په طریق سره دَ

---

۱) شرح الکرمانی: ٤/٤٤،عمدة القاری:۳/۳۷۱، ٤/۱۶۰.
۲) تقریر بخاری شریف: ۲/۱۳۸-۱۳۷، الکنز المتواری: ٤/۶۵ سراج القاری: ۲/٤۰۹.
۳) فتح الباری: ۱/۶۳۶.
٤) مسند أبی یعلی الموصلی، مسند عائشة، رقم الحدیث: ٤٤٣۱، ٤/۷۵.

حضرت عائشه رضي الله عنها روايت نقل کړې دې په کوم کښې چه د حضورپاك په پوزکی باندې د مونځ کولو تصريح ده.(۱)
دغه شان په صحيح مسلم کښې د حضرت ابوسعيد خدری رضي الله عنه روايت موجود دې چه هغه پخپله جناب نبی کريم صلی الله علیه وسلم په پوزکی باندې په مونځ کولو اوليدلو(۲)
دارنګ په المصنف لابن ابی شيبه کښې د حضرت ابوسعيد خدری رضي الله عنه مرفوع روايات او د حضرت ابن عمر، حضرت جابر بن عبدالله، حضرت مکحول، حضرت ثابت بن عبيدالله او د حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنهم آثار موجود دی. د کوم نه چه په حصير (پوزکی) باندې مونځ ادا کولو صحيح کيدل ثابتيږی.(۳)
د حصير تعريف: د کهجورو د پانړو نه جوړشوې پوزکې يا بوجئ ته حصير وئيلې شی. دا د خمرة نه لوئی وی او په عام توګه د انسان د قد برابر وی دا په کورونو کښې خورولې شی.(۴)

تعليق: ((وَصَلَّى جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللهِ، وَأَبُو سَعِيدٍ: «فِي السَّفِينَةِ قَائِمًا»))
د تعليق ترجمه: حضرت جابر او حضرت ابوسعيد خدری رضي الله عنهما په کشتئ کښې په ولاړه باندې مونځ اوکړو.
د تعليق تخريج: دا تعليق موصولاً ابن ابی شيبه رحمه الله په المصنف کښې ذکرکړې دې، وئی کورئی: ((حدثنا أبوبكر قال: حدثنا مروان بن معاوية، عن حميد، قال: سئل أنس عن الصلاة في السفينة، فقال عبدالله بن أبي عتبة مولى أنس وهومعنا جالس: سافرت مع أبي سعيد الخدری، وأبي الدرداء، وجابربن عبدالله، قال حميد: وأناس قد سماهم، فكان إمامنا يصلي بنا في السفينة قائما، ونحن نصلي خلفه قياما، ولو

---

(۱) حدثنا إبراهيم بن المنذر، قال: حدثنا ابن أبي فديک، قال: حدثنا ابن أبي ذئب، عن المقبری، عن أبي سلمة بن عبدالرحمن، عن عائشة رضى الله عنها، أن النبی صلی الله علیه وسلم كان له حصير، يبسطه بالنهار، ويحتجره بالليل، فثاب إليه ناس، فصلوا وراءه. (صحيح البخاري، كتاب الأذان، باب: صلاة الليل، رقم الحديث ۷۳۰).
(۲) حدثني عمرو الناقد، وإسحاق بن إبراهيم - واللفظ لعمرو - قال: حدثني عيسى بن يونس، حدثنا الأعمش، عن أبي سفيان، عن جابر، حدثني أبوسعيد الخدری أنه دخل على النبی صلی الله علیه وسلم قال: فرأيته يصلي على حصير يسجد عليه قال: ورأيته يصلي في ثوب واحد متوشحابه.(صحيح مسلم، كتاب الصلاة باب: في الصلاة على الحصير، رقم الحديث: ۵۱۹) .
(۳) (۱)حدثنا أبومعاوية، عن الأعمش، عن أبي سفيان، عن جابر، عن أبي سعيد أن رسول الله صلی الله علیه وسلم صلى على حصير (۲)حدثنا وكيع، قال: حدثنا العمری، عن إسحاق بن عبدالله بن أبي طلحة، عن أنس، أن النبی صلی الله علیه وسلم صلى على حصير. (۳)حدثنا وكيع، عن سفيان، عن توبة العنبری، عن نافع، عن ابن عمر، أنه كان يصلي على حصير. (۴) حدثنا وكيع قال: حدثنا عمر بن ذر، عن يزيد الفقير قال رأيت جابر بن عبدالله، يصلي على حصير من بردي. (۵)حدثنا وكيع، عن هشام بن الغاز، عن مكحول قال: رأيته يصلي على الحصير ويسجد عليه. (۶)حدثنا حفص، عن حجاج، عن ثابت بن عبيدالله قال: رأيت زيد بن ثابت، يصلي على حصير يسجد عليه (المصنف لابن أبي شيبة، كتاب الصلاة، باب:في الصلاة على الحصير،رقم الحديث: ۴۰۴۳، ۴۰۵۶، ۳۹۹/۱-۳۹۸)
(۴) تاج العروس من جواهر القاموس، مادة: ح، ص، ر: ۲۸/۱۱، لسان العرب: ۱۰۳/۳، المعجم الوسيط، ص: ۱۷۹، إعلام الحديث للخطابی: ۳۷۲/۱.

شئنا الأرض أنا وخرجنا(۱)

دَ تعليق رجال دي تعليق كښي دوه راويان دي

① جابر رضي الله عنه: دا مشهور صحابي رسول ﷺ جابر بن عبدالله انصاري رضي الله عنه دي دَ دوى تفصيلي احوال كشف الباري، كتاب الوضو، باب: من لم ير الوضوء إلا من المخرجين من القبل والدبر. لاندې تیرشوی دی.(۲)

② ابوسعيد رضي الله عنه: دا مشهور صحابي رسول حضرت سعد بن مالك بن سنان بن عبيد الانصاري الخزرجي رضي الله عنه دې. دَ دوى تفصيلي حالات كشف الباري، كتاب الايمان، باب: من الدين الفرار من الفتن لاندې تير شوى دى.(۳)

دَتعليق دَ ترجمة الباب سره مناسبت:

دَ حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله رائې: حضرت شيخ الحديث رحمه الله فرمائي چه په دې باندې اشكال دې چه دَ سفينې ذكر ئې دَ حصير په باب كښې څنګه راوړې دې؟ كومو خلقو چه دَ باب غرض دا خودلې دې چه غير ارض باندې مونځ كول دَ «جعلت لي الأرض» خلاف معلوميږي په هغوى باندې رد دې. دَ هغه خلقو په نيز هُم څه اشكال نشته څكه چه سفينه او حصير دواړه غير ارض دى مګر زما په رائې كښې به په دې باندې اشكال راځي او جواب دَ هغې دادې چه بعض وخت ترجمه كښې استدلال دَ عادت نه كيږي. نو چونكه په عام توګه په سفينه كښې دننه دَ حصير خورولو عادت دې نودَدې عادت په رڼرا كښې لكه په سفينه كښې مونځ په شان دَ صلاة حصير دې.(۴)

دَ علامه ابن المنير رحمه الله رائې: علامه ابن المنير رحمه الله ليكي «الصلاة على الحصير» په ترجمه كښې «الصلاة في السفينة» دَ داخلولو وجه داده چه په پوزكي او كشتئ كښې مونځ اداكول په غير زمكه باندې مونځ ادا كول دى. يعنى دواړه په دې امر كښې شريك دى او مصنف رحمه الله داسې څكه اوكړل چه دا وهم پيدا نه شي چه دَمونځ ګذار دَپاره په مانځه كښې دَ زمكې سره الصاق ضروري دې(۵)

هم دغه خبره شيخ بدرالدين به جماعة په "مناسبات تراجم البخاري" كښې(۶)

---

(۱) المصنف لابن أبي شيبة، كتاب الصلاة، من صلى فيها قائما، رقم الحديث: ۶۶۶۶، ۴۳۱/۴.
(۲) كشف الباري، كتاب الوضو، باب: من لم يرالوضوء إلا من المخرجين من القبل والدبر.
(۳) كشف الباري: ۸۲/۲.
(۴) تقرير بخاري: ۱۳۶/۲.
(۵) المتواري على أبواب البخاري، ص: ۸۵.
(۶) مناسبات تراجم البخاري، ص: ۴۶.

او قاضي بدرالدين دماميني رحمه الله په "مصابيح الجامع" كښې ذكر كړي ده (۱)
دَحافظ ابن حجر رحمه الله رائې: حافظ ابن حجر رحمه الله ليكلي دي چه دَدې نه امام بخاري رحمه الله دَ امام ابوحنيفه رحمه الله دَخلاف طرف ته اشاره كړې ده. دَهغوی په نيز بغيرِدَ عذر نه، يعنی په قيام باندې دَ قدرت لرلو باوجود هم په كشتئ كښې په ناسته مونځ كول جائز دي. (۲)
دَ علامه عينی رائې: علامه عينی رحمه الله ليكی چه دې سره قوی مناسبت دادې چه څنګه مصلّٰه او جائې نماز په زمكه باندې وی دغه شان كشتئ په اوبو باندې وی لهذا په دواړو باندې مونځ كول جائز دی. (۳)
په كشتئ كښې دَ مونځ كولو حكم او مسئلې: كه چرې كشتئ يا سمندري جهاز روان وی نو دَ امام ابوحنيفه رحمه الله په نيزبغيرِدَ عذر نه په ناسته فرض او واجب مونځ كول جائز دی ليكن دَ افضل خلاف اومكروه دی او په كشتئ كښې په ناسته باندې دَمونځ اداكولو په صورت كښې هم مونځ، دَ ركوع، سجدې سره ادا كول ضروری دی په ناسته په اشارې سره ادا كول جائز نه دی. اودَ امام ابويوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نيز په كشتئ كښې بغيرِدَ عذر نه په ناسته مونځ كول جائز نه دی اودَ عذر په صورت كښې دَهغوی په نيز هم جائز دی. په دې اختلافی صورت كښې دَ صاحبين رحمهما الله مسلك مختار او قوی دې.
اوكه چرې كشتئ په اوبو كښې روانه نه وی بلكه غاړې ته تړلې شوې وی نو په هغې كښې دَ داسې سړی دَ پاره په ناسته مونځ كول جائز نه دی چه په قيام باندې قادر وی. څكه چه په دې صورت كښې دا كشتئ دَ زمكې په مثل ده لهذا څه داسې عذر دَ كوم په وجه چه په زمكه ناسته مونځ كول جائز وی هم دَ هغې عذر دَ وجې نه كشتئ كښې په ناسته باندې مونځ كول هم جـنز وی اوكه چرې كشتئ په درياب كښې دننه ولاړه وی يعنی په ژورو اوبو كښې لنګر انداز وی، تړلې شوې وی ليكن دَ هوا په وجه ډيره زياته خوزيږی نو دغه دَ روانې كشتئ په حكم كښې ده او كه لږه خوزيږی نو دَ ولاړې كشتئ په حكم كښې ده. دارنګ په كشتئ كښې دَمونځ اداكولو په وخت قبلې ته مخ كول ضروری دی. اوكه چرې كـشتئ دَ قبلې طرف نه واوړی نو مونځ ګذار دې هم خپل مخ دَ قبلې طرف ته اوګرځوی. كه سره دَ قدرته دَ قبلې طرف ته نه تاويږی نودَهغه مونځ به جائز نه وی. (۴)
دَ حافظ بن حجر رحمه الله يو قول اودَ هغې جواب: حافظ ابن حجر رحمه الله دَ مناسبت لاندې داخبره

---

(۱) مصابيح الجامع للدماميني: ۱۰۲/۲.
(۲) فتح الباري: ۶۴۳/۱.
(۳) عمدة القاري: ۱۶۳/۴.
(۴) المبسوط للسرخسي، كتاب الصلاة، باب: في الصلوات في السفينة: ۲/۲ ردالمحتار، كتاب الصلوة، مطلب: في الصلاة في السفينة: ۵۷۳/۲-۵۷۲، مراقي الفلاح شرح نورالإيضاح، كتاب الصلوة، الصلاة في السفينة، ص: ۴۰۸.

ذکر کړې ده چه امام بخاری رحمه الله د امام ابوحنیفه رحمه الله خلاف طرف ته اشاره کړې ده.([1])
نو واضحه دې وی چه په دې مسئله کښې د امام صاحب رحمه الله استدلال د حضرت انس رضی الله عنه د حدیث نه دې. دویمه خبره دا چه حضرت حسن بن زیاد رحمه الله په خپل کتاب کښې د سوید بن غفله په سند سره روایت کړې دې چه ما د حضرت ابوبکر او حضرت عمر فاروق رضی الله عنهما نه په کشتئ کښې د مونځ کولو باره کښې سوال اوکړو نو دواړو حضراتو اوفرمائیل چه د کشتئ د تلو په حالت کښې په ناسته مونځ کوه او د اودریدو په حالت کښې په ولاړه مونځ کوه.

دریمه خبره دا چه د کشتئ د تلو په حالت کښې اکثر دوران راس وی. لهذا د سبب په ځائې مسبب اوګرلې شو او هم داسې کیږی هم، خاص کر چه کله په مسبب باندې واقفیت ګران وی یا هغه داسې وی چه د سبب په موجودګئ کښې د هغې نه موجود یدل ډیر نادر وی. څنګه چه امام صاحب رحمه الله مباشرت فاحشه د منی د خروج قائمقام دې لهذا حکم په اکثری حالت باندې ور کړې شو.([2])
حضرت مجاهد، حضرت ابن سیرین، حضرت ابوقلابه، حضرت طاؤس او د حضرت جناده بن ابی امیه رحمهم الله هم دغه مؤقف دې([3])

دویم تعلیق: وَقَالَ الحَسَنُ: «كَائِمًا مَالَمْ تَشُقَّ عَلَى أَصْحَابِكَ تَدُورُ مَعَهَا وَإِلَّا فَقَاعِدًا»
د تعلیق ترجمه: او حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائیلی دی چه په کشتئ کښې په ولاړه باندې مونځ کولې شی ترکومې پورې چه ستا ملګرو ته ګرانه نه وی. (که چرې کشتئ تاؤ شی) نو ته کشتئ سره تاویږه (ترهغې پورې چه ستا مخ قبلې طرف ته شی) ګنی په ناسته باندې مونځ کوه.

د تعلیق تخریج: دا تعلیق ابن ابی شیبه رحمه الله موصولاً ذکر کړې دې، وئې ګورئې: «حدثنا حفص عن عاصم عن الشعبي والحسن وابن سيرين أنهم قالوا: صل في السفينة قائما، وقال الحسن: "لا تشق على أصحابك"»([4])
د تعلیق راوی: حسن رحمه الله: دا مشهور تابعی ابوسعید بن ابی الحسن یسار البصری رحمه الله دې. د دوی تفصیلی احوال کتاب الإیمان باب: وإن طائفتان من المؤمنين اقتتلوا، فأصلحوا بينهما لاندې

---

[1] فتح الباري: ۶۳۴/۱.
[2] بدائع الصنائع، كتاب الصلاة، فصل: أما أركانها: ۵۱۵/۱.
[3] حدثنا أبوبكر قال: حدثنا عبدالله بن إدريس، عن حصين، عن مجاهد، قال: كنا نغزو مع جنادة بن أبي أمية البحر، فكنا نصلي في السفينة قعودا. حدثنا هشيم، عن يونس، أن ابن سيرين، قال: خرجت مع أنس، إلى بني سيرين في سفينة عظيمة، قال: فأمنا فصلى بنا فيها جلوسا ركعتين، ثم صلى بنا ركعتين أخراوين. حدثنا ابن علية، عن خالد، عن أبي قلابة، "أنه كان لا يرى بأسا بالصلوة في السفينة جالسا". حدثنا وكيع، عن أبي خزيمة، وطاوس، قال: صل فيها قاعدا. المصنف لابن أبي شيبة، كتاب الصلوة، من قال: صل في السفينة جالسا، رقم الحديث: ۶۵۶۰-۶۵۶۳ المصنف لابن عبدالرزاق، كتاب الصلاة، باب: الصلاة في السفينة، رقم الحديث: ۴۵۵۶-۴۵۵۳.
[4] المصنف لابن أبي شيبة، كتاب الصلاة، من قال: صل في السفينة قائما، رقم الحديث: ۶۶۲۸.

تیر شوی دی.(۱)

تشریح "قائما" حال دي دَفعل محذوف "تصلی"نه، دغه شان به دا جمله دَ سائل دَ سوال جواب جوړ شي چه سوال کونکی تپوس اوکړو چه په کشتئ کښې مونځ په ولاړه ادا کړې شی که په ناسته؟ نوجواب ورکړې شو چه ته په کشتئ کښې دَ اودریدو په حالت کښې مونځ ادا کوه ترکومې پورې چه ستا دَ پاره داسې کول سخت نه وی. اوکله چه دَ کشتئ په روانیدو سره ستا دَپاره په ولاړه باندې مونځ کول گران شی اودَ پریوتلو اندیښنه وی نو په ناسته باندې مونځ کوه. ځکه چه په دې صورت کښې هم په ولاړه مونځ اداکول دَ مونځ گذارد دَ پاره دَ حرج سبب دې اوحرج مدفوع دې.(۲)

دَ حضرت حسن بصری رحمه الله دَدې خبرې نه درې مسئلې معلومې شوې: ① په کشتئ کښې که څه عذر نه وی نو په ناسته دې مونځ نه کوی بلکه په ولاړه دې کوی.

② په کشتئ کښې هم دَ قبلې طرف ته مخ کول ضروری دی. که چرې دَ مونځ دوران کښې کشتئ تاؤ شی نودَ مونځ گذار دَ پاره هم ضروری دی چه هغه دې هم تاؤ شی هم دغه حکم په ترین کښې دَ مونځ کولو دې.

③ که چرې په کشتئ کښې مونځ کول گران وی نودَ کشتئ نه بهروتلوسره مونځ کول افضل دی. شیخ الحدیث صاحب رحمه الله فرمائی چه علامه قسطلانی رحمه الله دَدې جملې مطلب دا لیکی چه کشتئ کوم خوا ځی دې هم په هغه طرف دې روانه وی. زما په نیز دَدې مطلب دادې چه که چرې کشتئ دَ قبلې دَ طرف نه په بل طرف باندې تاؤ شی نومونځ گذار دې خپل مخ دَ قبلې طرف ته تاؤ کړی نه چه دَ کشتئ سره تاویږی راتاویږی. زما دَ پلار رحمه الله په نیز دې دې هم دکشتئ سره سره راتاویږی. یعنی په کوم ځائی کښې چه دغه کشتئ دَ قبلې طرف ته اخوا شی نوهلته دې دغه مونځ گذار قبلې طرف ته راتاویږی.(۳)

حدیث باب: [حدیث نمبر ۲۷۳]

-۳۸۰ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ(۴) أَنَّ جَدَّتَهُ مُلَيْكَةَ دَعَتْ رَسُولَ اللهِ -صلى الله عليه وسلم- لِطَعَامٍ صَنَعَتْهُ لَهُ،

---

۱) كشف الباري: ۲۲۰/۲.

۲) عمدة القاري: ۱۶۲/٤.

۳) إرشاد الساري: ۵۸۲/۱، الأبواب والتراجم: ۱۹۶/۲، سراج القاري: ٤۰۹/۲.

٤) رواه البخاري أيضا في الجماعة، باب: المرأة وحدها تكون صفاً، رقم الحديث: ۷۲۷وفي صفة الصلاة، باب: وضوء الصبيان، رقم الحديث: ۸۶۰ وباب: صلاة النساء خلف الرجال رقم الحديث: ۸۷۱وفي التطوع، باب: ......

فَأَكَلَ مِنْهُ ثُمَّ قَالَ «قُومُوا فَلأُصَلِّ لَكُمْ». قَالَ أَنَسٌ فَقُمْتُ إِلَى حَصِيرٍ لَنَا قَدِ اسْوَدَّ مِنْ طُولِ مَا لُبِسَ، فَنَضَحْتُهُ بِمَاءٍ، فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَصَفَفْتُ وَالْيَتِيمَ وَرَاءَهُ، وَالْعَجُوزُ مِنْ وَرَائِنَا، فَصَلَّى لَنَا رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ انْصَرَفَ.

ترجمه حديث: د حضرت انس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دې چه د هغه نيا مليكه رسول الله ﷺ ته د خوراك دعوت وركړو كوم چه هغې (خاص) د رسول الله ﷺ د پاره تيار كړې وو نوحضورپاك د هغه خوراك نه اوخوړلو بيائې اوفرمائيل: راځئ اودرېږئ چه زه (ستاسو په كوركښې د خير اوبركت دپاره) تاسو ته مونځ دركړم.

حضرت انس رضي الله عنه وائي چه زه پاسيدم يو پوزكې مې راوړو چه د ډير استعمالولو د وجې نه تور شوې وو. بيا ما په هغې باندې اوبه چنړكاؤ كړې (يعنى هغه مې اووينځلو) بيا حضورپاك په هغې باندې اودريدو. ما او يو يتيم وړوكى هلك حضورپاك پسې شاته صف جوړ كړو او بوډئى نيا مونږ پسې شاته اودريده. بيا حضورپاك مونږ ته دوه ركعته مونځ راكړو بيا حضورپاك واپس تشريف يوړو.

تراجم رجال: په دې حديث مبارك كښې ټول څلور رجال دي.

① **عبدالله بن يوسف** رحمه الله: دا عبدالله بن يوسف تنيسى دمشقى رحمه الله دې. د دوى تذكره كشف البارى، كتاب بدء الوحى په دويم حديث او تفصيلى تعارف كتاب العلم، باب: ليبلغ الشاهد الغائب لاندې تيرشوې دې[1]

② **مالك** رحمه الله: دا مشهور امام مالك بن انس بن مالك الاصبحى المدنى رحمه الله دې. د دوى تذكره كشف البارى، كتاب بدء الوحى په دويم حديث او تفصيلى تعارف كتاب الإيمان، باب: من الدين الفرار من الفتن لاندې تيرشوې دې[2]

③ **اسحاق بن عبدالله بن ابى طلحه** رحمه الله: دا اسحاق بن عبدالله بن ابى طلحه انصارى نجارى مدنى رحمه الله دې. د دوى د نيكه ابوطلحه نوم زيد بن سهيل دې. د دوى تذكره كشف البارى، كتاب العلم، باب: من قعد حيث ينتهى به المجلس ومن رأى فرجة فى الحلقة فجلس فيها لاندې تيره شوې ده[3]

.... ماجاء تطوع مثنى مثنى، رقم الحديث ١١٦٤. ومسلم فى صحيحه، فى المساجد، باب: جواز الجماعة فى النافلة والصلاة على حصير، رقم الحديث: ٦٥٩- ٦٦٠ وأبوداؤد فى سننه، فى الصلاة، باب: إذا كانوا ثلاثة كيف يقومون؟ رقم الحديث: ٦١٢ وفى الصلاة على الحصير، رقم الحديث: ٦٥٧ والترمذى فى جامعه، فى الصلاة، باب: ماجاء فى الرجل يصلى ومعه الرجال والنساء، رقم الحديث: ٢٣٤. والنسائى فى سننه، فى المساجد، باب: الصلاة على حصير، رقم الحديث ٧٣٨، وفى الإمامة، باب: إذا كانوا ثلاثة وامرأة، رقم الحديث: ٨٠٢ وفى جامع الاصول، حرف الصاد، الكتاب الأول: فى الصلاة القسم الأول: فى الفرائض وأحكامها، الباب الأول: فى الصلاة وأحكامها، الفصل السادس: فى شرائط الصلاة، الفرع الرابع: فى أمكنة الصلاة وما يصلى عليه، النوع الأول، فيما يصلى عليه، رقم الحديث: ٤٦٥/٥- ٦٥٤

[1] كشف البارى: ٢٨٩/١، ١١٣/٤.

[2] كشف البارى: ٨٠/٢/١، ٢٩٠.

[3] كشف البارى: ٢١٣/٣.

④ انس بن مالك رضي الله عنه: دامشهور او معروف صحابي رسول حضرت انس بن مالك بن نضر خزرجي انصاري رضي الله عنه دې. دَ دوی تذکره کشف الباري، کتاب الايمان، باب: من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه لاندې تيره شوې ده.[1]

مُلیکه: دا لفظ دَ میم په ضمې سره دې لیکن دَ أصیلي په نیز دا لفظ دَمیم په فتحې او لام په کسرې سره دې. په دې دواړو اقوالو کښې رومبې قول صحیح دې دویم صحیح نه دې. علامه نووي رحمه الله په شرح مسلم کښې دَ دویم قول دَ ذکرکولو نه پس فرمائیلي دي ((وهذا ضعيف مردود))[2] او په مشارق الانوار کښې دي ((ولايصح))[3]

دَ "جدته" دَ ضمیر مرجع: په روایت کښې ((جدته مُليكة)) الفاظ دي یعنې دَ حضرت انس رضي الله عنه دَ نیا نوم ملیکه وو. بیا په دې کښې اختلاف دې چه دَ جدته دَ ضمیر غائب "ه" مرجع څه څیز دې؟ دَ ابن عبدالبر، عبدالحق او قاضي عیاض رحمهم الله په نیز دَدې ضمیر مرجع اسحاق راوي دې. یعنې دَاسحاق بن عبدالله بن ابی طلحه نیا، امام نووي رحمه الله دا قول صحیح ګرځولي دې.[4]

علامه قسطلاني رحمه الله هم دا قول اختیار کړې دې.[5] خودَ ابن سعد ابن منده او دَ ابن الحصار رحمهم الله په نیز دَ "ه" ضمیر مرجع حضرت انس رضي الله عنه دې.

علامه عیني رحمه الله نقل کړی دی چه علامه ابن حبان فوائد العراقیین کښې دَ اسحاق بن عبدالله بن ابی طلحه روایت نقل کړې دې په کوم کښې چه هغه دَ حضرت انس رضي الله عنه نه نقل کوی چه هغوی اوفرمائیل زما نیا نبی کریم ﷺ ته دَ دعوت پیغام اولیږلو دَهغې نوم مُلیکه وو. حضورپاك تشریف راوړو بیا دَ مونځ وخت شر نو دَ مونځ دَ پاره په یو پوزکی باندې اودریدو. الخ.[6]

علامه انورشاه کشمیري رحمه الله فرمائي چه په دواړو کښې چه هر یو مرجع اوګرځولې شي په دې کښې هیڅ تضاد نشته دې. څکه چه دَ حضرت انس رضي الله عنه دَ مور نوم اُم سلیم وو دَهغې دَ مور نوم مُلیکه وو. بله دا چه دَ ام سلیم دَ رومبي خاوند نوم مالك بن النضر وو. دَ چا نه چه حضرت انس رضي الله عنه پیدا شوې وو. دَ هغه دَ وفات نه پس ام سلیم دَ ابوطلحه سره واده اوکړو دَچا نه چه عبدالله پیدا شو او دَ هغه نه اسحاق.

دغه شان ام سلیم نیا جوړه شوه دَاسحاق او دَ هغه مور یعنې مُلیکه دَ قرنیکه نښځه جوړه شوه

[1]) كشف الباري: ٤/٢.
[2]) شرح النووي على صحيح مسلم، كتاب الصلاة، باب: جواز الجماعة في النافلة، رقم الحديث ١٤٩٧، ١٦٤/٤.
[3]) مشارق الأنوار، حرف الكاف، فصل الإختلاف والوهم غيرماتقدم: ٣٩٩/١.
[4]) شرح النووي على صحيح مسلم، كتاب الصلاة، باب: جواز الجماعة في النافلة رقم الحديث: ١٤٩٧، ٥/١٦٤.
[5]) إرشاد الساري: ٣٣/٢.
[6]) عمدة القاري: ١٦٣/٤.

چونكه په عربي ژبه كښې دَ جدة لفظ نيا او دَ ترنيكه ښځې دواړو دَپاره وئيلى شى په دې وجه دَهغوى طرف ته نسبت صحيح شو او دَ حضرت انس رضي الله عنه طرف ته هم نسبت صحيح شو.([1])

الدكتوراحمد الشاكر دَ سنن ترمذي په حاشيه كښې دَدې پوره تحقيق نقل كړې دې چه په ډيرو فوائدو باندې مشتمل دې اودَ كتلو سره تعلق لري.([2])

شرح حديث: أَنَّ جَدَّتَهُ مُلَيْكَةَ دَعَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِطَعَامٍ صَنَعَتْهُ لَهُ

دَ حضرت انس رضي الله عنه نيا مليكه رسول الله ﷺ دَ خوراك دَپاره راؤغوښتلو كوم چه دَ حضورپاك دَ پاره تيار كړې شوې وو. "لطعام" كښې لام اجليه دې يعنى "لأجل لطعامٍ"([3])

په يوشان واقعاتو كښې دَ حضورپاك مختلف طرزعمل: بعضې شارحينو ليكلى دى چه دې لفظ طعام سره دې طرف ته اشاره كول مقصود دى چه حضورپاك ته دعوت صرف دَدې دَ

---

[1]) قوله: (إن جَدَّتَهُ)، قيل: الضمير إلى إسحاق، وقيل: إلى أنس رضى الله عنه، وكلا هما صحيح، فإن أم سليم والدة أنس رضى الله عنه كانت تزوجت بعده أباطلحة رضى الله عنه، فصار عبدالله أخا لأنس رضى الله عنه، وصارت مُلَيْكَةُ جَدَّةً لإسحاق بن عبدالله. (فيض البارى: ٣٢/٤).

[2]) "مُلَيْكَة" بضم الميم، وفتح اللام. وقد أخطأمن ضبطه بفتح الميم وكسر اللام. وقوله: جدته اختلف فى الضمير العائد، هل هو عائد على أنس، فتكون مليكة جدته هو؟ أو على إسحاق بن عبدالله بن أبى طلحة، فتكون جدة إسحاق؟ وقد ادعى ابن عبدالبر أن مليكة هى أم أنس بن مالك، وأنها هى أم سليم بنت ملحان زوج أبى طلحة الأنصارى، وأن الضمير فى جدته عائد على إسحاق بن عبدالله بن أبى طلحة، واستدل لذلك برواية عبدالرزاق لهذا الحديث عن مالك عن إسحاق عن أنس: أن جدته مليكة، يعنى: جدة إسحاق، وذكر الحديث بمعنى مافى الموطأ. وقلد كثير من العلماء ابن عبدالبر فى ذلك، ورواية عبدالرزاق رواها أحمد فى المسند رقم: ١٢٧٠٨، ج:٣،ص:١٦٤، وليس فيها قوله: يعنى:جدة إسحاق.وما ذهب إليه ابن عبدالبر خطأ. فإن أم سليم بنت ملحان اختلف لإسمها: فقيل الغميصاء، وقيل: الرميصاء، وقيل: رميلة، وقيل: رميثة، وهذه الأسماء بضم الأول فيها كلها، ولم يقل أحد أن اسمها مليكة، وأما مليكة، فهى أمها، وهى جدة أنس لأمه، وهى جدة إسحاق بن عبدالله بن أبى طلحة، لأنها جدة أبيه عبدالله لأمه، كانت ابنتها أم سليم تحت مالك بن النضر، فولدت له أنسا فى الجاهلية، وأسلمت مع السابقين من الأنصار، فغضب مالك وخرج إلى الشام ومات بها، فتزوجها بعده أبوطلحة زيد بن سهل الأنصارى، فولدت له عبدالله وأبا عمير، وهؤلاء بنو ملحان معروفون، إخوة أشقاء: سليم وزيد وحرام وعباد وأم سليم وأم حرام، أبوهم: ملحان، بكسر الميم وإسكان اللام، واسمه: مالك بن خالد بن زيد بن حرام، من بنى النجار، وأمهم: مليكة بنت مالك بن عدى بن زيد بن مناة بن عدى، من بنى النجار. (انظر الإصابة، ج:٨ ص: ١٩١-١٩٠، وطبقات ابن سعد، ج:٣، ص: ٧٢-٧١، ج:٨ ص:٣١٠). ويؤيد هذا مانقله السيوطى فى شرح الموطأ (١٦٩:١)عن فوائدالعراقيين لأبى الشيخ من طريق القاسم بن يحيى المقدمى عن عبدالله بن عمر عن إسحاق بن أبى طلحة عن أنس قال: "أرسلنى جدتى إلى النبى صلى الله عليه وسلم، واسمها مليكة، فجاءنا فحضرت الصلاة". فهذا صريح فى أنها جدة أنس لأمه. وانظر فتح البارى (٤١٢/١-٤١١)(حاشية لأحمدالشاكر على سنن الترمذى، كتاب الصلاة، الرجل يصلى ومعه رجل، تحقيق أن مليكة جدة أنس: ٤٥٥/١-٤٥٤مطبعة مصطفى البابى الحلبى).

[3]) فتح البارى: ٦٣٥/١،عمدة القارى: ١٦٤/٤. التوشيح للسيوطى: ٣١٣/١.

پاره ورکړې شوې وو چه حضورپاك خوراك اوکړې په خلاف د حضرت عتبان بن مالك د قصې.[1]

چه په هغې کښې حضورپاك ته د برکت د حاصلولو په غرض سره د مونځ ورکولو د پاره دعوت ورکړې شوې وو. چنانچه د هغوی په قصه کښې حضورپاك اول مونځ ورکړو بیا ئې خوراك اوکړو او په دې قصه کښې ئې اول خوراك اوکړو بیائې مونځ ورکړو یعنی په کوم غرض سره چه دعوت ورکړې شوې وو هغه ئې مخکې کړو.

په دې باندې علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دا ضروری نه دی چه ملیکه دې صرف هم د خوراك د پاره راغوښتې وی بلکه په ظاهره دا خبره ده چه د هغې مقصود هم د برکت د پاره د مونځ ورکولو له راغوښتل وو. البته دا وئیلې کیدې شی چه هغوی کره خوراك تیار وو په دې وجه حضور پاك اول خوراك اوکړو او مونځ ئې ادا کړو. او د حضرت عتبان بن مالك رضی الله عنه په قصه کښې خوراك هغه وخت تیار نه وو په دې وجه اول ئې هلته مونځ اوکړو بیا ئې خوراك اوکړو. لهذا دا چه په دواړو واقعاتو کښې څه منافات نشته دې چه د تطبیق یا جمع کولو نوبت پیښ شی.[2]

قوله: فَأَكَلَ مِنْهُ، ثُمَّ قَالَ: «قُومُوا فَلِأُصَلِّ لَكُمْ»: چنانچه حضورپاك هغه خوراك اوخوړلو بیائی اوفرمائیل تاسو اودریږئی دې د پاره چه زه تاسو ته (د خیر اوبرکت) د پاره مونځ درکړم.

د «**فَلِأُصَلِّ لَكُمْ**» **ترکیبی حیثیت:** د کشمیهنی په روایت کښې دا لفظ د لام نه بغیر دې یعنی "فَأُصَلِّ" او د اصیلی په روایت کښې په شروع ښې "لام امر" او په آخر کښې د "ي" په حذف

---

[1] حدثنا سعید بن عفیر، قال:حدثنی اللیث، قال: حدثنی عقیل، عن ابن شهاب، قال: أخبرنی محمود بن الربیع الأنصاری، أن عتبان بن مالک وهو من أصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم ممن شهد بدرا من الأنصار أنه أتی رسول الله صلی الله علیه وسلم، فقال: یا رسول الله قد أنکرت بصری، وأنا أصلی لقومی، فأذا کانت الأمطار سال الوادی الذی بینی وبینهم، لم أستطع أن آتی مسجدهم فأصلی بهم، ووددت یا رسول الله! أنک تأتینی فتصلی فی بیتی، فأتخذه مصلی، قال: فقال له رسول الله صلی الله علیه وسلم: سأفعل إن شاء الله. قال عتبان: فغدا رسول الله صلی الله علیه وسلم وأبوبکر حین ارتفع النهار، فاستأذن رسول الله صلی الله علیه وسلم، فأذنت له، فلم یجلس حتی دخل البیت، ثم قال: أین تحب أن أصلی من بیتک؟ قال: فأشرت له إلی ناحیة من البیت. فقام رسول الله صلی الله علیه وسلم فکبر، فقمنا فصففنا فصلی رکعتین ثم سلم، قال وحبسناه علی خزیرة صنعناهاله. قال: فآب فی البیت رجال من أهل الدار ذوو عدد، فاجتمعوا. فقال قائل منهم: أین مالک بن الدخیشن أو ابن الدخشن؟فقال بعضهم: ذلک منافق لا یحب الله ورسوله، فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا تقل ذلک، ألا تراه قد قال: لا إله إلا الله، یرید بذلک وجه الله، قال : الله ورسوله أعلم، قال فإنا نری وجهه ونصیحته إلی المنافقین، قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: فإن الله قد حرم علی النار من قال: لا إله إلا الله، یبتغی بذلک وجه الله، قال ابن شهاب: ثم سألت الحصین بن محمد الأنصاری_ وهوأحد بنی سالم – وهو من سراتهم، عن حدیث محمود بن الربیع الأنصاری: فصدقه بذلک. (صحیح البخاری، کتاب الصلاة، باب: المساجد فی البیوت، الرقم: ۴۲۵).

[2] عمدة القاري: ۱۶۴/۴فتح الباری: ۱/۶۳۴.

سره دي. امر چه کله غائب او متکلم دپاره وی نو د هغې شروع د "لام" نه کيږی او کله چه د مخاطب د پاره وی نو د "لام" د حذف او ذکرکول دواړه صحيح وی. الغرض په دې صورت کښې به دا صيغه په جواب امر کښې وی او لام به لام امر وی. او د کشميهنى د روايت والا لفظ به خبر شی د مبتداء محذوف د پاره يعنى "قوموا، فأنا أصلى".

دريم احتمال دا دې چه ابتدائى لام "لام کي" وی او "ي" مفتوح وی په دې صورت کښې به د لام نه پس ان مصدريه محذوف وی. په دې صورت کښې د "ي" نه تخفيفا فتحه حذف کولو سره "فلأصلِّ" ونيل هم جائز دی.

څلورم احتمال دا دې چه دا لام مفتوح وی د تاکيد دپاره او دا جمله جواب شی د قسم محذوف يعنى "قوموا: إن قمتم فوالله لأصلى لكم" ليکن دا احتمال ضعيف دې.[1]

د "لكم" نه مراد هم "لأجلكم" دې. يعنى ستاسو د خاطره (چه تاسو برکت حاصل کړئى يا تاسو مشاهدة مونځ زده کړئى) مونځ درکوم.[2]

قوله: قَالَ أَنَسٌ: فَقُمْتُ إِلَى حَصِيرٍ لَنَا، قَدِ اسْوَدَّ مِنْ طُولِ مَا لُبِسَ: حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه ما يو پوزکې راوړو چه د ډير استعمال د وجې نه تور شوې وو. د "اسود" نه مراد رنګ بدليدل دی.[3]

قوله: "طُولِ مَا لُبِسَ" نه مراد اوږدې زمانې پورې دَدې استعمالول دی. ليکن په دې ځائې کښې دَدې نه مراد فائده اوچتول دی لکه چه تاج العروس اولسان العرب کښې مصرح دی.[4]

علامه ابن ملقن رحمه الله ليکی چه دلته يوه خبره دا هم معلومه شوه چه په افتراش باندې د لُبس اطلاق کيدې شی اوشرعاً او لغةً به د هر څيز لُبس د هغه په اعتبار سره ځان له او جدا وی. لهذا افتراش حصير ته به عرفاً لباس نه شی ونيلې. په دې سره د امام مالک رحمه الله د مسئلې رد هم اوشو چه دَهغوی په نيز که چرې يو سړې د «لايلبس ثوبًا» په الفاظو سره قسم اوخوری او بيا هم په هغه ثوب باندې کينى نو د امام مالک رحمه الله په نيز هغه به حانث شی. ځکه چه د

---

[1] (قوموا فأصلي)هي عندالكشميهني بغير لام ساكنة الياء، وهي واضحة صحيحة، ورواها غيره: "فأصلي" بلام مكسورة، وفتح الياء على أنها لام كي على زيادة الفاء، وقد رويت بفتح اللام وسكون الياء. كقوله تعالى: ﴿إِنْ كَادَ لَيُضِلُّنَا﴾ وقال ابن سيد: يرويه كثير من الناس بالياء، ومنهم: من يفتح اللام ويسكن الياء، ويتوهمونه قسما، وذلك غلط، لأنه لا وجه للقسم، ولوكان لقال: "فلأصلين"بالنون. وإنما الرواية الصحيحة "فلأصل" على معنى الأمر، والأمر إذا كان للمتكلم والغائب كان باللام أبدا، وإذا كان للمخاطب كان باللام بغيراللام. (التنقيح لألفاظ الجامع الصحيح، كتاب الصلاة، رقم الحديث: ۳۸۰، ۱۰۰/۱)، فتح الباري: ۶۳۵/۱،عمدة القاري: ۱۶۵/۴.

[2] فتح الباري: ۶۳۵/۱.

[3] بذل المجهود، كتاب الصلوة، باب: إذا كانوا ثلاثة كيف يقومون؟ رقم الحديث: ۶۱۰، ۲/۵۲۹.

[4] تاج العروس: ۴۶۶/۱۶، لسان العرب: ۲۰۲/۶.

قسمونو دارومدار په عرف باندې وي او په عرف كښې افتراش ته لباس نه وائي اودلته قسم خوړونكى د نه اغوستو قسم خوړلې وو. لهذا قسم خوړونكې به حانث نه وي.[1]

امام نووي رحمه الله هم دلته هم دغه فرمائي چه «من طول لُبس» كښې د قرينې د وجې د لُبس نه مراد افتراش دې.[2]

د حافظ صاحب په احنافو باندې رد اود هغې جواب: دارنگ حافظ ابن حجر رحمه الله ... خائي كښې "لُبس" د افتراش په معنى اغستلې دې او د امام ابوحنيفه رحمه الله نوم اخستو نه بغير ئې په هغه باندې رد كړې دې چه نبي كريم ﷺ د مطلق ريښم د استعمال نه منع فرمائيلې ده. په دې عمومي نهى كښې ريښم اغوستل او يا خورولو سره په هغې كيناستل او د ريښمو په تكيه گانو باندې وده لگول داخل دي. لهذا د امام ابوحنيفه رحمه الله قول (چه د ريښمو په بستره باندې كيناستلو او وده لگولو كښې هيڅ حرج نشته دې) صحيح نه شو ځكه چه په لبس باندې افتراش كيږي.[3]

علامه عينى رحمه الله د دغه ټولو رد كولوسره فرمائي چه "لُبس" ځنگه د اغوستلو په معنى كښې استعماليږي هم دغه شان د دې استعمال د نفع اوچتولو په معنى كښې هم كيږي اوهم دغه دلته مراد دې نه چه صرف افتراش. په دې سره چه د حافظ صاحب كوم رد دې د هغې هم جواب اوشو.[4]

قوله: فَنَضَحْتُهُ بِمَاءٍ: بيا ما په دغه پوزكى باندې د اوبو څاڅكي څنړكاؤ كړل. د "نضح" مطلب د اوبو څنړكى اچول (څاڅكى كول) دى. علامه جوهرى رحمه الله ليكلى دى چه د دې اطلاق كله په وينځلو باندې هم كيږي ليكن رومبې معنى زياته مشهوره ده.[5]

په پوزكى باندې د اوبو څنړكاؤلو مقصد د هغه كهجورو د پاڼړو نه جوړ شوې پوزكې نرمول وو. يا د هغې دوړې لرې كول وو. قاضى سليمان مالكى رحمه الله هم دغه وضاحت كړې دې.[6]

د قاضى عياض مالكى رحمه الله په نيز د اوبو څنړكاؤ د دې د پاره وو چه د نجاست شك لرې شي. د مالكيه د مذهب مطابق د مشكوك څيز د طهارت د پاره د وينځلو ضرورت نه وي صرف د اوبو څاڅكي كول كافي وي.[7]

قوله: فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَصَفَفْتُ وَالْيَتِيمَ وَرَاءَهُ، وَالْعَجُوزُ مِنْ وَرَائِنَا: بيا رسول الله ﷺ

---

[1] التوضيح لشرح الجامع الصحيح لابن الملقن: ٣٧٢/٥، الإعلام بفوائد عمدة الأحكام، باب الصلاة، باب: تسوية الصفوف، الحديث الثالث: ٥٣٠/٢.

[2] شرح النووي، كتاب الصلاة، باب: جواز الجماعة في النافلة، رقم الحديث: ١٤٩٧، ١٦٦/٥.

[3] فتح الباري: ٦٣٥/١.

[4] عمدة القاري: ١٦٤/١.

[5] مختار الصحاح للجوهري، ص: ٢٧٧.

[6] شرح النووي، كتاب الصلاة، باب: جواز الجماعة في النافلة، رقم الحديث: ١٤٩٧، ١٦٦/٥.

[7] إكمال المعلم، كتاب الصلاة، باب: جواز الجماعة في النافلة، رقم الحديث: ١٤٩٧، ٦٣٦/٢.

(په دغه پوزکې باندې) اودرېدو او ما او يو يتيم (وړوکي ماشوم) حضور پاك پسې شاته صف جوړ کړو او بوډئ (زما نيا) زمونږ نه شاته صف کښې اودرېده.

قوله: "وَصَفَفْتُ أَنَا وَالْيَتِيمَ": دَ صحيح البخاري په اکثر نسخو کښې دا جمله دغه شان ده ليکن دَ مستملي او حمودي په روايت کښې دا جمله "صففتُ وَالْيَتِيمَ" ده ، دَ لفظ أنا نه بغير.

اول ذکر شوې جملې سره دَ نحويانو نه دَ بصريينو مذهب ته تقويت ملاوېږي ځکه چه دَهغوی په نيز قاعده داده چه کله دَ اسم ظاهر ضمير عطف مرفوع متصل باندې کول وی نو اول دَ دغه ضمير مرفوع متصل تاکيد په ضمير منفصل سره راوړی بيا پرې عطف کوی، لکه چه قرآن کريم کښې دی: ﴿اسْكُنْ أَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ﴾ (البقرة: ۳۵) او دَ کوفيينو په نيز په دا سې موقعو باندې تاکيد راوړل څه ضروري نه دی ليکن په دوی دواړو کښې دَ بصريينو مذهب زيات فصيح دې.([1])

دَ يتيم معنی او مطلب: هغه نابالغ ماشوم دَ چا پلار چه مړ شی هغه ته يتيم وائی. او په ځناورو کښې دَ چا چه مور مړه شی هغه يتيم يادېږی. دَدې جمع أيتام، يتامٰی، يَتْمَةٌ، يَتْمَةٌ او يتائم راځی.([2])

علامه ابن اثير رحمه الله ليکی چه دَ بلوغت نه پس لفظ يتيم استعمالول صحيح نه دی او که چرته استعمال شوې وی نو مجازاً به استعمالېږی.([3])

په دې لفظ باندې رفع او نصب دواړه وئيل جائز دی. دَ رفع په صورت کښې به دَدې عطف په "أنا" ضمير باندې وی کوم چه دَ ظرفيت په وجه مرفوع دې. او دويم احتمال دا دې چه "اليتيم" مبتداء وی او "وراءنا" خبر وی او پوره جمله حال وی. او نصب به په هغه صورت کښې ممکن وی کله چه "واؤ" دَ مَعَ په معنی کښې واخلی يعنی "وصففتُ أنا مع اليتيم".([4])

په حديث مذکوره کښې دَ يتيم مصداق څوک دې؟ دَ حديث مبارك په دې جمله کښې چه دکوم يتيم ذکر راغلې دې دَهغې نه مراد څوك دې؟ دَدې په تعيين کښې ډيرزيات اختلافی اقوال دی. ملاعلی قاری رحمه الله ليکی چه دا لفظ اسم عَلَم دې دَ حضرت انس رضي الله عنه دَ رور([5]). ليکن علامه سهارنپوری رحمه الله ليکی چه دا قول سوا دَ ملاعلی قاری رحمه الله نه دَ بل چا نه دې ملاؤ شوې.([6])

علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه دَ هغه نوم "ضُمَيرة" وو([7])

---

[1] فتح الباري: ۶۳۶/۱، عمدة القاري: ۱۶۵/۴، التنقيح لألفاظ الجامع الصحيح، كتاب الصلاة، رقم الحديث: ۳۸۱، ۱۰۱/۱.

[2] معجم الصحاح للجوهري، ص: ۱۱۶۷، لسان العرب: ۶۴۵/۱۲، الإعلام بفوائد عمدة الأحكام: ۵۳۲/۲.

[3] النهاية في غريب الحديث والأثر: ۹۲۵/۲، لسان العرب: ۶۴۵/۱۲.

[4] شرح الكرماني: ۴۶/۴، التوضيح لابن ملقن: ۳۷۳/۵، التنقيح لألفاظ الجامع الصحيح، كتاب الصلاة، رقم الحديث: ۳۸۱، ۱۰۱/۱.

[5] مرقاة المفاتيح، كتاب الصلاة، باب: الموقف، رقم الحديث: ۱۱۰۸، ۷۵/۳.

[6] بذل المجهود، كتاب الصلاة، باب: إذا كانوا ثلاثة كيف يقومون؟ رقم الحديث: ۶۱۰، ۵۲۹/۲.

[7] شرح الكرماني: ۴۶/۴.

علامه عینی رحمه الله نور لیکي چه دَ هغه پلار دَ نبي کریم ﷺ ازاد کړې شوې غلام وو صحابی وو او دَ قبیله حمیر نه وو، دَ هغه نوم سعد وو.[1]

دَ العجوز مصداق: په مذکوره عبارت کښې دَ "العجوز" نه مراد دَحضرت انس رضي الله عنه نیا ده. دَ چې ذکر چه په شروع کښې تیرشوی دی.[2]

قوله: فَصَلَّى لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ: بیا رسول الله ﷺ مونږ ته دوه رکعته مونځ راکړو.

قوله: "لنا" کښې لام اجلیه دې یعنی زمونږ دَ خاطره یا زمونږ دَ زړه ساتنې دَ پاره یا زمونږ دَ خودنې دَ پاره دوه رکعته مونځ راکړو.[3]

قوله: ثُمَّ انْصَرَفَ: بیا حضورپاك تشریف یوړو. دَدې جملې دوه مطلبونه بیان کړې شوی دی. یو دا چه "انْصَرَفَ" دَ "سلّم" په معنی کښې دې او دویم دا چه "رجع" په معنی کښې دې. یعنی "رجع إلى بيته".[4]

علامه کورانی رحمه الله دې دویم قول ته ترجیح ورکړې ده.[5]

دَ مذکوره حدیث شریف نه مستنبط شوې امور اواحکام: شارحین حدیث دَدې حدیث مبارك نه ډیر احکام او آداب اخذ کړی دی. دَ هغې نه څه دلته لاندې ذکرکولې شی:

① دَ خوراك دعوت اگرکه هغه دَ ولیمې دَ دعوت نه علاوه وی، قبلول مستحب دی.
② دعوت قبلول دَ رسول الله ﷺ په تواضع باندې دلالت کوی.
③ نوافل کښې افضل دادی چه په کور کښې اداکړې شی.
④ دَ اکرام کونکی دَ اکرام په بدله کښې څه نا څه احسان کول پکار دی لکه چه حضورپاك دغه کور والو ته نفل مونځ ورکړو.
⑤ دَ کور صفا ستره ساتل مستحب دی.
⑥ دَ ماشومانو مونځ هم صحیح دې.
⑦ دَ ماشومانو دَ لویو په صف کښې اودریدو سره مونځ کول صحیح دی.
⑧ دَ ښځو په جمع سره مونځ کښې دَ اودریدلو مقام آخری صف دې.
⑨ په کپړو او پوزکی وغیره کښې اصل دادې چه هغه پاك وی خو که دَهغې دَ ناپاکه کیدو یقین اوشی نو بیا هغه پاکول ضروری دی.
⑩ لکه څنګه چه مونځ په زمکه باندې کیږی دغه شان په کپړه، پوزکی وغیره باندې هم

---

[1] عمدة القاري: ١٦٥/٤.
[2] فتح الباري: ٦٣٦/١،عمدة القاري: ١٦٥/٤.
[3] عمدة القاري: ١٦٥/٤، إرشاد الساري: ٣٣/٢.
[4] الإعلام بفوائد الأحكام، كتاب الصلاة، باب: تسوية الصفوف: ٥٣٨/٢.
[5] الكوثر الجاري: ٦٨/٢.

کیږي (۱)

⑤ بعضې حضراتو دا هم ذکرکړې دی چه په دې حدیث کښې دلالت دې چه هغه ځیزونه کوم چه په اور باندې پخ شوې وی دهغې خوړلوسره اودس نه ماتیږی ځکه حضورپاك په دې واقعه کښې اودس نه دې کړې اودَ مونځ دَ پاره اودریدلو.

لیکن حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دې کښې نظر دې. ځکه چه امام دارقطنی رحمه الله غرائب مالك کښې "عن العطوی عن عبدالله بن عون عن مالك" په سند سره روایت ذکر کړې دې په کوم کښې چه دا الفاظ دی: ((صنعت ملیکة لرسول الله صلی الله علیه وسلم طعاما، فأکل منه، وأنا معه، ثم دعا بالوضوء....)) یعنی په دې طریق کښې دَ اودس کولو ذکر موجود دې(۲)

دَ صف جوړولو ترتیب: علامه کورانی رحمه الله هم دغه ذکرکړې دی(۳)

په مذکوره حدیث کښې چه څنګه دَ صف جوړولو ذکر راغلې دې احناف هم دَ دغه طریقې قائل دی چه دَ ټولو نه مخکښې امام، دَ هغه نه شاته بالغ سړی اودَ هغوی نه شاته ماشومان. اوکه چرې ښځې هم وی نوهغوی دَ ټولو نه شاته. اوکه چرې سړې هم یو وی او ماشوم هم یو وی نو دواړه دې په یو ځائی یو صف کښې یعنی دَ امام نه شاته صف کښې او ښځه دَ ټولو نه آخری صف کښې، هم دغه مذهب دَ ډیرو زیاتو فقهاؤ کرامو دې.(۴)

دَ حضرت ابن مسعود رضی الله عنه مذهب: په صحابه کرامو کښې دَ حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه مذهب په دې مسئله کښې دادې چه که چرې دوه مقتدیان وی نو امام به دَدغه دوو په مینځ کښې اودریږی، دَ هغوی نه به په جدا صف کښې نه اودریږی.(۵)

---

(۱) أعلام الحدیث للخطابی: ۳۷۳/۱، الإعلام بفوائد عمدة الأحکام، کتاب الصلاة، باب: تسویة الصفوف: ۵۶۳-۵۳۸/۲،الشرح المیسر لصحیح البخاری: ۴۳۴/۱،شرح الکرمانی: ۳۶/۴،عمدة القاری:۱۶۵/۱-۱۶۴.

(۲) فتح الباری:۶۳۶/۱.

(۳) الکوثر الجاری: ۸۶/۲.

(۴) الدرالمختار مع ردالمحتار، کتاب الصلاة، باب: الإمامة: ۳۱۶/۲-۳۱۴، بدائع الصنائع، کتاب الصلاة، فصل فی بیان مقام الإمام والمأموم: ۶۷۴/۱، الفتاوی الهندیة، کتاب الصلاة الباب الخامس فی الصلاة، الفصل الخامس فی بیان المقام الإمام والمأموم: ۸۸/۱.

(۵) حدثنا محمدبن العلاء الهمدانی أبو کریب، قال: حدثنا أبومعاویة، عن الأعمش، عن إبراهیم، عن الأسود، وعلقمة، قالا: أتینا عبدالله بن مسعود فی داره، فقال: أصلی هؤلاء خلفکم؟ فقلنا: لا، قال: فقوموا فصلوا، فلم یأمرنا بأذان ولا إقامة، قال: وذهبنا لنقوم خلفه، فأخذ بأیدینا فجعل أحدنا عن یمینه والآخر عن شماله، قال: فلما رکع وضعنا أیدینا علی رکبنا، قال: فضرب أیدینا وطبق بین کفیه، ثم أدخلهما بین فخذیه، قال: فلما صلی، قال: إنه ستکون علیکم أمراء یؤخرون الصلاة عن میقاتها، ویخنقونها إلی شرق الموتی، فإذا رأیتموهم قد فعلوا ذلک،فصلوا الصلاة لمیقاتها، واجعلوا صلاتکم معهم سبحة، وإذا کنتم ثلاثة فصلوا جمیعا، وإذا کنتم أکثر من ذلک،فلیؤمکم أحدکم، وإذا رکع أحدکم فلیفرش ذراعیه علی فخذیه، ولیجنأ، ولیطبق بین کفیه، فلکأنی أنظر إلی اختلاف أصابع رسول الله صلی الله علیه وسلم فأراهم. (صحیح مسلم، کتاب الصلاة، باب: الندب إلی وضع الأیدی علی الرکب فی الرکوع ....

دَ ابن الملقن رحمه الله دَ احنافو طرف ته دَ يوې مسئلې په نسبت كښې سهو: علامه ابن الملقن رحمه الله "التوضيح لشرح الجامع الصحيح" كښې دَ احنافو مذهب هم دغه نقل كړې دې.[1]

دَمذكوره سهو رد: علامه عينى رحمه الله په دې باندې رد كولوسره فرمائيلى دى چه دَ علامه ابن الملقن رحمه الله دا نسبت كول صحيح نه دى. بلكه دَ احنافو مذهب په دې مسئله كښې هم هغه دې كوم چه په حديث كښې ذكر شو چه امام كله دَ دوو مقتديانو امامت كوى نو پخپله به وړاندې اودرېږى او دواړه مقتديان به شاته صف كښې اودرېږى نه چه هم په دغه صف كښې دَ امام نه ښى او ګس طرف ته. البته دَ امام ابويوسف رحمه الله يو روايت دې چه امام به دَ دغه دواړو په مينځ كښې اودرېږى.[2]

دَ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه دَ مذهب جواب: دَ حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دَ دې موقف درې جوابونه وركړې شوې دى:

① هغوى ته به دَ حضرت انس رضي الله عنه دا مذكوره حديث نه وى رسيدلې.[3]

② هغوى به داسې دَ جمات دَ تنګيدو يا بل څه عذر دَ وجې نه كړې وى نه دَ سنت ګڼړلو دَ وجې.[4]

③ امام بيهقى رحمه الله په معرفة السنن والآثار كښې ذكركړې دى چه حضرت ابن مسعود رضي الله عنه رسول الله ﷺ په مونځ كولو اوليدلو او حضرت ابوذر رضي الله عنه دَ حضورپاك ښى طرف ته ولاړ وو مونځ ئې كولو. په دې دواړو كښې هر يو خپل مونځ ادا كولو. (يعنى داسې نه وو چه هغه دواړه حضراتو په جمع سره مونځ كولو). نوحضرت ابن مسعود رضي الله عنه هغه دواړو حضراتو پسې شاته اودريدو نو حضورپاك هغه ته اشاره اوكړه چه ګس طرف ته اودرېږه. نو هغه ګمان اوكړو چه دَ اودريدو هم دغه سنت طريقه ده حالانكه حقيقت دادې چه هغه ته دَدې خبرې علم نه وو چه هغه دواړه حضرات ځان له مونځ كونكى دى يا په جمع مونځ كوى. تردې ځائې پورې چه كوم روايت دَ حضرت ابوذر رضي الله عنه نه نقل دې په هغې كښې داخبره ذكرده چه په مونځ كښې هر يوكس خپل مونځ كولو.[5]

.... رقم الحديث: (١٢٢١). والمذكور فى "نزهة الألباب فى قول الترمذى: وفى الباب هذا: "أما حديث ابن مسعود"، فرواه مسلم:١/٣٧٨، وأبوعوانة فى مستخرجه: ٢/١٨١-١٨٠، والنسائى فى المجتبى:٢/٦٦ والكبرى: ١/٣٧٨، وأحمد:١/٤١٨، ٤١٣،٤ وغيرهم.(نزهة الألباب وفى قول الترمذى: "وفى الباب".كتاب الصلاة: ٢/٥٥٤)

[1] التوضيح لشرح الجامع الصحيح لابن الملقن: ٥/٣٧٤.

[2] عمدة القارى: ٤/١٦٧.

[3] البناية، كتاب الصلاة، باب: الإمامة: ٢/٣٤١.

[4] شرح معانى الآثار، كتاب الصلاة، باب: الرجل يصلى بالرجلين، رقم الحديث: ١٨٩٣٩، ١/٣٠٧.

[5] "فأما ما روى فى ذلك عن ابن مسعود فقد قال محمدبن سيرين: كان المسجد ضيقا، وقد قيل إنه رأى النبى صلى الله عليه وسلم يصلى، وأبوذر عن يمينه يصلى، كل واحد منهما يصلى لنفسه. فقام ابن مسعود خلفهما، فأومأ إليه النبى صلى الله عليه وسلم بشماله فظن عبدالله أن ذلك سنة الموقف، ولم يعلم أنه لا يؤمهما، وعلمه أبوذر حتى قال فيما روى عنه: يصلى كل رجل منا لنفسه". (معرفة السنن والآثار للبيهقى، كتاب الصلاة، باب: موقف الإمام والمأموم، المسألة: ٢٨٣، كيفية الوقوف لصلاة الجامعة وموضع وقوف الإمام والمأموم: ٤/١٧٦).

دَ نوافلو دَ جمع شرعي حکم: هم دَدې حديث مبارك نه شوافع دَ نفل په جمع باندې استدلال کړې دې[1]

ليکن دَ احنافو مذهب مختار دادې چه دَ نوافل جمع على سبيل التداعي مکروه تحريمي ده که په رمضان کښې وي اوکه په غير رمضان کښې حکم عام دې.

دَ احنافو په نيز دَ ذکرشوي حديث نه چه دَ نوافلو په جمع سره دَ کولو جواز معلوميږي هغه بغير تداعي کښې داخل دې لهذا دا حديث دَ احنافو خلاف نه دې.

دَ تداعي مطلب اوحکم: دَتداعي مطلب دادې چه اعلان او اهتمام اوکړې شي لهذا که بغيردَ تداعي يعني بغيردَ اعلان اودعوت وي بيا څه حرج نشته دې.

فقهاؤ کرامو دَ تداعي په حدکښې ليکلي دي که چرې يو يا دوه مقتديان وي نو تداعي نه ده اوکه چرې درې مقتديان وي نو هغه وخت دَدې په تداعي کښې دکيدو يا نه کيدو کښې اختلاف دې. اوکه چرې څلور مقتديان وي نودا بهرحال دَ تداعي په صورت کښې داخل دي.[2]

دَ علامه انور شاه کشميري رحمه الله رائې: علامه انورشاه کشميري رحمه الله فرمائي "دَ نفل جمع على سبيل التداعي مکروه ده ليکن په تداعي کښې دَ دريو يا څلورو تحديد دَ صاحب مذهب نه نقل نه دى. دا خو په عملي توګه متعين کړې شوې دى. په دې وجه دَ تداعي نه مراد دااخستل چه دَ نفلو دَ جمع دَپاره راؤغوښتلې شي نو زيات بهتر دى په نسبت دَ تحديد. والله اعلم بالصواب"[3]

---

[1] شرح النووي على صحيح مسلم، كتاب الصلاة، باب: جوازالجماعة في النافلة، رقم الحديث: ١٤٩٧، ١٦٤/٥. التوضيح لشرح الجامع الصحيح: ٣٧٣/٥.

[2] الدرالمختار، كتاب الصلاة، باب الوتر والنوافل: ٤٩/٢، الحلبي الكبير، كتاب الصلاة، فصل في النوافل، ص: ٤٨، حاشية الطحطاوي على الدر المختار، كتاب الصلاة، باب: الوتر والنوافل: ٢٤٠/١، الفتاوى التاترخانية، كتاب الصلاة، صلاة التراويح، نوع آخر في المتفرقات: ٦٧٠/١.

[3] ولاجماعة عندنا، وكره له التداعي، وهوعلى اللغة عندي، فإن الله سبحانه لما جعلنا في مكنة من تركها وفعلها رأسا. فأين ينبغي أن نتداعى له الناس؟فالنداء من خصائص المكتوبة. وفسرالحلواني بما فوق الثلاث قلت: وإنما أراد الحلواني ضبطه ليتمشى عليه العوام لا تفسيره، فإن اللفظ منكشف في معناه بين في مراده لا يحتاج إلى تفسير. فما ذكره أنسب للفتوى، ثم تتبعت النوافل الداخلة في بنية الصلاة، فوجدتها كذلك، لا جماعة فيها أيضا، وكل فيها أمير نفسه، وهوالشاكلة في جملة الأذكار الداخلة في صلب الصلاة، فتجد كلها على المقتدي أيضا، وذلك لأن كلا منهم منفرد فيها يفعلها لنفسه، فالتضمن إنما روعي حيث كان الشيئ فرضا، وليعلم أن النيابة تجري في الأقوال دون الأفعال، فهي على الكل ثم النيابة في الأقوال، إنما اعتبرت حيث كان القول مما لا بدمنه كالقراءة، أما الأقوال التي لو تركت رأسا لم تكن عليه تبعة فإنها لا تحتاج إلى عبرة النيابة، فإن قلت: إن صلاة الكسوف والاستسقاء والتراويح سنة، فلزم أن لا تكون جماعة قلت: كأن تلك مستثناة من ذلك. (فيض الباري،كتاب الصلاة، باب: صلاة النوافل، رقم الحديث: ١١٨٦، ٥٨٦/٢)، وكذا في فيض الباري، كتاب الصلاة،إذا دخل بيتا يصلي حيث شاء، رقم الحديث: ٤٢٢، ٥٥/٢ وأيضا الباب، طول السجود في قيام الليل، رقم الحديث: ١١٢٣، ٥٥٤/٢.

د بعضې اکابرو په رمضان کښې نوافل په جمع سره اداکول بعضې اکابرينو به د ډېر تحقيق په بنياد په رمضان المبارك کښې د تراويح نه علاوه نوافلو کښې هم تولـه شپه قرآن کريم وئيلو او اورولو به ئې. مګر دا د احنافو اصل مذهب نه دې. په دغه اکابرينو حضراتو باندې د هغوی د تبحر او تدين د وجې نه په هغوی باندې اعتراض نه شي کولې او نه به د هغوی په اتباع کښې د اصل مذهب نه اوختې شي(١)

د محاذاة مسئله: حضرت مولانا محمد انور شاه کشميري رحمه الله فرمائي چه د حديث الباب نه معلومه شوه چه که هلك چرته يوازې وی نو هغه د سړو په صف کښې اودرول پکار دی ليکن که ښځه يوازې وی نو بيا هم د سړو په صف کښې نه شي اودرولې هغه روستو کول ضروري دي يعنې د هلکانو روستوالي د استحباب په درجه کښې او د ښځو د وجوب په درجه کښې دي.

په دې سره د امام صاحب رحمه الله د محاذاة د مسئلې استنباط هم واضح شو. لهذا د مولانا عبدالحئ صاحب لکهنوی رحمه الله د دې حنفي مسئلې تضعيف کول يا دا سې وئيل چه امام صاحب رحمه الله سره د دې مسئلې هيڅ دليل نشته دې غلط شو. او زه وايم چه دا مسئله قوی ده ځکه چه مسئله اجتهادي ده او مجتهد ته حق دې چه د دقيق فروق په رڼا کښې هغه تاخير بيان د سنت په مرتبه کښې اوګرځوي او د ښځو تاخير په مرتبه د شرطيت او ووجوب کښې. مثلاً د احاديثو نه په جدا صف کښې ځان له په اودريدو کراهت ثابت دې تردې چه امام احمد رحمه الله خو داسې مونځ باطل ګرځوي. ليکن د دې باوجود حضورپاك په دې واقعه کښې ښځه شاته صف کښې ځان له يوازې اودرولـه او حضورپاك کله هم څوك ښځه د سړو په صف کښې اودرولو ته پرنيخوده په خلاف د هلکانو چه د هغوی ځائې هم اګرچه د سړو د صفونو نه شاته دې مګر ځان له هلك د سړو په صف کښې د صف د پوره کولو د پاره د اودرولو ثبوت موجود دې.

د دې نه هم دغه خبره واضح کيږي چه د شارع عليه السلام په نظر کښې د هلك د پاره د سړو په صف کښې د اودريدلو تحمل په بعضې صورتونو کښې کيدې شي ليکن د ښځو د پاره د دې تحمل په هيڅ صورت کښې هم نه شي کيدې. په داسې صورت کښې د امام صاحب رحمه الله د ښځو محاذاة د مونځ د پاره مبطل ګرځول د شريعت غراء ترجماني نه ده نو نور څه دی؟

حضرت رحمه الله نوراوفرمائيل چه مولانا عبدالحئ رحمه الله په صاحب هدايه باندې هم اعتراض کړې دې چه هغه حديث ((اخروهن من حيث اخرهن الله)) ته خبر مشهور وئيلې دې. د دې جواب دادې چه د هغوی مراد د اصوليينو اصطلاح ده يعنې دا حديث متلقی بالقبول دې. بيا حضرت رحمه الله اوفرمائيل چه دا امر هم په ذهن کښې ساتل پکار دی چه په لحاظ د نظر د شارع عليه السلام په ډيرو کارونو کښې د ښځو مرتبه د سړو نه کمه ده. مثلاً د دوی د جمع مونځ نشته دې او که چرې کوی هم نو امام به د سړو په شان د صف مخې ته نه اودريږی. لکه څنګه چه د برېنډو جمع کيدې شي. بيا د مونځ د امامت په شان هغوی د نبوت د شرف نه هم محروم دی (٢)

---

١) فتاوی محمود يه، کتاب الصلاة، باب: السنن والنوافل: ٢٤٩/٧.

٢) انوارالباري: ١٦١/١٢، فيض الباري: ٣٢/٢ - ٣٣.

٢١- باب: الصَّلاَةِ عَلَى الْخُمْرَةِ

دا باب دې په پوزکې باندې دَ مونځ (جائز کېدو) په بیان کښې

دَ ترجمة الباب مقصود: علامه عیني رحمه الله فرمائي چه که چرته یو سړي دا اعتراض اوکړي چه په دې باب کښې ذکرشوې حدیث هم اوس دوه احادیثه وړاندې خو تیرشوې دې بیا دَدې دوباره ذکرکولو څه مقصود دې؟

نودَدې جواب دادې چه هلته دَ ابوالولید په طریق سره مختصر ذکر دې نودا دوباره کول صرف دَهغه دَ موافقت دَپاره دي. (١) روایت دَمسدد په طریق سره مفصل ذکر وواو دلته دَ

دَ شیخ الحدیث صاحب رحمه الله رائې: حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله فرمائي چه دې نه مخکښې باب منعقد فرمائیلې وو. باب الصلاة على الحصير، اوس دَدې ځائې نه "خمرة" باندې دَ مونځ حکم ښائي. "خمرة" دَ حصير نه وړوکې وي.

زمونږ دَ شیخ المشائخ حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله ارشاد دې: دلته نه مقصود دَ توهم لرې کول دي ځکه چه "جعلت لي الأرض طهورا" نه معلومیږي چه صرف هم په زمکه باندې به ئې مونځ کولو. لیکن زما خیال دادې چه دا توجیه دَ راتلونکي باب سره زیاته مناسب ده او زما په نیز دَدې باب غرض دادې چه دَ حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله نه نقل دي چه هغوی به په خمره باندې مونځ نه کولو اوکه چرې ضرورت به راتلو هم نودا به ئې په خاوره کښې ککړوله.

زما والد صاحب فرمائي چه خمره چونکه دَحصير نه وړوکې وي نو په دې باندې دَ مونځ کولو په صورت کښې دَ بدن بعضې حصه دَ وړوکې کیدو دَ وجې نه په زمکه باندې وي نودَدې ځائې نه دا خودَل مقصود دي چه که چرې بعضې حصه په حصير باندې او بعضې حصه په زمکه باندې وي نو په مونځ کښې څه بدیت نشته دې(٢)

حدیث باب [حدیث نمبر ٣٧٤]

٣٧٤- حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ الشَّيْبَانِيُّ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَدَّادٍ عَنْ مَيْمُونَةَ قَالَتْ (٣) كَانَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- يُصَلِّي عَلَى الْخُمْرَةِ.

ترجمه حدیث: حضرت میمونه رضي الله عنها فرمائي چه نبي اکرم ﷺ به په پوزکې باندې مونځ ادا کولو.

تراجم رجال: په مذکوره حدیث شریف کښې ټول پنځه رجال دي:

① **ابوالولید رحمه الله:** دا ابو الولید هشام بن عبدالملک طیالسي، باهلي بصري رحمه الله دې. دَدوي

---

(١) عمدة القاري: ٤/١٦٧.

(٢) تقرير بخاري شريف: ٢/١٢٦ م ١٢٧، لامع الدراري: ١/١٥٢، الكنزالمتواري: ٤/٧٠.

(٣) مرتخريجه في كشف الباري، كتاب الحيض، باب:رقم الحديث: ٣٣٣.

مختصر تذکره کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: علامة الإیمان حب الأنصار کښې او تفصیلی تذکره کتاب العلم، باب: إثم من کذب علی النبی صلی الله علیه وسلم دَ دویم حدیث لاندې تیره شوې ده[1]

④ شعبه رحمه الله: دا امیر المؤمنین شعبه بن الحجاج بن الورد عتکی الواسطی بصری رحمه الله دې. دَ دوی تذکره کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده، لاندې تیره شوې ده[2]

③ سلیمان الشیبانی رحمه الله: دا مشهور محدث سلیمان بن ابی سلیمان ابو اسحاق شیبانی کوفی رحمه الله دې. دَدوی تفصیلی تذکره کشف الباری، کتاب الحیض، باب: مباشرة الحائض، دویم حدیث لاندې تیره شوې ده[3]

④ عبدالله بن شداد رحمه الله: دا مشهور محدث عبدالله بن شداد بن الهاد لیثی رحمه الله دې. دَدوی تفصیلی تذکره کشف الباری، کتاب الحیض، باب: مباشرة الحائض، دَدویم حدیث لاندې تیره شوې ده[4]

⑤ حضرت میمونه رضی الله عنها: دا أم المؤمنین حضرت میمونه بنت الحارث رضی الله عنها ده. دَدوی تفصیلی تذکره کشف الباری، کتاب العلم، باب: السمر فی العلم، لاندې تیره شوې ده[5]

شرح حدیث: دَ مذکوره حدیث مبارک تشریح او متعلقه مباحث کتاب الحیض، باب: مباشرة الحائض[6] او کتاب الصلاة، باب: إذا أصاب ثوب المصلی امرأته إذا سجد کښې تیرشوی دی[7]

۲۲ – باب: الصَّلَاةِ عَلَی الفِرَاشِ

دا باب په تورشک باندې دَ مونځ کولو په جواز کښې دې

"فراش" دَ فاء زیر سره، دې نه مراد تورشک دې که دَ کپړې وی او که دَ ورئې وغیره وی چه دَ کیناستو یا سملاستو دَپاره په زمکه باندې خور کړې شی دې ته فراش یعنی تورشک وائی دَدې جمع فُروش او اَفرِشة راځی[8]

---

[1]) کشف الباری: ۳۸/۲، ۱۵۹/۴.
[2]) کشف الباری: ۶۷۷/۱.
[3]) کشف الباری، کتاب الحیض، باب: مباشرة الحائض، دویم حدیث ص: ۲۵۰.
[4]) کشف الباری، کتاب الحیض، باب: مباشرة الحائض، دویم حدیث ص: ۲۵۰.
[5]) کشف الباری: ۴۲۰/۴.
[6]) کشف الباری، کتاب الحیض، باب: مباشرة الحائض، ص: ۲۶۰-۲۳۹.
[7]) کشف الباری، کتاب الصلاة، باب: إذا أصاب ثوب المصلی امرأته إذا سجده.
[8]) لسان العرب، المادة: ف. ر. ش: ۳۳۸۲/۶، تاج العروس، المادة: ف.ر.ش: ۲۹۹/۱۷.

دَترجمة الباب مقصد: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي دا باب په تورشك باندې دمونځ جائز كيدو په بيان كښې دې چه په دغه تورشك باندې دغه مونځ گذار سره څوك نښځه اوده شوې وي. او كه غالبًا امام بخاري رحمه الله په دې ترجمة الباب سره دَ هغه حديث طرف ته اشاره كوي كوم چه ابو داؤد رحمه الله وغيره دَ حضرت عائشه رضي الله عنها روايت دَ اشعث په طريق سره نقل كړې دې چه هغوى اوفرمائيل: نبي كريم ﷺ به زمونږ بړستن كښې مونځ نه اداكولو.[1]
لكه چه دَ امام بخاري رحمه الله په نيز دا روايت ثابت نه دې يا يو داسې رائې ده چه دَ قبليدو قابل نه ده.[2]

دَ حضرت گنگوهي رحمه الله رائې: حضرت گنگوهي رحمه الله فرمائي چه دې باب كښې او مخكينو ابوابو كښې دَمغايرت كيدو هيڅ شك نشته دې. په دې باب كښې آثار او دَ صحابه كرامو او افعال راوړلو سره ئې دا ثابت كړې دې چه په تورشك باندې مونځ اداكول جائز دې. برابر دې چه دَ مونځ گذار ټول اندامونه په دغه تورشك باندې راځي او كه نه راځي، يعنې هغه تورشك وړوكې وي. لكه چه راتلونكي باب "السجود علي الثوب" نه ثابتيږي.[3]
دَ حضرت مونا رشيد احمد گنگوهي رحمه الله په دې عبارت باندې دَ "لامع الدراري" په حاشيه كښې حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله ليكي: زما په نيز زياته بهتر توجيه داده چه ددې ترجمة الباب نه مقصود هغه اعتراض ختمول دي كوم چه دَ نبي ﷺ دَ قول «جعلت لي الأرض مسجدا وطهورا» نه پيدا كيږي چه دَ مونځ جواز صرف دَ زمكې سره مخصوص نه دې بلكه په تورشك وغيره باندې هم مونځ اداكول جائز دي. نو ئې اوفرمائيل چه دا اعتراض دې هم نه كيږي چه دا مقصود خودَ سابقه دوؤ ابوابو نه حاصل شوې دې. بيا دَدې باب نه څه مقصود دې؟ ځكه چه هغه دواړه بابونه په لوئي پوزكي او وړوكي پوزكي باندې دَ مونځ كولو دَ جواز په تخصيص باندې دلالت كوي اودا باب تخصيص بعد التعميم دَ قبيل نه دې.[4]

تعليق اول: وَصَلَّى أَنَسٌ «عَلَى فِرَاشِهِ»
دَ تعليق ترجمه: اوحضرت انس رضي الله عنه په خپل تورشك باندې مونځ اداكړو
دَ تعليق راوي: دا مشهورصحابي رسول حضرت انس بن مالك رضي الله عنه مشهور اومعروف دَ رسول الله ﷺ صحابي دې. دَدوي تذكره كشف الباري، كتاب الإيمان، باب: من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه، لاندې تيره شوې ده.[5]

---

[1]) حدثنا عبيدالله بن معاذ، حدثنا أبي، حدثنا الأشعث، عن محمد ابن سيرين، عن عبدالله بن شقيق عن عائشة، قالت: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم لا يصلي في شُعُرنا، أو لُحُفنا. قال عُبيدالله: شكَّ أبي. (سنن أبي داؤد، كتاب الصلاة، باب: الصلاة في شعر النساء، رقم الحديث: ٣٦٧).
[2]) فتح الباري: ٦٣٧/١.
[3]) لامع الدراري: ١٥٣/١-١٥٢.
[4]) الكنز المتواري: ٧٢/٤-٧١.
[5]) كشف الباري: ٤/٢.

دَتعليق تخريج: مذكوره اثر موصولا المصنف لابن ابى شيبه كښې ابن مبارك عن حميد عن انس په طريق سره ذكر دې اوهم دا طاؤس رحمه الله حكايت كړې دې.(۱)

دويم تعليق: وَقَالَ أَنَسٌ: «كُنَّا نُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَسْجُدُ أَحَدُنَا عَلَى ثَوْبِهِ»

دَ تعليق ترجمه: حضرت انس رضي الله عنه فرمائى چه مونږ به دَ نبى كريم صلى الله عليه وسلم سره مونځ كولو نو په مونږ كښې به بعضې كسانو په خپله كپړا باندې سجده كوله.

دَتعليق تخريج: مذكوره تعليق سندا هم دَ صحيح البخارى وړاندې باب كښې راځى.(۲)

تشريح: دَمذكوره تعليق مكمل تشريح خو به هم په وړاندې باب كښې بيانولې شى ان شاء الله دلته صرف دومره كافى دى چه دَ "أحدنا" نه مراد "بعضنا" دې.

اودَ "على ثوبه" په مصداق كښې دوه احتمالات دى. يو دا چه ممكن ده چه سجده هم په هغه كپړا باندې واقع كيږى كومه چه ئى اغوستې وه. او دويم احتمال دادې چهٔ دَ اغوستونكې كپړې نه جدا څه كپړا وى، لكه څادر، رومال وغيره. اوداسې به دَ سجدې دَ ځائى دَ سخت گرم كيدو دَ وجې نه كيدل يعنى دَ هغې دَ گرمئ نه دَ بچ كيدو دپاره(۳)

دَتعليق ترجمة الباب سره مناسبت: دَدې دواړو تعليقاتو دَ ترجمة الباب سره مناسبت ښكاره دې چه كله سجده په كپړا باندې كيدله نودا به هم په فراش باندې شميرلې كيږى ځكه چه فراش په هر هغه څيز باندې صادق راځى كوم چه خور كړې شى.(۴)

حديث باب (رومبې حديث) [حديث نمبر ۳۷۵/۳۷۷]

-۳۸۲- حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ أَبِي النَّضْرِ مَوْلَى عُمَرَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّهَا قَالَتْ(۵) كُنْتُ

(۱) حدثنا أبوبكر قال: نا ابن مبارك، عن حميد، عن أنس: "كان يصلى على فراشه". حدثنا أبوبكر قال: نا حفص، عن ليث، عن طاوس "أنه كان يصلى على الفراش الذى مرض عليه" (المصنف لابن أبى شيبة، كتاب الصلاة، باب: فى الصلاة على الفراش، رقم الحديث: ۲۸۲۶، ۲۸۲۷، ۵۱۱/۲).

(۲) صحيح البخارى، كتاب الصلاة، باب: السجود على الثوب فى شدة الحر، رقم الحديث: ۳۸۵.

(۳) عمدة القارى: ۱۶۸/۴، إرشادالسارى: ۴۶/۲.

(۴) عمدة القارى: ۱۶۸/۴.

(۵) أخرجه البخارى فى الصلاة فى الثياب، باب: الصلاة على الفراش، رقم الحديث: ۳۸۲، ۳۸۳، ۳۸۴. وفى سترة المصلى، باب التطوع خلف المرأة، رقم الحديث: ۵۱۳. وفى سترة المصلى، باب: الصلاة إلى السرير، رقم الحديث: ۵۰۸. وباب: استقبال الرجل وهو يصلى، رقم الحديث: ۵۱۱. وباب: الصلاة خلف النائم، رقم الحديث: ۵۱۲. وباب: من قال: لا يقطع الصلاة شئ، رقم الحديث: ۵۱۴. وباب: هل يغمز الرجل امرأته عندالسجود لكى يسجد، رقم الحديث: ۵۱۹. وفى الوتر، باب إيقاظ النبى صلى الله عليه وسلم أهله بالوتر، رقم الحديث: ۹۹۷. وفى الاستئذان، باب السرير، رقم الحديث: ۶۲۷۶. ورواه مسلم فى صحيحه، فى الصلاة، باب: الاعتراض بين يدى المصلى، رقم الحديث: ۵۱۲. وأبوداؤد فى سننه، فى الصلاة، باب: من المرأة لا تقطع الصلاة، رقم الحديث: ۷۱۱، ۷۱۲، ۷۱۳، ۷۱۴. والنسائى فى سننه، فى الطهارة، باب: ترك الوضوء من مس الرجل امرأته من غير شهوة، رقم الحديث: ۱۶۶، ۱۶۷، ۱۶۸. وفى القبلة، باب: الرخصة فى الصلاة خلف النائم، رقم الحديث: ۷۶۰. وفى جامع الأصول، حرف الصاد، الكتاب الأول فى الصلاة، القسم الأول فى الفرائض، الباب الأول فى الصلاة، الفصل السادس فى شرائط الصلاة، الفرع السابع فى قبلة المصلى، النوع الأول فى المعترض بين يدى المصلى، رقم الحديث: ۳۷۱۹، ۵۰۴/۵.

أَنَامُ بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللَّهِ-صلى الله عليه وسلم-وَرِجْلاَيَ فِي قِبْلَتِهِ،فَإِذَاسَجَدَ غَمَزَنِي ،فَقَبَضْتُ رِجْلَيَّ ،فَإِذَاقَامَ بَسَطْتُهُمَا .قَالَتْ:وَالْبُيُوتُ يَوْمَئِذٍ لَيْسَ فِيهَا مَصَابِيحُ.

ترجمه: د حضورپاك زوجه مطهره حضرت عائشه ﷺ فرمائي چه (اكثروختونو كښې به حضورپاك په تورشك باندې تهجد مونځ كولو او هغه وخت به) څه د حضورپاك په مخكښې اوده ووم او زما خپې به د حضورپاك په قبلې كښې (يعنى د حضورپاك د سجدې كولو په ځائې كښې به) خورې وې. كوم وخت چه به حضورپاك سجدې ته تلو نو زور به ئې پرې كولو نو ما به خپلې خپې راغوندولې. بيا چه به حضورپاك د سجدې نه اودريدو نو ما به خپلې خپې دوباره خورولې. حضرت عائشه ﷺ (دا هم) اوفرمائيل چه په هغه زمانه كښې به په كورونو كښې ډيوې نه وې.

تراجم رجال: د مذكوره حديث شريف ټول پنځه رجال دى:

① اسماعيل رحمه الله: دا ابو عبدالله اسماعيل ابى اويس عبدالله بن عبدالله بن اويس اصبحى مدنى رحمه الله دې. د دوى تفصيلى تذكره كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: "تفاضل أهل الإيمان فى الأعمال"، لاندې تيره شوې ده.[1]

② مالك رحمه الله: دا امام دارالهجره مالك بن انس بن مالك بن ابى عامر الاصبحى المدنى رحمه الله دې. د دوى تفصيلى احوال كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: "من الدين الفرار من الفتن"، لاندې تير شوى دى.[2]

③ ابى نضر مولى عمر بن عبيدالله رحمه الله: دا ابوالنضر سالم بن ابى اميه دې. د عمر بن عبيدالله آزاد كړې شوې غلام رحمه الله دې. د دوى احوال كشف البارى، كتاب الوضوء، باب: "المسح على الخفين"، لاندې تير شوى دى.[3]

④ ابى سلمه بن عبدالرحمن رحمه الله: دا د حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ځوئى دې. د دوى احوال كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: "صوم رمضان احتسابا من الإيمان" لاندې تير شوى دى.[4]

⑤ عائشه رضي الله عنها: دا ام المؤمنين زوجهٔ رسول، بنت ابى بكر صديق حضرت عائشه رضي الله عنها ده. د دوى احوال كشف البارى، كتاب بدء الوحى د دويم حديث لاندې تيرشوى دى.[5]

د حديث شرح: عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهَا قَالَتْ: «كُنْتُ أَنَامُ بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرِجْلاَيَ فِي قِبْلَتِهِ.

[1] كشف البارى: ١١٣/٢.
[2] كشف البارى: ٨٠/٢.
[3] كشف البارى كتاب الوضوء، باب: "المسح على الخفين".
[4] كشف البارى: ٣٢٣/٢.
[5] كشف البارى: ٢٩١/١.

د نبي كريم ﷺ بي بي حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه زه به د حضورپاك مخې ته اوده ووم په داسې حال كښې چه زما خپې به د قبلې په خائى كښې خورې وې.
دلته مطلقًا اوده كيدل وئيل مقصود نه دي بلكه مقصود دادې چه كله د شپې د تهجد د نوافلو د پاره حضورپاك اودريدو هغه وخت په تياره كښې به زه د حضورپاك مخې ته اوده ووم. په دې عبارت كښې «وَرِجْلَايَ فِي قِبْلَتِهِ» جمله حاليه ده. د دې مطلب "فِي مَكَانِ سُجُودِهِ" دې چه د حضورپاك د سجدې كولو په خائى كښې به اوده كيدلم.[1]

"فَإِذَا سَجَدَ غَمَزَنِي": بيا چه كله به سجدې ته تلو نو زور به ئې وركولو. د "غَمَزَنِي" مطلب اشاره كول دي كه هغه په سترګه وي او كه په لاس سره وي.[2]
دې خائى كښې "غمزباليد" مراد دې.[3]
د دې معنې طرف ته واضح اشاره د سنن ابى داؤد په روايت كښې ملاويږي چه حضرت عائشه رضي الله عنها اوفرمائيل چه كله به حضورپاك د سجدې كولو اراده كوله نو حضورپاك به زما خپه اووهله نو ما به هغه راغونډه كړه.[4]

فَإِذَا قَامَ بَسَطْتُهُمَا: بيا چه به كله حضورپاك سجده اوكړه او اودريدلو به نو ما به خپلې خپې (دوباره) خورولې. "بَسَطْتُهُمَا" كښې "هُمَا" ضمير دتثنيه دې ليكن د مستملى په روايت كښې دلته هم د واحد ضمير دې.[5]

وَالْبُيُوتُ يَوْمَئِذٍ لَيْسَ فِيهَا مَصَابِيحُ: په هغه زمانه كښې به په كورونو كښې ډيوې نه وې. په دې جمله كښې "الْبُيُوتُ" مبتداء ده او باقى جمله د دې خبر دې.[6] "يومئذ" نه مراد "وقتئذ" دې يعنى كوم وخت چه نبي كريم ﷺ ژوندې وو.[7]
حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائي: دلته نه حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها دفع د دخل مقدر فرمائي چه په ما اعتراض اونه كړې شى چه ما به خپې ولې نه راغونډولې؟ په دې وجه چه په هغه ورځو كښې ډيوه خو وه نه چه څه ښكاريدل او دا پته نه لګيدله چه د حضورپاك

---

[1]) فتح الباري: ۶۳۸/۱، عمدة القاري: ۱۶۹/٤.
[2]) بعضهم فسّر الغمز في بعض الأحاديث بالإشارة، كالرمز بالعين أو الحاجب أو باليد. (النهاية في غريب الحديث والاثر: ۳۲۱/۲، تاج العروس، المادة: غ م ز: ۲۶۱/۱۵).
[3]) عمدة القاري: ۱۶۹/٤.
[4]) حدثنا مسدد، حدثنا يحيى، عن عبيدالله، قال: سمعت القاسم يحدث عن عائشة، قالت: بئسما عدلتمونا بالحمار والكلب، لقد رأيت رسول الله يصلي وأنا معترضة بين يديه، فإذا أراد أن يسجد غمز رجلي، فضممتها إلي، ثم يسجد. (سنن أبي داؤد، في الصلاة، باب: من قال: المرأة لا تقطع الصلاة، رقم الحديث: ۷۱۲).
[5]) عمدة القاري: ۱۶۹/٤، إرشادالساري: ۴۶/۲.
[6]) عمدة القاري: ۱۶۹/٤.
[7]) فتح الباري: ۶۳۸/۱، الكوثر الجاري: ۷۰/۲.

قیام به څومره اوږد وي؟ څلور او پنځه سپارې به حضورپاك تلاوت کولو په دې وجه به نې خپې دوباره خوړولې(۱)

دَ حدیث دَترجمة الباب سره مناسبت: دَمذکوره حدیث دَ ترجمة الباب سره مناسبت دَ "کنتُ أنام" په وجه دې هغه داسې چه اوده کیدل په عام توګه باندې هم په بستره باندې وی او ترجمة الباب هم "الصلاة علی الفراش" دې. بلکه دا چه په آخرې حدیث کښې دَدې تصریح هم موجود ده چه مونږ به په کومه بستره باندې اوده کیدلو زه هم په هغې باندې اوده ووم(۲)

دَمذکوره حدیث شریف نه مستنبط فوائد او احکام: دَمذکوره حدیث شریف نه ډیر فوائد او احکام مستنبط کیږی. په هغې کښې څه لاندې ذکرکولې شی:

① دَدې حدیث نه دَ ښځې طرف ته مخ کول او اودریدلو سره دَ مونځ کولو جواز معلومیږی. بعضې ائمه حضراتو دَ شارع علیه السلام نه علاوه بل چاله داسې کول منع کړی دی. په دې وجه چه په دې کښې دَ فتنې ویره ده اودَ زړه اودَ نظر دَ دغه ښځې طرف ته متوجې کیدل دی. البته حضورپاك خودَدې نه پاك وو په دې وجه په هغوی باندې څه حرف نه شی راتلې. بل دا چه دَ شپې وخت وو په هغه دور کښې ډیوه وغیره هم نه وو.

② دَدې حدیث نه دَ اوده کس دَ مونځ دَ پاره دَ پاسولو استحباب هم معلومیږی.

③ دا هم معلوم شو چه په مونځ کښې په قلیل عمل سره څه حرج نه واقع کیږی.

④ داهم معلوم شو چه په تورشك باندې مونځ کول جائز دی.

⑤ دَ ښځې دَ مونځ ګذار مخې ته کیدل مونځ نه باطلوی.(۳)

دَمونځ ګذار مخې ته که څوك ښځه وی نودَ مونځ حکم: دَجمهور فقهاء کرام په کومو کښې چه امام ابو حنیفه، امام مالك، امام شافعی رحمهم الله شامل دی په نیز دَ یوې ښځې طرف ته مخ کول اومونځ اداکول یا دَ ښځې دَ مونځ ګذار مخې ته تیریدل مونځ نه باطلوی البته دَ امام احمدبن حنبل رحمه الله په نیز دې سره مونځ باطلیږی.(۴)

علامه عینی رحمه الله فرمائی په کوم حدیث کښې چه دی چه دَ ښځې، خر او دَ سپی دَ مونځ ګذار په مخکې په تیریدو سره مونځ فاسدیږی. دَ هغې جواب دادې چه دَ دوی په تیریدو سره مونځ ناقص کیږی ځکه چه زړه دغه څیزونو سره مشغولیږی. دَدې نه مراد دا نه دې چه دَدوی په تیریدو سره مونځ باطلیږی. وجه داده چه زړه دغه څیزونو سره مشغولیږی. ځکه چه دَ ښځې طرف ته کتلوسره وسوسه پیدا کیږی او خر مکروه آوازونه اوباسی او سپې په فتنه کښې اچوی او اضطراب پیدا کوی. چونکه دا څیزونه دَ مونځ دَمنقطع کولو ذریعه جوړیږی په دې وجه په دې باندې دَ مونځ دَ منقطع کیدو اطلاق اوکړې شو.

---

(۱) سراج القاری: ۴۱۳/۲، تقریر بخاری شریف: ۳۰۶/۲.
(۲) فتح الباری: ۶۳۸/۱،عمدة القاری: ۱۶۸/۴، الکوثر الجاری: ۷۰/۲.
(۳) فتح الباری: ۶۳۸/۱،عمدة القاری: ۱۶۹/۴، الکوثر الجاری: ۷۰/۲.
(۴) المبسوط للسرخسی، کتاب الصلاة باب: الحدث فی الصلاة: ۱۹۱/۱.

دويمه خبره دا چه دَ امام احمدرحمه الله مستدل حديث منسوخ دې او ناسخ دَ حضرت ابو سعيد خدرى رضى الله عنه حديث دې چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى چه مونځ هيڅ يو څيز نه ماتوى (اودَمونځ په حالت كښې خپلې مخې ته تيريدونكى) تاسو په خپل قوت سره ورديكه كړئى هغه شيطان دې.

او شارع عليه السلام مونځ اداكړو په داسې حال كښې چه دَ حضورپاك اودَ قبلې په مينځ كښې حضرت عائشه رضى الله عنها وه. بل دا چه په حديث كښې دى چه خره دَ مونځ گذارو مخې ته ځريدله او په دې باندې چا هم انكار اونه كړو.

حضرت ابن عباس رضى الله عنهما او عطاء رحمه الله اوفرمائيل چه كومه ښځه مونځ منقطع كوى دَهغې نه مراد حائضه ښځه ده. اوكه چرې دا اعتراض اوكړې شى چه بعضې احاديثو كښې راغلى دى چه سپى، خنزير، يهودى او نصرانى مونځ منقطع كوى نودَدې جواب دادې چه دا حديث ضعيف دې.(١)

دَ مس مراة دَ وجې نه دَ اودس حكم: دَدې حديث شريف نه يوه داخبره هم معلوميږى چه ښځې سره دَ لاس لگولو دَ وجې نه اودس نه ماتيږى. په دې باره كښې دَ مذاهبو تفصيل دادې چه دَ احنافو په نيز دَ ښځې سره دَ لاس لگولو دَ وجې نه اودس نه ماتيږى. مگر چه مباشرت فاحشه اوشى(٢)

دَ شوافع په نيز ښځې سره لاس لگول ناقضِ وضو دى. ليكن دَ هغوى په نيز په دې كښې ډير مختلف اقوال دى مثلاً:

په يو روايت كښې دَ غيرمحرم سره په لاس لگولو سره اودس ماتيږى. په دويم كښې محرم سره لاس لگول، په يو روايت كښې بغيردَ حائل نه لاس لگولو سره اودس ماتيږى. او په يو بل روايت كښې حائل سره هم لاس لگولو سره اودس ماتيږى. په يو روايت كښې دَ خوند سره لاس لگولو دَ وجې اودس ماتيږى. او په يو بل روايت كښې بغيردَ خوند نه هم ناقض دې. اوبيا ملموس (كوم له چه لاس اوړلې شى) باره كښې هم دوه روايتونه دى دَ ماتيدو او نه ماتيدو. اكثرو ترجيح ماتيدلو ته وركړې ده.(٣)

دَ امام مالك رحمه الله په نيز كله چه په خوند سره لاس اولگولې شى نو دَ اودس ماتونكې دى(٤)

دَامام احمدبن حنبل رحمه الله په دې مسئله كښې درې روايتونه دى: يو دَ احنافو مطابق، دويم دَ شوافع مطابق او دريم دَ مالكيو مطابق(٥)

ذكرشوې حديث مبارك دَ احنافو دليل دې چه نبى كريم ﷺ به دَ سجدې كولو په وخت دَ

---

(١) عمدة القاري: ٤/١٧٠-١٦٩.

(٢) الدرالمختار، كتاب الطهارة، أركان الوضوء، ص: ٢٥، التفاوى العالمكيرية، كتاب الطهارة، الباب الأول فى الوضوء، الفصل الخامس فى النواقض: ١/١٥، تحفة الملوك، كتاب الطهارة، نواقض الوضوء، ص: ٤٢.

(٣) المجموع شرح المهذب، كتاب الطهارة، باب: الأحداث التى ينقض الوضوء: ٢/٢٦.

(٤) بداية المجتهد، الطهارة، الضوء، نواقض الوضوء، المسألة الثالثة: ١/٤٤-٤٣.

(٥) المغنى لابن قدامة، الطهارة، انتقاض الوضوء بملامسة النسآء: ١/٢١٩.

حضرت عائشه ﷞ خپې سره لاس لګولو هغې به راغونډولې بيا به حضور پاک سجده کوله.
علامه کرمانی ﷫ فرمائی چه ممکن ده چه د دغه لاس لګولو په وخت حائل موجود وی[1] د دې په جواب کښې علامه ابن بطال ﷫ وغیره د دې تردید کړې دې چه په خپو کښې اصل هم دا دې چه هغه بغیرد حائله وی لکه چه لاس بغیرد حائل وی.[2]
حافظ ابن حجر ﷫ هم یو احتمال بیان کړې دې چه ممکن دی چه دا د نبی کریم ﷺ خصوصیت وی چه بغیرد حائل لاس لګولو سره د حضور پاك اودس نه ماتیږی.[3] علامه عینی ﷫ فرمائی چه د خصوصیت دا دعوی بې د دلیله ده.[4]

حديث باب (دويم حديث)[حديث نمبر ۳۷۶]

-۳۸۳- حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ أَنَّ عَائِشَةَ أَخْبَرَتْهُ[5] أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ يُصَلِّي وَهِيَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ عَلَى فِرَاشِ أَهْلِهِ، اعْتِرَاضَ الْجَنَازَةِ.

ترجمه: حضرت عروه ﷫ فرمائی چه حضرت عائشه ﷞ هغه ته خبر ورکړو چه نبی کريم ﷺ به (د هغې په حجره کښې) د خپلې بی بی په تورشك باندې اودريدو او داسې مونځ کولو چه زه به د نبی کريم ﷺ او د قبلې په مينځ کښې داسې سملاستلم لکه د جنازې کټ.

تراجم رجال: د مذکوره حديث شريف ټول شپږ رجال دی:

① يحيى بن بكير ﷫: دا ابوذکريا يحيى بن عبدالله بن بکير القرشي المخزومي ﷫ دې. د دوی احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی، باب: کيف کان بدء الوحی د دريم حديث لاندې تير شوی دی.[6]

② الليث ﷫: دا امام ابوالحارث الليث بن سعد بن عبدالرحمن ﷫ دې. د دوی احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی، باب: کيف کان بدء الوحی د دريم حديث لاندې تير شوی دی.[7]

③ عقيل ﷫: دا عُقيل بن خالد بن عَقيل ﷫ دې. د دوی مختصر احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی، باب: کيف کان بدء الوحی دريم حديث لاندې او تفصيلی احوال کتاب العلم باب: فضل العلم لاندې تير شوی دی.[8]

---

[1] شرح الكرماني: ٤/٤٧.
[2] شرح ابن بطال: ٢/٥١.
[3] فتح الباري: ١/٦٣٨.
[4] عمدة القاري: ٤/١٧٠.
[5] مرتخريجه في كشف الباري تحت الحديث السابق. الرقم: ٢٨٢.
[6] كشف الباري: ١/٣٢٣.
[7] كشف الباري: ١/٣٢٤.
[8] كشف الباري: ١/٣٢٥، ٣/٤٥٥.

④ ابن شهاب رحمه الله: دا ابوبکر محمدبن مسلم، بن عبيدالله، بن عبدالله بن شهاب الزهری المدنی رحمه الله دي. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی، باب: کیف کان بدء الوحی دَ دریم حدیث لاندې تیر شوی دی.[1]

⑤ عروه رحمه الله: دا عروه بن زبیر بن عوام رحمه الله دي. دَدوی مختصر احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی، دَ دویم حدیث لاندې او تفصیلی احوال کتاب الإیمان باب: أحب الدین إلی الله أدومه لاندې تیر شوی دی.[2]

⑥ حضرت عائشه رضي الله عنها: دا ام المؤمنین حضرت عائشه بنت ابی بکر صدیق رضي الله عنهما ده. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی، دَدویم حدیث لاندې تیر شوی دی.[3]

شرح حدیث: دَ مذکوره حدیث مبارك تشریح دې نه مخکښې حدیث کښې تیره شوې ده. البته "اعتراض الجنازة" نه یوه مسئله معلومیږی چه دَ ښځې دَ جنازې مونځ اداکولو په وخت به امام دَښځې په مینځ کښې اودریدو سره مونځ کوی. دا دَ احنافو مختار مذهب دې او راجح مذهب دَ سینې مقابل دَ اودریدو دی.[4]

علامه انورشاه کشمیری رحمه الله لیکی چه اشارة (النص) کله دَ عبارت (النص) نه هم وړاندې کیږی ځکه چه دَ عبارت (النص) نه خو صرف دَ یو جزئیه صراحت ملاویږی لیکن دَ اشاره (النص) نه زیاته خبره حاصلیږی. مثلاً دَ حضرت عائشه رضي الله عنها دَ تشبیه نه داهم معلومه شوه چه دَ مخکښې نه په ذهنونو کښې داخبره موجود ده چه جنازه مخامخ به مینځ کښې وی ځکه چه دَ مشبه به په توګه هم هغه څیز بیانولې شی چه دَ مخکښې نه ټولو ته معلوم وی.[5]

"اعتراض الجنازة" دا لفظ دَ حرف جر مقدر سره دې یعنی "کاعتراض الجنازة" او دا به دَ مصدر محذوف صفت جوړشی یعنی تقدیری عبارت به داسې جوړشی: "وهی معترضة بینه وبین القبلة اعتراضا کاعتراض الجنازة".[6]

"جنازة" دَجیم په فتحې سره هغه تخت ته وئیلی شی په کوم چه مړی کیخودې شی.[7]

دَ روایت دَ ترجمة الباب سره مناسبت: دَ مذکوره روایت دَ ترجمة الباب سره مناسبت ښکاره دې چه په دواړو په کښې فراش یعنی په تورشك باندې دَ مونځ اداکولو ذکر دې.[8]

---

[1]) کشف الباری: ۱/۳۲۶.
[2]) کشف الباری: ۱/۲۹۱، ۲/۴۳۶.
[3]) کشف الباری:۱/۲۹۱.
[4]) بدائع الصنائع، کتاب الصلاة، فصل: فی کیفیة الصلاة علی الجنازة: ۲/۳۴۰-۳۳۹، الفتاوی الهندیة، کتاب الصلاة، الباب الحادی والعشرون فی الجنائز، الفصل الخامس فی الصلاة علی المیت: ۱/۱۶۴، ردالمحتار، کتاب الصلاة، باب: صلاة الجنازة، مطلب: هل یسقط فرض الکفایة بفعل الصبی: ۳/۱۱۸.
[5]) فیض الباری: ۲/۳۴، انوارالباری:۱۲/۱۶۳.
[6]) عمدة القاری: ۴/۱۷۱، مصابیح الجامع للدمامینی: ۱/۱۰۶.
[7]) المصباح للجوهری، ص: ۱۹۲، النهایة فی غریب الحدیث والاثر: ۱/۲۹۹.
[8]) عمدة القاری: ۴/۱۷۱.

حديث باب (دريم حديث)[حديث نمبر ٣٧٧]

٣٨٣- حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ يُوسُفَ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يَزِيدَ عَنْ عِرَاكٍ عَنْ عُرْوَةَ[١] أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ يُصَلِّي وَعَائِشَةُ مُعْتَرِضَةٌ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ عَلَى الْفِرَاشِ الَّذِي يَنَامَانِ عَلَيْهِ.

ترجمه حديث: د حضرت عروه رحمه الله نه روايت دې چه نبي كريم ﷺ به په هغه بستره باندې مونځ كولو په كوم چه به هغوى (يعنى حضورپاك) او حضرت عائشه رضي الله عنها اوده كيدل. په داسې حال كښې چه حضرت عائشه رضي الله عنها به د حضورپاك او د قبلې په مينځ كښې پرته وه.

تراجم رجال: د مذكوره حديث شريف ټول شپږ رجال دى.

① **عبدالله بن يوسف** رحمه الله: دا عبدالله بن يوسف تنيسى دمشقى رحمه الله دې. د دوى احوال كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: بدء الوحى د دزيم حديث لاندې تير شوى دى[٢]

② **الليث** رحمه الله: دا امام ابوالحارث الليث بن سعد بن عبدالرحمن رحمه الله دې. د دوى احوال كشف البارى، كتاب بدء الوحى (باب: كيف كان بدء الوحى دريم حديث لاندې تير شوى دى[٣]

③ **يزيد** رحمه الله: دا ابورالرجاء يزيد بن ابى حبيب رحمه الله دې. د دوى احوال كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: إطعام الطعام من الإسلام لاندې تير شوى دى[٤]

④ **عراك** رحمه الله: دا عراك بن مالك الغفارى الكنانى المدنى رحمه الله دې.[٥] د بنى حماس سره ئى تعلق دې.[٦] دكوموا استاذانو او مشائخونه چه هغوى روايت كړې دې په هغوى كښې عروه بن زبير، طلحه بن عبيدالله بن كريز الخزاعى، عبدالله بن عمر بن خطاب، ابوسلمه بن عبدالرحمن بن عوف، ابوهريره، عبيد بن عبدالله بن عتبه، عبدالمالك بن ابوبكر بن عبدالرحمن بن حارث بن هشام، محمدبن مسلم بن شهاب الزهرى، نوفل بن معاويه الدبلى، حفصه بنت عبدالرحمن بن ابى بكر صديق، زينب بنت ابى سلمه او ام المؤمنين حضرت عائشه رضي الله عنها و رضي الله عنهم وغيره شامل دى.

او د دوى نه روايت كونكو كښې يزيد بى ابى حبيب مصرى، عبدالله بن عراك بن مالك، خثيم بن عراك بن مالك، عبدالعزيز بن عمر بن عبدالعزيز، سليمان بن يسار، عبدالله بن ابى سلمه ماجشون، مكحول شامى، يحيى بن سعيد انصارى اوخالد بن ابى صلت وغير رحمهم الله شامل دى[٧]

---

[١]) مرتخريجه تحت رقم الحديث: ٣٨٢.
[٢]) كشف البارى: ١/٢٧٩.
[٣]) كشف البارى: ١/٣٢٤.
[٤]) كشف البارى: ١/٦٩٤.
[٥]) الكاشف: ٢٥٥/٢، التاريخ الكبير للبخارى: ٨٨/٧.
[٦]) تهذيب الكمال: ٥٤٧/١٩.
[٧]) تهذيب الكمال: ٥٤٦/١٩، تقريب التهذيب: ١٧٢/٧.

د حضرت عائشه رضي الله عنها نه ددوی په سماع باندې اعتراض هم کړې شوې دې. حضرت موسی بن هارون رحمه الله فرمائي چه مونږ ته د عراك د حضرت عائشه رضي الله عنها نه د سماع هيڅ علم نشته دې.[1] او ابن حبان رحمه الله دوی په ثقاتو کښې ذکر کړی دی.[2] احمد بن عبد الله العجلي رحمه الله فرمائي چه دې ثقه وو او د اوچتې درجې د تابعينو نه وو.[3] ابوزرعه رحمه الله او ابو حاتم رحمه الله فرمائي :ثقة.[4] د حضرت عمر بن عبد العزيز خوئې عبد العزيز رحمه الله وائي چه زما پلار (عمر بن عبد العزيز) به د عراك بن مالك رحمه الله برابر هيڅوك نه شميرل.[5] حضرت عمر بن عبد العزيز رحمه الله فرمائي چه ما د عراك بن مالك رحمه الله نه زيات څوك مونځ کونکې نه دې ليدلې. هغوی به د هرلسو آياتونو نه پس رکوع کوله او بيا به ئې سجده کوله. په يو بل روايت کښې داسې دی چه هغوی به په هر لس آياتونو باندې رکوع کوله.[6] معن بن عيسی به د ثابت بن قيس نه روايت کولو سره فرمائيل چه دوی صائم الدهر وو.[7] د منذر بن عبد الله نه روايت دې چه د حضرت عمر بن عبد العزيز رحمه الله په ملګرو کښې عراك بن مالك رحمه الله په دې معامله کښې د ټولو نه سخت وو چه بنی مروان په اموال فئی او د خلقو په مالونو کښې بې ځايه ظالمانه قبضه کړې وه چه هغه دې د هغه نه واپس واخستې شي. کله چه يزيد بن عبد الملك والی جوړ شو نو هغه عبد الواحد بن عبد الله نصری د مدينې والی جوړ کړو. عبد الواحد بن عبد الله نصری به حضرت عراك رحمه الله خپل ځان ته ډير نيزدې ساتلو. هغه به ئې خپل ځان سره په تخت باندې کينولو. هيڅ يو کار به ئې د هغه د مشورې نه بغير نه کولو او فرمائيل به ئې چه عراك رحمه الله يو نيك ملګرې دې.[8]

محمد بن سعد او مفضل بن غسان الغلانی قول دې چه دې د يزيد بن عبد الملك د خلافت په زمانه کښې وفات شو[9]. ابن سعد رحمه الله په طبقات کښې دا هم ليکلی دی چه د هغوی وفات په مدينه منوره کښې شوې دې.[10] دا هم ونيلې شوی دی چه د حضرت عمر بن عبد العزيز رحمه الله د وفات نه پس د يزيد بن عبد الملك خلافت په يو سل يو هجری کښې وو او د څلورو کالو نه لږ شان زيات قائم پاتې وو.[11]

---

[1]) تقريب التهذيب: ۱۷۴/۷، ميزان الاعتدال: ۶۳/۳.
[2]) الثقات لابن حبان: ۲۸۱/۵.
[3]) تهذيب الكمال:۵۴۷/۱۹،تهذيب التهذيب: ۱۷۲/۷.
[4]) الجرح والتعديل: ۵۳/۷.
[5]) تهذيب الكمال:۵۴۷/۱۹،تهذيب التهذيب: ۱۷۲/۷.
[6]) تهذيب الكمال:۵۴۷/۱۹،تهذيب التهذيب: ۱۷۲/۷.
[7]) الكاشف: ۵۵/۲، الطبقات لابن سعد: ۲۵۳/۵.
[8]) تهذيب الكمال:۵۴۷/۱۹،تهذيب التهذيب: ۱۷۲/۷.
[9]) الكاشف: ۲۲۵/۲، الثقات لابن حبان: ۲۸۱/۵.
[10]) الطبقات لابن سعد: ۲۵۳/۵.
[11]) سير أعلام النبلاء: ۶۴/۵،تهذيب الكمال: ۵۴۹/۱۹.

⑤ عروه رحمه الله: دا عروه بن زبير بن عوام رحمه الله دي. دَ دوى مختصر احوال كشف البارى، كتاب بدء الوحى، دَ دويم حديث لاندې او تفصيلى احوال كتاب الإيمان باب: أحب الدين إلى الله أدومه لاندې تير شوى دى.[1]

⑥ حضرت عائشه رضي الله عنها: دا ام المؤمنين حضرت عائشه بنت ابى بكر صديق رضي الله عنهما ده دَ دوى احوال كشف البارى، كتاب بدء الوحى، دَ دويم حديث لاندې تير شوى دى.[2]

شرح حديث: دَزير بحث ترجمة الباب لاندې امام بخارى رحمه الله درې احاديث راوړى دى. دَ ترجمة الباب دَ اثبات دَ پاره هم ړومبې حديث كافى وو ځكه چه ظاهره ده چه په كومه بستره باندې حضرت عائشه رضي الله عنها ملاسته وه په هغې باندې رسول الله ﷺ مونځ كولو. ليكن دا امر په اول حديث كښې په صراحت سره نقل نه وو. په دې وجه ئى دويم حديث ذكركړو چه په هغې كښې تصريح وه چه دَ خپل كور والا په بستره باندې حضورپاك مونځ كولو او حضرت عائشه رضي الله عنها مخې ته دَ جنازې په شان ملاسته وه. دې نه پس په دريم روايت كښې نور تفصيل راغلو چه دا هغه بستره وه په كومه چه به دې دواړو حضراتو آرام كولو.

الغرض دَدې دريواړو رواياتو نه دَ امام بخارى رحمه الله مقصد پوره شو چه دَ خورولو كوم يو څيز هم وى بورئى، پوزكې، تورشك وغيره اګركه هغه دَ اوده كيدو په كار راځى په هغې باندې مونځ اداكول صحيح دى.

دا دريم حديث اګرچه مرسل دې ليكن دا په دې خبره باندې محمول دې چه حضرت عروه رحمه الله به دا حديث هم دَحضرت عائشه رضي الله عنها نه اوريدلې وى لكه څنګه چه هم دا امر دَ ماقبل حديث مسند نه مترشح كيږى. او دَدې حديث مرسل دَ راوړلو نه مقصود په دې خبره باندې تنبيه ده چه بستره به ددې دواړو حضراتو دَ اوده كيدو دَ پاره استعماليدله. اودا نكته هم ده چه مذكوره حديث مرسلاً او مسنداً دواړه طريقو نقل دې.[3]

دَ روايت دَ ترجمة الباب سره مناسبت: دَ روايت دَترجمة الباب سره په مناسبت پوره شان سره واضح دې.

٢٣ - باب: السُّجُودِ عَلَى الثَّوْبِ فِي شِدَّةِ الحَرِّ

داباب دې دَمونځ ګذاردَ تيزې ګرمئ دَوجې نه په كپړاباندې دسجدې كولو(دَجواز) باره كښې

دَ ترجمة الباب مقصد: حافظ ابن حجر رحمه الله اوعلامه عينى رحمه الله فرمائى چه دَدې باب نه مقصود دَ مونځ ګذار دَ ګرمئ دَ سختئ نه دَ بچ كيدو په خاطر دَ خپلې كپړې په غاړه يا پَلَوْ مثلاً لمن،لستونړې وغيره باندې دَ سجدې كولو جواز بيانول دى. البته دَ "الحر" قيد دَ راتلونكى حديث دَ الفاظو دَ موافقت او محافظت دَپاره دى. ځكه چه په يخنئ كښې هم داسې كول

[1] كشف البارى: ١/٢٩١، ٢/٤٣٦.
[2] كشف البارى: ١/٢٩١.
[3] عمدة القارى: ٤/١٧٢.

جائز دی بلکه کوم حضرات چه په کپړا باندې د سجدې کولو د جواز قائل دی هغوی دا د څه حاجت سره مقید نه منی.[۱]

حضرت شیخ الحدیث صاحب نورالله مرقده فرمائی چه په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله په شوافع باندې رد کوی. ځکه چه د هغوی په نیز په ثوب متصل باندې سجده کول مکروه دی. بلکه منفصل کیدل پکاردی. او د جمهورو په نیز دا جائز دی. امام بخاری رحمه الله د جمهورو سره دی.[۲]

علامه أنورشاه کشمیری رحمه الله فرمائی چه په رومبی باب کښې امام بخاری رحمه الله په خپله کپړا باندې د سجدې کولو جواز مطلقًا خودلې وو او ودلته د سختې ګرمئ د وخت قید لګولو سره د هغې مسئله ئې هم جدا بیان کړې ده. ځکه چه د آثارو نه هم د دواړه شان جواز ثابتیږی. ځکه چه په علم معانی کښې دا امر فیصله شوې دې چه کله په یو مقید باندې حکم کولې شی نوهم قیود ملاحظه وی. لکه جاءنی زید، جاءنی زید راکبا او جاءنی زید راکبا أمس کښې فرق دې ځکه چه قیود زیاتیدو سره د هغې فائدې هم زیاتیږی.[۳]

تعلیق: وَقَالَ الحَسَنُ: «كَانَ القَوْمُ يَسْجُدُونَ عَلَى العِمَامَةِ وَالقَلَنْسُوَةِ وَيَدَاهُ فِي كُمِّهِ»

د تعلیق توجمه: حضرت حسن بصری رحمه الله اوفرمائیل: خلقو (یعنی صحابه کرامو رضی الله عنهم) به په پټکی او توپئ باندې سجده کوله، په داسې حال کښې چه د هغوی لاسونه به په لستونړو کښې وو.

د تعلیق تخریج: دا تعلیق ابن ابی شیبه رحمه الله اوعبدالرزاق رحمه الله موصولاً نقل کړې دې. د حضرت حسن بصری رحمه الله مذکوره قول په دواړو کتابونو کښې د هشام رحمه الله په طریق سره ذکر دې وئی ګورئی:

«حدثنا أبو أسامة، عن هشام، عن الحسن قال: إن أصحاب النبی صلی الله علیه وسلم یسجدون وأیدیهم فی ثیابهم، ویسجد الرجل منهم علی عمامته»[۴]

او په مصنف عبدالرزاق کښې مذکوره اثر دا دې: «عبدالرزاق عن هشام بن حسان عن الحسن قال: أدركنا القوم وهم يسجدون على عمائمهم ويسجد أحدهم ويديه فی قمیصه»[۵]

د تعلیق رجال:

الحسن رحمه الله: دا مشهور تابعی ابوسعید حسن بن ابی الحسن یسار بصری رحمه الله دې. د دوی تفصیلی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: وإن طائفتان من المؤمنین اقتتلوا وأصلحوا، فسماهم

---

[۱]) فتح الباری: ۶۳۹/۱،عمدة القاری: ۱۷۳/۴.

[۲]) تقریر بخاری شریف: ۳۷/۳،سراج القاری: ۴۱۴/۲.

[۳]) انوارالباری: ۱۶۴/۱۲، فیض الباری: ۳۴/۲.

[۴]) المصنف لابن أبی شیبة، کتاب الصلاة، باب: فی الرجل یسجد ویداه فی ثوبه، رقم الحدیث: ۲۷۵۴، ۴۹۷/۲.

[۵]) المصنف لعبدالرزاق، کتاب الصلاة، باب: السجود علی العمامة، رقم الحدیث: ۱۵۶۶، ۴۰۰/۱.

المؤمنين لاندې تير شوى دى (١)

دَ تعليق تشريح: حضرت حسن بصرى رحمه الله فرمائى صحابه كرامو رضي الله عنهم به په پټكى او تو پئ باندې سجده كوله. "القوم" نه مراد اصحاب رسول ﷺ دى. (٢)

دَ "القلنسوة" نه مراد تو پئ ده. المعجم الوسيط كښې ليكلى دى: "لباس للرأس، مختلف الأنواع والأشكال" دَ سر هغه لباس كوم چه په مختلف شكلونو كښې وى په دې لفظ كښې څو لغات دى: قُلَنْسِيَة، او جمع ئې قلانِسُ، قلانِيسُ، قَلَانِيّ راځى. (٣)

"يداه فى كمه" دَ بخارى رحمه الله په اكثرنسخو كښې هم دا شان دې. البته دكشميهنى په روايت كښې "يديه فى كمه" دې. (٤)

دَ اكثرو دَ قول مطابق "يداه" مركب اضافى به مبتداء شى او "فى كمه" دَ خپل متعلق سره خبر او پوره جمله به حال شى. تقديرى عبارت به داسې شى: "ويدا كل واحد فى كمه" هسې مقام تقاضا كوله چه "وأيديهم فى أكمامهم فى ثيابهم" وې لكه څنګه چه دَ المصنف لابن ابى شيبه په روايت كښې "وأيديهم فى ثيابهم" دې. (٥)

اودَ كشميهنى دَ روايت مطابق به "يديه" به حالت دَ نصب كښې وى، دَ فعل محذوف دَ وجې نه، يعنى "يجعل كل واحد يديه فى كمه". (٦)

دَ تعليق دَ ترجمة الباب سره مناسبت: علامه عينى رحمه الله فرمائى چه دَدې اثر دَ ترجمة الباب سره مناسبت سره ډير كوشش كولوسره ثابتولې شى څكه چه ترجمة الباب دلالت كوى "السجود على الثوب" باندې. اودَ ثوب اطلاق په عمامه او تو پئ باندې نه كيږى ليكن دا باب او دَدې نه روستو درې ابوابو كښې "مباشرة الأرض" باندې دَ سجدې كولو جواز بيان شو بلكه په هغه شى باندې دَ سجدې كولو جواز معلوم شو كوم چه په زمكه باندې خور شوې يا كيخودې شوې وى. مثلاً وړوكې پوزكې، غټ پوزكې، تورشك، پټكې او تو پئ وغيره. (٧)

---

(١) كشف البارى: ٢٢٠/٢.

(٢) عمدة القارى: ١٧٣/٤، إرشادالسارى: ٤٨/٢.

(٣) المعجم الوسيط، ص: ٧٥٤، معجم الصحاح للجوهرى، ص: ٨٨٠.

(٤) فتح البارى: ٦٣٩/١، عمدة القارى: ١٧٣/٤.

(٥) حدثنا أبوبكر قال: نا أبو أسامة، عن هشام، عن الحسن، قال: كان أصحاب النبى صلى الله عليه وسلم يسجدون وأيديهم فى ثيابهم، ويسجد الرجل منهم على عمامته. (المصنف لابن أبى شيبة، كتاب الصلاة، باب: فى الرجل يسجد ويداه فى ثوبه، رقم الحديث: ٢٧٥٤، ٤٩٧/٢).

(٦) فتح البارى: ٦٣٩/١، عمدة القارى: ١٧٣/٤، إرشادالسارى: ٤٨/٢.

(٧) عمدة القارى: ١٧٣/٤.

لهذا په دې اعتبار سره مناسبت ثابتيږي.

په لستونړی باندې د سجدې کولو شرط: په لستونړی باندې د سجدې کولو شرط دادې چه د لستونړی یا لمن کپړا پاکه وی او هغه ځائی هم پاك وی. که چرې هغه ځائی پاك نه وی نوسجده به صحیح نه وی. دغه شان په هر هغه څیز باندې د سجدې کولو هم دغه حکم دې کوم چه د مونځ گذار د بدن سره لگیدلې دې. کله چه د هغه لاندې ځائی پاك وی نوسجده جائز او صحیح ده، اګرچه هغه ملاؤ شوې ځائی د مونځ گذار جزء وی لیکن لستونړی او ددې نه علاوه د متصل کپړې د سجدې د پاره بغیرد عذر نه خورول مکروه دی. ځکه چه دا د کبر کار دې. لهذا که د کبر د وجې نه داسې او کړی نومکروه تحریمی دې او که د کبر اراده ئې نه وی او بغیرد ضرورت او بغیرد عذر نه وی نومکروه تنزیهی دې. که چرې عذر یعنی خاوره وی، کانړی وی یا د یخنۍ اوګرمۍ وغیره د تکلیف ویره وی نومباح دی.[1]

د پټکی په ول باندې د سجدې کولو حکم: د پټکی په ول باندې بغیرد عذر نه سجده کول صحیح دی لیکن مکروه تنزیهی دی. کله چه ول په ټول تندی باندې وی یا د تندی په څه حصه باندې وی لکه بعضې وخت ول سست شی او تندی له راشي.

او د پټکی په ول باندې د سجدې د جائز کیدو شرط دادې چه د سجدې ځائې پاك وی او د ول لاندې نه د زمکې سختوالې مونځ گذار ته داسې محسوسیږی چه که سرئې نور دباؤ کړو نو نه به دباویږی. نو که تندې ئې کلك نه شو بلکه صرف ورسره اولګیدو چه که چرې دباؤ ئې کړی نو دباؤ به شی نوپه داسې حال کښې سجده اونه شوه د یر خلق ددې نه غافل دی. که چرې ول ئې په لړه شان حصه باندې دې د تندی باقی حصه زمکې باندې لګی نو سجده جائز ده. او که د پټکی ول صرف د مونځ گذار په سر باندې دي (تندی باندې نه دې) او صرف په ول باندې سجده او کړی په زمکه باندې د هغه تندې اونه لګی نو سجده جائز نه ده، اکثر خلق ددې نه هم غافل دی.[2]

حدیث باب [حدیث نمبر ۳۷۸]

-۳۸۵- حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ هِشَامُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ قَالَ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ قَالَ حَدَّثَنِي غَالِبٌ الْقَطَّانُ عَنْ بَكْرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ[3] قَالَ كُنَّا نُصَلِّي مَعَ

[1] عمدة الفقه، كتاب الصلاة، فرائض الصلاة: ٢/ ٩٤.
[2] عمدة الفقه، كتاب الصلاة، فرائض الصلاة: ٩٥/٢.
[3] أخرجه البخاری أيضا وفى مواقيت الصلاة، باب وقت الظهر عندالزوال، رقم الحديث: ٥٤٢ وفى كتاب العمل فى الصلاة، باب: بسط الثوب فى الصلاة فى السجود، رقم الحديث: ١٢٠٨. ومسلم فى صحيحه، كتاب المساجد، باب: استحباب تقديم الظهر فى أول الوقت فى غير شدة الحر، رقم الحديث: ٦٢٠ وأبوداؤد فى سننه، كتاب الصلاة، فى الصلاة، باب: الرجل يسجدعلى ثوبه، رقم الحديث: ٦٦٠ والترمذى فى سننه، فى الصلاة، باب: ما ذكر من الرخصة فى السجود على الثوب فى الحر والبرد، رقم الحديث: ٥٨٤. والنسائى فى سننه، كتاب الصلاة، باب: السجود على الثياب فى الحر والبرد، رقم الحديث: ١٠٣٣. وفى جامع الأصول، حرف الصاد، الصلاة، القسم الأول فى الفرائض، الباب الأول فى الصلاة وأحكامها، الفصل السادس فى شرائط الصلاة، الفرع الرابع فى الأمكنة، النوع الأول فيه يصلى عليه، رقم الحديث: ٣٢٦٠، ٤٦٨/٥.

النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - فَيَضَعُ أَحَدُنَا طَرَفَ الثَّوْبِ مِنْ شِدَّةِ الحَرِّ فِي مَكَانِ السُّجُودِ.

ترجمه حديث: حضرت انس بن مالك رضي الله عنه فرمائى چه مونږ به د نبى كريم ﷺ سره مونځ كولو نو په مونږ كښې به بعضې خلقو د ګرمئ د سختوالى د وجې نه د خپلې (اغوستې شوې) كپړو غاړه د سجدې كولو په ځائى كيخودلې.

تراجم رجال: مذكوره حديث شريف كښې ټول پنځه رجال دى.

① ابوالوليد هشام بن عبدالملك رحمه الله: دا ابو الوليد هشام بن عبد الملك الباهلى الطيالسى المصرى رحمه الله دې. د دوى مختصر تذكره كشف البارى، كتاب الإيمان، باب علامة الإيمان حب الأنصار لاندې او تفصيلى تذكره كتاب العلم، باب: إثم من كذب على النبى صلى الله عليه وسلم لاندې تيره شوې ده.[1]

② بشر بن المفضل رحمه الله: دا بشر بن المفضل بن الاحق البصرى رحمه الله دې. د دوى تذكره كتاب العلم، باب: قول النبى صلى الله عليه وسلم: رب مبلغ أوعى من سامع لاندې تيره شوې ده.[2]

③ غالب القطان رحمه الله: د دوى پوره نوم ابو سليمان غالب بن خُطاف دې. چاته چه ابى غيلان القطان وئيلى شى. دوى ته ابو عفان البصرى هم وئيلې شى.[3]

دې د يو قول مطابق مولى عبدالله بن عامر بن كُريز دې. دويم قول د مولى بن تميم دې دريم قول د مولى بن غنم دې او د څلورم قول مطابق دا مولى بنى راسب دې.[4]

"خطاف" د خاء په فتحې سره د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه نقل دې. او د خاء په ضمې سره د ابن معين رحمه الله او على بن المدينى رحمه الله نه نقل دې.[5]

دې چه د كومو استاذانو او شيوخو نه روايت كوى په هغوى كښې بكر بن عبدالله المزنى، ابوالجوزاء، اوس بن عبدالله الربعى، الحسن البصرى، سعيد بن جبير، سليمان بن الاعمش، عمرو بن شعيب، مالك بن دينار، محمد بن سيرين، ابو المهزم التيمى وغيره رحمهم الله شامل دى.

او د دوى نه روايت كونكو كښې بشر بن المفضل، اسماعيل بن عليه، حزم بن ابى حزم القطعى، حماد بن معقل البصرى، خالد بن عبدالرحمن السلمى، الخليل بن ذكريا الشيبانى، دويد بن مجاشع، الربيع بن صُبيح، سهيل بن ابى حزم القطعى، سلام بن ابى مطيع، شعبه بن الحاج رحمهم الله وغيره شامل دى.[6]

[1] كشف البارى: ۲/۳۸، ۴/۱۵۹.
[2] كشف البارى: ۴/۲۲۲.
[3] تهذيب الكمال: ۲۳/۸۴ التاريخ الكبير للبخارى: ۴/۱۰۰-۹۹.
[4] الثقات لابن حبان: ۷/۳۰۸، الجرح والتعديل: ۷/۴۶.
[5] تهذيب الكمال: ۲۳/۸۴، تهذيب التهذيب: ۵/۲۴۲.
[6] تهذيب الكمال: ۲۳/۸۵ تهذيب التهذيب: ۸/۲۴۲.

دَ دوی باره کښې امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی ثقة، ثقة.(1) یحیی بن معین رحمه الله او امام نسائی رحمه الله فرمائی: ثقة.(2) ابو حاتم رحمه الله فرمائی: صدوق صالح(3). عمار بن عمر بن المختار دَخپل پلار نه روایت کولو سره وائی: حدثنا غالب القطان وكان والله من خيار الناس.(4) ابن حبان رحمه الله دَدوی تذکره کتاب الثقات کښې کړې ده.(5) دَ دوی روایات بخاری، مسلم او ابن ماجه کښې دَ بشر بن المفضل رحمه الله په واسطې سره نقل دی.(6)

④ بكر بن عبدالله رحمه الله: دا بکر بن عبد الله بن عمرو بن هلال المزنی رحمه الله دې. دَ دوی تفصیلی تذکره کشف الباری، کتاب الغسل، باب: عرق الجنب وأن المسلم لاينجس لاندې تیره شوې ده(7)

⑤ انس بن مالك رضي الله عنه: دا مشهور صحابی رسول حضرت انس بن مالك رضي الله عنه دې. دَ دوی تذکره کشف الباری، کتاب الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه لاندې تیره شوې ده(8)

شرح حدیث: "طرف ثوبه" دا جمله دَ "یضع" فعل دَ پاره مفعول جوړیږی. مراد دا چه دَ گرمئ دَ سختوالی دَ وجې نه دَ سجدې په ځائی کښې به هرسړی خپله کپړا کیخودله. اوس دا کپړا خپله اغوستې شوې کپړا وه یا دَ بدن نه چرته جدا پرته وه، کومه چه به ئی خوروله او په هغې باندې به سجده کولې شوه؟

نو که دَ هغه زمانې په اعتبار سره اوکتلې شی نو ښکاره خبره ده چه دَ کپړو دَ قلت زمانه وه. لهذا هم هغه کپړا مراد کیدې شی کومه چه اغوستې شوې وه نه چه جدا کپړا، خاص کر دَ کپړې اضافت هم دا ښائی(9)

او ددې نه هم واضحه الفاظ په صحيح مسلم، سنن ابی داؤد او سنن ابن ماجه کښې دی چه "بسط ثوبه فيسجد عليه"(10)

---

(1) سیر أعلام النبلاء: ۲۰۶/۶، الجرح والتعدیل: ٦٤/٧.
(2) الطبقات لابن سعد: ۲۷۱/۷، تهذيب الكمال: ٨٦/٢٣.
(3) الجرح والتعديل: ٦٤/٧، تقريب التهذيب: ٣/٢.
(4) تهذيب التهذيب: ٢٤٢/٨، تهذيب الكمال: ٨٥/٢٣.
(5) الثقات لابن حبان: ٣٠٨/٧.
(6) ميزان الإعتدال: ٣٣١/٣، تهذيب الكمال: ٨٧/٢٣.
(7) كشف البارى، كتاب الغسل، باب: عرق الجنب وأن المسلم لا ينجس.
(8) كشف البارى: ٢/٤.
(9) عمدة القارى: ١٧٤/٤.
(10) حدثنا يحيى بن يحيى، حدثنا بشر بن المفضل، عن غالب القطان، عن بكر بن عبدالله، عن أنس بن مالك قال: كنا نصلى مع رسول الله صلى الله عليه وسلم فى شدة الحر، فإذا لم يستطع أحدنا أن يمكن جبهته من الأرض، بسط ثوبه، فسجد عليه. (صحيح مسلم، كتاب الصلاة، باب السجود على الثوب فى شدة الحر، رقم الحديث: ٦٢٠). حدثنا أحمد بن حنبل، حدثنا بشر – يعنى: ابن المفضل –، حدثنا غالب القطان، عن بكر بن عبدالله عن أنس.......

اودَ سنن نسائى په روايت كښې دى «كنا إذا صلينا خلف رسول الله صلى الله عليه وسلم بالظهائر سجدنا على ثيابنا اتقاء الحر»[1]

اودَ المصنف په روايت كښې دى «كنا نصلى مع النبى صلى الله عليه وسلم فى شدة الحر والبرد، فيسجد على ثوبه»[2]

دَ حديث دَ ترجمة الباب سره مناسبت: دَمذكوره حديث شريف دَ ترجمة الباب سره مناسبت په پوره شان سره واضح دې[3]

دَحديث شريف نه مستفاد امور او اداب: ① دَمذكوره حديث شريف نه معلومه شوه چه په مانځه كښې په قليل عمل سره مونځ نه فاسديږى.

② كپړا دَ تندې لاندې خورول او په هغې سجده كولو سره هم په مونځ كښې څه فرق نه راځى كه هغه كپړا متصل وى اوكه غير متصل.

په كپړا باندې دَ سجدې كولو باره كښې دَ ائمو مذاهب: دَ گرمئ يا يخنئ دَ سختوالى په وخت كله چه تندې په زمكه باندې نه لگى. په خپل بدن باندې دَ اغوستې شوې كپړې څه حصه خورول او په هغې باندې سجده كول دَ امام ابوحنيفه رحمه الله، امام مالك رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله په نيز جائز دى[4]

...... بن مالك، قال: كنا نصلى مع رسول الله صلى الله عليه وسلم فى شدة الحر، فإذا لم يستطع أحدنا أن يمكن وجهه من الأرض بسط ثوبه، فسجد عليه. (سنن أبى داؤد، كتاب الصلاة، باب: الرجل يسجد على ثوبه، رقم الحديث: ٦٦٠).

حدثنا إسحاق بن إبراهيم بن حبيب قال: حدثنا بشر بن المفضل، عن غالب القطان، عن بكر بن عبدالله عن أنس بن مالك، قال: كنا نصلى مع رسول الله صلى الله عليه وسلم فى شدة الحر، فإذا لم يقدر أحدنا أن يمكن جبهته. بسط ثوبه، فسجد عليه. (سنن ابن ماجة، كتاب الصلاة، باب: السجود على الثياب فى الحر والبرد، رقم الحديث: ١٠٣٣).

[1] أخبرنا سويد بن نصر، قال: أنبأنا عبدالله بن المبارك، عن خالد بن عبدالرحمن هوالسلمى، قال: حدثنى غالب القطان، عن بكربن عبدالله المزنى، عن أنس قال: كنا إذا صلينا خلف رسول الله صلى الله عليه وسلم بالظهائر سجدنا على ثيابنا اتقاء الحر. (سنن النسائى، كتاب الصلاة، السجود على الثياب، رقم الحديث ١١١٧).

[2] حدثنا أبوبكر قال: نابشر بن الفضل، عن غالب، عن بكر، عن أنس، قال: كنا نصلى مع النبى صلى الله عليه وسلم فى شدة الحر، فإذا لم يستطع أحدنا أن يمكن وجهه من الأرض بسط ثوبه فسجد عليه (المصنف لابن أبى شيبة، كتاب الصلاة، باب: فى الرجل يسجد على ثوبه من الحر والبرد، رقم الحديث ٢٧٨٥، ٣٦٩/١)

[3] عمدة القارى: ١٧٤/٤.

[4] بدائع الصنائع، كتاب الصلاة، فصل: وأما سننها فكثيرة: ٦٤٠/١، البحر الرائق، كتاب الصلاة، فصل: فى اللغة فرق ما بين الشيئين: ٢١٢٠/١، حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح، كتاب الصلاة، باب: شروط الصلاة: ١٥٥/١، المدونة الكبرى كتاب الصلاة، السجود على الثياب والبسط: ١٧١/١، مواهب الجليل فى الشرح الكبير، كتاب الصلاة، فى فرائض الصلاة، فرع: فرش خمرة فوق البساط وصلى عليها: ٢٥٧/٢، المغنى لابن قدامة، كتاب الصلاة، فصل: مباشرة الأعضاء والسجود للمصلى: ١٩٧/٢، الإنصاف، كتاب الصلاة، صفة الصلاة: ٦٨/٢، المبدع شرح المقنع، كتاب الصلاة، فى صفة الصلاة: ٤٠٣/١.

خو امام شافعي رحمه الله ددې قائل نه دې. دهغوی په نيز د بدن سره متصل کپړا خوروول او په هغې سجده کول خو جائز نه دی خو چه کومه کپړا د بدن نه جدا وي نو په هغې باندې سجده کولو کښې څه حرج نشته دې. يعني کومه کپړا چه په بدن باندې د پاسه ده دهغې څه حصه د سجدې په ځائی کيږدی او هغه حصه د مونځ گذار په حرکت سره خوزيږي نو په هغې باندې سجده کول جائز نه دی. او که هغه کپړا دومره لويه ده چه د سجدې کولو په ځائی هغه پرته وی او د هغې باقی حصه مونځ گذار اغوستې ده، که هغه رکوع ته ځی يا سجده کوي يا قيام کوی نو په دې ټولو حالتونو کښې هغه کپړا نه خوزيږي نو بيا په داسې کپړا باندې د سجدې کولو اجازت دې. يا بيا د مونځ نه خارج کپړا باندې د سجدې کولو اجازت دې. د هغوی په نيز د دې وجه داده چه د مونځ گذار په بدن باندې کومه کپړا وی هغه هم د بدن د جزء په شان کيدو د وجې د مونځ کونکی سره ده لهذا لکه څنګه چه د بدن په څه حصه باندې سجده نه شی کيدې بلکه په زمکه باندې سجده کول ضروری دی. دغه شان په دغه متصل کپړا باندې سجده کول هم صحيح نه دی.([1])

٢٤ – باب: الصَّلاةِ فِي النِّعَالِ

داباب دې په بيان د څپلو سره د مونځ د حکم باره کښې

"فى النعال" دا فى د على په معنى ده. يا د باء په معنى؟ علامه عينى رحمه الله فرمائی چه دا د ظرفيه په معنى اخستل صحيح نه دی.([2]) په دې صورت کښې به مطلب داشی چه څپلو سره يعنی څپلئ اچولو سره مونځ کول څنګه دی؟

نعال جمع ده د نعل، د دې معنی ده څپلئ او هرهغه څيز کوم سره چه خپه بچ کولې شی([3])

د مذکوره باب د ماقبل سره مناسبت: د دې باب او د ماقبل باب مناسبت دادې چه هلته د مخ د هغه کپړې سره لګيدل وو په کوم چه سجده کولې شوه. اوس د خپې دهغه څپلئ سره لګيدل دی کومه چه په خپه کښې اچولې شوې ده.([4])

حديث باب [حديث نمبر ٣٧٩]

٣٨٦- حَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنَا أَبُو مَسْلَمَةَ سَعِيدُ بْنُ يَزِيدَ الْأَزْدِيُّ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ([5]) أَكَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يُصَلِّي فِي نَعْلَيْهِ قَالَ نَعَمْ.

[1]) العزيز شرح الوجيز، كتاب الصلاة، كيفية الصلاة: ٥٢١/١، الحاوى الكبير للماوردى، كتاب الصلاة، باب: صفة الصلاة: ١٦٤/٢، روضة الطالبين، كتاب الصلاة، باب: فى صفة الصلاة: ٣٦٣/١.

[2]) عمدة القارى: ١٧٦/٤.

[3]) معجم الصحاح للجوهرى، ص: ١٠٥٣.

[4]) فتح البارى: ٦٤٠/١، عمدة القارى: ١٧٤/٤.

[5]) أخرجه البخارى أيضاً فى اللباس، باب: النعال السبتية، رقم الحديث: ٥٨٥ ومسلم فى صحيحه، فى المساجد، باب: جواز الصلاة فى النعلين، رقم الحديث: ٥٥٥ والترمذى فى جامعه، فى الصلاة، باب: ما جاء فى الصلاة فى النعال، رقم الحديث: ٤٠٠ والنسائى فى سننه، فى القبلة، باب الصلاة فى النعلين، رقم الحديث: ٧٧٦ وابن ماجة فى سننه، فى الصلاة، باب: الصلاة فى النعال، رقم الحديث: ١٠٣٧ وفى جامع الأصول، حرف الصاد، الكتاب الأول: فى الصلاة، الباب الأول: فى الصلاة وأحكامها، الفصل السادس: فى شرائط الصلاة، الفرع الثانى: فى طهارة اللباس، رقم الحديث: ٣٦١٨، ٤٤٥/٥.

ترجمه حديث: حضرت سعيد بن يزيد رحمه الله وائى چه ما د حضرت انس بن مالك رضي الله عنه نه تپوس اوكړو چه آيا نبى كريم ﷺ به په خپلو څپلو (پنړو) كښې مونځ كولو؟ نوهغوى جواب راكړو چه آو (نبى كريم ﷺ د څپلو سره مونځ كولو).

تراجم رجال: دمذكوره حديث شريف ټول څلور رجال دي:

① آدم بن ابى اياس رحمه الله: دا ابوالحسن آدم بن ابى اياس عبدالرحمن العسقلانى رحمه الله دي. د دوى تذكره كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده لاندې تيره شوې ده.[1]

② شعبه رحمه الله: دا امير المؤمنين شعبه بن الحجاج بن الورد عتكى الواسطى بصرى رحمه الله دي. د دوى تذكره كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده، لاندې تيره شوې ده.[2]

③ ابومسلمه سعيد بن يزيد الازدي رحمه الله: ددوى پوره نوم سعيد بن يزيد بن مسلمه الا زدي دي. دوى ته الطاحى هم وئيلى شى[3]. الطاحى د قاضى په شان دې چه د الا زد يوه محله الطاحيه طرف ته منسوب دې.[4] دا نسبت ابن حبان رحمه الله د الطاحى په ځائى الطحان ذكركړې دې.[5] علامه مغلطائى رحمه الله دا نسبت ذكركول جيد نه دى ګرځولى.[6]

ددوى كنيت ابو مسلمه البصرى القصير دې.[7]

مَسلمه په ميم فتحه، دَسين سكون او دَ لام فتحې سره دې. بعضې خلق دا دَ ميم ضمې او لام كسرې سره نقل كوى هغه صحيح نه دې.[8]

دوى چه دكومو استاذانو اومشائخونه روايت كوى په هغوى كښې انس بن مالك، ابونضره، عكرمه، ابى قلابه، مطرف، يزيد بن عبدالله بن الشخير، حسن بصرى، شقيق بن نور وغيره رحمهم الله شامل دى. اودَ دوى نه روايت كونكو كښې شعبه، ابراهيم بن طهمان، حماد بن زيد، عبادبن عوام، خالدبن عبدالله، بشر بن المفضل، ابن عُليه، يزيد بن زريع وغيره رحمهم الله شامل دى.[9]

---

[1]) كشف البارى: ١/٦٧٨.
[2]) كشف البارى: ١/٦٧٧.
[3]) تاريخ البخارى الكبير: ٢/٥٢٠، الكاشف: ١/٣٢٨، إكمال تهذيب الكمال: ٥/٣٧٢.
[4]) تهذيب الكمال: ٤/١٠٠، إحكام الأحكام شرح عمدة الأحكام: ١/٢٥٨.
[5]) الثقات لابن حبان: ٤/٢٧٩.
[6]) إكمال تهذيب الكمال: ٥/٣٧٢.
[7]) التاريخ الكبير للبخارى: ٢/٥٢٠ تهذيب الكمال: ١١/١١٤.
[8]) إكمال تهذيب الكمال: ٥/٣٧٣.
[9]) تهذيب الكمال: ١١/١١٥، تهذيب التهذيب: ٤/١٠٠.

ابو حاتم رحمه الله دَدوی باره کښې فرمائی: صالح.[1] یحیی بن معین رحمه الله او امام نسائی رحمه الله فرمائی: ثقة[2]. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ابن سعد، العجلی او ابوبکر ابزار هم دَدوی توثیق کړې دې.[3] ابن حبان رحمه الله دوی په الثقات کښې بیان کړی دی[4]

۴ انس بن مالك رضي الله عنه: دامشهور معروف صحابی رسول حضرت انس بن مالك بن نضر خزرجی انصاری رضي الله عنه دې. دَ دوی تذکره کشف الباری، کتاب الایمان، باب: من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه لاندې تیره شوی ده.[5]

دَ ترجمة الباب مقصد: حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله فرمائی چه دَ حضرت امام بخاری رحمه الله مقصد دادې که څپلو سره څوك مونځ اوکړی نو په دې کښې څه بدیت نشته دې ځکه چه په قرآن پاك کښې دی ﴿فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ﴾ او مونځ خودَ وادی مقدس نه هم افضل دې. ځکه چه "المصلي يناجي ربه" راغلې دې. نو ابهام به راتلو چه مونځ هم په څپلو کښې نه دی جائز کیدل پکار. چنانچه امام بخاری رحمه الله په دې باب سره دَ دې جواز ثابتوی. بعضې علماء داسې فرمائی چه دَعربو په څپلو کښې خو مونځ جائز دې په هندی څپلو کښې نه دې. دَدې وجه داده چه دَ هغوی څپلئ بالکل دَ چپړو په شان وی لکه دَ نعلین شریفین دَ نقشې مبارکې نه معلومیږی[6]

شرح حدیث: دَ مذکوره حدیث شریف نه داخبره ثابتیږی چه څپلو سره مونځ اداکول په دې شرط سره جائز دې چه هغه پاکې وی. اودا خبره دَ رسول الله ﷺ، صحابه کرامو رضي الله عنهم او دَ تابعینو رحمهم الله دَ آثارو نه ثابته ده.

علامه سیوطی رحمه الله داخبره دَدې امت دَ خصوصیاتو نه شمیر کړې ده[7]

علامه مقرئی رحمه الله په خپل کتاب فتح المتعال في مدح النعال کښې دَ حافظ زین الدین العراقی رحمه الله یو سوال او جواب نقل کړې دې په کوم کښې چه حافظ صاحب رحمه الله لیکلی دی چه «دَ بخاری شریف دَدې حدیث نه، معلومیږی چه په څپلو کښې مونځ اداکول دَ حضور پاك عادت مستمره وو[8]

---

[1] الجرح والتعديل: ٤/٧٤.
[2] خلاصة الخزرجي،ص:١٤٥، تهذيب الكمال:١١٥/١١.
[3] تهذيب التهذيب: ١٠١/٤.
[4] الثقات لابن حبان: ٢٧٩/٤.
[5] كشف الباري: ٤/٢.
[6] سراج القاري: ٤١٦/٢.
[7] أنموذج اللبيب فى خصائص الحبيب، الباب الأول: فى خصائص التى اختص بهادون جميع الأنبياء، الفصل الثاني: فيما اختص به فى شرعه وأمته فى الدنيا، ص: ٩٠.
[8] فتح المتعال فى مدح النعال، بحث جواز الصلاة فى النعل،ص: ٩٣، دارالقاضي للتراث.

دي جواب علامه عبدالحئ لکهنوی رحمه الله په خپل کتاب غاية المقال فيما يتعلق بالنعال کښې دا ورکړې دې چه د حافظ عراقی رحمه الله د دوام او استمرار والا خبره د منلو قابل نه ده ځکه چه په حديث کښې په دې خبره باندې دلالت کونکې هيڅ څيز نشته دې. آو دا ممکن ده چه په حديث کښې موجود لفظ "كان" نه استدلال کړې شوې وی چه دا د استمرار معنی پيدا کوی ليکن په دې باره کښې په دې خبره ځان پوهول پکار دی چه لفظ "كان" أصالةً په دوام او استمرار باندې دلالت نه کوی لکه چه امام نووي رحمه الله په خپله شرح مسلم کښې ليکلی دی[1] لهذا دَدې نه به هم دليل نيول صحيح نه وی[2]

ابن دقيق العيد رحمه الله ليکی چه دَدې حديث شريف نه دَ خپلو اچولو سره دَ مونځ ادا کولو دَ جواز علم کيږی. ليکن دا مناسب نه دی چه دَدې عمل دَ استحباب قول اختيار کړې شی ځکه چه دا امر دَمونځ مطلوب معنی کښې داخل نه دې. په دې باندې که اعتراض او کړې شی چه خپلې اچولو سره ښائست حاصليږی. چنانچه لکه څنګه په مانځه کښې دَ خو کپړو په ذريعه ښائست حاصلول مطلوب دی، دغه شان په دې معامله کښې هم کيدل پکار دی؟

نودَدې جواب دا دې چه ستاسو خبره منلې شوې ده مګر خبره دا ده چه مونږ خپلې اچولو سره په زمکه باندې ګرځو حالانکه په زمکه باندې پليتئ پرتې وی دکوم په وجه چه خپلې هم پليتيږی. دَدې په وجه په مونځ کښې دَ خپلو دَ وجې نه دَ حاصليدونکی ښائست حکم ساقطيږی. دغه شان دلته دَ خپلودَ ښائست اودَ خپل ځان نه دَ نجاست والا څيزونه لرې کولو کښې تعارض پيدا شو. دَ کوم په ذريعه چه به دَ نجاست ختمولوته ترجيح ورکولې شی. لهذا په مونځ کښې به خپلې کوزولوسره مونځ کولو ته ترجيح ورکولې شی ځکه چه هغه نجاست سره ګکړ وی او دَ خپلو په ذريعه به ښائست حاصلول مرجوح شی.[3]

علامه شامی رحمه الله ذکر کړی دی چه تاتارخانيه کښې دې چه دَ يهودو دَ مخالفت په غرض پاکې خپلې يا موزې اچولو سره مونځ اداکول افضل دی.[4]

طبرانی رحمه الله المعجم الکبير کښې حديث نقل کړې دې «صلوا في نعالكم ولا تشبهوا باليهود»[5]
علامه سيوطی رحمه الله په جامع الصغير کښې دا حديث صحيح ګرځولې دې. هم په دې وجه حنابله دا فعل سنت ګرځوی اګرچه دَدې په اچولو سره په لارو کوځو کښې ګرځيدلې شی

---

[1] شرح النووى، كتاب الحج، باب: الاشتراك فى الهدى واجزاء البقرة، رقم الحديث: ۳۳۲۷،۴۶۱/۴.
[2] إحكام الأحكام شرح عمدة الأحكام، رقم الحديث: ۹۴، الصلاة فى النعلين، ص: ۵۰. غاية المقال فيما يتعلق بالنعال، مسألة: يجوز الصلاة فى النعلين،ص:۲۱.
[3] إحكام الأحكام شرح عمدة الأحكام، الحديث: ۹۴، الصلاة فى النعلين، ص: ۲۰.
[4] التاترخانيه، كتاب الصلاة، الفصل الرابع: فى بيان مايكره للمصلى: ۵۷۱/۱.
[5] عن هلال بن ميمون، عن يعلى بن شداد، عن أبيه، أو غيره من أصحاب النبى صلى الله عليه وسلم، شك هلال، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: صلوا فى نعالكم، ولا تشبهوا باليهود. (المعجم الكبير للطبرانى، رقم الحديث: ۷۱۶۴، ۲۹۰/۷).

ځکه چه نبی کریم ﷺ او صحابه کرامو ﷺ به څپلو سره دمدینې په لارو کوڅو کښې
ګرځیدل اوبیا به ئی هم دغې کښې مونځ اداکولو.
علامه شامی رحمه الله فرمائی زه وایم که چرې دڅپلو د وجې نه د جمات ګرد اودورې وغیره سره
ککړ کیدل ثابتیږی نوبیا بغیرد څپلونه اداکول بهتر دی اګرچه پاکې وی. مسجد نبوی خو
د حضورپاك په زمانه کښې هم داسې وو چه ددې په فرش باندې به کانړی او باجری وغیره
خواره وو په خلاف زمونږ د زمانې چه نن صبا خو په مسجد نبوی او نورو جماتونو کښې
قالینونه وغیره خواره دی.
او په عمدة المفتی کښې د ذکر شوې قول چه په جمات کښې څپلئ اچولو سره داخلیدل بې
ادبی ده، محمل به ئی هم دغه وی.(۱)
علامه انور شاه کشمیری رحمه الله فرمائی زما رائې داده چه په څپلو کښې مونځ کول زیات نه
زیات دمباح (بلاکراهت) په درجه کښې دې مستحب نه دې. لهذا په شامی کښې یو ځائې
دې باره کښې مستحب لیکل اوبل ځائې مکروه تنزیهی د تحقیق خلاف دی. زما په نیز
حقیقت امر دادې چه حضرت موسی علیه السلام ته په کوه طور باندې د رسیدو په وخت د نعلین د
کوزولو د حکم نه یهودو مطلقا ممانعت ګڼرلې وو. په دې وجه دهغوی په نیز په یو صورت
کښې هم نعلین سره مونځ کول جائز نه دی. هم ددغه غلطئ او سختئ شریعت محمدیه
اصلاح کړې ده اومطلق جواز ئی باقی ساتلې دې. بعضې روایاتو کښې "خالفوا الیهود" هم
راغلې دې. معلومه شوه چه په کومو روایاتو کښې څپلو سره د مونځ حکم راغلې دې هغه
هم د یهودو د مخالفت دپاره دې ددې د پاره نه چه هغه فی نفسه د شریعت مطلوب دې چه
ګنی مستحب دې اوګڼرلې شی.
موطا امام مالك کښې د کعب احبار رحمه الله نه روایت موجود دې چه د حضرت موسی علیه السلام نعلین
د مړ خر د څرمن وې په دې وجه دهغې د کوزولو حکم شوې وو(۲)
ما د قرآن پاك د ظاهرنه داګڼرلی دی چه د نعلین کوزولو حکم "تأدبا" وو هم په دې وجه ددې
نه مخکښې ﴿إِنِّي أَنَا رَبُّكَ﴾ فرمائیلی شوی دی. لکه چه سبب دخلع طرف ته اشاره ده. لهذا دې
نه به عدم جواز هم نه ثابتیږی. غرض دا چه په ادب سره د جواز تعلیم ملاویږی که امر خلع
ددې وجې نه اوګڼرلې شی کوم چه کعب ذکر کړې دې یا په دې وجه وی د کوم طرف ته چه
قرآنی الفاظ اشاره کوی. اود یهودو دعدم جواز والا د حکم هیڅ ګنجائش نشته دې. شریعت
محمدیه دغه شان په نورو ډیرو مواضعو کښې هم د یهودو دګمانونو تغلیط او اصلاح کړې
ده. یعنی په کومو امورو کښې چه هغوی غلط شوی دی اوهغوی د حقیقت نه لرې شوی دی
زمونږ شریعت حقیقت واضح کولو سره دهغوی د غلطیانو اصلاح کړې ده(۳)

---

(۱) ردالمحتار، کتاب الصلاة، باب: مایفسد الصلاة وما یکره فیها، مطلب: فی أحکام المسجد: ۱۹۹/۴دارالثقافة.
(۲) مؤطاامام مالک، الجامع، ماجاء فی النعال، رقم الحدیث: ۳۳۹۶.
(۳) انوارالباری: ۱۶۵/۱۲، فیض الباری:۳۵/۲-۳۴.

دَنعال نه څه مراد دي؟ علامه كشميري رحمه الله فرمائي چه دهغه زماني نعال (څپلئ) زمونږ دَ زماني دَ څپلو نه مختلف وې اوغالب دادي چه په دې څپلو كښې به مونځ صحيح هم نه وي څكه چه خپې په دې كښې دننه وي په زمكه باندې نه لګي بلكه پورته زوړندې وي لهذا سجده به كامل نه وي.([1])

علامه شبيراحمدعثماني رحمه الله فرمائي چه دلته دا خبره په خيال كښې اوساتئ چه په عربو كښې نعل صرف څپلو ته نه شي وئيلې بلكه نعل په اصل كښې چپرو ته وئيلې شي اودَ عربو چپړې به داسې وې چه دَهغې په اچولو سره به دَ خپو ګوتې بالكليه دَ زمكې نه جدا نه پاتې كيدې بلكه دَ هغې په (اچولوسره به هم) خپې زمكې سره ملصق وې. باقي دا نن صبا زمونږ چه كومې څپلئ دي مثلاً بوټ، دې ته په عربي كښې نعل نه وائي بلكه مداس ورته وائي. دا بوټ يا دَدې قسم چه كومې څپلئ هم وي دكوم په اچولو سره چه سجدې ته تللو كښې خپې دَ زمكې نه اوچتې وي داسې څپلئ اچولو سره مونځ صحيح نه دې څكه چه دَ سجدې په وخت خپې زمكې سره لګيدل پكاردي.

داخبره هم په خيال كښې ساتئ چه كومه څپلئ دَعربو دَ نعل په شان وي (اوپاكې هم وي) په هغې كښې مونځ اګرچه جائز دې مګر نن صبا دَ دې په اچولو سره جمات ته نه دي تلل پكار څكه چه نن صبا په جماتونو كښې قيمتي فرش وي (هغه څپلئي په ګرد او دوړو وغيره) سره ككړې وي. په مسجد نبوي كښې خو فرش نه وو شنګير خور وو.([2])

علامه سهارنپوري رحمه الله فرمائي په څپلو كښې دَ مونځ اداكولو حكم دَيهودو دَ مخالفت دَ وجې نه وركړې شوې دې او زمونږ په دې زمانه كښې مناسب دادي چه برېندې خپې دَمونځ اداكولو حكم وركړې شي څكه چه هغوي دَ څپلو سره خپل عبادت كوي.([3])

دَحديث دَ ترجمة الباب سره مناسبت: دَمذكوره حديث دَ ترجمة الباب سره مناسبت په پوره شان واضح دې.([4])

۲۵- باب: الصَّلاَةِ فِي الخِفَافِ

دا باب په موزو كښې دَ مونځ كولو باره كښې دې.

"خفاف" بكسر الخاء، دَ خف جمع ده. دَدې معنى دَ څرمن نه جوړې شوې موزې دي.([5])

دَترجمة الباب مقصد:

حضرت شيخ الحديث صاحب نورالله مرقده فرمائي چې شراح ددې باب باره كښې هم دا فرمائي چې چونكه خفاف په لباس كښې داخل دې په دې وجه ئې ددې ذكر اوفرمائيلو. او

---

[1]) فيض الباري: ۳٤/۲، العرف الشذي، كتاب الصلاة، باب: ماجاء في الصلاة في النعال، رقم الحديث ۹۳،۱۲۷/۱، انوارالباري:۱۲/۱۶۵.

[2]) فضل الباري:۱۰۱/۳، فتح الملهم، كتاب الصلاة، باب: جواز الصلاة في النعلين، رقم الحديث: ۶۰.

[3]) بذل المجهود، كتاب الصلاة، باب: الصلاة في النعل، رقم الحديث: ۶۵۲ ٤/۳۲۱-۳۲۰.

[4]) عمدة القاري: ٤/۱۷۶.

[5]) القاموس المحيط: ۱۳۱/۳، المعجم الوسيط، ص:۲۷۷.

زما رائې دا ده چه د صلاة فی الخفاف اولویت بیانوی، ځکه چه په ابوداؤد کښې دی: خالفوا الیهود، فإنهم لایصلون فی نعالهم ولا خفافهم،، نو په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله دې اولویت طرف ته اشاره فرمائیلې ده.(۱)

حدیث باب [حدیث نمبر ۳۸۰]

۳۸۷- حَدَّثَنَا آدَمُ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْأَعْمَشِ قَالَ سَمِعْتُ إِبْرَاهِيمَ يُحَدِّثُ عَنْ هَمَّامِ بْنِ الْحَارِثِ(۲) قَالَ رَأَيْتُ جَرِيرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ بَالَ ثُمَّ تَوَضَّأَ، وَمَسَحَ عَلَى خُفَّيْهِ، ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى، فَسُئِلَ فَقَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- صَنَعَ مِثْلَ هَذَا. قَالَ إِبْرَاهِيمُ فَكَانَ يُعْجِبُهُمْ، لأَنَّ جَرِيرًا كَانَ مِنْ آخِرِ مَنْ أَسْلَمَ.

ترجمه حدیث: حضرت همام بن حارث رحمه الله فرمائی چه ما حضرت جریر بن عبدالله رضی الله عنه اولیدلو چه هغوی متیازې اوکړې، بیائی اودس اوکړو او په خپلو دواړو موزو باندې ئې مسح اوکړه او مونځ ئې اوکړو. د هغه نه تپوس اوکړې شو (چه دا تاسو څه اوکړه) نو هغوی جواب ورکړو چه ما رسول الله صلی الله علیه وسلم په داسې کولو لیدلې دې.

حضرت ابراهیم نخعی رحمه الله فرمائی دا حدیث دَخلقو ډیر خوښ وو ځکه چه حضرت جریر بن عبدالله رضی الله عنه په اسلام قبلولو کښې دَ آخری سړو نه وو.

تراجم رجال: دَدې حدیث ټول شپږ رجال دی: ،

① **آدم بن ابی ایاس رحمه الله:** دا ابوالحسن آدم بن ابی ایاس عبدالرحمن العسقلانی رحمه الله دې. دَ دوی تذکره کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده لاندې تیره شوې ده(۳)

② **شعبه رحمه الله:** دا امیر المؤمنین شعبه بن الحجاج بن الورد عتکی الواسطی بصری رحمه الله دې. دَ دوی تذکره کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده، لاندې تیره شوې ده(۴)

③ **اعمش رحمه الله:** دا ابومحمد سلیمان بن مهران اسدی کوفی الاعمش رحمه الله دې. دَ دوی تذکره

---

۱) تقریر بخاری شریف: ۲/ ۱۳۷.

۲) رواه مسلم فی الطهارة، باب: المسح علی الخفین، رقم الحدیث:۲۷۲ وأبوداؤد فی سننه، فی الطهارة، باب: المسح علی الخفین، رقم الحدیث: ۱۵۴ والترمذی فی جامعه، فی الطهارة، باب: فی المسح علی الخفین، رقم الحدیث:۹۳ والنسائی فی سننه، فی الطهارة، باب: المسح علی الخفین، رقم الحدیث: ۱۱۸ وابن ماجة فی سننه، فی الطهارة، باب: ماجاء فی المسح علی الخفین، رقم الحدیث: ۵۴۳ وفی جامع الأصول، حرف الطاء، الکتاب الأول: فی الطهارة، الباب الرابع: فی الوضوء، الفصل الثالث: فی المسح علی الخفین، الفرع الأول: فی جواز المسح، رقم الحدیث: ۵۲۷۴، ۷/ ۲۳۷.

۳) کشف الباری: ۱/۶۷۸.

۴) کشف الباری: ۱/۶۷۸.

کشف الباری، کتاب الإيمان، باب: ظلم دون ظلم، لاندې تیره شوې ده[1]

④ ابراهیم رحمه الله: دا ابوعمران ابراهیم بن یزید بن قیس بن اسود نخعی رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب الإيمان، باب: ظلم دون ظلم، لاندې تیر شوي دی[2]

⑤ همام بن حارث رحمه الله: دَدوی پوره نوم همام بن الحارث النخعی الکوفی رحمه الله دې.[3] دې دَ اهل شام دَ طبقه اولی تابعی وو[4]. دَدوی په استاذانو اومشائخو کښې حضرت جریر بن عبدالله البجلی، حذیفه بن الیمان، عبدالله بن مسعود، عدی بن حاتم، عمار بن یاسر، عمر بن الخطاب، مقداد بن الاسود، ابو مسعود الانصاری او ام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها و رضي الله عنهم وغیره شامل دی.

اودَدوی نه روایت کونکو کښې ابراهیم نخعی، سلیمان بن یسار او وبره بن عبدالرحمن وغیره رحمهم الله شامل دی.[5]

ابن حبان رحمه الله دې په ثقاتو کښې ذکرکړې دې.[6] یحیی بن معین رحمه الله دَدوی باره کښې فرمائی: ثقة.[7] ابوالحسن المدائنی رحمه الله دوی دَ اهل کوفه په عبادو کښې ذکرکوی.[8] دې به دَ شپې لږشان وخت اوده کیدو اکثر به ئې شپه په وینبه په عبادت کښې تیرولې.

اواکثر به ئې دا دعا کوله "اللهم اشفني من نومي بيسير، واجعل سهري في طاعتك"[9] کله چه به دوی اوده شو اوپاسیدل به نودَ هغوی مخ ته په کتو به پته لګیدله چه دې تولې شپه نه دې اوده شوې[10]. دَ دوی دَ وفات باره کښې ابن حبان رحمه الله لیکلی دی چه دې دَ یزید بن معاویه په زمانه کښې په ۶۳هجری کښې وفات شو. او "قیل" سره یو قول داهم ذکرکړې شوې دې چه دې دَ عبدالله بن یزید په امارت کښې ۶۵هجری کښې وفات شوې دې[11]. خو په تاریخ دَ ابن قانع کښې دی چه په ۶۱هجری کښې وفات شوې دې. او تاریخ خلیفه کښې دی چه ۶۴هجری کښې وفات شوې دې[12]

---

[1] کشف الباری: ۲۵۱/۲.

[2] کشف الباری: ۲۵۳/۲.

[3] التاریخ الکبیر للبخاری: ۲۳۶/٤،خلاصة الخزرجی، ص: ٤١١.

[4] الطبقات الکبری لابن سعد: ۱۱۸/۶.

[5] تهذیب الکمال: ۲۹۷/۳۰، تهذیب التهذیب: ۶۶/۱۱.

[6] کتاب الثقات لابن حبان: ۵۱۰/۵.

[7] الجرح والتعدیل: ۱۳۱/۹، سیرأعلام النبلاء: ۲۸٤/٤.

[8] حلیة الأولیاء: ۱۷۸/٤.

[9] الطبقات الکبری لابن سعد: ۱۱۶/۶، سیرأعلام النبلاء: ۲۸٤/٤.

[10] إکمال تهذیب الکمال: ۱۶٤/۱۲.

[11] الثقات لابن حبان: ۵۱۰/۵، تهذیب التهذیب: ۶۶/۱۱.

[12] إکمال تهذیب الکمال: ۱۶٤/۱۲، تهذیب التهذیب: ۶۶/۱۱.

⑨ جرير بن عبدالله رضي الله عنه: دا مشهور صحابی حضرت جرير بن عبد الله بجلی کوفی رضي الله عنه دې. د دوی تذکره کشف الباری، کتاب الإيمان، باب: قول النبی صلی الله عليه وسلم الدين النصيحة، لاندې تیره شوې ده[1]

شرح حديث: عَنْ هَمَّامِ بْنِ الْحَارِثِ، قَالَ: رَأَيْتُ جَرِيرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ «بَالَ، ثُمَّ تَوَضَّأَ وَمَسَحَ عَلَى خُفَّيْهِ، ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى»: حضرت همام بن حارث رحمه الله روايت کوی چه ما حضرت جرير بن عبد الله رضي الله عنه اوليدلو چه هغوی متيازې اوکړې بيائې اودس اوکړو او په خپلو موزو باندې ئې مسح اوکړه، بيا د مانځه د پاره اودريدو او مونځ ئې اداکړو.

د دومره خبرې ظاهر هم دادې چه هغوی هم په موزو کښې مونځ اداکړو. څکه چه که چرې هغوی موزې کوزې کړې وې نو په هغوی باندې به خپې وينځل ضروری کيدل د کوم په وجه چه به هغوی خپې وينځلې. چنانچه که چرې دا تول هرڅه کيدل نو دا به نقل کولې هم شو اودلته دا تول هرڅه ذکر نه دی. دکوم نتيجه چه دا شوه چه داسې هيڅ نه دی شوی.[2]

قوله: فَسُئِلَ: نو حضرت جرير بن عبد الله رضي الله عنه نه دهغوی په موزو باندې د مسح کولو او هم په موزو کښې د مونځ اداکولو باره کښې پوښتنه اوکړې شوه چه دا تاسو څه اوکړل؟[3]

سائل څوک وو؟: طبرانی رحمه الله يو روايت ذکر کړې دې دکوم نه چه معلوميږی چه د حضرت جرير بن عبد الله رضي الله عنه نه تپوس کونکې حضرت همام بن الحارث رحمه الله وو.[4]

او هم په معجم الکبير کښې امام طبرانی رحمه الله يو روايت نقل کړې دې په کوم کښې چه دی. «فعاب ذلك عليه رجل من القوم»[5]

قوله: فَقَالَ: «رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَنَعَ مِثْلَ هَذَا»: نو حضرت جرير بن عبد الله رضي الله عنه اوفرمائيل چه ما نبی کريم صلی الله عليه وسلم په داسې کولو ليدلې دې. يعنی نبی کريم صلی الله عليه وسلم هم داسې په

---

[1]) کشف الباری: ۲/۷٦٤.

[2]) فتح الباری: ٦٤١/١، عمدة القاری: ۱۷۸/٤.

[3]) فتح الباری: ٦٤١/١، عمدة القاری: ۱۷۸/٤.

[4]) حدثنا أسلم بن سهل الواسطی، ثنا محمد بن حسان البرجانی، ثنا محمد بن يزيد الواسطی، عن جعفر بن الحارث، عن سليمان، عن إبراهيم، عن همام بن الحارث، قال: بال جرير ثم توضأ ومسح على خفيه، فقلت له: أتفعل هذا وقد بلت؟ قال: فإني رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم بال ثم توضأ، ومسح على خفيه. (المعجم الكبير للطبرانی، باب الجيم، جرير بن عبدالله البجلی، رقم الحديث: ۲٤۲۸، ۳٤۳/۲).

[5]) حدثنامحمد بن النضر الأزدی، ثنا معاوية بن عمرو، ثنا زائدة: عن الأعمش، عن إبراهيم، عن همام بن الحارث، قال: بال جرير، فتوضأ ومسح على الخفين، فعاب ذلك عليه رجل من القوم، فقال جرير: إن أفعل فقد رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم فعل هذا. (المعجم الكبير للطبرانی، باب الهمام بن الحارث، رقم الحديث ۲٤۲۳،۲/۷٤۱).

نوټ: فتح الباری اوعمدة القاری کښې "فعاب عليه ذلک" دی، خو په اصل کتاب کښې "فعاب ذلک عليه" دی يعنی د ذلک او عليه تقديم اوتاخيردې. اوګورئ: فتح الباری: ٦٤١/١ عمدة القاری: ۱۷۸/٤.

موزو باندې مسح اوکړه او بیائی هم په هغه موزو کښې مونځ اداکړو[1].

قوله: قَالَ إِبْرَاهِيمُ: «فَكَانَ يُعْجِبُهُمْ لِأَنَّ جَرِيرًا كَانَ مِنْ آخِرِ مَنْ أَسْلَمَ»: حضرت ابراهیم رحمه الله فرمائی چه دا حدیث دَ خلقو ډیر خوښ وو ځکه چه دَ حضرت جریر رضي الله عنه اسلام قبلول په آخره زمانه کښې وو. دَ ابراهیم نه مراد هم ابراهیم نخعی رحمه الله دې کوم چه په سند کښې ذکر دې[2].

دَ "فكان" ضمیر مرجع به "حديث جرير" وی کوم چه دَ سیاق اوسباق نه په پوهه کښې راځی. او "يعجبهم" کښې "هم" ضمیر دَ قوم طرف ته راګرځی.[3]

دَ حضرت جریربن عبدالله رضي الله عنه دا حدیث خلقوته ځکه ډیر خوښ وو چه کوم خلق دَ نبی کریم ﷺ دَ حیات طیبه په آخره کښې مسلمانان شوی وو په هغوی کښې حضرت جریر رضي الله عنه هم وو. لهذا دَ هغوی په اودس کښې په موزو باندې مسح کول اوبیا دا وئیل چه ما دغه شان په موزو باندې مسح کولو سره نبی کریم ﷺ هم لیدلې دې. دا دې خبرې دلیل دې چه دَ رسول الله ﷺ په موزو باندې مسح کولو عمل ترآخره پورې وو.

دَ صحیح مسلم په روایت کښې دَ حضرت جریر رضي الله عنه باره کښې دا الفاظ دی «لأن إسلام جرير كان بعد نزول المائدة»[4]

اوسنن ابی داؤد کښې دَ شهربن حوشب په روایت کښې دا الفاظ دی: «إنما كان ذلك قبل نزول المائدة، قال: ما أسلمت إلا بعد نزول المائدة»[5]

او سنن الترمذی کښې دَ شهربن حوشب په روایت کښې دی چه هغوی تپوس اوکړو چه تاسو نبی کریم ﷺ دَ سورة مائده دَ نزول نه مخکښې په داسې کولو لیدلې دې که روستو؟ نوهغوی جواب ورکړو چه زه خو مسلمان شوې دَ سورة المائدة دَ نزول نه پس یم یعنی هم دَ نزول مائده نه پس ما نبی کریم ﷺ په داسې کولو لیدلې دې.

---

[1]) إرشادالساري: ۵۰/۲.

[2]) عمدة القاري: ۱۷۸/٤، إرشادالساري: ۵۰/۲.

[3]) عمدة القاري: ۱۷۸/٤، إرشادالساري: ۵۰/۲.

[4]) حدثنا يحيى بن التميمي، وإسحاق بن إبراهيم، وأبو كريب، جميعا عن أبي معاوية،ح، وحدثناأبوبكر بن أبي شيبة، حدثنا أبومعاوية ووكيع واللفظ ليحيى، قال أخبرنا أبومعاوية، عن الأعمش، عن إبراهيم، عن همام، قال: بال جرير، ثم توضأ، ومسح على خفيه، فقيل: تفعل هذا؟ فقال: نعم، رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم بال، ثم توضأ ومسح على خفيه. قال الأعمش: قال إبراهيم: كان يعجبهم هذا الحديث لأن إسلام جرير، كان بعد نزول المائدة. (صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب: المسح على الخفين، رقم الحديث: ۲۷۲).

[5]) حدثنا علي بن الحسين الدرهمي، حدثنا ابن داؤد، عن بكير بن عامر، عن أبي زرعة بن عمرو بن جرير أن جريرا بال ثم توضأ فمسح على الخفين، وقال: ما يمنعني أن أمسح وقد رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم يمسح، قالوا: إنما كان ذلك قبل نزول المائدة، قال: ما أسلمت إلا بعد نزول المائدة. (سنن أبي داؤد، كتاب الطهارة، باب: المسح على الخفين، رقم الحديث: ۱۵٤).

امام ترمذی رحمه الله فرمائی چه دا حديث مفسر دې ځکه چه بعضې منکرين په موزو باندې د مسح باره کښې دا خبره ذکرکوی چه په موزو باندې مسح نبی کریم ﷺ د سورت مائده د نزول نه مخکښې کړې وه خو حضرت جرير رضي الله عنه په دې حديث کښې دا خبره ذکرکوی چه هغه د سورت مائده د نزول نه پس نبی کریم ﷺ په موزو باندې په مسح کولو ليدلې دې[۱]

دَ علامه کشمیری رحمه الله قول: علامه کشمیری رحمه الله فرمائی چه دَ سورت مائده آيت: ﴿ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ ﴾ نه حضرات صحابه کرامو رضي الله عنهم په اودس کښې دَخپو دَ وينځلو فرضيت گنړلې وو. په دې وجه دَ حضرت جرير رضي الله عنه په فعل او روايت مذکوره باندې ډير زيات خوشحاله شوې وو ځکه چه په دې آيت سره په موزو باندې دَ مسح خفين دَ منسوخ کيدو وهم کيدې شو. اوهغه دَ هغه فعل او دَ روايت دَ وجې نه ختم شوې وو. اودا خبره واضحه شوې وه چه په موزو باندې دَ مسح حکم دَ مائده دَ مذکوره آيت نه پس هم هغه شان باقي دې. ليکن دَ صحابه کرامو رضي الله عنهم دَ علم اوفهم خلاف روافضو دا گنړلې چه دَ مائده دَ مذکوره آيت مطابق په اودس کښې دننه په هرحالت کښې او بغيرهَ موزو هم په خپو باندې مسح کول پکار دی. وينځل ئې فرض نه دی. اودَ خوارجو او اماميؤ په نيز په موزو باندې مسح صحيح نه ده. هغوی هم دَدې سورت مائده دَ آيت نه دا گنړلې ده چه دَ مسح حکم صرف دَ خپو دَ پاره دې لهذا دَ موزو اچولو په حالت کښې به په دې باندې مسح کول جائز نه وی.

دَدې دواړو فرقونو نه علاوه ټولو ائمه مجتهدينو اودَ ټولو علماء کرامو سلف اوخلف هم دغه مذهب دې چه بغيردَ موزو نه په اودس کښې دَ خپو وينځل فرض دی اودَ موزو په حالت کښې په دې باندې مسح کول جائز دی.

او په صحابه کرامو رضي الله عنهم کښې صرف دَ حضرت عائشه رضي الله عنها، ابن عباس، اودَحضرت ابوهريره رضي الله عنه طرف ته دَ عدم جوازمسح علي الخفين قول منسوب کړې شوې دې. اول خودا نسبت ضعيف دې. بل دا چه هم دَدې حضراتو نه دَ جواز دَ ثبوت دَ پاره قوی روايات موجود دی. او داهم ممکن دی چه اول ئې هغه خيال وو او بيا ئې دَ هغې نه رجوع کړې وی. والله تعالی اعلم.

په ائمه کښې دَ امام مالک رحمه الله طرف ته هم انکار منسوب شوې دې ليکن علامه ابن عبدالبرمالکی رحمه الله فرمائيلی دی ماته معلومه نه ده چه دَ فقهاء سلف نه چاهم په موزو دَ مسح نه انکار کړې وی. البته دَ امام مالک رحمه الله طرف ته دَدې نسبت کړې شوې دې مګر په

---

[۱]) ويروى عن شهربن حوشب، قال: رأيت جرير بن عبدالله توضأ، ومسح على خفيه، فقلت له في ذلك، فقال: رأيت النبي صلى الله عليه وسلم توضأ، ومسح على خفيه، فقلت له: أقبل المائدة، أم بعد المائدة؟ فقال: ما أسلمت إلا بعد المائدة، حدثنا بذلك قتيبة، قال: حدثنا خالد بن زياد الترمذي، عن مقاتل بن حبان، عن شهر بن حوشب، عن جرير. وروى بقية، عن إبراهيم بن أدهم، عن مقاتل بن حبان، عن شهربن حوشب، عن جرير.وهذا حديث مفسر لأن بعض من أنكر المسح على الخفين تأول أن مسح النبي صلى الله عليه وسلم على الخفين كان قبل نزول المائدة، وذكر جرير في حديثه أنه رأى النبي صلى الله عليه وسلم مسح على الخفين بعد نزول المائدة. (سنن الترمذي، كتاب الطهارة، باب:المسح على الخفين، رقم الحديث: ٩٤).

هغې کښې چه کوم صحيح روايات دي هغه دَ ثبوت صراحت کوي.[1]

په موزو باندې مسح يو اجماعي مسئله ده: صاحب بدائع الصنائع فرمائي چه دَ صحابه کرامو په موزو باندې مسح باره کښې قولاً او فعلاً اجماع ده. تردې چه حضرت حسن بصري رحمه الله فرمائي چه ما اويا بدري صحابه رضي الله عنهم ليدلي دي چه هغوى ټولو به په موزو دَ مسح روايت کولو.

هم په دې وجه دَ امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز په موزو باندې دَ مسح دَ جواز عقيده ساتل دَ اهل سنت والجماعت دَ شرطونو نه يو شرط دې. هغوى اوفرمائيل چه دَ اهل سنت علامت دادې چه تاسو شيخين (حضرت ابوبکر او حضرت عمرفاروق رضي الله عنهما) ته فضيلت ورکړئي او دوو خومانو (حضرت عثمان او حضرت علي رضي الله عنهما) سره محبت اوساتئ، په موزو باندې مسح جائز اوګنړئي او دَ کهجورو نبيذ حرام مه ګرځوئي.

دَ امام ابوحنيفه رحمه الله نه روايت دې چه ما ترهغه وخته پورې په موزو باندې مسح جائز اونه ګرځوله ترکومې پورې چه دَدې جواز په ما باندې دَ رڼا ورځې په شان واضح نه شو. اودَدې نه انکار کول په صحابه کرامو رضي الله عنهم باندې رد کول دي او هغوى په خطا باندې ګرځول دي. په دې وجه علامه کرخي رحمه الله فرمائيلي دي څوك چه په موزو باندې دَ مسح نه انکار اوکړي ماته په هغه باندې دَ کفر ويره ده. دَ حضرت عائشه رضي الله عنها او براء بن عازب رضي الله عنه نه روايت دې چه حضورپاك دَ سورت مائده دَ نازليدو نه پس مسح کړې ده. اودَ حضرت جرير بن عبدالله البجلي رضي الله عنه نه روايت دې چه هغوى نبي کريم صلى الله عليه وسلم اوليدلو چه حضورپاك اودس اوکړو او په موزو باندې ئې مسح اوکړه. دَ هغه نه پښتنه اوکړې شوه چه دَ سورت مائده دَ نازليدلو نه پس حضورپاك داسې اوکړه؟ نوهغوى جواب ورکړو چه ما خو هم دَ سورت مائده دَ نازليدلو نه پس اسلام قبول کړې دې.[2]

دَمذکوره حديث دَ ترجمة الباب سره مناسبت: دَترجمة الباب سره مناسبت دَ حديث شريف دَدې جملې ((ومسح على خفيه، ثم قام، فصلى)) نه پوره واضح دې.[3]

دَ حديث شريف نه مستنبط فوائد اواحکام: دَ مذکوره حديث شريف نه ډير فوائد مستنبط کيږي، مثلاً:

① دَخلقو په موجودګئ کښې متيازې کول جائز دي، اګرچه سنت دادی چه دَخلقو نه دې لرې لاړشي اودې کړي.[4]

② په موزو باندې مسح کول جائز دي.[5]

---

[1]) انوار الباري: ۱۲/۱۶۷، فيض الباري: ۲/۳۶.

[2]) بدائع الصنائع، كتاب الطهارة، باب: المسح على الخفين: ۱/۱۳۰دارالكتب العلميه.

[3]) عمدة القاري: ٤/۱۷۷.

[4]) عمدة القاري: ٤/۱۷۹،الشرح الميسر: ۱/٤۳۹.

[5]) عمدة القاري: ٤/۱۷۹،الشرح الميسر: ۱/٤۳۹.

③ په احکام کښې دَ یو حکم به باقي پاتې کیدو یعنی نه منسوخ کیدو باندې دَ خوشحالئ اظهارکول خوښ کړې شوې امر دې.(۱)

④ موزې اچولو سره مونځ کول جائز دې.(۲)

حدیث باب: دویم حدیث [حدیث نمبر ۳۸۱]

-۳۸۸ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ مُسْلِمٍ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ(۳) وَضَّأْتُ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- فَمَسَحَ عَلَى خُفَّيْهِ وَصَلَّى.

ترجمه حدیث: حضرت مغیره بن شعبه رضي الله عنه فرمائی ما په حضورپاك باندې اودس اوکړو نو حضورپاك په خپلو موزو باندې مسح اوکړه او مونځ ئې اوکړو.

تراجم رجال: په مذکوره حدیث مبارك کښې ټول شپږ رجال دی:

① اسحاق بن نصر رحمه الله: دا اسحاق بن ابراهیم بن نصر البخاری السعدی رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب الغسل، باب: من اغتسل عریانا وحده فی الخلوة ومن تستر فالستر أفضل، لاندې تیر شوې دی.(۴)

② ابواسامه رحمه الله: دا ابواسامه حماد بن اسامه بن زید قرشی کوفی رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب العلم، باب: فضل من علِم وعلّم، لاندې تیر شوې دی.(۵)

③ اعمش رحمه الله: دا ابومحمد سلیمان بن مهران اسدی کوفی الاعمش رحمه الله دې. دَ دوی تذکره کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: ظلم دون ظلم، لاندې تیره شوې ده.(۶)

④ مسلم رحمه الله: دا مسلم بن صبیح رحمه الله دې یا مسلم بن عمران رحمه الله، دَدې باره کښې دوه قسم احتمالات دی ځکه چه دا دواړه حضرات دَ اعمش رحمه الله نه روایت کوی. علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه دا مسلم یا خو ابن عمران دې کوم چه په ابطین سره مشهوردې یا بیا ابن صبیح دې کوم چه په ابوالضحی سره مشهوردې. لیکن ظاهر دادی چه دلته مراد رومبې دې.(۷) علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دَعلامه کرمانی رحمه الله دغه مذکوره دعوی کول صحیح نه دی ځکه چه دلته دویم مراد اخستل زیات ظاهر دی لکه چه امام مزی رحمه الله په "اطراف" کښې تصریح کړې ده.(۸)

---

(۱) عمدة القاری: ۱۷۹/٤.
(۲) التوضیح لابن الملقن: ۳٦۸/٤، الشرح المیسر: ٤۳۹/۱.
(۳) مرتخریجه تحت کتاب الوضوء، باب: الرجل یوضئ صاحبه.
(۴) کشف الباری، کتاب الغسل، باب: من اغتسل عریانا وحده فی الخلوة وهی تستر، فالستر أفضل.
(۵) کشف الباری: ٤۱٤/۳.
(۶) کشف الباری: ۲۵۱/۲.
(۷) شرح الکرمانی: ۵۰/٤.
(۸) عمدة القاری: ۱۸۰/٤.

حافظ ابن حجر رحمه الله هم د حفاظو قول ذکرکولو سره هم مسلم بن صبيح ته ترجيح ورکړې ده[1] کوم صورت هم چه وي په دې کښې هيڅ حرج نشته دې ځکه چه دواړه هم د صحيح بخاري راويان دي او دواړه ثقه دي.[2]

که چرې مسلم بن صبيح مراد وي نود دوی ذکر کتاب الصلاة، باب: الصلاة في الجبة الشامية، ص: ۳۵۸ کښې تير شوې دې اوکه چرې مسلم بن عمران مراد وي نود دوی ذکر وړاندې کتاب العيدين، باب: فضل العمل في أيام التشريق کښې راځي.

⑤ **مسروق رحمه الله**: دا مسروق بن الاجدع بن مالک بن اميه وداعي همداني رحمه الله دې. د دوی احوال کشف الباري، کتاب الإيمان، باب: علامة المنافق، لاندې تير شوي دي[3]

⑥ **مغيرة بن شعبه رضي الله عنه**: دا مغيره بن شعبه رضي الله عنه دې. د دوی احوال کشف الباري، کتاب الوضوء، باب: الرجل الذي يوضئ صاحبه، لاندې تير شوي دي[4]

شرح حديث: د مذکوره حديث مکمل تشريح کتاب الوضوء کښې تيره شوې ده.

دمذکوره حديث د ترجمة الباب سره مناسبت: د دې حديث شريف مناسبت د ترجمة الباب سره واضح دې ځکه چه په دواړو کښې په موزو سره د مونځ د اداکولو ذکر دې[5]

۲۶ — باب: إِذَا لَمْ يُتِمَّ السُّجُودَ

دا باب دې چه کله مونځ گذار سجده پوره نه کړي (نود هغه مونځ باطل دې)

د ترجمة الباب مقصد: دا باب او د دې نه پس راتلونکې باب "يبدي ضبعيه ويجافي في السجود" د اشکال سبب جوړ شوی دی. ځکه چه امام بخاري رحمه الله د ستر مسائل او د مصلی د طهارت مسائل بيانوی. خودلته "إذا لم يتم السجود" ترجمه نه ستر سره متعلق ده او نه د طهارت مصلی سره متعلق ده. بلکه د دې تعلق خو د صفت صلاة سره دې او د صفت صلوة ابواب وړاندې راځي او هلته هم دا دواړه ترجمې راوړاني دي چنانچه د دې ذکر بې محله دې.

د تکرار اشکال خوبه هلته وي کله چه دا دوباره راشي. دلته خو په اول ځل راځي ليکن د بې محل کيدو اشکال بهرحال موجود دې. د اصيلي په نسخه کښې دا دواړه ابواب موجود دي او د مستملي په نسخه کښې دا دواړه ابواب نشته دي، نودا د نساخو غلطي ده[6]

د حضرت شاه ولي الله رحمه الله رائې: حضرت شاه ولي الله رحمه الله فرمائي د فربري نه دا نقل دي چه د

---

[1] فتح الباري: ۶۴۲/۱.
[2] عمدة القاري: ۱۸۰/۴.
[3] کشف الباري: ۲۸۱/۲.
[4] کشف الباري، کتاب الوضوء، باب: الرجل الذي يوضئ صاحبه.
[5] عمدة القاري: ۱۷۹/۴.
[6] فتح الباري: ۶۴۲/۱

بخاری بعضې پانړې جدا جدا وي. بعضې کاتبانو او ناسخینو ته دا مغالطه مخې ته شوه. هغوی دَدې پاڼړو ابواب بې محله دلته ذکر کړل. دا دَدې ابوابو مقام او محل نه دې. خبره هم یوه ده چه دا دَ ناسخینو غلطی ده[1]

دَ حافظ ابن حجر رحمه الله رائې: حافظ صاحب رحمه الله فرمائی دَمستملی نسخه زیاته معتبره ده. بل ځکه چه دَ هرباب په خپل مقام باندې راتلل زیات مناسب دی او بیا مصنف یعنی دَ امام بخاری رحمه الله عادت هم دا نه دې چه هغه دې ابواب مکرر راوړی. اوکه چرې دَ مناسبت لټون کول غواړی نو دا هم ممکن دی مثلاً دَدې ړومبی باب مناسبت دا جوړیدې شی چه چا په شرائطو دَ مونځ کښې څه شرط موقوف کړو نودا هم داسې دی لکه چه هغه دَ مونځ یو رکن ترک کړو. یعنی دَ دواړو مونځ به نه کیږی. نو دلته ئی دَ سجدې نه پوره کولو سره دَ مونځ عدم تمامیت بیان کړې دې. او راتلونکی دَ دویم باب ماقبل سره مناسبت داسې جوړیدې شی چه په سجده کښې مجافات (یعنی متې دَخیتې نه لرې ساتل) دَستر منافی نه دی، لهذا په دې سره به مونځ نه باطلیږی. لیکن فی الجمله اصل خبره هم هغه ده چه دَ دې ابوابو دلته ذکر کیدل دَ کاتبانو غلطی ده. دې سره به مونځ نه باطلیږی[2]

دَعلامه عینی رحمه الله رائې: علامه عینی رحمه الله دَ حافظ صاحب رحمه الله ذکر کړې شوې آخری خبره (چه زما په نیز راجح هم دا دی چه دا دَ کاتبانو دَ غلطۍ دَ وجې نه دی) ذکرکولو نه پس لیکی چه دَامام بخاری رحمه الله ددې دواړو ابوابو اعاده کول بغیردَ څه وجې نه دی بلکه ددې وجه شته ځکه چه دَ امام بخاری رحمه الله عادت دې چه دَ څه فائدې دَ وجې نه تکرار کوی اوهغه دلته موجود ده. مثلاً ترجمة الباب دې: "إذالم یتم السجود" او وړاندې راتلونکی باب کښې عنوان "باب: إذالم یتم الرکوع" دې.

او په دې ځائی کښې دَ امام بخاری رحمه الله استاذ الصلت ابن محمد دې چه دَعن مهدی عن واصل عن أبی وائل عن حذیفة أنه رأی رجلا........إلخ په سند سره روایت کوی. او وړاندې راتلونکی باب کښې دَ امام بخاری رحمه الله استاذ حفص بن عمر رحمه الله دې چه دَ عن شعبة عن سلیمان قال: سمعت زید بن وهب قال: رأی حذیفة رجلا.....إلخ په سند سره روایت کوی. دې نه علاوه په متن کښې هم څه قدرې تغایر شته. البته دَ دویم باب دې ځائی کښې ذکر بې محله دې. ځکه چه بالکلیه دا باب هم ددې ترجمې، متن او رواتو سره وړاندې راځی.

او که چرې دا سوال اوکړې شې چه دَ اصیلی په روایت کښې خودا دواړه ابواب موجود دی. نو بیا په دې صورت کښې به ددې ابوابو دَ ماقبل ابوابو سره څه مناسبت وی؟ نودَدې جواب دادې چه مناسبت ښکاره دې چه ماقبل ابواب هم او دا دواړه ابواب هم دَ سجدو دَ حکم سره

---

[1]) تراجم أبواب صحیح البخاری للدهلوی، ص: ۳۱.

[2]) فتح الباری:۱/۶۴۲.

متعلق دى.[1]

دَعلامه كشميرى رحمه الله رائې: علامه محمد انور شاه كشميرى رحمه الله فرمائى چه دا خبره ممكن ده چه دا اوونيلې شى چه فقهاؤ كرامو دَ سجدې دَ پاره شرطونه ذكر كړى دى لكه دَ سجدې په حالت كښې دزمكې سختوالې محسوسول وغيره، نو په اعتدال سره سجده كول هم دې جهت سره دَمانځه اودَ سجدې دَ شرطونو نه دې، نو په دې مناسبت ئى دا ذكر كړل.[2]

علامه بدر عالم صاحب ميرتهى رحمه الله هم دلته فرمائى چه په دې سره دَ سجدې تماميت دَ مانځه دَ شرطونو نه كيدل مراد دى.[3]

دَ حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله رائې: حضرت شيخ الحديث مولانامحمد ذكريا كاندهلوى رحمه الله فرمائى دا دواړه ابواب په صفحه ۱۱۲ باندې راځى او باب: "لايكف ثوبه فى الصلاة" په صفحه ۱۱۳ باندې دې. اوس شراح دا وائى چه دلته خو ابواب الثياب روان وو په مينځ كښې دا دوه ابواب څنګه راغله؟ كه وى او كه نه وى خو دا دَ يو كاتب تصرف دې چه په غلط ځائى باندې راغلى دى. اودَ لباس دوه ابواب كوم چه په صفحه ۱۱۳ باندې راروان دى هغه په ابواب السجود كښې لاړل، داهم دَ كاتب تصرف دې.

دَحضرت شاه ولى الله صاحب محدث دهلوى رحمه الله وغيره هم دا رائې ده اوهغوى دَ فربرى نه دَدې تائيد نقل كړې دې چه هغوى فرمائى چه دَ بخارى شريف په نقل كښې بعضې بعضې غلطيانې واقع شوى دى. حافظ صاحب رحمه الله فرمائى چونكه دَ بخارى شريف په نسخو كښې دا باب دلته موجود دې. په دې وجه دَدې توجيه دا كيدې شى چه امام بخارى رحمه الله په قياس او نظر سره دَستر عورت اهميت ثابتوى چه "من ترك شرطا لا تصح صلوته كمن ترك ركنا".

مكر زما رائې داده چه هرباب په خپل ځائې باندې دې هغه داسې چه امام بخارى رحمه الله ابواب الثياب ذكر كول نو امام صاحب رحمه الله باب: يبدي ضبعيه لكولو سره دا اوخودل كه چرې كپړې ورې ورې وى نو په سجده كښې دې اخفاء نه كوى بلكه ابداء دې اوكړى. څكه چه پخپله نبى كريم ﷺ دَ كپړې ورې كيدو باوجود ابداء اوكړه. كه چرې كپړا وړه نه وې نودَ ترخ مبارك سپينوالې به ئى څنګه ښكاريدو. اودَدې دَ اثبات دَ پاره ئى باب: إذالم يتم السجود قائم كړو چه كه چرې تجافى نه كوى نو اتمام سجود به نه وى او هلته په حيثيت دَ سجدو كيفيت راځى په كوم چه به مستقل كلام وى.[4]

---

[1] عمدة القاري: ١٨٠/٤.
[2] فيض الباري: ٣٧/٢ أنوار الباري:١٧١/١٢.
[3] البدر الساري إلى فيض الباري: ٣٧/٢.
[4] تقرير بخاري شريف: ١٣٨/٢،الكنز المتواري: ٧٦/٤، سراج القاري: ٤١٩/٢.

حديث باب [حديث نمبر ۳۸۲]

-۳۸۹ أَخْبَرَنَا الصَّلْتُ بْنُ مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنَا مَهْدِيٌّ عَنْ وَاصِلٍ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ حُذَيْفَةَ(۱) رَأَى رَجُلاً لاَيُتِمُّ رُكُوعَهُ وَلاَسُجُودَهُ، فَلَمَّا قَضَى صَلاَتَهُ قَالَ لَهُ حُذَيْفَةُ مَا صَلَّيْتَ- قَالَ وَأَحْسِبُهُ قَالَ- لَوْمُتَّ مُتَّ عَلَى غَيْرِسُنَّةِ مُحَمَّدٍ -صلى الله عليه وسلم-.

ترجمه حديث: د حضرت حذيفه بن يمان ﷺ نه روايت دې چه هغوی يو سړي (په مونځ کولو) اوليدلو چه هغه خپله رکوع او سجده پوره شان سره نه اداکوله. بيا چه کله هغه خپل مونځ پوره کړو نوحضرت حذيفه ﷺ هغه سړي ته اووئيل چه تا مونځ (په کامل طريقه سره) ادا نه کړو (يعنی په تاباندې دَدې مونځ واپس راګرځول واجب دی) حضرت ابو وائل ﷺ وائی چه زما خيال دې چه حضرت حذيفه ﷺ دا هم فرمائيلي وو چه که چرې ته (په دې حالت کښې) مړ شوې نو ته به دَ حضرت محمد ﷺ په طريقه باندې نه مرې.

تراجم رجال: دَدې حديث په سند کښې ټول پنځه راويان دی:

① صلت بن محمد رحمه الله: دَ دوی پوره نوم ابو همام الصلت بن محمد بن عبدالرحمن بن أبي مغيرة البصري رحمه الله دی(۲)

دې چه دَ کومو مشائخو نه روايت کوی په هغوی کښې مهدی بن ميمون، ابراهيم بن حميد بن عبدالرحمن الرؤاسی، ابو اسامه حماد بن اسامه، حماد بن زيد، سفيان بن رېينه، عبدالله بن عبدالعزيز الليثی، عبدالواحد بن زياد وغيره رحمهم الله شامل دی.

اودَ ده نه روايت کونکوکښې امام بخاری، ابراهيم بن المستمر العروفی، احمدبن محمدبن ابی بکرالمقدمی، روح بن حاتم ابوغسان البصری، عباس بن عبد العظيم العنبری، عبدالرحمن بن محمد بن حبيب وغيره رحمهم الله شامل دی.(۳)

ابن حبان رحمه الله دې په کتاب الثقات کښې ذکرکړې دې.(۴) دَ ده تعلق دَ طبقه عاشره سره وو(۵) ابوحاتم رحمه الله دَدوی باره کښې وئيلی دی: صالح الحديث.(۶) دارقطنی رحمه الله فرمائيلی دی: ثقة.(۷)

---

(۱) أخرجه البخاري أيضا في صحيحه، كتاب الأذان، باب: إذا لم يتم الركوع، رقم الحديث: ۷۹۱، وباب: إذا لم يتم السجود، رقم الحديث: ۸۰۸ والنسائي في سننه، كتاب السهو، باب: تطفيف الصلاة، رقم الحديث: ۱۳۱۳. وفي جامع الأصول، حرف الصاد، الكتاب الأول: في الصلاة، القسم الأول: في الفرائض، الباب الأول: في الصلاة، الفصل الخامس: في كيفية الصلاة، الفرع الرابع: في الركوع والسجود النوع الأول: مقدار الركوع والسجود، رقم الحديث:۳۴۹۵، ۳۶۷/۵. وفي تحفة الأشراف، حديث: حذيفة بن اليمان، رواه عنه زيد بن وهب الجهني، رقم الحديث:۳۳۲۹، ۳۲/۳، ورواه عنه شقيق بن سلمة أبو وائل الأسدي، رقم الحديث: ۳۳۴٤، ۳۹/۳.

(۲) التاريخ الكبير للبخاري: ۳۰٤/٤،سيرأعلام النبلاء: ٤٢٦/۱۰.

(۳) تهذيب الكمال:۲۲۸/۱۳، تهذيب التهذيب: ٤٣٥/٤.

(۴) الثقات لابن حبان: ۳۲٤/۸.

(۵) تقريب التهذيب: ٤٤٠/١.

(۶) الجرح والتعديل: ٤٠٨/٤، الكاشف: ۳۲/۲.

(۷) تهذيب التهذيب: ٤٣٦/٤.

ابوبکر البزار رحمه الله فرمائیلي دي: کان ثقة.[۱] ابن حجر رحمه الله په تقریب کښې دَ دوی دَ پاره دَ صدوق لفظ استعمال کړې دې.[۲]

② مهدي رحمه الله: دَدوی پوره نوم مهدی بن میمون الأزدی المعولي رحمه الله دې.[۳] معولي دَمیم په کسرې او عین سکون سره اودَ واوَ فتحې سره دې.[۴] دَدوی کنیت ابویحیی دې.[۵] دَ کومو مشائخو نه چه دوی روایت کړې دې په هغوی کښې واصل مولی ابی عیینه، ابوالوازع جابر بن عمرو الراسبی، حسن بصری، سعید الجریری، شعیب بن الحجاب، عبدالله بن صبیح البصری، عبیدالله بن ابی بکر، انس بن مالك، عثمان ابن عبید الراسبی، عمرو بن مالك النکري، عمران القصیر، غیلان بن جریر او محمدبن سیرین وغیره رحمهم الله شامل دی.
اودَ چانه چه دوی روایت کوی په هغوی کښې ابو همام الصلت بن محمد الخارکی، اسد بن موسی، جباره بن مغلس، حبان بن هلال، حجاج بن منهال، حسن بن ربیع البجلی، خالد بن خداش او سریع بن النعمان وغیره رحمهم الله شامل دی.[۶]
عبدالله بن ادریس رحمه الله وائی ما شعبه رحمه الله ته اووئیل چه تاسو دَ مهدی بن میمون باره کښې څه وایئ؟ هغوی په جواب کښې اوفرمائیل ثقة.[۷] دَامام احمدبن حنبل رحمه الله دَ خوی عبدالله بیان دې چه ما دَ خپل پلار احمدبن حنبل رحمه الله نه اوریدلی دی هغوی به فرمائیل مهدی بن میمون ثقة، وهو أحب إلي من سلام بن مسکين وأبي الأشهب، وحوشب بن عقيل.[۸] ابن سعد رحمه الله وائی کان کُردیا، وکان ثقة.[۹] ابن حبان رحمه الله دَهغوی ذکر کتاب الثقات کښې کړې دې.[۱۰] ابن معین رحمه الله، النسائی رحمه الله او ابن خراش رحمه الله فرمائی ثقة.[۱۱] دوی دَ طبقهٔ سادسه سره تعلق لرلو.[۱۲] ابوحاتم رحمه الله بیان کړې دې چه دې دَ مهدی په زمانه کښې وفات شوې دې.[۱۳] دَ ابن حبان

[۱]) إكمال تهذيب الكمال: ۳۹۵/۶، تهذيب التهذيب: ۴۳۶/۴.
[۲]) تقريب التهذيب: ۴۴۰/۱.
[۳]) تهذيب الكمال: ۵۹۳/۲۸، تقريب التهذيب: ۲۱۸/۲.
[۴]) تقريب التهذيب: ۲۱۸/۲، حاشية تهذيب التهذيب: ۳۲۶/۱۰.
[۵]) التاريخ الكبير للبخاري: ۴۲۵/۴، الطبقات الكبرى لابن سعد: ۲۸۰/۷.
[۶]) تهذيب الكمال: ۵۹۳/۲۸، تهذيب التهذيب: ۳۲۶/۱۰.
[۷]) تهذيب الكمال: ۵۹۳/۲۸، الجرح والتعديل: ۳۸۵/۸.
[۸]) الجرح والتعديل: ۳۸۶/۸، تهذيب التهذيب: ۳۲۶/۱۰.
[۹]) الطبقات الكبرى لابن سعد: ۲۸۰/۷.
[۱۰]) الثقات لابن حبان: ۵۰۱/۷.
[۱۱]) تهذيب الكمال: ۵۹۵/۲۸، تهذيب التهذيب: ۳۲۷/۱۰.
[۱۲]) تقريب التهذيب: ۲۱۸/۲.
[۱۳]) الجرح والتعديل: ۳۸۵/۸.

رحمه الله د بیان مطابق د دوی وفات ۱۷۱یا ۱۷۲ هجری کښې شوې دې.(۱) او د محمدبن محبوب رحمه الله او دامام ترمذی رحمه الله د بیان مطابق ۱۷۲ هجری کښې وفات شوې دې.(۲)

③ واصل رحمه الله: دا واصل بن حیان احدب اسدی کوفی رحمه الله دې. د دوی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: وإن طائفتان من المؤمنین اقتتلوا، فأصلحوا بینهما، لاندې تیر شوې دی.(۳)

④ ابی وائل رحمه الله: دا مشهور تابعی ابووائل شقیق بن سلمه اسدی کوفی رحمه الله دې. د دوی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: خوف المؤمن من أن یحبط عمله وهولایشعر، لاندې تیر شوې دی.(۴)

⑤ حذیفه رضی الله عنه: دا مشهور صحابی رسول حضرت حذیفه بن الیمان رضی الله عنه دې. د دوی احوال کشف الباری، کتاب العلم، باب: قول المحدث: حدثنا وأخبرنا وأنبأنا، لاندې تیر شوې دی.(۵)

شرح حدیث: عَنْ حُذَيْفَةَ، رَأَى رَجُلًا لَا يُتِمُّ رُكُوعَهُ وَلَا سُجُودَهُ

ترجمه: حضرت حذیفه رضی الله عنه یو داسې سړې اولیدلو چا (چه خپل مونځ ادا کولو په وخت) خپلې رکوع او سجدې په ښه شان سره نه اداکولې.

"رجلا" دا رجل څوك وو؟ په دې باره کښې چرته تصریح نشته دې(۶). لفظ "رجلا" موصوف دې او وراندې جمله "لا یتم رکوعه ولا سجوده" د دې صفت دې.(۷)

قوله: فَلَمَّا قَضَى صَلَاتَهُ:

ترجمه: بیاچه کله هغه مونځ پوره کړو.

"قضی" د ادا په معنی کښې دې اوهم داسې کیږی لکه چه قرآن پاك کښې دی ﴿ فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوْا فِي الْأَرْضِ ﴾(۸) "صلاته" نه مراد ناقص مونځ دې یعنی په کوم کښې چه رکوع او سجده په کاملې طریقې سره نه وه ادا کړې شوې(۹)

قوله: قَالَ لَهُ حُذَيْفَةُ: «مَا صَلَّيْتَ؟»:

ترجمه: حضرت حذیفه رضی الله عنه هغه سړی ته اووئیل چه تامونځ نه دې کړې.

---

(۱) الثقات لابن حبان: ۵۰۱/۷.
(۲) التاریخ الکبیرللبخاری: ۴۲۵/۴،تهذیب الکمال: ۵۹۵/۲۸.
(۳) کشف الباری: ۲۳۷/۲.
(۴) کشف الباری: ۵۵۹/۲.
(۵) کشف الباری: ۱۰۹/۳.
(۶) إرشادالساری: ۵۱/۲.
(۷) عمدة القاری:۱۸۱/۳، إرشادالساری: ۵۱/۲.
(۸) عمدة القاری:۱۸۱/۳، إرشادالساری: ۵۱/۲.
(۹) إرشادالساری:۵۱/۲.

دلته سوال دا پیدا کیږی چه هغه خو مونځ کړی وو، البته رکوع او سجده ئې په کاملې طریقې سره نه وه کړې، بیا حضرت حذیفه رضی الله عنه د هغه د مکمل مونځ نفی ولې اوکړه؟
نو ددې جواب دا دې چه دلته چونکه جزء مفقود وو نو دهغې په نه کیدو سره لکه چه هم کل مفقود شو. چنانچه د رکوع نه پوره کیدل د رکوع نه کیدو لره مستلزم دی او د رکوع نه کیدل د مونځ نه کیدو لره مستلزم دی. هم دغه شان د سجدو حکم هم دې.(۱)

وَأَحْسِبُهُ قَالَ: «لَوْ مُتَّ مُتَّ عَلَى غَيْرِ سُنَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ»: "واحسبه" کښې د "احسب" فاعل "ابووائل دې" او د "ه" ضمیر مرجع حضرت حذیفه رضی الله عنه دې.(۲)

"لومتّ" دا د مخاطب صیغه ده. د "میم" په ضمې سره د "مات یموت" د باب نه دې. دا د میم په کسرې سره هم لوستلې شوې دې په دې صورت کښې به د "مات یمات" نه وی.(۳)

"على غير سنة" کښې د "سنة" نه مراد طریقه ده کوم چه فرض او نفل دواړو ته شامل ده.(۴)

علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی: "ماصلیت" کښې نفی د کمال ده او د پوره عمل د تمامیت نفی ئې ځکه اوکړه چه هلته د تجوید قلت وو. دا خبره مشهوره ده چه کله یو عمل ناقص اوکړې شی نو داسې وئیلې کیږی چه تا خو دا عمل هډو کړې نه دې. مراد دغه ځائې کښې د کمال نفی وی چه تا په پوره اهتمام او کامل طریقه دا عمل اونه کړو. چنانچه د صحابی رسول حضرت حذیفه رضی الله عنه دا قول "على غير سنة" په دې خبره باندې دلالت کوی چه طمانینت په مونځ کښې مسنون دې.(۵)

علامه عینی رحمه الله فرمائی چه د ابن بطال رحمه الله مذکوره تاویل د هغه کسانو د پاره خو صحیح دې چه په رکوع او سجدو کښې د طمانینت مسنون کیدو قائل دی. د دوی نه علاوه د امام ابویوسف رحمه الله او امام شافعی رحمه الله په نیز خو طمانینت فرض دې نه چه مسنون، ددې تفصیلی د وضاحت وړاندې راروان دې(۶)

یو بل روایت کوم چه د صحیح بخاری کتاب الاذان کښې راځی په هغې کښې دا الفاظ دی «مت على غير الفطرة التى فطر عليها محمد».(۷)

---

(۱) عمدة القاري:۱۸۱/۳، إرشادالساري: ۵۱/۲.
(۲) عمدة القاري:۱۸۱/۳، إرشادالساري: ۵۱/۲ الكوثر الجاري: ۷۵/۲.
(۳) عمدة القاري:۱۸۱/۳، إرشادالساري: ۵۱/۲.
(۴) عمدة القاري:۱۸۱/۳، إرشادالساري: ۵۱/۲ الكوثرالجاري:۷۵/۲.
(۵) شرح ابن بطال: ۵٤/٦.
(٦) عمدة القاري: ۱۸۱/٤.
(۷) حدثنا حفص بن عمر، قال: حدثنا شعبة وعن سليمان، قال: سمعت زيد بن وهب، قال: رأى حذيفة رجلا لا يتم الركوع والسجود، قال: ما صليت ولومت مت على غير الفطرة التى فطرالله محمدا صلى الله عليه وسلم عليها. (صحيح البخاري، كتاب الصلاة، أبواب الأذان، باب: إذا لم يتم الركوع، رقم الحديث: ۸۰۸).

دا روایت دلالت کوی چه حضرت حذیفه رضی الله عنه په دغه ارکانو کښې د طمانینت د وجوب قائل وو او هم په دې باندې اکثر ائمه دی.[۱]

د فطرت نه څه مراد دې؟ دَدې روایت مطابق تشریح کولو سره علامه عثمانی فرمائی فطرت ئی د سنت په معنی کښې اخستې دې اوکه چرې د فطرت لغوی معنی مراد واخستې شی نوهغه هم ممکن ده. د فطرت معنی ده چه په کومو خصلتونو باندې انسان پیدا شوې وی کوم ته چه جبلی خصلت وئیلی شی. هر سړې دې خپل وجدان طرف ته اوګوری که چرې هغه د یو بادشاه یا حاکم دربار کښې حاضر وی نود هغه ځائی تعظیمی آداب به څنګه په ځائی راوړی؟ سکون، تسلئ، سنجیدګئ او متانت سره یا هسې په منډو ترړو لکه چه څوك د هغه په سر باندې خپلئ نیولې ولاړ دې؟ ښکاره خبره ده چه په اولنی صورت کښې به وی لهذا په مانځه کښې دننه کوم چه په اصل کښې د احکم الحاکمین په دربار کښې دحاضرئی کولو نه عبارت دې. تادی کونکې په جبلی خصلت باندې قائم نه دې.[۲]

په مانځه کښې دَتعدیل ارکان حکم: دَدې حدیث شریف نه د تعدیل ارکان مسئله هم راوځی. د صحیح قول مطابق رکوع، سجده، قومه او جلسه په تسلئ سره په ښه شان سره اداکول واجب دی. تعدیل د ارکان ، د اندامونو داسې سکون ته وائی چه د مونځ ګذار ټول جوړونه کم نه کم د یو ځل تسبیح (سبحان الله) په اندازه باندې اودریږی یعنی خپل حرکت ختم کړی او په سکون کښې راشی.[۳]

د طرفینو په نیز رکوع او سجدو کښې اطمینان او قرار واجب دې اود امام ابو یوسف رحمه الله په نیز فرض دې. هم دَدې قائل امام شافعی رحمه الله هم دې. تردې چه که یو مونځ ګذار اعتدال پریږدی نود طرفینو په نیز به ئی مونځ اوشی البته واجب الاعاده به وی. اود امام ابو یوسف رحمه الله او امام شافعی رحمه الله په نیز هډو مونځ ئی نه کیږی.[۴]

دَعلامه انورشاه کشمیری رحمه الله رائې: علامه محمد انورشاه صاحب کشمیری رحمه الله فرمائی په څومره اندازه سره چه تاکید دَمونځ دَ ارکانو تعدیل دی بل د یو څه څیز نشته. تقریباً په دې کښې ۵۰ احادیث راغلی دی او دې ته ئی فطرة نبی وئیلې دې کوم چه دَ اهمیت دَ اظهار دَپاره کافی دې.

تعدیل ارکان دادې چه بدن خپل طبعی شکل ته اورسی او حرکت انتقال مبدل به سکون شی. حافظ ابن حجر رحمه الله لیکلی دی چه مطلوبه طمانینت په مونځ کښې دا دې چه حرکت دې لاړ شی څنګه تفسیر چه دَ ابی حمید رضی الله عنه په حدیث کښې راځی. «باب: الطمانينة حين يرفع رأسه من الركوع» کښې ابو حمید رضی الله عنه وئیلی دی چه حضورپاك ﷺ به خپل سر مبارك اوچتولو او

---

[۱]) الکوثر الجاری: ۷۵/۲.
[۲]) فضل الباری، کتاب الصلاة، کتاب الاذان، باب: إذا لم یتم الرکوع: ۶۶۱/۳.
[۳]) عمدة الفقه، کتاب الصلاة، فصل دوم: واجبات نماز: ۹۹/۲.
[۴]) بدائع الصنائع، کتاب الصلاة، باب: صفة الصلاة، الواجبات: ۱۵۷/۲.

برابر به شو، ترديٍ چه هر يو اندام به په خپل ځائې قرار نيولو[1]

دٙعلامه عثماني رحمه الله رائې: علامه عثماني رحمه الله په خپل تقرير بخاري[2] کښې فرمائيلی دی چه امام طحاوی رحمه الله په دې مسئله کښې زمونږ دٙ ائمه ثلاثه رحمهم الله مسلك دا نقل کړې چه دٙ هغوی ټولو په نيز تعديل دٙ ارکان فرض دې، دٙ طرفينو خلاف ئې بيان نه کړو[3]

زمونږ بعضې فقهاؤ هم دا اختيار کړی دی چه په دې مسئله کښې زمونږ ائمه ثلاثه په فرضيت متفق دی. او (امام ابويوسف رحمه الله په شان) طرفين هم دٙ جمهورو سره دی. دٙ علامه عينی رحمه الله ميلان هم دې طرف ته معلوميږی[4].

چنانچه هغوی دٙ امام طحاوی رحمه الله نقل پيش کولو سره دا شعراوليکلو:

إذا قالت حزام فصدقوها فإن القول ما قالت حذام

مګر عام توګه باندې فقهاء په دې مسئله کښې دٙ طرفينو رحمهما الله خلاف نقل کوی. علامه عثمانی رحمه الله نور فرمائی دلته په يوه کوتاهئ باندې خبرداری کوم، هغه دا چه اکثر حنفی خلق عملاً دٙ تعديلِ ارکان بالکل اهتمام نه کوی حالانکه دٙ امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز فرض نه سهی واجب خو ضرور دی. اودٙ امام طحاوی رحمه الله دٙ نقل په وجه خو ورته فرض وئيل پکار دی.

يو حنفي عالم (علامه محی الدين محمد پير علي رومی معروف به برکلی رحمه الله، متوفی: ۹۸۱هـ) دٙدې مسئلې متعلق يوه رساله په نوم دٙ معدّل الصلاة ليکلې ده. په هغې کښې دوی شمير کړې دې چه دٙ تعديلِ ارکان پرواه نه کولو باندې ۳۰ آفتونه او ۲۵۰ نه زيات مکروهات متفرع کيږی.

اوس پاتې شوه مسئله دٙتعديل ارکان په کوم کښې چه اختلاف کيږی. دٙدې متعلق زما په زړه کښې دا خيال تيريږی چه کله کله دٙ يو څيز مختلف او متفاوت مرتبې وی. بيا دٙ نظر کونکو نظر چه په کومه مرتبه باندې وی هغه هم دٙ هغې متعلق حکم لګوی. په واقع کښې څه حقيقی اختلاف نه وی صرف لفظی شان جګړه وی.

دلته هم دا کيفيت معلوميږی په طمانينت او تعديل کښې مختلف مرتبې دی. دٙ رکوع لغوی

---

[1]) انوار الباري، كتاب الصلاة، باب: إذا لم يتم الركوع: ۴۵۴/۱۶.

[2]) فضل الباري، كتاب الصلاة، كتاب الأذان، باب: أمر الذى لا يتم ركوعه بالإعادة: ۶۶۳/۳.

[3]) وعبارة الطحاوي....... وخالفهم فى ذلک آخرون فقالوا: مقدار الركوع أن يركع حتى يستوى راكعا. ومقدار السجود أن يسجد حتى يطمئن ساجدا. فهذا مقدار الركوع والسجود الذى لا بن منه......... وهذا قول أبى حنيفة وابى يوسف ومحمد رحمهم الله تعالى. (شرح معانى الآثار. كتاب الصلاة باب: مقدار الركوع والسجود الذى لا يجزئى أقل منه: ۲۳۲/۱دارعالم الكتب).

[4]) علامه عينی رحمه الله په عمدة القاري کښې په دې مقام باندې يعنی کتاب الاذان کښې هم اختلاف نقل کړې دې دٙ امام طحاوی نقل ئې نه دې پيش کړې. البته يو بل ځائې کښې (باب: وجوب القراءة للإمام والمأمون ۶۵/۶)، کښې په دې مسئله باندې کلام کولو سره فرمائی: (أما الطحاوى الذى هوالعمدة فى بيان اختلاف العلماء فى الفقه. فإنه لم ينصب الخلاف بين أصحابنا الثلاثة على هذا الوجه) بيائې وراندې مذکوره شعر هم نقل کړې دې.

معنی "انحناء" او دَ سجود معنی "وضع الجبهة على الأرض" ده. دَ کومې یوه درجه خودا ده چه بس لغةً مفهوم انحناء او مفهوم وضع الجبهة صادق راشي. او یوه دا ده چه په دغه انحناء او وضع الجبهة باندې قرار او مکث یعنی په دغه حالت باندې لږ شان ایسار شی. بیا په دغه مکث اوقرار کښې هم مختلف مراتب دی. یو دا چه فی الجملة ادنٰی مکث وی په کوم سره چه دا رکوع او سجود په غرض دَ تعظیم او تعبد اوګنړلې شی صرف لوبې توقې اودَ خندا په شان نه وی.

قرآن پاك چه ﴿ وَارْكَعُوْاوَاسْجُدُوْاوَاعْبُدُوْا ﴾ سره دِ کومې رکوع او سجود حکم ورکړې دې هغه صرف لغوی انحناء او وضع الجبهة نه ده، لکه څنګه چه ظاهره بلکه دَ الله تعالی دَ طرف نه هغه انحناء او وضع الجبهة مطلوب ده چه په طریقه دَ تعظیم او تعبد وی. کمانبه علیه الشیخ ولی الله الدهلوی رحمه الله. نو فی الجمله مکث اوقرار کوم سره چه دَ تعبد اودَ تعظیم استشعار او تحقق وی او دَ لوبو توقو دَ صورت یا دَ مسخرو نه جدا شي، نو دومره مکث اوقرار خو فرض کیدل پکار دی لکه څنګه چه جمهور وائی څکه چه بالکل مکث نه وی بلکه صرف ټیټیدل او پاسیدل وی کوم ته چه په اردو کښې "الک بلک" وائی نو په دې کښې تعظیم او اجلال چرته دی؟ دا خو یو قسم دَ لوبو توقو اودَ مسخرو صورت جوړیږی.

باقی دا مکث کم نه کم څومره کیدل پکاردی؟ دَدې تحدید مشکل دې. بیا اګرچه مونږ دَدې پوره تحدید اونه کړې شو خوبیابه هم دامنل وی چه دَدې یوه مرتبه داسې ضرور ده کومه چه فرض کیدل پکاردی. او یوه درجه دَدې نه څه دَ زیات مکث ده هغه به فرض نه وی. نو زما وینا داده چه دَتعدیل او طمانینت مرتبې مختلف دی. هیڅ لرې نه ده چه دَ مجتهدینو أنظار چونکه په مختلف مرتبو باندې پریوتې وی وجه دا اختلاف پیدا شوې دی.

بیا دَدې متعلق دا خیز هم دَ غور قابل دې چه دَطمانینت او تعدیل په ترك کولو باندې سخت وعید راغلې دې. او په قرآن کریم کښې چه کوم کوم ځائی دَمونځ دَ فرضیت بیان دې هلته عموماً ﴿ وَأَقِيْمُواالصَّلٰوةَ ﴾ لفظ راغلې دې. لفظ "صلوا" نه دې راغلې. اودَ اقامت صلاة معنی داده چه دَدې دَ حقوقو او شروطو سره ادا کړې شی صرف سرسری پاسیدو کیناستو ته اقامت صلاة نه شی وئیلې. دَ مونځ دَ فرضیت دَ بیان په موقع په کثرت سره ﴿أَقِيْمُواالصَّلٰوةَ ﴾ راغلې دې. البته په موقع دَ ذم او تقبیح کښې "مصلی" په لفظ سره تعبیر کړې شوې دې لکه چه ﴿فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ ۞ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ۞﴾ (الماعون: ۴،۵) او لکه ﴿قَالُوْالَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّيْنَ۞ ﴾ (المدثر: ۴۳) دلته ئې "ويل للمقيمين الصلاة" نه دې فرمائیلې.

اودَ "صلوا" او "اقيموا الصلاة" په مینځ کښې دا فرق په پوره طریقې سره دَ صلاة الخوف دَ آیت نه واضیح کیږی. چنانچه الله تعالی فرمائی: ﴿وَإِذَاكُنْتَ فِيْهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلٰوةَ ﴾ (النساء: ۱۰۲) چونکه حضورپاك ته په هرحال کښې طمانینت حاصل وو یو وخت به هم په مونځ کښې

خشوع او حضور دَ زړه او طمانينت بالكليه مفقود نه وو. په دې وجه دَ ويرې دَ حالت مونځ ني هم دَ حضورپاك په حق په كښې "اقامتِ الصلاة" سره تعبير كړو. ليكن نور خلق كه هغه په هره درجه كښې وى دَ رسول الله ﷺ مرتبې ته نه شي رسيدلې. او دَ دښمن دَ مقابلې دَ وخت خارجي تكليفونه او پريشانئ هغوى داسې ګډود كولې شي چه دَ زړه طمانينت ورته نه شي حاصليدې. په دې وجه ئې دَ هغوى په حق كښې "فليصلوا" اوونيلې. (چنانچه ارشاد دې. ﴿وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّوا فَلْيُصَلُّوا مَعَكَ﴾ (النساء:۱۰۲) "فليقيموا الصلاة" ئې اونه فرمائيلو يعنى كه چرې ته طمانينت معتد بها حاصل نه كړې شې او په مامور بها اقامت صلاة باندې پوره قابو حاصله نه كړې شې نو چه څنګه هم ممكن وى هغه وخت مونځ ادا كړه. اوس چونكه دَ طمانينت دَ نه حاصليدلو دَ وجې په اقامت صلاة كښې نقصان راغلو نو لكه چه دا هم اضطرارى وو په دې وجه دَدې دَ تلافى دَ پاره وړاندې فرمائى: ﴿فَإِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلَوٰةَ فَاذْكُرُوا اللَّهَ﴾ (النساء: ۱۰۳) څكه چه په ذكر الله سره طمانينت قلب حاصليږى. فرمائى: ﴿الَّذِينَ آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ اللَّهِ ۗ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ﴾ (الرعد: ۲۸) دې نه پس چه كله دا دَ ويرې حالت ختم شى نو هغه وخت چونكه دَ اقامت صلاة دَ پاره طمانينت ضرورى دې مونځ څنګه چه دَدې حق دې هغه شان ادا كول پكاردى. په دې وجه وړاندې فرمائى: ﴿فَإِذَا اطْمَأْنَنتُمْ فَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ﴾ (النساء:۱۰۳). اوس چونكه دَ ټولو حقوقو خيال ساتل ضرورى او مطلوب دى څنګه ئې "فصلوا" اونه وئيل، بلكه ﴿فَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ﴾ ئې اوفرمائيل.

الغرض دَ "اقيموا الصلاة" تقاضا دا ده چه مونځ په طمانينت سره ادا شى، لهذا دَ طمانينت او تعديل اركان ښه خيال ساتل پكار دى.([1])

دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ترجمة الباب وو "إذا لم يتم السجود" اوهم دغه څيز پوره توګه باندې په حديث كښې موجود دې.([2])

دَحديث شريف نه مستفاد امور: دَ پورته ذكر شوى حديث شريف نه ډير امور مستفاد كيږى مثلاً:

① په مونځ كښې تعديل دَ اركانو واجب دې.
② دَ سنت په اهميت باندې متعينه ژوند كښې ښكاره كيږى.
③ دَ ښه خاتمې دَ حاصلولو دَ پاره دنياوى ژوندون دَ سنت مطابق برابرول پكاردى.
④ دَ نورو سره دَ خير خواهئ جذبه ساتل هم معلوميږى چه يو صحابى رسول په كوم فكر مندئى سره بل كس خبردار كړو وغيره وغيره.([3])

[1]) فضل البارى، كتاب الصلاة، كتاب الأذان، باب: أمر الذى لا يتم ركوعه بالإعادة: ۳/۶۶۸-۶۶۵
[2]) عمدة القارى: ۴/۱۸۱.
[3]) عمدة القارى: ۳/۱۸۱.

۲۷ - باب: يُبْدِي ضَبْعَيْهِ وَيُجَافِي فِي السُّجُودِ

دا باب په سجده کښې د دواړو متو کولاؤ ساتلو اود
(دواړو اړخونونه) د جدا ساتلو په بيان کښې دې.

د ترجمة الباب مقصد: د سابقه باب د ترجمة الباب د مقصد لاندې چه کوم بحث تيرشوې دې هم هغه بحث د دې باب د ترجمة الباب مقصد هم دې، هلته ئې اوګورئې.

د ترجمة الباب د ماقبل سره مناسبت: په وړاندې باب کښې د اتمام السجود بيان وو چه د سجدو په پوره کولو کښې څنګه چه دا ضروري دی چه تمکن وجهه على الأرض کيدل پکار دی. هم دغه شان د سجدو په پوره کولو کښې داهم ضروري دی چه سرې دې خپلې متې د خپلو ترخونو او تشو نه جدا اوساتی. لکه چه دا باب د مخکينی باب تتمه ده.

علامه عينی رحمه الله فرمائی چه په دې ځائی کښې کله صحيح بخاری کښې ذکرشوې باب که صحيح اومنلې شی نو په دواړو ابوابو کښې به مناسبت داسې شی چه ماقبل باب کښې په سجدو کښې د طمانينت حکم وو او په دې باب کښې د دواړه متو اود دواړو اړخونو د يوځائی حکم دې اودا ټولې خبرې د احکام سجود سره متعلق دی.(۱)

قوله: "يبدى" د باب افعال نه د "إبداء" مصدر فعل مضارع واحدمذکر غائب صيغه ده. مطلب د دې "ښکاره کول" دی. "ضبعيه" دا د ضبع تثنيه ده دې نه مراد مټ دې.(۲) د پورته طرف نه د ترخ نه واخله تر نيم مټ پورې حصې ته ضبع وئيلې شی(۳). "يجافى" دا د باب مفاعله نه د مضارع معروف واحد مذکر صيغه ده. د دې معنی ده لرې کول، جدا ساتل، مطلب به ئې دا جوړيږی چه کله سجدې ته لاړشی نوخپل لاسونه دې ښه کولاؤکړی اود اړخونونه دې جدا اوساتی(۴). د "يجافى" مفعول به محذوف وی اوهغه دادې "جنبيه" جنب اړخ يعنی تشی ته وائی(۵).

حديث باب [حديث نمبر ۳۸۳]

-۳۹۰ أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا بَكْرُ بْنُ مُضَرَ عَنْ جَعْفَرٍ عَنِ ابْنِ هُرْمُزَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَالِكٍ ابْنِ بُحَيْنَةَ(۲) أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - كَانَ إِذَا صَلَّى فَرَّجَ بَيْنَ يَدَيْهِ حَتَّى

(۱) عمدة القاري: ۱۸۲/٤.
(۲) معجم الصحاح للجوهري، ص: ۶۱۳، سراج القاري: ۴۲۱/۲.
(۳) المعجم الوسيط، ص: ۵۳۳، سراج القاري: ۳۲۱/۲.
(٤) المعجم الصحاح للجوهري، ص: ۱۲۸.
(۵) عمدة القاري: ۱۸۲/٤.
(۶) أخرجه البخاري أيضا في صفة الصلاة، باب: يبدى ضبعيه ويجافى السجود، رقم الحديث: ۸۰۷ وفى كتاب الأنبياء، باب: صفة النبي صلى الله عليه وسلم، رقم الحديث: ۳۵۶٤، ومسلم في صحيحه، في الصلاة، باب: ما يجمع صفة الصلاة، وما يفتتح به ويختم به، رقم الحديث: ٤۹۵. والنسائي في سننه، في الافتتاح، باب: صفة السجود، رقم الحديث: ۱۱۰۶. وفى جامع الأصول، حرف الصاد، كتاب الصلاة، القسم الأول: في الفرائض، الباب الأول: في الصلاة، الفصل الخامس: في كيفية الصلاة، الفرع الرابع: في الركوع والسجود، النوع الأول: هيئة الركوع والسجود، رقم الحديث: ۳۵۰۷، ۳۷٤/۵.

يَبْدُوَبَيَاضُ إِبْطَيْهِ.

ترجمه حديث: حضرت عبدالله بن مالك ابن بحينه ﷺ فرمائي چه نبي كريم ﷺ چه به كله مونځ كولو نو د خپلو دواړو متو په مينځ كښې به ئې دومره فاصله ساتله چه د حضورپاك د ترخونو مباركو سپينوالي به ښكاريدلو.

تراجم رجال: د مذكوره حديث شريف رجال ټول پنځه دي.

① يحيى بن بكير رحمه الله: دا ابوذكريا يحيى بن عبدالله بن بكير القرشي المخزومي رحمه الله دي. د دوى احوال كشف الباري، كتاب بدء الوحي د دريم حديث لاندې تير شوي دى.[1]

② بكر بن مُضر رحمه الله: د دوى پوره نوم بكر بن مُضر بن محمد بن حكيم بن سلمان المصرى رحمه الله دي د دوى د كنيت باره كښې دوه اقوال دى، ابو محمد او ابو عبدالملك. دې د ربيعه بن شرحبيل آزاد كړې شوې غلام وو.

د دوى په استاذانو كښې حضرت جعفر بن ربيعه بن شرحبيل بن حسنه، ابراهيم بن ابى عبله، حمزه النصيبى، خالد بن يزيد مصري، ربيعه بن سيف، سعيد بن بشير، صخر بن عبدالله بن هرمله مُدلجى وغيره رحمهم الله اود يو لوئى جماعت نوم ملاويږى.

اود دوى نه فيضياب كيدونكو كښې يحيى بن عبدالله بكير، خلف ابن عبدالله، عبدالرحمن بن قاسم، عثمان بن صالح سهمى، عمرو بن خالد حرانى، قتيبه بن سعيد ثقفى وغيره رحمهم الله شامل دى.

د دوى د پيدائش باره كښې يو قول د يوسل دوه هجرى او دويم قول د سلمې هجرئ دې. امام احمدبن حنبل رحمه الله د دوى باره كښې فرمائي: لثقة ليس به بأس يو بل ځائى كښې فرمائيلى دى: إنه كان رجلا صالحا. ابن معين، نسائي او ابو حاتم وغيره رحمهم الله د دوى د توثيق اقوال ذكركړى دى. د دوئ د وفات باره كښې د ۱۷۳ او ۱۷۴ اقوال ملاويږى. په نهم د ذى الحجه او د نهې په ورځ وفات شوې دې. په ائمه سته كښې د ابن ماجه نه علاوه ټولو د دوى روايات په خپلو كتابونو كښې نقل كړى دى. رحمه الله رحمة واسعة.[2]

③ جعفر رحمه الله: دا ابو بشر جعفر بن اياس يشكرى واسطى بصرى رحمه الله دې. د دوى احوال كشف الباري، كتاب العلم، باب: من رفع صوته بالعلم، لاندې تير شوې دى.[3]

④ ابن هُرمُز رحمه الله: دا ابو داؤد عبدالرحمن بن هُرمُز مدنى قرشى رحمه الله دې. د دوى احوال كشف الباري، كتاب الإيمان، باب: حب الرسول من الإيمان، لاندې تير شوې دى.[4]

---

[1] كشف الباري: ۳۲۳/۱.

[2] التاريخ الكبير للبخاري: ۹۵/۲، الجرح والتعديل: ۵۹۲/۱، الثقات لابن حبان: ۱۰۴/۶، الطبقات الكبرى لابن سعد: ۵۱۷/۷، تهذيب الكمال: ۲۲۹/۴-۲۲۷.

[3] كشف الباري: ۷۱/۳.

[4] كشف الباري: ۱۱/۲.

⑤ عبدالله بن مالك ابن بُحَينه رضي الله عنه: دا صحابي رسول حضرت عبد الله بن مالك بن القشب رضي الله عنه دي. دَ دوی نوم جندب بن نضله بن عبد الله بن رافع بن محصن دي. دَ دوی كنيت ابو محمد دي. دَ بنو المطلب حليف وو. دَ دوی شهرت په ابن بحينه سره شوې دې. بحينه ددوی دَ مور نوم وو كومه چه دَ الأرت لور وه.
واضحه دې وی چه بُحَينه دَ عبد الله مور ده دَمالك نه ده. هم په دې وجه ابن بحينه په الف سره به ليكلې شي څكه چه دَ مالك صفت نه دې بلكه دَ عبد الله صفت دې. دَ محمد بن سعد رحمه الله بيان دې چه ددوی پلار ابو مالك بن القشب دَ مطلب بن عبد مناف حليف وو. هغوی بحينه بنت حارث بن مطلب سره واده اوكړو، دَ دوی نه عبد الله پيدا شو دَ چا كنيت چه ابو محمد وو. هغه اسلام قبول كړو اودَ نبی كريم ﷺ صحبت ئې اختيار كړو. دې ډير فاضل او صائم الدهر وو. دَ مدينې نه ديرش ميله فاصله باندې بطن ريم كښې اوسيدلو. دهغوی وفات په مدينه كښې اوشو. هغه وخت په مدينه كښې دَمروان بن حكم حكومت وو، اودَ ولايت اوحكومت موده ئې دَ ۵۴ هجرى نه واخله تر ذى قعده ۵۸ هجرى پورې وو.
دې دَ نبی كريم ﷺ نه روايت كوی او دَده نه روايت كونكو كښې عبد الرحمن بن هرمز الأعرج، حفص بن عاصم بن عمر بن خطاب، ابو جعفر محمد بن علی بن حسين، محمد بن يحيى بن حبان او پخپله دَ دې صحابی خوئې علي بن عبد الله بن بحينه رحمهم الله شامل دی. امام بخاری رحمه الله او امام مسلم رحمه الله دَ دوی دَ روايت تخريج كړې دې. سنن ابی داؤد او سنن ترمذی كښې دَدوی روايت نشته دې[1]

شرح حديث: كَانَ إِذَا صَلَّى فَرَّجَ بَيْنَ يَدَيْهِ حَتَّى يَبْدُوَ بَيَاضُ إِبْطَيْهِ»

ترجمه: كله چه به حضورپاك مونځ فرمائيلو نو (سجده كښې) به ئې دَخپلو دواړو متو په مينځ كښې دومره فاصله ساتله چه دَ حضورپاك دَ ترخ مبارك سپينوالې به ښكاريدلو.

"فرج" دَ باب تفعيل نه دَماضى معروف واحدمذكر غائب صيغه ده. دادَ سجدې كولو دَحالت بيان دې چه دَ رسول الله ﷺ متې به دَ حضورپاك دَ اړخو يعنى تشو نه جدا وې. په داسې كولو كښې داحكمت كيدې شی چه په دې كښې دَ تواضع اوعاجزئی يو ښكلې نمونه وه. اوداسې كولو كښې تندې په زمكه باندې په پوره قوت سره او په سختئ سره كيخودل ممكن وی كوم چه په هغې سره سجده په كامل طريقه اداكيږی. اوداسې كولو كښې مونځ گذار دَ سستو بنديگانو دَ مشابهت نه په پوره شان سره اوځی.

"بين يديه" دا لفظ په خپل حقيقت باندې محمول دې يعنى دَ حضورپاك په سجده كښې كولاؤ والې اختيارول به دَ خپلې مخې طرف ته وو[2]

دَ نبی كريم ﷺ دَ سجدې شكل: دَ حضورپاك دَ سجدې دَ هيئت باره كښې په احاديثو

---

[1] تهذيب الكمال: ۵۰۸/۱۵، تهذيب التهذيب: ۳۸۲/۵-۳۸۱، أسد الغابة: ۳۵۰/۳، الطبقات الكبرى: ۳۴۲/۴، الجرح والتعديل: ۱۸۴/۵، التاريخ الكبير للبخاري: ۱۰/۵، الثقات لابن حبان: ۲۱۶/۳.
[2] عمدة القاري: ۱۸۳/۴.

مبارکو کښې مختلف الفاظ راغلی دی چه ټول هم په دې کیفیت باندې پوره وضاحت سره دلالت کوی. مثلاً صحیح مسلم کښې دی: ((إذا سجد يُجَنِّحُ في سجوده حتى يُرى وضح إبطيه))[1]

یعنی چه کله به حضورپاك سجدې ته تلو نو خپل مروندونه به ئې د زمکې نه داسې اوچتول لکه چه مرغۍ خپلې وزرې اوچتوی. او د حضورپاك داسې سجدې کولو سره به د حضورپاك د ترخونو مبارکو سپینوالې ښکاریدو.

"یُجَنِّحُ" د باب تفعیل نه فعل مضارع معروف دې. د دې مطلب د مرغۍ د وزر اوچتولو په شان متې د زمکې نه اوچتول دی. "وضح إبطيه" نه مراد د ترخونو سپینوالې دې.[2]

هم د صحیح مسلم په یو روایت کښې دی: ((كان صلى الله عليه وسلم إذا سجد لوشاءت بهمة أن تمرّ بين يديه، لمرت))[3]

یعنی چه کله به حضورپاك سجده کوله نو د هغوی د ترخونو د مینځ په مینځ کښې که چرې د چیلۍ وروکی بچی تیریدل غوښتل نو تیریدې شو (مطلب دا چه د حضورپاك بدن مبارك به د سجدې په حالت کښې دومره کولاؤ وو).

قوله: "بهمة" د چیلۍ وروکی بچی ته وائی که هغه مذکر وی او که مؤنث وی.[4]

هم د صحیح مسلم په یو بل روایت کښې دی: ((كان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا سجد خوّى بيديه، يعني: جنّح، حتى يُرى وضح إبطيه من ورائه))[5]

یعنی نبی کریم ﷺ چه به کله سجده کوله نو د مرغئی د وزرو اوچتولو په شان خپلې متې اوچتولو سره به ئې سجده کوله تردې چه که چا د حضورپاك د شا د طرف نه کتلې نو هغه ته به د حضورپاك د ترخونو مبارکو سپینوالې ښکاریدو.

---

[1]) حدثنا عمرو بن سواد، أخبرنا عبدالله بن وهب، أخبرنا عمرو بن الحارث، والليث بن سعد، كلاهما عن جعفر بن ربيعة، بهذا الإسناد. وفي رواية عمرو بن الحارث، كان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا سجد يجنح في سجوده حتى يُرى وضح إبطيه، وفي رواية الليث، أن رسول الله صلى الله عليه وسلم كان إذا سجد فرج يديه عن إبطيه حتى إني لأرى بياض إبطيه. (صحيح مسلم، كتاب الصلاة، باب: مايجمع صفة الصلاة، رقم الحديث: ۱۱۳٤).

[2]) عمدة القاري: ۱۸۳/٤.

[3]) حدثنا يحيى بن يحيى، وابن أبي عمر، جميعا عن سفيان، قال يحيى: أخبرنا، سفيان بن عيينة، عن عبيدالله بن عبدالله بن الأصم، عن عمه يزيد بن الأصم، عن ميمونة، قالت: كان النبي صلى الله عليه وسلم إذا سجد لوشاءت بهمة أن تمر بين يديه لمرت. (صحيح مسلم، كتاب الصلاة، باب: ما يجمع صفة الصلاة، رقم الحديث: ۱۱۳۵).

[4]) عمدة القاري: ۱۸۳/٤.

[5]) حدثنا إسحاق بن إبراهيم الحنظلي، أخبرنا مروان بن معاوية الفزاري، قال: حدثنا عبيدالله بن عبدالله بن الأصم، عن يزيد بن الأصم، أنه أخبره عن ميمونة زوج النبي صلى الله عليه وسلم قالت: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا سجد خوّى بيديه، يعني: جنح، حتى يُرى وضح إبطيه من ورائه. وإذا قعد اطمأن على فخذه اليسرى. (صحيح مسلم، كتاب الصلاة، باب: ما يجمع صفة الصلاة، رقم الحديث:۱۱۳۵).

خوى" مطلب دادې چه خپله خېټه مبارکه به ئې د زمکې نه لرې ساتله او پورته به ئې ساتله او خپلې څنګلې به ئې د خپلو اړخونو يعنې تشو نه جدا ساتلې.(۱)

المستدرك على الصحيحين کښې دي: ((عن ابن عباس، قال: أتيت النبي صلى الله عليه وسلم من خلفه فرأيت بياض إبطيه وهو مُجخٍّ، وفرج يديه))(۲)

يعنې حضرت ابن عباس ﷺ فرمائي چه زه به د نبي كريم ﷺ شاته راتلم او كتل به مې نو د حضورپاك د ترخونو مبارکو سپينوالې به ښکاريدو. او حضورپاك به خپلې متې د خپلو تشو نه لرې ساتلې.

قوله: "مجخ" هغه هيئت ته وائي چه يو سړې خپلې متې د خپلو تشو نه لرې کړی(۳)

او په صحيح ابن خزيمه کښې دي: ((أن النبي صلى الله عليه وسلم كان إذا سجد جافى حتى يُرى بياض إبطيه))(۴)

يعنې کله چه به نبي كريم ﷺ سجده کوله نو په کولاؤ انداز سره به ئې سجده کوله تردې چه د حضورپاك د ترخونو مبارکو سپينوالې به ښکاريدلو.

او سنن ابی داؤد کښې دي: ((ثم كبر وسجد ووضع كفيه على الأرض، ثم جافى بين مرفقيه حتى استقر كل شيئ منه))(۵)

---

۱) عمدة القاري: ۱۸۳/٤.

۲) أخبرناه أبوبكر محمد بن المؤمل، ثنا الفضل بن محمد الشعراني، ثنا النفيلي، ثنا زهير، ثنا أبوإسحاق، عن التيمي الذي قد يحدث بالتفسير، عن ابن عباس، قال: أتيت النبي صلى الله عليه وسلم من خلفه فرأيت بياض إبطيه وهو مجخ، وفرّج يديه. (المستدرك على الصحيحين، كتاب الصلاة، باب: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا سجد روي وضح إبطيه، رقم الحديث: ۸۲۹، ۲۲۸/۱).

۳) عمدة القاري: ۱۸۳/٤.

۴) نامحمد بن يحيى، ومحمدبن رافع، وعبدالرحمن بن بشر قالوا: حدثنا عبدالرزاق، أخبرنا معمر، عن منصور، عن سالم بن أبي الجعد، عن جابر بن عبدالله، أن النبي صلى الله عليه وسلم كان إذا سجد جافى حتى يُرى بياض إبطيه. قال الأعظمي: إسناده صحيح. (صحيح ابن خزيمة، كتاب الصلاة، باب: التجافي في السجود، رقم الحديث: ٦٤٩، ۳۲٦/۱).

۵) حدثنازهير بن حرب، حدثنا جرير، عن عطاء بن السائب، عن سالم البراد قال: أتينا عقبة بن عمرو الأنصاري أبامسعود فقلنا له: حدثنا عن صلاة رسول الله صلى الله عليه وسلم فقام بين أيدينا في المسجد، فكبر، فلما ركع وضع يديه على ركبتيه، وجعل أصابعه أسفل من ذلك، وجافى بين مرفقيه، حتى استقر كل شيئ منه، ثم قال: سمع الله لمن حمده، فقام حتى استقر كل شيئ منه، ثم كبروسجد ووضع كفيه على الأرض، ثم جافى بين مرفقيه حتى استقركل شيئ منه، ثم رفع رأسه فجلس حتى استقر كل شيئ منه، ففعل مثل ذلك أيضا، ثم صلى أربع ركعات مثل هذه الركعة، فصلى صلاته، ثم قال: هكذا رأينا رسول الله صلى الله عليه وسلم يصلي. (سنن أبي داؤد، كتاب الصلاة، باب: صلاة من لا يقيم صُلبه في الركوع، رقم الحديث: ۸٦۲).

یعنی (په حالت دَ سجدې کښې به) حضورپاك په خپلو دواړو څنګلو کښې کولاؤ والی پیدا کولو تردې چه هر یو اندام به په سکون سره په قرار اونیولو.

دَ سجدې دَ مذکوره هیئت حکمتونه: امام بخاری رحمه الله دَدې ترجمة الباب لاندې چه کوم حدیث ذکر کړې دې دَهغې نه دَ سجدې مذکوره هیئت استحباب معلومیږی. دَدې هیئت دَ استحباب حکمتونه بیانولو سره حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی:

① یو حکمت دادې چه په دې سره په مخ باندې بوج کمیږی او پوزه او تندې په زمکه باندې کیخودو کښې هیڅ تکلیف نه وی.

② دویم خیال دادې چه په دې هیئت کښې تواضع ده سستی نشته دې.

③ دریمه خبره داده چه په دې هیئت کښې دَ یو اندام په بل اندام باندې اعتماد نه پاتې کیږی بلکه هر یو اندام لکه چه په مستقل توګه باندې سجدې له ځی. داحکمت دَ یو حدیث شریف نه ماخوذ دې چه حضورپاك فرمائیلی دی چه دَ ځناور په شان په زمکه باندې لاسونه مه خوروئی، صرف دَ لاس په تلو باندې اعتماد مه کوئی، متې جدا اوساتئ، کله چه تاسو داسې سجده کوئی نو لکه چه ستاسو هریو اندام به سجدې ته لاړشی.

حافظ صاحب رحمه الله فرمائی دَ دې احادیثو ظاهر خودادې چه په سجده کښې دَ کولاؤ والی دا هیئت واجب اوګرځولې شی. مګر چونکه په ابوداؤد کښې دَحضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت دې په کوم کښې چه فرمائیلې شوی دی چه صحابه کرامو دَ سجدې دَ اوږدیدو دَ مشقت شکایت اوکړو. نو حضورپاك اوفرمائیل: ((استعینوابالرکب)) اودَدې دا مطلب اخستې شوې دې چه که چرې په سجده کښې تکلیف وی نو څنګلې په زنګونونو باندې کیخودل هم جائز دی مکروه نه دی. په دې وجه دا هیئت دَ واجب ګرځولو په ځائې مستحب یا مسنون ګرځولې شوې دې.(١)

دَعلامه کشمیری رحمه الله په حافظ صاحب رحمه الله باندې رد: علامه انورشاه کشمیری رحمه الله فرمائی چه حافظ صاحب رحمه الله لیکلی دی چه دَ حدیث الباب نه متې جدا ساتلو سره دَ سجدې وجوب معلومیږی او حدیث ابی داؤد نه دَدې استحباب فهم ته راځی. په کوم کښې چه دی چه صحابه کرامو رضی الله عنهم دَ سجدې دَ اوږدوالی په صورت کښې دَ سجدې دَ مشقت شکایت اوکړو نو حضورپاك اوفرمائیل چه دَ زنګونونو نه امداد واخلئ، یعنی په دې باندې څنګلې لګولو سره. حالانکه دا صورت دَدې نه جدا دې او متې دَ سجدې په حالت کښې په عام حالاتو کښې دَ جدا ساتلو حکم ورکړې شوې دې اودا خاص صورت دې چه دَ سجدې دَ اوږدوالی په حالت کښې ستومانتیا لرې کولو دپاره دَ زنګونونو نه امداد واخستې شی. دا لکه چه خاص صورت حالت دَ عذر دې

امام ترمذی رحمه الله دَ استعانت بالرکب حکم نه دَ سجدې نه دَ قیام دَ پاره دَ پاسیدو وخت مراد اخستې دې. او امام طحاوی رحمه الله دَ قومې نه پس سجدې ته دتلو په وخت استعانت بالرکب

(١) فتح الباري، کتاب الصلاة، باب: یبدی ضبعیه ویجافی فی سجوده، رقم الحدیث: ۸۰۷، ۲/۳۸۱-۳۸۰.

مراد اخستې دي. غرض دا چه څلور صورتونه جدا جدا دی او امام بخاری رحمه الله دلته د سجدې صحیح او مشروع او مسنون صورت د عام حالت د پاره بیان کړې دې[1]

د حدیث د ترجمة الباب سره مناسبت: علامه عینی رحمه الله فرمائی چه د مذکوره حدیث شریف د ترجمة الباب سره مناسبت د "کان إذا صلی" په وجه دې. ځکه چه مذکوره حدیث شریف کښې په لفظ "صلی" نه "سجد" مراد اخستې شی نو دا به اطلاق الکل علي الجزء د قبیل نه وی. مراد به داشی چه کوم وخت په سجده کښې حضورپاك خپل دواړه لاسونه کولاؤ ساتل نو دې لا زمی نتیجه داده چه د حضورپاك متې د هغوی د اړخونو یعنی تشو نه جدا وی. او هم دغه ترجمة الباب نه ثابتیږی[2]

دحدیث شریف نه مستنبط فوائد اواحکام: د مذکوره حدیث شریف نه چه کوم امور مستنبط کیږی د هغې نه دلته څه ذکر کولې شی:

① په مونځ کښې سنت دادې چه د سجدې په حالت کښې د دواړو لاسونو په مینځ کښې کولاؤوالې وی، په متو او تشو کښې فاصله وی. دا طریقه د سړو د پاره مسنون ده د ښځو د پاره نه ده بلکه د هغوی په حق کښې خود سجدې په حالت کښې خپل بدن راغونډول او یوځائی ساتل دی. یعنی چه څومره ممکن وی هغوی دې هم دومره زمکې پورې لګیدو سره سجده کوی. ځکه چه په ښځو کښې مطلوب او محمود ستر دې او هغه هم دغه شان حاصلیدې شی.[3]

د ښځو او سړو په مونځ کښې په ډیرو مقاماتو کښې فرق دې کوم چه د احادیث نبوی نه ثابت دی. او هغه به ان شاء الله په خپل مقام باندې په تفصیل سره راشی.

② په مونځ کښې د اطمینان او اعتدال د وجوب هم معلومات اوشو.[4]

③ په مونځ کښې د سجدې مذکوره هیئت په اظهار د خضوع او د الله تعالی د پاره په بندګئی باندې هم دلالت کوی[5]

تعليق: وَقَالَ اللَّيْثُ: حَدَّثَنِي جَعْفَرُ بْنُ رَبِيعَةَ نَحْوَهُ [۷۷۴، ۳۳۷۱]

د تعليق ترجمه: او لیث رحمه الله اوئیل چه ماته جعفر بن ربیعه رحمه الله د دې په شان بیان اوکړو

د تعليق تخريج: دا تعلیق امام مسلم رحمه الله صحیح مسلم کښې موصولاً نقل کړې دې. وئی کوړئی: ((حدثنا عمرو بن سواد، أخبرنا عبدالله بن وهب، أخبرنا عمرو بن الحارث، والليث بن سعد، كلاهما

---

[1] انوار الباری، کتاب الصلاة، باب: يبدى ضبعيه ويجافى فى السجود، رقم الحديث: ۸۰۷ ۴۷۳/۱۶.

[2] عمدة القاری: ۱۸۲/۴، شرح الكرماني: ۵۳/۴.

[3] التوضيح لابن الملقن: ۳۹۹/۴، عمدة القاری: ۱۸۳/۴ الشرح الميسر: ۴۴۱/۱.

[4] التوضيح لابن الملقن: ۳۹۹/۴.

[5] الشرح الميسر: ۴۴۱/۱.

من جعفر بن ربيعة)) دَدې سند مطابق دَ جعفر بن ربيعه رحمه الله نه روايت کونکي دَ هغوی دوه شاګردان دی. يو عمرو بن سواد رحمه الله او دويم الليث بن سعد رحمه الله دوارو رواياتو کښې لږ شان فرق دې وئې ګورئې:

((وفي رواية عمرو بن الحارث: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا سجد يجنح في سجوده، حتى يُرى وضح إبطيه. وفي رواية الليث: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم كان إذا سجد فرج يديه عن إبطيه حتى إني لأرى بياض إبطيه))(١)

دَتعليق رجال: دَمذکوره تعليق دوه رجال دی.

① **الليث رحمه الله:** دا امام ابوالحارث الليث بن سعد بن عبدالرحمن فهمي رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی دريم حديث لاندې تير شوی دی(٢).

② **جعفر بن ربيعه رحمه الله:** دا ابوشرحبيل جعفر بن ربيعه بن شرحبيل بن حسنه القرشي الکندی المصري الازدی الحسني رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب التيمم، باب: التيمم في الحضر إذا لم يجد الماء، رقم الحديث: ۳۳۷ لاندې تير شوی دی(٣).

دَتعليق مقصد: علامه کرماني رحمه الله فرمائي چه په دې تعليق کښې دَ راوی دَ طرف نه تحديث دې يعنی ليث بن سعد رحمه الله دَ حدثني په صيغې سره روايت کړې دې او په ماقبل حديث کښې عنعنه ده يعنی هلته راوی دَعن صيغه استعمالولو سره روايت کړې دې. يعنی صرف دَ سند فرق خودل مقصود دی.(٤)

(١) صحيح مسلم، كتاب الصلاة، باب: ما يجمع صفة الصلاة، رقم الحديث: ١١٣٤، تغليق التعليق: ٢/٢٢٠.
(٢) كشف الباري: ١/٣٢٤.(دَدوی باره کښې ډير ښه تفصيل اومفيد کلام انوارالباري: ١٢/١٧٧-١٧٤ کښې اوګورئې)
(٣) كشف الباري، كتاب التيمم، باب التيمم في الحضر إذا لم يجد الماء، رقم الحديث: ٣٣٧ص: ١٦٠.
(٤) شرح الكرماني: ٥٣/٤.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

۱۰- ابواب القبلة[1]

۱- باب: فَضْلِ اسْتِقْبَالِ الْقِبْلَةِ

دا باب (مونځ كښې) قبلې ته د مخ كولو د فضيلت په بيان كښې دې

قوله: "بسم الله الرحمن الرحيم" علامه رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله فرمائي چه امام بخاري رحمه الله بسم الله سره د يو باب يا كتاب شروع هغه وخت كوي كوم وخت چه د سابقه باب او د موجوده باب په ليكلو كښې څه موده او وقفه تيره شوې وي، چنانچه دلته هم دغه شان اوشو[2]

په دې باندې شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائي د بخاري شريف هندوستاني نسخه او د علامه كرماني رحمه الله شرح المسمى الكوكب الدراري كښې باب فضل استقبال القبلة نه مخكښې بسم الله موجوده. خو اكثر په مصري نسخو كښې، دارنګ فتح الباري، عمدة القاري او ارشاد الساري كښې دې ځائې كښې بسم الله موجود نه ده. او نه دې دريواړو شارحينو د دې متعلق څه كلام كړې دې. البته زمونږ مشائخ فرمائي چه كله امام بخاري رحمه الله ته د خپل كتاب په ليكلو كښې وقفه واقع كيږي نو د نوي مجلس شروع د بسم الله نه كوي.[3]

د مذكوره باب د ماقبل باب سره مناسبت: په ماقبل كښې د سترعورت باره كښې ابواب روان وو. كله چه امام بخاري رحمه الله د سترعورت د بيان نه فارغ شو نو د استقبال قبله بيان ئې شروع كړو ځكه چه مونځ ګذار اول د ستر عورت محتاج وي. كله چه هغه خپل ستر پټ كړي نو بيا به د قبلې طرف ته د مخ كولو محتاج كيږي په دې وجه ئې د دې بيان شروع كړو. لهذا د سابقه ابوابو سره مناسبت ښكاره دې.[4]

قوله: يَسْتَقْبِلُ بِأَطْرَافِ رِجْلَيْهِ قَالَ أَبُو حُمَيْدٍ: عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [ر: ۷۹۴]

ترجمه: (مونځ ګذار دې په مانځه كښې د سجدې په حالت كښې) د خپلو خپو ګوتې هم د قبلې طرف ته اوساتي، دا ابو حميد رضي الله عنه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه نقل كړې دي.

د دې جملې متعلق د شيخ الحديث صاحب رحمه الله رائې: حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله

---

[1]) كشف الباري كښې چه د الدكتور مصطفى ديب البغا كومه نسخه د متن په توګه بنياد جوړ كړې شوې دې د هغه نسخې مطابق دې ځائې كښې د "ابواب القبلة" لوئې عنوان دې. د كوم لاندې چه د باب نمبر ۱ نه سلسله شروع شوې ده. خو په نورو نسخو كښې مثلاً: فتح الباري، عمدة القاري، ارشاد الساري وغيره مطابق د دې باب نمبر ۲۸ دې.

[2]) لامع الدراري: ۳۶۰/۲ الكنز المتواري: ۷۷/٤.

[3]) الكنز المتواري: ۷۷/٤، تقرير بخاري شريف: ۳٥٤/۲، سراج القاري: ٤۲۳/۲.

[4]) عمدة القاري: ۱۸٤/٤، سراج القاري: ٤۲۳/۲.

فرماني چونکه د مانځه شرطونه بيانيدل په دې وجه ئې اول د اودس ذکر اوکړو ځکه چه دا د ټولو نه اهم دې اوبيا ئې د لباس او بيائې د قبلې طرف ته د مخ کولو ذکر اوکړو. او شروع ئې د دې د فضيلت نه اوکړه. مګر دلته دوه اشکالات دی بلکه درې اشکال دی.

① اول دا چه اوس خو د قبلې طرف ته د مخ کولو د فضيلت ذکر شروع شو نو د هم د اوس نه څنګه چه "استقبال اطراف رجلين الى القبلة" ته اورسيدو؟ حالانکه د اطراف رجلين استقبال په سجده کښې کيږی نو پکار دا وه چه اول ئې د استقبال، قيام وغيره ذکرکړې وې او بياخی وار په وار د استقبال اطراف رجلين ذکرکړې وې.

② دويم اشکال دا دې چه صفحه ۱۱۲ باندې "باب: يستقبل القبلة بأطراف رجلين" راځی نو دا باب مکرر شو؟

③ اودريم اشکال دا دې چه په ترجمه کښې ئې "اطراف رجلين" که څرته ذکر کړې دې نو د دې روايت ئې نه دې ذکرکړې. په دې وجه که چرې "قال أبوحميد عن النبي صلى الله عليه وسلم" او وئيل (کوم کښې چه د اطراف رجلين د استقبال ذکر دې) نو هغه روايت خو تر اوسه پورې رانغلو چه هم دغې نه اشاره شوې وې، ولې چه دا روايت به په "صفة الصلوٰة" کښې راځی؟

اوس جوابونه واؤرئی: امام بخاری رحمه الله "يستقبل القبلة بأطراف رجليه القبلة" د ترجمې جزء جوړ نه کړو او "مُثْبَتْ" په فتحې د باء ئې اونه ګرځولو بلکه "مُثْبِت" په کسرې سره ئې اوګرځولو او غرض ئې په دې ذکر سره د استقبال تاکيد او فضل د استقبال واضح کول دې چه استقبال په دې درجه مؤکد دې چه په حالت د سجدې کښې هم نه شی پريخودې او د خپو د ګوتو پورې کولې شی.

او قال أبوحميد سره ئې د هغه روايت طرف ته اشاره اوکړه کوم چه وړاندې راځی. اوس هيڅ اشکال باقی پاتې نه شو ځکه چه د ټولو اشکالو مدار هم دا وو چه دائی د ترجمې جزء ګرځولې وې. هم په دې وجه تکرار هم لا زميدو، د روايت هم ضرورت پيښيدو او څه بې ترتيبی هم معلوميدله. پاتې شو دا اشکال چه ترجمه مکرر ده نو د دې شارحينو دا جواب ورکړې دې چه دلته دا باب بالتبع دې او هلته په صفحه ۱۱۲ باندې بالقصد راځی[1]

د تعليق تخريج: د ابو حميد رضي الله عنه روايت کړې شوې حديث په مکمل سند سره صفة الصلاة کښې باب: سنة الجلوس في التشهد کښې راځی. بيا دې نه پس امام بخاری رحمه الله دا ټکړه ترجمة الباب جوړولو سره هم ذکرکړې ده. يعنی باب: يستقبل القبلة بأطراف رجليه[2]

---

[1]) تقرير بخاري شريف: ١٣٩/٢، الكنز المتواري: ٤٨/٤، سراج القاري: ٤٢٤/٢.

[2]) عمدة القاري: ١٨٤/٤، حدثنا يحيى بن بكير، قال: حدثنا الليث، عن خالد، عن سعيد، عن محمد بن عمرو بن حلحلة، عن محمد بن عمرو بن عطاء، وحدثنا الليث، عن يزيد بن أبي حبيب، ويزيد بن محمد، عن محمد......

دَتعليق رجال:

قوله: ابوحميد رضي الله عنه: دا صحابی رسول حضرت ابو حمید الساعدی الانصاری المدنی رضي الله عنه دي. دَدوی دَ نوم باره کښې ډير اقوال دی. رومبې قول دَ عبدالرحمن دې. دويم قول دَ المنذر بن سعد ابن المنذر دې. دريم قول دَ المنذر بن سعد بن مالك دې. او څلورم قول المنذر بن شعد بن عمرو بن سعد بن المنذر بن سعد بن خالد بن ثعلبه ابن عمرو بن الخزرج دې.

دَدوی باره کښې وئیلی شی چه دې دَ حضرت سهل بن سعد الانصاری رضي الله عنه تره دې. دې صرف دَ نبی کريم ﷺ نه احاديث نقل کوی. اودَ دوی نه روايت کونکو کښې اسحاق بن عبدالله بن عمر بن الحکم، جابر بن عبدالله، دَ دوی نمسې سعدبن المنذر بن ابی حمید الساعدی، عباس بن سهل بن سعد الساعدی، عبدالرحمن بن ابی سعید الخدری وغیره رحمهم الله شامل دی.

دَ واقدی رحمه الله بيان دې چه دَدوی وفات دَحضرت امير معاويه رضي الله عنه دَ خلافت په آخری زمانه کښې شوې دې او دويم قول دادې چه دَ دوی وفات دَ يزيد بن معاويه دَ شروع په زمانه کښې شوې دې.(١)

دَتعليق مقصد: حافظ ابن حجر رحمه الله ليکي چه دَ امام بخاری رحمه الله دا مذکوره تعليق په دې ځائې کښې دَ ذکرکولو مقصود دادې چه دَ مونځ گذار دَ پاره په څومره اندازه باندې هم خپل اندامونه دَ قبلې طرف ته کول ممکن وی هغه هومره دې اوکړی.(٢) ليکن علامه عينی رحمه الله دَ حافظ صاحب رحمه الله دا خبره ردکولو سره فرمائی چه معامله داسې نه ده ځکه چه ترجمة الباب دَ استقبال قبله دَ فضيلت خودلو دَ پاره قائم کړې شوې دې دَ مشروعيت دَ پاره نه دې. اودَ حافظ صاحب رحمه الله دَ خبرې نه دَمشروعيت علم کيږی دَ فضيلت نه.(٣)

...... بن عمرو بن حلحلة، عن محمد بن عمرو بن عطاء، أنه كان جالسا مع نفر من أصحاب النبى صلى الله عليه وسلم فذكرنا صلاة النبي صلى الله عليه وسلم، فقال أبوحميد الساعدي: أنا كنت أحفظكم لصلاة رسول الله صلى الله عليه وسلم، رأيته إذا كبر جعل يديه حذاء منكبيه، وإذا ركع أمكن يديه من ركبتيه، ثم هصر ظهره، فإذا رفع رأسه استوى حتى يعود كل فقار مكانه، فإذا سجد وضع يديه غير مفترش ولا قابضهما، واستقبل بأطراف أصابع رجليه القبلة، فإذا جلس فى الركعتين جلس على رجله اليسرى، ونصب اليمنى، وإذا جلس فى الركعة الآخرة قدم رجله اليسرى، ونصب الأخرى وقعد على مقعدته. وسمع الليث يزيد بن أبى حبيب، ويزيد من محمد بن حلحلة، وابن حلحلة من ابن عطاء، قال أبوصالح، عن الليث: كل فقار، وقال ابن المبارك: عن يحيى بن أيوب، قال: حدثنى يزيد بن أبى حبيب، أن محمد بن عمرو حدثه، كل فقار. (صحيح البخاري، كتاب صفة الصلاة، باب: سنة الجلوس في التشهد، رقم الحديث: ٨٢٨)(وكتاب الأذان، باب: يستقبل القبلة بأطراف رجليه، رقم الحديث: ١٣١).

(١) تهذيب الكمال:٣٣/٢٦٥-٢٦٤، تهذيب التهذيب: ١٢/٨٠-٧٩، الكاشف: ٣/٣١١، الإصابة فى تمييزالصحابة: ٤/٤٦، الجرح والتعديل: ٥/٢٤٢، التاريخ الكبير للبخاري: ٧/٣٥٤، إسعاف المؤطأ برجال المؤطاللسيوطي: ٢/٣٦٦، أسدالغابة في معرفة الصحابة: ٢/٣٤٩، ٤/٣٩١، ٥/٧٨، معرفة الصحابة لأبى نعيم، ص: ٢٥١٥، الإستيعاب فى معرفة الأصحاب، ص: ٤٤٩.

(٢) فتح البارى: ١/٦٤٣.

(٣) عمدة القارى: ٤/١٨٥.

دَتعليق دَ ترجمة الباب سره مناسبت: علامه عيني رحمه الله فرمائي كله چه دَ استقبال قبله فرضيت اودَ دې استقبال فضيلت اوپيژندلې شي نو بيا به دَ تعليق اوترجمة الباب مناسبت هم واضح شي. اودا دواړه امور بديهي دي چه دَ مونځ كدار نه دَخپل بدن اندامونه څومره دَ قبلې طرف ته كول ممكن وي هم هغه هومره قبلې ته كول فرض دي اودا عمل مسنون دې چه دَ خپو دَ گوتو پورې دې قبلې طرف ته كړي. چنانچه په تعليق كښې هم دَ رسول الله ﷺ دَ سجدې په حالت كښې دَ خپو دَ گوتو دَ قبلې طرف ته كول ذكر دي او هم په دې كښې دَ ترجمة الباب سره مطابقت دې.(١)

حديث باب (رومبې حديث) [حديث نمبر ٣٨٥/٣٨٤]

- ٣٩٠ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَبَّاسٍ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ الْمَهْدِيِّ قَالَ حَدَّثَنَا مَنْصُورُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ مَيْمُونِ بْنِ سِيَاهٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ (٢) قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - مَنْ صَلَّى صَلاَتَنَا، وَاسْتَقْبَلَ قِبْلَتَنَا، وَأَكَلَ ذَبِيحَتَنَا، فَذَلِكَ الْمُسْلِمُ الَّذِي لَهُ ذِمَّةُ اللَّهِ وَذِمَّةُ رَسُولِهِ، فَلاَ تُخْفِرُوا اللَّهَ فِي ذِمَّتِهِ».

ترجمه حديث: د حضرت انس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو كوم سړي چه زمونږ دَ مونځ په شان مونځ اوكړي او هم زمونږ په شان استقبال قبله اوكړي. او زمونږ ذبح كړې شوي څاروي اوخوري نو هغه به داسې مسلمان شميرلې شي دَ چا دَ پاره چه دَ الله اودَ هغه دَ رسول دَ طرف نه دَ امان وعده ده نو تاسو دَ الله تعالى په دغه وعده كښې خيانت مه كوئي.

تراجم رجال: په مذكوره حديث شريف كښې پنځه رجال دي:

① عمرو بن عباس رحمه الله: دا عمرو بن العباس الباهلي البصري الاهوازي الرزي رحمه الله دې دَدوي كنيت ابو عثمان دې. دې چه دَ كومو مشائخو نه روايت كوي په هغوي كښې عبدالرحمن بن مهدي، ابراهيم بن صدقه، ابراهيم بن ناصح، سفيان بن عيينه، محمد بن جعفر المنذر، محمد بن مروان العجلي او يزيد بن هارون وغيرهم رحمهم الله شامل دي.

اودَ دوئ نه روايت كونكو كښې امام بخاري، حرب بن اسماعيل الكرماني، عباس بن عبدالعظيم العنبري، عبدان بن احمد الاهوازي، عيسى بن شاذان، محمد بن ابراهيم بن جناد، محمد بن عمرو ابن عباد بن جبله بن ابى رواد او ابوبكر بن سليمان البزار وغيرهم رحمهم الله شامل دي.

ابن حبان رحمه الله دوي په الثقات كښې شمير كړې دې. دَ دوي وفات ذوالحجه ٢٣٥هجري كښې شوې دې.

---

(١) عمدة القاري: ١٨٤/٤.

(٢) اخرجه البخاري أيضا تحت رقم الحديث: ٣٩٣-٣٩٢ والنسائي في الأيمان، باب: صفة المسلم، رقم الحديث: ٤٩٩٧ وفي جامع الأصول، حرف الهمزه، الكتاب الأول: في الإيمان والإسلام، الباب الأول: في تعريفها، الفصل الأول: في حقيقتها، رقم الحديث: ١٨، ٢٣٥/١.

④ ابن مهدي رحمه الله: دا عبدالرحمن بن مهدي بن حسان بن عبدالرحمن العنبري الا زدي رحمه الله دي. علامه مزي رحمه الله دَدوي دَمشائخو او شاگردانو يو ډير اوږد فهرست ذكر كړې دې. دَدوي نه يو څو دلته ذكركولې شي:
مشائخو كښې منصور بن سعد، ابان بن يزيد العطار، ابراهيم بن سعد الزهري، ابراهيم بن نافع المكي، اسرائيل بن يونس، الاسود بن شيبان، حماد بن سلمه، سلام بن ابي مطيع وغيره رحمهم الله شامل دي. او په شاگردانو كښې عمرو بن عباس الباهلي الرزي، عبدالله بن المسندي، علي بن المديني، عمرو بن علي الفلاس، محمد بن المثنى، اسحاق بن راهويه وغيره رحمهم الله شامل دي.
دَدوي پيدائش په ۱۳۵هجري كښې شوې دې. ابوعبدالله رحمه الله وائي چه ما بصره كښې دَ يحيى بن سعيد او عبدالرحمن غوندې بنده نه دې ليدلې اوپه دواړو كښې هم زيات فقيه عبدالرحمن وو. علي بن المديني رحمه الله به ډير كرتې وئيل "عبدالرحمن اعلم الناس" علي بن احمد الازدي رحمه الله دَ علي بن المديني رحمه الله نه روايت كوي چه يحيى بن سعيد أعلم بالرجال وو او عبدالرحمن رحمه الله أعلم بالحديث وو. اوفرمائيل به ئې چه دَعبدالرحمن دَ علم بالحديث باره كښې به زمادا شبهه پيدا كيدله چه دَ هغوي علم جادوئي علم دې. ده به هره شپه نيم قرآن لوستلو او دوو شپو كښې به ئې قرآن پاك ختمولو. ابو بكر الا ثرم رحمه الله وائي چه ما احمد بن حنبل رحمه الله نه داسې اوريدلي دي چه كله عبدالرحمن بن مهدي رحمه الله دَ يو سړي نه روايت اوكړي نو هغه سړې به هم حجت وي. دَ دوي وفات ۱۹۸هجري كښې شوې دې.[1]

③ منصور بن سعد رحمه الله: دا منصور بن سعد البصري رحمه الله دې. دې دَ صاحب اللؤلؤ په نوم باندې مشهور دې. دَدوي په مشائخو كښې ميمون بن سياه، بديل بن ميسري العقيلي، ثابت البناني، حماد بن ابي سليمان، عباد بن كثير، فرزدق شاعر او عمار بن ابي عمار وغيرهم رحمهم الله شامل دي. او په شاگردانو كښې ئې عبدالرحمن بن مهدي، جارود بن يزيد، حسان بن ابراهيم او ابو سلمه موسى بن اسماعيل وغيرهم رحمهم الله شامل دي.
دَدوي باره كښې يحيى بن معين فرمائي: ثقة. علي بن المديني رحمه الله فرمائي: لم يكن به بأس. امام نسائي رحمه الله فرمائي: ثقة. ابن حبان كتاب الثقات كښې دَ دوي ذكر كړې دې.[2]

④ ميمون بن سياه رحمه الله: دا ميمون بن سياه البصري رحمه الله دې. دَ دوي كنيت ابوبحر دې. دې دَ حضرت انس بن مالك رضي الله عنه، جندب بن عبدالله البجلي، حسن بصري او حوشب وغيره رحمهم الله نه روايت كوي. اودَ دوي نه روايت كونكو كښې منصور بن سعد اللؤلؤي، حزم القطعي،

---

[1] تهذيب الكمال:۱۷/۴۳۲-۴۳۰، الطبقات الكبرى لابن سعد: ۷/۲۹۷، الثقات لابن حبان: ۸/۳۷۳، سير أعلام النبلاء: ۹/۱۹۲، تهذيب التهذيب: ۶/۲۷۹، خلاصة الخزرجي:۲/رقم الترجمة:۴۲۵۹.
[2] تهذيب الكمال:۱۸/۵۲۷، الجرح والتعديل:۸/رقم الترجمة: ۷۶۰، الطبقات لابن حبان:۷/۴۷۵، تهذيب التهذيب: ۱۰/۳۰۷، الكاشف:۳/رقم الترجمة: ۵۷۳۴.

حماد بن جعفر، حميد الطويل وغيرهم رحمهم الله شامل دي.
په دوی باندې بعضې ائمهٔ رجال کلام کړې دې لیکن هغه کلام داسې نه دې دَ کوم په وجه چه دَ هغه راوی حدیث په ضعف شدید کښې داخل شي ځکه چه ډیرو زیاتو ائمه حضراتو دَدوی تعدیل هم کړې دې مثلاً یحیی بن معین رحمه الله دَ دوی باره کښې وئیلی دي: ضعیف.
ابو داؤد رحمه الله دَدوی باره کښې وئیلی دي: "لیس بذاك". ابن حبان رحمه الله دَدوی ذکر کتاب الثقات کښې کړې دې. او وئیلی ئې دي: یخطئ، دې نه پس ابن حبان رحمه الله المجروحین کښې هم دَدوی ذکر کړې دې او فرمائیلی ئې دي چه دې دَ مشاهیر نه منکر روایت بیانولو کښې منفرد وې اوکله چه دې منفرد وی نو هغه وخت دَ دوی دَ روایت نه حجت نیول زما خوښ نه دي.
ابو حاتم رحمه الله دې ثقه ګرځولې دې. امام دارقطني رحمه الله هم فرمائیلي دي: یحتج به. حسن بن سفیان رحمه الله فرمائي: دا سید القرآء وو او حزم القعطي رحمه الله فرمائي چه ده به نه دَ چا غیبت کولو او نه به ئې اوریدلو. دَده په مجلس کښې چه به غیبت شروع کیدو نو رتلو به ئې ګني دَ مجلس نه به پاسیدو.
حافظ ابن حجر رحمه الله اول دَ جرح کلمات نقل کړي دي بیاني دَ تعدیل کلمات ذکر کړي او فرمائیلي ئې دي چه امام بخاري رحمه الله او امام نسائي رحمه الله دَدوی روایت نقل کړې دې.
الدکتور بشار عواد اول دَ ضعیف اقوال اوبیا دَ تعدیل کلمات ذکر کړي دي. اوبیائې دَ ابن عدي رحمه الله قول نقل کړې دې چه دې دَ بصرې دَ لویو زاهدانو او عابدانو نه یو وو. او زاهد خلق احادیث داسې نه ضبط کوی لکه څنګه چه ضروری دي. زما امید دې چه دَ دوی په احادیثو کښې به څه جرج نه وي. امام بخاري رحمه الله دَ دوی صرف هم یو روایت نقل کړې دې.[1]

⑤ انس بن مالك رضي الله عنه: دامشهور او معروف صحابی رسول حضرت انس بن مالك رضي الله عنه دې.
دَ دوی په احوالو باندې تفصیلی کلام کشف الباری، کتاب الایمان، باب: من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه لاندې تیر شوی دې.[2]

شرح حدیث: «مَنْ صَلَّى صَلَاتَنَا وَاسْتَقْبَلَ قِبْلَتَنَا، وَأَكَلَ ذَبِيحَتَنَا»
حضرت انس بن مالك رضي الله عنه فرمائي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو کوم سړې چه زمونږ دَ مونځ کولو په شان مونځ اوکړی، او زمونږ دَ قبلې طرف ته مخ کړی او زمونږ ذبح کړې شوې څناور اوخوري.

قوله: "من صلی صلاتنا"، أی: صلی کما نصلی، یعنی چه څنګه قیام، قراءت رکوع سجود وغیره

---

[1]) تهذیب الکمال: ٢٠٤/٢٩، الثقات لابن حبان: ٤١٢/٥، تهذیب التهذیب: ٣٨٩/١٠-٣٨٨، الطبقات الکبری لابن سعد: ١٥٢/٧، خلاصة الخزرجی:١٣رقم الترجمة: ٧٣٥٠، تقریب التهذیب:٢٢٣/٢، تحریر تقریب التهذیب: ٤٤٥/٣، هدی الساری،لابن حجر، ص:٦٢٩.
[2]) کشف الباری: ٤/٢.

سره مونږ مونځ كوو هغه شان هغوى مونځ اوكړى. لفظ "صلاتنا" منصوب بنزع الخافض دې. نفس الامركښې دا لفظ دَ محذوف مصدر صفت دې. پوره جمله به داسې شى: "صلى صلاة كصلاتنا" بيا تخفيفا مصدر او خافض يعنى "ك" تشبيه حذف كړې شو او "صلى صلاتنا" باقى پاتې شو.[1]

دَ مسلمانيدودپاره ضرورى امور: په مذكوره حديث شريف كښې درې كارونه كونكې كس مسلمان ګرځولې شوې دې. په دې كښې ئى اولنئ خبره "من صلى صلاتنا" په دې وجه ذكركړه چه زمونږ په شان مونځ كونكې هغه سړې كيدې شى چه دَ توحيد او رسالت اقرار كونكې وى. او كوم سړې چه دَ توحيد او رسالت اقرار كونكې وى هغه به يقينًا "جميع ما جاء به رسول الله صلى الله عليه وسلم من الله تبارك وتعالى" هم اقرار كونكې وى. او دَدې معنى داده چه هغه مسلمان شو. ځكه چه هم هغه خو مسلمان وى څوك چه تصديق كوى دَ هغه پوره دين او شريعت كوم چه رسول الله ﷺ راوړې دې. نوداسې مونځ كول به دَ هغه دَ اسلام علامت شى لهذا هغه به مسلمان ګرځولې شى.[2]

قوله: "واستقبل قبلتنا" اوزمونږ دَ قبلې طرف ته مخ كولو سره مونځ اداكړى.

استقبال قبله مستقلاً ذكركولو حكمت: په دې جمله باندې اشكال راځى چه دَاستقبال قبله ذكر خو په صلاة كښې موجود وو نوبيا دا ځان له ولې ذكركړې شو؟

نودَدې جواب دادې چه قبله په مقابله دَ مونځ كښې زياته مشهوره ده. بې شميره كسان وى چه دَ مونځ دَ كولو دَ آدابو، شرطونو او اصولو وغيره نه ناخبره او جاهل وى ليكن هغوى هم قبله پيژنى او هغوى ته معلومه وى چه زمونږ قبله كومه ده او كوم طرف ته ده.

دې نه علاوه بله خبره هم ده چه دَ مونځ ډير اركان داسې دى چه زمونږ مونځ او دَ نورو په مونځونو كښې مشترك دى مثلاً قيام: زمونږ په مونځ كښې هم دې اودَ يهودو په مونځ كښې هم دې. قراءت زمونږ په مونځ كښې هم دې اودَ يهوديانو په مونځ كښې هم دې. ليكن قبله كښې زمونږ اودَ هغوى فرق دې. په دې وجه ئى دَ "من صلى صلاتنا" نه پس "واستقبل قبلتنا" ذكر اوفرمائيلو.[3]

علامه عينى رحمه الله فرمائى[4] كله چه دَهغه عبادتونو ذكر اوكړې شو دَ كوم په ذريعه چه به په مسلم اوغيرمسلم كښې فرق كيدلو نودَ هغې نه پس ئى هغه څيز ذكركړو چه عبادت او

---

[1] عمدة القارى: ١٨٦/٤، ذخيرة العقبى شرح سنن النسائى، كتاب المحاربة، باب: تحريم الدم، رقم الحديث: ٣٩٦٧، ٢٢٦/٣١.

[2] عمدة القارى: ١٨٦/٤، تحفة الأبرار شرح مصابيح السنة، كتاب الإيمان، رقم الحديث: ٨٠، ٤٧/١.

[3] فتح البارى: ٦٤٤/١، عمدة القارى: ١٨٦/٤، إرشادالسارى: ٥٣/٢، ذخيرة العقبى شرح سنن النسائى، كتاب المحاربة، باب: تحريم الدم، رقم الحديث: ٣٩٦٧، ٢٢٦/٣١.

[4] عمدة القارى: ٦٤٤/١.

عادت د دوارو په اعتبارو سره مسلم اوغیر مسلم کښې فرق ښکاره کوي. اوهغه دې زمونږ د ذبیحې استعمالول، دَدې طرف ته ئې اشاره کولو سره اوفرمائیل:

دَ "أکل ذبیحة" دَ شرط اهمیت: "أكلوا ذبيحتنا" دا جمله په اصل کښې په دې خبره باندې ذلالت کوي چه څنګه من حيث العبادة زمونږ او دَ نورو په مينځ کښې په ډيرو کارونوکښې فرق دې. دغه شان ډير څيزونه داسې هم دی چه من حيث العبادة او من حيث العادة زمونږ اودَ هغوی په مينځ کښې فرق دې. " اکل ذبیحه" مسئله هم داسې ده چه عادت هم دغه دې چه دَ یو ملت خلق دَ بل ملت ذبيحه نه استعمالوی اودَ عبادت په نقطه نظر سره هم دَ یو ذبیحه دَبل دَ پاره صحیح اوټیك نه شی ګرځولې کیدې. په دې وجه ئې په حدیث کښې "واستقبل قبلتنا" نه پس "وأكل ذبيحتنا" ذکر کړو.(١)

دَ علامه ګنګوهی رحمه الله رائې: علامه رشيد احمد ګنګوهی رحمه الله فرمائی چه دَ "أكلوا ذبيحتنا" قید دَ هغه کافرانو (دَ اسلام نه جدا ساتلو یا) دَ ویستلو دَپاره دې کوم چه دَمسلمانانو ذبیحه نه خوری ګنی مشرکان او یهودیان او نصاری خودَ مسلمانانو ذبیحه خوری. دَ دې نه احتراز مقصود نه دې.(٢)

دَحضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله رائې: دَدې په شرح کښې حضرت شیخ الحدیث رحمه الله لیکی چه دَدې عبارت په ذریعه حضرت شیخ رحمه الله دَدې اعتراض جواب ورکړې دې چه مشرکان او اهل کتاب خودَ مسلمانانو ذبیحه خوری نوبیادَ هغوی ذکرولې اوکړې شو؟ نوحضرت ګنګوهی رحمه الله چه کوم جواب ورکړو دَهغې حاصل دادې چه بعضې مشرکانو او بعضې اهل کتابو به دَمسلمانانو ذبیحه نه خوړله او بعضې هغه وو چه دَ غیرالله دَ پاره به ئې ذبح کوله. نودَ اول الذکر په رد کښې "أكل ذبيحتنا" اوفرمائیل او دَ ثانی الذکر دَ رد دَپاره دَ روایاتو نه په یو روایت کښې " ذبحوا مثل ذبيحتنا" الفاظ هم ملاویږی.(٣)

دَ علامه طیبی رحمه الله رائې: که په حدیث شریف کښې مذکوره کلام دَ یهودو په مقابله کښې شمیرکړې شی نومعامله آسانه ده چه دَاستقبال عطف په صلاة باندې کول اوبیا دَ ذبیحې خان له په خاص توګه باندې ذکرکولو سره ټول کارونه آسانیږی. څکه چه یهودو به دَ مسلمانانو ذبیحه نه خوړله. داخو هغه خلق وو چا چه مسلمانانو ته هغه وخت پیغورونه ور کړی وو کوم وخت چه مسلمانانوته دَ کعبې طرف ته مخ ګرځولو حکم شوې وو. دَ کوم طرف ته چه قرآن پاك اشاره اوکړه: ﴿مَاوَلّٰهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِيْ كَانُوْا عَلَيْهَا﴾ چنانچه په حدیث شریف

---

(١) عمدة القاري: ١٨٦/٤ الكاشف عن حقائق السنن المعروف بشرح الطيبي، كتاب الإيمان . رقم الحديث:١٣، ١٣١/١.

(٢) لامع الدراري: ٢٦٢/٢.

(٣) الكنز المتواري: ٨٠/٤.

کښې هغوی د مسلمانانو نه د جدا کولو د پاره اوفرمائیلې شو چه هغوی دې زمونږ په شان مونځ اوکړی او قبلې طرف ته مخ کولو باره کښې او زمونږ د ذبیحې د خوړلو نه د منع کیدلو باره کښې دې مونږ سره جګړه پریږدی نو هغوی به مسلمانان شمیرلې شی.(۱)

"ذبیحة" د فعیلة په وزن باندې د مفعولة په معنی دې او "التاء" د جنس د پاره ده لکه "الشاة" کښې نو معنی به ئې ذبح کړې شوې څناور وی.(۲)

قوله: فَذَلِكَ الْمُسْلِمُ الَّذِي لَهُ ذِمَّةُ اللَّهِ وَذِمَّةُ رَسُولِهِ، فَلاَ تُخْفِرُوا اللَّهَ فِي ذِمَّتِهِ»
نو هغه به داسې مسلمان شمیرلې شی د چا د پاره چه د الله اود هغه د رسول د طرف نه د امان وعده ده. نو تاسو د الله تعالی په دغه وعده کښې خیانت مه کوئی.

قوله: "فذلك" اسم اشاره ده د دې مشار الیه به "من جمع هذه الأوصاف الثلاثة" شی. مطلب به داشی چه هغه سړې څوك چه دا دریواړه صفات په خپل ځان کښې راجمع کړی هغه به مسلمان وی. نو "ذلك" به د خپل مشار الیه سره مبتداء شي اود دې خبر به وړاندې پوره جمله شی.(۳) بیا به جمله اسمیه د شرط د پاره جزاء جوړه شی.(۴)

"ذمة الله" د ذمة نه مراد امان، وعده او کفالت دې. یعنی داسې سړې د الله په امان کښې، د الله په حفاظت کښې اود الله په کفالت کښې دې(۵)
د دې پوره جملې مطلب به داشی چه کوم سړې دغه مذکوره دریواړه کارونه اوکړی هغه به د الله اود هغه د رسول ﷺ په حفاظت کښې راشی د کافرانو د وبال نه یعنی کافرانو سره چه کوم قتل وغیره مشروع دی د دغه سړی نه به دغه حکم اوچت کړې شی. د "ذمة" لفظ مکرر ذکر کړې شوې دې د الله سره هم او د رسول سره هم، په دې سره دا خودل مقصود دی چه د دواړو ذمه، امان او حفاظت د دنیا مقصود دې اګرچه اصل ذمه خو هم د الله ده اودا هم مقصود دی چه دواړه یو بل سره لا زم دی. هم په دې وجه وړاندې جملې "فلا تخفروا الله فی ذمته" کښې صرف د "ذمة الله" په ذکر باندې اقتصار اوکړې شو(۶)

"فلا تخفروا" دا د باب افعال نه د نهی صیغه ده. "خفر" د نصر ینصر او ضرب یضرب نه د امان او حفاظت په معنی کښې استعمالیږی اوکله چه دا په باب افعال کښې مستعمل وی نو همزه د افعال به د سلب او ازالې په معنی کښې استعمالیږی. مطلب به داشی چه امان مات کړې

---

(۱) الکاشف عن حقائق السنن المعروف بشرح الطیبی، کتاب الإیمان، رقم الحدیث: ۱۳، ۱۳۱/۱.
(۲) مرقاة المفاتیح، کتاب الإیمان، رقم الحدیث: ۱۳، ۱۵۲/۱ضیاء الساری فی مسالک أبواب البخاری: ۲۵۷/۵.
(۳) مرقاة المفاتیح، کتاب الإیمان، رقم الحدیث: ۱۳، ۱۵۲/۱ .
(۴) عمدة القاری: ۱۸۶/٤، إرشاد الساری:۵۳/۲.
(۵) الصحاح للجوهری، ص: ۳۷۵، النهایة لابن اثیر: ۶۱۲/۱، مصابیح الجامع للدمامینی: ۱۰۸/۲.
(۶) فتح الباری: ۶٤٤/۱، عمدة القاری: ۱۸۲/۱، مرقاة المفاتیح، کتاب الإیمان، رقم الحدیث: ۱۳، ۱۵۲/۱.

شو، دَ حفاظت نه اوویستلې شو، په وعده کښې خیانت اوکړې شو. چنانچه "فلاتخفروالله" معنی به دا شی تاسو الله سره خیانت مه کوئی او دَ هغه ورکړې شوې امان مه ماتوئی.[1]

"فی ذمته" کښې دَ "ه" ضمیر مرجع کښې دوه احتمالات دی یو دا چه دَدې مرجع الله وی او دویم دا چه دَدې مرجع مسلم وی. په اول الذکر کښې به مطلب داشی چه دَدې مسلمان دَ ځان، مال، عزت او ناموس پسې کیدوسره دَ الله تعالی په ورکړې شوی امان کښې دَ خیانت مرتکب مه جوړیږئ. او په ثانی الذکر کښې به مطلب داشی چه دَدې مسلمان باره کښې دَ الله تعالی وعده مه ماتوئی.[2]

علامه خطابی رحمه الله دَدې جملې مطلب دا بیان کړې دې: "معناه: لاتخونوا الله فی تضییع حق من هذا سبیله" چه څوك دغه دریواړه اعمال اختیار کړی دَ دې په لار روان شوی وی نو تاسو دَ هغوی حقوق ختمولو سره دَ الله تعالی سره خیانت مه کوئی.[3]

دَ حدیث دَ ترجمة الباب سره مناسبت دَمذکوره حدیث شریف دَترجمة الباب سره مناسبت دَ "واستقبل قبلتنا" دَ لفظ دَ وجې. دَدې جملې ذکر دَ قبلې په شان باندې دَ تنبیه په توګه ذکر دې ځکه چه استقبال قبله خو من جمله دَ نورو شرائطو "من صلی صلاتنا" کښې شامل وو.[4]

دَ حدیث مبارك نه مستفاد امور او احکام: دَمذکوره حدیث شریف نه ډیر امور او احکام مستنبط کیږی په کوم کښې چه یو څو دلته لاندې نقل کولې شی:

① دَ مذکوره حدیث نه دَ قبلې شان او عظمت معلومیږی چه دَ دې طرف ته مخ کول په مونځ کښې افضل ترین عبادت ګرځولې شوې دې. کوم سړې چه عمداً قبلې طرف ته مخ نه کړی دَ هغه مونځ قبول نه دې.[5]

② په مانځه کښې قبلې ته مخ کول مطلقًا شرط دې سواد َ ویرې دَ حالت نه، چه په داسې حالت کښې دَمونځ ګذار نه دا شرط مرتفع کیږی. بیا په دې کښې نور تفصیل دادې چه کوم سړې په مسجد حرام کښې وی دَ هغه دَ پاره دَ عین قبلې استقبال شرط دې او کوم سړې چه دَ مسجد حرام نه بهروی دَ هغه دَ پاره دَ قبلې طرف کافی دې.[6]

③ دَمسلمانانو په علامت کښې دَ ذبیحې خوړل هم معلوم شو ځکه چه دَ اهل کتابو یو

---

[1] الصحاح للجوهری، ص: ٣٠٦. النهاية فی غريب الحديث والأثر: ٥١٠/١. عمدة القاری: ١٨٦/٤. فتح الباری: ٦٤٤/١. إرشادالساری: ٥٣/٢.

[2] مرقاة المفاتيح، كتاب الإيمان، رقم الحديث: ١٣، ١٥٢/١. عمدة القاری: ١٨٦/٤. إرشادالساری: ٥٣/٢.

[3] أعلام الحديث فی شرح صحيح البخاری: ٣٧٥/١.

[4] عمدة القاری: ١٨٧/١. منارالقاری: ٤/٢.

[5] عمدة القاری: ١٨٥/٤. إرشادالساری: ٥٤/٢. مصابيح الجامع للدمامينی: ١٠٨/٢.

[6] عمدة القاری: ١٨٥/٤. إرشادالساری: ٥٤/٢. مصابيح الجامع للدمامينی: ١٠٨/٢. اللامع الصبيح للبرماوی: ١٣٢/٣.

جماعت اوبت پرست دَ مسلمانانو ذبیحه نه خوری([1])

④ دَمسلمان دَ عزت، ناموس، مال او ځان حفاظت زمونږ دَ ټولو ذمه واری ده([2])

⑤ داحدیث په دې خبره باندې هم دلالت کوی چه یو سړې صرف دَ شهادتین دَ وجې معصوم الدم نه ګرځی نه بلکه په هغه باندې لا زم دی چه دَ شهادتینو حقوق هم اداکړی او په حقوقو کښې دَ ټولو نه مؤکدحکم دَ مونځ دې. هم په دې وجه ئې دا په خاص توګه ذکرکړو([3])

⑥ یوه اهم خبره دا معلومه شوه چه خلقو کښې دَ بعضو امور دَ نورو بعضو دَپاره دَهغوی په ظاهر باندې محمول وی نه چه دَهغوی په باطن باندې. اودا خبره چه کوم سړې دَ دین شعائر اودَ دین والو طور طریقې خپلوی نو په هغوی باندې هم دَ دین اودَ دین والو احکام جاری کولې شی کله چه دَهغوی باطن معلوم نه وی. لکه چه یو مسافر سړې راشی اودَ هغه ظاهری شکل او صورت دَمسلمانانو په شان وی نوهغه به هم مسلمان شمیرلې شی یعنی هغه سره به هم دَمسلمانانو سلوك کولې شی ترکومې پورې چه دَهغه نه دَ اسلام خلاف څه خبره ښکاره نه شی([4])

حافظ ابن حجر رحمه الله هم داسې لیکی چه دَ حدیث نه معلومه شوه چه دَخلقو احوال اومعاملات دَهغوی په ظاهر باندې محمول کول پکاردی. لهذا چه کوم سړی دَ دین شعائر ښکاره کړی په هغه باندې به هم دَ مسلمانانو احکام جاری کولې شی ترکومې پورې چه دَهغه نه دَدین خلاف څه خبره ښکاره نه شی.([5])

دَ اسلام دَپاره هُم دَ دغه دریو امورو دَانتخاب حکمت: علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه که چرې څوك اعتراض اوکړی چه دَ دین دَ ټولو ارکانو او واجباتو نه ئې هم دا درې ولې په خصوصیت سره ذکرکړل؟

نودَدې جواب دادې چه دا دریواړه څیزونه په دین اسلام کښې دَ ډیرې لوئی درجې دی. په دې باندې عمل کونکې ډیر زر په نورو خلقو کښې ممتاز کیږی ځکه چه په ابتدائی ملاقات کښې اکثر وختونو کښې ملاویدونکې دَخپل کوربه په باره کښې دَ هغه په مونځ باندې پابندی کول پیژنی په خلاف دَ روژې یا حج. اول ذکر شوې (روژه) خودَ امر باطن نوم دې اودَ فرض روژې په ذریعه امتیاز خو په پوره کال کښې یوه میاشت کښې کیدې شی اودَ دویم ذکر شوی (حج) معامله هم دغه شان ده. په څه کسانو باندې خودا دَ سر نه واجب نه وی او چه په چا باندې واجب وی دَهغوی نه دَدې کار پیژندګلو کښې میاشتې او کلونه لګیدې شی([6])

اهلِ قبله سره متعلق یو تحقیق: علامه انورشاه صاحب کشمیری رحمه الله فرمائی چه هم دَدې

---

[1]) عمدة القاری: ۱۸۷/٤، الشرح المیسر لصحیح البخاری: ٤٤٣/٢.

[2]) الشرح المیسر لصحیح البخاری: ٤٤٣/٢، منارالقاری: ٤/٢.

[3]) فتح الباری لابن رجب حنبلی: ۱۰۸/۲، منارالقاری: ٤/٢.

[4]) للامع الصبیح للبرماوی: ۱۳۲/۳، کوثرمعانی الدراری فی کشف خبایا صحیح البخاری: ۱۱/۷.

[5]) فتح الباری: ٦٤٤/١

[6]) شرح الکرمانی: ٥٥/٤.

احادیثو نه دَ اهلِ قبله لقب دَ اهلِ اسلام دپاره اخذ کړې شوې دي. وجه دا ده چه دا دَ اهلِ اسلام ډیر لوئې اَوښکاره علامات دی. په کوم سره چه ډیر په آسانئ سره دَ اسلام دَ دین والا دَ نورو مذاهبودَ خلقو نه ممتاز کیږی. ځکه چه هغه خلق زمونږ دَ ذبیحې نه پرهیز کوی. زمونږ په شان مونځ نه کوی او په خپلو عبادتونو کښې زمونږ دَ قبلې طرف ته هم نه مخ کوی. لهذا دا دریواړه څیزونه دَ اسلام دَپاره دَ شعار په درجه کښې دی. لیکن دا مطلب نه دې چه په کومو خلقو کښې دا دري څیزونه وی هغه به خامخا مسلمان ګنړلې شی اومسلمان به ورته وئیلې شی که هغوی دَ دین دَ (ضروری) څیزونو نه انکار هم اَوکړی. او که هغوی دَ حضورپاك ﷺ دَ ارشاد مطابق دَ دینِ اسلام نه خارج هم شی. څنګه چه غشې دَ لندې نه لرې کیږی. او ښکاره خبره ده که یو سړې پوره دین منی او په هغې باندې عمل هم کوی خو که دَ قرآن پاك دَ یو وړوکی نه وړوکی سورت نه هم انکار اوکړی یا دَهغې حکم اونه منی یا ښه پوهیدو سره دَ هغې غلطه معنی اوکړی نودَ هغه په کفر کښې شك نه شی کیدې. څه چه یو سړې دَ نبوت دعوئ اوکړی، دَ انبیاء علیهم السلام سپکاوې اوکړی، دَ هغوی دَ شان خلاف سخت نامناسب الفاظ استعمال کړی. دَ دین تحریف اوکړی. دَ رسول الله ﷺ دَ احادیثو، اخبارو، واقعاتو اودَ معجزاتو انکار او مسخرې اوکړی وغیره نودغه خلق څنګه په اسلام کښې داخل ګرځولې کیدې شی؟

چنانچه زمونږ په زمانه کښې مرزا غلام احمد قادیانی دَدې ټولو موجبات کفر ارتکاب اوکړو. حالانکه دَدې نه دَ یو کار ارتکاب هم دکفر دَ ثبوت دَپاره کافی وو. مګر افسوس چه زمونږ په دې دَ جهالت دور کښې بعضې اهلِ علم هم چا ته چه دَ فقهې په کتابونو، دَ عقیدو او کلام په کتابونو باندې پوهه نه وه حاصله. دَ مرزا په تکفیر کښې ئې تردد اوکړو او وئې وئیل چه مونږ احتیاط کوو او په دې باندې ئې ځان پوهه نه کړو لکه څنګه چه اکفارِ مسلم باندې بهادری کول ګناه ده بالکل هم دغه شان عدم اکفار کفار هم ګناه ده. او هم په دې وجه خلیفهٔ اول حضرت ابوبکر صدیق ﷛ دَ زکوة نه ورکونکو دَ جنګ باره کښې دَ حضرت عمر ﷛ تردد ته کتلو سره فرمائیلې وو: ((أجبار في الجاهلية وخوار في الإسلام؟)) یعنی دَ جاهلیت په زمانه کښې خو ډیر لوئ بهادر اَوتکړه وې، اوس دَ اسلام په زمانه کښې بزدلی او کمزوری څنګه؟ دې نه پس بیا زر حضرت عمر ﷛ خپله رائې بدله کړه او وئې فرمائیل چه زما زړه هم دَهغه خبرې دَ پاره کولاؤ شو دَ کومې دَ پاره چه دَ حضرت ابوبکر ﷛ زړه کولاؤ شوې وو. او هغه پوهه شو چه دَ احتیاط تقاضا هم هغه وه کومه چه حضرت ابوبکر ﷛ اختیارکړې وه[1]

دَ اهلِ قبله تعریف: ملاعلی قاری ﷫ دَ اهلِ قبله تکفیر کولو او نه کولو بحث په مقام باندې دَ ټولو نه مخکښې دَ اهلِ قبله تعریف کولو سره فرمائی: "إعلم أن المراد بأهل القبلة، الذين اتفقوا على ما هو من ضرورات الدين كحدوث العالم، وحشر الأجساد، وعلم الله بالكليات والجزئيات، وما أشبه ذلك من المسائل، فمن واظب طول عمره على الطاعات والعبادات مع اعتقاد قدم العالم، أو نفي الحشر، أو نفي علمه

---

[1] انوار الباري: ۱۲/۱۷۹.

سبحانه بالجزئيات لايكون من أهل القبلة([1])

ترجمه: داخبره پیژندل پکار دی چه دَ اهل قبله نه مراد هغه خلق دی چه په ټولو ضروریاتو دینیه باندې اتفاق لري، مثلاً: عالم حادث دې (یعنی الله تعالی دا پیدا کړی دی) اوخلق به دَ خپلو بدنونو سره په قیامت کښې پوځائی کیږي. او الله تعالی دَ ټولو کلیاتو او جزئیاتو علم لري. اودې په شان نور مسائل هم هغه سرې مني. نو چه کوم سړې ټول عمر دَ طاعاتو او عباداتو پابندی کوی لیکن دَ هغه عقیده دا وی چه عالم قدیم دې (یعنی دَ همیشه نه دې) او په قیامت کښې به خلق دَ خپلو بدنونو سره نه راپوځائی کیږي یا الله تعالی ته دَ جزئیاتو (یعنی دَهرڅیز) علم نشته دې نو داسې سړې دَاهل قبله نه نه دې.

بیا نور فرمائی: ((وإن المراد بعدم تكفير أحد من أهل القبلة عند أهل السنة أنه لايكفر مالم يوجد شيئ من أمارات الكفر وعلاماته ولم يصدر عنه شيئ من موجباته))([2])

ترجمه: اودَ اهل سنت په نیز دَاهل قبله تکفیر نه کولو مراد دادې چه دَهغوی به ترهغه وخته پورې تکفیر نه شی کولې ترکومې پورې چه په هغوی کښې دَ کفر نښو اوعلامو نه څه څیز موجود نه شی اوترکومې پورې چه دَهغوی نه دَ موجبات کفر نه څه خبره صادرنه شی

دَملاعلی قاری رحمه الله مذکوره بحث ته کتلو سره دَحدیث الباب وضاحت کیږي چه هلته دَ دریوکارونو کونکو دَ پاره دَ الله اودَ هغه دَ رسول ﷺ د ضمان اعلان کړې شوې دې نو هلته په ظاهری توګه باندې دَ دغه دریوارو کارونو کونکی به صرف ترهغه وخته پورې مسلمان ګڼړلې شی ترکومې پورې چه دَهغوی نه دَ دین دَ نورو ضروریاتو نه انکار مخې ته رانه شي اوکله چه دَهغوی نه دَ نورو ضروریات دینیه خلاف څه خبره صادرشی نوبیا دَهغوی دَپاره دَ الله اودَ هغه دَ رسول ﷺ ضمان نشته دَې. بلکه دَهغوی تکفیر به کیږي. یعنی هغوی سره به دَ مسلمانانو والا سلوك نه شی کولې. کتب علم الکلام والعقائد کښې دَدې امر پوره تصریح موجود ده.

دَ ابن امیرالحاج رحمه الله تشریح: محقق ابن امیر الحاج رحمه الله فرمائی: ((أهل القبلة، هوالموافق على ماهومن ضروريات الإسلام كحدوث العالم وحشر الأجساد من غيرأن يصدر عنه شيئ من موجبات الكفر قطعا من اعتقاد راجع إلى وجود إله غيرالله تعالى، أوإلى حلوله في بعض أشخاص الناس، أوإنكار نبوة محمد صلى الله عليه وسلم أو ذمه، أو استخفافه، ونحو ذلك المخالف في أصول سواها مما لانزاع أن الحق فيه واحد كمسألة الصفات وخلق الأعمال وعموم الإرادة، وقدم الكلام ولعل إلى هذا أشار المصنف ماضيا بقوله إذ تمسكه بالقرآن، أو الحديث، أو العقل إذ لا خلاف في تكفير المخالف في ضروريات الإسلام من حدوث العالم وحشر الأجساد ونفي العلم بالجزئيات، وإن كان من أهل القبلة المواظب طول العمر على الطاعات، وكذا المتلبس

---

[1] شرح الفقه الأكبر للملاعلي القاري، مسئلة: استحلال المعصية ولو صغيرة كفر، ص: ۲۵۸.
[2] شرح الفقة الأكبر للملاعلي القاري:مسئلة: استحلال المعصينة ولو صغيرة كفر، ص: ۲۸۵.

بشيئ من موجبات الكفر ينبغي أن يكون كافرا بلا خلاف، وحينئذ ينبغي تكفير الخطابية لما قدمناه عنهم في نقل شرائط الرواي، وقد ظهر من هذا أن عدم تكفير أهل القبلة بذنب ليس على عمومه إلا أن يحمل الذنب على ماليس بكفر، فيخرج المكفر به كما أشار إليه السبكي»[1]

ترجمه: اهل قبله هغه دی څوك چه موافق وی دَ دين د ټولو ضرورياتو لکه دَ عالم حدوث او حشر اجساد، په داسې توګه چه دَده نه څه څيز دَموجبات کفر نه اونه شي مثلاً، داسې عقيده چه دَ الله تعالی سره چرته بل يو خدائی اله منلو طرف ته بونه څي يا دَ الله تعالی په يو سرې کښې دَ حلول کيدلو طرف ته يا دَ نبی اکرمﷺ دَ نبوت نه دَانکار طرف ته، يا دَ رسول الله ﷺ دَ مذمت او استخفاف طرف ته بونه څي، يا دَدې په شان نورو خبرو طرف ته بونه څي (تردې چه مصنف رحمه الله فرمائی چه) دې نه معلومه شوه چه دَاهل قبله دَڅه ګناه دَ وجې دَ تکفير نه کولو حديث په خپل عموم باندې نه دې. البته که دَ ګناه نه مراد دَ کفر نه علاوه څه بله معنی واخستې شی لکه چه دَهغې طرف ته ملاسبکی رحمه الله اشاره کړې ده نو عموم مراد اخستې شی.

دَعلامه تفتازانی رحمه الله تشريح: په شرح المقاصد کښې علامه تفتازانی رحمه الله فرمائی: «ومعناه أن الذين اتفقوا على ما هو من ضروريات إسلام كحدوث العالم وحشر الأجساد، وما أشبه ذلك، واختلفوا في أصول سواها كمسألة الصفات، وخلق الأعمال، وعموم الإرادة، وقدم الكلام، وجواز الرؤية، ونحو ذلك مما لا نزاع أن الحق فيها واحد، هل يكفر المخالف للحق بذلك الاعتقاد والقول به أم لا؟ فلا نزاع في كفر أهل القبلة المواظب طول العمر على الطاعات باعتقاد قدم العالم ونفي الحشر، ونفي العلم بالجزئيات، ونحو ذلك، وكذا بصدور شيئ من موجبات الكفر عنه»[2]

ترجمه: کوم خلق چه په ضروريات اسلام باندې خو متفق دی مثلاً حدوث عالم او حشر وغيره منی، اودَ دې نه علاوه په نورو اصولو کښې اختلاف کوی لکه مسئلهٔ صفات او خلق افعال او عموم اراده اودَ کلام الله قديم کيدل اودَ رؤيت دَ الله جواز وغيره، په کوم کښې چه هيڅ څه جګړه نشته دې چه په دې کښې حق هم يو دې نو آيا دَدې عقيدې او دَدې دَ قائل کيدو دَ وجې نه دَ دغه حق مخالفت کونکی تکفير به کولې شی که نه؟ نودَ داسې اهل قبله په تکفير کښې هيڅ اختلاف نشته دې چه ټول عمر په هميشه والی سره دَ قديم عالم او نفی دحشر او نفی دَعلم بالجزئيات وغيره قائل وی او هم دغه شان دَ موجبات کفر نه دَ يو څيز په صادر کيدو سره دَهغه په کفر کښې هيڅ اختلاف نشته دې.

دَ صاحب غاية التحقيق علامه عبدالعزيز البخاری رحمه الله تشريح: علامه عبدالعزيز بن احمد ابن

---

[1] التقرير والتحبير لابن أمير الحاج على التحرير في أصول الفقه، المقالة الثالثة: في الاجتهاد وما يتبعه من التقليد والإفتاء: ۴۰۲/۳.

[2] شرح المقاصد للتفتازاني، المبحث السابع: في حكم مخالف الحق في أهل القبلة: ۲۲۸/۵.

محمد البخاري رحمه الله دَ اصول فقه كتاب دَ حسامي په شرح غاية التحقيق كښې فرمائي: «إن غلا فيه (أي: في هواه) حتى وجب الكفارة به لايعتبر خلافه ووفاقه أيضا لعدم دخول في مسمى الأمة المشهود لها بالعصمة وإن صلى إلى القبلة واعتقد نفسه مسلما، لأن الأمة ليست عبارة عن المصلين إلى القبلة بل عن المؤمنين، وهو كافر، وإن كان لايدري أنه كافر»[1]

ترجمه: كه چرې يو سړى په خپلو نفساني خواهشاتو كښې غلو اوكړه تردې چه دَهغه تكفير واجب شو نودَدې (تكفير) دَخلاف به اعتبار نه شي كولې. څكه چه دا سړې دَامت په هغه طبقه كښې شامل نه دې دَچا دَ پاره چه دَ حفاظت او عصمت وعده كړې شوې ده. اګر كه دا سړې دَ قبلې طرف ته مخ كولو سره مونځ هم كوي او خپل ځان مسلمان هم ګڼړي. څكه چه امت دَ قبلې طرف ته مخ كولو سره دَ مونځ كونكو نوم نه دې بلكه امت خود مؤمنانو نوم دې او داسې سړې (چه غلو كونكې وي) كافر دې اګرچه هغه ته دَ خپل كفر علم نه وي.

دَعلامه عبدالعزيز الفرهاوي رحمه الله تشريح: علامه عبد العزيز الفرهاوي رحمه الله دَ شرح العقائد شرح النبراس كښې فرمائي: «"ومن قواعد أهل السنة أن لايكفر" مجهول من التكفير، وهو النسبة إلى الكفر "أحد من أهل القبلة" معناه اللغوي: من يصلي إلى القبلة، أو يعتقدها قبلة، وفي اصطلاح المتكلمين: من يصدق بضروريات الدين، أي: الأمور التي علم ثبوتها في الشرع واشتهر، فمن أنكر شيئا من الضروريات كحدوث العالم وحشر الأجساد وعلم الله سبحانه بالجزئيات وفرضية الصلاة والصوم، لم يكن من أهل القبلة، ولوكان مجاهدا في الطاعات وكذلك مَن باشر شيئا مِن أمارات التكذيب كسجود الصنم والإهانة بأمر شرعي والاستهزاء عليه، فليس مِن أهل القبلة، ومعنى عدم تكفير أهل القبلة أن لايكفر بارتكاب المعاصي ولا بإنكار الأمور الخفية غير المشهورة، هذا ماحققه المحققون، فاحفظه»[2]

ترجمه: دَ اهل سنت دَ قواعدو نه يوه قاعده داده چه دَ اهل قبله تكفير به نه شي كولې. اهل قبله دَمعنى لغوي مطابق هغه سړي ته وئيلى شي چه دَ قبلې طرف ته مخ كولو سره مونځ اداكونكې وي. يا دَ قبلې دَ قبله كيدو عقيده لرونكې وي. او دَ متكلمينو په اصطلاح كښې هغه سړې دې چه دَدين دَ ټولو ضروورياتو تصديق كوي. يعني دَ هغه امورو دَكوم ثبوت چه په شريعت كښې معلوم اومشهور وي. نو چه څوك انكار اوكړي دَ يو دَ دين دَ ضرورياتو نه، لكه حدوث عالَم، حشر، علم الله بالجزئيات او فرضيت دَمونځ او روژې نو هغه به دَ اهل قبله نه نه وي. سره دَدې چه هغه دَ طاعاتو پابند وي. او دغه شان هغه سړې به هم دَ اهل قبله نه نه وي چه څه داسې كار اوكړي كوم چه دَتكذيب ښكاره علامت وي لكه بت ته سجده كول، يا يو داسې كار اوكړي چه په هغې سره دَ شريعت دَ يو امر سپكاوې كيږي نو هغه دَ

[1]) غاية التحقيق، ص: ۲۰۸، ميرمحمد كتب خانه، كراتشي.
[2]) النبراس على شرح العقائد، الاستهزآء على الشريعة كفر، ص: ۵۷۲-۵۷۱.

اهل قبله نه نه دي. او دَ اهل قبله دَ تكفير نه كولو مطلب دادې چه دَ ګناه دَ كولو دَ وجې دې دَ هغه تكفير اونه كړې شي يا دَ يو داسې پټ غير مشهور څيز دَ انكار دَ وجې دې دَ هغه تكفير اونه كړې شي. دا هغه تحقيق دې كوم چه محققينو صحيح ګرځولې دې، دا محفوظ كړئ.

دَعلامه شمس الدين محمدبن عبدالرحمن السخاوي رحمه الله تشريح: علامه شمس الدين محمدبن عبدالرحمن السخاوي رحمه الله "فتح المغيث شرح الفية الحديث" كښې فرمائي: «إذ لا يكفر أحد من أهل القبلة إلا بإنكار قطعي من الشريعة»[۱] يعني مونږ دَ اهل قبله نه دَ چا تكفير نه كوو مګر دَ شريعت دَ يو قطعي امر نه دَ انكار دَ وجې.

دغه شان شارح هدايه المسمى ب العناية علامه بابرتي رحمه الله (۲)

او علامه الغنيمي الميداني رحمه الله (۳)

وغيره هم په شرح العقيدة الطحاويه كښې په دې باره كښې ښه بحث كړې دې.

دَعلامه انورشاه كشميري رحمه الله تشريح:

دَاهل قبله دَتكفير مسئله: دَعلامه انورشاه كشميري رحمه الله فرمودات بيانولو سره علامه بجنوري رحمه الله انوار الباري كښې فرمائي چه امام بخاري رحمه الله دلته دَباب: **فضل استقبال القبلة** لاندې چه كوم احاديث دَحضرت انس رضي الله عنه نه نقل كړي دي دَهغې نه واضحه كيږي چه څوك هم دَ توحيد شهادت وركړي او زمونږ دَ قبلې طرف ته مخ كړي، زمونږ په شان مونځ اوكړي او زمونږ ذبيحه خوري هغه مسلمان دې، هغه دَ الله تعالى پناه او ذمه وارئ كښې راغلو.

---

[۱]) فتح المغيث شرح ألفية الحديث، تنبيهات: ۲۱۰/۱.

[۲]) (ونسمى أهل قبلتنا مسلمين مؤمنين ما داموا بما جاء به النبى صلى الله عليه وسلم معترفين، وله بكل ما قال وأخبر مصدقين)، لقوله عليه السلام: "من صلى إلى قبلتنا، وأكل ذبيحتنا فهومنا". فإذا كانوا معترفين بما جاء به النبى صلى الله عليه وسلم من الشرع والدين، ومعتقدين التوحيد، ومتمسكين بالشريعة، نسميهم مؤمنين ونحكم عليهم بجميع أحكام المؤمنين، ونراعى ظواهر هم ونكل ضمائر هم إلى الله، يقوله عليه السلام: "بعثت أتولى الظواهر، والله يتولى السرائر". وإنما قال: "ما داموا بما جاء به النبى صلى الله عليه وسلم معترفين"، لأن مجرد التوجه إلى قبلتنا لا يدل على الإيمان مالم يصدق النبى صلى الله عليه وسلم. فيما جاء به من الشريعة، فإن الغلاة من الرافضة الذين يدعون أن جبر بل غلط فى الوحى لمحمد، فإن الله أرسله إلى علىّ، وبعضهم قالوا: بأنه إله، فهؤلاء وإن صلوا إلى القبلة ليسوا بمؤمنين. (شرح عقيدة الطحاوية للبابرتي، بيان شرط تسمية أهل القبلة مؤمنين، ص:۸۹).

[۳]) (ونسمى أهل قبلتنا) وهم الذين شهدوا شهادتنا، واستقبلوا قبلتنا، وصلوا صلاتنا، وأكلوا ذبيحتنا (مسلمين) و (مؤمنين) وإن وصفوا بإرتكاب الكبائر فاسقين (ماداموا) أى: مدة دوامهم (بما) أى: بالذى (جاء به النبى صلى الله عليه وسلم معترفين، وله) صلى الله عليه وسلم (بكل ما قال وأخبر) به (مصدقين) جازمين به (غيرمكذبين). ففى صحيح البخارى عن. أنس بن مالك رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "من صلى صلاتنا، واستقبل قبلتنا، وأكل ذبيحتنا، فذلک المسلم الذى له ذمة الله وذمة رسوله، فلا تخفروالله فى ذمته"، وفيه: عن أنس رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: أمرت أن أقاتل الناس حتى يقولوا: لا إله إلا الله، فإذا قالوها وصلوا صلاتنا، واستقبلوا قبلتنا، وذبحوا ذبيحتنا، فقد حرمت علينا دماؤهم وأموالهم إلا بحقها، وحسابهم على الله. (شرح عقيدة الطحاوية للغنيمى الميدانى. إيمان من صدق بكل ما جاء به النبى، ص: ۱۰۳)

لهذا د الله تعالى په پناه کښې دې څوك خلل اندازي نه کوی د تولو فرض دی چه د هغه د
ځان او مال حرمت کنړلو سره د هغې حفاظت اوکړی بغیر ددې نه چه هغه پخپله خپل ځان په
قصاص وغیره یا په څه مواخذه کښې اخته نه کړی وغیره
ددې احادیثو نه یوه اصولی مسئله په پوهه کښې راځی چه د یو اهل قبله تکفیر دې اونه
کړې شی. لیکن ددې دا مطلب هیڅ کله نه شی کیدې چه ددې دریواړو خبرو سره د هغه
عقیده او اعمال څنګه د حق خلاف او د قرآن اوحدیث خلاف وی نو هغه به اهل قبله پاتې
شی؟ ځکه چه په دې احادیثو کښې هم د توحید شهادت وغیره سره اشاره دې طرف ته
موجود ده چه د عقیدې په لحاظ د توحید د شهادت د تقاضو خلاف هیڅ یو کار د ده نه
اونه شی او په لحاظ د عمل د قبلې او د ذبیحې باره کښې هغه د عام مسلمانانو نه جدا څه
طریقه نه وی اختیار کړې.
ټولو ته معلومه ده چه ډیر زیات احادیثو کښې صرف توحید نه ټول ایمانیات او عقیدې
مراد اخستې شوې دی. لکه «من قال لااله الا الله دخل الجنة» او د مسلم وغیره نه دلته هم مونږ
ذکر کړی دی چه حضور پاك په هغه ټولو څیزونو باندې ایمان راوړل ضروری ګرځولی دی
کوم چه هغوی راوړې دی. اوداهم ښکاره خبره ده چه څوك زمونږ د ذبیحې نه پرهیز کوی هغه
به خامخا زمونږ د عقیدې نه مختلف عقیده لری. یا کوم سړې چه مونږ سره یا زمونږ امام
پسې خپل مونځ جائز نه ګنړی هغه به زمونږ نه د مخالف عقیدې والا وی.
د یوې مغالطې ازاله: بعضې خلق د کم علمئ او کم نظر په سبب په دې مغالطه کښې راګیر دی
چه اهل قبله او د اهل تاویل تکفیر صحیح نه دې. حضرت شاه صاحب رحمه الله په خپله رساله
اکفار الملحدین کښې په دې مسئله باندې ډیر بحث کړې دې دکوم نه پس چه د یو اهل چه
علم او نظر دپاره د مذکوره مسئلې صحیح په صورت باندې پوهیدو کښې هیڅ مشکل نه
شی راتلې. حضرت رحمه الله اوفرمائیل د اهل قبله د تکفیر ممانعت اصل ماخذ د سنن ابی داؤد
داحدیث دې چه درې څیزونه اصل ایمان دې. ① د لا اله الا الله د اقرار کونکی ځان او مال ته
تعرض نه کول. ② د یوګناه د ارتکاب په وجه چاته کافر نه وئیل. ③ د یو عمل په وجه څوك
د اسلام نه خارج نه ګنړل. (ابوداؤد، کتاب الجهاد، باب: فی الغزو مع ائمة الجور: ٣٤٢/١)
ددې حدیث شریف نه دوه خبرې په خاص توګه معلومې شوې. یوه دا چه د یوې ګناه د کولو
د وجې یو مسلمان کافر یا د اسلام نه خارج نه دی ګنړل پکار. بل دا چه د مذکوره ارشاد
زیات تعلق د ائمه جور سره دې هم په دې وجه د مذکوره دریو خبرو د ذکر کولو نه پس
حضور پاك اوفرمائیل چه د جهاد داحکم به زما د بعثت نه د دجال پورې خامخا جاری وی که
ائمه عدل سره اوکړی شی یا د ائمه جور په ملګرتیا کیدو کښې کول وی. په دې وجه امام
ابوداؤد رحمه الله داحدیث د مذکوره عنوان لاندې راوړې دې او زمونږ د حضرت شاه صاحب رحمه الله
رائې هم دغه ده چه د عدم تکفیر اهل قبله تعلق په اصل کښې امراء او حکمرانانو سره دې
چه د هغوی پوره تابعداری ضروری ده او ترکومې پورې چه د هغه نه څه ښکاره کفر داسې
اونه وینی چه د هغې په کفر کیدو باندې د قرآن اوحدیث په رنړا کښې دلیل او ثبوت موجود

وي دَ هغې خلاف بغاوت کول جائز نه دي. لکه چه د بخاري شريف او مسلم شريف احاديثو کښې نقل دي. دَدې نه دا هم معلومه شوه چه داسې ښکاره کفر که چرې په چا کښې اوليدلې شي نو بيا دَدې ضرورت باقي نه پاتې کيږي چه هغه قائل کولو سره بې جوابه هم کړې شي يا دَ هغه دَ ښکاره قولي يا فعلي کفر او شرك باره کښې دَ هغه نه تاويل معلوم کړې شي (ځکه چه دَ هغه معامله دَ دغه کتونکو اهل علم او نظر په فيصله او رائې باندې محمول کړې شوې ده دَ چا نظر چه دَ قرآن او حديث په دلا ئلو او براهينو باندې حاوي وي. دَ يو ګناه دَ وجې دَ عدم تکفير خبره امام ترمذي رحمه الله ابواب الإيمان کښې باب: ماجاء لايزني الزاني وهو مؤمن لاندې اختيار کړې ده دکوم حواله چه حضرت شاه صاحب رحمه الله دَ اکفار الملحدين په حاشيه کښې ورکړې ده.

حضرت رحمه الله دا مغالطه هم لرې کړه چه ډيرو جاهلانو دَ امام اعظم رحمه الله طرف ته هم دَ عدم تکفير اهلِ قبله خبره مطلقًا منسوب کړې ده حالانکه محقق ابن امير الحاج رحمه الله په شرح تحرير کښې دَ امام صاحب رحمه الله قول هم "ولانكفر أهل القبلة بذنب" نقل کړې دې. او دَ هغوي دا ارشاد دَعلامه نوح آفندي رحمه الله دَ تحقيق مطابق صرف دَ معتزلو او خوارجو دَترديد دَ پاره دې (چه خوارج دَ کبيره ګناه دَ وجې نه مسلمان ته کافر وائي او معتزله هغوي دَ ايمان نه خارج او مخلد في النار ګرځوي. ليکن مونږ اهل سنت والجماعت نه هغه ته دَ کبيره ګناه دَ وجې کافر وايو او نه ئې دَ اسلام نه خارج او مخلد في النار ګڼړو بلکه مسلمان او دَ مغفرت لائق ئې منو). دَ امام صاحب رحمه الله طرف ته غلطه خبره ځکه هم منسوب شوه چه ټولو دَ امام صاحب رحمه الله قول دَ "منتقي" په حواله بغير دَ "بذنب" نه نقل کړې دې. مثلاً په شرح مقاصد او مسايره وغيره کښې بغير دَ بذنب دَ قيد موجود وو او هم په دې وجه حافظ ابن تيميه رحمه الله هم په خپل کتاب الايمان کښې ليکلي دي چه کله مونږ دا وايو چه اهل سنت په دې خبره باندې متفق دي چه دَ ګناه دَ وجې يو مسلمان ته کافر او نه وائيلې شي نو دَ دغه ګناه نه مراد زنا، شراب ځکل وغيره ګناهونه دي. علامه نووي رحمه الله هم په شرح عقيدة الطحاويه کښې دَدې پوره وضاحت کړې دې او ليکلي ئې دي چه دَ بذنب قيد ښائي چه دَ عقيدې دَ فساد دَ وجې به ورته خامخا کافر وئيلې شي. (نقله الملاعلى قاري في شرح الفقه الاكبر، ص: ۱۹۶)

خلاصه داده چه: ① دَعدم تکفير اهلِ قبله حکم دَ غير ضروريات دين او غير قطعي الثبوت امورو سره متعلق دي.

② دَحکم عدم تکفير اهلِ قبله تعلق دَ امراؤ او حکمرانانو سره دې.

③ دَمذکوره حکم تعلق دَ ذنوب سره دې نه چه دَعقائدو او ايمانياتو سره.

مونږ دَ اکفار الملحدين دَ مضامينو خلاصه پورته پيش کړې ده. باقي علماؤ او اهل تحقيق او نظرله دَ پوره کتاب مطالعه کول پکاردي. ګنې دَ لرې نه به هغوي هم دا خيال کوي چه "دارالتکفير" والو به هسې بې تحقيقه څه ليکلي لوستلي وي. "والناس أعداء لما جهلوا"

دَايمان، اسلام او ضروريات دين تشريح: دَ قرآن، حديث او اجماع نه ثابت شوې ټول امور

غيبيه او دَ طاعت اعمال مثل ايمان دې او دَ اعمالو اداكول اسلام دې. بيا دې ټول ثابت شوى امورو ته دَ دين ضروريات وائى او دَدې نه انكار يا تاويل باطل كفر دې.

حضرت مجاهد رحمه الله او قتاده رحمه الله دَ آيت: ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً﴾ (بقره) په تفسير كښې فرمائيلى دى چه دا آيت مبارك مسلمانانو ته دَ شريعت محمديه دَهر يو جز دَ طاعت دَالتزام دعوت وركوى كه هغه فرائض وى يا مستحبات، واجب على الأعيان وى يا واجب على الكفايه. كه چرې فرض عين وى نو دَ فرضيت په اعتقاد سره به دَهغې اداكول هم فرض وى او كه چرې مستحبات وى نو دَ هغې دَ استحباب عقيده به لازم وى او عمل به نى صرف دَ مستحب په درجه كښې وى.

غرض دا چه دَ كومو څيزونو هم په دين كښې داخليدل ټولو ته معلوم شوى دى هغه ټول په ايمانيات كښې داخل دى ځكه چه ايمان دَ رسول الله ﷺ كاملې او مكملې تابعدارئ كولو نوم دې. حضرت شاه صاحب رحمه الله دَ دين دَ ضرورياتو دَتشريح نه پس فرمائى: مثلاً -

① مونځ كول فرض دى او دَدې دَ فرض كيدو عقيده هم فرض ده او مونځ زده كول هم فرض دى او دَ فرض نه ځان ناواقفيت يا دَ دې نه انكار كفر دې.

② مسواك كول سنت دى مگر دَدې دَ سنت كيدو عقيده فرض ده او دَدې دَ مسنون كيدو نه انكار كفر دې. دَدې علم حاصلول سنت دى ناخبرى دَمحرومتيا سبب دې او په دې باندې عمل نه كول دَعتاب نبوى او دَ ترك سنت دَدرجې دَعذاب سبب دې.

دَدې دَمسنون كيدو انكار ځكه كفر دې چه دَدې په معمولات نبوى كښې كيدل ټولو عامو او خاصو ته معلوم دى او كوم څيزهم چه دَدې درجې وى هغه دَدين په ضرورياتو كښې داخل دې.

حضرت شاه عبدالعزيز رحمه الله هم په خپله فتاوى كښې پوره تفصيل سره دَايمان او كفر بحث ذكر كړې دې. هغوى فرمائى كوم سړې هم چه دَ دين دَ ضرورياتو نه انكاركوى هغه اهل قبله (او مسلمان) پاتې كيږى نه ځكه چه ددين ضروريات هم هغې ته وئيلى شى چه دَ كتاب الله او احاديث متواتره او دَ اجماع امت نه ثابت شوى دى. ددې دريواړو په ذريعه چه څومره هم عقائد او اعمال، فرض نفل وغيره ثابت دى هغه ټول مثل ضرورى دى. بيا عقائد پيژندل مستحب او عمل به هم صرف دَ مستحب په درجه كښې وى. ليكن دَ دين دَ ضرورياتو نه دَ يو څيز انكار به هم كفر وى.

ددين دَ ضرورياتو تفصيل: په دې لاندې حقيقتونو باندې ايمان او يقين ساتل دَ يو مؤمن دَپاره ضرورى دى:

① دَ الله تعالى وجود سره دَ ټولو صفاتو دَ كمال په داسې شان چه هغه دَ خپل ذات او صفاتو عاليؤ په لحاظ سره يو، بې مثال او ازلى، ابدى دې. او دَ صفات عيوب او نقصان، دَ مخلوق دَ صفاتو نه دَهغه ذات سبحانه وتعالى منزه او مبرا دې.

② **حدوث عالَم:** چه دَالله تعالى نه سوا مخكښې هيڅ نه وو. دَ هغه نه سوا ټول موجودات عالَم (علوى او سفلى) دَهغه دَ قدرت او ارادې لاندې موجود او پيدا شوى دى.

③ په قضاء اوقدر باندې ايمان: چه تراوسه پورې څه په دنياکښې شوی دی يا اوس کيږی او يا به راتلونکی وخت کښې کيږی هغه ټول دَ الله تعالیٰ دَ ازلی علم مطابق دی. او هم دَهغه په اراده او قدرت کامله سره ظهور او وجود حاصلوی. او بنديګان چه دکومو اعمالو مکلف جوړکړې شوی دی دَهغې دَ پاره بنديګانو ته هم په اندازه دَ ضرورت اختيار او اراده ورکړې شوې ده. يعنی بنده نه صرف مجبور دې او نه مختار مطلق او په کومه درجه کښې چه هم هغه ته اختيار او اراده ورکړې شوې هم دَهغې اندازې دَاعمالو جزا او سزا ورله مقرر کړې شوې ده. کوم چه سراسر انصاف دې. په دې وجه دَدې خلاف عقيده لرل چه بنده ته هيڅ هم اختيار نشته يا هغه په مکمل توګه سره مختار مطلق دې دواړه خبرې دَ ايمان خلاف او کفر کښې داخل دی.

④ فرښتې، پيريان او انسانان دَهغه دَ ټولو نه اهم مخلوقات دی.

⑤ بنيادم ته ئې په خپلو ټولو مخلوقاتو باندې عزت ورکړې دې او دې ئې په دنياکښې خپل خليفه جوړکړې دې او دَ زمکې او آسمان ټول خيزونه ئې دَ ده دَ پاره مسخر کړل.

⑥ دَ بنيادمونه ئې انبياء عليهم السلام منتخب کړل او هغوی ئې دَ نبوت په شرف او رسالت ورکولو سره ئې دَ جناتو او انسانانو دَ هدايت دَپاره راؤليږل.

⑦ دَهدايت او نيغې لار خودنې دَ پاره ئې دَ وحی سلسله قائمه کړه او کتابونه ئې نازل کړل مثلاً تورات، زبور، انجيل او قرآن مجيد.

⑧ دَ انبياؤ عليهم السلام شمير الله تعالی ته معلوم دې. دا سلسله په آخری پيغمبر سرورِدوعالم افضل الرسل حضرت محمد ﷺ باندې ختمه شوه. دَ حضورپاك نه پس به دنيا ته يو نوې نبی نه راځی.

⑨ په آخره زمانه کښې به حضرت عيسیٰ علیه السلام دَ آسمان نه راکوزيدو سره دَدين محمدی تائيد او تقويت کوی. هغه آسمان ته ژوندې اوچت کړې شوې وو او دې وخت کښې هم هلته ژوندې موجود دې او دنيا ته په راتلو سره به خپل مفوضه يعنی ورکړې شوی کارونو دَ پوره کولو نه پس وفات کيدو سره دَ رسول الله ﷺ په روضه مطهره مقدسه کښې دفن کيږی. (دَ قرآن مجيد او صحيح متواتر احاديثو نه دا ټولې خبرې ثابتې دی).

⑩ دَ انبياؤ عليهم السلام نه پس مرتبه دَ حضورپاك دَ صحابه کرامو ده. دَ هغوی نه پس دَ تابعينو، تبع تابعينو، علماؤ او دَ امت دَ اولياؤ درجې دی.

⑪ دَ انبياؤ عليهم السلام دَ کومو معجزاتو ثبوت چه دَ قرآن اوحديث نه شوې دې هغه ټولې صحيح بغيردَ څه تاويل نه منل ضروری دی.

⑫ دَ شريعت محمدی ټول احکام کوم چه دَ قرآن مجيد، حديث، اجماع او قياس نه ثابت دی دَهغې ټول منل او درجه په درجه په هغې باندې عمل کول ضروری دی. يعنی فرائض، واجبات، سنن او مستحبات دَ دين ټول هم دَ دين جزمنل او يقين کول خو ضروری دی. باقی دَ عمل په لحاظ فرض باندې عمل کول فرض (په واجب باندې عمل کول واجب، په سنت باندې عمل کول سنت او په مستحب باندې عمل کول) به مستحب وی وغيره. دغه شان دَ

نواهي او د منکراتو د دین حکم دی.

⑬ د مرګ نه پس به هر سړي د آخرت په رومبی منزل کښې مقیم وی کوم ته چه برزخ وائی.

⑭ د قیامت د ورځې یقین، چه یوه ورځ به د الله تعالی په حکم سره ټوله دنیا ، د زمکې او آسمان څیزونه فناه کیږی.

⑮ ورځ د جزاء، یعنی د حساب کتاب ورځ چه د هرمکلف ټولو اعمالو جائزه اخستو سره به د جزاء او سزا حکم کولې شی.

⑯ د جنت او دوزخ وجود حق دی. په جنت کښې به د ابدی نعمتونو مستحق همیشه اوسیږی او په دوزخ کښې به د ابدی عذاب مستحق همیشه اوسیږی او د چا د پاره به مرګ نه وی.

⑰ د الله تعالی د مقربو او بزرګانو بندیګانو شفاعت به د ګناهګارانو بندیګانو د پاره به د الله په اذن او اجازت کیږی.

⑱ په جنت کښې به د الله تعالی د همیشه خوشحالئ او د الله تعالی د دیدار دولت هم حاصلیږی چه د ټولو نعمتونو نه به اوچت او غوره وی.

د کفر خبرې: پورته ذکر شوی ټول د دین ضروریات او کوم چه په نورو کتابونو د عقائدو او کلام کښې په تفصیل سره درج دی په ټولو باندې ایمان او یقین ساتل د مؤمن د پاره ضروری دی او د یو څیز انکار هم د کفر په پوله کښې د داخلولو د پاره کافی دی. مثلاً د الله تعالی د توحید یا یو صفت، یا د حدوث عالم نه انکار، او د جناتو او ملائکو د وجود، جنت، جهنم او معجزات وغیره یا د اسلام د احکامونه د یو نه انکار یا تاویل هم کفر دی. دغه شان د یو نبی د نبوت نه انکار یا د یو قرآنی آیت نه انکار او تحریف، یا د خاتم النبیین نه پس د یو نبی د نبوت اقرار، یا عالم قدیم ګڼړل، یا د الله تعالی ، انبیاؤ او ملا ئکو باره کښې د سپکاوی الفاظ استعمالول، او په چا کښې د کفر خبرې موجودیدو باوجود هغه کافر نه ګڼړل، یا هغه ته کافر وئیلو کښې تامل او تردد کول هم کفر دی. ځکه چه د دې نه ثابتیږی چه هغه د کفر او ایمان په خبرو کښې فرق نه کوی. والله اعلم. د نور تفصیل او دلائلو د پاره اکفار الملحدین او د کتب عقائدو کلام مطالعه دې اوکړې شی. والله الموفق.[1]

حدیث باب (دویم حدیث) [حدیث نمبر ۳۸۵]

- ۳۹۲ حَدَّثَنَا نُعَيْمٌ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ حُمَيْدٍ الطَّوِيلِ عَنْ أَنَسِ[2] بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ. فَإِذَا قَالُوهَا وَصَلَّوْا صَلاَتَنَا، وَاسْتَقْبَلُوا قِبْلَتَنَا، وَذَبَحُوا ذَبِيحَتَنَا، فَقَدْ حَرُمَتْ عَلَيْنَا دِمَاؤُهُمْ وَأَمْوَالُهُمْ إِلاَّ بِحَقِّهَا، وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللَّهِ».

ترجمه: د حضرت انس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه ما ته

---

[1] انوار الباری: ۱۲/۱۹۳-۱۷۹.

[2] مر تخریجه تحت الحدیث السابق رقمه: ۳۹۱.

دَخلقو سره د هغه وخته پورې د جنګ کولو حکم راکړې شوې دې ترکومې پورې چه هغوی لا اله الا الله اونه وائی. بیا چه کله هغوی دا اووائی او زمونږ په شان مونځ اوکړی او زمونږ دَ قبلې طرف ته مخ کړی او زمونږ ذبیحه اوخوری نو په مونږ باندې دَ هغوی ځان اومال حرام شو، مګر په حق باندې اودَ هغوی حساب به الله تعالی ته حواله وی.

تراجم رجال: په مذکوره حدیث شریف کښې ټول څلور رجال دی:

① نعیم رحمه الله: دا ابوعبدالله نعیم بن حماد بن معاویه بن الحرث المروزی رحمه الله دې. دَ دوی تفصیلی احوال کشف الباری، کتاب الوضوء، باب: دفع السواك إلى الأكبر کښې تیر شوی دی.(۱)

② ابن المبارك رحمه الله: دا مشهور امام عبدالله بن مبارك رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی پنځم حدیث لاندې تیر شوی دی.(۲)

③ حمید الطویل رحمه الله: دا ابوعبیده حمید بن ابی حمید الطویل الخزاعی البصری رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: خوف المؤمن من أن یحبط عمله وهو لایشعر دَ دویم حدیث لاندې تیر شوی دی.(۳)

④ انس بن مالك رضی الله عنه: دامشهوراو معروف صحابئ رسول حضرت انس بن مالك رضی الله عنه دې. دَ دوی په احوالو باندې تفصیلی کلام کشف الباری، کتاب الایمان، باب: من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه لاندې تیره شوی ده.(۴)

شرح حدیث: «أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ» یعنی ماته حکم راکړې شوې دې چه زه دَخلقو سره جنګ اوکړم ترهغې پورې چه هغوی (دَتوحید کلمه) لا اله الا الله اونه وائی.

"أُمِرْتُ" صیغه دَمجهول ده، مراد دَدې نه دا دې چه الله تعالی ماته حکم راکړې دې. دَمعروف په ځائی دَ مجهول صیغه ځکه استعمال کړې شوه چه فاعل مشهور اومعروف دې او په دې کښې فاعل (دَالله تعالی) تعظیم هم دې(۵). "النَّاسَ" نه مراد مشرکین دی.(۶)

دَ توحید اقرار سره دَ رسالت اقرار دَ نه ذکرکولو حکمت: "حتی یقولوا" تردې چه هغوی دَ توحید دَکلمې اقرار اوکړی. دلته دَ توحید اقرار سره دَ رسالت دَ اقرار ذکر اونه کړې شو. دَدې وجه داده چه دلته کنایةً دَ رسالت اقرار ذکردې. هغه داشان چه مونځ په محمدی طریقې اداکول، دَ قبلې طرف ته مخ کول، په محمدی طریقه باندې ځناور ذبح کول، ټول امور دَ رسالت دَ

(۱) کشف الباری:کتاب الوضوء، باب: دفع السواك إلى الأكبر.
(۲) کشف الباری: ۴۶۲/۱.
(۳) کشف الباری: ۵۷۱/۲.
(۴) کشف الباری: ۴/۲.
(۵) عمدة القاری: ۱۸۸/۴، الکوثر الجاری: ۷۸/۲، إرشادالساری: ۵۴/۲.
(۶) عمدة القاری: ۱۸۸/۴، الکوثر الجاری: ۷۸/۲، إرشادالساری: ۵۴/۲.

اقرار طرف ته اشاره كونكي دي. ځكه چه دا دريواړه امور د شريعت محمدي ﷺ خواص دي. دا ځكه چه صرف لا اله الا الله ويونكي دَ يهودو مونځ دَ ركوع نه خالي وو اودَ هغوي قبله دَ كعبې نه علاوه بله وه اودَ هغوي ذبيحه به هم زمونږ دَ ذبيحې په شان نه وه. نو صرف دَ لا اله الا الله اقرار هم دَ رسالت اقرار هم دې.

لكه چه څوك اووائي چه ما دَ ﴿الٓمّٓ ذٰلِكَ الْكِتٰبُ﴾ قراءت اوكړو نودَ دې نه مراد صرف هم دا الفاظ نه وي بلكه دَ پوره سورت قراءت مراد وي. چنانچه اوس به وئيلې شي چه دَيوكس دې زبانې وينا سره دَهغه فعل ملاؤ شو يعني كله چه خلق په ژبه باندې دا كلمه اووائي او فعل سره دَدې كلمې معنى ثابته كړي نودَ هغه دَ ځان اومال حرمت به دَ نورو مسلمانانو په شان شي.(١)

قوله: "صلوا صلاتنا" نه مراد دَ ركوع او سجدې والا مونځ دې.(٢)

قوله: "ذبحوا ذبيحتنا" په مصري نسخو كښې په دې ځائې كښې هم داسې دي يعني "ذبحوا" ليكن په هندي نسخو كښې دَ "ذبحوا" په ځائې "أكلوا" دې.(٣) هم دغه وجه ده چه په لامع الدراري كښې په دې مقام باندې "قوله : ذبيحتنا" وئيلو سره تشريح كړې شوې ده(٤)

علامه برماوي رحمه الله ليكي چه تقاضا خو دا ده چه دې ځائې كښې "أكلوا" وې نه چه "ذبحوا". چنانچه دې نه مراد دادې چه "ذبحوا مثل ذبيحتنا".(٥)

قوله: "ذبيحتنا" نه مراد "مذبوحتنا" دې يعني ذبح كړې شوې ځناور، دغه شان "ذبيحة" دَ فعيلة په وزن باندې "مذبوح" په معنى كښې دې نو عبارت به داسې شي: "ذبحوا المذبوح مثل مذبوحنا".(٦)

يولغوي اشكال اودَ هغې جواب: په دې مقام باندې علامه كرماني رحمه الله يو اعتراض او دَهغې جواب ليكي چه كه څوك اعتراض اوكړي چه "فعيل" كله دَمفعول په معنى كښې وي نو په هغې كښې مذكر اومؤنث دواړه برابر وي نو په دې ځائې كښې چه (فعيل دَ مفعول په معنى كښې دې نو) دې سره "التاء" ولې يو ځائې كړې شوې ده؟ (كومه چه صرف په مؤنث باندې دلالت كوي).

نودَدې جواب دادې چه داسې په دې لفظ باندې دَ اسميت دَغلبې دَ وجې نه كړې شوې دى

(١) عمدة القاري: ١٨٨/٤، إرشاد الساري: ٥٤/٢.
(٢) لامع الصبيح شرح الجامع الصحيح للبرماوي: ١٣٣/٣، إرشاد الساري: ٥٤/٢.
(٣) صحيح البخاري: ٥٦/١، قديمي: ١١٧/١، الطاف سنز كراتشي.
(٤) لامع الدراري: ٢٦١/٢.
(٥) لامع الصبيح شرح الجامع الصحيح للبرماوي: ١٣٣/٣.
(٦) لامع الصبيح شرح الجامع الصحيح للبرماوي: ١٣٣/٣، عمدة القاري: ١٨٨/٤، تحفة الباري: ٩٦/٢.

(دویمه خبره داچه) د فعیل په وزن کښې مذکر اومؤنث هغه وخت برابر وی کله چه دا د موصوف سره ذکر وی، اوچه کله دا لفظ د موصوف نه بغیر ذکر وی نو هغه وخت په دې کښې مذکر اومؤنث برابر نه وی[1].

قوله: فَقَدْ حَرُمَتْ عَلَيْنَا دِمَاؤُهُمْ وَأَمْوَالُهُمْ: یعنی د دوی وینې او د دوی مالونه به په مونږ باندې حرام شی. "حرمت"، د حاء زبر او راء پیش سره دې یعنی کَرُمَ یکرُمُ د باب نه. په دې کښې دویم لغت داهم دې چه دا د باب تفعیل نه د فعل ماضی مجهول صیغه "حُرِّمَتْ" وی. علامه سیوطی رحمه الله او ابن حجر رحمه الله اول ذکر شوی ته ترجیح ورکړې ده[2] اوعلامه برماوی رحمه الله دویم ته[3] لیکن په دې باندې حافظ ابن حجر رحمه الله رد کړې دې او هم اول رائې ئی راجح ګرځولې ده[4].

قوله: إِلَّا بِحَقِّهَا: مګر په حق باندې. علامه عینی رحمه الله لیکی: أی: إلا بحق الدماء والأحوال[5] یعنی که چرې په داسې کس باندې د مال یا ځان تاوان اوقصاص واجب شو نو هغه به د هغه نه خامخا وصول کولې شی اودا وصول کول به زمونږ هغه سره دکړې شوې وعدې او ذمې خلاف نه متصور کیږی.

[1] شرح الکرمانی: ٤/٥٥. د دې اعتراض جواب کوم تفصیل چه په عمدة القاري کښې نقل کړې شوې دې هغه دا شان دې: "فإن قلت: "فعیل" إذا کان بمعنی المفعول یستوی فیه المذکر والمؤنث، فلاتدخله التاء. قلت: لما زال عنه معنی الوصفیة وغلبت الاسمیة علیه، واستوی فیه المذکر والمؤنث، فدخله التاء. وقد یقال: إن الاستواء فیه عند ذکر الموصوف معه وأما إذا انفرد عنه منه فلا".(عمدة القاري: ٤/١٨٨) په دې عبارت کښې یوه جمله "واستوی فیه المذکر والمؤنث" (کومه چه د عمدة القاري په نورو نسخوکښې هم دغه شان ده) محل نظر ده، ځکه چه په دې مقام باندې علامه عینی رحمه الله د معترض جواب ورکوی چه معترض صاحب ستا بیان کړې شوې قاعده ټیك ده لیکن دا هغه وخت دی کله چه "فعیل" سره د دې موصوف هم ذکر کړې شوې وی چنانچه په داسې صورت کښې په دې باندې تاء نه داخلیږی. لیکن چه کله "فعیل" نه معنی د وصفیت زائل شی او په دې باندې اسمیت غالب راشی (لکه ځنګه چه زمونږ مبحوث عنها عبارت کښې دې) نو په دې باندې تاء داخلیږی. چنانچه "غلبت الاسمیة علیه" نه پس عبارت "واستوی فیه المذکر والمؤنث" د جواب او د قاعدې مطابق نه جوړیږی. په دې وجه چه دلته خود استوی نفی کول غواړی نو بیانی دلته دا ځنګه ذکرکړو؟ نو یا خو به داسې وئیلې شی چه دا د علامه عینی رحمه الله یا د ناقلینو او کاتبینو وغیره د طرف نه تسامح شوې ده یا یو د لرې تاویل کولوسره به داسې وئیلې شی چه د دې جملې نه مراد دادې چه کله د "فعیل" په وزن کښې اسمیت غالب راشی نو هغه وخت په دې کښې مذکر اومؤنث دواړه د حکم په اعتبارسره برابر دی چه په دې کښې به هر یو مستقل حکم لری په دواړو کښې به یو د بل تابع نه وی. بلکه د حکم په اعتبار سره هریو به مستقل کیدو کښې برابردې. بله دا چه دې نه پس جمله "فدخله التاء" باندې هم فاء نه دی داخلول پکار ځکه چه دا جمله د لما جواب دې اود لما په جواب باندې فاء نه داخلیږی.

[2] التوضیح للسیوطی: ٣/٤٨٤، فتح الباري: ١/٦٤٤.

[3] للامع الصبیح شرح الجامع الصحیح للبرماوی: ٣/١٣٤.

[4] فتح الباري: ١/٦٤٤.

[5] عمدة القاري: ٤/١٨٨.

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله ليکي: "أی: بحق الكلمة والإسلام" اودَ حق اسلام مطلب دادې چه که چرې څوك داسې كار اوكړي په كوم باندې چه په اسلام كښې حفظ دم وغيره نه وي مثلاً څوك هغه قتل كړي يا محصن سره زنا اوكړي نو روميې سرې به قصاصا قتلولې شي او دويم به رجم كولې شي.(۱)

قوله: وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللَّهِ: اودَ هغوی حساب الله تعالى ته حواله دې.

دَ حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله په نيز دَدې جملې تعلق دَ منافقانو سره دې چه دَهغوی حساب الله تعالى ته حواله دې يعنى دَ روايت نه صفا معلوميږي چه كوم سرې په ظاهرى توګه دَ اسلامى كلمې اقرار اوكړي، اسلامى شعائر ښكاره كړي مثلاً صرف په خلې اووائى چه زه مسلمان شوم يا ايمانى كلمه اووائى نو اوس ده ته تعرض جائز نه دې البته دَ ده معامله الله تعالى سره ده چه دَ هغه په زړه كښې منافقت دې كه اسلام. څكه چه دَ زړه حالت خو هم هغه پيژنى.(۲)

قوله: "على الله" على لفظ په دې مقام باندې صرف دَتشبيه دَ پاره دې چه دَ يو امر دَ وقوع په تحقق كښې دا داسې دې لكه چه دَ الله په ذمه څه څيز لازم وى كنى په حقيقت كښې خو په الله باندې هيڅ څيز لازم نه دې. يا بيا په دې ځائى كښې "على" دَ لام په معنى دې يا "إلى" په معنى دې. چنانچه معنى به دا شى چه "حسابهم موكول أو مفوض إلى الله" چه دَ دوى حساب الله تعالى ته حواله دې.(۳)

علامه خطابى رحمه الله فرمائى چه دَدې باب روميې حديث په دې باره كښې وو چه كوم كس شعائر اسلام ښكاره كونكې وى نو هغه ته څه تعرض مه كوئى نه دَ هغه په ځان كښې او نه دَ هغه په مال كښې. تردې چه دَ دغه كس نه دَ دين دَ شعائرو خلاف څه كار اونه شى. او دويم حديث په دې باره كښې دې چه كوم كس دَ شعائرِ دين منونكې نه وى نو هغه پسې شئ تردې چه هغه دغه شرائط اومنى.(۴)

تعليق: -۳۹۳- قَالَ ابْنُ أَبِي مَرْيَمَ أَخْبَرَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ حَدَّثَنَا أَنَسٌ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم-.

دَتعليق تخريج: ددې تعليق په تخريج كښې حافظ ابن حجر رحمه الله هدي السارى كښې ليكي: ((ورواية ابن أبي مريم عن يحيى هو ابن أيوب وصلها محمد بن نصر المروزي في كتاب "تعظيم الصلاة"، والبيهقي

(۱) تقرير بخارى شريف: ۱۳۹/۲.

(۲) سراج القارى: ۴۲۷/۲-۴۲۶.

(۳) عمدة القارى: ۱۸۸/۴، إرشادالسارى: ۵۴/۲، مرقاة المفاتيح، كتاب الإيمان، رقم الحديث: ۱۱، ۱۵۱/۱.

نوټ: دَمذكوره حديث دَ تشريح سره متعلقه ډير اهم مباحث كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: فإن تابوا وأقاموا الصلاة...... كښې تير شوى دى. اوګورئى: كشف البارى: ۱۵۲/۲-۱۳۶.

(۴) أعلام الحديث للخطابى: ۳۷۷/۲.

وابن منده في الإيمان»(١)
يعنى دا تعليق موصولاً المروزى، البيهقى او ابن منده رحمهم الله بيان كړې دې. محمد بن نصر بن الحجاج المروزى رحمه الله په خپل كتاب "تعظيم قدر الصلاة" كښې په دې سند سره مذكوره تعليق موصولاً نقل كړې دې: «حدثنا محمد بن يحيى ثنا ابن أبى مريم أنا يحيى يعنى: ابن أيوب، قال: أخبرنى حميد أنه سمع أنس بن مالك، يقول: إن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: أمرت أن أقاتل الناس حتى يشهدوا أن لا إله إلا الله، وأن محمداً رسول الله، فإذ شهدوا أن لا إله إلا الله، وأن محمدا رسول الله، وصلوا صلاتنا، واستقبلوا قبلتنا، وأكلوا ذبيحتنا، حرمت علينا أموالهم ودماؤهم إلا بحقها، له ما للمسلمين وعليه ما عليهم»(٢)

او امام بيهقى رحمه الله په دې لاندينى سند سره مذكوره تعليق موصولاً نقل كړې دې: «أخبرنا على بن محمد بن عبد الله بن بشران العدل ببغداد، أنبأ أبو الحسن على بن محمد المصرى، ثنا يحيى بن أيوب، ثنا سعيد بن أبى مريم، ثنا يحيى بن أيوب، حدثنى حميد أنه سمع أنس بن مالك رضى الله عنه يقول: إن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: "أمرت أن أقاتل المشركين حتى يشهدوا أن لا إله إلا الله وأن محمدا رسول الله، فإذا شهدوا أن لا إله إلا الله وأن محمدا رسول الله، وصلوا صلاتنا، واستقبلوا قبلتنا، وأكلوا ذبيحتنا، حرمت علينا أموالهم ودماؤهم إلا بحقها، له ما للمسلم، وعليه ما على المسلم"»(٣)
او ابن منده رحمه الله په خپل كتاب الايمان كښې د مذكوره تعليق موصولا چه كوم تخريج كړې دې هغه دا دې: «أخبرنا عمرو بن الربيع بن سليمان، ثنا يحيى بن أيوب المصرى، حدثنى حميد الطويل أنه سمع أنس بن مالك يقول: "إن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: "أمرت أن أقاتل المشركين حتى يشهدوا أن لا إله إلا الله وأن محمدا رسول الله، وصلوا صلاتنا، واستقبلوا قبلتنا، وأكلوا ذبيحتنا، حرمت علينا أموالهم ودماؤهم إلا بحقها، لهم ما للمسلمين، وعليهم ما على المسلمين"»(٤)
د تعليق رجال: په مذكوره تعليق كښې څلور رجال دى:
① ابن ابى مريم رحمه الله: دا ابو محمد سعيد بن الحكم بن محمد بن سالم جمحى المصرى رحمه الله دې. د دوى تفصيلى احوال كشف البارى، كتاب العلم، باب: من سمع شيئا فراجع حتى يعرفه كښې تير شوى دى.(٥)

---

(١) هدى السارى، الفصل الرابع فى بيان السبب فى إيراده للأحاديث المعلقة، ص: ٣٠.
(٢) تعظيم قدر الصلوة للمروزى، أول فريضة بعد الإخلاص بعبادة الله، رقم الحديث: ١٠، ٩٣/١.
(٣) سنن الكبرى للبيهقى، كتاب الصلاة، باب: لا يأثم مسلم بكافر لقول، رقم الحديث: ٥٣٤٧، ٩٢/٣.
(٤) الإيمان لابن منده، ذكر الأخبار التى جاءت عن النبى صلى الله عليه وسلم الدالة على أساس الإيمان وشعبه، رقم الحديث: ١٩١، ٣٥٥/١.
(٥) كشف البارى: ١٠٦/٤.

② يحيى رحمه الله: دا يحيى بن ايوب الغافقي المصري رحمه الله دي. دَ دوی تفصيلي احوال کشف الباري، كتاب الوضوء، باب: البزاق والمخاط ونحوه في الثوب کښې تير شوی دی.[1]

③ حميد رحمه الله: دا ابوعبيده حميد بن ابي حميد الطويل الخزاعي البصري رحمه الله دي. دَ دوی احوال کشف الباري، کتاب الإيمان، باب: خوف المؤمن من أن يحبط عمله وهو لا يشعر دَ دويم حديث لاندې تير شوی دی.[2]

④ انس بن مالك رضي الله عنه: دا مشهور او معروف صحابئ رسول حضرت انس بن مالك بن نضر خزرجي انصاري رضي الله عنه دي. دَ دوی تذکره کشف الباري، کتاب الايمان، باب: من الإيمان أن يحب لأخيه ما يحب لنفسه لاندې تيره شوی ده.[3]

دَ تعليق مقصد: امام بخاري رحمه الله په دې باب کښې دَخالد بن حارث روايت ذکر کړې وو کوم چه دَ حميد الطويل رحمه الله نه نقل کونکې وو. اوس په دې تعليق کښې ئې دَ يحيى بن ايوب رحمه الله روايت دَحميد الطويل رحمه الله نه ذکر کولو سره متابعت کړې دې او په دې کښې ئې دَ حميد رحمه الله دَ حضرت انس رضي الله عنه نه دَ سماع تصريح کړې ده.[4]

امام بخاري رحمه الله دا تعليق ځکه ذکر کړې دې چه دَحميد الطويل رحمه الله متعلق دَتدليس قول نقل دې. او هغوی دَ ترجمة الباب په دويم روايت کښې دَ حضرت انس بن مالك رضي الله عنه نه په صيغه دَ عن نقل کړې دې او دَ مدلس په عنعنه کښې دَ تدليس احتمال وی. په دې وجه دَ تحديث ثابتولو دَپاره ئې دا روايت ذکر کړو.[5]

دويم تعليق: وَقَالَ عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ قَالَ حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ قَالَ سَأَلَ مَيْمُونُ بْنُ سِيَاهٍ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ قَالَ يَا أَبَا حَمْزَةَ، مَا يُحَرِّمُ دَمَ الْعَبْدِ وَمَالَهُ فَقَالَ مَنْ شَهِدَ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاسْتَقْبَلَ قِبْلَتَنَا، وَصَلَّى صَلَاتَنَا، وَأَكَلَ ذَبِيحَتَنَا، فَهُوَ الْمُسْلِمُ، لَهُ مَا لِلْمُسْلِمِ، وَعَلَيْهِ مَا عَلَى الْمُسْلِمِ.

دَتعليق ترجمه: حميد رحمه الله اووئيل چه ميمون بن سياه رحمه الله دَ حضرت انس بن مالك رضي الله عنه نه تپوس اوکړو چه اې ابوحمزه! کوم يو څيز دَ سړي ځان او مال حراموی؟ نو هغه جواب ورکړو چه کوم سړي دَدې خبرې ګواهي ورکړی چه دَ الله نه سوا بل څوك معبود نشته، اوزمونږ دَ قبلې طرف ته مخ کړی، زمونږ په شان مونځ اوکړی، او زمونږ دَ ذبح کړې شوې ځناور غوښه اوخوری نو هغه مسلمان دې کوم چه دَمسلمانانو حق وی هم هغه دَده دَ پاره دې او کوم چه په مسلمانانو باندې لا زم دې هم هغه په ده باندې لا زم دې.

---

[1]) کشف الباري، کتاب الوضوء، باب: البزاق والمخاط ونحوه في الثوب.
[2]) کشف الباري: ۵۷۱/۲.
[3]) کشف الباري: ۴/۲.
[4]) عمدة القاري: ۱۸۸/۴.
[5]) تقرير بخاري شريف: ۱۴۰/۲، الکنز المتواري: ۷۹/۴.

دَ تعليق رجال: دَ ذكرشوي تعليق ټول څلور رجال دي:

① **علي بن عبدالله** رحمه الله: دا ابوالحسن علي بن عبدالله بن جعفر بن نجيح سعدي بصري رحمه الله دي. دَ ابن المديني په نوم سره مشهور دي. دَ دوئ احوال كشف الباري، كتاب العلم، باب: الفهم في العلم كښې تير شوي دي.[1]

② **خالد بن الحارث** رحمه الله: دَدوي پوره نوم خالد بن الحارث بن عبيد بن سليمان بن عبيد بن سفيان بن مسعود رحمه الله دي. دَدوي كنيت ابوعثمان البصري دي. دَ سليمان بن حارث رور دي. دَ تميم قبيلې شاخ بنوالعنبر دَ شاخ بنوالهجيم سره تعلق لري.
دَ دوي دَ استاذانو او مشائخو يو اوږد فهرست دي. دَهغوی نه حميد الطويل، حاتم بن ابی مغيره، سعيد بن ابی عروبه، سفيان الثوري، شعبه بن الحجاج، عبدالله بن عون، عبدالحميد بن جعفر وغيره رحمهم الله هم دي. او دَ دوی نه روايت كونكو كښې علي بن عبدالله ابن المديني، ابوالشعث احمد بن مقدام عجلي، اسحاق بن راهويه، عبدالله بن وهاب الحجبي او عمرو بن علي وغيره رحمهم الله او يو لوئې جماعت دي.
يحيى بن سعيد رحمه الله وائي چه ما دَ سفيان او خالدبن الحارث نه بهتر بل څوك نه دي ليدلي.
ابوزرعه رحمه الله فرمائي چه دَ هغوی باره كښې وئيلې شي: خالد الصدوق. ابوحاتم رحمه الله فرمائي: إمام ثقة. امام نسائي رحمه الله فرمائي: ثقة ثبت. په ۱۲۰هجری كښې پيدا شوې دي او ۱۸۶هجری كښې وفات شوې دي.[2]

③ **ميمون بن سياه** رحمه الله: دَ دوی پيژندګلو دَ كشف الباری هم دې جلد كښې، باب: فضل استقبال القبلة لاندې تيره شوې ده.[3]

④ **انس بن مالك** رضي الله عنه: دامشهور او معروف صحابئ رسول حضرت انس بن مالك بن نضر خزرجی انصاری رضي الله عنه دي. دَ دوئ تذكره كشف الباری، كتاب الايمان، باب: من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه لاندې تيره شوی ده.[4]

دَ تعليق شرح: "ياأباحمزة" دا دَ حضرت انس بن مالك رضي الله عنه كنيت دي.[5]

قوله: "وما يحرم؟" دَ اصيلي په روايت كښې دَدې جملې په شروع كښې "و" نشته دي. دَ اثبات په صورت كښې په دې "واؤ" كښې دوه احتمالات دي. يو دا چه استينافيه وی او دَ "ما يحرم"

[1] كشف الباري: ۲۹۷/۳.
[2] تهذيب الكمال: ۳۸/۸-۳۵، الطبقات الكبرى لابن سعد: ۲۹۱/۷، سيرأعلام النبلاء: ۱۲۶/۶، تهذيب التهذيب ۸۲/۳، إكمال تهذيب الكمال للمغلطائي: ۳۰۹/۱.
[3] كشف الباري، كتاب الصلاة، باب: فضل استقبال القبلة، ص: ۱۸۰.
[4] كشف الباري: ۴/۲.
[5] عمدة القاري: ۱۸۹/۴، إرشادالساري: ۵۵/۲.

نه كلام مستانفه وي. او دويم احتمال د "واؤ د عاطفه" كيدو دې. په دې صورت كښې به دَدې معطوف عليه "شيئ" محذوف وي. يعنى عبارت به داسې وي: "سأل عن شيئ ثم قال: وما يحرم؟" [١]

يواشكال اودَ هغې جواب: دلته دا اشكال دې چه جواب دَ سوال مطابق نه دې ځكه چه دَ حضرت انس رضي الله عنه نه دَ تحريم دَ سبب (يعنى كوم يو څيز دَ سړى ځان اومال حراموى) متعلق سوال كړې شوې وو. دَدې په جواب هغوى "من شهد أن لا إله إلا الله" اوفرمائيل نوښكاره خبره ده چه جواب دَ سوال مطابق نه شو؟

نودَدې جواب دادې چه حضرت انس بن مالك رضي الله عنه په اصولى توګه جواب وركړو په دې معنى چه كوم سړې دَ شهادت دَ كلمې اقرار اوكړى، زمونږ په طريقه باندې مونځ اوكړى، زمونږ دَ قبلې طرف ته مخ كړى، او زمونږ ذبيحه استعمال كړى نوداسې سړې مسلمان دې او دَ مسلمان وينه بهيول اودَ هغه مال پسې لګيدل حرام دى. يعنى هغوى چه په كومه اندازه باندې جواب وركړو دَهغې نه پخپله پته اولګيدله چه كوم څيز دَمسلمانانو ځان اومال حراموى. [٢]

قوله: ماللمسلم: مراد چه كومه منافع او فوائد مسلمانانوته رسيږى هم هغه به دې مسلم ته ملاويږى.

قوله: ماعلى المسلم: مراد چه كوم تكليف دَمسلمانانودَ پاره وى هم هغه به دَدې مسلم دَ پاره وى. [٣]

دَتعليق مقصد: امام بخارى رحمه الله دا يو بل استاذ پيش كوى. وړاندې دَهغوى استاذ په اول حديث كښې عمرو بن عباس رضي الله عنه وو په دويم حديث كښې نعيم رحمه الله وو او دلته دَ على بن المدينى رحمه الله روايت بيانوى. هم دَدې باب په ړومبى حديث كښې ئې دَ ميمون بن سياه رحمه الله روايت پيش كړې وو. دلته دَ هغه تقويت بيانول مقصود دې. هلته دَميمون نه نقل كونكې منصور بن سعد رحمه الله وو او دلته حميد الطويل رحمه الله دې. په دې وجه دا دَ حميد روايت دَمنصور دَ روايت متابع دې. او دا دواړه دَ ميمون رحمه الله نه روايت كوى دغه شان تائيد اوشو اودَ سماع تصريح هم اوشوه. په ړومبى روايت كښې عن انس بن مالك رضي الله عنه وو او دلته "سأل" دې نودا سماع شوه. [٤]

---

[١] فتح البارى: ٦٤٥/١، عمدة القارى: ١٨٩/٤، إرشادالسارى: ٥٥/٢.

[٢] فتح البارى: ٦٤٥/١، عمدة القارى: ١٨٩/٤.

[٣] عمدة القارى: ١٨٩/٤، إرشادالسارى: ٥٥/٢.

[٤] عمدة القارى: ١٨٩/٤، إرشادالسارى: ٥٥/٢.

۲ - (۱) بَابُ قِبْلَةِ أَهْلِ المَدِينَةِ وَأَهْلِ الشَّامِ وَالمَشْرِقِ

«لَيْسَ فِي المَشْرِقِ وَلَا فِي المَغْرِبِ قِبْلَةٌ» لِقَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَسْتَقْبِلُوا القِبْلَةَ بِغَائِطٍ أَوْ بَوْلٍ، وَلَكِنْ شَرِّقُوا أَوْ غَرِّبُوا»

دترجمة الباب مقصد:

دحضرت شيخ الحديث رحمه الله **رائې:** حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائي چه ما بيان کړي دي چه دامام بخاري رحمه الله ټوله کتبه دغوی تراجم دی او ما دا هم بيان کړي وو چه چونکه د امام بخاري رحمه الله وظيفه د استنباط طريقه ده په دې وجه دتعليم په لحاظ سره بخاری شريف په دريمه درجه کښې دې. اګرچه د فضيلت په لحاظ سره د ټولو نه مقدم دې او د بخاری ټول روايات صحيح دی. که چرته چا کلام کړې دې نو غلط ئې کړی دی. نودغوی د تراجمو اثبات پخپله يو معرکة الآراء څيز دې او بيا ما باب: "من بدأ بالحلاب والطيب" کښې دا وئيلی وو چه څه تراجم داسې هم دی په کوم کښې چه شراحو او مشائخود خپلې طبع مطابق کوشش کړې دې. او بيا داهم نه ده معلومه چه د امام بخاری رحمه الله غرض ددې ابوابو نه څه دې؟ اګرچه توجيه هرڅائی کوی نو دلته به هم توجيه بيانوم ځکه چه دا باب هم د هغه ابواب نه دې کوم چه معرکة الآراء دی.

حضرت امام بخاری رحمه الله فرمائي: "باب قبلة أهل المدينة وأهل الشام" د اهل مدينه قبله خو په جنوب کښې ده ځکه چه مکه د مدينې نه د جنوب طرف ته واقع ده او د اهل شام قبله هم جنوب کښې ده. ځکه چه شام د مدينې نه په شمال کښې واقع دې تردې پورې خو هيڅ اشکال نشته مګر وړاندې چه کوم "والمشرق" امام بخاری رحمه الله اضافه کړې دې دا په هيڅ شان سره نه صحيح کيږی. ځکه چه د بعضې شارحينو رائې خودا ده چه دا د کاتب غلطی ده. او د بعضې شارحينو رائې داده چه دا اشکال هغه وخت کيږی چه کله "والمشرق" په جر سره اولوستلې شی او که چرې دا "والمشرق" چه رفع سره اولوستلې شی او خبر شی محذوف اومنلې شی نو بيا هيڅ اشکال نشته. په دې صورت کښې به تقديری عبارت داسې شی: "والمشرقُ بخلافهما" يعنی "قبلةُ أهل المشرق قبلةُ أهلِ مدينة والشام" مګر په دې توجيه باندې دا اشکال دې چه بيا په دې مخالفت کښې دمشرق څه تخصيص دې؟ د مغرب قبله هم ددې دواړو خلاف ده. علامه عينی رحمه الله ددې جواب ورکوی چه دلته "والمغرب" محذوف دې، على طريقة قوله تعالى: ﴿ سَرَابِيلَ تَقِيكُمُ الحَرَّ ﴾ أي: والبرد يعني د: أحد المتقابلين په ذکر ئې اکتفاء اوکړه. ځکه چه دويم به په خپله په پوهه کښې راشی مګر په دې مجموعه باندې دوه اشکالات

---

(۱) کشف الباری کښې د الدکتور مصطفى ديب البغا چه کومه نسخه دمتن په توګه بنياد جوړکړی شوې دې دهغه نسخې مطابق ددې باب نمبر د "ابواب القبلة" لاندې دويم دې. خو په نورو نسخوکښې کوم چه فتح الباری، عمدة القاری او ارشاد الساری وغيره کښې د هغې مطابق ددې باب نمبر ۲۹ دې.

راځي. يو خودا چه بيا دا ترجمه د بخاري رحمه الله د شان موافق نه پاتې کيږي ځکه چه دا خبره خو بالکل ښکاره ده چه کومه د يو طرف والو قبله وي د بل طرف والو به نه وي. دويم اشکال دادې چه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي: "والمشرق" چه په کوم روايت کښې ذکر دې هغه په جر سره دې.

اوس تاسو دا واوړئي چه "والمشرق" نه په جر سره دې اونه په رفع سره. اوس چه دلته کوم اشکال راځي دهغې وجه داده چه "والمشرق" نه عام مراد مراد اخستې شوې دې. حالانکه د امام بخاري غرض ددې نه عام نه دې بلکه خاص دې. اود خاص کيدو مطلب دادې چه ددې نه د خاص خطې خلق مراد دي کوم چه دبخارا او مرو وغيره دي. دا علاقې په هغه زمانه کښې مشرق ياديدلې او شام چونکه ددې نه مغرب کښې واقع دې په دې وجه به ئې هغې ته مغرب وئيلو. نودلته د مشرق نه مراد خاص بخارا او مرو وغيره دي کوم چه د شام په مقابل کښې مراد دي او اهل شام دهغې په مقابل کښې په مغرب کښې دي. اود بخارا، مرو وغيره نه قبله د جنوب په طرف کښې ده لهذا کومه چه د اهل مدينه او شام قبله ده هم هغه د اهل مشرق خاص يعنى د اهل بخارا او مرو وغيره قبله شوه. مګر مرو وغيره لږ شان مشرق طرف کښې واقع دي په دې وجه د حضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله نه امام ترمذي رحمه الله په ترمذي شريف کښې "واختار ابن المبارك لأهل مرو التياسر" نقل کړې دې چه لږ شان ګس طرف ته مائل کيدو سره دې مونځ وغيره کوي. اوس اشکال پاتې نه شو او د کوکب الدري صفحه ۱۴۲ جلد اول په حاشيه کښې دي چه کوم ځائې د حضرت ابن المبارک رحمه الله دا مقوله ترمذي کښې ذکر ده هلته د بخارا، مرو، مکه، مدينه او د شام صورت جوړولو سره ما دا واضحه کړې ده چه مطلق د اهل مشرق قبله مغرب ده لکه چه مونږ بالکل په مشرق کښې واقع يو لهذا قبله مغرب ده[1]

د حضرت کشميري رحمه الله رائې: دامام بخاري رحمه الله مقصد دادې چه د اهل مدينه اود کعبې په لحاظ سره هم ددې په طرف کښې واقع د شام ملك او مدينه طيبه نه د مشرق والا نباړونو قبله د هغوي مشرقي اومغربي طرف کښې نه ده او هم ددې د پاره حضور پاك عليه السلام ارشاد اوفرمائيلو چه د اودس ماتي په وخت د مشرق اومغرب طرف کښې ستاسو د پاره د مخ کولو اجازت دې چه دا د کعبې معظمې په تعظيم کښې مخل نه دې. د امام بخاري رحمه الله دا مطلب نه دې چه د دنيا د هرې حصې د خلقو د پاره هم د مشرق اومغرب په طرف کښې قبله نشته دې ځکه چه د امام بخاري رحمه الله په شان جليل القدر د زماني علامه نه ددې څه توقع نه شي کيدې.

بيا هم علامه ابن بطال رحمه الله د امام رحمه الله هم دغه مراد ګرځولو سره ددې د صحيح کولو توجيه کړې چه د کعبې په مشرق او مغرب کښې هم چه کومو ښارونه د هغه خط لاندې واقع دي چه د مشرق اومغرب پورې د کعبې د پاسه تيريږي، صرف هغه پريخودو سره باقي د هغه

---

[1]) تقرير بخاري شريف: ۲/۱٤٤-۱٤٣.

تولو د پاره چه ددغه خطې ښی او ګس طرف ته اباد دی د انحراف د وجې نه د جواز ګنجائش دی. لکه څنګه چه حضرت ابو ایوب رضي الله عنه اوکړه چه شام ته تلو سره د عیسایانو د زمانې د قبلې طرف ته جوړو شوو بیت الخلاګانو استعمال ئې په انحراف سره اوکړو اوچونکه ددې معمولی انحراف هغوی عادت نه وو نو هغه ئې طبعًا او عادةً مکروه ګڼړلو سره استغفار هم اختیارکړو.

محقق عینی رحمه الله دعلامه موصوف رحمه الله دا توجیه ذکرکولو سره په دې باندې نه صرف دا چه څه نقد اونه کړو بلکه دائی نوره زیاته سنبالولو سره وړاندې کړې ده. کوم سره چه دواړه توجیهات په خپل خپل ځائی صحیح کیږی. یعنی د امام بخاری رحمه الله مراد صرف اهل مدینه، اهل شام او د مدینې نه د مشرق طرف ته پراته دعربو ښارونه وی نو بیا خو خبره صفا ده لیکن که چرې د ابن بطال رحمه الله والا توجیه مراد وی نو بیا هم څه حرج نشته دې چه د مشرق اومغرب نه مراد د مشرق او مغرب طرف ته تول طرفونه کیدې شی. تیك دمینځ خط مشرق او مغرب پریخودو سره دجنوب او شمال طرف ته لږ شان انحراف هم د اودس ماتی وخت کښې کافی دې او هم دغه تشریق وتغریب دې. په کوم کښې چه د کعبې معظمې د تعظیم خلاف څه خبره نشته دې او چونکه تیك د مینځنی خط والا به په نسبت د نورو طرفونو ډیر کم خلق وی. دهغوی طرف ته لکه چه په دې عام حکم کښې څه تعرض نه دې کړې شوې. محقق عینی رحمه الله په دې توجیه کښې په خاص توګه دمذکوره انحراف سره د اودس ماتی هم قید ښکاره کړې دې دې دپاره چه معلومه شی لکه څنګه چه دلته دامت نه د تنګئ لرې کولو دپاره د عند الغائط په وخت لږ شان انحراف په طرف د شمال او جنوب شریعت کافی ګرځولی دی. دغه شان بل طرف ته هم دتنګئ د لرې کولو دپاره په مونځ کښې د قبلې طرف ته مخ کولو په واسطه د دائرې د څلورمې حصې پورې توسع جائز کړې شوې ده. په دواړو ځایونو کښې توسع ملحوظ ده، ولله در المحقق العینی رحمه الله اوکیدې شی چه هم ددې د پاره عینی ددې بحث په شروع کښې دا الفاظ ادا کړی دی چه دلته مونږ له قلم ته زور ورکولو سره لږ شان زور دار لیکل پکار دی ځکه چه بعضې نورو خلقو خامخا د دوه مخیزو بحثونو لار اختیار کړې ده.

دلته د ترمذی د دویم حدیث وغیره مراد هم واضح شو په کوم کښې چه "مابین المشرق والمغرب قبلة" راغلې دې. محقق عینی رحمه الله لیکلی دی چه هغه هم صرف مدینې او ددې په طرف کښې واقع ښارونو اوملکونو د پاره دې اولکه څنګه چه دهغوی د پاره وسعت دې هم دغه شان وسعت به د مشرق اومغرب طرف ته اوسیدونکو دپاره هم د جنوب اوشمال په لحاظ سره وی اودې سره دقبلې په طرف کښې د دائرې د څلورمې حصې پورې د وسعت جواز هم ملاویږی. یعنی لکه څنګه چه د مدینې والو د کعبې معظمې نه په شمال کښې د نورو اوسیدونکو دپاره د قبلې طرف مابین المشرق والمغرب وسیع دې. دغه شان به د اهل مشرق د پاره مابین الشمال والجنوب وسعت وی[1]

---

[1]) انوار الباری: ١٢/١٩٤-١٩٣.

دَعلامه شبیر احمدعثمانی صاحب رحمه الله رائې: حضرت عثمانی رحمه الله فرمائی دلته دَ "والمشرق" څه مطلب دې؟ په دې کښې شارحینو ډیر ګړبړ کړې دې. په حقیقت کښې دَ امام بخاری رحمه الله مطلب دادې چه دَمدینې او دَ شام والو قبله کوم طرف ته ده. (هغه به په دې باب کښې بیانوم)

"والمشرق" یعنی دَ اهل مشرق قبله کومه ده؟ هغه به هم معلومه شي. (امام بخاری رحمه الله دلته صرف دَمشرق ذکرکړې دې، دَ مغرب ذکر ئې نه دې کړې لکه چه مراد هغه هم دې مګر مشرق او مغرب (دَدې دوؤ) ضدین نه ئې صرف دَ یو ذکر کول کافي اوګڼل، مراد دواړه دی. لکه چه ﴿وَجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيلَ تَقِيكُمُ الْحَرَّ﴾ (النحل: ۸۱) (کښې ضدین یعنی حروبرد نه صرف دَ یو ذکر کړې شوې دې اګرچه دواړه مراد دی). الغرض مطلب دادې چه دَمدینې او شام والو قبله خو به په خاص توګه ذکرکوم. دا دواړه په حدیث کښې منصوص دی، هم په دې سره به دَ اهل مشرق او اهل مغرب قبله معلومه شي.([1])

دَ حضرت کاندهلوی رحمه الله رائې: حضرت مولانا محمد ادریس کاندهلوی رحمه الله فرمائی چه دَدې ترجمې نه مراد دادې چه دَ اهل مدینه او اهل شام قبله دَمشرق او مغرب طرف ته نه ده بلکه دَ جنوب اوشمال طرف ته ده. دلیل دادې چه نبی کریم ﷺ دَ اهل مدینه اودَ اهل شام دَ پاره دَمشرق او مغرب طرف ته مخ کولو سره اودس ماتي مباح ګرځولي دي. اودَ مشرق نه مراد دَ عربو دَ ښارونو مشرق طرف دې نه چه دَ ټولې دنیا مشرق. خلاصه دَ کلام داده چه دَ امام بخاری رحمه الله مقصود دَدې ترجمې نه صرف دَ اهل مدینه او اهل شام دَ قبلې ذکر کول دی نه چه دَ ټولې دنیا والو دَ قبلې طرف ذکر.([2])

دَعلامه ابن بطال رحمه الله او علامه کورانی رحمه الله رائې: په دې باره کښې دَ صحیح بخاری ډیر پخوانی شارح علامه ابن بطال رحمه الله یوه داسې توجیه بیان کړې ده کومه چه روستونو دَ حدیث شارحینو نه یو شارح هم نه ده قبوله کړې. هغه دا چه ترجمة الباب کښې دَ ذکر شوی لفظ مشرق نه صرف دَ اهل مدینه یا اهل شام مشرق مراد نه دې بلکه دَدې نه مراد دَ ټولې دنیا مشرق والا خلق دی او په ظاهره هم دَدې په تائید کښې علامه کورانی رحمه الله هم خپله دَ بخاری شریف په شرح الکوثر الجاري کښې هم دا قول ذکر کړې دې([3])

چنانچه دَدې په تردید کښې دَټولو نه تفصیلي کلام علامه انور شاه کشمیری رحمه الله کړې دې. هغوی دَدې قول خرابیانې بیان کړی دی. دَدې نه علاوه اکثر شراحو (حافظ ابن حجر رحمه الله، علامه عینی رحمه الله، علامه قسطلانی رحمه الله، شیخ الحدیث محمدزکریا کاندهلوی رحمه الله او مولانا محمد ادریس کاندهلوی رحمه الله) دا توجیه نه ده اختیارکړې بلکه دَ مشرق نه مراد هم دَاهل مدینه مشرق مراد دې([4])

---

[1]) فضل الباري: ۳/۱۰۵-۱۰۴.
[2]) تحفة القاري: ۳/۴۶۲.
[3]) شرح ابن بطال: ۲/۶۲-۶۱ الکوثر الجاری: ۲/۸۰-۷۹.
[4]) فیض الباری: ۲/۴۱-۴۰،فتح الباری:۱/۶۴۶، عمدة القاری:۴/۱۹۱-۱۹۰،إرشادالساری: ۲/۵۶، الکنزالمتواری: ۴/۸۲، تحفة القاری:۲/۴۶۲.

دکلام خلاصه: دا ترجمه په مشکل تراجمو کښې شمیرلې شي لیکن مشکل نه ده. دا سې اوګڼئ چه بعضې نسخې خو هغه دي په کوم کښې چه "لیس لي المشرق ولا لي المغرب قبلة" راغلي دي. یعنی د "لیس لي المشرق ولا لي المغرب" نه پس لفظ "قبلة" ذکر دي. کومه نسخه چه زمونږ مخې ته ده په دې کښې هم دغه شان دي. په دې صورت کښې به دا ونیلې شي چه لفظ "باب" مضاف دې او "قبلةُ أهلِ المدينة" کښې لفظ "قبلةُ" مضاف اليه مضاف دې او "أهل المدينة، وأهلِ الشام، والمشرق" دا دریواړه د عطف په ذریعه د لفظ "قبلة" مضاف اليه دي او معنی داده چه دا باب د اهلِ مدینه او اهلِ شام اود اهلِ مشرق دقبلې د بیانولو د پاره دې. په دې دریواړو کښې اهلِ مدینه او اهلِ شام خو مشهور ښارونه دی او په آخره کښې چه کوم مشرق دې ددې نه مراد مشرق مدینه دې. د مدینې په مشرق کښې چه کوم خلق آباد دی لکه د نجد او عراق والا، دهغوی قبله بیانول غواړي. سوال اوشو چه دهغوی قبله کومه ده؟

جواب ورکړې شو چه "لیس لي المشرق ولا لي المغرب" دهغوی قبله نه په مشرق کښې ده اونه په مغرب کښې بلکه د جنوب طرف ته ده. مطلب دا چه دا یوه جمله د سوال د جواب ورکولو د پاره راوړلې شوې ده او "لیس لي المشرق ولا لي المغرب" کښې د "المشرق" نه مراد عام مشرق نه دې بلکه مشرق د أهلِ مدینه او مغرب د اهلِ مدینه مراد دې. داخو یو حل شو د عبارت چه بالکل واضح دې. دلته یو وړوکې شان اشکال پیدا کیږي چه امام بخاری رحمه الله "قبلة أهلِ المدينة وأهلِ الشام والمشرق" کښې صرف د مشرق ذکر کړې دې دمغرب ذکر ئې نه دې کړې. ددې وجه داده چه داهلِ مدینه په مشرق کښې خود مسلمانانو یوه لویه آبادی وه په دې وجه ئې د هغوی ذکر اوکړو او مغربِ مدینه کښې خو آبادی نه وه په دې وجه ئې د هغې ذکر اونه کړو.

ړومبې لفظ "المشرق" کوم چه د اهلِ مدینه او اهلِ شام نه پس ذکر شو، دې نه مراد د اهلِ مدینه مشرق دې. په دې کښې د نجد اوعراق علاقه داخل ده او دویمه جمله کومه چه "لیس لي المشرق ولا لي المغرب" ده. دا جمله مستانفه ده په دې وجه بغیرد واؤ راوړلې شوې ده. داجمله به په حقیقت کښې د یو سوال جواب جوړیږي چه تاسو ددې دریواړو قبله بیانول غواړئ. نو اوښایئ جواب ورکړې شو چه ددې دریواړو قبله نه په مشرق مدینه کښې ده او نه په مغرب مدینه کښې ده. لهذا اوس دوه طرفونه پاتې شو یا جنوب مدینه یا شمال مدینه. ښکاره خبره ده چه شمال مدینه کښې خو بیت المقدس راځی نو په جنوب مدینه کښې کعبه واقع شوه لهذا معلومه شوه چه د هغوی قبله د مدینې په جنوب کښې ده.

دویم صورت: چرته چه "لیس لي المشرق ولا لي المغرب" نه پس لفظ "قبلة" نشته دې. بعضې نسخو کښې داسې هم دی نو په دې صورت کښې به لفظ "بابٌ" باندې تنوین لوستلې شی او "قبلةُ" به مرفوع وی او "أهلِ المدينة، وأهلِ الشام، والمشرق" خپلو معطوفاتو سره "قبلةُ" دمضاف

دَ پاره به مضاف اليه كيدو سره مبتداء شي اودَدي دَ پاره "ليس لي المشرق ولالي المغرب" خبر شي. مطلب به دا شي چه دَاهلِ مدينه، اهلِ شام او اهلِ مشرق قبله نه خو مشرق كښې ده اونه په مغرب كښې.

په دې توجيه باندې يو اشكال پيدا كيږي چه "ليس لي المشرق ولالي المغرب" كښې "ليس" نه بلكه، "ليست" راتلل پكار وو ځكه چه دَ "ليس" مذكر ضمير دَ "قبلة" طرف ته راګرځي حالانكه مرجع مؤنث ده. نودَدې جواب دادې چه "قبلة" به دَ مستقبل په معنى واخستې شي اودَ "ليس" مذكر ضمير به دَهغې طرف ته راګرځولې شي.

دَ مذكوره تفصيل نه پس دا اشكال كول چه امام بخارى رحمه الله وئيلى دى چه "ليس لي المشرق ولا لي المغرب" په مشرق او مغرب كښې خو هډو قبله نشته دې حالانكه دَ اهل هند او اهل بخارا او اهل چين وغيره دَ ټولو قبله دَمغرب طرف ته ده. نودَدې جواب هم وركړې شو چه دلته دَ مشرق نه مشرق مدينه او دَ مغرب نه مغرب مدينه مراد دى. مطلقًا عام دَ مشرق طرف او عام دَ مغرب طرف مراد نه دى.

دويمه خبره داده چه دلته مذكوره حديث يا باب كښې صرف دَ اهلِ مدينه، اهلِ شام او دَ اهلِ مشرق قبله خودل مقصود دى. دَ ټولې دنيا قبله بيانول مقصود نه دى. ځكه چه كه دَ اهل هند قبله په مغرب كښې وى او كوم خلق چه دَ مغرب په آخره كښې آباد دى نو دَهغوى قبله دَ مشرق طرف كښې وى نو بالكل كيدې شي. دې نه دلته هډو تعرض مقصود نه دې[1]

تعليق: لِقَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ تَسْتَقْبِلُوا القِبْلَةَ، بِغَائِطٍ أَوْبَوْلٍ، وَلَكِنْ شَرِّقُوا أَوْغَرِّبُوا»

دَ تعليق ترجمه: (دَ اهلِ مدينه، اهلِ شام او اهلِ مشرق قبله نه مشرق كښې ده اونه مغرب كښې) دَدې دليل دَ وجې چه نبى كريم ﷺ ارشاد فرمائيلې دې: (قضائې حاجت) غټې متيازې يا وړې متيازې كولو وخت كښې دَ قبلې طرف ته مه مخ كوئى، ليكن دَمشرق يا مغرب طرف ته مخ كوئى.

دَتعليق تخريج: مذكوره تعليق هم په دغه الفاظو سره امام نسائى رحمه الله په خپل سنن كښې موصولاً نقل كړې دې وئى ګورئى: «أخبرنا محمد بن منصور قال: حدثنا سفيان، عن الزهرى، عن عطاء بن يزيد، عن أبي أيوب رضى الله عنه، أن النبى صلى الله عليه وسلم قال: لا تستقبلوا القبلة ولا تستدبروها لغائط أو بول، ولكن شرقوا أو غربوا»[2]

---

[1]) ملخص از فتح البارى: ۴۵/۱، عمدة القارى: ۱۹۱/۴-۱۹۰، إرشادالسارى: ۵۶/۱، فيض البارى: ۴۱/۲-۳۹، لامع المتوارى: ۳۶۴-۳۶۲.

[2]) عمدة القارى: ۱۹۱/۴.

(نوټ) په دې موضوع باندې (يعنى مذاهب ائمه باندې) تفصيلى كلام كشف البارى، كتاب الوضوء، باب: لا تستقبلوا القبلة بغائط أو بول إلا عند البناء: جدار أو نحوه كښې تيرشوې دې.

دتعليق مقصد: علامه عينى رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله ددې حديث د عموم نه دليل نيولې دې چه صحرا او آبادئى په دې حكم كښې برابر دى چه په دغه دواړو ځايونو كښې د اودس ماتى په وخت نه قبلې ته مخ كول جائز دى او نه قبلې ته شاه كول. او مذكوره حديث ئى د ترجمة الباب د اثبات دپاره دليل جوړ كړې دې.

د احنافو فقهاؤ كثرالله سوداهم هم دغه مذهب دې اود امام احمد رحمه الله هم يو روايت هم ددې مطابق دې. خو امام مالك رحمه الله او امام شافعى رحمه الله دې خبرې طرف ته تلى دى چه د اودس ماتى په وخت قبلې ته مخ كول په صحرا كښې خو ناجائز دى ليكن په آبادئى كښې جائز دى.

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائى چه حضرت امام بخارى رحمه الله لِقَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ تَسْتَقْبِلُوا القِبْلَةَ، بِغَائِطٍ أَوْ بَوْلٍ وَلَكِنْ شَرِّقُوا أَوْ غَرِّبُوا» ذكر كولوسره يو خو دا ثابته كړه چه په مشرق اومغرب كښې د اهلِ مدينه "ومن على سمتهم" قبله نه ده. هم دې سره نى د هغه خلقو په قول باندې هم رد اوكړو څوك چه وائى چه د "ولكن شرقوا أو غربوا" خطاب عام دې. اهلِ مدينه اود هغوى نه علاوه ټول د مشرق اومغرب طرف ته په حالت د استنجاء كښې قبلې ته مخ كولې شى كه قبله مخې ته وى يا شاته ولې نه وى.[1]

حديث باب [حديث نمبر ۳۸۶]

- ۳۸۶ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِاللهِ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الأَنْصَارِيِّ[2] أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «إِذَا أَتَيْتُمُ الْغَائِطَ فَلاَ تَسْتَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ وَلاَ تَسْتَدْبِرُوهَا، وَلَكِنْ شَرِّقُوا أَوْ غَرِّبُوا». قَالَ أَبُو أَيُّوبَ فَقَدِمْنَا الشَّأْمَ فَوَجَدْنَا مَرَاحِيضَ بُنِيَتْ قِبَلَ الْقِبْلَةِ، فَنَنْحَرِفُ وَنَسْتَغْفِرُ اللهَ تَعَالَى.

ترجمه حديث: د حضرت ابوايوب انصارى رضى الله عنه نه روايت دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو كله چه تاسو د اودس ماتى د پاره ځئ نو د قبلې طرف ته مه مخ كوئى اومه شاه كوئى. البته د مشرق يا مغرب طرف ته مخ كوئى.

د حضرت ابوايوب انصارى رضى الله عنه بيان دې چه بيا مونږ د شام ملك ته اورسيدو نو مونږ هلته بيت الخلاء د قبلې په طرف باندې جوړې شوې اوليدلې نو (د اودس ماتى په وخت) مونږ خپل مخ د قبلې طرف نه لږ شان اړولو اود الله تعالى نه به مو مغفرت غوښتلو.

تراجم رجال: د مذكوره حديث شريف په سند كښې ټول پنځه رجال دى:

① **على بن عبدالله رحمه الله:** دا حضرت ابوالحسن على بن عبدالله بن جعفر بن نجيح سعدى البصرى رحمه الله دې. د ابن المدينى رحمه الله په نوم مشهور دې. د دوى تفصيلى احوال كشف البارى،

---

[1] تقرير بخارى شريف: ۱۴۴/۲، الكنز المتوارى: ۸۲/۴، سراج القارى: ۴۳۰/۲.

[2] مرتخريجه رقم الحديث: ۱۴۴، كشف البارى، كتاب الوضوء، باب: "لاتستقبل القبلة بغائط أو بول إلا عندالبناء: جدار أو نحوه".

كتاب العلم،باب: الفهم في العلم کښې تیر شوی دی.[1]

② سفيان رحمه الله: دا مشهور امام حدیث، تبع تابعی حضرت ابوعبدالله سفیان بن سعید بن مسروق ثوری کوفی رحمه الله دې. دَ دوی تفصیلی حالات کتاب الإیمان، باب: علامة المنافق دَ دویم حدیث لاندې تیر شوی دی.[2]

③ زهري رحمه الله: دا امام محمد بن مسلم، بن عبيد الله، بن شهاب الزهري رحمه الله دې. دَ دوی مختصر حالات کشف الباری، کتاب بدء الوحی دَ دریم حدیث لاندې تیر شوی دی[3]

④ عطاء بن يزيد الليثي رحمه الله: دا ابومحمد یا ابو یزید عطاء بن یزید اللیثی، ثم الجندعی المدنی، ثم الشامی رحمه الله دې. دَ دوی تفصیلی احوال کشف الباری، کتاب الوضوء، باب: لا تستقبل القبلة بغائط أو بول إلا عند البناء، جدار أو نحوه لاندې تیر شوی دی.[4]

⑤ حضرت ابوایوب انصاري رضي الله عنه: دا دَ رسول الله میزبان، حضرت ابو ایوب خالد بن زید بن کلب بن ثعلبه بن عبد عوف بن غنم الانصاری النجاري الخزرجی رضي الله عنه دې. دَ دوی هم تفصیلی احوال کشف الباری، کتاب الوضوء، باب: لا تستقبل القبلة بغائط أو بول إلا عند البناء، جدار أو نحوه لاندې تیر شوی دی.[5]

شرح حديث: «إِذَا أَتَيْتُمُ الغَائِطَ فَلاَ تَسْتَقْبِلُوا القِبْلَةَ، وَلاَ تَسْتَدْبِرُوهَا وَلَكِنْ شَرِّقُوا أَوْ غَرِّبُوا»

حضرت رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد فرمائیلی دې چه کله تاسو دَ اودس ماتی دَ پاره لاړشئ نو دَ قبلې طرف ته مه مخ کوئی اومه شاه کوئی البته دَ مشرق یا مغرب طرف ته مخ کوئی.

دَ دې جملې تشریح، متعلقه مسئله، دَ علماؤ اختلاف او دَ احنافو دَ ترجیح وجه په پوره تفصیل سره کشف الباری، کتاب الوضوء، باب: لا تستقبل القبلة بغائط أو بول إلا عند البناء، جدار أو نحوه رقم الحديث: ۱۴۴ کښې تیره شوې ده.

قوله: قَالَ أَبُو أَيُّوبَ: «فَقَدِمْنَا الشَّأْمَ فَوَجَدْنَا مَرَاحِيضَ بُنِيَتْ قِبَلَ القِبْلَةِ فَنَنْحَرِفُ، وَنَسْتَغْفِرُ اللَّهَ تَعَالَى»

یعنی دَ حضرت ابوایوب انصاری رضي الله عنه بیان دې چه بیا مونږ دَ شام ملك ته اورسیدو نو مونږ هلته بیت الخلاء دَ قبلې په طرف جوړې شوې اولیدلې نو (دَ اودس ماتی په وخت) به مونږ خپل مخ دَ قبلې نه لرې شان کړخولو او دَ الله تعالى نه به مو مغفرت غوښتلو.

---

[1] کشف الباری: ۲۹۷/۳.

[2] کشف الباری: ۲۷۸/۲.

[3] کشف الباری: ۳۲۶/۱.

[4] کشف الباری، کتاب الوضوء، باب:لا تستقبل القبلة بغائط أو بو إلا عندالبناء، جدار أو نحوه رقم الحدیث:۱۴۴.

[5] کشف الباری، کتاب الوضوء، باب:لا تستقبل القبلة بغائط أو بو إلا عندالبناء، جدار أو نحوه رقم الحدیث:۱۴۴.

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائى چه اوس تاسو دا واورئى چه امام بخارى رحمه الله دا ټکړه هلته ذکر نه کړه چرته چه د استقبال او استدبار ذکر دې. صرف د حضرت ابن عمر رضى الله عنه روايت ئې نقل کړو ځکه چه هغه د هغوى موافق وو[1]

قوله: "فَقَدِمْنَا الشَّامَ": د حضرت ابو ايوب انصارى رضى الله عنه بيان دې چه بيا مونږ د شام ملك ته اورسيدو.

د حضرت ابو ايوب انصارى رضى الله عنه دا مذکوره کلام په شام کښې اوشو که په مصر کښې؟: د صحيح بخارى په مذکوره حديث شريف کښې دى چه حضرت ابو ايوب انصارى رضى الله عنه خبره د شام د ملك نقل کړې ده خو د سنن نسائى په روايت کښې دى چه د حديث راوى حضرت رافع بن اسحاق رحمه الله د حضرت ابو ايوب انصارى رضى الله عنه نه اوريدلى دى په داسې حال کښې چه هغه په مصر کښې وو...... الخ[2]

نو په دې باره کښې علامه سيوطى رحمه الله د شيخ ولى الدين العراقى رحمه الله په حواله او علامه سندهى رحمه الله فرمائى چه اگرچه د صحيحين په روايت کښې دا دى چه دا معامله د شام په ملك کښې پيښه شوې ده ليکن په دې دواړو روايتونو کښې هيڅ تعارض نشته دى او نه دا دواړه د يو بل معارض دى. ځکه چه د دې خبرې امکان موجود دې چه د ابو ايوب انصارى رضى الله عنه دا کلام په مصر کښې هم شوې وى او په شام کښې هم.[3]

اوشيخ مختار بن محمد الشنقيطي رحمه الله خپله شرح سنن النسائى "شروق أنوار المنن الكبرى الإلهيه" کښې د دې خبرې متعلق نور فرمائى چه (د علامه عراقى رحمه الله او علامه سندهى رحمه الله) دا خبره ډيره قرين قياس ده په خاص توگه چه کله د دواړو احاديثو مخرج هم مختلف دې ځکه چه د امام نسائى رحمه الله د تخريج کړې شوى حديث سند د نورو تخريج کړې شوې ائمو د سند نه مختلف دې. هغه داسې چه د اکثر ائمه ذکر کړې شوې روايت د امام زهرى رحمه الله دې. کوم چه هغوى د عطاء بن يزيد الليثي رحمه الله نه روايت کوى او د امام نسائي رحمه الله روايت د اسحاق بن عبدالله رحمه الله دې کوم چه هغه د رافع بن اسحاق رحمه الله نه روايت کوى[4]

---

[1] تقرير بخارى شريف: ١٤٢/٢.

[2] أخبرنا محمد بن سلمة والحارث بن مسكين قراءة عليه وأنا أسمع واللفظ له عن ابن قاسم قال حدثنى مالك عن إسحاق بن عبدالله بن أبى طلحة عن رافع بن إسحاق أنه سمع أبا أيوب الأنصارى وهو بمصر يقول: والله ما أدرى كيف أصنع بهذه الكرابيس وقدقال رسول الله صلى الله عليه وسلم : "إذا ذهب أحدكم إلى الغائط أو البول فلا يستقبل القبلة ولا يستدبرها". (سنن النسائى، كتاب الطهارة، النهى عن استدبار القبلة عند الحاجة، رقم الحديث: ٢٠).

[3] حاشية السيوطى، والسندهى على سنن النسائى، كتاب الطهارة، باب: النهى عن استقبال القبلة عند قضاء الحاجة، رقم الحديث: ٢٠، ٢٥/١. ذخيرة العقبى شرح سنن النسائى، كتاب الطهارة، باب: النهى عن استقبال القبلة عند قضاء الحاجة، رقم الحديث: ٢٠، ٤٤٣/١.

[4] شرح سنن النسائى المسمى ب شروق أنوار المنن الكبرى الإلهيه، كتاب الطهارة، باب: النهى عن استقبال القبلة عند قضاء الحاجة، رقم الحديث: ٢٠/١٤٧/١.

حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله فرمائیلي دي چه علماؤ د نسائي رحمه الله دا روایت غلط ګرځولي دي او علماء موجهین فرمائي چه قدوم ئې په شام کښې وو او روایت ئې په مصر کښې بیان کړې وو.[1]

قوله: "الشام": دا مشهور ښار دې. دَدې استعمال دَ مذکر او مؤنث دواړو شان سره کیږي. دَدې همزه تسهیلاً په الف سره هم لوستلې کیږي. دَدې ملك نوم دَ حضرت نوح علیه السلام دَ خوی سام بن نوح په نوم باندې کیخودې شوې وو. بیا عجمي لفظ کیدو دَ وجې نه سین په شین سره بدل کړې شو.[2]

قوله: "مَرَاحِيض": بفتح الميم، وبالحاء المهملة والضاد المعجمة، جمع ده دَ "مِرحاض" په کسرې دَ میم دادَ یو داسې مکان نوم دې کوم چه دَ اودس ماتي دَ پاره تیارولي شي.[3]

قوله: "فننحرف": دادَ انحراف نه دې یعنی مونږ به دَ قبلې دَ طرف نه تاویدو. دَ یوې نسخې مطابق دا لفظ "فنتحرّف" دَ التحرف نه دې. دَ دواړو مراد هم یو دې.[4]

قوله: "ونستغفرالله تعالٰی" اودَ الله تعالی نه به مو په خپلو ګناهونو باندې مغفرت غوښتلو.

دَانحراف عن القبله مطلب: دَانحراف عن القبله دوه معنې کیدې شي. یودا چه مونږ به دَ شام ملك کښې دَ بیت الخلاء کانو مخ دَقبلې طرف ته اولیدلو نو مونږ به واپس کیدلو، هغه به مو نه استعمالولې اودَ الله تعالی نه به مو استغفار کولو.

انحراف عن القبله باندې دَ استغفار وجه: په دې معنی باندې اشکال کیدې شي چه کله هغوی استعمالولې نه نو بیائې استغفار په کومه خبره کولو؟ دَدې اشکال اولنې جواب خو دادې چه دا استغفار دَ جوړونکو دَپاره وو چه هغوی دا څنګه خراب کار اوکړو.[5]

دَدې جواب باره کښې حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله فرمائي چه کومو خلقو چه وئیلی دي چه دائې دَ هغې دَجوړونکو دَ پاره استغفار کولو نودا غلط دې. ځکه چه دَدې جوړونکی خو کافران وو دَهغوی دَپاره دَ استغفار څه مطلب؟[6]

دَدې جواب داکیدې شي چه دَدوې استغفار به په هغه جوړونکودَدې دَ پاره وو چه دَ شام په

---

[1] تقریربخاري شریف: ۱٤۱/۲.

[2] تخب الأفکار فی تنقیح مبانی الأخبارفی شرح معانی الآثار، کتاب الکراهة، باب: استقبال القبلة بالفروج للغائط والبول: ۱۸۹/۱۳،عمدة القاري: ۱۹۲.

[3] تهذیب اللغة، المادة: رحض: ۲۰۳/٤،لسان العرب، المادة: رح ض: ۱۵۳/۷، تخب الأفکار فی تنقیح مبانی الأخبارفی بشرح معانی الآثار، کتاب الکراهة، باب: استقبال القبلة بالفروج للغائط والبول: ۱۸۹/۱۳.

[4] عمدة القاري: ۱۹۲/۴.

[5] عمدة القاري: ۱۹۲/٤،الکوثرالجاری: ۸۰/۲، إرشادالساری: ۵۷/۲، نخت الأفکار فی تنقیح مبانی الأخبار فی شرح معانی الآثار، کتاب ا لکراهة، باب: استقبال القبلة بالفروج للغائط والبول: ۱۸۹/۱۳، کوثر المعانی الدراری في کشف خبایا صحیح البخاری الحدیث الثالث: ۱۸/۷.

[6] تقریربخاری شریف: ۱٤۲/۲،الکنزالمتواری: ۸٤/٤-۸۳.

ملك کښې د حضرت عیسی علیه‌السلام شریعت موجود وو دهغې باوجود هغه خلقو د قبلې طرف ته بیت الخلاء جوړې کړې یعنی په هغوی باندې انکار کولو سره ئې استغفار کولو.[1]

دویم جواب دادې چه مونږ به استغفار کولو د قبلې طرف ته مخ کولو نه چه اې الله مونږ د اودس ماتی وخت کښې د قبلې طرف ته د مخ کولو نه همیشه محفوظ اوساتې. مونږ تا نه په دې خبره باندې معافی غواړو چه د اودس ماتی په وخت د قبلې طرف ته مخ کولو سره کینو یا شاه کولو سره کینو.[2]

یودریم جواب داهم کیدې شی چه کله به هم مونږ ته داخبره ښکاریدله چه خلقو په داسې طریقه باندې بیت الخلاګانې جوړې کړې دی نو مونږ ته به خپله ګناه یادیدله لکه چه څنګه هغوی دا غلطی کړې ده او د ګناه کار ئې کړې دې دغه شان مونږ هم د ګناه ډیرزیات کارونه کړې دی. په دې وجه به مونږ په خپلو ګناهونو باندې استغفار کولو. د تقوی دارو خلقو دا شان وی چه د ...ی د چا غلطی اوګوری نو د خپلو غلطونه استغفار کوی.[3]

څلورم جواب داکیدې شی چه ډیر ځل انسان څه منکر یا خرابه خبره لیدو سره استغفرالله وائی اګرچه هغه ګناه د هغه نه صادر شوې نه وی، فلا اشکال.[4]

د انحراف عن القبله دویمه معنی دا کیدې شی چه مونږ به دغه بیت الخلاګانې استعمالولې لیکن د خپل وس مطابق به په کګیدو سره کیناستو لیکن بیا به هم لږه ډیره غلطی کیدله او کوتاهی به واقع کیدله. په دې وجه د دغه کوتاهئ کیدو باندې به مونږ استغفار کولو.[5]

په دې باره کښې حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه‌الله فرمائی چه قاعده داده چه مشغول خلق اودس ماتی له هغه وخت ځی کله چه سخته تقاضا وی. د صحابه کرامو رضی‌الله‌عنهم هم دغه حال وو چه ډیر مشغول وو اوکله چه به په سختئ سره په طبیعت باندې تقاضا کیدله نوبیابه د بیت الخلاء طرف ته تلل او په تادئی کښې به د دې خیال نه پاتې کیدو او په دغه مراحیض کښې کوم چه د قبلې طرف ته جوړکړې شوې وو کیناستل به، خوچه کله به یادیدل نو خپل مخ به ئې اړولو او په خپله غلطئ باندې لکه چه په هیره باندې به کیدله خپیمانه کیدل او استغفار به ئې کولو. بهرحال دې حضراتو به په خپل فعل باندې استغفار کولو.[6]

---

[1]) الکوثر الجاری: ۸۰/۲.

[2]) عمدة القاری: ۱۹۲/٤، إرشادالساری: ۵۷/۲،نخب الأفکار فی تنقیح مبانی الأخبار فی شرح معانی الآثار، کتاب الکراهة، باب: استقبال القبلةُ بالفروج للغائط والبول: ۱۸۹/۱۳، کوثرالمعانی الدراری فی کشف خبایا صحیح البخاری، الحدیث الثالث: ۱۸/۷.

[3]) عمدة القاری: ۱۹۲/٤، ،نخب الأفکار فی تنقیح مبانی الأخبار فی شرح معانی الآثار، کتاب الکراهة، باب: استقبال القبلةُ بالفروج للغائط والبول: ۱۸۹/۱۳، کوثرالمعانی الدراری فی کشف خبایا صحیح البخاری، الحدیث الثالث: ۱۸/۷.

[4]) الکوثرالجاری: ۸۰/۲.

[5]) الکوثرالجاری: ۸۰/۲.

[6]) تقریر بخاری شریف: ۴۲/۲ ا الکنزالمتواری: ۸۴/٤-۸۳، سراج القاری: ۴۳۱/۲.

د حديث شريف نه مستنبط شوې فوائد: د مذكوره حديث شريف نه ډيرې فائدې مستنبط كيږي په كوم كښې چه څه لاندې نقل كولې شي:

① د اودس ماتي وخت كښې قبلې ته مخ كول او شاه كول دواړه ناجائز دي.[1]

② قبلې ته د مخ كولو او شاه كولو كراهت په صحرا او آبادئى دواړو ځايونو كښې دې.[2]

③ د شعائر الله تعظيم او احترام باندې تنبيه معلوميږي.[3]

④ اهل مدينه او اهل شام د پاره د قبلې طرف په مشرق او مغرب كښې كيدل معلوميږي.[4]

تعليق: وَعَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَطَاءٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا أَيُّوبَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ[ر:١٤٤]

د تعليق تخريج: امام بخاري رحمه الله د سابقه حديث متابعت د پاره يو بل سند پيش كړې دې. چنانچه د "وعن الزهري" عطف سابقه سند كښې "حدثنا سفيان عن الزهري" باندې دې يعنى سابقه سند "حدثنا علي بن عبد الله قال: حدثنا سفيان قال: حدثنا زهري، عن عطاء بن يزيد، عن أبي أيوب الأنصاري رضي الله عنه" وو او موجوده سند "وعن الزهري عن عطاء قال سمعت أبا أيوب عن النبي صلى الله عليه وسلم وسلم مثله" دې. د دې طريق فائده داده چه په دې طريق كښې د دې خبرې تصريح ده چه عطاء د حضرت ابو ايوب رضي الله عنه نه سماع كړې ده او په مخكينى طريق كښې سماع ثابته نه وه.[5]

او علامه كرماني رحمه الله فرمائي چه سماع د عنعنې نه قوى وي ليكن په دې كښې ضعف دې "عن الزهري" د تعليق په جهت سره.[6]

---

[1] عمدة القاري: كتاب الوضوء، باب: لا تستقبل القبلة بغائط أو بول إلا عندالبناء، جدار أو نحوه، رقم الحديث: ١٤٤، ٤٢٢/٢. الشرح الميسر للصابوني، كتاب الوضوء، باب: لا تستقبل القبلة بغائط أو بول إلا عندالبناء، جدار أو نحوه، رقم الحديث: ١٤٤، ٢٣٥/١.

[2] التوضيح لشرح الجامع الصحيح لابن ملقن، كتاب الوضوء، باب: لا تستقبل القبلة بغائط أو بول إلا عندالبناء، جدار أو نحوه، رقم الحديث: ١٤٤، ١٠٦/٤. الشرح الميسر للصابوني، كتاب الوضوء، باب: لا تستقبل القبلة بغائط أو بول إلا عندالبناء، جدار أو نحوه، رقم الحديث: ١٤٤، ٢٣٥/١.

[3] عمدة القاري: كتاب الوضوء، باب: لا تستقبل القبلة بغائط أو بول إلا عندالبناء، جدار أو نحوه، رقم الحديث: ١٤٤، ٤٢٤/٢. الشرح الميسر للصابوني، كتاب الوضوء، باب: لا تستقبل القبلة بغائط أو بول إلا عندالبناء، جدار أو نحوه، رقم الحديث: ١٤٤، ٢٣٥/١.

[4] أعلام الحديث للخطابي، كتاب الوضوء باب: لا تستقبل القبلة بغائط أو بول إلا عندالبناء، جدار أو نحوه، رقم الحديث: ١٤٤، ٢٣٩/١. الشرح الميسر للصابوني، كتاب الوضوء، باب: لا تستقبل القبلة بغائط أو بول إلا عندالبناء، جدار أو نحوه، رقم الحديث: ١٤٤، ٢٣٥/١.

[5] فتح الباري: ٦٤٦/١، عمدة القاري: ١٩٣/٤-١٩٢، الكوثر الجاري: ٨٠/٢، اللامع الصبيح شرح الجامع الصحيح للبرماوي: ١١٨/٣.

[6] شرح الكرماني: ٥٨/٤.

نو حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عينى رحمه الله ددې جواب ورکړي دي چه په ظاهره خود علامه کرمانى رحمه الله خبره صحيح ده ليکن هم دغه حديث په مسند اسحاق بن راهويه کښې مسنداً موجود دي لهذا اوس څه اشکال باقى نه پاتې کيږى(١)

٣-باب: قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالَى: {وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى} [البقرة:١٢٥]

دَ الله تعالى ارشاد مبارك دې چه دَ ابراهيم عليه السلام دَ قيام ځائى دَمونځ ځائى جوړ کړئى

دَترجمة الباب غرض:

دَ حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله رائې: دَ حضرت امام بخارى رحمه الله ددې باب نه څه غرض دې؟ دَبعضې علماؤ رائې داده چه "اتخذوا" دَ امر صيغه ده، ددې نه په ظاهره وجوب په پوهه کښې راځى. نوحضرت امام بخارى رحمه الله داباب قائمولو سره اوخودل چه امر ايجابى نه دې او هم دغه زما دَ والد صاحب قدس سره رائې ده. اودَ بعضې علماؤ رائې داده چه "اتخذوا" دَ خپل اطلاق دَ وجې مطلقًا په اتخاذ صلوة باندې دلالت کوى. نو امام بخارى رحمه الله دا ترجمه ګردان کولوسره او روايتونه ذکرکولو سره اوخودل چه دې نه خاص رکعتى الطواف مراد دى. او دَ بعضې علماؤ رائې داده چه دَ من مقام ابراهيم دَ لفظ نه په ظاهره دَدغه مقام تخصيص معلوميدلو. نو امام بخارى رحمه الله روايات ذکرکولو سره اشاره اوفرمائيله چه هيڅ تخصيص نشته بلکه دَدې سره خواؤشا حصه هم په مقام ابراهيم کښې داخله ده. خاص مقام مراد نه دې(٢)

او په سراج القاري کښې دَ حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله په نسبت سره دَ لامع الدرارى اوالکنزالمتوارى دَ تحريرونو خلاصه داسې پيش کړې شوې ده چه "اتخذوا" دَ امر صيغه ده اودَ امر اصل وجوب دې اومقام ابراهيم هغه کاڼړې دې په کوم باندې چه اودريدوسره حضرت ابراهيم عليه السلام دَ بيت الله تعمير کړې وو. او په دغه کاڼړى باندې دَ حضرت ابراهيم عليه السلام دَ دواړو خپو مبارکو نښې موجود دى. دا کاڼړې دَ بيت الله مخامخ نصب دې. او دَ "مصلّى" مطلب قبله ده. اوس لکه چه دَ آيت مفهوم دا شو چه مقام ابراهيم طرف ته دې مونځ اوکړې شى. حالانکه دَمقام ابراهيم طرف ته مونځ کول څوك ضرورى نه ګڼرى. په دې وجه لامحاله ياخودې "اتخذوا" کښې دَ وجوب نه علاوه څه بله معنى اختيار کړې شى يادې په مقام ابراهيم کښې توسع اختيار کړې شى. چنانچه اکثرو حضراتو "اتخذوا" کښې دَ وجوب په ځائى استحباب مراد اخستې دې اومقام ابراهيم نه مراد ئى هم هغه کاڼړې اخستې دې په

---

(١) فتح البارى: ٦٤٦/١ عمدة القارى: ١٩٣/٤.
(٢) تقريربخارى شريف: ١٢٥/٢.

كوم چه د ابراهيم عليه السلام د خپو نښې موجود دي. په دې صورت کښې چه کوم مونځ په مقام ابراهيم کښې دکولو حکم ورکړې شوې دې هغه صرف دَ تحية الطواف دوه رکعته دي يعنى هغه دوه رکعته کوم چه د طواف نه پس ادا کيږي. دَهغې دَ پاره دَ ټولو مقاماتو نه اوچت مقام مقام ابراهيم دې. يعنى هغه ځائې چرته چه دا کاڼړې کيخودلې شوې دې. او که چرې "اتخذوا" په خپل اصل معنى يعنى وجوب باندې محمول کړې شى نو په داسې صورت کښې به مقام ابراهيم کښې توسع کولو سره دَدې نه مراد کعبة الله اخستې شى. ځکه چه کعبه حضرت ابراهيم عليه السلام جوړه کړې ده او ښکاره خبره ده چه کعبه چونکه دَ مونځ قبله ده. په دې وجه هرسړې مکلف دې چه دَدې طرف ته مخ کولو سره مونځ اوکړي. په دې صورت کښې به صيغه دَ امر په خپل اصل يعنى دَ وجوب په معنى وى او دَ مقام ابراهيم نه مرادبه کعبه وى.(١)

دَعلامه فخرالدين احمد صاحب رحمه الله رائې: صدر المدرسين دارالعلوم ديوبند ليکى چه "اتخذوا" صيغه دَ امر دَ وجوب دَپاره نه ده بلکه دَ استحباب دَپاره ده. ليکن په دې صورت کښې مشکلات دادى چه امام بخارى رحمه الله چه دَ ترجمة الباب لاندې کوم درې روايتونه ذکر کړى دى په دې تقدير باندې به دَ دغه دريواړو روايتونو نه ومبې روايت خو دَ ترجمې سره بغيردَ څه تکلف نه منطبق شى ليکن دَباقى دوو روايتونو دَمنطبق کولو دَپاره به دَتکلفاتو نه کار اخستلې کيږى. ځکه چه دَامام بخارى رحمه الله دَ ذکرکړې شوى رواياتو په رڼرا کښې بهتر دا معلوميږى چه "اتخذوا" خو په خپل اصل معنى يعنى وجوب باندې محمول کړې شى او په مقام ابراهيم کښې توسع کولو سره دَدې نه مراد بيت الله شريف واخستې شى، ځکه چه بيت الله هم حضرت ابراهيم عليه السلام جوړ کړې دې او ښکاره خبره ده چه بيت الله دَ مونځ قبله ده په دې وجه هر سړې مکلف دې چه بيت الله طرف ته دې مخ کولو سره مونځ کوى. په دې صورت کښې صيغه دَ امر په خپل اصل يعنى دَ وجوب په معنى پاتې شو او دَ مقام ابراهيم معنى بيت الله شوه په دې صورت کښې به دَ دريواړو رواياتو انطباق کښې هيڅ مشکل نه وى(٢)

دمقام ابراهيم په مرادکښې يو څو اقوال: په دې سلسله کښې دَامت دَعلماؤ مختلف اقوال دى. ① هغه مقام چرته چه هغه کاڼړې کيخودې شوې دې په کوم چه دَابراهيم عليه السلام دَ خپو نښې دى. ② بيت الله شريف ③ مسجد حرام. ④ پوره حرم شريف.

دَدې څلورو مشهورو اقوالو نه مونږ دَويمه معنى مراد اخستې ده. په دريمه او څلورمه معنى کښې ډير زيات توسع ده او دَ آيت مبارك مراد دادې. "دَبيت الله شريف دَ هرې يوې حصې استقبال په مونځ کښې فرض دې، چونکه بيت الله هغه مقام دې کوم چه حضرت ابراهيم عليه السلام قائم کړو او جوړ کړې وو او ستاسو ملت، ملت ابراهيمى دې په دې وجه بيت الله ستاسو قبله مقرر کړې شوه".

---

(١) سراج القارى: ٤٣٢/٢، لامع الدرارى: ١٥٥/١-١٥٤، الكنزالمتوارى: ٨٥/٤-٨٤.
(٢) إيضاح البخارى: ١١٨/٣-١١٧.

دامعنی مراد اخستلو یوه فائده خو داده چه د امام بخاري رحمه الله ذکر کړې شوې روایت د بې تکلفه ترجمې سره منطبق کیږي. بله دا چه امام بخاري رحمه الله دا باب، ابواب قبله کښې ذکر کړې دې. که چرې "اتخذوا" په استحباب باندې محمول کړې شي او د مقام ابراهیم نه مراد هغه خاص کاڼړې واخستې شي نو ابواب قبله سره به د دې ربط کمزورې شي. والله اعلم.(۱)

دعلامه عثماني رحمه الله رائې: حضرت مولانا شبیراحمد عثماني صاحب رحمه الله صرف دومره خبره کوي چه د قبلې په ابوابو کښې دا باب راوړلو سره (امام بخاري رحمه الله) د مذکوره آیت: ﴿وَاتَّخِذُوا مِنْ مَّقَامِ إِبْرٰهِيمَ مُصَلًّى﴾ د تفسیر طرف ته اشاره کړې ده څکه چه مقام ابراهیم لره د مصلي جوړولو ظاهري مطلب به دا ګڼړلې شي چه په دې باندې اوردیدو سره مونځ اوکړې. امام بخاري رحمه الله (دا باب قائمولو سره) او خودل چه دا مطلب نه دې بلکه مراد دادې چه مقام ابراهیم د قبلې په شان مخې ته کولو سره مونځ کوني.(۲)

حدیث باب (رومبې حدیث)[حدیث نمبر ۳۸۷]

-۲۹۵ حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِي قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ قَالَ سَأَلْنَا ابْنَ عُمَرَ (۳) عَنْ رَجُلٍ طَافَ بِالْبَيْتِ الْعُمْرَةَ، وَلَمْ يَطُفْ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، أَيَأْتِي امْرَأَتَهُ فَقَالَ قَدِمَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- فَطَافَ بِالْبَيْتِ سَبْعًا، وَصَلَّى خَلْفَ الْمَقَامِ رَكْعَتَيْنِ، وَطَافَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، وَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ.

ترجمه حدیث: د حضرت عمرو بن دینار رحمه الله نه روایت دې چه مونږ د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه د هغه سړي باره کښې تپوس اوکړو چاچه د عمرې د پاره د بیت الله طواف اوکړو او صفا مروه کښې ئې سعي اونه کړه، آیا هغه خپلې بي بي سره کوروالې کولې شي؟ نو حضرت ابن عمر رضي الله عنهما په جواب کښې ارشاد اوفرمائیلو چه نبي کریم صلی الله علیه وسلم د (حجة الوداع په موقع باندې مکې) ته تشریف راوړو، (نو) حضورپاك اووه ځل د بیت الله طواف اوکړو او د مقام ابراهیم شاته ئې دوه رکعته مونځ اوکړو اوبیائې د صفا مروه په مینځ کښې سعي اوکړه. او بیشکه ستاسو د پاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ذات اقدس کښې بهترینه نمونه موجود

---

(۱) إيضاح البخاري: ۳/۱۱۸-۱۱۷، للامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ۳/۱۳۹.

(۲) فضل الباري: ۳/۱۰۶.

(۳) أخرجه البخاري أيضاً في الحج، في باب: صلى النبي صلى الله عليه وسلم لسبوعه ركعتين رقم الحديث: ۱۶۲۳، وفي باب: من صلى ركعتي الطواف خلف المقام، رقم الحديث: ۱۶۲۷. وفي باب: ماجاء في السعي بين الصفاء والمروة، رقم الحديث: ۱۶٤٥، ۱۶٤۷. وفي باب: متى يحل المعتمر، رقم الحديث: ۱۷۹۳. ومسلم في صحيحه، في الحج، باب: بيان أن المحرم بعمرة لا يتحلل بالطواب قبل السعي وأن المحرم بحج لا يتحلل بطواف القدوم وكذلك القارن، رقم الحديث: ۱۲۳٤. والنسائي في سننه، في الحج، باب: طواف من أهل بعمرة، رقم الحديث: ۲۹۳۳. وابن ماجة في سننه، في الحج، باب: الركعتين بعدالطواف، رقم الحديث: ۲۹۵۹. وفي جامع الأصول، حرف الحاء، الكتاب الأول: في الحج والعمرة، الباب الثامن: في التحلل وأحكامه، الفصل الثاني: في وقت التحلل وجوازه، رقم الحديث: ۱۶۱۲، ۳/۳۰۷.

ده. (لهذا دعمرې دپاره په صفا مروه کښې سعي ضرور کول پکار دی).
حضرت عمرو بن دينار رحمه الله وائی چه هم دغه سوال مونږ د حضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه نه اوکړو. هغوی صراحةً اوفرمائيل داسې سړې دې هيڅ کله خپلې بی بی سره کوروالې نه کوی ترهغې پورې چه د صفامروه په مينځ کښې سعی اوکړی.

تراجم رجال: په دی حديث شريف کښې ټول څلور رجال دی:

① الحميدی رحمه الله: دا ابوبکرعبدالله بن زبير بن عيسٰی قريشی، اسدی، حميدی، مکی، رحمه الله دې. دوی مختصر احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی، رومبی حديث لاندې او تفصيلی احوال کتاب العلم، باب: قول المحدث: حدثنا أو أخبرنا وأنبأنا لاندې تير شوی دی.(۱)

② سفيان رحمه الله: دا مشهور محدث، سفيان بن عيينه بن ابی عمران هلالی کوفی رحمه الله دې. د دوی مختصر احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی رومبی حديث لاندې او تفصيلی احوال کتاب العلم، باب: قول المحدث: حدثنا أو أخبرنا وأنبأنا لاندې تير شوی دی.(۲)

③ عمرو بن دينار رحمه الله: دا ابومحمد عمرو بن دينار مکی جُحمی رحمه الله دې. د دوی احوال کشف الباری، کتاب العلم، باب: کتابة العلم د دريم حديث لاندې تير شوی دی(۳)

④ ابن عمر رضي الله عنهما: دا مشهور صحابئ رسول حضرت عبدالله بن عمر بن خطاب رضي الله عنهما دې. د دوی احوال کشف الباری، کتاب الإيمان، باب: بني الإسلام على خمس کښې تير شوی دی(۴)

شرح حديث: طاف بالبيت العمرة: (د حضرت عمرو بن دينار رحمه الله نه روايت دې چه مونږ د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه د هغه سړی باره کښې تپوس اوکړو چه) چا د عمرې د پاره د بيت الله طواف اوکړو.

په دې جمله کښې لفظ "العمرة" د حرف جر لام په حذف سره دې. دا د مستملی اوحموی روايت دې. دې ځائې کښې حرف جر محذوف منلو نه بغير معنی نه صحيح کيږی په دې وجه تقدير منل ضروری دی. او په نورو ډيرو نسخو کښې دا لفظ د "العمرة" په ځائې "للعمرة" دې(۵) علامه برماوی رحمه الله ليکلی دی چه د لام نه بغير هم صحيح دې په دې صورت کښې به دا مفعول له وی او "العمرة" به د اعتمار په معنی کښې واخستلې شی.(۶)

---

(۱) کشف الباری: ۲۳۷/۱، ۹۹/۳.
(۲) کشف الباری: ۲۳۸/۱، ۱۰۲/۳.
(۳) کشف الباری: ٤/۳۰۹ .
(٤) کشف الباری: ۱/۶۳۷.
(۵) الکوکب الدراری: ٤/۵۹، مصابيح الجامع: ۱۱۲/۲، عمدة القاری: ٤/۱۹٤.
(۶) للامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ۱۳۹/۳.

داهم ممكن دى چه "العمرة" نه مخكښې لفظ دَ طواف په توګه دَ مضاف محذوف اومنلې شي
يا مضاف حذف كولو سره دَدې په ځائې مضاف اليه قائم مقام كړې شي.(١)

قوله: "ولم يطف بين الصفا والمروة" او دَ صفا مروه په مينځ كښې ئې سعى اونه كړه.

قوله: "لم يطف" دا لفظ دَ "لم يسع" په معنى دې يعنى "ولم يسع بين الصفا والمروة" چه هغه دَ صفا مروه په مينځ كښې سعى اونه كړه. سعى لره په طواف سره دَ تعبير كولو وجه داكيدې شى چه سعى هم دَ طواف يو قسم دې. يا دَمشاكلت او بيت الله دَ طواف مصاحب كيدو دَ وجې نه ئې سعى په طواف سره تعبير كړې ده.(٢)

قوله: "أيأتي امرأته" آيا هغه خپلې بى بى سره كوروالې كولې شى؟
همزه دَ استفهام دَپاره ده يعنى سوال ئې اوكړو چه عمره كښې دَ صفامروه په مينځ كښې دَسعى كولو نه مخكښې عمره كونكې به حلال وى كه نه؟ او هم په دې وجه ددا سې سړى دَ پاره به خپلې ښځې سره صحبت كول جائز وى كه نه؟ په دې مقام باندې سوال صرف دَ ښځې سره دَ مجامعت دَ حلال كيدو يا نه كيدو باره كښې په دې وجه كړې شوې دې چه بى بى له راتلل دَ احرام په حالت كښې دَ كړې شوو حرامو كارونو كښې دَ ټولو نه لوئى حرام كار دې ګنى دَ احرام نه حلاليدونه مخكښې دَټولو محرماتو حكم هم دا دې چه دَ هغې ارتكاب جائز نه دې.(٣)

قوله: فَقَالَ: قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: نوحضرت ابن عمر رضي الله عنهما په جواب كښې ارشاد اوفرمائيلو (نبى كريم ﷺ دَ حجة الوداع په موقع باندې مكې ته، تشريف راوړو.

قوله: "فقال" نه مراد "فأجاب" دې يعنى حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دَدې سوال جواب وركړو په دې جواب كښې اهم خبره داده چه هغوى نيغ په نيغه سخت جواب وركولو په ځائې دَ نبى كريم ﷺ فعل پيش كولو سره اوفرمائيل چه دَخپل فعل دَ پاره دَ نبى كريم ﷺ دَ عمل نه دليل حاصل كړه ځكه چه الله تعالى دَ ژوند تيرولو دَپاره بهترينه نمونه دَ خپل حبيب محمدرسول الله ﷺ په ذات اقدس كښې كيخودې ده. خاص كر دَ حج په معاملاتو كښې خودَ حضورپاك ﷺ صريح قول ((لتأخذوا مناسككم))(٤).

(١) مصابيح الجامع: ١١٢/٢،كوثرالمعانى الدرارى فى كشف خبايا صحيح البخارى: ٢٢/٧.

(٢) الكواكب الدرارى: ٥٩/٤، اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ١٣٩/٣، عمدة القارى: ١٩٥/٤، فتح الملهم، كتاب الحج، باب: بيان أن المحرم بعمرة لا يتحلل بالطواف قبل سعى: ١٠٣/٦.

(٣) الكواكب الدرارى: ٥٩/٤، اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ١٣٩/٣، عمدة القارى: ١٩٥/٤، كوثر المعانى الدرارى فى كشف خبايا صحيح البخارى: ٢٢/٧، فتح الملهم، كتاب الحج، باب: بيان أن المحرم بعمرة لا يتحلل بالطواف قبل سعى:١٠٤/٦.

(٤) عن جابر رضى الله عنه يقول: رأيت النبى صلى الله عليه وسلم يرمى على راحلته يوم النحر، ويقول: "لتأخذوا مناسككم، فانى لا أدرى لعلى لا أحج بعد حجتى هذه". (صحيح مسلم، كتاب الحج، باب: استحباب رمى الجمرة العقبة يوم النحر راكباً، وبيان قوله صلى الله عليه وسلم: "لتأخذوا مناسككم"، رقم الحديث: ١٢٩٧......

تفسیر ابن کثیر کښې دَدې آیت: ﴿ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ ﴾ تشریح کښې (چه کوم دلیل حضرت ابن عمر رضی الله عنهما پیش کړې دې) علامه ابن کثیر رحمه الله لیکی: "هذه الآية الكريمة أصل كبير في التأسي برسول الله صلى الله عليه وسلم في أقواله، وأفعاله، وأحواله"[۱].

یعنی دا آیت دَ نبی کریم ﷺ دَ اقوالو، افعالو او احوالو اتباع کولو کښې ډیرلوئی بنیادی حیثیت لری. او په دې مسئله کښې چونکه نبی کریم ﷺ دَ سعی کولو نه پس حلال شوې وو په دې وجه دَ سعی کولو نه مخکښې بی بی سره کوروالې کول جائز نه دی[۲].

دَعمرې نه حلالیدو باره کښې دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما مذهب: دَعمرې نه دَحلالیدو باره کښې دَحضرت ابن عباس رضی الله عنهما مذهب په مذکوره حدیث کښې دَ بیان شوی مذهب نه خلاف دې اوهغه دا چه کله دَچا نظر په بیت الله باندې پریوځی نو دَ هغه احرام به کولاشی. لهذا داسې سړی دَ پاره خپلې ښځې سره صحبت کول جائز وی یعنی دَ طواف نه پس دَسعی نه مخکښې به هغه حلال شی. هم په دې وجه یو صحابی دَ حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه سوال کړې وو نو هغوی اشارةً جواب ورکړې وو چه دَ رسول الله ﷺ اتباع اوکړه. قاضی عیاض رحمه الله، علامه نووی رحمه الله او حافظ ابن حجر رحمه الله وغیره دَدې خبرې تصریح کړې ده چه په دې باره کښې دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما مذهب دَجمهورو صحابه کرامو سره نه وو[۳].

دَ حدیث شریف دَ ترجمة الباب سره مناسبت: دَمذکوره حدیث دَ ترجمة الباب سره مناسبت "وصلى خلف المقام ركعتين" کښې دې.[۴] دَ امام بخاری رحمه الله مقصد صرف "وصلى خلف المقام ركعتين" سره دې. اوس که چرې ﴿ وَاتَّخِذُوا مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى ﴾ کښې "اتخذوا" په استحباب باندې محمول کړې شی نوبیاهم مطابقت ښکاره دې چه دَتحیة الطواف دَ پاره دَ ټولو نه اوچت او اعلی مقام مقام ابراهیم دې، ضروری دَ چا په نیز هم نه دې. اوکه چرې "اتخذوا" په وجوب باندې حمل کړې شی نو دَ مقام ابراهیم نه مراد به بیت الله وی. په دې صورت کښې دَ روایت دَ ترجمة الباب سره انطباق ښکاره دې چه په مونځ کښې دې کعبه قبله جوړه کړی

.... بیت الأفكار) هم موجود دې) الكواكب الدراري: ٥٩/٤. كوثر المعاني الدراري في كشف خبايا صحيح البخاري: ٢٢/٧، فتح الملهم، كتاب الحج، باب: بيان أن المحرم بعمرة لا يتحلل بالطواف قبل السعي:١٠٤/٦.

[۱]) تفسیرابن كثير، سورة الأحزاب:٣١، ٣٩١/٦

[۲])كمال المعلم بفوائدمسلم، كتاب الحج، باب: مايلزم من أحرم بالحج، ثم قدم مكة، من الطواف والسعي: ٣١٢/٤، المنهاج شرح صحيح مسلم، كتاب الحج، باب: بيان أن المحرم بعمرة لا يتحلل بالطواف قبل السعي: ٢١٩/٨.

[۳]) شرح ابن بطال، كتاب الحج، باب: متى يحل المعتمر، رقم الحديث: ١٥٦٧:، ٢٩٨/٤، دارالكتب العلمية. إكمال المعلم بفوائد مسلم، كتاب الحج، باب: ما يلزم من أحرم بالحج، ثم قدم مكة، من الطواف والسعي: ٣١٢/٤.المنهاج شرح صحيح مسلم، كتاب الحج، باب: بيان أن المحرم بعمرة لا يتحلل بالطواف قبل السعي: ٢١٩/٨. فتح الباري: ٦٤٧/١. كوثرالمعاني الدراري في كشف خبايا صحيح البخاري: ٢٢/٧.

[٤]) فتح الباري: ٦٤٧/١.عمدة القاري: ١٩٤/٤. كوثرالمعاني الدراري في كشف خبايا صحيح البخاري:٢٢/٧.

شي لكه چه په روايت كښې د حضورپاك د عمل نه هم دغه ثابت دى[١]

حضرت مولانا انورشاه كشميرى رحمه الله فرمائى چه د ترجمې مطابقت "وصلى خلف المقام" نه حاصل شو كوم چه په اول حديث الباب كښې ذكردې او محقق عينى رحمه الله هم د دې صراحت كړې دې. بيا نه ده معلومه چه للامع الدراري: ١٥٤/١ كښې داسې ولې اوليكل چه په ترجمة الباب باندې دا اشكال دې چه امام بخارى رحمه الله په دې كښې قرآنى آيت ذكر كړې دې په كوم كښې چه په مقام ابراهيم باندې د مونځ كولو امر دې. بيا هغه چه كوم روايتونه د دې ترجمې لاندې راوړى دى په هغې كښې مقام ابراهيم لره په مصلى جوړولو باندې هيڅ دلالت نشته دې. بيائى ليكلى دى چه حضرت اقدس مولانا گنگوهى رحمه الله هم د دې اشكال دوه جوابونه وركړى دى الخ. حيرانتيا ده چه حضرت شيخ الحديث دامت بركاتهم عدم مطابقت هم په گوته كړې دې او په ظاهره د حضرت گنگوهى رحمه الله په نيز هم دلته د عدم مطابقت څه اشكال نشته دې بلكه هغوى خود امام بخارى رحمه الله دا مراد واضح كول غواړى چه د مقام ابراهيم سره خواكې د مونځ د حكم باوجودهم د فرض استقبال كعبه په تاكد كښې فرق نه راځى. ځكه چه حضورپاك خو صلوة خلف المقام سره هم د استقبال كعبه ترك نه دې فرمائيلې. دويمه خبره حضرت رحمه الله د امام بخارى رحمه الله دا خودلې ده چه په آيت كښې اگرچه امر دې مگر هغه د سنيت يا استحباب د پاره دې د وجوب د پاره نه دې. ځكه چه كه چرې د وجوب د پاره وې نو حضورپاك به مواجهه بيت الله كښې مونځ نه كولو، كوم چه په دويم او دريم حديث باب كښې ذكر دې. [١][٢]

ځكه چه په دې صورت كښې خو مقام ابراهيم د حضورپاك شاته وو وړاندې نه وو او وړاندې

---

[١]) إيضاح البخاري: ١٧٣/٢.

[٢]) الدرالمختار مع ردالمحتار، كتاب الصلاة، باب: الإمامة:٣١٦/٢-٣١٤.بدائع الصنائع،كتاب الصلاة، فصل في بيان مقام الإمام والمأموم: ٦٧٤/١ الفتاوى الهندية، كتاب الصلاة، الباب الخامس في الصلاة، الفصل الخامس في بيان المقام الإمام والمأموم: ٨٨/١ (٢) حدثنا محمد بن العلا، الهمداني أبوكريب، قال: حدثنا أبومعاوية، عن الأعمش، عن إبراهيم، عن الأسود، وعلقمة، قالا: أتينا عبدالله بن مسعود في داره، فقال: أصلى هؤلاء خلفكم؟ فقلنا: لا، قال: فقوموا فصلوا، فلم يأمرنا بأذان ولا إقامة، قال: وذهبنا لنقوم خلفه، فأخذ بأيدنا فجعل أحدنا عن يمينه والآخر عن شماله، قال: فلما ركع وضعنا أيدينا على ركبنا، قال: فضرب أيدينا وطبق بين كفيه، ثم أدخلهما بين فخذيه، قال: فلما صلى، قال: إنه ستكون عليكم أمراء يؤخرون الصلاة عن ميقاتها، ويخنقونها إلى شرق الموتى، فإذا رأيتموهم قد فعلوا ذلك، فصلواالصلاة لميقاتها، واجعلوا صلاتكم معهم سبحة، وإذا كنتم ثلاثة فصلوا جميعا، وإذا كنتم أكثر من ذلك، فيؤمكم أحدكم، وإذا ركع أحدكم فليفرش ذراعيه على فخذيه، وليجنأ، وليطبق بين كفيه، فلكأني أنظر إلى اختلاف أصابع رسول الله صلى الله عليه وسلم فأراهم. (صحيح مسلم،كتاب الصلاة، باب الندب إلى وضع الأيدى على الركب في الركوع، رقم الحديث: ١٢٢١). والمذكور في "نزهة الألباب في قول الترمذي: وفي الباب هذا: "أما حديث ابن مسعود ، فرواه مسلم: ٣٧٨/١، وأبوعوانة في مستخرجه: ١٨١/٢-١٨٠، والنسائي في المجتبى: ٦٦/٢، والكبرى: ٣٧٨/١،وأحمد: ٤١٣و٤١٨/١، وغيرهم. (نزهة الألباب وفي قول الترمذي: " وفي الباب ، كتاب الصلاة: ٥٥٤/٢)]

صرف كعبة وه. دي نه علاوه داخبره په خپل ځائې هم صحيح نه ده چه دَ باب په رواياتو كښې مقام ابراهيم لره په مصلى جوړولو باندې څه دلالت نشته دې. هم په ړومبى حديث كښې دَ حضورپاك په مقام ابراهيم كښې دَمونځ كولو ذكر په صراحت سره موجود دې. دا خو په پوره شان سره دَ ترجمة الباب دَ آيت په مصداق باندې عمل وو ليكن په دې باندې دَ عمل كولو باوجود داهم ښكاره كول ضروري وو چه مقام ابراهيم سره مونځ كول دَ شرف، بركت او اجر زياتيدو موجب دې، دا سې نه ده چه دَدې په وجه دَ بيت الله دَ استقبال اهميت څه كم شو. بلكه دَ حضرت گنگوهى رحمه الله دَ تحقيق مطابق دَدې نور تاكيد مفهوم شو چه دې سره مونځ هم په صحت دَ استقبال كعبه معظمه باندې موقوف دې او هم دَدې دَ پاره حضورپاك هلته هم په مونځ كښې استقبال ترك نه كړو[1]

دَمذكوره حديث شريف نه مستنبط شوى احكام: دَ مذكوره حديث نه چه كوم فوائد او احكام مستنبط كيږى په هغې كښې يو څو دادي:

① په اتفاق دَ علماؤ په عمره كښې سعى واجب ده. دې نه بغيرعمره كونكې نه شى حلاليدې[2]

② دَ سعى دَ پاره اووه چكرې لا زمى دى[3]

③ دوه ركعته مونځ مقام ابراهيم سره كول واجب دى. په دې كښې دَ سيدالمرسلين ﷺ اقتداء ده. دا دَ احنافو په نيز دى كنى دَ شوافع په نيز دا دوه ركعته سنت دى.[4]

تعليق: وَسَأَلْنَا جَابِرَ بْنَ عَبْدِاللّٰهِ، فَقَالَ: «لَا يَقْرَبَنَّهَا حَتَّى يَطُوفَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ»

دَتعليق ترجمه: حضرت عمرو بن دينار رحمه الله وائى چه هم دغه سوال مونږ دَ حضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه نه اوكړو نو هغوى (په صراحت سره) اوفرمائيل چه داسې سړې دې هيڅ كله دَ خپلې بى بى سره كوروالې نه كوى، تردې چه دَ صفا مروه په مينځ كښې سعى اوكړى.

دَتعليق تخريج: دا روايت مسند حميدى[5]

او مصنف ابن ابى شيبه[6] كښې موصولاً موجود دې.

---

[1]) أنوارالبارى: ۱۲/۱۹۵.

[2]) فتح البارى: ۱/۶۴۷.الشرح الميسر لصحيح البخارى: ۱/۴۴۴، كوثرالمعانى الدرارى فى كشف خبايا صحيح البخارى: ۷/۲۲.

[3]) الشرح الميسر لصحيح البخارى: ۱/۴۴۴.

[4]) فتح البارى: ۱/۶۴۷.الشرح الميسر لصحيح البخارى: ۱/۴۴۴، كوثرالمعانى الدرارى فى كشف خبايا صحيح البخارى: ۷/۲۲.

[5]) حدثنا الحميدى، قال: حدثنا سفيان، قال: حدثنا عمرو بن دينار، قال: سألنا جابر بن عبدالله، فقال: لا تقربها حتى تطوف بين الصفا والمروة. (مسندالحميدى، كتاب الحج، باب: أيقع الرجل بإمرأته قبل أن يسعى، رقم الحديث: ۶۸۴، ۱/۵۴۱).

[6]) حدثنا أبوبكر قال: حدثنا ابن عيينة عن عمرو قال: سألت جابر بن عبدالله عن رجل اعتمر، فطاف بالبيت، ثم أراد أن يقع على أهله قبل أن يطوف بين الصفا والمروة؟ فقال: لا، حتى يطوف بين الصفا والمروة.(المصنف لابن أبى شيبة، كتاب الحج، باب: فى المعتمر يطوف بالبيت، أيقع على أهله، رقم الحديث: ۱۴۹۲۷، ۴۹۲/__)

دتعليق مقصد: ددې تعليق مقصد صرف دا خبره واضح کول دي چه مخکښني روايت کښې حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په صراحت سره د سائل د سوال جواب نه وو ورکړې بلکه صرف د رسول الله ﷺ عمل ئې پيش کړې وو چه په دې کښې ستاسو د پاره لار خودنه موجود ده ددې مطابق عمل اوکړئ. ليکن په مذکوره تعليق کښې ددې خبرې وضاحت موجود دې چه حضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه په واضحه توګه باندې اوخودل چه معتمر هغه وخته پورې حلاليدې نه شي ترکومې پورې چه سعي اونه کړي (۱)

حديث باب (دويم حديث) [حديث نمبر ۳۸۸]

-۳۸۷ حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ سَيْفٍ قَالَ سَمِعْتُ مُجَاهِدًا (۲) قَالَ أُتِيَ ابْنُ عُمَرَ فَقِيلَ لَهُ هَذَا رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- دَخَلَ الْكَعْبَةَ. فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ فَأَقْبَلْتُ وَالنَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- قَدْ خَرَجَ، وَأَجِدُ بِلاَلاً قَائِمًا بَيْنَ الْبَابَيْنِ، فَسَأَلْتُ بِلاَلاً فَقُلْتُ أَصَلَّى النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- فِي الْكَعْبَةِ قَالَ نَعَمْ رَكْعَتَيْنِ بَيْنَ السَّارِيَتَيْنِ اللَّتَيْنِ عَلَى يَسَارِهِ إِذَا دَخَلْتَ، ثُمَّ خَرَجَ فَصَلَّى فِي وَجْهِ الْكَعْبَةِ رَكْعَتَيْنِ.

ترجمه حديث: حضرت مجاهد رحمه الله روايت کوي چه حضرت ابن عمر رضي الله عنهما له يو سړې راغلو او وئې وئيل چه اوګوره رسول الله ﷺ کعبې معظمې ته دننه تشريف اوړې دې د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما بيان دې چه زه هلته اورسيدم نو حضورپاك بهر تشريف راوړې وو او (لکه) چه زه بلال رضي الله عنه (اوس هم) وينم چه دواړه د دروازې په مينځ کښې ولاړ دې. ما د حضرت بلال رضي الله عنه نه تپوس اوکړو چه رسول الله ﷺ په کعبه کښې دننه مونځ کړې دې؟ نوهغوی اووئيل چه آو، دوه رکعته د هغه ستنو په مينځ کښې کومې چه د بيت الله دداخليدو په وخت ښي او ګس طرف ته وي. بيا حضورپاك بهر راغلو او دوه رکعته ئې د کعبې مواجهه کښې اوکړل.

(۱) فتح الباري: ۶۴۷/۱، عمدة القاري: ۱۹۵/۴.

(۲) أخرجه البخاري أيضاً وفي المساجد، باب: الأبواب والغلق للكعبة والمساجد، رقم الحديث: ۴۶۸، وفي سترة المصلي، باب: الصلاة بين السواري في جماعة، رقم الحديث: ۵۰۴، ۵۰۵، ۵۰۶، وفي التطوع، باب: ماجاء في التطوع مثنى مثنى، رقم الحديث: ۱۱۶۷، وفي الحج، باب: إغلاق البيت ويصلي في أي نواحي البيت شاء، رقم الحديث: ۱۵۹۸، وباب: الصلاة في الكعبة، رقم الحديث: ۱۵۹۹، وفي الجهاد، باب الردف على الحمار، رقم الحديث: ۲۹۸۸، وفي المغازي، باب: دخول النبي صلى الله عليه وسلم من أعلى مكة، رقم الحديث: ۴۲۸۹، باب: حجة الوداع، رقم الحديث: ۴۴۰۰، ومسلم في صحيحه، في الحج، باب: استحباب دخول الكعبة للحاج وغيره، رقم الحديث: ۳۲۳۰، ۳۲۳۱، ۳۲۳۲، ۳۲۳۳، ۳۲۳۴، ۳۲۳۵، ۳۲۳۴. وأبوداؤد في سننه، في المناسک، باب: الصلاة في الكعبة، رقم الحديث: ۲۰۲۳. والترمذي في سننه، في الحج، باب ماجاء في الصلاة في الكعبة، رقم الحديث: ۸۷۴ والنسائي في سننه، في المساجد، باب: الصلاة في الكعبة، رقم الحديث: ۶۹۳ وفي القبلة، باب: مقدار ذلک، رقم الحديث: ۶۵۰ وفي الحج، باب: دخول البيت، رقم الحديث: ۲۹۰۸، ۲۹۰۹، وباب: موضع الصلاة بالبيت، رقم الحديث: ۲۹۱۰، ۲۹۱۱. وابن ماجة في سننه، في المناسک، باب: ۳۰۶۳. وفي جامع الأصول، حرف الحاء، الكتاب الأول: في الحج والعمرة، الباب الرابع: في الطواف والسعي ودخول البيت، الفصل الثالث: في دخول البيت، رقم الحديث: ۱۵۱۴، ۲۲۵/۳.

تراجم رجال: دمذكوره حديث شريف په سند كښې ټول پنځه رجال دي:

① **مسدد** رحمه الله: دا مسدد بن مسرهد بن مسربل بن مرعبل الاسدي البصري رحمه الله دې او د بعضو په نيز د دوي نوم عبد الملك بن عبد العزيز دې. د دوي مختصر حالات كشف الباري، كتاب الإيمان، باب: من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه، لاندې او تفصيلي حالات كتاب العلم، باب: من خص بالعلم قوما دون قوم كراهية أن لايفهموا لاندې تير شوي دي.[1]

② **يحيى** رحمه الله: دا يحيى بن سعيد بن فروخ القطان تميمي رحمه الله دې. د دوي كنيت ابو سعيد دې د دوي مختصر حالات كشف الباري، كتاب الإيمان، باب: من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه لاندې تير شوي دي.[2]

③ **سيف** رحمه الله: دا سيف بن سليمان المخزومي المكي رحمه الله دې. د دوي كنيت ابو سليمان المكي دې[3]. دوي ته سيف بن ابي سليمان هم وئيلې شو[4]

ابن معين رحمه الله وائي سيف بن سليمان المكي او سيف بن ابي سليمان هم د يو كس دوه نومونه دي[5]. د دوي شمير په طبقه سادسه كښې كيدلو[6]. دا د بني مخزوم آزاد كړې شوې غلام وو[7]

دوي چه دكومو مشائخو نه روايت كوي په هغوي كښې مجاهد بن جبر، عبد الله بن ابي نجيح، قيس بن سعد المكي، عدي بن عدي الكندي، عمرو بن دينار، ابو اميه عبد الكريم بن ابي المخارق البصري، وغيره رحمهم الله شامل دي.[8] او د دوي نه روايت كونكو كښې يحيى بن سعيد القطان، ابو اسامه حماد بن اسامه، زيد بن الحباب، سفيان الثوري، معتمر بن سليمان، عبد الله ابن المبارك، مسلم بن خالد الزنجي، زيد بن الحباب، عبد الله بن نمير وغيره رحمهم الله شامل دي.[9]

امام بخاري رحمه الله فرمائي چه يحيى القطان رحمه الله وائي "كان عندنا ثقة ممن يصدق ويحفظ"[10] هم د قول ابو حاتم رحمه الله د علي ابن المديني رحمه الله نه داسې نقل كړې دې چه ما د يحيى بن سعيد نه

---

[1]) كشف الباري: ۲/۲، ۵۸۸/۴.
[2]) كشف الباري: ۲/۲.
[3]) تهذيب الكمال: ۳۲۰/۱۲.
[4]) الجرح والتعديل: ۲۵/۶ ٤، تهذيب التهذيب: ۲۹٤/٤.
[5]) تاريخ ابن معين: ۸٤/۳.
[6]) موسوعة رجال الكتب التسعة: ۱۳۳/۲، تقريب التهذيب: ٤۹۸/۱.
[7]) التاريخ الكبير للبخاري: ۱۷۱/٤، تهذيب التهذيب: ۲۹٤/٤.
[8]) تهذيب الكمال: ۳۲۰/۱۲ تهذيب التهذيب: ۲۹٤/٤.
[9]) تهذيب الكمال: ۳۲۰/۱۲ تهذيب التهذيب: ۲۹٤/٤.
[10]) التاريخ الكبير للبخاري: ۱۷۱/٤.

دَسیف بن سلیمان باره کښې تپوس اوکړو نوهغوی اوفرمائیل "کان عندنا ثبت ممن یصدق ویحفظ"(۱). صالح بن احمد رحمه الله وائی چه زما پلار احمدبن حنبل رحمه الله فرمائیلی دی: سیف ثقة. ابومحمد رحمه الله وائی چه زما والد نه دَ سیف بن سلیمان رحمه الله باره کښې پوښتنه اوکړې شوه نوهغوی اوفرمائیل: لابأس به.(۲) عجلی رحمه الله او ابوبکر البزار رحمه الله دَ هغوی باره کښې فرمائی: ثقة.(۳) ابوزرعة الدمشقی رحمه الله فرمائی: ثبت.(۴) ابن عدی رحمه الله دَ هغوی باره کښې فرمائی: حدیثه لیس بالکثیر، وأرجوأنه لابأس به.(۵) امام نسائی رحمه الله دَهغوی باره کښې اوفرمائیل ثقة ثبت.(۶) ابن حبان رحمه الله هغوی په الثقات کښې ذکرکړی دی.(۷) یحیی ابن معین رحمه الله به وئیل چه سیف بن سلیمان او زکریا بن اسحاق دواړه قدری وو(۸). حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی چه دَ ابن معین رحمه الله دَدې تعنت باوجود یحیی بن سعید القطان رحمه الله دَهغوی نه روایت کړې دې.(۹)

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی چه ابن عدی رحمه الله په الکامل فی ضعفاء الرجال کښې دَهغوی ذکر کړې دې اودَهغوی دا حدیث ئې نقل کړې دې: ((عن قیس بن سعید، عن عمرو بن دینار، عن ابن عباس، "أن النبی صلی الله علیه وسلم قضی بالیمین مع الشاهد الواحد")). (الکامل فی ضعفاء الرجال: ۴۳۸/۲) او عباس دَ یحیی ابن معین نه دَدې حدیث باره کښې تپوس اوکړو نوهغوی جواب ورکړه: "لیس بمحفوظ، وسیف قدری". حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی چه زه وایم چه دا حدیث عبدالرزاق عن محمد بن مسلم الطائفی، عن عمرو په سند سره روایت کړې دې او دا عن داؤد العطار، عن عمرو په سند سره هم روایت کړې شوې دې. ابن عدی رحمه الله دَدې پوره بحث نه پس اوفرمائیل: أرجوأنه لا بأس به.(۱۰) الساجی رحمه الله وائی: أجمعوا علی أنه صدوق ثقة، غیرأنه اتهم بالقدر.(۱۱)

---

(۱) یعنی دَ ثقة په ځائې ثبت لفظ استعمال کړې دې. الجرح والتعدیل: ۲۵٤/٤،تهذیب الکمال: ۳۲۱/۱۲
(۲) الجرح والتعدیل: ۲۵٤/٤ تهذیب الکمال: ۳۲۱/۱۲.
(۳) تهذیب التهذیب: ۲۹٤/٤.
(٤) تهذیب الکمال: ۳۲۰/۱۲ تهذیب التهذیب: ۲۹٤/٤.
(۵) تهذیب الکمال: ۳۲۰/۱۲ تهذیب التهذیب: ۲۹٤/٤.
(٦) الکاشف: ٤۷۵/۱، تهذیب التهذیب: ۲۹٤/٤.
(۷) الثقات لابن حبان: ۱۸۳/۱.
(۸) تاریخ ابن معین بروایة الدوری: ۷۷/۳.
(۹) میزان الاعتدال: ۲۵۵/۲ سیرأعلام النبلاء: ۳۳۸/٦.
(۱۰) میزان الاعتدال: ۲۵۵/۲ سیرأعلام النبلاء: ۳۳۹/٦-۳۳۸.
(۱۱) تهذیب التهذیب: ۲۹٤/٤ هدی الساري، ص: ۵۷٤.

ابوعبید الاجری رحمه الله وائی چه ما د ابوداؤد رحمه الله نه د هغه باره کښې تپوس اوکړو نوهغوی اوفرمائیل: ثقة، ما عرض اوکړو: یرمی بالقدر نوهغوی جواب ورکړو: أعلمه.[1] حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی: ثقة ثبت، رمی بالقدر.[2]

خلاصه دا چه په هغوی باندې کړې شوې دا جرح دَجمهور ائمة الرجال دَتعدیل په مقابله کښې مذموم نه ده. حافظ ابن حجر رحمه الله هم مقدمه فتح الباري هدي الساري کښې په دې باندې تفصیلی کلام کړې دې. دَهغوی دَعمر آخری حصه بصره کښې تیره شوه او وفات نې ۱۵۶هجری کښې شوې دې.[3] دَهغوی دَ وفات باره کښې دویم قول دَ ۱۵۱هجری دې.[4]

④ مجاهد رحمه الله: دا ابوالحجاج مجاهد بن جبر مکی قرشی مخزومی رحمه الله دې. دَدوی حالات کشف الباري، کتاب العلم، باب: الفهم في الحدیث لاندې تیرشوی دی.[5]

⑤ ابن عمر رضی الله عنهما: دا مشهور صحابی رسول حضرت عبد الله بن عمر بن خطاب رضی الله عنهما دې. دَ دوی احوال کشف الباري، کتاب الإیمان، باب: بني الإسلام على خمس کښې تیرشوی دی.[6]

شرح حدیث: أُتِيَ ابْنُ عُمَرَ فَقِيلَ لَهُ: هَذَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ الْكَعْبَةَ

یعنی حضرت ابن عمر رضی الله عنهما له څوك سړې راغلو او وئی وئیل چه ګوره رسول الله ﷺ کعبې معظمې ته دننه تشریف اوړې دې.

قوله: أُتِيَ - دَهمزې په ضمې سره دَمجهول صیغه ده.[7] حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی ما ته دَغه سړی دَنوم علم اونه شو چاچه حضرت ابن عمر رضی الله عنهما ته خبر ورکړې وو.[8]

قوله: فَأَقْبَلْتُ: دَ حضرت ابن عمر رضی الله عنهما بیان دې چه زه هلته اورسیدم.

حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله فرمائی چونکه حضرت ابن عمر رضی الله عنهما سخت دَسنتو تابعدار وو په دې وجه چه کله هغوی ته دا خبر ملاؤ شو چه حضوپاك کعبې ته داخل شو نوهغه هم ورغلو چه اوګوری چه حضورپاك هلته لاړو نوچه څه ئی اوکړه او کوم څه چه حضورپاك اوکړه چه هم هغه زه هم اوکړم، مګر حضورپاك بهر تشریف راوړې وو.[9]

قوله: وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ خَرَجَ: په داسې حال کښې چه نبی کریم بهرتشریف راوړې

---

[1]) تهذیب الکمال: ۳۲۱/۱۲ تهذیب التهذیب: ۲۹٤/٤.
[2]) تقریب التهذیب: ٤۹۸/۱ تحریر تقریب التهذیب: ۱۰۰/۲.
[3]) الجرح والتعدیل: ٤۲۵/۶ تقریب التهذیب: ٤۹۸/۱.
[4]) الکاشف: ٤۷۵/۱.
[5]) کشف الباري: ۳۰۷/۳.
[6]) کشف الباري: ۶۳۷/۱.
[7]) عمدة القاري: ۱۹۶/٤ الکوثر الجاري إلی ریاض أحادیث البخاري: ۸۲/۲.
[8]) فتح الباري: ۶٤۸/۱ التوضیح لمبهمات الجامع الصحیح، ص:۵۲.
[9]) تقریر بخاری شریف: ۱٤۵/۲، الکنز المتواری: ۸۶/٤.

وو. دَ "خرج" صله "من الكعبة" ده.

قوله: وَأَجِدُ بِلَالًا قَائِمًا بَيْنَ الْبَابَيْنِ: ماحضرت بلال رضي الله عنه دَ بيت الله دَ دواړو دروازو په مينځ كښې ولاړ اوليدو. دلته "اجد" دَمضارع صيغه ده ليكن دَ ماضي "وجدت" په معنى كښې ده. اودې نه مقصود دَ حال حكايت كول دى يا دَ تيرې شوې زمانې، هغه صورت په ذهن كښې حاضر ساتل دى.[1]

يعنى ماضى ئى دَ استقبال صيغې سره تعبيركړه. ماضى دَ استقبال صيغې سره تعبيركولو مطلب دا وى چه هغه واقعه دې وخت كښې زما دَ سترګو مخې ته راتاؤ شوې ده څنګه چه هغه وخت زما دَ سترګو په وړاندې وه.

علامه سيوطى رحمه الله فرمائى "بين البابين" نه مراد "بين المصراعين" دې. اودَ حموى په روايت كښې خو په دې ځائى دَ "بين الناس" لفظ دې.[2]

علامه برماوى رحمه الله فرمائى "بين البابين" نه مراد "مصراعى الباب" هم كيدې شى څكه چه هغه وخت دكعبې هم يوه دروازه وه اودَدې نه مراد دوه دروازې هم كيدې شى چه دَ حضرت ابراهيم عليه السلام په زمانه كښې دكعبې دوه دروازې وې. هم په دې وجه حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنهما په خپل دوركښې دكعبې هم دوه دروازې كړې وې. اوبعضې نسخو كښې دَ "البابين" په ځائى "الناس" لفظ هم دې.[3]

قوله: فَسَأَلْتُ بِلَالًا، فَقُلْتُ: أَصَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْكَعْبَةِ؟ قَالَ: «نَعَمْ، رَكْعَتَيْنِ، بَيْنَ السَّارِيَتَيْنِ اللَّتَيْنِ عَلَى يَسَارِهِ إِذَا دَخَلْتَ:

يعنى ما دَ حضرت بلال رضي الله عنه نه تپوس اوكړو چه آيا نبى كريم صلى الله عليه وسلم په كعبه كښې دننه مونځ كړې دې؟ هغوى اوونيل آو. حضورپاك دَ دغه دوو ستنو په مينځ كښې چه ستا دَ داخليدو په وخت ګس لاس ته راځى دوه ركعته كړى دى.

قوله: "نعم! ركعتين" نه مراد "نعم! صلى ركعتين" دې.[4] "الساريتين" نه مراد "الأسطوانتين" دى. او "على يساره" نه مراد "يسار الداخل" دې. يا "يسار البيت" دې. يا بيا په دې مقام باندې دَ حاضر نه دَ غائب طرف ته التفات كړې شوې دې. ګنى دَ مقام مناسب خو "يسارك" كيدل پكار وو.

[1] شرح الكرمانى: ۵۹/۴، التوشيح شرح الجامع الصحيح للسيوطى: ۴۸۶/۳، اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ۱۴۰/۳.

[2] التوضيح شرح الجامع الصحيح للسيوطى: ۴۸۶/۳. يعنى داخبره نه ده چه هغه وخت دَ كعبې دوه دروازې وې. يعنى يوه دروازه دَ داخليدو دَ پاره اودويمه دَ وتلو دَ پاره. او نبى كريم صلى الله عليه وسلم دَ دغه دوو دروازو په مينځ كښې ولاړ وو. بلكه دَ دوو دروازو نه مراد دَ يوې دروازې دوه تنبې دى دكومې په مينځ كښې چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم ولاړ وو. (ازمرتب)

[3] اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ۱۴۰/۳، وكذا فى شرح الكرمانى: ۵۹/۴.

[4] التوشيح شرح الجامع الصحيح للسيوطى: ۴۸۶/۳.

نبی اکرم ﷺ په کعبه کښې دننه څو رکعته مونځ کړې دې؟ د روایت ددې مقام نه معلومیږی چه حضرت ابن عمر رضی الله عنهما د حضرت بلال رضی الله عنه نه سوال اوکړو چه نبی کریم ﷺ څو رکعته مونځ کړې دې نو په دې باندې هغه جواب ورکړو چه دوه رکعته ئې کړی دی. خو په بعضې روایتونو کښې ذکر دی چه حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما په ډیر افسوس سره فرمائی چه (افسوس) ما د حضرت بلال رضی الله عنه نه ولې تپوس اونه کړو چه نبی کریم ﷺ په کعبه کښې دننه څو رکعته مونځ اداکړو[1]

نو ددې اشکال مختلف جوابونه ورکړې شوی دی: ① علامه عینی رحمه الله فرمائی چه ددې بهتر جواب دادې چه حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما هغه وخت صرف دا سوال کړې وو چه حضورپاك بیت یعنی کعبه کښې دننه څه اوکړه؟ نو حضرت بلال رضی الله عنه د لاس په دوو ګوتو سره اشاره اوکړه[2]

د کوم نه چه ئې دوه رکعته اوګڼل. بیا په زبانی توګه باندې ددې وضاحت کول د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه هیرشوې وو په کوم چه ئې افسوس کولو[3]

② حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما د "رکعتین" کوم لفظ چه ذکرکړې دې هغه د ده خپل کلام دې د حضرت بلال رضی الله عنه نه دې. په ظاهره هغوی د مونځ تحقیقی مقدار باندې اعتماد کولو سره خپل دا قول ذکرکړې دې. هغه داسې چه د حضرت بلال رضی الله عنه د طرف نه دا جواب خو ملاؤ شو چه حضورپاك مونځ کړې دې بل طرف ته د رسول

---

[1] كما رواه البخاري في صحيح البخاري: حدثنا أبوالنعمان، وقتيبة بن سعيد، قالا: حدثنا حماد بن زيد، عن أيوب، عن نافع، عن ابن عمر: "أن النبي صلى الله عليه وسلم قدم مكة فدعا عثمان بن طلحة، ففتح الباب، فدخل النبي صلى الله عليه وسلم وبلالا وأسامة بن زيد وعثمان بن طلحة، ثم أغلق الباب، فلبث فيه ساعة، ثم خرجوا ،قال ابن عمر: فبدرتُ فسألتُ بلالا فقال: صلى فيه، فقلت: في أي؟ قال:بين الأسطوانتين، قال:ابن عمر: فذهب على أسأله كم صلى.(كتاب الصلاة، باب: الأبواب والغلق للكعبة والمساجد، رقم الحديث: ٤٦٨،دارطوق النجاة) ورواه أيضا: حدثنا يحيى بن بكير، حدثنا الليث، قال يونس: أخبرني نافع، عن عبدالله رضي الله عنه:أن رسول الله صلى الله عليه وسلم أقبل يوم الفتح من أعلى مكة على راحلته مردفا أسامة بن زياد، ومعه بلال، ومعه عثمان بن طلحة من الحجبة، حتى أناخ في المسجد، فأمره أن يأتي بمفتاح البيت، ففتح، ودخل رسول الله صلى الله عليه وسلم ومعه أسامة وبلال وعثمان، فمكث فيها نهارا طويلا، ثم خرج، فاستبق الناس، وكان عبدالله بن عمر أول من دخل، فوجد بلالا وراء الباب قائما، فسأله:"أين صلى رسول الله صلى الله عليه وسلم؟ فأشار له إلى المكان الذي صلى فيه، قال عبدالله: فنسيت أن أسأله كم صلى من سجدة.(كتاب الجهاد والسير، باب الردف على الحمار، رقم الحديث: ٢٩٨٨، دارطوق النجاة).

[2] حدثنا إسحاق بن يوسف، حدثنا ابن أبي داؤد، عن نافع، عن ابن عمر، قال: صعد رسول الله صلى الله عليه وسلم البيت وبلال خلفه، قال: وكنت شابا، فسعدت، فاستقبلني بلال، فقلت له: ما صنع رسول الله صلى الله عليه وسلم هاهنا؟ قال: فأشار بيده، أي: صلى ركعتين. (مسندأحمد بن حنبل، حديث بلال، رقم الحديث: ٢٣٩٢١، ٣٤٣/٣٩، مؤسسة الرسالة).

[3] عمدة القاري: ١٩٧/٤.

اکرم ﷺ نه په ورځ کښې د دوو رکعتونه زیات کول نقل نه دی نو دې مقدماتو لازمی نتیجه به هم دا راوځی چه په کعبه کښې دننه د حضورپاك ﷺ مونځ کم نه کم دوه رکعته خو وو. هم په دې وجه حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما د "رکعتین" لفظ اووئیلو.

حافظ رحمه الله فرمائی چه بیا ماته دَخپلې دَدې خبرې تائید هم ملاؤ شو هغه داسې چه عمر بن شبه رحمه الله کتاب مکه کښې دَعبدالعزیز بن ابی رواد په طریق سره دا روایت نقل کړې دې:

((عن نافع، عن ابن عمر: "....فاستقبلنی بلال، فقلت: ما صنع رسول الله صلی الله علیه وسلم هاهنا، فأشار بیده، أی: صلی رکعتین بالسبابة والوسطی")). لهذا دَحضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما دا قول: "نسیت أن أسأله کم صلی" به په دې خبره باندې محمول کولې شی چه هغه په ژبې سره نه دا سوال اوکړو اونه حضرت بلال رضی الله عنه په ژبې سره دَدې جواب ورکړو یعنی دوه رکعته مونځ ئې د هغه په اشاره سره اوګڼړلو نه چه دَهغه کلام کولو سره. خلاصه دَ کلام دا چه دَ حضرت بلال رضی الله عنه دا قول "نسیت أن أسأله کم صلی" به په دې خبره باندې محمول وی چه هغه ته دَدې خبرې تحقیق اونه شو چه رسول الله ﷺ دوه رکعته مونځ کړې دې که دَدوؤ نه زیات؟[1]

علامه کورانی رحمه الله دَدې خبرې په جواب کښې فرمائی چه دا خو داسې جواب دې چه هیڅوك به هم دَدې قائل نه شی. ځکه چه حضرت ابن عمر رضی الله عنهما په دې کښې دا فرمائی چه ما دَ حضرت بلال رضی الله عنه نه تپوس اوکړو چه آیا نبی کریم ﷺ (په کعبه کښې دننه) مونځ اوکړو؟ نوهغوی جواب راکړو چه آو، دَ دوو ستنو په مینځ کښې ئې دوه رکعته اوکړه. نودَدې خبرې سوچ څنګه کیدې شی چه دا قول دَ حضرت ابن عمر رضی الله عنهما خپل قول دې. صحیح جواب داکیدې شی چه حضورپاك دوه ځل کعبه کښې دننه داخل شو، یو ځل دَ فتح مکې په موقع باندې او په دویم ځل دَ حجة الوداع په موقع باندې. (دَ تعدد دخول یا دَ تعدد واقعه)دلیل دادې چه په دې مقام کښې (یعنی حجة الوداع په موقع کعبې ته دَ داخلیدو په واقعه کښې) دادی چه حضرت ابن عمر رضی الله عنهما دَ بیت طرف ته راغلو. هغوی ته خبر ورکړې شو چه رسول الله ﷺ کعبې ته داخل شو. او دَ مکې دَفتحې په موقع کعبې ته دَداخلیدو په حدیث کښې دی چه حضرت ابن عمر رضی الله عنهما خلقو ته خبر ورکړو چه رسول الله ﷺ مکې ته تشریف راوړو او بیت الله کښې داخل شو او دروازه ئې بنده کړه او دائی هم اوفرمائیل چه حضرت بلال رضی الله عنه ما دَ کعبې د دروازې شاته ولاړ اولیدو. او دَ حجة الوداع والا واقعه کښې ئې فرمائیلی وو چه ما حضرت بلال رضی الله عنه دَ دواړو درواز په مینځ کښې ولاړ لیدلې وو. نو چه کوم سړې هم په دواړو قسم احادیثو کښې غور اوفکر کوی هغه به دا ښکاره فرق ښه شان سره اوپیژنی[2]

---

[1]) فتح الباری: ٦٤٨/١ شرح الزرقانی علی المؤطا للإمام مالک، کتاب الحج، الصلاة فی البیت: ٢٤٩/٢.

[2]) الکوثرالجاری إلی ریاض أحادیث البخاری: ٨٢/٢ خلاصه دا چه حدیث باب د حجة الوداع دَ موقع دې. دا جواب قیاس ته ډیر نیزدې دې په دې اعتبار سره چه فتحه مکه اول پیښه شوې وه او حجة الوداع روستو. نودا خبره عین ممکن ده چه اول پیښیدونکې واقعه کښې هغه دا تپوس اونه کړې شو چه حضورپاك څو رکعته اداکړل او روستو پیښیدونکې واقعه کښې هغه تپوس هم اوکړو او هغه ته جواب هم ملاؤ شو، فلا تعارض. والله اعلم بالصواب. (ازمرتب).

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه بعضې متاخرينو دا دواړه متضاد روايتونه داسې د جمع کولو کوشش کړې دې چه کله حضرت بلال رضي الله عنه حضرت ابن عمر رضي الله عنهما ته دا حديث بيان کړو نو حضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه د حضرت بلال رضي الله عنه نه دا سوال کول هير شوی وو. بيا دوباره ملاقات اوشو نو حضرت ابن عمر رضي الله عنهما د هغه نه سوال هم اوکړو. حافظ صاحب رحمه الله فرمائی چه په دې جواب يا احتمال کښې دوو طريقو سره نظر دې يو دا چه دا قصه (يعنی د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما د حضرت بلال رضي الله عنه نه په کعبه کښې د نبی کريم صلی الله عليه وسلم د مونځ کولو باره کښې پوښتنې والا) يو ځل پيښه شوې ده نه چه ډير ځل. په دې باندې دليل دا دې چه دواړو روايتونو کښې د سوال جواب په مقام د "فاء" تعقيبيه استعمال موجود دې. اوګورئ په رومبی روايت کښې ((فأقبلتُ، ثم قال: فسألتُ بلالا)) دې او دويم روايت کښې ((فبدرتُ، فسألتُ بلالا)) دې نو د فاء تعقيبيه استعمال د دې خبرې دليل دې چه مذکوره سوال هم يو ځل او هم په يو وخت شوې وو. دويمه خبره دا چه د حضرت ابن عمر قول "ونسيتُ....إلخ" روايت کونکې د هغوی آزاد کړې شوې غلام نافع دې چه د ډيرې اوږدې مودې نه د هغوی سره اوسيدلو ليکن په آخری وخت کښې دې د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما سره نه وو بلکه د هغوی نه جدا شوې وو. نو دا خبره عين ممکن ده چه په دغه آخری وخت کښې ابن عمر رضي الله عنهما په خپل دې نسيان اوهيرې والا قول باندې باقې پاتې نه وې بلکه هغوی د دوو رکعتو والا صريح قول اختيار کړې وی([1])

علامه عينی رحمه الله د حافظ ابن حجر رحمه الله ذکرکړې شوې د نظر وجوهات بيانولو نه پس د حافظ صاحب رحمه الله نوم اخستلو نه بغير فرمائی چه د مذکوره وجوهات په نظر سره تعبير کولو کښې هم په ډيرو اعتباراتو سره نظر دې:

① اول خبره دا چه د دې قصې متعدد کيدو دعوی کول بلا دليل دی. د دې قصې د متعدد کيدو نه څه څيز مانع دې؟ هغه دې ذکر کړې شی.

② دويمه خبره د فاء تعقيبيه کيدو نه استدلال کولو سره د تعدد نفی کول صحيح نه دی ځکه چه د "فاء" استعمال صرف د تعقيب د پاره نه کيږی بلکه د فاء استعمال د ثم معنی د تراخئ د پاره هم کيږی. لکه چه د الله تعالی په دې قول ﴿ ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً ﴾ کښې فخلقنا باندې داخليدونکې فاء او د دې نه وړاندې ﴿فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ﴾ او د دې نه وړاندې ﴿فَكَسَوْنَا﴾ باندې داخليدونکې فاء د ثم په معنی د تراخئ د پاره دې. او که چرې د دې فاء د تعقيب د پاره کيدل اومنلې شی نو بيا هم په يو څيز کښې تعقيب معنی هم د هغه څيز په اعتبار سره مراد اخستل صحيح وی. آيا دا خبره نه ده چه د عربو په نيز دا وئيلې شی "تزوج فلان، فولدله" حالانکه د تزويج او ولادت په مينځ کښې پوره موده د حمل د وخت موجود ده. دغه شان

[1]) فتح الباري:٦٤٨/١، ذخيرة العقبى شرح سنن النسائي، كتاب المساجد، الصّلاة فى الكعبة:٥١٠/٨-٥٠٩، دار المعراج.

ونیلي شي: "دخلت البصرة، فبغداد" دلته په بغداد باندې فاء دَتعقيب دَ پاره ده ليکن دَ بصرې اوبغداد په مينځ کښې دَ دوو ښارونو مسافت موجود دې لهذا دا نظر هم قابل تسليم نه دې.

③ دريمه خبره دا وينا چه دَحضرت ابن عمر رضي الله عنهما آزاد کړې شوې غلام دَ نافع دَهغوی نه جدا کيدل او بيا دَ هغوی آخری اوږد عمر کښې پخپله دا احتمال پيداکول چه هغوی به خپل قول بدل کړې وی دَاهم بې بنياده خبره ده. ځکه چه انسان خو ماخوذ دَ نسيان نه دې. لهذا چه کله داسې ده نو دَدې احتمال هم څه وقعت باقي نه پاتې کيږی.[1]

④ علامه ولی الدين العراقی رحمه الله فرمائي زما پلار (علامه زين الدين العراقی رحمه الله) بيان کړې دې چه يو احتمال دادې چه ابن عمر رضي الله عنهما پخپله په دې باره کښې سوال نه وو کړې بلکه دَهغوی دَ تپوس نه بغير حضرت بلال رضي الله عنه هغوی ته خبر ورکړې وو. ليکن په دې کښې بُعد دې ځکه چه که چرې داسې وې نو په دې صورت کښې په پخپل تپوس نه کولو باندې هغه خپل ځان نه ملامته کولو.[2]

⑤ دغه شان يو احتمال دا دې چه ابن عمر رضي الله عنهما دَ دوو رکعتو کولو ذکر دَ حضرت بلال رضي الله عنه نه دَ تپوس کولو نه مخکښې کړې وی اوبيائی روستو دَهغه نه تپوس کړې وی يا بيا حضرت بلال دَ دوو رکعتو اداکولو باره کښې حديث دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما دَدې قول نه روستو بيان کړې وی. ليکن په دې کښې هم بُعد دې ځکه چه دَ ابن عمر رضي الله عنهما بعضې احاديث چه په دې باره کښې دَ هغوی نه نقل دی هغه دهغوی نه دَ حضرت بلال دَ وفات نه پس اوَريدلې شوې دی

⑥ يو احتمال دا دې چه حضرت ابن عمر رضي الله عنهما دا تپوس کول هير کړې وو چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ دوو رکعتونه زيات کړی وو که نه.(حواله بالا)

⑦ حضرت مولانا انور شاه کشميری رحمه الله فرمائي چه حضرت شاه صاحب رحمه الله په دې موقع باندې فرمائي چه بعضې علماؤ ليکلی دی چه حضرت ابن عمر رضي الله عنهما په خپله زمانه کښې دَ حضرت عمر رضي الله عنه نه دَخپلې زمانې په لحاظ سره افضل وو هغه کيدې شی چه دَدې په شان وجوه سره دې چه حضرت ابن عمر ته هر وخت دَ سنتو دَ اتباع کولو شوق لګيدلې وو اوکه چرې څه خبره دَتحقق نه پاتې شوې وی نودَ هغې افسوس به ئی کولو. دا دَهغوی عجيبه اوحيرانونکی شان دَ فضيلت خاصه موجب وو. نور فرمائي دلته چه کوم دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما په يقين سره دَ دوو رکعَتو ذکر اوفرمائيلو هغه دَدې دَ پاره نه وو چه دَ حضرت بلال رضي الله عنه نه ئی تپوس کړې وو بلکه په دې وجه چه کم نه کم مونږ هم دوه رکعته وی نو هم دَدې قائل شو.[3]

---

[1] عمدة القاري: ١٩٨/٤.

[2] طرح التثريب فی شرح التقريب، باب: دخول الكعبة والصلاة فيها، هل كانت هذا الصلاة تحية الكعبة؟ وهل يستدل بها على جواز صلاة الفريضة في جوف الكعبة؟ ذكر المذاهب فى ذلك: ١٣٩/٨، دار إحياء التراث العربي. ذخيرة العقبى شرح سنن النسائي، كتاب المساجد، الصلاة فى الكعبة: ٥١٠/٨-٥٠٩، دارالمعراج.

[3] أنوارالباري: ١٩٦/١٢، فيض الباري: ٤٢/٢.

نبی کریم ﷺ کعبه کښې په کوم ځائی کښې مونځ اداکړو؟ کله چه نبی کریم ﷺ کعبه کښې داخل شو نو حضورپاك کوم ځائی کښې په کعبه کښې مونځ اداکړو؟ په دې باره کښې مختلف قسم روایات نقل دی[1].

تقریر بخاری شریف کښې حضرت شیخ الحدیث صاحب نورالله مرقده دَدې روایتونو په مینځ کښې ډیر بهترین تطبیق کړې دې. شیخ الحدیث صاحب رحمه الله فرمائی چه په مذکوره حدیث کښې یوه جمله ده: ((الساريتين اللتين على يساره)) بعضې روایاتو کښې دَدې عکس راغلې دې ((على يمينه)) او بعضې روایاتو کښې ((بين العمودين المقدمين)) دې او بعضې کښې دا دې چه دَحضورپاك مخې ته درې ستنې وې. دَدې مختلف روایاتو دَ وجې نه دَ دغه ځائی په تعیین کښې اختلاف پیدا شو.

زما والد صاحب اعلی الله مراتبه فرمائی چه په هغه زمانه کښې به په عام توګه ستنې بې ترتیبه وې. هوارې او بالکل نیغې په یو خط کښې او په یو لائن کښې به نه وې. نو دَ هغه زمانې نقشه دَدې قسم وه او حضورپاك داسې ولاړ وو چه په یسار کښې هم دوه ستنې وې او په یمین کښې هم دوه ستنې وې. په دې توګه دَحضورپاك بين الساريتين کیدل هم صادق شو او دا چه دَحضورپاك مخې ته هم دوه ستنې وې ځکه چه درې دی داسې یو خوا بل خوا مقابله کښې دوه دی هم دَدې ذکر ئې اوکړو[2].

---

[1]) ابوزرعه ولي الدين، ابن العراقي رحمه الله "تقريب الأسانيد وترتيب المسانيد" شرح "طرح التثريب" کښې دغه مختلف روايات او په هغې باندې تشريحی کلام نقل کولونه پس دَخپل پلار ابوالفضل زين الدين العراقي رحمه الله اخذ کړې شوې نتيجه ذکرکوی چه ښه جامع اومانع ده، مقصود ته دَ رسيدو دپاره دَهغې نقل کول مفيد معلوميږی، وئی ګورئی: عن ابن عمر "أن رسول الله صلى الله عليه وسلم دخل الكعبة...... فقال جعل عمودا عن يساره، وعمودين عن يمينه، وثلاثة أعمدة وراءه وكان البيت يومئذ على ستة أعمدة، ثم صلى". وفي رواية ابن القاسم عن مالك: "وجعل بينه وبين الجدار نحوا من ثلاثة أذرع"، وفي رواية البخاري: "عمودا عن يمينه وعمودا عن يساره"، وفي رواية لمسلم: "عمودا عن يمينه وعمودين عن يساره"، وله في رواية: "بين العمودين اليمانيين".

قال والدي: "في شرح الترمذي وهي موافقة لكونه مقابل الباب، وفي رواية في الصحيح أيضا "صلى بين العمودين اليمانيين" وإذا تقرر ترجيح الرواية الأولى فلا ينافيها قوله في الرواية الثانية عمودا عن يمينه وعمودا عن يساره لأن معناها صلى بين عمودين وإن كان بجانب أحدالعمودين عمود آخر ولاقوله في الرواية الأخيرة بين العمودين اليمانيين فإن لعمد الثلاثة أحدها يماني وهوالأقرب إلى الركن اليماني والآخر وهوالأقرب إلى الهجر شامي والأوسط بينهما إن قرن بالأول قيل: اليمانيان وإن قرن بالثاني قيل الشاميان، ذكر المحب الطبري، وهو واضح، وأما الرواية الثالثة: فإنه يتعذر الجمع بينها وبين الأولى، فهي ضعيفة لشذوذها ومخالفتها رواية الأكثرين كما تقدم، والرابة الرابعة: فهي مقطوع بوهمها إذ ليس هناك أربعة أعمدة حتى يكون عن يمينه اثنان وعن يساره اثنان" (طرح التثريب في شرح التقريب، كتاب الحج، باب: دخول الكعبة، والصلاة فيها، حديث: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم دخل الكعبة هو وأسامة بن زيد، فائدة: إثبات صلاته عليه السلام في الكعبة: ١٣٦/٥).

[2]) تقرير بخاری شريف: ١٤٤/٢ الكنزالمتواری: ٨٧/٤-٨٦.

قوله: ثُمَّ خَرَجَ، فَصَلَّى فِي وَجْهِ الْكَعْبَةِ رَكْعَتَيْنِ» بيا نبی کريم ﷺ دَ بيت الله نه بهر اووتلو بيائی دَ کعبې «دَ دروازې» مخامخ دوه رکعته مونځ ادا کړو.

قوله: "وجه الكعبة" نه مراد "مواجهة باب الكعبة" دې. يعنی دکعبې مکرمې دَ دروازې مخې ته[1]

علامه برماوی رحمه الله فرمائی چه دَدې لفظ "وجه الكعبة" دَ ظاهر نه معلومیږی چه دا دوه رکعته دَ مقام ابراهيم سره ادا کړې شوی وو او دَ وجهٔ کعبه نه عموم مراد اخستلو احتمال هم شته چه دَ کعبې دَ دروازې په جهت کښې ئی مونځ اوکړو.[2]

حضرت شيخ الحديث صاحب نورالله مرقده فرمائی چه دې "وجه الكعبة" سره تعميم هم اوشو ځکه چه "وجه الكعبة" کښې ئی کله ادا کړو نومقام ابراهيم شاته پاتې شو نوهغه رکعتين کوم چه دَ مقام ابراهيم سره متعلق دی دَ هغې ايجاب پاتې نه شو[3]

دَ روايت دَ ترجمة الباب سره مطابقت: دَ مذکوره روايت دَ ترجمة الباب سره مطابقت دَ روايت آخری جملې "فصلى فى وجه الكعبة" کښې دې. هغه داسې چه "وجه الكعبة" نه مراد دَ کعبې دَ دروازې طرف دې کوم ته چه مقام ابراهيم وائی.

دَ حديث نه مستنبط شوی احکام او فوائد: دَمذکوره حديث شريف نه ډير زيات احکام او فوائد مستنبط کيږی. په هغې کښې يو څو لاندې درج کولې شی:

① بيت الله ته دننه داخليدل جائز دی.[4] المغنی کښې ذکر دی چه کوم سړې حج اوکړی نو دَ هغه دَ پاره مستحب دی چه هغه دې بيت الله ته هم داخل شی او هلته دې دوه رکعته مونځ اوکړی لکه چه څنګه حضور پاک عليه السلام کړی وو. او بيت الله کښې دې څپلئ او موزې وغيره کوزولو سره داخل شی[5]

② بيت الله کښې دوه رکعته مونځ کول مستحب دی.[6]

③ داحديث دَ هغه حضراتو دليل دې څوک چه دَدې خبرې قائل دی چه په ورځ کښې دوه رکعته کول افضل دی[7]

---

[1] التوشيح شرح الجامع الصحيح للسيوطی: ۴۸۷/۳.

[2] ظاهره: عند مقام إبراهيم، وبه تحصل مطابقة الترجمة، ويحتمل جهة الباب عموما. (اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ۱٤۰/۳).

[3] تقريربخاري شريف: ۱٤۵/۲.

[4] الإعلام بفوائد الأحكام لابن ملقن، كتاب الحج، باب: دخول مكة وغيرها، الحديث الثالث: ۱۸۰/۶،عمدة القاري: ۱۹۷/٤.

[5] المغنی لابن قدامة الحنبلی، كتاب الحج، باب: الفدية وجزاء الصيد، مسئلة مالزم من الدماء، فصل: يستحب لمن حج أن يد كل البيت ويصلى: ٥٦٤/٥.

[6] الإعلام بفوائد الأحكام لابن ملقن، كتاب الحج، باب: دخول مكة وغيرها، الحديث الثالث: ۱۸۰/۶،عمدة القاري: ۱۹۸/٤.

[7] عمدة القاري: ۱۹۸/٤.

④ دا حدیث دَ ابن جریر طبری رحمه الله خلاف په دې مسئله کښې حجت دې چه هغه دَدې خبرې قائل دې چه په کعبه کښې مونځ کول جائز نه دی که هغه فرض وی او که نفل وی.[1]
⑤ دَدې حدیث نه دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما عظیم منقبت معلومیږی چه هغوی دَ احکامو زده کولو او هرځائی او هروخت دَ رسول الله ﷺ دَ آثارو په لټون او اتباع باندې ښه حریص وو
⑥ په خبر واحد باندې دَعمل کولو ثبوت هم کیږی.[2]

بیت الله شریف کښې دننه دَ داخلیدو اداب او متعلقه مسائل: معلم الحجاج (مؤلفه: مفتی سعید احمد مظاهری رحمه الله) کښې بیت الله شریف ته دننه داخلیدو آداب باره کښې مفید بحث موجود دې هغه بعینه لاندې نقل کولې شی.[3]

مسئله نمبر①: بیت الله ته دننه داخلیدل مستحب دی په دې شرط چه دَ داخلیدو موقع په آسانۍ سره وی. پخپله تکلیف اوچتول یا بل ته تکلیف ورکولو سره داخلیدو نه بچ کیدل پکاردی. بل ته تکلیف ورکول حرام دی. اکثر خلق په شوق کښې داسې لیونی کیږی چه دَ بل دَ تکلیف هډو پرواه نه کوی. داسې شوق په کوم سره چه دَحرام ارتکاب وی دَ الله تعالی دَ ناراضګئی سبب دې نه چه دَ ثواب موجب.[4]

مسئله نمبر②: بیت نه دَ کنجئ والا ته څه ورکولو سره داخلیدل حرام دی. نن صبا په عام توګه دَ بیت الله دربان بغیردَ څه اخستو داخلیدو ته نه پریږدی. دا اخستل او ورکول حرام دی ځکه چه رشوت دې. (دربان دَ داخلیدو په وخت دَ رشوت نوم نه اخلی بلکه بخشش وائی داهم رشوت دې. لکه داسې اوګنړئی چه شراب کهنه درجام نو).[5]

مسئله نمبر③: بیت الله ته که دَ داخلیدو موقع ملاؤ شی نو مستحب دی چه مونځ اوکړی او دعا اوغواړی او بربنډې خپې دې داخل شی. اول دې ښې خپه کیږدی او په ډیره خشوع اوخضوع سره دې داخل شی. چت طرف ته دې نه ګوری او نه دې اخوادیخوا ګوری، دا بې ادبی ده. او کوم ځائی چه حضورپاك مونځ کړې وو نوهغه ځائی کښې دې نفل اوکړی. یعنی دَ دروازې نه داخلیدو سره دې نیغ لاړشی کله چه مغربی دیوال درې لاسه پاتې شی نو هم په دغه ځائی دوه یا څلور رکعته نفل کولو سره دې خپل مخ په دیوال باندې کیږدی اودَ الله تعالی حمد او ثنا دې اوکړی اودَ تهلیل، تکبیر او درود نه پس دې دعا اوغواړی.

(**مسئله:** کعبه کښې ددوو ستنو په مینځ کښې شین بلاط "دَ شین کانړی فرش" عوام دې ته

---

[1] الإعلام بفوائد الأحكام لابن ملقن، كتاب الحج، باب: دخول مكة وغيرها، الحديث الثالث: ۱۸۰/۶،عمدة القارى: ۱۹۸/٤.

[2] الإعلام بفوائد الأحكام لابن ملقن، كتاب الحج، باب: دخول مكة وغيرها، الحديث الثالث: ۱۸۰/۶.

[3] معلم الحجاج بيت الله شريف کے اندر داخل ہونے کے آداب اور متعلقہ مسائل، ص: ۱۳۲، کاپا سنز، کراچی.

[4] غنية الناسک، باب: السعى بين الصفاوالمروة، مطلب فى دخول البيت، ص: ۱۳۸. إرشاد السارى، فصل: يستحب دخول البيت، ص:۵٤٧-۵٤۶.

[5] غنية الناسک، باب: السعى بين الصفاوالمروة، مطلب فى دخول البيت، ص: ۱۳۸- ۱۳۹. إرشاد السارى، فصل: يستحب دخول البيت، ص:۵٤٧-۵٤۶.

د پیغمبر علیه السلام مصلی وائی دا صحیح نه ده.[۱]

مسئله: دکعبې هرې ستنې سره نیزدې هم دعا غوارې دا دَ رسول الله ﷺ دَفعل نه ثابته خبره ده. کما رواه الإمام احمد فی المسند. البته ستن له غاړه ورکول ثابت نه دی. دَ امام مالک رحمه الله نه تپوس اوکړې شو نو وئی فرمائیل دکعبې ستن له دې غاړه نه ورکوی ځکه چه پیغمبر علیه السلام چه کله کعبې ته داخل شو نو ما نه دی اوریدلی چه حضورپاک ستن له غاړه ورکړې وی. کذا ذکر العزی بن جماعة.[۲]

مسئله نمبر④: حطیم هم دَ بیت الله حصه ده. که چرې یو سړی ته دَ بیت الله دَ داخلیدو موقع ملاؤ نه شی نو حطیم کښې دې داخل شی.[۳]

مسئله نمبر⑤: دکعبې شریفې په مینځ کښې یو میخ دې هغې ته عوام "سرة الدنیا" (دَدنیا نوم) وائی او په هغې باندې خپل نوم ایږدی یا مخامخ دیوال کښې یوه کړه ده هغې ته "عروة الوثقی" وائی داټولې دَعوامو دَ ځانه خبرې دی داسې دې هیڅ کله نه کوی.[۴]

مسئله: کعبه کښې ځان له یا په جمع سره مونځ کول جائز دی او هلته دا شرط هم نشته چه دَامام او مقتدیانو مخ دې هم یو طرف ته وی ځکه چه هلته هرطرف ته قبله ده. البته دا ضروری دی چه مقتدی دې دَ امام نه وړاندې نه وی. که یو مقتدی دَ امام طرف ته مخ کولو سره مونځ کوی نو مونځ به ئې اوشی مګر داسې مونځ کول مکروه دی او په دې صورت کښې دې مقتدی امام نه مخکښې کوی. دَ وړاندې کیدو صورت دادې چه دَ مقتدی او امام دواړو مخ هم یو طرف ته وی او چه مقتدی وړاندې وی نو په دې صورت کښې دَ مقتدی مونځ نه کیږی.[۵]

---

[۱] غنیة الناسک، باب: السعی بین الصفاوالمروة، مطلب فی دخول البیت، ص: ۱۳۹-۱۳۸. إرشاد الساری، فصل: یستحب دخول البیت، ص:۵٤۷-۵٤۶.

[۲] غنیة الناسک، باب: السعی بین الصفاوالمروة، مطلب فی دخول البیت، ص: ۱۳۹. إرشاد الساری، فصل: یستحب دخول البیت، ص:۵٤۶.

[۳] مجمع الزوائد، کتاب الحج، باب: الحجر من البیت: ٤/۲۷۵، ٤٦٤.

[۴] الدرالمختار، کتاب الحج، باب الهدی: ۲/٦۲٤ غنیة الناسک، باب: السعی بین الصفاوالمروة، مطلب فی دخول البیت، ص: ۱۳۹.

[۵] الفتاوی عالمکیریة، کتاب الصلاة، ومما یتصل بذلک الصلاة فی الکعبة: ۱/٦۵ الفتاوی التاترخانیة، کتاب الصلاة، الفرائض: ۱/٤۲٦.

حديث باب «دريم حديث»[حديث نمبر ٣٨٩]

- ٣٩٨ ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ عَنْ عَطَاءٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ [١] قَالَ لَمَّا دَخَلَ النَّبِي - صلى الله عليه وسلم - الْبَيْتَ دَعَا فِي نَوَاحِيهِ كُلِّهَا، وَلَمْ يُصَلِّ حَتَّى خَرَجَ مِنْهُ، فَلَمَّا خَرَجَ رَكَعَ رَكْعَتَيْنِ فِي قُبُلِ الْكَعْبَةِ وَقَالَ «هَذِهِ الْقِبْلَةُ».

ترجمه حديث: حضرت عطاء رحمه الله وائى چه ما د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه واورېده چه كله حضور پاك بيت الله ته داخل شو نو حضور پاك د هغې په ټولو ګوټونو كښې دعا اوكړه او بهرته د تشريف راوړو پورې ئې مونځ اونه كړو. بيائى چه كله بهر تشريف راوړو نو دوه ركعته ئې د كعبې مخامخ اوكړل، او وئې فرمائيل چه هم دغه قبله ده.

تراجم رجال: د مذكوره حديث شريف په سند كښې ټول پنځه رجال دى:

① **اسحاق بن نصر رحمه الله:** علامه عينى رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله په څو مقاماتو باندې د هغوى نه حديث روايت كړې دې. نو امام صاحب رحمه الله كله د هغوى نوم اسحاق بن ابراهيم بن سعد ذكركوى اوكله د هغوى نسبت د هغوى د نيكه طرف ته نسبت كولو سره اسحاق بن نصر وئيلو سره ئې ذكركوى. د دوى تفصيلى حالات كشف البارى، كتاب الغسل، باب: من اغتسل عريانا وحده فى خلوة لاندې تيرشوى دى[٢]

② **عبد الرزاق رحمه الله:** دا ابوبكر عبد الرزاق بن همام صنعانى يمانى رحمه الله دې. د دوى حالات كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: حسن إسلام المرء د دويم حديث لاندې تيرشوى دى[٣]

③ **ابن جريج رحمه الله:** د دوى پوره نوم عبد الملك بن عبد العزيز بن جريج رحمه الله دې. د دوى حالات كشف البارى، كتاب الحيض، باب: غسل الحائض رأس زوجها وترجيله كښې تيرشوى دى[٤]

④ **عطاء رحمه الله:** دا ابومحمد عطاء بن ابى رباح مكى قرشى رحمه الله دې. د دوى تفصيلى حالات كشف البارى، كتاب العلم، باب: عظة الإمام النساء وتعليمهن لاندې تيرشوى دى[٥]

---

[١] أخرجه البخارى، أيضاً فى الحج، باب: من كبر فى نواحى الكعبة، رقم الحديث: ١٦٠١. وفى المغازى، باب: أين ركز النبى صلى الله عليه وسلم الراية يوم الفتح، رقم الحديث: ٤٢٨٨. ومسلم فى الحج، باب: استحباب دخول الكعبة للحاج، رقم الحديث: ١٣٣١. والنسائى فى الحج، باب: التكبير فى نواحى ا لكعبة، رقم الحديث: ٢٩١٦وفى باب: موضع الصلاة من الكعبة، رقم الحديث: ٢٩٢. وفى جامع الأصول، حرف الحاء، الكتاب الأول: فى الحج والعمرة، الباب الرابع: فى الطواف والسعى ودخول البيت، الفصل الثالث: فى دخول البيت، رقم الحديث: ١٥١٣، ٢٢٥/٣.

[٢] كشف البارى، كتاب الغسل، باب: من اغتسل عريانا وحده فى خلوة.

[٣] كشف البارى: ٤٢١/٢.

[٤] كشف البارى، كتاب الحيض، غسل الحائض، رأس زوجها وترجيله: ٢٠٤.

[٥] كشف البارى: ٣٩/٤.

⑤ ابن عباس رضی الله عنهما: دا مشهور صحابی رسول حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما دی. دَدوی مختصر احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی څلورم حدیث لاندې او تفصیلی حالات کتاب الإیمان، باب: کفران العشیر، وکفر دون کفر لاندې تیر شوی دی.[1]

شرح حدیث:

قوله: عَنْ عَطَاءٍ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ، قَالَ: لَمَّا دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ البَيْتَ، دَعَا فِي نَوَاحِيهِ كُلِّهَا: یعنی حضرت عطا رحمه الله وائی چه ما دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه واوریده چه کله حضورپاك بیت الله ته داخل شو نو حضورپاك دَهغې په ټولو ګوټونو کښې دعا اوکړه.

قوله: "نواحیه" جمع ده دَ "ناحیة" اودې نه مراد طرف دې.[2]

قوله: وَلَمْ يُصَلِّ حَتَّى خَرَجَ مِنْهُ، فَلَمَّا خَرَجَ رَكَعَ رَكْعَتَيْنِ فِي قُبُلِ الْكَعْبَةِ: او بهر تشریف راوړو پورې ئی مونځ اونه کړو، بیائی بهر تشریف راوړو نو دوه رکعتهٔ ئی دَ کعبې مخامخ اوکړه.

"رکع رکعتین" نه مراد "صلی رکعتین" دې. جزء ذکرکولو سره کل مراد اخستې شوې دې.[3]

قوله: "في قُبُل الکعبة" کښې "قُبُل" دَ قاف او باء په ضمې سره دې اودې نه مراد دَ یوڅیز مخې ته کیدل دی. یعنی دَ کعبې مکرمې دَ دروازې مخې ته دَ مقام ابراهیم سره.[4]

ابن رجب حنبلی رحمه الله فرمائی چه دې نه مراد وجهٔ کعبه ده یعنی دَ بیت الله دروازې سره لکه چه دَ حضرت ابن عمر رضی الله عنهما ماقبل حدیث شریف کښې چه تیر شو.[5]

قوله: وَقَالَ: «هَذِهِ القِبْلَةُ»: او ارشاد ئی اوفرمائیلو چه هم دغه قبله ده.

قوله: "هذه" اسم اشاره ده او مشارالیه کعبه ده.[6]

دَ "هذه القبلة" وئیلو مطلب اومقصد: علامه خطابی رحمه الله فرمائی چه حضورپاك دَدې جملې په ذریعه لکه چه دا اراده اوفرمائیله چه دَ قبلې معامله هم په دې بیت الله باندې په دې قرار نیولې. اوس دَدې نه علاوه بلې قبلې طرف ته مخ اونه کړې شی. دائی په دې وجه ارشاد اوفرمائیلو چه دې نه مخکښې به دَ بیت المقدس طرف ته هم مخ کولو سره مونځ کولې شو. بیا دَ بیت المقدس قبله کیدل منسوخ شو او قبله دَ کعبې طرف ته راوګرځولې شوه. لکه چه حضورپاك اوفرمائیل چه دَ نن نه پس به ستاسو قبله نه شی بدلیدې. نو تاسو همیشه دَ کعبې

---

[1] کشف الباري: ١/٣٥، ٢/٢٠٥.

[2] عمدة القاري: ٤/١٩٩.

[3] شرح الکرماني: ٤/٦٠، اللامع الصبیح: ٣/١٤١، عمدة القاري: ٤/١٩٩.

[4] التنقیح لألفاظ الجامع الصحیح: ١/١٥٠، مصابیح الجامع: ٢/١١٣، اللامع الصبیح: ٣/١٤١، عمدة القاري: ٤/١٩٩، حاشیة السندي علی سنن النسائي، کتاب المناسک، رقم الحدیث: ٢٩٠٨، ٥/٢٣٦، دار المعرفة.

[5] فتح الباري لابن رجب حنبلي: ٢/١١٩.

[6] عمدة القاري: ٤/١٩٨ الکوثر الجاري: ٢/٨٨.

طرف ته مخ کولو سره مونځ کوئی هم دغه ستاسو قبله ده.
دَ دې جملې په مطلب کښې دویم احتمال دادې چه رسول الله ﷺ خپلو صحابه کرامو ﷡ ته دَهغوی دَ امام دَ اودریدو مسنون ځائی او خودلو چه امام دې مواجهه بیت کښې اودریږی نه چه دَ بیت الله په ګوټونو او یا باقی دریوارو طرفونو نه یو طرف ته. اګرچه دَ بیت الله دَ اطرافو نه یو طرف کښې اودریدو سره هم مونځ کول جائز دی.
دَ دې جملې په مطلب کښې دریم احتمال دا دې چه په دې سره ئې صرف دَ هغه خلقو حکم اوخودلو ځوك چه دَ بیت الله مشاهده اومعائنه کوی چه دَهغوی دَ پاره مواجهه بیت عیاناً ضروری دی. دَ خپلې اجتهادی رائې نه کار نه شي اخستې.
علامه نووی ﷫ یو بل احتمال ذکرکړې دې چه دَدې معنی داده چه دا مسجد حرام دکوم دَ استقبال چه تاسو ته حکم درکړې شوې دې هم دغه قبله ده نه چه ټول حرم او نه مکه او نه هر هغه جمات کوم چه دکعبې نه چاپیره وی بلکه قبله هم صرف دغه ده.([1])
نبی کریم ﷺ په بیت الله کښې دننه مونځ اوکړو که نه؟: هم دَدې باب دَمذکوره حدیث نه مخکښې دَ حضرت ابن عمر ﷠ په روایت کښې دَحضرت بلال ﷛ دا ارشاد تیر شو چه رسول الله ﷺ په کعبه کښې دوه رکعته مونځ ادا کړو([2])
خو په مذکوره حدیث شریف کښې دَ حضرت ابن عباس ﷠ دا ارشاد ذکر دې چه نبی کریم ﷺ په بیت الله کښې دننه دعا اوغوښتله لیکن مونځ ئې ادا نه کړو.
په متعارض احادیثو کښې تطبیق: دَ احادیثو دا تعارض دَ تطبیق، توفیق او ترجیح په لار سره لرې کړې شوې دې. تطبیق ورکونکی حضراتو کښې امام زرقانی ﷫ دې هغوی فرمائی:
① مهلب ﷫ فرمائی چه په دې باره کښې احتمال دې چه حضور پاك دوه ځل بیت الله کښې داخل شوې وی. یو ځل داخلیدو کښې ئې مونځ کړې دې او په دویم ځل داخلیدو کښې ئې مونځ نه دې کړې. ابن حبان ﷫ فرمائی چه زما په نیز دواړه قسم احادیث دَ راجمع کولو بهترین صورت دادې چه دواړه خبرې دوه مختلفو مواقعو کښې پیښیدل او ګرځولې شی. چنانچه کله دَ فتح مکه په موقع حضورپاك کعبه کښې داخل شو نو حضورپاك هلته مونځ

---

[1]) شرح النووی علی صحیح مسلم، کتاب الحج، باب: استحباب دخول الکعبة للحاج وغیره، رقم الحدیث: ۸۳/۹علامه ابن رجب حنبلی ﷫ فرمائی: "وزعم غیره أن مراده: أن القبلة هی الکعبة نفسها، لا المسجد ولا الحرم، وهذا قاله بعض من یری أن الواجب علی البعید الاستقبال علی العین. (فتح الباری لابن رجب حنبلی: ۱۲۰/۲). وقال السندی رحمه الله: "الإشارة إلی الکعبة المشرفة، أو جهتها، وعلی الثانی الحصر واضح، وعلی الأول باعتبار من کان داخل المسجد، أو من کان بمکة. (حاشیة السندی علی سنن النسائی، کتاب المناسک، رقم الحدیث: ۲۹۰۸، ۲۳۶/۵، دالمعرفة).

[2]) حدثنا مسدد قال: حدثنا یحیی، عن سف قال: سمعت مجاهداً قال: أتی ابن عمر، فقیل له: هذا رسول الله صلی الله علیه وسلم دخل الکعبة، فقال ابن عمر: فأقبلت والنبی صلی الله علیه وسلم قد خرج، وأجد بلالاً قائمًا بین البابین، فسألت بلالاً فقلت: أصلی النبی صلی الله علیه وسلم فی الکعبة؟ قال: نعم، رکعتین، بین الساریتین اللتین علی یساره إذا دخلت، ثم خرج، فصلی فی وجه الکعبة رکعتین. (صحیح البخاری: رقم الحدیث: ۳۹۷).

اوكړو لكه چه حضرت ابن عمر رضي الله عنهما د حضرت بلال رضي الله عنه نه روايت كړي دى او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما چه كوم په كعبه كښې د مونځ كولو نفى كړې ده هغه د حجة الوداع په موقع باندې كعبه كښې د داخليدو موقع ده. او هغوى دې نسبت د حضرت اسامه رضي الله عنه طرف ته كړې دې لهذا تعارض ختم شو.(١)

ليكن امام نووى رحمه الله په دې تاويل باندې اعتراض كړې دې چه په دې خبره كښې هيڅ اختلاف نشته دې چه نبى اكرم صلى الله عليه وسلم د فتح مكه په ورځ بيت الله ته داخل شوې وو، نه چه دحجة الوداع په ورځ. اودې خبرې شهادت هغه حديث دې كوم چه الازرقى رحمه الله خپل كتاب مكه (اصل نوم اخبار مكه دې) كښې ذكركړې دې: "حضرت سفيان رضي الله عنه د ډيرو اهل علم نه داخبره نقل كړې ده چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم د فتح مكه په كال بيت الله ته صرف يو ځل داخل شوې وو. بيا حضورپاك حج اوكړو نو بيت الله ته داخل نه شو".(٢)

نوچه كله خبره داسې ده نودا خبره ممتنع نه ده چه حضورپاك د فتح مكه په كال دوه ځل بيت الله ته داخل شوې وى. اود ابن عيينه رحمه الله په حديث كښې چه دكوم وحدة ذكر دې د هغې نه مراد دې وحدت سفر وى نه چه وحدت دخول په داسې حال كښې چه د دارقطنى د يو ضعيف حديث نه هم دې جمعې ته تقويت ملاوېږي. والله اعلم.(٣)

په يو بل مقام باندې فرمائى چه دا په دې خبره باندې دليل دې چه د حضورپاك كعبې ته د داخليدو او هلته مونځ كولو باره كښې چه كوم احاديث ذكر دى هغه (دخول كعبه) د فتح مكه په موقع باندې وو او په دې كښې د چاهم اختلاف نشته دې اوهغه ورځ د حجة الوداع ورځ نه وه.(٤)

② بعضې هغه حضرات چه په بيت الله كښې دننه مونځ كول مكروه ګرځوى. هغوى دا دواړه متعارض روايات داسې راجمع كړې دى چه په كوم حديث كښې د مونځ كولو ذكر راغلې دې په هغې كښې د صلاة نه مراد لغوى صلاة (يعنى دعاوغيره) مراد دى او په كومو احاديثو كښې چه د مونځ نه كولو ذكردې په هغې كښې د مونځ نه مراد شرعى مونځ دې.

---

(١) قال المهلب: "يحتمل أنه دخل البيت مرتين، صلى فى إحداهما، ولم يصل فى الأخرى..... وقال ابن حبان: "الأشبه عندى فى الجمع أن يجعل الخبران فى وقتين، فلما دخل الكعبة فى الفتح، صلى فيها على مارواه ابن عمر عن بلال..... إلخ ونفى ابن عباس الصلاة فيها فى حجة الوداع، لأنه نفاها وأسنده إلى أسامة، وابن عمر أثبتها، وأسنده إلى بلال وإلى أسامة أيضا، فبطل التعارض، وهذا جمع حسن. (شرح الزرقانى على المؤطا للإمام مالك، كتاب الحج، الصلاة فى البيت: ٢٤٧/٤).

(٢) قال: حدثنا أبوالوليد، قال: وحدثنى جدى، قال: سمعت سفيان يقول: سمعت غير واحد من أهل العلم يذكرون أن رسول الله صلى الله عليه وسلم إنما دخل الكعبة مرة واحدة عام الفتح، ثم حج، فلم يدخلها. (أخبارمكة وما جاء فيها من الآثار للأزرقى، الصلاة فى الكعبة، رقم الحديث: ٣٣٤، مكتبة الأسدى).

(٣) نيل الأوطار، باب صلاة التطوع فى الكعبة، رقم الحديث: ٦١٩، ١٦٤/٢.شرح الزرقانى على المؤطا للإمام مالك، كتاب الحج، الصلاة فى البيت: ٢٤٧/٤. كوثرالمعانى الدرارى فى كشف خبايا صحيح البخارى: ٣٧/٧.

(٤) شرح النووى على صحيح مسلم، كتاب الحج،استحباب دخول الكعبة للحاج وغيره، رقم الحديث: ٣٨٩، ٨٢/٩.

ليكن دا توجيه په دې خبره باندې رد كړې شوې ده چه په كومو احاديثو كښې د مونځ د اثبات ذكر دې په هغې كښې د ركعتونو د تعداد هم ذكر دې. په دې صورت كښې د صلاة نه مراد صلاة لغوى مراد اخستل څنګه صحيح كيدې شي؟

③ امام قرطبى رحمه الله فرمائى چه د مالكيه د مذهب مطابق دا دواړه متعارض احاديث داسې راجمع كول ممكن دى چه د حضرت بلال رضي الله عنه د قول "أنه صلى فيها" نه نفل مونځ مراد واخستې شي او د حضرت اسامه رضي الله عنه د قول "إنه لم يصل" نه فرض مونځ مراد واخستې شي.(١)

علامه محمد يوسف صاحب بنورى رحمه الله فرمائى چه زمونږ شيخ (علامه كشميرى رحمه الله) فرمائى چه دا خبره ممكن ده چه اثبات او نافى دواړه روايتونه په مختلف واقعاتو باندې محمول كولو سره توفيق او تطبيق وركړې شى ليكن محدثين حضرات دې طرف ته مائل نه شو بلكه د دغه حضراتو خيال د ترجيح طرف ته تلې دې.(٢)

په دې باندې علامه بنورى رحمه الله فرمائى چه (د حضرت كشميرى رحمه الله خبره په خپل ځائى ليكن راقم وائى چه (تطبيق والا لار اختيارولو سره د محدثينو نه) علامه زرقانى رحمه الله فرمائى......(٣). امام نووى رحمه الله فرمائى چه د حضرت بلال رضي الله عنه اثبات او د حضرت اسامه رضي الله عنه نفى داسې جمع كړې شى چه كله دا ټول حضرات بيت الله ته داخل شو نو په دعا كښې مشغول شو. نو حضرت اسامه رضي الله عنه نبى كريم صلى الله عليه وسلم په دعا كښې مشغول اوليدلو نو حضرت اسامه رضي الله عنه هم په يو ګوټ كښې كيناستو دعا كښې مشغول شو په داسې حال كښې چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم په دويم ګوټ كښې وو. بيا نبى كريم صلى الله عليه وسلم مونځ شروع كړو نو حضرت بلال رضي الله عنه اوليدلو ځكه چه هغه نبى كريم صلى الله عليه وسلم ته ډير نيزدې وو او حضرت اسامه رضي الله عنه د لرې كيدو د وجې نه او په خپله دعا كښې د مشغوليدو د وجې نه اونه ليدلې شو. دا وجه هم كيدې شى چه د بيت الله دروازه بنده وه او په كعبه كښې دننه ډيرې ستنې هم وې. چنانچه هغوى د خپل ګمان د وجې نفى اوكړه.(٤)

په متعارض احاديثو كښې ترجيح: بعضې نورو حضراتو په دې دواړو روايتونو كښې د تطبيق په ځائى د ترجيح لار اختيار كړې ده. چنانچه علامه خطابى رحمه الله فرمائى چه بهرحال د ابن عباس رضي الله عنهما قول "أن رسول الله صلى الله عليه وسلم لم يصل في الكعبة" نافى دې، خو د حضرت بلال رضي الله عنه د روايت نه دا خبره ثابته ده چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم په بيت الله كښې مونځ كړې دې، په داسې حال كښې چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم د هغه سره بيت الله كښې داخل شوې وو. او د مثبت قول د نافي د

---

(١) ويمكن أن يجمع بين حديث أسامة وبلال على مقتضى مذهب مالك، فيقال: إن قول بلال: "أنه صلى فيها" يعنى به: "التطوع" وقول أسامة: "إنه لم يصل فيها" يعنى به: "الفرض". (المفهم لما أشكل من تلخيص كتاب مسلم، كتاب الحج، باب: ماجاء فى دخول النبى صلى الله عليه وسلم الكعبة: ٤٣١/٣).

(٢) معارف السنن، باب: الصلاة فى الكعبة: ١٧٣/٦ فيض البارى: ٤٢/٢.

(٣) معارف السنن، باب: الصلاة فى الكعبة: ١٧٤/٦-١٧٣.

(٤) شرح النووى على صحيح مسلم، كتاب الحج، استحباب دخول الكعبة للحاج وغيره، رقم الحديث: ٣٨٩، ٨٢/٩.

قول نه افضل وي.([1])
محب طبري رحمه الله فرمائي چه بيت الله ته دَ داخليدو نه پس حضرت اسامه رضي الله عنه به دَ څه حاجت دَ وجې نه دَ بيت الله نه وتلې وي په دې وجه دَ نبي كريم ﷺ په مونځ باندې خبر نه شو([2]). په دې باندې شاهد هغه روايت دې كوم چه ابوداؤد الطيالسي رحمه الله په خپل مسند كښې نقل كړې دې چه حضرت اسامه رضي الله عنه اوفرمائيل زه رسول الله ﷺ سره كعبې ته داخل شوم هلته رسول الله ﷺ جوړشوې تصويرونه اوليدل نو حضورپاك دَ اوبو ډولچه راؤغوښتله، زه لاړم راوړم. بيا حضورپاك په دغه اوبو سره هغه تصويران وران كړل([3])
امام قرطبي رحمه الله فرمائي چه حضرت اسامه رضي الله عنه دَ خپل ډير زر واپس راتلو دَ وجې نه دَ حضورپاك مونځ نه كولو باندې قياس كړو.([4])
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه عمر بن شبه خپل كتاب "كتاب مكه" كښې دَ علي بن بذيمه رحمه الله په طريق سره يو روايت نقل كړې دې چه نبي كريم ﷺ كعبې ته داخل شو په داسې حال كښې چه حضورپاك سره حضرت بلال رضي الله عنه هم وو او حضرت اسامه رضي الله عنه دَ بيت الله دروازې سره نيزدې كيناستو. بيا چه كله دا حضرات دَ بيت الله نه اووتل نو هغوى حضرت اسامه رضي الله عنه احتباء سره ناست اوليدلو (يعنى هغه په خپلو كوناټو باندې داسې ناست وو چه هغه خپل زنګونونه اودرولې وو اودَ خپلې ملا او زنګونونو نه چاپيره ئې لاسونه راتاؤ كړې شوې تړلې وو) إلخ. نو عين ممكن ده چه دَ احتباء په حالت كښې هغه آرام كول غوښتل، بيا په هغه باندې پركالې راغلو نو په دې وجه هغه دَ رسول الله ﷺ مونځ كول اونه ليدلې شو. نوچه كله دَ هغه نه دَ نبي پاك عليه السلام په كعبه كښې دَ مونځ باره كښې تپوس اوكړې شو نوهغوى نفي اوكړه. بهرحال چه په دې ټوله قصه كښې هغه دَ خپل رؤيت نفي كړې ده نه چه دَ نفس الامر.([5])

---

[1]) أعلام الحديث للخطابي: ٣٨١/١.
[2]) فتح الباري، كتاب الحج، باب: من كبر في نواحي الكعبة، رقم الحديث: ١٦٠١، ٤٦٩/٣.
[3]) حدثنا أبوداؤد، قال: حدثنا ابن أبي ذئب، عن عبدالرحمن ابن مهران، قال: حدثني عمير مولى ابن عباس، عن أسامة بن زيد، قال: دخلت على رسول الله صلى الله عليه وسلم في الكعبة، ورأى صورا، قال: فدعا بدلو من ماء، فأتيته به، فجعل يمحوها، ويقول: "قاتل الله قوما يصورون مالا يخلقون". (مسندأبي داؤد الطيالسي، مسند أسامة بن زيد، رقم الحديث: ٦٥٧، ١٧/٢).
واضح دې وي چه مذكوره جواب به دَ حضرت اسامه رضي الله عنه په باره كښې صحيح شي ليكن دَ حضرت فضل بن عباس رضي الله عنه حديث جواب دا نه شي جوړيدې ځكه چه په كوم حديث كښې چه دَ هغې باره كښې نقل دې چه هغه هم كعبه كښې داخل شو په هغې كښې داسې هيڅ خبره نشته ده چه نبي كريم ﷺ هغه دَ څه كارد پاره بهر ليږلې وي، بلكه په ظاهره خو به هغه هم دننه وي. نو دَ هغوى باره كښې به هم هغه جواب وركولې شي كوم چه پورته په متن كښې دَ امام نووي رحمه الله دَ طرف نه ذكر كړې شوې دې.
[4]) المفهم لما أشكل من تلخيص كتاب مسلم، كتاب الحج،باب: ماجاء في دخول النبي صلى الله عليه وسلم الكعبة: ٤٣١/٣.
[5]) فتح الباري، كتاب الحج، باب: من كبر في نواحي الكعبة، رقم الحديث: ١٦٠١، ٤٦٩/٣.
حافظ ابن حجر رحمه الله نورفرمائي ښكاره دې وي چه حضرت ابن عباس رضي الله عنهما په خپله بيت الله ته......

چه هغوی د نبی کریم ﷺ مونځ نه ادا کول لیدلو سره ارشاد اوکړو چه نبی کریم ﷺ په بیت الله کښې دننه دعا خو اوغوښتله لیکن مونځ ئې اونه کړو بلکه هغه د دغه نفی نسبت کله د حضرت اسامه رضی الله عنه طرف ته منسوب کوی.(١)

او کله ئې د خپل رور فضل بن عباس طرف ته(٢)

باوجود د دې چه د هغه رور فضل بن عباس نبی کریم سره بیت الله ته داخلیدل د یو شاذ روایت نه علاوه بل چرته نه ملاویږی. د دې نه علاوه د حضرت اسامه رضی الله عنه په نسبت سره د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما کوم چه د نبی کریم ﷺ د مونځ کولو نفی ذکر ده نو د دې باره کښې عرض دا دې چه هم د حضرت اسامه رضی الله عنه نه د نبی کریم ﷺ په کعبه کښې د مونځ کول هم ذکر دی(٣)

په دې وجه د مونځ د نفی باره کښې احادیث مختلف شو خو د مونځ د اثبات متعلق احادیثو کښې اختلاف نشته دې. په دې وجه به مثبت له په نافی باندې ترجیح ورکولو سره دا وئیلې شی چه نبی کریم ﷺ په بیت الله کښې دننه مونځ کړې دې(٤)

بیت الله کښې د مونځ د جواز یا د عدم جواز حکم: یوه مسئله د حدیث باب لاندې دا هم راځی چه بیت الله کښې مونځ کول، فرض وی که نفل، جائز دې یا ناجائز؟

..... نه وو داخل شوی.) ځکه چه بیت الله ته د داخلیدو په وخت نبی اکرم سره داخلیدونکی صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې صرف د دریو ذکر ملاویږی. په هغوی کښې حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نشته دې بلکه حضرت بلال، حضرت اسامه بن زید او حضرت عثمان بن طلحه رضی الله عنهم دی، اوګورئی: عن ابن شهاب، عن سالم عن أبيه أنه قال: دخل رسول الله صلى الله عليه وسلم البيت هو وأسامة بن زيد وبلال وعثمان بن طلحة، فأغلقوا عليهم..... إلخ.(صحيح البخاري، كتاب المناسك، باب: إغلاق البيت، ويصلى فى أى نواحى البيت شاء، رقم الحديث: ١٥٩٨).

(١) حدثنا إسحاق بن إبراهيم وعبد بن حميد جميعا عن ابن بكر قال عبد: أخبرنا محمد بن بكر أخبرنا ابن جريج قال: قلت لعطاء: أسمعت ابن عباس يقول: إنما أمرتم بالطواف، ولم تؤمروا بدخوله؟ قال: لم يكن ينهى عن دخوله، ولكني سمعته يقول: أخبرني أسامة بن زيد أن النبى صلى الله عليه وسلم لما دخل البيت، دعا فى نواحيه كلها، ولم يصل فيه حتى خرج..... إلخ(صحيح مسلم، كتاب الحج، باب: استحباب دخول الكعبة للحاج وغيره والصلاة فيها والدعاء فى نواحيها كلها، رقم الحديث: ١٣٣٠).

(٢) حدثنا يونس بن محمد، حدثنا حماد بن سلمة، عن عمرو بن دينار عن ابن عباس عن الفضل بن عباس: أن النبى صلى الله عليه وسلم قام فى الكعبة، فسبح، وكبر، ودعا الله عزوجل، واستغفر، ولم يركع، ولم يسجد. (مسند أحمد، رقم الحديث: ١٧٩٥، ٣١٣/٣). د فضل بن عباس رضی الله عنهما هم دغه حدیث مسند احمد کښې هم په یو بل طریق (حدثنا أبو كامل، حدثنا حماد – يعنى: ابن سلمة – عن عمرو بن دينا عن ابن عباس عن الفضل بن عباس.....إلخ) سره روایت دې، اوګورئی: (مسند أحمد، رقم الحديث: ١٨٣٠، ٣٣١/٣).

(٣) حدثنا أبو قطن، حدثنا المسعودى، عن أبى جعفر عن أسامة: "أن رسول الله صلى الله عليه وسلم صلى فى الكعبة". (مسند أحمد، رقم الحديث: ١٧٩٧، ١٣٠/٣٦).

(٤) فتح البارى، كتاب الحج، باب: من كبر فى نواحى الكعبة، رقم الحديث: ١٦١٠١، ٤٦٩/٣.

نو په دې مسئله کښې د جمهور علماء کرامو[۱]

په نيز په کعبه کښې مونځ کول نه صرف جائز بلکه مستحب دي. خود امام مالک رحمه الله په نيز فرض مونځ په بيت الله کښې دننه کول ډير سخت مکروه دي او په وخت کښې دننه دننه د دغه مونځ راګرځول مستحب دی. نفل که چرې غيرمؤکده وی نو بيت الله کښې دننه کول مستحب دی او که چرې مؤکده وی نومکروه دی مګر د راګرځولو ضرورت نشته دې[۲]

اود امام احمد بن حنبل رحمه الله په نيزپه کعبه کښې نفل کول خو جائز دی ليکن فرائض کول جائز نه دی. صرف دا صورت کيدې شی چه بيت الله کښې دننه يو ديوال سره داسې متصل اوکړی چه د ده نه شاته څه حصه پاتې نه شی[۳].

هم دې طرف ته اشاره کولو سره امام ترمذی رحمه الله فرمائی: "والعمل عليه عند أكثر أهل العلم لا يرون بالصلاة بأسا، وقال مالك بن أنس: لا بأس بالصلاة النافلة في الكعبة، وكره أن يصلي المكتوبة في الكعبة".[۴]

د صاحب هدايه رحمه الله يوه سهو: صاحب هدايه علامه مرغينانی رحمه الله نه په دې مقام باندې د مذاهب په نقل کولو کښې سهو شوې ده. هغوی په کعبه کښې دننه د مونځ نه جائز کيدل د امام شافعی رحمه الله طرف ته منسوب کړی دی.[۵]

---

[۱] د جمهور علماؤ نه مراد احناف او شوافع دی. اوګورئی: عند الأحناف: فتح القدير، كتاب الصلاة، باب: الصلاة في الكعبة: ۱۶۰/۱. :ارالكتب العلمية. التنوير مع الدر، كتاب الصلاة، باب: الصلاة في الكعبة، ص: ۱۲۵، دارالكتب العلمية. البحرالرائق، كتاب الصلاة، باب: الصلاة في الكعبة: ۱۳۵/۲. البته د شوافعو په نيز که د بيت الله دروازه کولاؤ وی نودننه د دې مخامخ اودريدو سره به مونځ صحيح نه وی. عندالشوافع: الحاوی في فقه الشافعي، كتاب الصلاة، باب: صفة الصلاة، فصل في الخشوع: ۲۰۶/۲. المجموع شرح المهذب، كتاب الصلاة، باب: استقبال القبلة: ۱۹۶/۳. الحاوي الكبير للماوردي، كتاب الصلاة، باب صفة الصلاة وعدد سجود القرآن: ۲۰۶/۲.

[۲] مواهب الجليل لشرح مختصر خليل، كتاب الصلاة، فصل في استقبال القبلة: ۲۰۰/۲. الذخيرة للقرافي، كتاب الصلاة، الباب الثالث في شروط الصلاة، الشرط الخامس: استقبال القبلة: ۱۱۲/۲. الاستذكار لابن عبدالبر، كتاب الحج، باب: الصلاة في البيت وقصر الصلاة: ۱۲۷/۱۳-۱۲۲.

[۳] د امام احمدبن حنبل رحمه الله په نيز د يو مشهور قول مطابق په کعبه کښې اود کعبې په چت باندې فرض مونځ کول جائز نه دی. البته نفل مونځ کول جائز دی. اوګورئی: المقنع، كتاب الصلاة، باب اجتناب النجاسة، رقم المسئلة: ۳۴۳ ولا تصح الفريضة في الكعبة ولا على ظهرها: ۳۱۳/۳. الشرح الكبير، كتاب الصلاة، باب اجتناب النجاسة، رقم المسئلة: ۳۴۳ ولا تصح الفريضة في الكعبة ولا على ظهرها: ۳۱۳/۳. المبدع شرح المقنع، كتاب الصلاة باب: اجتناب النجاسات: ۳۵۱/۳. او په يو قول کښې د امام احمد رحمه الله نه داهم نقل دی چه په کعبه کښې دننه فرض وی اوکه نفل دواړه قسم مونځ جائز دې. اوګورئی علامه مرداوی رحمه الله فرمائی: "وعنه تصح، واختارها الآجري وصاحب الفائق". (الإنصاف في معرفة الراجح من الخلاف على مذهب الإمام أحمد بن حنبل، كتاب الصلاة، باب اجتناب النجاسة، رقم المسئلة: ۳۴۳، ولا تصح الفريضة في الكعبة ولا على ظهرها: ۳۱۳/۳)

[۴] سنن الترمذي، أبواب الحج، باب ماجاء في الصلاة في الكعبة، تحت رقم الحديث: ۸۷۴.

[۵] الصلاة في الكعبة جائزة فرضها ونفلها خلافا للشافعي فيهما. (الهداية، كتاب الصلاة، باب: الصلاة في الكعبة: ۴۳۵/۱ مكتبة البشرى).

حالانکه امام شافعي رحمه الله په کعبه کښې د مونځ د جواز قائل دې. ددې تصريح علامه ابن همام[1] علامه عيني[2] کړې ده.

دَمذکوره حديث شريف دَ ترجمة الباب سره مناسبت: دَمذکوره حديث شريف دَ ترجمة الباب سره مناسبت دَحديث دَ جملې "قُبُل الكعبة" کښې دې. چه دَدې نه مراد مقام ابراهيم دې کوم چه دَ بيت الله دروازې سره نيزدې دې[3]

۴-باب: التَّوَجُّهِ نَحْوَالقِبْلَةِ حَيْثُ كَانَ

دا باب په دې باره کښې دې چه مونځ گذار چرته هم وی،
په مونځ کښې دې خپل مخ قبلې طرف ته کړی.

قوله: "نحوالقبلة" نه مراد جهةُ القبلة او ناحية القبلة دې. او حيث كان کښې کان تامه دې. لکه چه دَ الله تعالى قول: ﴿وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ﴾ [البقرة:۱۴۴] کښې كان تامه دې. دَدې فاعل به شخص وی.

چنانچه دَحيث كان مطلب به دا شی چه يو کس په کوم ځائې کښې هم وی، په سفر کښې وی يا په حضر کښې په هغه باندې په فرض مونځ کښې دَ قبلې طرف ته مخ کول لازم دی.[4]

دَ ترجمة الباب مقصد: علامه عيني رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې دَ فرض مونځ دَ پاره دَ قبلې طرف ته دَ توجو کولو ضرورت اوفرضيت خودلې دې که مونځ گذار په سفر کښې وی اوکه په حضر کښې.[5]

---

[1]) خلافا للشافعي، سهو، فإن الشافعي رحمه الله يرى جواز الصلاة فيها. (فتح القدير، كتاب الصلاة، باب: الصلاة في الكعبة: ۱٦٠/۱،دارالكتب العلمية).

[2]) وقول المصنف: (خلافا للشافعي) ش: أي: في الفرض والنفل ليس كما ينبغي.قال: السغناقي: كأن هذا اللفظ وقع سهوا من الكاتب، فإن الشافعي يرى جواز الصلاة في الكعبة فرضها ونفلها. كذا أورده أصحابه في كتبهم عن"الوجيز و "الخلاصة و "والذخيرة وغيرهما، ولم يرد أحد من علمائنا أيضا هذا الخلاف فيما عندي من الكتب "كالمبسوط و "الأسرار "و "والإيضاح و "المحيط و شروح الجامع الصغير وغيرها ما خلا أنه يشترط السترة المتصلة بالأرض اتصال قرار إذا كان المصلي في عرصة الكعبة كالحجر والشجر. (البناية، كتاب الصلاة، باب: الصلاة في الكعبة: ۲۸۱/۳، دارالكتب العلمية). وغيره) دلته صاحب النهايه دَ صاحب هدايه دَدې مذاهبو دَ نقل کولو تاويل کولو سره يو جواب ذکرکړې دې چه دَ صاحب هدايه رحمه الله مراد دا کيدې شي چه کله يو سړې په بيت الله کښې دننه دهغې کولاؤ دروازې ته مخامخ داسې اودريږی چه مونځ اوکړی چه دَ هغه مخې ته څه سترا وغيره نه وی نود شوافع په نيز مونځ نه کيږی. لهذا دا تاويل ددې نه بهتر دې چه د صاحب هدايه رحمه الله کلام په سهو باندې محمول کړې شي اګرچه دَ صاحب هدايه رحمه الله دَ کلام ظاهر ددې تاويل نفی کوی. اوګورئې: وقال صاحب النهاية...... وأجيب بأن مراده ما إذا توجه إلى الباب وهو مفتوح، وليست العتبة مرتفعة قدر مؤخرة الرحل، وهو خير من الحمل على السهو إلا أن إطلاق الكلام ينافيه. (النهاية، كتاب الصلاة، باب: الصلاة في الكعبة: ۱٦٠/۱دارالكتب العلمية).

[3]) عمدة القاري: ۱۹۹/٤، مصابيح الجامع: ۱۱۳/۲.

[4]) اللامع الصبيح: ۱٤۲/۳ضياء الساري في مسالک أبواب البخاري: ۲۸٠/٥، التوشيح: ٤۸۸/۲.

[5]) عمدة القاري: ۲۲٠/٤.

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائى چه دَ شراحو رائې په "حيث كان" كښې داده چه سفر اوحضر چرته هم چه وى نو مونځ كښې دې مخ قبلې ته كوى. او چونكه: ﴿فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللَّهِ﴾ نه به دا په پوهه كښې راتله چه په سفر كښې دَ قبلې طرف ته مخ كول شرط نه دې بلكه چه څنګه هم درنه كيږى مونځ كوه هم دغه قبله ده. څكه چه آيت په سفر كښې دننه دې نو امام بخارى رحمه الله دا وهم لرې كولو سره اوخودل چه نه مسافر له به هم خپل مخ قبلې ته كول وى.

او زما رائې داده چه دَ حضرت امام بخارى رحمه الله غرض دَ ترجمة الباب نه دادې چه چرته هم دَ قبلې قبليت متحقق شى نو ورمخ دې كړى كه هغه دَ مونځ په شروع كښې وى اوكه په مينځ كښې وى يا په آخره كښې وى اوكه هغه مسافر وى اوكه هغه مقيم وى. ټولو دَ پاره داحكم عام دې لكه چه دَتحرى په مسئله كښې دى چه كله هم اوكوم طرف ته هم تحرى وى هم هغه طرف ته دې مخ كړى.[1]

تعليق: وَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ وَكَبِّرْ» [ر: ٥٨٩٧]

دَ تعليق ترجمه: حضرت ابوهريره رضي الله عنه اوفرمائيل چه نبى كريم ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه خپل مخ دَ قبلې طرف ته كړه او (دَ مونځ شروع كولو دَ پاره) تكبير تحريمه اووايه.

دَ تعليق تخريج: مذكوره تخريج دهغه اوږد حديث يوه ټكړه ده كوم چه نبى كريم ﷺ مسيئ الصلاة ته ارشاد فرمائيلې وو. امام بخارى رحمه الله دا تعليق مكمل مسندا هم په هغه الفاظو سره كتاب الاستيذان كښې ذكر كړې دې.[2]

ونى گورئى: «حدثنا إسحاق بن منصور، أخبرنا عبد الله بن نمير، حدثنا عبيد الله، عن سعيد بن أبي سعيد المقبري، عن أبي هريرة رضي الله عنه: أن رجلا دخل المسجد، ورسول الله صلى الله عليه وسلم جالس في ناحية المسجد، فصلى، ثم جاء فسلم عليه، فقال له رسول الله صلى الله عليه وسلم: "وعليك السلام، ارجع، فصل، فإنك لم تصل" فرجع، فصلى، ثم جاء، فسلم، فقال: "وعليك السلام، فارجع، فصل، فإنك لم تصل"، فقال في الثانية، أو في التي بعدها: علمني يا رسول الله، فقال: "إذا قمت إلى الصلاة، فأسبغ الوضوء، ثم استقبل القبلة، فكبر ثم اقرأ بما تيسر معك من القرآن، ثم اركع حتى تطمئن راكعا، ثم ارفع حتى تستوي قائما، ثم اسجد حتى تطمئن ساجدا، ثم ارفع حتى تطمئن جالسا، ثم اسجد حتى تطمئن ساجدا، ثم ارفع حتى تطمئن جالسا، ثم افعل ذلك في صلاتك كلها"».[3]

---

[1] تقرير بخارى شريف: ١٤٤/٢. بل دا چه دَ تقرير بخارى شريف په حاشيه كښې ذكر دى: "وفيه حيث توجهت به"، يعنى په نوافل كښې په اتفاق دَ علماؤ كوم طرف ته چه سورلى څى هم هغه طرف ته مخ كولو سره دې مونځ كوى. ليكن بعضې علماء دا وائى چه دَتكبير تحريمه دَ پاره دې خپله سورلى دَقبلې طرف ته كړى اوبيا چه كله مونځ شروع كړى نو چه كوم طرف ته ئې مخ وى هيڅ مضائقه نشته. خودا دَ جمهورو خلاف دې څكه چه بعضې وخت چه داكله خپل طرف ته راتاوى دتكبير تحريمه نه پس نو كيدې شى چه هغه اونرېږى او بيا دَعمل كثير ضرورت پيښ شى. (تقرير بخارى شريف: ١٤٥/٢).

[2] فتح البارى: ٦٥٠/١.

[3] صحيح البخارى، كتاب الاستيذان باب: من رد، فقال: عليك السلام، رقم الحديث: ٥١٦٢.

دَتعليق مقصد: دتعليق نه مقصود دترجمة الباب اثبات دي چه مذكوره حديث كښي هم دَ مونځ حالت كښي دَ قبلې طرف ته مخ كول لا زم ګرځولي شوي دي.

دَ ترجمة الباب سره مناسبت: دَ مذكوره تعليق دَ ترجمة الباب سره مناسبت هم صفا ښكاره دي چه په دواړو كښي دَ استقبال قبله ذكر دي.

حديث باب (رومبي حديث) [حديث نمبر ۳۹۰]

-۳۹۱ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَجَاءٍ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ -رضى الله عنهما- (۱) قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- صَلَّى نَحْوَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ سِتَّةَ عَشَرَ أَوْ سَبْعَةَ عَشَرَ شَهْرًا، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يُحِبُّ أَنْ يُوَجَّهَ إِلَى الْكَعْبَةِ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ (قَدْ نَرَى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ) فَتَوَجَّهَ نَحْوَ الْكَعْبَةِ، وَقَالَ السُّفَهَاءُ مِنَ النَّاسِ -وَهُمُ الْيَهُودُ- مَا وَلاَّهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِي كَانُوا عَلَيْهَا (قُلْ لِلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ) فَصَلَّى مَعَ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- رَجُلٌ ثُمَّ خَرَجَ بَعْدَ مَا صَلَّى، فَمَرَّ عَلَى قَوْمٍ مِنَ الأَنْصَارِ فِي صَلاَةِ الْعَصْرِ نَحْوَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ فَقَالَ هُوَ يَشْهَدُ أَنَّهُ صَلَّى مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَأَنَّهُ تَوَجَّهَ نَحْوَ الْكَعْبَةِ. فَتَحَرَّفَ الْقَوْمُ حَتَّى تَوَجَّهُوا نَحْوَ الْكَعْبَةِ.

د حديث ترجمه: دحضرت براء بن عازب ﷺ نه روايت دي چه رسول الله ﷺ ۱۶ يا ۱۷ مياشتو پورې دَ بيت المقدس طرف ته مخ كولو سره مونځ ادا كړو او حضورپاك (دَ زړه نه) دا غوښتل چه (مونځ) دَ كعبې طرف ته مخ كولو سره اوكړې شي. نو الله تعالى آيت: ﴿قَدْ نَرَىٰ تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ﴾ (چه اې پيغمبره مونږ ستا دَ آسمان طرف ته بار بار مخ اوچتول وينو) نازل كړو نو حضورپاك په (مونځ كښي) دَ قبلې طرف ته مخ كړو. په دې باندې بې وقوفانو خلقو كوم چه يهوديان وو طنز اوكړو چه اوس دَدوى دَ اولنۍ قبلې نه چا واړول؟ (الله تعالى حضورپاك ته اوفرمائيل) دوى ته اووايه مشرق اومغرب دواړه هم دَ الله تعالى دى. هغه چه چاته غواړي دَ نيغې لارې هدايت وركوي. حضورپاك سره يو سړي مونځ اوكړو او بيا هغه دَ انصارو دَ يو قبيلې سره تيريدو چه دمازيګر مونځ ئې دَ بيت المقدس طرف ته مخ كولو سره كولو. نو هغه ورته اوويل چه الله ګواه دي چه ما دَ رسول الله ﷺ سره مونځ اوكړو او راغلم او الله ګواه دې چه حضورپاك دَ كعبې طرف ته مونځ كول شروع كړى دى. په دې باندې هغه قبيلې والا (دَ بيت المقدس نه) تاؤ شو او هغوى دَ كعبې طرف ته مخ كړو.

تراجم رجال: دَ مذكوره حديث شريف ټول څلور رجال دي:

① عبدالله بن رجاء رحمه الله: واضحه دې وى چه عبدالله بن رجاء دوه دى. يو عبدالله بن رجاء بن عمر الغُدانى او دويم عبدالله بن رجاء المكي البصرى دې. په دې حديث كښي اول ذكر شوي (عبدالله بن رجاء) مراد دې ځنګه چه ددې تصريح علامه عيني رحمه الله كړې ده.(۲) ددوى

(۱) مرتخريجه فى كتاب الإيمان، باب: الصلاة من الإيمان، رقم الحديث: ۴۰ (كشف البارى: ۲/۳۶۶، ۴۰۷)
(۲) عمدة القارى: ۴/۲۲۰.

تفصيلي احوال كشف البارى، كتاب الصلاة، باب: وجوب الصلاة فى الثياب وقول الله تعالى ﴿خُذُوا زِينَتَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ﴾ ومن صلى ملتحفا فى ثوب واحد كښې تيرشوى دى[1]

② اسرائيل رحمه الله: دا اسرائيل بن يونس بن ابى اسحاق سبعي رحمه الله دې. دَدوى احوال كشف البارى، كتاب العلم، باب: من ترك بعض الاختيار مخافة أن يقصر فهم بعض الناس عنه فيقعوا فى أشد منه لاندې تيرشوى دى[2]

③ ابواسحاق رحمه الله: دَدوى پوره نوم ابواسحاق عمرو بن عبدالله الكوفى رحمه الله دې. دَدوى تذكره كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: الصلاة من الإيمان لاندې تيره شوې ده[3]

④ براء بن عازب رضي الله عنه: دا مشهور صحابئ رسول حضرت براء بن عازب بن حارث بن عدى انصارى رضي الله عنه دې. دَدوى تذكره كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: الصلاة من الإيمان لاندې تيره شوې ده[4]

شرح حديث: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى نَحْوَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ، سِتَّةَ عَشَرَ أَوْ سَبْعَةَ عَشَرَ شَهْرًا يعنى دَ حضرت براء بن عازب رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ۱۶ يا ۱۷ مياشتو پورې دَ بيت المقدس طرف ته مخ كولو سره مونځ اوكړو.

قوله: "بيت المقدس" دا لفظ "الْمَقْدِسُ" هم لوستلې شى او "الْمُقَدَّسُ" هم.[5]

قوله: "سِتَّةَ عَشَرَ أَوْ سَبْعَةَ عَشَرَ شَهْرًا" دَ كلمهٔ او په ذريعه چه دَ كوم شك اظهار كيږى په ظاهره هغه دَ راوى دَ طرف نه دې. دَ بيت المقدس طرف ته مخ كولو سره ۱۶ يا ۱۷ مياشتې مونځ اداكول دَ مدينې منورې طرف ته دَ هجرت كولو نه پس زمانه كښې وو. ځكه چه په مكه مكرمه كښې خو مكمل موده هم دَ بيت المقدس طرف ته مخ كولو سره مونځ ادا كيدلو[6]. او په صحيح مسلم كښې ۱۶ مياشتې جزمًا ذكركړې شوى دى.[7] دا تعارض اود دفع كولو دَ تعارض او تطبيق باندې تفصيلي بحث كشف البارى، كتاب الايمان كښې تيرشوې دې[8]

قوله: وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ أَنْ يُوَجَّهَ إِلَى الْكَعْبَةِ، فَأَنْزَلَ اللهُ: {قَدْ نَرَى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ} [البقرة: ۱۴۴]، فَتَوَجَّهَ نَحْوَ الْكَعْبَةِ: او حضورپاك دَ (زړه نه) دا غوښتل چه (مونځ) دَ كعبې

---

[1]) كشف الباري، كتاب الصلاة، باب: ص: ۲٤۱.
[2]) كشف الباري: ٥٤۶/٤.
[3]) كشف الباري: ۳۷۰/۲.
[4]) كشف الباري: ۳۷٥/۲.
[5]) شرح الكرماني: ۶۱/٤، التنقيح لألفاظ الجامع الصحيح، ص: ۳۳.
[6]) شرح الكرماني: ۶۲/٤ عمدة القاري: ۲۰۱/٤.
[7]) صحيح مسلم كتاب المساجد، باب: تحويل القبلة من القدس إلى الكعبة، التنقيح لألفاظ الجامع الصحيح، ص: ۳۳.
[8]) كشف الباري، كتاب الإيمان، باب: الصلاة من الإيمان: ۲/۳۸۲-۳۷۸.

طرف ته مخ کولو سره ادا کړې شي، نو الله تعالی آیت: ﴿قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ﴾ (چه اې پیغمبره مونږ ستا دَ آسمان طرف ته بار بار مخ اوچتول وینو) نازل کړو، نو حضورپاك په (مونځ کښې) دَ کعبې طرف ته مخ کړو.[1]

قوله: "يُوَجَّهُ" دَ مضارع مجهول صیغه ده، مراد دادې چه دَ کعبې طرف ته مخ کولو سره دَ مونځ ادا کولو حکم ملاؤ شی.[2]

قوله: "فَتَوَجَّهَ" چنانچه دَدې آیت نازلیدو نه پس حضورپاك مونځ کښې قبلې طرف ته مخ کړو څکه چه په پوره آیت کښې ﴿فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ﴾ هم دې. دَ آیت مبارك په دې تکړه کښې "المسجد" نه مراد کعبه ده.[3]

قوله: وَقَالَ السُّفَهَاءُ مِنَ النَّاسِ، وَهُمُ الْيَهُودُ: {مَا وَلَّاهُمْ} [البقرة: ۱۴۲] عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِي كَانُوا عَلَيْهَا، قُلْ لِلّٰهِ الْمَشْرِقُ [ص: ۸۹] وَالْمَغْرِبُ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ فَصَلَّى مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ، ثُمَّ خَرَجَ بَعْدَ مَا صَلَّى، فَمَرَّ عَلَى قَوْمٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فِي صَلَاةِ الْعَصْرِ نَحْوَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ:

په دې باندې بې وقوفانو خلقو کوم چه یهودیان وو طنزاوکړو چه اوس دوی دَ خپل اولنئ قبلې نه چا واړول؟ (الله تعالی حضورپاك ته اوفرمائیل) دوی ته اووایه چه مشرق اومغرب دواړه هم دَ الله دی، هغه چه چاله غواړی دَ نیغې لار هدایت ورکوی. حضورپاك سره یو سړی مونځ اوکړو او بیا هغه دَ انصارو دَ یوې قبیلې سره تیر شو چه دَ مازیګر مونځ ئې بیت المقدس طرف ته مخ کولو سره کولو.

قوله: "رجل" دَ بخاری شریف په بعضې نسخو کښې مثلاً دَمستملی او حموی په نسخو کښې دَ رجل په ځائې رجال دَ جمع صیغه استعمال شوې ده. دَدغه نسخې مطابق که یو څوك اعتراض اوکړی چه که چرې رجال دَ جمع صیغه صحیح اومنلې شی نو بیا دَ حدیث پاك په وړاندې جمله کښې دَ "خرج" فعل ضمیر رجال دَ جمع طرف ته څنګه راګرځی؟ نو دَ هغې جواب به دا شی چه دَ ضمیر مرجع به هغه وی په کوم چه رجال دلالت کوی او هغه مفرد دې یا به دَ "خرج" معنی "خرج خارج" وی لهذا هیڅ اشکال نشته. او دَ حافظ ابن حجر رحمه الله دَ تصریح مطابق به "خرج بعض أولائك الرجال" تقدیراً راویستلی شی.[4]

---

[1] شرح الکرمانی: ۶۲/۴
[2] شرح الکرمانی: ۶۲/۴ اللامع الصبیح بشرح الجامع الصحیح للبرماوی: ۱۴۴/۳، فتح الباری: ۶۵۱/۱ عمدة القاری: ۲۰۱/۴.
[3] شرح الکرمانی: ۶۲/۴ اللامع الصبیح بشرح الجامع الصحیح للبرماوی: ۱۴۴/۳.
[4] شرح الکرمانی: ۶۲/۴ اللامع الصبیح بشرح الجامع الصحیح للبرماوی: ۱۴۴/۳ فتح الباری: ۶۵۱/۱ التوشیح لشرح الجامع الصحیح للسیوطی: ۲۸۸/۲ عمدة القاری: ۲۰۱/۴.

"رجل" نه څوک مراد دي؟: دَدې "رجل" نه څوك مراد دي؟ په دې باره کښې دَ دوو کسانو نومونه ملاويږي. عباد بن بشر دې يا عباد بن نَهيك[1]. او ابن الملقن رحمه الله يو بل نوم ذکرکړې دې: عباد بن وهب.[2]

قوله: فِي صَلاَةِ الْعَصْرِ نَحْوَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ: دا جمله دَ کشميهنى رحمه الله په روايت کښې "فِي صَلاَةِ الْعَصْرِ يُصَلُّونَ نَحْوَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ" ده. په ظاهره په دې جمله کښې زيات وضاحت او فصاحت دې.[3]

قوله: "صَلاَةِ الْعَصْرِ" دَدې حديث نه معلوميږي چه دَ دغه سړى تيريدل په قباء کښې دَ انصارو دَ قبيلې سره دَ سحر په مونځ کښې شوى وو. نو په دغه دواړو روايتونو کښې څه منافات نشته دې. داسې چه هغه سړې مدينه منوره کښې دَ يو جماعت سره تيرشونو دَ مازيګر وخت وو. بيا به هغه سفر کولو سره دَ مدينې نه بهر دَ قباء. والو ته رسيدلې وى نو هلته دَ سحر وخت وو.[4] په دې تعارض، دفع دَ تعارض او تطبيق باندې تفصيلى بحث کشف البارى کتاب الايمان کښې تيرشوې دې.[5]

قوله: "فقال" دَدې فعل ضمير او "هو" ضمير دَ "رجل" طرف ته راګرځى. يعنى هغه سړى "هو" ضمير نه خپل ځان مراد واخستلو. دَمتکلم خپل ځان دَ غائب په صيغې سره تعبيرکول جائز دى. دا دَ التفات په توګه وى. يو احتمال داهم دې چه راوى دَ حديث دَ دغه رجل دَ کلام معنى نقل کړې وى په داسې توګه چه دَ هغه اصل کلام "أناأشهد" وو.[6]

دَ روايت دَ ترجمة الباب سره مناسبت: دَمذکوره حديث شريف دَترجمة الباب سره مناسبت دَ حديث "فتوجه نحوالكعبة" جمله کښې دې. چه په باب کښې هم دغه ذکر دى او حديث کښې هم.[7]

دَ حديث شريف نه مستفاد شوى فوائد او احکام: دَمذکوره حديث شريف نه ډير فوائد مستنبط کيږي. دَ هغه ټولو نه يو څو دلته ذکرکولې شى چه:

① دَدې حديث شريف نه دَ احکامو دَ منسوخ کيدو جواز معلوميږي.[8]

---

[1] التنقيح لألفاظ الجامع الصحيح، ص: ٣٣. فتح الباري: ٩٧/١. عمدة القاري: ٢٠١/٤.

[2] الإعلام بفوائد عمدة الإحكام، كتاب الصلاة، باب: استقبال القبلة، الحديث الثاني: حديث عبدالله بن عمر: ٤٨٧/٢.

[3] فتح الباري: ٦٥١/١التوشيح لشرح الجامع الصحيح للسيوطي: ٢٨٨/٢ عمدة القاري: ٢٠١/٤.

[4] شرح الكرماني: ٦٢/٤.

[5] كشف الباري، كتاب الإيمان، باب: الصلاة من الإيمان: ٢٩٠/٢-٣٨٨.

[6] شرح الكرماني: ٦٢/٤ اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح للبرماوي: ١٤٤/٣ فتح الباري: ٦٥٢ التوشيح لشرح الجامع الصحيح للسيوطي: ٢٨٨/٢ عمدة القاري: ٢٠١/٤.

[7] عمدة القاري: ٢٠٠/٤.

[8] الإعلام بفوائد عمدة الإحكام، كتاب الصلاة، باب: استقبال القبلة، الحديث الثاني: حديث عبدالله بن عمر: ٤٩٧/٢، عمدة القاري: ٢٠٢/٤.

③ په دې حديث شريف كښې د نسخ السنة بالقرآن دليل دې.[1]
③ په دې حديث شريف كښې د خبر واحد په قبليدو باندې دليل دې.[2]
④ د قبلې طرف ته مخ كول او مونځ كول اود كعبې قبله كيدو باندې د اجماع كيدل هم معلوميږي.[3]
⑤ د مكلف سړي په حق كښې به د احكامو منسوخ كيدل هغه وخت معتبر وي كله چه د دغه منسوخ كيدو هغه ته خبر اورسيږي.[4]
⑥ په دې حديث شريف كښې دا دې خبرې هم دليل دې چه د كعبې طرف ته مخ كولو نه مخكښې د بيت المقدس طرف ته مخ كولو سره ادا كړې شوې مونځونه د الله تعالى په نيز مقبول دى د هغې اعاده به نه شي كولې.[5]

حديث باب (دويم حديث)[حديث نمبر ۳۹۱]

--...حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ قَالَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ جَابِرٍ قَالَ[6] كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يُصَلِّي عَلَى رَاحِلَتِهِ حَيْثُ تَوَجَّهَتْ، فَإِذَا أَرَادَ الْفَرِيضَةَ نَزَلَ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ.

د حديث ترجمه: حضرت جابر رضی الله عنه اوفرمائيل چه نبی كريم ﷺ به په خپله سورلئ باندې كه د هغې مخ به هر طرف ته وو (نفل) مونځ به ئې كولو. ليكن چه كله به ئې فرض مونځ كول غوښتل نو د سورلئ نه به راكوزيدلو او د قبلې طرف ته به ئې مخ كولو سره مونځ كولو.

تراجم رجال: د مذكوره حديث شريف په سند كښې ټول پنځه رجال دي:

① مسلم رحمه الله: دا مسلم بن ابراهيم القصاب ازدى بصرى رحمه الله دې. د دوى تفصيلى احوال كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: زيادة الإيمان ونقصانه لاندې تيرشوى دى.[7]

---

[1]) الإعلام بفوائد عمدة الإحكام، كتاب الصلاة، باب: استقبال القبلة، الحديث الثاني: حديث عبدالله بن عمر: ۴۹۷/۲، عمدة القاري: ۲۰۲/۴.
[2]) أعلام الحديث للخطابي: ۳۸۳/۱، الإعلام بفوائد عمدة الإحكام، كتاب الصلاة، باب: استقبال القبلة، الحديث الثاني: حديث عبدالله بن عمر: ۴۹۷/۲، عمدة القاري: ۲۰۲/۴.
[3]) عمدة القاري: ۲۰۲/۴.
[4]) الإعلام بفوائد عمدة الإحكام، كتاب الصلاة، باب: استقبال القبلة، الحديث الثاني: حديث عبدالله بن عمر: ۴۹۷/۲، عمدة القاري: ۲۰۲/۴.
[5]) أعلام الحديث للخطابي: ۳۸۳/۴.
[6]) أخرجه البخاري أيضًا في تقصير الصلاة، باب: صلاة التطوع على الدابة وحيثما توجهت، رقم الحديث: ۱۰۹۴، وباب: ينزل للمكتوبة، رقم الحديث: ۱۰۹۹، وفي المغازي، باب: غزوة أنمار، رقم الحديث: ۴۱۴۰. وفي جامع الأصول، حرف الصاد، الكتاب الأول في الصلاة، الباب الأول في الصلاة وأحكامها، الفصل الرابع في استقبال القبلة، رقم الحديث: ۳۳۸۰، ۲۹۸/۵.
[7]) كشف البارى: ۴۵۵/۲.

③ هشام رحمه الله: دا ابوبکر هشام بن ابوعبدالله بصری الدستوائی رحمه الله دې. د دوی تفصیلی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: زیادة الإیمان ونقصانه لاندې تیرشوی دی.[1]

④ یحیی بن ابی کثیر رحمه الله: دا یحیی بن ابی کثیر طائی یمامی رحمه الله دې. د دوی تفصیلی احوال کشف الباری، کتاب العلم، باب: کتابة العلم د دویم حدیث لاندې تیرشوی دی.[2]

⑤ محمد بن عبدالرحمن رحمه الله: دا محمد بن عبدالرحمن بن المغیره بن الحارث قرشی عامری مدنی رحمه الله دې. د دوی تفصیلی احوال کشف الباری، کتاب العلم، باب: حفظ العلم د دویم حدیث لاندې تیرشوی دی.[3]

⑥ جابر رضی الله عنه: دا مشهور صحابی رسول حضرت جابر بن عبدالله الانصاری رضی الله عنه دې. د دوی احوال کشف الباری، کتاب الوضوء، باب: من لم یر الوضوء إلا من المخرجین من القبل والدبر لاندې تیرشوی دی.[4]

د حدیث شرح: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي عَلَى رَاحِلَتِهِ، حَيْثُ تَوَجَّهَتْ»:
حضرت جابر رضی الله عنه فرمائی چه نبی کریم ﷺ به په خپله سورلۍ باندې که دغې هر طرف ته مخ وو (نفل) مونځ ئې کولو.

قوله: "علی راحلته" د راحله نه مراد هغه اوښه ده چه د سور د اوړلو صلاحیت لری. اوداهم وئیلې شی چه راحله د اوښ سورلی ده. عام ده چه هغه اوښ وی که اوښه وی.[5]
د حدیث شریف د دې جملې نه دلیل نیولو سره احنافو او مالکیؤ فرمائیلی دی چه د پیدل تلونکی د پاره په روانه روانه نوافل ادا کول جائز نه دی. خود شوافع او حنابله په نیز په دې حالت کښې هم د نوافلو اداکول جائز دی.[6]

قوله: "حیث توجهت" د کشمیهنی روایت کښې "توجهت" نه پس د دې صله "به" هم ذکرده.[7]
علامه ابن ملقن رحمه الله لیکي چه په حالت د سفر کښې په سورلۍ باندې په ناسته د نوافل کولو وجه به دا وه چه د سفر د وجې نه د الله تعالی عبادت پاتې نه شی یا مسافر د نوافلو نه محروم پاتې نه شی.[8]

---

[1] کشف الباری: ۴۵۶/۲.
[2] کشف الباری: ۲۶۷/۴.
[3] کشف الباری: ۴۴۲/۴.
[4] کشف الباری، کتاب الوضوء، باب: "من لم یر الوضوء إلا من المخرجین من القبل والدبر".
[5] الإعلام بفوائد عمدة الإحکام، کتاب الصلاة، باب: استقبال القبلة، الحدیث الأول: حدیث عبدالله بن عمر: ۴۹۷/۲، عمدة القاری: ۲۰۳/۴.
[6] الإعلام بفوائد عمدة الإحکام، کتاب الصلاة، باب: استقبال القبلة، الحدیث الأول: حدیث عبدالله بن عمر: ۴۸۲/۲،
[7] عمدة القاری: ۲۰۳/۴.
[8] الإعلام بفوائد عمدة الإحکام، کتاب الصلاة، باب: استقبال القبلة، الحدیث الأول: حدیث عبدالله بن عمر: ۴۸۱/۲.

قوله: «فَإِذَا أَرَادَ الفَرِيضَةَ نَزَلَ فَاسْتَقْبَلَ القِبْلَةَ» ليکن چه کله به ئې فرض مونځ کول غوښتل نو دَ سورلئ نه به کوزیدلو او دَ قبلې طرف ته مخ کولو سره مونځ اداکول.
دَ حدیث شریف دَ ترجمة الباب سره مناسبت: دَ مذکوره حدیث دَ ترجمة الباب سره مناسبت دَحدیث په دې جملې "فاستقبل القبلة" کښې دې.(۱)
دَ حدیث شریف نه مستنبط فوائد او احکام: دَ مذکوره حدیث شریف نه ډیر فوائد مستنبط کیږي. دَ هغې نه څه دا دي چه:
① دَ سفر په حالت کښې چه کوم طرف ته هم مخ وی، دَ سوریدو په حالت کښې نوافل ادا کول جائز دي.(۲)
② فرائضو کښې دَ قبلې طرف ته نه مخ کول صحیح نه دي. په دې وجه به حضورپاک دَ فرض دَ پاره دَ سورلئ نه کوزیدو سره قبلې طرف ته مخ کولو او مونځ به ئې اداکولو. البته دَ سختې ویرې حالت دَدې نه مستثنی دې او دَ مجبورئی او معذورئی په حالت کښې په سورلئ باندې هم فرض مونځ کول صحیح کیږی.(۳)
دَ مذکوره حدیث شریف لاندې دوه مسئلې زیر بحث راځی. یو په سورلئ باندې دَ مونځ (فرض وی که نفل) کولو حکم او دویم په سورلئ باندې مونځ کولو سره دَ قبلې طرف ته دَ مخ کولو حکم، لاندې دواړه مسئلې په تفصیل سره ذکر کولې شي:
په سورلئ باندې دَمونځ (فرض وی که نفل) کولو حکم: دَ فرض مونځ دَ صحیح کیدو چه کوم شرائط دی که په سورلئ باندې دَ سوریدو په حالت کښې هم دَ هغې پوره کیدل ممکن وی نو په سورلئ باندې به دَ فرض مونځ ادا کیدل صحیح وی اوکه چرې ټولو شرائطو سره دَ فرائضو ادا کول ممکن نه وی نو دَ دغه فریضې ادا کول به په سورلئ صحیح نه وی.
په ښاریه کښې دننه دَ مقیم سړی دَ پاره په څناور باندې سوریدو سره نفل مونځ ادا کول دَ امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز جائز نه دی. او دَ امام ابویوسف رحمه الله په نیز په ښاریه کښې هم بغیردَ څه کراهت نه جائز دي اودَ امام محمد رحمه الله په نیز دَ کراهت سره جائز دي.
دَ ښارېې نه بهر وتلو نه پس مسافر (شرعی) دَ پاره دَ ټولو فقهاؤ په نیز اودَ غیرمسافردَ پاره دَ اکثر فقهاؤ په نیز (تردې چه که یو سړې دَ خپلو پټو وغیره طرف ته یا دَ ښار گردونواح ته تلې وی، دَ هغه دَ پاره هم) په سورلئ باندې سوریدو سره نفل کول جائز دی. دَ ښار نه بهر وتلو دَ حد نه مراد هغه ځائی دې دکوم ځائی نه چه دَمسافردَ پاره قصر کول جائز کیږی. دَ هغه ځائی نه په سورلئ باندې نفل کول جائزکیږی. سنت مؤکده او غیرمؤکده ټول دَ نفل په حکم کښې دی بغیردَ سحر دَ سنتو نه چه دا دَ امام صاحب په نیز په سورلئ باندې کیناستو

(۱) عمدة القاري: ۲۰۲/٤.
(۲) الإعلام بفوائد عمدة الإحكام،كتاب الصلاة، باب: استقبال القبلة، الحديث الأول:حديث عبدالله بن عمر:۴۸۳/۲.
(۳) عمدة القاري: ۲۰۳/٤.

سره ادا کول جائز نه دی ځکه چه دَدې ډیرزیات تاکید راغلي دي[1]

هم دغه حکم دَ هرقسم سورلئ دې کـه هغـه دَ پخوانئ زمـاني وی (لکـه اوښ، قچر او خر وغيره) اوکه دموجوده زماني (لکه جهاز، ریل ګاډې، بس، موټر وغیره)[2]

په ریل ګاډی کښې دَ سفر کولو په حالت کښې دَ مونځ حکم: په ریل ګاډی کښې دَ سفر کولو په وخت چه دَ مانځه وخت راشی نومونځ کول فرض دی. چونکه په ریل ګاډی کښې قیام کول او دَ قبلې طرف ته مخ کول ممکن وی په دې وجه په مکمل مونځ کښې قبلې ته مخ کولو سره په ولاړه مونځ اداکول ضروری دی. تردې که په مونځ کښې ریل ګاډې دَ قبلې نه تاؤ شی نودَ مونځ ګذار دَ پاره هم خپل مخ تاوول ضروری دی.[3]

په ریل ګاډی کښې دسفرکولوپه وخت کښې کـه ډیره بیړه وی، دَ اودریدو ځائی نه وی نودَ خپل سفردَ ملګرو نه دَ مونځ دَ پاره ځائی غوښتل پکار دی، کـه چرې ځائی ملاؤ شی نوښه ده ګنی په هغه وخت په ناسته سره مونځ ادا کول پکاردی لیکن روستو ئی بیا راګرځول لا زم دی[4]

په سورلئ باندې دَمونځ کولو وخت کښې قبلې ته دَ مخ کولو حکم: په سورلئ باندې دَ فرض مونځ دَ صحیح کیدو دَ پاره دَ قیام په شان دَ قبلې طرف ته مخ کول هم ضروری دی ګنی مونځ به نه کیږی. البته په سورلئ باندې دَ نفل کولو په حالت کښې (که په ولاړه وی او که په ناسته) قبلې ته مخ کول فرض نه دی. په ډیرو زیاتو احادیثو کښې دَ نبی کریم ﷺ پاره کښې دا نقل دی چه حضورپاك به په سورلئ باندې نفل مونځ کولو کـه سورلی بـه هر طرف تـه هم تلله. اوګورئ: دَحضرت عامر بن ربیعه رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ مې په سورلئ باندې نفل مونځ دَ سر په اشارې سره کونکې لیدلې دې. کوم طرف ته چه به هم سورلی وه هم

---

[1] قال الحصكفي رحمه الله: (و)يتنفل المقيم (راكبا خارج المصر) محل القصر (مومئا) فلو سجد اعتبر إيماء لأنها إنما شرعت بالإيماء (إلى أي جهة توجهت دابته). قال ابن عابدين رحمه الله: قوله: (ويتنفل المقيم راكبا.....إلخ)أي: بلا عذر، أطلق النفل، فشمل السنن المؤكدة إلا سنة الفجر، كما مر، وأشار بذكر المقيم إلى أن المسافر كذلك بالأولى، واحترز بالنفل عن الفرض والواجب بأنواعه كالو تر والمنذور وما لزم بالشروع والإفساد وصلاة الجنازة وسجدة تليت على الأرض، فلا يجوز على الدابة بلا عذر لعدم الحرج كما في البحر، قوله: (راكبا) فلا تجوز صلاة الماشي بالإجماع، بحر عن المجتبى، قوله: (خارج المصر) هذا هو المشهور، وعندهما يجوز في المصر، لكن بكراهة عندمحمد لأنه يمنع من الخشوع، وتمامه في الحلية. قوله: (محل القصر) بالنصب بدل من خارج المصر، وفائدته شمول خارج القرية وخارج الأخبية ح: أي المحل الذي يجوز للمسافر قصر الصلاة فيه، وهوالصحيح، بحر. وقيل: إذا جاوز ميلا، وقيل: فرسخين، أو ثلاثة، قهستاني. (ردالمحتار مع الدرالمختار، كتاب الصلاة، مطلب: في الصلاة على الدابة: ۲/۴۸۷-۴۸۶).

[2] الموسوعة الفقهية الكويتية، مادة: الصلاة، الصلاة على الراحلة: ۲۷/۲۲۹.

[3] الفتاوى الهندية، كتاب الصلاة، الباب الثالث في شروط الصلاة، الفصل الثالث في استقبال القبلة: ۱/۶۳.

[4] العذر إن كان من قبل الله لا تجب الإعادة، وإن كان من قبل العبد، وجبت الإعادة. (البحرالرائق، كتاب الطهارة، باب: التيمم: ۱/۱۴۲).

هغه طرف ته به ئې مخ کولو. او رسول الله ﷺ به داسې فرض مونځ کښې نه کول. (۱)

حديث باب (دريم حديث) [حديث نمبر ۳۹۲]

- ۴۰۱ - حَدَّثَنَا عُثْمَانُ قَالَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ صَلَّى النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم-- قَالَ إِبْرَاهِيمُ لاَ أَدْرِي زَادَ أَوْ نَقَصَ - فَلَمَّا سَلَّمَ قِيلَ لَهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَحَدَثَ فِي الصَّلاَةِ شَيْءٌ قَالَ «وَمَا ذَاكَ». قَالُوا صَلَّيْتَ كَذَا وَكَذَا. فَثَنَى رِجْلَيْهِ وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ، وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ، فَلَمَّا أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ قَالَ «إِنَّهُ لَوْ حَدَثَ فِي الصَّلاَةِ شَيْءٌ لَنَبَّأْتُكُمْ بِهِ، وَلَكِنْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ، أَنْسَى كَمَا تَنْسَوْنَ، فَإِذَا نَسِيتُ فَذَكِّرُونِي، وَإِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلاَتِهِ فَلْيَتَحَرَّى الصَّوَابَ، فَلْيُتِمَّ عَلَيْهِ ثُمَّ يُسَلِّمْ، ثُمَّ يَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ». (۲)

د حديث ترجمه: حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمائي چه رسول الله ﷺ مونځ ورکړو. ابراهيم وائي چه ماته (اوس) معلومه نه ده چه د مانځه (رکعتونو کښې) کمې اوشو که زياتې بيا چه کله حضورپاك سلام اوګرځولو نو حضورپاك ته عرض اوکړې شو چه يارسول الله: آيا د مونځ (ادا کولو باره) کښې څه نوې حکم نازل شوې دې؟ حضورپاك تپوس اوکړو چه هغه څه؟ خلقو اووئيل تاسو دومره دومره رکعتونه اوکړل. دې اوريدو سره حضورپاك خپلې خپې راغونډې کړې اود قبلې طرف ته ئې مخ کړو اود (سهو) دوه سجدې ئې اوکړې اود

---

(۱) عن عامر بن ربيعة قال: رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم وهو على الراحلة يسبح، يومئ برأسه قِبَلَ أي وجه توجه، ولم يكن رسول الله صلى الله عليه وسلم يصنع ذلك في الصلاة المكتوبة. (صحيح البخاري، كتاب الصلاة، باب: ينزل للمكتوبة، رقم الحديث: ۱۰۹۷). وكذا عن ابن عمررضى الله عنهما قال: كان النبي صلى الله عليه وسلم يصلى على راحلة تطوعا حيثما توجهت به وهو جاء من مكة إلى المدينة، ثم قرأ ابن عمر هذه الآية: ﴿وَلِلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللَّهِ﴾ فقال ابن عمر: هذا أنزلت هذه الآية. (سنن الترمذي، أبواب التفسير ، من سورة البقرة، رقم الحديث: ۲۹۵۸).

(۲) أخرجه البخاري في الصلاة، باب: ماجاء في القبلة ومن لا يرى الاعادة على من سها، فصلى إلى غير القبلة. رقم الحديث: ۴۰۴، وفي كتاب السهو، باب: إذا صلى خمسًا، رقم الحديث: ۱۲۲۶، وفي الأيمان، باب: إذا حنث ناسيًا في الأيمان، رقم الحديث: ۶۶۷۱، وفي كتاب أخبار الآحاد، باب: ماجاء في إجازة خبر الواحد الصدوق في الأذان والصلوة والصوم والفرائض والأحكام، رقم الحديث: ۷۲۴۹. ومسلم في صحيحه، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب: السهو في الصلاة والسجودله، رقم الحديث: ۵۷۲. وأبوداؤد في سننه، في كتاب الصلاة، باب: إذا صلى خمسًا، رقم الحديث: ۱۰۱۹، ۱۰۲۰، ۱۰۲۱، ۱۰۲۲. والترمذي في جامعه، في الصلاة، باب: ماجاء في سجدتي السهو بعد السلام والكلام، رقم الحديث: ۳۹۲، ۳۹۳. والنسائي في سننه، في السهو، باب: ما يفعل من صلى خمسًا، رقم الحديث: ۱۲۵۵، ۱۲۵۶، ۱۲۶۰. وابن ماجة في سننه، في كتاب إقامة الصلوة والسنة فيها، باب: من صلى الظهر خمسًا وهو ساهٍ، رقم الحديث: ۱۲۰۵، وفي باب: ماجاء فيمن شك في صلاته، فتحرى الصواب، رقم الحديث: ۱۲۱۱، ۱۲۱۲، وفي جامع الأصول، حرف الصاد، الكتاب الأول: في الصلاة القسم الأول: في الفرائض وأحكامها، الباب الأول: في الصلاة وأحكامها، الفصل السابع: في السجدات، الفرع الأول: في سجود السهو القسم الثاني: في السجود بعد التسليم، رقم الحديث: ۳۷۶۶، ۵۴۱/۵.

هغې نه پس ئې سلام اوګرځولو. بیائې زمونږ طرف ته مخ کړو او ارشاد ئې اوفرمائیلو. که چرته په مونځ کښې څه نوې حکم نازل شوې وې نو ما (به د مونځ نه مخکښې) تاسو نه خودلې دې، لیکن زه خو هم ستاسو په شان یو انسان یم، لکه څنګه چه تاسو نه هیریږی هغه شان ما نه هم هیریږی. په دې وجه چه کله ما نه هیره اوشی نو تاسو ماته رایادوئ راکوئی. اوکله چه په تاسو کښې دچا په مونځ کښې شك پیدا شی نو د صحیح خبرې معلومولو کوشش دې اوکړی اوهم د هغې مطابق دې مونځ پوره کړی. بیا دې سلام ګرځولو سره دوه سجدې د (سهو) اوکړی.

تراجم رجال: د مذکوره روایت په سند کښې ټول شپږ رجال دی:

① **عثمان** رحمه الله: دا عثمان بن محمد بن قاضی ابوشیبه ابراهیم کوفی رحمه الله دې. د دوی احوال کشف البارى كتاب العلم، باب: من جعل لأهل العلم أياما معلومة لاندې تیرشوی دی[۱]

② **جریر** رحمه الله: دا جریر بن عبدالحمید بن قرط رازی رحمه الله دې. د دوی احوال کشف البارى كتاب العلم، باب: من جعل لأهل العلم أياما معلومة لاندې تیرشوی دی[۲]

③ **منصور** رحمه الله: دا منصور بن المعتمر السلمی الکوفی رحمه الله دې د دوی احوال کشف البارى كتاب العلم، باب: من جعل لأهل العلم أياما معلومة لاندې تیرشوی دی[۳]

④ **ابراهیم** رحمه الله: دا ابوعمران ابراهیم بن یزید النخعی رحمه الله دې د دوی احوال کشف البارى كتاب الإيمان، باب: ظلم دون ظلم لاندې تیرشوی دی[۴]

⑤ **علقمه** رحمه الله: دا علقمه بن قیس بن عبدالله نخعی رحمه الله دې. د دوی احوال کشف البارى كتاب الإيمان، باب: ظلم دون ظلم لاندې تیرشوی دی[۵]

⑥ **عبدالله** رضي الله عنه: دا مشهور صحابئ رسول حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دې. د دوی احوال کشف البارى كتاب الإيمان، باب: ظلم دون ظلم لاندې تیرشوی دی[۶]

شرح حدیث: قَالَ عَبْدُاللهِ صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه اوفرمائیل چه نبی کریم صلى الله عليه وسلم مونځ ورکړو.

دا کوم یو مونځ وو؟ د یو قول مطابق دا د ماسپښین مونځ وو او د دویم قول مطابق دا د مازیګر مونځ وو. طبرانی رحمه الله هم د دې راوی د ابراهیم رحمه الله حدیث نقل کړې دې د طلحه بن

---

[۱] کشف الباری: ۲۶۶/۳.
[۲] کشف الباری: ۲۶۸/۳.
[۳] کشف الباری: ۲۷۰/۳.
[۴] کشف الباری: ۲۵۳/۲.
[۵] کشف الباری: ۲۵۶/۲.
[۶] کشف الباری: ۲۵۷/۲.

مصرف په طريق، په هغې كښې د مازيګر د مونځ تصريح ده([1])
اوهم د دوې روايت ئې د شعبه عن حماد په طريق سره نقل كړې دې په هغې كښې د ماسپښين د مونځ ذكر دې([2])

قوله: قَالَ إِبْرَاهِيمُ: لاَ أَدْرِي زَادَ أَوْ نَقَصَ: راوى ابراهيم رحمه الله اووئيل چه ماته (اوس) معلومه نه ده چه د مونځ (ركعتونو) كښې كمې شوې وو كه زياتې. "ابراهيم" دا ابن يزيد النخعى دې. او يو قول داهم دې چه دا ابن سويد النخعى دې.([3])

قوله: "زَادَ أَوْ نَقَصَ" دَدواړو افعالو ضميرونه د نبى كريم ﷺ طرف ته راجع دى. اودا دواړه افعال په دې مقام باندې متعدى دى.([4])

د راوئ حديث بيان دې چه زما خيال كښې نشته چه په مونځ كښې څه زياتې شوې ووكه كمې، ليكن لږ شان وړاندې هم دَدې راوئ حديث په يو بل سندسره راروان دې دهغې نه معلوميږى چه په مونځ كښې زياتوالې شوې وو يعنى د څلورو په ځائې باندې ئې پنځه ركعته كړې وو. دهغوى شك د سجده سهو د سبب په بنياد باندې واقع شو چه سجده سهو په ركعتونو كښې د كمې پېښيدو د وجې نه اوكړې شو اوكه په ركعتونو كښې زياتې كيدو د وجې نه كړې شوې وه([5]). علامه كرمانى رحمه الله فرمائى چه دا پوره جمله د راوى منصور ادراج دې.([6])

قوله: فَلَمَّا سَلَّمَ قِيلَ لَهُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَحَدَثَ فِي الصَّلاَةِ شَيْءٌ؟: بيا چه كله حضورپاك سلام اوګرځولو نو حضورپاك ته عرض اوكړې شو چه يا رسول الله! آيا مونځ (ادا كولو باره) كښې څه نوې حكم نازل شوې دې؟

"أ" همزه د استفهام د پاره دې او "حدث" دَ دال په فتحې سره د "وقع" معنى دې. مطلب دَدې جملې دا دې چه آيا د وحى په ذريعه دَمونځ باره كښې څه داسې حكم نازل شوې دې چه هغې د مونځ مخكينئ طريقه بدله كړې ده. يعنى د څلورو په ځائې د پنځو ركعتو حكم راغلې

---

[1]) عن طلحة بن مصرف عن إبراهيم عن علقمة عن عبدالله قال: صلى بنا رسول الله صلى الله عليه وسلم العصر، فنهض في الرابعة، ولم يجلس حتى صلى بنا الخامسة، فقيل: يا رسول الله! صليت بنا خمسًا، فاستقبل القبلة، وكبر، وسجد سجدتين. (المعجم الكبير للطبراني، تابع عبدالله بن مسعود، رقم الحديث: ٩٨٣٦، ٣٤/١٠).

[2]) عن شعبة عن حماد عن إبراهيم عن علقمة عن عبدالله أن رسول الله صلى الله عليه وسلم صلى الظهر خمساً، فقيل: يارسول الله! زيد في الصلوة؟ قال: "وما ذاك؟" قالوا: صليت خمساً، فسجد سجدتين.(المعجم الكبير للطبراني، تابع عبدالله بن مسعود، رقم الحديث: ٩٨٣٩، ٣٥/١٠).

[3]) اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح للبرماوى: ١٤٦/٣.

[4]) اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح للبرماوى: ١٤٦/٣. په دې مقام باندې علامه ابن حجر رحمه الله تصريح كړې ده چه دا ابراهيم بن يزيد نخعى رحمه الله دې ځوك چه دَدې ابراهيم نه مراد كښې د بل چا ذكر كوى هغه په خطا باندې دې. (فتح البارى: ٦٥٢/١).

[5]) عمدة القارى: ٢٠٥/٤ الكوثر الجارى: ٩٢/٢.

[6]) شرح الكرمانى: ٦٣/٤ اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح للبرماوى: ١٤٦/٣.

دي.(۱)

قوله: قَالَ: «وَمَا ذَاكَ»، قَالُوا: صَلَّيْتَ كَذَا وَكَذَا: حضورپاك تپوس اوکړو چه هغه څه؟ خلقو اوئيل چه تاسو دومره دومره رکعتونه کړي دي.

دَ "وَمَا ذَاكَ" استعمال دَ داسې سړي دَ طرف نه کيږي چاته چه هيڅ خبر نه وي چه دَ هغه نه څه کار شوې دې نه په يقيني توګه او نه په غالب ګمان سره.(۲)

دَخبرو اترو کولو نه پس دَمونځ دَ باقي کيدو حکم: دلته يو اشکال پيدا کيږي چه نبي کريم ﷺ سلام ګرځولې وو دَ هغې نه پس حضورپاك "وَمَا ذَاكَ؟" په ذريعه سوال اوکړو نودَ دې خبرو اترو کولو نه پس حضورپاك دَ مونځ بنا څنګه اوکړه؟ نودَ احنافو دَ طرف نه دا جواب ورکړې شوې دې چه دَ خبرو اترو کولو دا واقعه په مونځ کښې دکلام دَ حرمت نه دَ مخکښې وخت دي.(۳)

يو بل سوال پيدا کيږي چه دلته خو تلقين من خارج الصلاة موندلې شي يعني دَ مونځ کونکي دَ پاره دَ خپل غير په خبره باندې عمل کول خو جائز نه وي بيا څنګه حضورپاك دَ بل چا په خبره باندې عمل کولو سره خپل مونځ مکمل کړو؟ نودَ دې دا جواب ورکړې شوې دې چه نبي کريم ﷺ دَ "وَمَا ذَاكَ" په ذريعه چه کوم سوال کړې وو هغه په مونځ کښې دَ خپلې غلطۍ دَ پيژندلو دَپاره وو. کله چه دَ صحابه کرامو په خودلو سره حضورپاك پوهه شو نودَ خپل علم په بنياد باندې حضورپاك خپل مونځ مکمل کړو نه دا چه صرف دَ غير په خبره باندې ئې عمل اوکړو(۴)

په دې باندې علامه عيني رحمه الله فرمائي چه په اصل کښې په دې جمله کښې په شافعيه مذهب باندې اشکال لازميږي. هغه داسې چه دَ هغوی په نيز په مونځ کښې دَمونځ ګذار دَځان نه غير طرف ته رجوع کول جائز نه دي. که هغه امام وي او که مقتدي. بلکه هم دَ خپل زړه په خبره باندې عمل کول لازم دي. په دې وجه امام نووي رحمه الله هغه جواب ورکړوکوم چه پورته دَ شرح الکرماني په حواله ذکرکړې شوې دې. په دې جواب باندې اشکال کولوسره علامه عيني رحمه الله فرمائي چه دلته دا جواب ورکول چه نبي کريم ﷺ دَ "وَمَا ذَاكَ" په ذريعه چه کوم سوال کړې وو هغه په مونځ کښې دَ خپلې غلطۍ پيژندلو دَ پاره وو، دَمنلو قابل نه دي. څکه چه دَ ذواليدين په قصه کښې چه دَحضورپاك دَهغوی طرف ته رجوع ده هغه دَ خبرو اترو او سوال اوجواب دَ پاره ده نه يوازې دا چه دَخپل نفس دَ تسلۍ دَ پاره. فافهم.(۵)

قوله: "كَذَا وَكَذَا" سره کنايه ده دَ هغه رکعتونو دَ شمير طرف ته کوم چه په ذهن کښې کم يا

---

(۱) شرح الکرماني: ۶۳/۴ اللامع الصبيح بشرح الصحيح للبرماوي: ۱۴۶/۳ فتح الباري: ۶۵۲/۱ عمدة القاري: ۲۰۵/۴.
(۲) فتح الباري: ۶۵۲/۱، عمدة القاري: ۲۰۵/۴.
(۳) شرح الکرماني: ۶۵/۴.
(۴) شرح الکرماني: ۶۵/۴.
(۵) عمدة القاري: ۲۰۹/۴.

زیات شو[1]

په مونځ کښې دَ خبرو اترو کولو حکم: دَ جمهور فقهاؤ په نیز په قصد سره داسې خبرې اترې کولو سره مونځ باطلیږی کوم چه دَ مونځ دَ اصلاح په خاطر نه وی.[2]

دَ احنافو مذهب: دَ احنافو په نیز په مونځ کښې په دریو شرطونو سره[3] خبرې اترې کولو سره مونځ فاسدیږی. که هغه خبرې لږې وی او که ډیرې او که په هیره سره وی (یعنی مونځ کول ورته یاد نه وی، خپل ځان دَ مونځ نه بهر گنړلو سره خبرې اترې اوکړی) یا په خطا سره (مثلاً ارادهٔ خو ئې په خله "یاایهاالناس" وئیل غوښتل، لیکن دَ خلې نه ترې اووتل "یا زید")، که دَ جهالت دَ وجې نه وی (یعنی هغه ته پته نه وی چه په خبرو اترو سره مونځ فاسیدیږی) یا که دَ چا په مجبورولو باندې وی او که یا عمداً وی (یعنی په خپله اراده او خوشئ سره ئې کلام اوکړو) که دَ مونځ دَ اصلاح دَ پاره وی (مثلاً امام دَ قعدې په موقع باندې اودریدو او مقتدی هغه ته اووئیل چه کینه یا دَ قیام په موقع باندې کیناستو نو مقتدی ورته اووئیل اودریږه. حالانکه وئیل پکار وو سبحانه الله یا الله اکبر) او که دَ اصلاح دَ پاره نه وی اودَ راجح قول مطابق په مونځ کښې په اوده کیدو سره وی او که په بیدارئی کښې وی، په هرحال کښې به مونځ فاسدیږی.[4]

دَ شوافعو مذهب: دَ شوافعو په نیز په مونځ کښې دننه کلام کونکې که چرته یو داسې سړې وی چه په هیره سره کلام اوکړی یا هغه په دغه کلام کولو باندې دَ مرتب کیدونکی حکم نه جاهل وی او قلیل کلام اوکړی نو مونځ ئې نه فاسدیږی.[5]

دَ مالکیؤ مذهب: دَ مالکیؤ په دې مسئله کښې دوه روایتونه دی. یو دَ احنافو مطابق او دویم دادې چه که چرې کلام دَ مونځ دَ اصلاح دَ پاره وی نو په دې سره مونځ نه فاسدیږی او دَ دې

---

[1] شرح الکرمانی: ۶۴/۴ اللامع الصبیح بشرح الجامع الصحیح للبرماوی: ۱۴۶/۳.

[2] یتکلم عامداً لا لمصلحة الصلاة فتبطل صلاته بالإجماع. نقل الإجماع، فیه ابن المنذر وغیره لحدیث معاویة بن الحکم السابق وحدیث ابن مسعود وحدیث جابر و حدیث زید بن أرقم وغیر ـ من الأحادیث التی سنذکرها إن شاء الله تعالى. (المجموع شرح المهذب، کتاب الصلاة، مسائل تتعلق بالکلام فی الصلاة: ۸۵/۴).

[3] (۱) دَ ژبې نه وتلې کلام کم نه کم په دوو حروفو باندې مشتمل وی، دَ یو حرف په وئیلو سره مونځ نه فاسدیږی. (۲) چه هغه کلام داسې وی چه دَ خلقو په خپل مینځ کښې خبرو اترو کښې چلیږی. یعنی دَ مونځ سره متعلق اذکار وغیره نه وی، دَ مونځ سره متعلق اذکار وغیره سره مونځ نه فاسدیږی. (۳) چه هغه کلام دومره آواز سره وی چه پخپله اوریدل ئې ممکن شی. که چرې دَ دې نه کم آواز کښې دغه کلام وی نو مونځ به نه فاسدیږی. (عمدة الفقه: ۲۴۵/۲).

[4] البحرالرائق، کتاب الصلاة، باب ما یفسد الصلاة وما یکره فیها: ۵/۲-۳. ردالمحتار مع الدرالمختار، کتاب الصلاة، باب: ما یفسد الصلاة ومایکره فیها: ۳۷۱/۲-۳۷۰. حشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح، کتاب الصلاة، باب: مایفسد الصلاة، ص: ۳۲۲-۳۲۱.

[5] المجموع شرح المذهب، کتاب الصلاة، مسائل تعلق بالکلام فی الصلاة: ۸۵/۴. المهذب، کتاب الصلاة، فصل فی الضحک والکلام فی الصلاة: ۲۸۹/۲. نهایة المحتاج إلی شرح المنهاج، کتاب الصلاة، باب: صفة الصلاة: ۳۸/۲.

برعکس کلام سره مونځ فاسدیږی[1]

دَ حنابلوْ مذهب: دَ حنابلو په دې مسئله کښې څلور روایتونه دی. درې روایتونه خودَ نمه ثلاثو دَ مذهب مطابق دی او څلورم روایت دادې چه که یو سړې دا اوګنړی چه زه په مونځ کښې نه یم او کلام اوکړی نو په دې سره به مونځ نه فاسدیږی، اګرچه هغه په مونځ کښې وی. اودې برعکس که یو کس په دې خبره باندې پوهیدو سره کلام اوکړی چه هغه مونځ کوی نو دَ هغه مونځ به فاسدیږی[2]

دَ احنافو ړومبې دلیل: دَ احنافو دلیل دَ ټولو نه ړومبې دَ قرآن پاك نه دې. دَ الله تعالی ارشاد دې: ﴿ وَقُومُوا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ ﴾ په دې آیت کښې دَ "قانتین" معنی سکوت او خاموشی ده. دَ ډیرو زیاتو صحابه کرامو رضي الله عنهم نه دَدې آیت دَ شانِ نزول باره کښې دا خبره نقل ده چه دا آیت په مونځ کښې دَ کلام بندولو دَ پاره نازل شوې دې[3]

بیا په دې آیت کښې څه تفصیل نشته دې چه دَ کوم قسم کلام نه منع کړې شوې ده. لهذا دَ هرنوعیت دکلام منع کیدل به مراد وی[4]

دویم دلیل: دویم دلیل دَ حضرت زید بن ارقم رضي الله عنه حدیث دې په کوم کښې چه هغوی فرمائی

---

[1] بداية المجتهد، كتاب الصلاة، الباب السابع فى معرفة التروك المشترطة فى الصلاة: ۱۱۹/۱. مواهب الجليل فى شرح مختصر خليل، كتاب الصلاة، باب فى السهو: ۲۳۲/۲. الشرح الكبير للدردير، كتاب الصلاة، فصل فى سنن سجود السهو: ۲۰۵/۱. طرح التثريب فى شرح التقريب، كتاب الصلاة، باب السهو فى الصلاة، حديث سجود السهو، فائدة: تعمد الكلام فى الصلاة لإصلاحها، الثالثة والعشرون: ۱۶/۳.

[2] طرح التثريب فى شرح التقريب، كتاب الصلاة، باب السهو فى الصلاة، حديث سجود السهو، فائدة: تعمد الكلام فى الصلاة لإصلاحها، الثالثة والعشرون: ۱۶/۳. الشرح الكبير للمقدسى، كتاب الصلاة باب سجودالسهو، فصل فإن تكلم فى هذه الحال..... لغير مصلحة الصلاة..... بطلت صلاته: ۳۰/٤-۲۹. الإنصاف فى معرفة الراجح من الخلاف للمرداوى "تحت الشرح الكبير للمقدسى"، كتاب الصلاة، باب سجودالسهو، فصل فإن تكلم فى هذه الحال....... لغير مصلحة الصلاة...... بطلت صلاته: ۳۰/٤-۲۹.

[3] عبدالرزاق عن الثورى عن منصور عن مجاهد قال: كانوا يتكلمون فى الصلاة، ويعلم الرجل أخاه، حتى نزلت هذه الآية: ﴿ وَقُومُوا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ ﴾، فقطعوا الكلام، قال: القنوت هوالسكوت، والقنوت: الطاعة. (المصنف لعبدالرازق، كتاب الصلاة، باب: الكلام فى الصلاة، رقم الحديث: ۳۵۷٤، ۳۳۱/۲). أخبرنا فضيل عن عطية فى قوله: ﴿وَقُومُوا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ﴾ قال: كانوا يتكلمون فى الصلاة بحوائجهم، حتى نزلت: ﴿وَقُومُوا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ﴾. فتركوا الكلام فى الصلاة. (تفسير الطبرى، القول فى تأويل قوله تعالى: ﴿وَقُومُوا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ﴾: ۳۷۸/٤). وكذا فى تفسير الراغب الأصفهانى: ٤۹۲/۱، وتفسير السمعانى: ۲٤٤/۱، وتفسير ابن كثير: ۶۵۵/۱، وتفسير الماتريدى: ۲۱۲/۲، وتفسير السعدى: ۱۰۶/۱.

[4] إن أحاديث ابن مسعود وزيد بن أرقم ومعاوية بن الحكم وغيرها صحيحة صريحة فى تحريم الكلام من غير تخصيص أو استثناء، فهى نص فى الباب بوصف مطرد معلوم منضبط معقول المعنى، بل وقع بعضها بيانًا لنص القرآن القطعى الثبوت..... إلخ. (معارف السنن، كتاب الصلاة، باب ماجاء فى الرجل يسلم فى الركعتين من الظهر والعصر: ۵٤۱/۳).

چه مونږ به په مونځ کښې خبرې اترې کولې. يو سړی به په خپل خوا کښې ولاړ مونځ کونکي سره (په وخت دَ ضرورت) خبرې اترې کولې. بيا چه کله آيت ﴿وَقُومُوا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ﴾ نازل شو نو مونږ ته په مانځه کښې دَ خاموشه پاتې کيدو حکم راکړې شو او دَ خبرو اترو نه منع کړې شو. دا حديث په کتب صحاح کښې موجود دې[۱]

دريم دليل: دريم دليل دَ حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ حديث دې په کوم کښې چه هغوی فرمائی چه مونږ به رسول الله ﷺ ته په مانځه کښې سلام کولو، حضورپاك به جواب راکولو. مونږ چه کله دَ حبشې دَ ملك نه واپس راغلو نو حضورپاك ته ما سلام اوکړو حضورپاك جواب رانه کړو. ماته خپل نيزدې اولرې فکرونه راپيدا شو (يعنی دَ قسم قسم پخوانی او نوی نوی خيالات راتلل) اوددې خبرې افسوس کيدو چه حضورپاك په څه وجه جواب رانه کړو؟ کوم وخت چه حضورپاك دَ مونځ نه فارغ شو نوارشاد ئې اوفرمائيلو الله تعالی چه کله غواړی نوې فرمان جاری کولې شی. اوس الله تعالی دا حکم نازل کړې دې چه په مونځ کښې خبرې اترې مه کوئی[۲]

څلورم دليل: څلورم دليل دَ حضرت معاويه بن حکم سلمی ﷺ حديث دې هغوی فرمائی چه ما حضورپاك سره مونځ کولو چه ناڅاپی په جمع کښې يو سړی ته انتروشې راغلو نو ما هغه ته "يرحمك الله" اووئيل. په دې باندې ماته خلق برند شو نو ما اووئيل "واثكل أمياه" (داد عربو يوه محاوره ده کومه چه دَ مذکوره نوعيت په ماحول کښې استعماليږی) په تاسو څه چل شوې دې چه تاسو ماته داسې ګورئې. خلقو په خپلو فتونانو باندې لاسونه وهل شروع کړه، نو زه پوهه شوم چه دا خلق ماته دَ چپ کيدو دَ پاره وائی دَ عثمان (يو بل راوی) په روايت کښې دی چه کله ما اوکتل چه خلق ماته دَ چپ کيدو دَ پاره وينا کوی نو زه چپ شوم. کله چه حضورپاك دَ مونځ نه فارغ شو نو زما مور پلار دې په حضورپاك باندې قربان شی چه هغوی نه زه اورټلم او نه ئې راته بدې ردې اووئيلې البته دومره ئې راته اوفرمائيل چه دا مونځ دې او په دې کښې خبرې کول جائز نه دی بغيردَ تسبيح او تکبير او تلاوت دَ قرآن نه. يا ئې څه داسې خبره ارشاد اوفرمائيله[۳]

---

[۱] عن زيدبن أرقم قال: كنا نتكلم خلف رسول الله صلى الله عليه وسلم فی الصلاة، يكلم الرجل مناصاحبه إلى جنبه، حتى نزلت: ﴿وَقُومُوا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ﴾ [البقرة: ۲۳۸] فأمرنا بالسكوت، ونهينا عن الكلام. (سنن الترمذی، كتاب الصلاة، ماجاء فی نسخ الكلام فی الصلاة، رقم الحديث: ٤٠٥).

[۲] عن ابن مسعود قال كنا نسلم على النبی صلى الله عليه وسلم، فيرد علينا السلام حتى قدمنا من أرض الحبشة، فسلمت عليه ، فلم يرد علی، فأخذنی ما قُرب وما بعد، فجلست حتى إذا قضى الصلاة قال: "إن الله عزوجل يحدث من أمره ما يشاء، وإنه قد أحدث من أمره أن لا يتكلم فی الصلاة" .(سنن النسائی، كتاب الصلاة، باب الكلام فی الصلاة، رقم الحديث: ۱۲۲٤).

[۳] عن معاوية بن الحكم السلمی قال: صليت مع رسول الله صلى الله عليه وسلم، فعطس رجل من القوم، فقلت: يرحمک الله، فرمانی القوم بأبصارهم، فقلت: واثكل أمياه، ما شأنكم تنظرون إلی؟ فجعلوا يضربون بأيديهم على أفخاذهم، فعرفت أنهم يصمتونی — فقال عثمان: فلما رأيتهم يسكتونی لكنی سكت — قال: ....

د ائمه ثلاثو دلیل: د ائمه ثلاثه رحمهم الله دلیل حدیث د ذوالیدین دې چه د دریو صحابه کرامو ﷺ نه په سپارلسو طرقو سره نقل دې. پوره تفصیل شرح معانی الآثار کښې ذکردې.(۱)
امام طحاوي ﷫ په ډیر تفصیل سره په دې مسئله کلام کړې دې. هم دَهغې خلاصه حضرت بنوري ﷫ په معارف السنن کښې ذکرکړې ده(۲)
کومه چه دَ کتو قابل ده. دَ هغې حاصل دادې چه دَ شوافعو په نیزحدیث ذوالیدین داسې دلیل جوړیږي چه دَ ذوالیدین کلام دَ حکم دَ ناواقفیت په وجه باندې وو او دَ نبی کریم ﷺ کلام نسیاناً وو. دَ امام مالك ﷫ په نیز دا ټولې خبرې اترې دَ مونځ دَ اصلاح په خاطر وې په کوم سره چه مونځ نه فاسدیږي. دَ امام احمد ﷫ په نیز دَ نبی کریم ﷺ دَ طرف نه خبرې اترې کیدل خوددې وجې نه وو چه دَ حضورپاك په ګمان کښې مونځ پوره شوې وو. او دَ ذوالیدین کلام هم په دې ګمان باندې وو څکه چه دلته دا احتمال موجود وو چه په مونځ کښې به دَ رکعتونو دکمی حکم نازل شوې وی. نو هم دَدې احتمال دَ وجې نه دَمونځ پوره کیدو ګمان جوړ شو. بیا هغوی د تصدیق په خاطر دَ حضورپاك نه تپوس اوکړو.
دَ ائمه ثلاثو دَ دلیل ړومبې جواب: خودَ احنافو په نیز دا واقعه په کومه کښې چه په مونځ کښې کلام شوې وو دَ "نسخ الکلام فی الصلاة" نه مخکښې ده. زمونږ په دې خبره باندې [چه دا واقعه دَ "نسخ الکلام فی الصلاة" نه دَمخکښې وخت ده] ړومبې دلیل هغه ټول روایات دی په کوم کښې چه نبی کریم ﷺ دَ امام نه دَ غلطۍ کیدو په وخت دَ مونځ دَ تصحیح دَ پاره مقتدیانو ته دَ سرو کیدو په صورت کښې دَ سبحان الله یا الله اکبر وئیلو او دَ ښځو کیدو په صورت کښې دَ تصفیق یعني لاس په لاس باندې دَ وهلو تلقین کوی. څنګه چه که په مونځ کښې خبرې اترې کول مشروط پاتې وې نودَ تسبیح او تصفیق دَ تلقین به هیڅ ضرورت نه پاتې کیدو. ددې په ځائی به مونځ ګذار هم په مونځ کښې خبرې کولو سره وئیل چه امام صاحب تاسو غلطی کړې ده. داسې نه ده بلکه داسې اوکړئی، لیکن تاسو ته پته ده چه داسې نه کیږي.(۳)
دویم جواب: دویم دلیل دَ حضرت معاویه بن خدیج ﷛ حدیث دې چه یو ځل دَ نبی کریم ﷺ نه په هیره یو رکعت پاتې شو. حضورپاك ته خبر ورکړې شو نو حضورپاك دَ اذان او اقامت حکم ورکړو. ددې نه پس حضورپاك یو رکعت مونځ ورکړو. حالانکه دَ ټولو په دې باندې اتفاق دې چه په مونځ کښې اذان او اقامت وئیل مونځ باطلوی. خودَ حدیث مطابق رسول

...... فلما صلى رسول الله صلى الله عليه وسلم، بأبي وأمي ما ضربني، ولا كهرني، ولا سبني، ثم قال: إن هذه الصلاة لا يحل فيها شيئ من كلام الناس هذا، إنما هو التسبيح والتكبير وقرء ة القرآن، أو كما قال رسول الله صلى الله عليه وسلم. (سنن أبي داؤد، كتاب الصلاة، باب تشميت العاطس في الصلاة، رقم الحديث: ۹۳۰).
(۱) شرح معاني الآثار، كتاب الصلاة، الكلام في الصلاة لما يحدث فيها من السهو: ۵۸۱-۱/۵۶۹.
(۲) معارف السنن، كتاب الصلاة، باب ماجاء في الرجل يسلم في الركعتين من الظهر والعصر: ۵۰۴/۳.
(۳) شرح معاني الآثار، كتاب الصلاة، الكلام في الصلاة لما يحدث فيها من السهو: ۵۷۴/۱-۵۷۳.

الله ﷺ هم داسې اوكړه. نو دې نه معلومه شوه چه حضور پاك داسې په هغه وخت يا هغه دور كښې كړې وو كوم وخت چه په مونځ كښې خبرې كول مباح وو، په دې سره به مونځ نه فاسديدو. ليكن روستو په مانځه كښې خبرې اترې كول بند شو. هم په دې وجه خو په دې مسئله باندې [چه په مانځه كښې اذان او اقامت وئيل مونځ باطلوى د ټولو اتفاق دې. لهذا حديث ذواليدين به هم په هغه زمانه باندې محمول كولې شى.(١)

دريم جواب: دريم دليل دا دې چه د حديث ذواليدين والا واقعه كښې شريك د يو جليل القدر صحابى نه د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په زمانه كښې د يو مونځ د امامت په دوران كښې غلطى اوشوه. په دوو ركعتو باندې ئى په هيره سره سلام اوګرځولو حالانكه مونځ څلور ركعتيز وو. د مونځ نه پس خلقو ورياده كړه نو خليفة المسلمين د دغه خبرو اترو كيدو نه پس د نوى سر نه څلور ركعته اوكړه، نه دا چه هم په هغه دوو ركعتو باندې ئى بنا اوكړه. د دې نه هم معلومه شوه چه دغه وخت په مانځه كښې خبرې اترې كول بند شوى وو ګنى د خلقو د خبردارولو نه پس به ئى صرف دوه ركعته كول ليكن هغوى داسې اونه كړه ځكه چه هغوى ته معلومه وه چه په مونځ كښې خبرې كول منسوخ شوى دى.(٢)

څلورم جواب: څلورم جواب دا دې چه دې وخت كښې د پوره امت اجماعى مسئله ده چه كه د امام نه غلطى اوشى نو هغه له خبردارې وركولو د پاره به سبحان الله وئيلى شى، خبرې اترې كولو سره به ورته نه شى خودلې. خوبل طرف ته په حديث ذى اليدين كښې صحابه كرامو رضي الله عنهم د سبحان الله وئيلو په ځائى خبرې اترې اوكړې او نبى پاك عليه السلام د هغوى په دې فعل باندې هيڅ نكير اونه كړو. د دې نه هم معلوميږى چه دا واقعه په مونځ كښې د خبرو اترو د منسوخ كيدو نه د مخكښې وخت ده.(٣)

عقلى دليل: بيا امام طحاوى رحمه الله خپل عقلى دليل (كوم چه په نظر طحاوى سره تعبيركولې شى) پيش كوى. چه ډير مختلف قسم عبادتونه داسې دى چه د هغې د شروع كولو نه پس نور ډير كارونه ممنوع كيږى. مثلاً د مونځ شروع كولو نه پس خبرې او نور منافى الصلاة كارونه ممنوع كيږى. د روژې ساتلو نه پس خوراك څښاك او جماع ممنوع كيږى. د اعتكاف په حالت كښې كوروالې، د جمات نه وتل وغيره. او د حج او عمرې د احرام په حالت كښې خوشبوئى، كنډلې شوې كپړې او جماع وغيره ممنوع كيږى. د دې تفصيل نه پس پوهه شو چه په اتفاق د فريقينو په دې ټولو عبادتونو كښې د منع كړې شوو كارونو كولو سره كه په قصد سره وى او كه په هيره سره وى دا عبادتونه فاسديږى. نو دغه شان مونځ هم يو ډير اهم عبادت دې. په دې كښې د قصد او هيرې د قيد نه بغيرخبرو په موجوديدو سره مونځ فاسد

(١) شرح معانى الآثار، كتاب الصلاة، الكلام فى الصلاة لما يحدث فيها من السهو: ٥٧٤/١.
(٢) شرح معانى الآثار، كتاب الصلاة، الكلام فى الصلاة لما يحدث فيها من السهو: ٥٧٥/١.
(٣) معارف السنن، كتاب الصلاة، باب ماجاء فى الرجل يسلم فى الركعتين من الظهر والعصر: ٥٤٣/٣.

نوټ: د ائمه ثلاثه د طرف نه په دې دلائلو باندې اعتراضات او د هغې نه په تفصيل او مدلل جوابونه د شوق لرونكو د پاره د معارف السنن طرف ته مراجعت به ډير د فرحت سبب وى.

کيدل پکاردي. لکه څنګه چه (د ائمه ثلاثه په نيز) قصداً کلام سره مونځ فاسديږي. دغه شان په هيره سره خبرې سره هم مونځ فاسديدل پکاردي.(۱)
قوله: فَثَنَى رِجْلَيْهِ: دې اوريدو سره رسول الله ﷺ خپلې دواړه خپې راغونډې کړې.
قوله: "فَثَنَى" دا د باب ضرب يضرب نه د ماضي صيغه ده دکوم معنى چه د تاوولو ده. يعنى حضورپاك خپلې خپې مباركې راتاؤ کړې او داسې کيناستو لکه چه په قعده کښې د تشهد وئيلو د پاره کينى(۲)
قوله: "رِجْلَيْهِ" دا د کشميهني او اصيلي د روايت مطابق دې. کنى په نورو نسخوکښې "رجله" د واحد صيغه ده(۳)
د سجده سهو کولو متعلق د حضرت کشميري رحمه الله رائې:
قوله: "فَثَنَى رِجْلَيْهِ وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ" باندې حضرت کشميري رحمه الله فرمائيلي دي چه که چرې اوئيلې شي چه هغه وخت کلام په مونځ کښې جائز وو نو د سجده سهو څه ضرورت وو؟ زه وايم چه هغه په مونځ کښې أجزاء صلوة د غير د دخل اندازئي په سبب وه. دا باب اګرچه علماؤ نه دې ذکرکړې مګر غالباً هغه وخت به هم دغه مسئله وه چه کلام وغيره سره د مونځ د نه فاسد کيدو سره سره دهغې تلافى به په سجده سهو سره کيدله(۴)
قوله: وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ، وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ سَلَّمَ: او د قبلې طرف ته ئې مخ کړو او د (سهو) دوه سجدې ئې اوکړې او دې نه پس ئې سلام اوګرځولو.
حضرت شيخ الحديث کاندهلوي رحمه الله فرمائي چه دلته حضورپاك د سجده سهو د پاره قبلې طرف ته مخ کړو. د دې نه زما استدلال دې په دې باندې چه چرته هم وى، که د مونځ آخره وى او که شروع، قبلې ته به مخ کولې شى(۵).
د پنځو رکعتو والا مونځ، د ماسپښين مونځ څنګه جوړشو؟ په دې حديث شريف کښې د صحابه کرامو رضي الله عنهم د طرف نه خبر ورکړې شو چه حضورپاك د ماسپښين د څلورو رکعتو په ځائي دومره دومره رکعتونه مونځ اوکړو. د وړاندې باب حديث کښې په تصريح سره د دغه شوو رکعتونو ذکرموجود دې چه هغه پنځه رکعته وو. بيا حضورپاك په آخره کښې سجده سهو اوکړه. اوس دا د ماسپښين څلور رکعته څنګه جوړشو؟
په دې باره کښې علامه کشميري رحمه الله فرمائي چه په داسې صورت کښې د احنافو په نيز په څلورم رکعت کيناستل ضروري دى کنى فرض مونځ به نفل جوړ شى. ليکن د شوافعو په مسلك باندې په دې (قعده) کيناستل ضروري نه دى. بهرصورت د فرض په توګه به صحيح

(۱) شرح معاني الآثار، كتاب الصلاة، الكلام في الصلاة لما يحدث فيها من السهو: ۵۸۰/۱-۵۷۹.
(۲) شرح الكرماني: ۶۴/۴ اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح للبرماوي: ۱۴۶/۳، عمدة القاري: ۲۰۵/۴.
(۳) فتح الباري: ۶۵۲/۱، عمدة القاري: ۲۰۵/۴.
(۴) انوارالباري: ۲۰۳/۱۲.
(۵) تقرير بخاري شريف: ۱۴۵/۲، فتح الباري: ۶۵۲/۱.

شي. زمونږ جواب دادې چه مسئله اجتهادي ده چاسره هم شرعي دليل نشته دې. البته مونږ سره د تفقه په لحاظ سره قوي دليل موجود دې. هغه دا چه په دين محمدي کښې مونځ په درې قسمه دې. دوو رکعتو والا، دريو رکعتو والا او څلورو رکعتو والا. او ښکاره خبره ده چه د مونځ د دوؤ ياڅلور رکعتو کيدو تحقق چه د دين د متواتراتو نه دې صرف په قعدې سره کيږي. لهذا هغه هم فرض او ضروري شوه ځکه چه د واجب مقدمه به هم واجب وي. په دې وجه احنافو اووئيل چه د يو رکعت نه دکم رفض او ترک جائز دې په خلاف د دې چه د پوره رکعت کيدو نه پس به د مونځ اهتمام فرض شي. ځکه چه دا د دين د متواتراتو نه دې يعني شريعت دا معتدبه امر ګرځولې دې کوم چه نه شي ترک کولې. ځکه چه په دې سره د دين د يو متواتر، مسلم امر ماتيدل يا دا بې وقعته کول لازميږي. (۱)

فَلَمَّا أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ، قَالَ: «إِنَّهُ لَوْحَدَثَ فِي الصَّلَاةِ شَيْءٌ لَنَبَّأْتُكُمْ بِهِ: بيائې زمونږ طرف ته مخ کړو او وئې فرمائيل که چرې په مونځ کښې څه نوې حکم نازل شوې وې نو ما به (د مونځ نه مخکښې) تاسو ته خودلې وې.

قوله: "لَنَبَّأْتُكُمْ بِهِ" کښې لام د تاکيد د پاره دې او د بعضو په نيز دا د "لو" په جواب کښې راتلونکې لام دې. "لَنَبَّأْ" د هغه افعالو نه دې کوم چه د دريو مفعولونو تقاضا کوي. چنانچه دلته رومبې مفعول د مخاطب "كُمْ" ضمير دې. دويم مفعول جار مجرور يعني "بِهِ" دې. په دې کلمه کښې "ه" ضمير د هغه حدوث طرف ته راګرځي کوم چه د رسول الله ﷺ قول «لوحدث في الصلوة شيئ» نه مفهوم کيږي.

او دريم مفعول محذوف دې. يعنې که چرې په مونځ کښې د بدليدو څه حکم راغلې وې نو د مونځ نه وړاندې به ما تاسو خلقو ته د هغه بدلون باره کښې وئيلې وې چه هغه دادې (۲)

قوله: وَلَكِنْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ: ليکن زه هم ستاسو په شان يو انسان يم.

قوله: "إِنَّمَا" کلمهٔ حصر ده دکوم مقتضاء لغوي چه داده چه د حضورپاك بشريت د عامو انسانانو سره په مماثل کيدو کښې محصور دې. ليکن واضحه دې وي لکه څنګه چه د جنس لاندې انواع وي دغه شان د جنس بشريت لاندې هم ډير زيات درجات دي. په کوم کښې چه د ټولو نه په اوچته درجه باندې رسول الله ﷺ دې. چنانچه په نفس بشريت کښې خو مماثلت شته ليکن هغه د هغې درجې دې چه بل يو انسان هغه درجې ته نه شي رسيدې. ځکه چه د عامو انسانانو په شان د حضورپاك هم دوه سترګې، دوه لاسونه او داسې نور اندامونه دي ليکن د اوصافو په اعتبار سره رسول الله ﷺ د کمال په هغه اوچتوالي باندې دې چه عام انسان د هغې تصور هم نه شي کولې. يعني دلته حصر مطلق نه دې بلکه حصر مخصوص دې کوم چه د سياق او سباق نه معلوميږي. (۳)

---

(۱) انوارالباري: ۲۰۳/۱۲.

(۲) شرح الكرماني: ٦٤/٤ اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح للبرماوي: ١٤٦/٣ عمدة القاري: ٢٠٥/٤.

(۳) ملخص من عمدة القاري: ٢٠٥/٤.

نبي كريم ﷺ نور وو كه بشر؟ د قران، حديث، صحابه كرام ﷺ، سلف صالحين، مفسرين كرام، محدثين عظام او د ائمه اربعه رحمهم الله تعليمات، تحقيقات او تصريحات مخې ته كيخودو سره د رسول الله ﷺ نور او بشر كيدو باره كښې د اهل سنت والجماعت عقيده داده چه حضورپاك ﷺ په يووخت بشرهم دې او نور هم ليكن د جنس او ذات په اعتبارسره بشر دې. او د صفاتو او د هدايت په اعتبارسره نور دې. اودواړه اعتباراتو (د نور اوبشر كيدو اعتبار) سره حضورپاك په داسې مقام او درجه باندې فائز دې چه نه د حضورپاك نه مخكښې اونه روستو څوك د حضورپاك په شان تيرشوي دې.

قاضي عياض مالكي رحمه الله فرمائي چه حضرت محمد ﷺ او باقي ټول انبياء كرام او رسولان عليهم الصلوة والسلام بشر وو. او د حضورپاك بدن مبارك او ظاهري خواص بشري وو. حضورپاك باندې هغه ټول هرڅه جائز دي چه په نورو انسانانو باندې طاري كيږي. مثلاً تكليفونه، مصيبتونه، آلام، بيمارئي او د مرګ پيالئ څكل وغيره د دې ټولو امورو د وجې نه د رسول الله ﷺ په شان كښې څه كمې يا نقص نه راځي.[1]

البته هم په دې خبره كښې دوه رائې نشته چه حضورپاك افضل البشر وو، خاص الخواص وو. چنانچه علامه شامي رحمه الله فرمائي:

د بشر درې قسمونه دي: خواص: لكه حضرات انبياء كرام عليهم السلام او د مينځنې درجې لكه حضرات صحابه كرام ﷺ وغيرهم او عوام: لكه نور خلق.[2]

نبي كريم ﷺ په دې توګه د سرنه ترخپو پورې نور ګرځول چه په هغې سره د بشريت، آدميت او د انسانيت كيدو نه انكار اوكړې شي دا د صريح اوقطعي نصوصو خلاف دي. او دې سره سره چه يو سړې دا اووائي چه ماته پته نشته چه حضورپاك انسان ووكه پيرې، نو فقهاؤ ذكركړې دي چه داسې سړې كافر دې مسلمان نه دې. بلكه دا عقيده لرل ضروري دي چه حضورپاك په اعتبار د جنس بشر او په اعتبار د ايمان اوهدايت نور وو.[3]

---

[1]) وقد قدمنا أنه عليه الصلوة والسلام وسائر الأنبياء والرسل من البشر وأنه جسمه وظاهره خالص للبشر، يجوز عليه من الآفات والتغييرات والآلام والأسقام وتجرعُ كأس الحِمام ما يجوز على البشر، وهذا كله ليس بنقيصة فيه، لأن الشيئ إنما يسمى ناقصًا بالإضافة إلى ما هو أتم منهَ وأكمل من نوعه...... فقد مرض صلى الله عليه وسلم، واشتكى، وأصابه الحر والقر، وأدركه الجوع والعطش، ولحقه الغضب والضجر، وناله الإعياء والتعب، ومسه الضعف والكبر، وسقط فجحش شقه، وشجه الكفار، وكسروا رباعيته، وسُقِي السم، وسحر، وتداوى، واحتجم، وتنشر، وتعوذ، ثم قضى نحبه، فتوفى صلى الله عليه وسلم ولحق بالرفيق الأعلى، وتخلص من دارالامتحان والبلوى، وهذه سمات البشر التى لا محيص عنها. (الشفابتعريف حقوق المصطفى، القسم الثالث: فيما يجب النبى للنبى صلى الله عليه وسلم،الباب الثانى: فيما يخصهم فى الأمور النبوية ومايطرأ عليهم من العوارض البشرية:۱۷۸/۲،دارالكتب العليمة).

[2]) وحاصله أنه قسم البشر إلى ثلاثة أقسام: خواص، كالأنبياء، وأوساط، كالصالحين من الصحابة وغيرهم، وعوام، كباقى الناس. (ردالمحتار، كتاب الصلوة، مطلب: فى تفضيل البشر على الملائكة: ۲/۲٤۲دارعالم الكتب).

[3]) ومن قال: لا أدرى أن النبى صلى الله عليه وسلم كان إنسيًا أو جنيًا، يكفر، كذا فى الفصول العمادية. (الفتاوى الهندية، كتاب السير، الباب التاسع فى أحكام المرتدين، موجبات الكفر: ۲/۲٦۳رشيدية).

قوله:-أَنْسَى كَمَا تَنْسَوْنَ، فَإِذَا نَسِيتُ-: لكه څنګه چه تاسو نه هيره كيږي داسې مانه هم هيره كيږي، په دې وجه چه كله مانه هيرشي.

قوله:-أَنْسَى- همزهٔ مفتوحه او سين مخففه سره دې. او چاچه همزهٔ مضموم او سين مشدد سره ذكر كړې دې هغه صحيح نه دې.[1]

دَنسيان معنى: دَ نسيان لغوى مطلب، او اصطلاحى مطلب: دَ يو څيزنه دَ زړه غافل كيدو نوم دې. دَ نسيان يوه معنى دَ پريخودو هم راځى لكه چه دَ الله تعالى قول: ﴿ نَسُوا اللَّهَ فَنَسِيَهُمْ ﴾ كښې دَ نسيان معنى دَ ترك كولو ده.[2]

دَ انبياء كرامو عليهم السلام نه هيره ممكن ده كه نه؟ دَ حديث مبارك دَدې جملې نه معلوميږى چه دَ انبياء كرامو عليهم السلام نه په افعالو كښې دَ نسيان صدور ممكن دې. ليكن په دې خبره باندې دَعلماؤ كرامو اتفاق دې چه دَ الله تعالى دَ طرف نه دَ هغوى په نسيان باندې خبرداركولې شى. هغوى په نسيان باندې برقرار پاتې كيږى. بيا بعضې علماء دَدې خبرې قائل دى چه انبياء كرام دَهغوى په نسيان باندې فورى خبردار كولې شى او دَ بعضو په نيز فورى توګه باندې خبردار كول ضرورى نه دى. بلكه ترژونده پورې هغوى خبرول صحيح دى.[3]

علامه نووى رحمه الله فرمائى چه دَ رسول الله ﷺ اقوال بلاغيه (يعنى امور تبليغيه) كښې دَ سهو واقع كيدل په اجماع دَ امت ممكن نه دى. يعنى چه حضورپاك عليه السلام دَ الله تعالى په احكاماتو دَ تبليغ كښې سهوه يا نسيان كښې اخته شى او امت ته غلطه خبره اورسوى دا ممكن نه دى. البته په دنياوى معاملاتو كښې او عباداتو كښې اكثر وختونو كښې به په حضورپاك باندې نسيان راتلو. ليكن هم په هغه وخت دَ الله تعالى دَ طرف نه په حقيقت حال باندې خبردار كولې شو او په هغه نسيان كښې اخته كيدل به هم په حقيقت كښې دَ امت دَ تربيت دَ پاره فعلاً نمونه جوړيدله[4]

علامه ابن دقيق العيد رحمه الله فرمائى چه داحديث دَ انبياء كرامو عليهم السلام نه دَ سهو په صادريدو باندې دلالت كوى. عامة العلماء په دې باره كښې هم دغه مذهب دې لكه چه نبى كريم ﷺ پخپله ارشاد فرمائى چه مانه هم ستاسو دَهيرې په شان هيره كيږى. او په غلو كښې مبتلا يو ډلې په دې باره كښې نظريه داده چه په نبى باندې سهو نه شى راتلې بلكه نبى خو قصداً دَ نسيان والا صورت اختياروى دې دَ پاره چه امت ته فعلى تبليغ اوكړې شى. نو دا نظريه په قطعى توګه باندې باطله ده. څكه چه نبى كريم ﷺ خو پخپله خبر وركوى چه مانه هيره اوشوه. او دويمه خبره داده چه دَ داسې سړى صورت جوړول په چا چه هيره راځى

---

[1] اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح للبرماوى: ۱۴۶/۳.

[2] عمدة القارى: ۲۰۵/۴.

[3] عمدة القارى: ۲۰۵/۴.

[4] المنهاج شرح صحيح مسلم للنووى، كتاب الصلاة، مواضع الصلاة، صلاة المسافر، رقم الحديث: ۵۷۲، ۶۲/۵-۶۱.

نو دا خو عمداً د یو فعل د اختیارونکی په شان شو او افعال عمد به مونځ باطلوی.[۱]
ددې اقوالو خلاصه دا ده چه دلته دوه څیزونه دی یو افعال نبی او دویم اقوال نبی. دَ افعال نبی ﷺ باره کښې تحقیقی خبره داده چه په دغه افعالو کښې قصداً نسیان یا سهوه موجودیدل خو ممتنع ده یعنې دَ نبی نه ممکن نه ده. او سهو اَدَ هیرې موجودیدل ممکن دی لیکن داسې به دَ الله تعالی دَ طرف نه کیدل دې دَ پاره چه امت ته تعلیم اوشی او په هغې باندې به فوری یا څه وخت پس حضورپاک خبرولې شو. اوکه چرې اقوال نبوی ﷺ به دَ دینی امورو سره متعلق وو نو هم په هغې کښې سهو یا نسیان نه کیدلو. اوکه چرې اقوال نبی ﷺ دَ دنیاوی امورو سره متعلق وو نو په هغې کښې دَ نسیان دَ مضر نه کیدو دَ وجې دَ هغې واقع کیدل محال نه دی.[۲]

قوله: "فَذَكِّرُونِي": نوتاسو ماته رایادوئی. مراد دادې چه په مانځه کښې دَ تسبیح یا تکبیر په ذریعه ماته رایادوئ.[۳]

نبی کریم ﷺ ته څوځل سهو پیښه شوې وه؟: علامه انورشاه کشمیری ﷫ دَ علامه تقی الدین ابن دقیق العید ﷫ په حواله لیکلی دی چه هغوی فرمائیلی دی چه رسول الله ﷺ نه څلور ځل په مونځ کښې سهو شوې ده. په هغې کښې دَ دوو ذکر خو صحیح البخاری کښې دې. یوه دا واقعه چه په مذکوره حدیث کښې بیان شوه چه حضورپاک دَ څلورو رکعتو په ځائې پنځه رکعته مونځ اوکړو. دلته صراحت نشته دې لیکن وړاندې صراحت هم موجود دې.
دویمه واقعه دا شوې وه چه حضورپاک دَ څلورو رکعتو په مونځ کښې په دوو رکعتو باندې سلام اوګرځولو ددې ذکر هم موجود دې.
دریمه واقعه داده چه دَ حضورپاک نه نسیاناً قعده اولی پاتې شوه. دا صورت امام ابوداؤد ﷫ ذکرکړې دې.
څلورمه واقعه داده چه حضورپاک نه په مانځه کښې یو آیت هیر شو نودَ مونځ نه پس حضورپاک دَ حضرت عبدالله بن مسعود ﷛ نه تپوس اوکړو ولې ته په مونځ کښې نه وې؟ هغوی اووئیل آو جی زه موجود ووم. حضورپاک اوفرمائیل نو تا بیا ولې ماته هغه آیت رایاد نه کړو؟ دا څلور واقعات هغه دی کوم چه ابن دقیق العید ﷫ ذکرکړی دی. خودَ حضورپاک دَ سهو یو پنځم مقام هم په کتابونو کښې ملاویږی او هغه دادې چه حضورپاک دَمابنام په مونځ کښې دَ دریو رکعتو په ځائې دوه رکعتو باندې سلام ګرځولې وو.[۴]

---

[۱] إحكام الأحكام شرح عمدة الأحكام، كتاب الصلاة، باب: سجود السهو، جواز السهو على الأنبياء، الحديث: ۱۰۵، ۲۷۴/۱.
[۲] عمدة القاری: ۲۰۶/۴.
[۳] شرح الكرمانی: ۶۴/۴، عمدة القاری: ۲۰۵/۴.
[۴] فیض الباری: ۴۵/۲، العرب الشذی، كتاب الصلاة، باب: ماجاء فی سجدتی السهو قبل السلام، رقم الحديث: ۳۹۱، ۳۷۰/۱. رومبې واقعه صحیح البخاری کښې موجود ده. اوګورئی: حدثنا عثمان، قال: حدثنا جرير، عن منصور، عن إبراهيم، عن علقمة، قال: قال قال عبدالله صلى النبی صلى الله عليه وسلم، قال إبراهيم: لا أدری، زاد أو نقص، فلما سلم قيل له: يارسول الله! أحدث فی الصلاة شیئ؟ قال: وماذاک؟ قالوا: صليت كذا وكذا.......

د امام بخاری رحمه الله په نیز په مونځ کښې دکلام الناس د جواز حکم: علامه انورشاه کشمیری رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله د سهو حدیث څو ځل ذکر کړې دې او مختلف تراجم قائمولو سره ئی دَهغې نه دَ متعددو مسئلو استنباط کړې دې. لیکن ترجمه اوعنوان "جواز کلام الناس" ئی چرته نه ده قائم کړې. معلومه شوه چه په دې مسئله کښې هغوی دَ احنافو موافقت کړې دې. والله تعالی أعلم[1]

قوله: "وَإِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ": اوچه کله په تاسو کښې چاته په مانځه کښې شک شي.

دَ شک معنی اومفهوم: شک په لغت کښې خلاف یقین ته وائی او اصطلاح کښې دَ شک نه

...... فثنی رجليه، واستقبل القبلة، وسجد سجدتين، ثم سلم، فلما أقبل علينا بوجهه، قال: إنه لو حدث فى الصلاة شيئ لنبأتكم به، ولكن إنما أنا بشرمثلكم، أنسى كما تنسون، فإذا نسيت فذكرونى، وإذا شك أحدكم فى صلاته، فليتحر الصواب، ليتم عليه، ثم ليسلم، ثم يسجد سجدتين. (صحيح البخارى، كتاب الصلاة، باب: التوجه نحوالقبلة حيث كان، رقم الحديث: ۴۰۱). دويمه واقعه هم صحيح البخارى کښې موجود ده. وئی گورئی:حدثنا مسدد، قال: حدثنا يحيى، عن شعبة، عن الحكم، عن إبراهيم، عن علقمة عن عبدالله، قال: صلى النبى صلى الله عليه وسلم الظهر خمسا، فقالوا: أزيد فى الصلاة؟ قال: وما ذاك؟ قالوا: صليت خمسا، فثنى رجليه وسجد سجدتين. (صحيح البخارى كتاب الصلاة، باب: ماجاء فى القبلة ومن لا يرى الإعادة على من سها فصلى إلى غير القبلة، رقم الحديث: ۴۰۴).دريمه واقعه سنن ابى داؤد کښې موجود ده اوگورئی:حدثنا القعنبى، عن مالك، عن ابن شهاب، عن عبدالرحمن الأعرج عن عبدالله ابن بحينة أنه قال: صلى لنا رسول الله صلى الله عليه وسلم ركعتين، ثم قام فلم يجلس، فقام الناس معه، فلما قضى صلاته وانتظرنا التسليم كبر، فسجد سجدتين وهو جالس قبل التسليم، ثم سلم صلى الله عليه وسلم. (سنن أبى داؤد كتاب الصلاة، باب: من قام من ثنتين ولم يتشهد، رقم الحديث: ۱۰۳۶). څلورمه واقعه شرح السنة للبغوى کښې موجود ده. ليکن په دې واقعه کښې دَ حضورپاک عليه السلام سوال دَ حضرت أبى رضى الله عنه نه وو، وئی گورئی:عن عبدالله بن عمر أن النبى صلى الله عليه وسلم صلى صلاة، فقرأفيها، فلبس عليه، فلما انصرف، قال: لأبى: أصليت معنا؟ قال: نعم، قال: فما منعك؟ ومعقول أن المرادمنه: ما منعك أن تفتح على. (شرح السنة للبغوى، كتاب الصلاة باب: قعود بين السجدتين، رقم الحديث: ۶۶۵). اودَ سنن ابى داؤد په روايت کښې دَدوى نه علاوه دَ يو متعين صحابى نه بغيردا قصه موجود ده، وئی گورئی:عن المسوربن يزيد المالكى أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال يحيى وربما قال شهدت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقرأفى الصلاة، فترك شيئالم يقرأه، فقال له رجل يا رسول الله! تركت آية كذا وكذا، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم:"هلا أذكرتنيها" (سنن أبى داؤد،كتاب الصلاة،باب: الفتح على الإمام فى الصلاة، رقم الحديث: ۹۰۷). اوپنځمه واقعه المستدرك على الصحيحين للحاكم کښې موجود ده وئی گورئی.أخبرنا أبوعمرو عثمان بن أحمد بن سماك، ببغداد، ثنا على بن إبراهيم الواسطى، ثنا وهب عن جرير بن حازم، قال: سمعت يحيى بن أيوب، يحدث، عن يزيد بن أبى حبيب،عن سويد بن قيس، عن معاوية بن خديج، قال: صليت مع رسول الله صلى الله عليه وسلم المغرب فسها، فسلم فى ركعتين، ثم انصرف، فقال له رجل: يارسول الله! إنك سهوت فسلمت فى ركعتين، فأمر بلالا فأقام الصلاة، ثم أتم تلك الركعة، فسألت الناس عن الرجل الذى، قال: يارسول الله! إنك سهوت، فقيل لي: تعرفه، قلت: لا، إلا أن أراه، فمر بى رجل، فقلت: هو هذا، فقالوا: هذا طلحة بن عبيدالله. اختصره الليث بن سعد، عن أبى حبيب. (المستدرك على الصحيحين للحاكم، كتاب الصلاة، تحت باب التامين، رقم الحديث: ۹۶۰).

[1] فيض البارى: ۴۵/۲، انوارالبارى: ۲۰۱/۲.

مراد هغه کیفیت دې چه یو سړې د پوهیدو او نه پوهیدو د کیفیت په مینځ کښې وي، یو طرف ته د هغه خیال نه وي. او چه کله یو طرف ته د هغه خیال لاړ شي لیکن په بل طرف د ذهن نه جتکه ورنه شي نو دې ته ظن یعنی گمان وائي او کله چه هغه ته جتکه ورکړې شي نو هغې ته غالب گمان وائي کوم چه د یقین قائم مقام وي.[١]

قوله: "فَلْيَتَحَرَّ الصَّوَابَ": نو د صحیح خبرې معلومولو کوشش دې اوکړي.

تحری وائي د یو شئ د طلب کولو نبه کوشش کول. علامه کرماني رحمه الله فرمائي چه د "فليتحر" معنی ده "فليجتهد".[٢]

د صحیح بخاری کتاب الایمان کښې راتلونکې روایت کښې دا الفاظ دي: "فيتحرى الصواب".[٣]

د سنن النسائی او ابن ماجه روایت کښې "فليتحر أقرب ذلك من الصواب" الفاظ دي.[٤]

د صحیح مسلم یو روایت کښې "فليتحر الذی هو الصواب" الفاظ ملاویږي.[٥]

---

[١]) وقيل: الشک، ما استوى طرفاه، وهو الوقوف بين الشيئين لا يميل القلب إلى أحدهما، فإذا ترجح أحدهما ولم يطرح الآخر فهوظن، فإذا طرحه فهو غالب الظن، وهو بمنزلة اليقين. (التعريفات للجرجاني، باب:الشين، رقم التعريف: ١٠٢٢، ص: ١١٠). وكذا المصباح المنير في غريب الشرح الكبير، كتاب الشين: ٣٢٦/١.

[٢]) شرح الكرماني: ٦٤/٤.اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح للبرماوي: ١٤٦/٣.

[٣]) حدثنا إسحاق بن إبراهيم، سمع عبدالعزيز بن عبدالصمد، حدثنا منصور، عن إبراهيم، عن علقمة، عن ابن مسعود رضى الله عنه أن نبي الله صلى الله عليه وسلم صلى بهم صلاة الظهر، فزاد أو نقص منها، قال منصور: لا أدرى إبراهيم وهم أم علقمة، قال: قيل: يارسول الله! أقصرت الصلاة أم نسيت؟ قال: وما ذک؟ قالوا: صليت كذا وكذا، قال: فسجد بهم سجدتين، ثم قال: هاتان السجدتان لمن لا يدرى، زاد في صلاته أم نقص فتتحرى الصواب، فيتم ما بقي، ثم يسجد سجدتين. (صحيح البخاري في الأيمان، باب: إذا حنث ناسيًا في الأيمان، رقم الحديث: ٦٦٧١).

[٤]) أخبرنا إسمعيل بن مسعود، قال: حدثنا خالد بن الحارث، عن شعبة، قال: كتب إلى منصور، وقرأته عليه وسمعته يحدث رجلا، عن إبراهيم، عن علقمة، عن عبدالله، أن رسول الله صلى الله عليه وسلم صلى صلاة الظهر، ثم أقبل عليهم بوجهه فقالوا: أحدث في الصلاة حدث؟ قال: وما ذاک؟ فأخبروه بصنيعه، فثنى رجله، واستقبل القبلة، فسجد سجدتين، ثم سلم، ثم أقبل عليهم بوجهه، فقال: إنما أنا بشر أنسى كما تنسون، فإذا نسيت فذكروني وقال: لوكان حدث في الصلاة حدث أنبأتكم به وقال: إذا أوهم أحدكم في صلاته فليتحر أقرب ذلک من الصواب ثم ليتم عليه، ثم يسجد سجدتين. (سنن النسائي، كتاب الصلاة، باب: ما يفعل من صلى خمسًا، رقم الحديث: ١٢٤٣).

[٥]) حدثنا محمد بن بشار، حدثنا محمد بن جعفر، حدثنا شعبة، عن منصور، قال شعبة: كتب إلى وقرأته عليه، قال: أخبرني إبراهيم، عن علقمة، عن عبدالله، قال: صلى رسول الله صلى الله عليه وسلم صلاة لاندرى أزاد أو نقص، فسأل، فحدثناه، فثنى رجله، واستقبل القبلة، وسجد سجدتين، ثم سلم، ثم أقبل علينا بوجهه، فقال: لوحدث في الصلاة شيئ لأنبأتكموه، وإنما أنا بشر أنسى كما تنسون، فإذا نسيت فذكروني، وأيكم ما شک في الصلاة فليتحر أقرب ذلک من الصواب، فيتم عليه ويسلم ويسجد سجدتين. (سنن ابن ماجه، كتاب: إقامة الصلوة والسنة فيها، باب: ما جاء فيمن شک في صلاته فتحرى الصواب، رقم الحديث: ١٢١١).

هم دَ سنن النسائي يو روايت كښې "فليتحر الذي يرى أنه الصواب"[١]

او په يو بل روايت كښې "فلينظر أحرى ذلك إلى الصواب" الفاظ هم ملاويږي.[٢]
مقصود دَ ټولو نه هم يو دې چه په دوؤ امورو كښې دِ يو طلب كولو ته تحرى وئيلى شى په داسې حال كښې چه ددې نه به يو صحيح وى.[٣]

علامه كرمانى رحمه الله فرمائى چه دَ "الصواب" معنى: "الأخذ باليقين" او "البناء على الأقل" ده. خودَ امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دَدې معنى: "البناء على غالب الظن" ده.[٤]

دلته يو سوال پيدا كيږى چه دَ راوى خو بيان دې چه "لاادري، زاد او نقص" يعنى دَ هغه شك و نوچه چرته شك وو هلتهَ صواب ته (يعنى صحيح خبرې ته) څنګه رسيدې شى؟ نودَدې جواب دادې چه داسې تحرى كوم چه يقين سره لاحق شى اختياروئى.[٥]

دَ شک په وخت كړى دَتحرى په بنياد باندې دَ مونځ پوره كولو حكم: په دې ځائى كښې نبى اكرم ﷺ حكم وركړو چه كله تاسو ته دَ ركعتونو په شمير كښې شك پيدا شى نو بيا دَ ركعتونو شمير په ښه شان سره دَ سوچ او فكر په ذريعه متعين كړئې. داسې قسم رواياتو كښې تتبع نه پس دا خبره مخې ته راځى چه دَ شك په مسئله كښې دَ نبى كريم ﷺ نه درې قسم روايات نقل دى:

---

[١] وحدثنا عثمان، وأبوبكر، ابنا أبى شيبة، وإسحاق بن إبراهيم، جميعا عن جرير، قال عثمان: حدثنا جرير، عن منصور، عن إبراهيم، عن علقمة، قال: قال عبدالله: صلى رسول الله صلى الله عليه وسلم، قال إبراهيم: زاد أو نقص، فلما سلم قيل له: يارسول الله! أحدث فى الصلاة شيئ؟ قال: وما ذاك؟ قالوا: صليت كذا وكذا، قال: فثنى رجليه، واستقبل القبلة، فسجد سجدتين، ثم سلم، ثم أقبل علينا بوجهه فقال: إنه لو حدث فى الصلاة شيئ أنبأتكم به، ولكن إنما أنا بشر أنسى كما تنسون، فإذا نسيت فذكرونى، وإذا شك أحدكم فى صلاته فليتحر الصواب، فليتم عليه، ثم ليسجد سجدتين. (صحيح مسلم، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب: السهو فى الصلاة والسجودله، رقم الحديث: ٥٧٢).

[٢] أخبرنا محمد بن رافع، قال: حدثنا يحيى بن آدم، قال: حدثنا مفضل وهو ابن مهلهل، عن منصور، عن إبراهيم، عن علقمة، عن عبدالله، يرفعه إلى النبى صلى الله عليه وسلم قال: إذا شك أحدكم فى صلاته فليتحر الذى يرى أنه الصواب فيتمه، ثم يعنى: يسجد سجدتين، ولم أفهم بعض حروفه كما أردت. (سنن النسائى فى السهو، باب: ما يفعل من صلى خمسًا، رقم الحديث: ١٢٤٠).

[٣] أخبرنا سويد بن نصر، قال: أنبأنا عبدالله، عن مسعر، عن منصور، عن إبراهيم، عن علقمة، عن عبدالله، قال: صلى رسول الله صلى الله عليه وسلم فزاد أو نقص، فلما سلم قلنا: يارسول الله! هل حدث فى الصلاة شيئ؟ قال: لوحدث فى الصلاة شيئ أنبأتكموه، ولكنى إنما أنابشر أنسى كما تنسون، فأيكم ما شک فى صلاته فلينظر أحرى ذلک إلى الصواب، فليتم عليه، ثم ليسلم وليسجد سجدتين. (سنن النسائى فى السهو، باب: ما يفعل من صلى خمسًا، رقم الحديث: ١٢٤٢).

[٤] شرح الكرمانى: ٦٤/٤، اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح للبرماوى: ١٤٦/٣.

[٥] شرح الكرمانى: ٦٥/٤.

درېمبې قسم د روايت مطابق په ركعتونو كښې د شك پېښېدو په وخت دې د سره مونځ ادا كړي. دا روايت د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه نقل دې كوم چه په مصنف ابن ابى شيبه كښې موجود دې. دارنګ د اسحاق بن يحيى په طريق سره د حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه روايت په مجمع الزوائد كښې موجود دې.[1]
دويم روايت دادې كوم چه د صحيح بخارى په دې باب كښې موجود دې.[2]
په دې كښې دا خبره ذكر شوې ده چه دتحرى كولو نه پس دې په غالب ګمان باندې عمل كولو سره مونځ پوره كړي او د هغې نه پس دې سجد سهو اوكړي.
او درېم قسم روايت دادې چه بناء على الاقل دې اوكړي مثلاً چه په درېو او څلورو كښې ئې شك وى نو چونكه د درېو ادا كول يقينى دى نوهم درې كنړلو سره دې مونځ پورد كړي او په آخره كښې دې سجده سهو اوكړي. د دې روايت راوى حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه دې اودا په سنن ترمذى كښې موجود دې.[3]
د دې نه علاوه د حضرت ابو سعيد الخدرى رضي الله عنه روايت هم د دې مطابق دې كوم چه په سنن ابوداؤد كښې موجود دې.[4]
احنافو د شك راتلو په صورت كښې دا درېواړه روايتونه جمع كړي دى. هغه داسې چه په مونځ كښې په شك پيدا كيدو باندې په درجاتى اعتبار سره درې صورتونه دى:

---

[1]) عن ابن عمر رضي الله عنهما قال: "أما أنا فإذا لم أدر كم صليت، فإني أعيد". وأيضًا عن ابن عمر: في الذى لا يدرى ثلاثًا صلى أو أربعًا، قال: يعيد حتى يحفظ. (المصنف لابن أبى شيبة، كتاب الصلاة، من قال: إذا شك فلم يدركم صلى أعاد، رقم الحديث: ٤٤٥٤، ٤٤٥٥، ٣/٤٣٥).
دارنګ دا قول هم په المصنف كښې د حضرت ايوب، سعيد بن جبير، شعبى، شريح، طاؤس، عطاء او ميمون وغيره كبار تابعينو رحمهم الله نه هم نقل دې. (اوګورئى: رقم الحديث: ٤٤٥٦ – ٤٤٦٤). عن عبادة بن الصامت: "أن رسول الله صلى الله عليه وسلم سئل عن رجل سها فى صلوته، فلم يدركم صلى؟ قال: ليعد صلاته، وليسجد سجدتين قاعداً. رواه الطبرانى فى الكبير هكذا، وإسحاق بن يحيى لم يسمع من عبادة، والله أعلم. (بُغية الرائد فى تحقيق" مجمع الزوائد ومنبع الفوائد، كتاب الصلاة، باب السهو فى الصلاة، رقم الحديث: ٢٩٢٣، ٢/٣٥٥-٣٥٤).
[2]) صحيح البخارى، كتاب الصلاة، باب: التوجه نحوالقبلة حيث كان، رقم الحديث: ٤٠١.
[3]) عن عبدالرحمن ابن عوف قال سمعت النبى صلى الله عليه وسلم يقول: "إذا سها أحدكم فى صلاته فلم يدر واحدة صلى أو ثنتين، فليبن على واحدة، فإن لم يدر ثنتين صلى أو ثلاثًا فليبن على ثنتين، فإن لم يدر ثلاثًا صلى أو أربعًا فليبن، على ثلاث، وليسجد سجدتين قبل أن يسلم". (سنن الترمذى، أبواب الصلاة، باب ماجاء فى الرجل يصلى فيشك فى الزيادة والنقصان، رقم الحديث: ٣٩٨).
[4]) حدثنا محمد بن العلاء، حدثنا أبوخالد، عن ابن عجلان، عن زيد بن أسلم، عن عطاء بن يسار عن أبى سعيد الخدرى، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إذا شك أحدكم فى صلاته فليلق الشك، وليبن على اليقين، فإذا استيقن التمام سجد سجدتين، فإن كانت صلاته تامة كانت الركعة نافلة والسجدتان، وإن كانت ناقصة كانت الركعة تماما لصلاته وكانت السجدتان مرغمتى الشيطان. (سنن أبى داؤد، كتاب الصلاة باب: إذا شك فى الثنتين والثلاث، من قال: يلقى الشك، رقم الحديث: ١٠٢٤).

① كه چرې داسې شك ئې په اول ځل شوې دې نو مونځ دې د سره اوكړي. په اول ځل شك كيدو نه څه مراد دې؟ په دې كښې د فقهاؤ كرامو يو څو اقوال دى دكوم نه چه صحيح دادې چه په مونځ كښې هيريدل دهغه عادت نه وى، معنى دا ده چه كله په عمر كښې سهو شوې نه وى دا په اول روايت باندې عمل دې.

② كه د شك واقع كيدل ئې معمول وى يعني اكثر ورته شك پيدا كيږى نو په ښه شان سره دې سوچ اوفكر اوكړى او د غالب گمان مطابق دې عمل اوكړى. اود بعضې مشائخو په نيز دې سجده سهو نه كوى خود اكثرو مشائخو په نيزدې سجده سهو اوكړى. دا په دويم روايت باندې عمل شو.

③ اوكه چرې غالب گمان ئې نه قائميږى نو يقيني امر يعنى د كم شمير مطابق دې مونځ پوره كړى او په آخره كښې دې سجده سهو اوكړى. دا د دريم روايت مطابق عمل شو([1])

خود شوافعو په نيز صرف اوصرف بناء على الأقل دې اوكړى يعنى كه د ركعت پاتې كيدو باره كښې شك پيدا شى چه هغه يو ركعت كړې دې كه دوه، يا درې ركعته يا څلور ركعته نو په ده باندې لازم دى چه د كم والا صورت دې اختيار كړى لكه چه دوه ركعته ادا كړې شوى دى كه درې؟ نو په دې كښې د دوؤ ادا كيدل خو يقيني دى د دريم شك دې. لهذا دې دې دوه ركعته شمير كولوسره خپل مونځ پوره كړى. هم دغه شان د باقى صورتونو حكم دې. الغرض ددې حضراتو په نيز صرف په يو قسم روايت باندې عمل كولې كيږى([2])

حضرت مولانا انورشاه كشميرى رحمه الله فرمائى چه د احاديثو نه تائيد هم زمونږ د مذهب راؤځى. ځكه چه بيا د سره د مونځ كولو روايت هم دې. مثلاً مصنف ابن ابى شيبه كښې تحرى او اخذ بالاقل روايت هم دې. لكه څنګه چه په مسلم شريف او دا بخارى شريف كښې دې. لهذا مونږ په ټولو احاديثو باندې عمل اوكړو او شافعيه صرف د اقل والا باندې عمل اوكړو اود باقى ټولو ئې تاويل اوكړو. او تحرى صواب ئې هم په اقل باندې محمول كړو حالانكه په لغت كښې بالكل ددې خلاف دى اوددې اصل معنى لغو كول صحيح نه ده. خاص كر په شريعت كښې د غالب گمان اعتبار په ډيرو ابوابو كښې موجود هم دې. لهذا دې نوع لره دلته د غير معتبر گرځولو هيڅ وجه نشته. بل د هغوى په مذهب باندې به يو نوع د هغې د حكم نه بلكليه خالى كول لازم راشى كوم چه صحيح نه دې([3])

قوله: "فَلْيُتِمَّ عَلَيْهِ": اوهم ددې مطابق دې خپل مونځ پوره كړئى.

د "تَمَّ" صله چه كله "على" وى نودا د اتمام په معنى وى. دتحرى كولو نه پس د غالب گمان

[1]) البحرالرائق كتاب الصلوة، باب سجود السهو: ١٩٢/٢.الجوهرة النيرة، كتاب الصلوة، باب سجودالسهو: ٩٣/١. ردالمحتار مع الدرالمختار، كتاب الصلوة، باب سجودالسهود: ٥٦١/٢-٥٦٠.

[2]) المجموع شرح المهذب كتاب الصلاة، باب سجود السهو: ٣٩/٤. العزيز شرح الوجيز المعروف ب الشرح الكبير، كتاب الصلاة، الباب السادس فى السجدات، القول فى سجود السهو: ٨٢/٢ الحاوى الكبير للماوردى، كتاب الصلاة، باب سجود السهو وسجود الشكر: ٢١٢/٢.

[3]) انوارالبارى: ٢٩١/١٢.

مطابق خپل مونځ پوره كول د امام صاحب ابوحنيفه رحمه الله په نيز دى او په يقين باندې بنياد كيخودل د امام شافعى رحمه الله په نيز دى.[1]

قوله: "ثُمَّ لِيُسَلِّمْ، ثُمَّ يَسْجُدُ سَجْدَتَيْنِ": بيا سلام گرځولو سره دې دوه سجدې د (سهو) اوكړى.

په يو روايت كښې د "ثم يسجد سجدتين" په ځائې "ثم ليسجد سجدتين" الفاظ دى. مراد دادې چه د سهو د وجې نه دې دوه سجدې اوكړى.[2]

په مذكوره روايت باندې يو اشكال اودهغې جواب: په مذكوره حديث كښې يو تعارض معلوميږى هغه داسې چه د حديث باب په شروع كښې د سلام نه مخكښې په سجده كولو باندې دلالت وو او په آخر حديث كښې روستو د سلام نه سجده سهو كولو باندې دلالت دې. ددې جواب دا وركړې شوې دې چه په دې سره د دواړو امورو د جواز طرف ته اشاره كړې شوې ده.[3]

سجده سهو به د سلام نه مخكښې كولې شى كه د سلام نه پس؟: د حديث پاك په دې آخرى جمله كښې د حضورپاك عليه السلام فرمان دې چه د سلام گرځولو نه پس د سهو دوه سجدې اوكړئى. ددې نه ثابتيږى چه د سجده سهو وخت د سلام نه پس دې نه چه مخكښې.

د احنافو مذهب: په دې باره كښې د مختلف قسم احاديثو د راتلو د وجې ائمه كرامو رحمهم الله په مينځ كښې هم اختلاف پيدا شوې دې. چنانچه د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز افضل دادى چه د سلام نه پس دې دوه سجدې اوكړې شى.[4]

د سجده سهود پاره د سلام گرځولو طريقه: د سلام باره كښې د احنافو په نيز درې اقوال دى. يو مونځ گذار دې د خپلې مخې ته كتلو سره، ښى اوكس طرف ته د كتلو نه بغير سلام اووائى اوددې نه پس دې دوه سجدې اوكړى. دا قول مفتى به نه دې. دويم ښى اوكس دواړو طرفو ته مخ گرځولو سره دې سلام اوگرځوى. صاحب هدايه رحمه الله دا قول صحيح گرځولې دې.[5]

---

[1] عمدة القارى: ٢٠٦/٤.

[2] اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح للبرماوى: ١٤٧/٣، عمدة القارى: ٢٠٦/٤. علامه انور شاه كشميرى رحمه الله فرمائى چه حافظ ابن حجر رحمه الله "ثم ليسلم، ثم يسجد سجدتين" باندې خاموشى اختيار كړه او بغير د جواب وركولو نه وړاندې لاړو. په داسې موقع چه په خپل مذهب كښې كمزورى وى، خاموشى وى، او چرته چه څه قوت وى نو په نورو باندې نكير كښې د اعتدال د حد نه وړاندې كيدل، د اهل ادب او تحقيق د پاره مناسب نه دى. (انورالبارى: ١٩٩/٢).

[3] الكوثرالجارى: ٩٢/٢.

[4] الدرالمختار مع ردالمحتار، كتاب الصلاة، باب سجود السهو: ٥٤٠/٢. الهداية، كتاب الصلاة، باب سجودالسهو: ٣٣١/١. بدائع الصنائع، كتاب الصلاة، باب: سجود السهو، فصل فى بيان محل سجود السهو: ٧١١/١.

[5] ويأتى بتسلمتين، هوالصحيح. (الهداية، كتاب الصلاة، باب: سجدالسهو: ٣٣١/١، المكتبة البشرى).

اودې ته په بدائع الصنائع کښې د عامة العلماء قول وئیلې شوې دې[۱]
دریم صرف ښی طرف ته سلام ګرځولو سره دوه سجدې اوکړې شي، په دې قول فتویٰ ده.[۲]
دَ شوافعو مذهب: دَ شوافعو په نیز سجده سهو کول واجب نه ده بلکه سنت ده. او دَ اصح قول مطابق دَ سلام ګرځولو نه مخکښې به سجده سهو کولې شي. دې نه علاوه دوه روایتونه نور دی. یو روایت دَ امام مالک رحمه الله مطابق دې او دَ دې قائل امام مزني رحمه الله دې. او دویم روایت دَهغوی قدیم قول دې چه دَ غلطئ کیدو په وجه مونځ ګذار ته اختیار دې چه دَ سلام نه مخکښې سجده سهو اوکړي یا دَ سلام نه پس.[۳]
دَ اصح قول مطابق به دَ سجده سهو طریقه دا شي چه په قعده آخره کښې تشهد، درود، دعا ټول هرڅه وئیلو نه پس به دوه سجدې کولې شي او دَ دې نه پس به سلام ګرځولې شي. دَ شوافعو دلیل دَ نبی کریم ﷺ هغه حدیث دې کوم چه امام بخاري رحمه الله [۴]
دَ حضرت عبدالله بن بُحَینَه رضي الله عنه نه روایت کړې دې په کوم کښې چه دی: ((کبر قبل التسليم، فسجد سجدتين وهو جالس، ثم سلم)).
علامه رشید احمد صاحب ګنګوهي رحمه الله فرمائي چه شوافع په خپل مذهب باندې داسې استدلال کړې دې چه دَ سجده سهو قبل السلام والا دَ حدیث راوي متأخر الإسلام دې لهذا دا حدیث به هم دَ روستو وخت وي. نو دَ دې جواب ظاهر دې چه دا خو بې بنیاد دَ نسخ دعوی

[۱] وعامتهم على أنه يسلم بتسليمتين عن يمينه وعن يساره قول النبي صلى الله عليه وسلم: "لكل سهو سجدتان بعد السلام"، ذكر السلام بالألف واللام، فينصرف إلى الجنس أو إلى المعهود، وهما تسليمتان. (بدائع الصنائع، كتاب الصلاة، باب سجودالسهو، فصل في قدر سلام السهو وصفته: ۱/۷۱۶).

[۲] هذا قول الجمهور، منهم شيخ الإسلام وفخر الإسلام. وقال في الكافي: إنه الصواب، وعليه الجمهور، وإليه أشار في الأصل ۱هـ (حاشية ابن عابدين، كتاب الصلاة، باب سجودالسهو: ۲/۵۴۰). أحدهما: "انه يسلم عن يمينه فقط، وصححه في المجتبى". ثانيهما لو سلم التسليمتين سقط عنه سجود السهو لأنه بمنزله الكلام، حكاه الشارح عن خواهر زاده، فقد اختلف التصحيح فيها. والذي ينبغي الاعتماد عليه تصحيح المجتبى أنه يسلم عن يمينه فقط لأن السلام عن اليمين معهود وبه يحصل التحليل فلاحاجة إلى غيره. (البحرالرائق، كتاب الصلاة، باب سجودالسهو: ۲/۱۶۵). وقال ابن عابدين في حاشيته المسمى بمنحة الخالق تحت **قوله**: "أحدهما أنه يسلم عن يمينه فقط" والحاصل أن ما صححه في المجتبى هو بعينه ما تقدم أنه قول الجمهور وأنه الأصوب والصواب. (منحة الخالق على البحرالرائق، كتاب الصلاة، باب سجودالسهو: ۲/۱۶۵).

[۳] العزيزشرح الوجيز المعروف ب الشرح الكبير للقزويني، كتاب الصلاة، باب سجودالسهو: ۲/۹۹-۹۷. منهاج الطالبين وعمدة المفتين للنووي، كتاب الصلاة، باب سجودالسهو، ص: ۱۱۲. المغنى المحتاج إلى معرفة معاني المنهاج، كتاب الصلاة، باب سجودالسهو: ۱/۳۲۳.

[۴] حدثنا عبدالله بن يوسف، أخبرنا مالک بن أنس، عن ابن شهاب، عن عبدالرحمن الأعرج، عن عبدالله ابن بحينة رضى الله عنه، أنه قال: صلى لنا رسول الله صلى الله عليه وسلم ركعتين من بعض الصلوات، ثم قام، فلم يجلس، فقام الناس معه، فلما قضى صلاته ونظرنا تسليمه، كبر قبل التسليم، فسجد سجدتين وهو جالس، ثم سلم. (صحيح البخاري، كتاب اصلاة، أبواب ما جاء في السهو، رقم الحديث: ۱۲۲۴).

ده. ځکه چه د راوی متاخر الإسلام کیدو سره د حدیث مؤخر کیدل نه لا زمیږی.[۱]

دَ مالکيۇ مذهب: دَ مالکيه په نيز که په مونځ کښې څه کمې پاتې شوې وی نودَ سلام نه مخکښې به دوه سجدې کولې شی او په مانځه کښې که دَ يوفعل زياتوالې واقع شوې وی نو دَ سلام نه پس به دوه سجدې کولې شی.[۲]

اوکه چرې دَ يو مونځ په څه رکن کښې کمې هم اوشی او زياتې هم، نودَ مالکيۇ په نيز سجده سهو به دَ سلام نه مخکښې وی ځکه چه دَهغوی په نيز نقص ته په زياتی باندې غلبه ورکولې شی.[۳]

علامه رشيداحمد گنگوهی رحمه الله فرمائی چه مالکيۇ په احاديث نبويه کښې غور کولو نه پس دا ثابت کړې وو چه دکمی کيدو په صورتونو کښې نبی کريم ﷺ سجده سهو مخکښې دَ سلام نه کړې وه او په مونځ کښې دَ زياتی کيدو په صورتونو کښې نبی کريم ﷺ سجده سهو دَ سلام نه پس کړې وه. نودَې جواب دادې چه دَ سنن الترمذی باب ماجاء فی الإمام ينهض فی الركعتين ناسيًا کښې يو روايت تير شوې دې.[۴]

چه حضرت مغيره بن شعبه رضی الله عنه مونځ ورکړو او په دوو رکعتو باندې دَ تشهد وئيلو نه بغير اودريدو. مقتديانو سبحان الله اووئيل نو په جواب کښې هغوی هم سبحان الله اووئيل بيا دَ مونځ په آخره کښې هغوی دَ سلام گرځولو نه پس دوه سجدې اوکړې او بيانې اوفرمائيل چه رسول الله ﷺ هم داسې کړې وو. اوس غوراوکړئی چه په دې حديث کښې په مونځ کښې دَ کمی باوجود سجده سهو دَ سلام گرځولو نه پس اوکړې شوه لهذا دا حديث به دَ امام مالک رحمه الله خلاف حجت وی.[۵]

په دې باندې شيخ الحديث حضرت مولانا محمدزکريا کاندهلوی رحمه الله فرمائی چه دَ مالکيۇ مذهب دَ هغه احاديثو هم خلاف دې په کوم کښې چه دا حکم دې چه په مونځ کښې دَ شک پريوتلو په صورت کښې دې مونځ گذار په يقين باندې بناء اوکړی او دوه سجدې به مخکښې دَ سلام نه اوکړی. اوس غور اوکړئی چه په دې احاديثو کښې مونځ گذار ته دا شک دې چه هغه مونځ پوره کړې دې او که په دغه مونځ کښې ئې څه زياتې کړې دې او په داسې

---

[۱]) الكوكب الدرى، كتاب الصلاة، باب ماجاء فى سجدتى السهو قبل السلام: ۱۷۳/۱ سعيد.

[۲]) بداية المجتهد، كتاب الصلاة، الجملة الرابعة فى قضاء الصلاة وجبر ما يقع فيها من خلل، الباب الثالث من الجملة الرابعة فى سجودالسهو، الفصل الثانى فى معرفة مواضع سجودالسهو: ۱۹۲/۱. متن الأخضرى فى العبادات على مذهب الإمام مالک، كتاب الصلاة، باب فى السهو،ص:۱۶. بُلغة السالک لأقرب المسالک المعروف ب حاشية الصاوى على شرح الصغير، كتاب الصلاة، فصل فى بيان سجودالسهو، السجودالقبلى والبعدى للسهو: ۳۵۶/۱.

[۳]) الكوكب الدرى، كتاب الصلاة، باب ماجاء فى سجدتى السهو قبل السلام: ۱۷۲/۱، سعيد.

[۴]) عن شعبى قال: صلى بنا المغيرة بن شعبة، فنهض فى الركعتين، فسبح به القوم، وسبح بهم، فلما قضى صلاته سلم، ثم سجد سجدتى السهو، وهوجالس، ثم حدثهم أن رسول الله صلى الله عليه وسلم فعل به مثل الذى فعل. (سنن الترمذى، كتاب الصلاة، باب ماجاء فى الإمام ينهض فى الركعتين ناسيًا، رقم الحديث: ۳۶۴).

[۵]) الكوكب الدرى، كتاب الصلاة، باب ماجاء فى سجدتى السهو قبل السلام: ۱۷۳/۱، سعيد.

صورت كښې دَ مالكيؤ په نيز سجده سهوه روستو دَ سلام نه كول پكاردي. حالانكه په دې احاديثو كښې مخكښې دَ سلام نه دَ سجده سهو كولو حكم دې. كيدې شي چه هم په دې وجه علامه باجي رحمه الله وغيره په داسې رواياتو كښې دَ تاويل نه كار اخستې دې.([1])

دَ حنابلؤ مذهب: دَ حنابلؤ په نيز كه چرته دَ مونځ گذار نه داسې غلطي اوشي كومه چه دَ حضورپاك نه نقل ده په هغې كښې به سجده سهو داسې كولې شى لكه څنګه چه په حديث كښې راغلى دى. اوكه چرې دَ مونځ ګذار نه داسې غلطى او سهو اوشې كومه غلطى اوسهو چه دَ حضورپاك نه ثابته نه وى، په هغې كښې دَ امام احمد رحمه الله مذهب دَ شوافع مطابق دې. يعنې سجده سهو به دَ سلام نه مخكښې وى.([2])

بادى النظر كښې دَ حنابلو مذهب ډير زيات زړه راښكونكې دې ليكن حقيقت دادې چه كما حقه په دغه مذهب باندې عمل كول ممكن نه دى ځكه چه حضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه په حديث كښې دى چه نبى كريم ﷺ په مونځ كښې قعده اولى هيره كړه نو حضورپاك دَ سلام نه پس سجده سهوه اوكړه.([3])

اودَ حضرت عبدالله بن بحينه روايت كښې دى چه دَحضورپاك نه دَ ماسپښين په مونځ كښې قعده اولى هيره شوه او اودريدو نو حضورپاك مخكښې دَ سلام نه سجده اوكړه([4])

دا دواړه احاديث صحيح دى. ليكن اوس دَ امام احمد بن حنبل رحمه الله مذهب مخې ته كيخودو سره چه سوچ اوكړې شى چه په دوؤ صحيح احاديثو كښې هم په يو قسم غلطئ باندې دوه شان عملونه موجود دى، نو اوس په دې باندې دَ عمل كولو څه صورت ممكن دې؟

دَ احنافو دلائل: په دې مسئله كښې دَ احنافو استدلال دَ حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دَ حديث نه دې كوم چه امام بخارى رحمه الله روايت كړې دې:

«عن عبدالله بن مسعود أن رسول الله صلى الله عليه وسلم صلى الظهر خمسًا، فقيل له: أزيد في الصلاة؟ فقال: وما ذاك؟ قال: صليت خمسًا، فسجد سجدتين بعد ما سلم»([5])

دويم دليل هم دَ صحيح بخارى حديث دې كوم چه په مذكوره باب كښې تيرشوې دې په كوم

---

[1]) الكوكب الدري، كتاب الصلاة، باب ماجاء في سجدتي السهو قبل السلام: ۱۷۳/۱، سعيد.

[2]) المغني لابن قدامة، كتاب الصلاة، باب سجدتي السهو، مسئلة: وما عدا من السهو فسجوده قبل السلام: ۴۱۵/۲. الشرح الكبير للمقدسي مطبوع تحت "المقنع"، كتاب الصلاة، باب سجودالسهو: ۱۹/۴. الإنصاف في معرفة الراجح من الخلاف للمرداوي مطبوع مع المقنع والشرح الكبير، كتاب الصلاة، باب سجودالسهو: ۴/۲۱-۱۹.

[3]) عن شعبي قال: صلى بنا المغيرة بن شعبة، فنهض في الركعتين، فسبح به القوم، وسبح بهم، فلما قضى صلاته سلم، ثم سجد سجدتي السهو، وهوجالس، ثم حدثهم أن رسول الله صلى الله عليه وسلم فعل به مثل الذى فعل. (سنن الترمذي، كتاب الصلاة، باب ماجاء في الإمام ينهض في الركعتين ناسيًا، رقم الحديث: ۳۶۴).

[4]) عن عبدالله بن بحينة الأسدي، حليف بني عبدالمطلب: أن النبي صلى الله عليه وسلم قام في صلاة الظهر وعليه جلوس، فلما أتم صلاته سجد سجدتين، يكبر في كل سجدة وهو جالس، قبل أن يسلم وسجدهما الناس معه مكان مانسي من الجلوس. (سنن الترمذي، كتاب الصلاة، باب ماجاء في سجدتي السهو قبل السلام، رقم الحديث: ۴۰۰).

[5]) صحيح البخاري كتاب الصلاة، باب إذا صلى خمسًا، رقم الحديث: ۱۲۲۶.

کښې چه صفا په وضاحت سره دی: ((فلیتحر الصواب، فلیتم علیه، ثم لیسلم، ثم یسجد سجدتین))[۱]
دریم دلیل دَحضرت عبدالله بن جعفر رضی الله عنه حدیث دې کوم چه امام ابوداؤد رحمه الله روایت کړې دې: ((عن عبدالله بن جعفر أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: "من شك في صلاته، فلیسجد سجدتین بعدمایسلم"))[۲].
څلورم دلیل دَ حضرت عمران بن حصین روایت دې کوم چه امام مسلم رحمه الله روایت کړې دې دَهغې آخره کښې دی: ((فصلی الرکعة التي کان ترك، ثم سلم، ثم سجد سجدتی السهو، ثم سلم))[۳]
پنځم دلیل هغه آثار دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم دی کوم چه په سجده سهو مخکښې دَ سلام باندې دلالت کوی. په هغوی کښې دَ حضرت عبدالله بن عباس، حضرت عبدالله بن مسعود، حضرت علی، حضرت سعد بن ابی وقاص، حضرت عمار، حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنهم وغیره شامل دی. اوګورئی: شرح معانی الآثار اومصنف لابن ابی شیبه.[۴]
شپږم دلیل عقلی دې چه روستو دَ سلام نه سجده کولو کښې عبادت او مشقت زیات دې ځکه چه په دغه صورت کښې التحیات دوه ځل وئیلې کیږی نو دا صورت افضل ګرځول بهتر دی[۵].
اووم دلیل نظر طحاوی دې چه سجده سهوه دَ نورو سجوو واجبة في الصلاة په شان نه وی چه دَ هغې واجبیدو سره فوری اداکول ضروری وی بلکه دَدې واجبیدل علی سبیل التاخیر وی. اوس دا تاخیر څومره کیدل پکاردی؟ نو په دې کښې دَ ائمه مجتهدینو اختلاف دې. دَ بعضې رجحان دې طرف ته شو چه دَ سلام نه علاوه دَ باقی ټولو افعالو دَ مونځ نه روستو کیدل پکاردی اودَ بعضو رجحان داجوړ شو چه دَ سلام نه هم روستو کول پکاردی. لیکن دا غور کولو سره راجح دا معلومیږی چه کله په اتفاق سره دَ سلام نه علاوه دَ باقی ټولو افعالو نه دا روستو کولې شی او باقی افعال په دغه سجده باندې مقدم کولې شی نو دَ قیاس او نظر تقاضا دا جوړیږی چه دَ نورو کارونو په شان دې سلام هم دَ دغه دوو سجدو نه مقدم وی

[۱] صحیح البخاري، کتاب الصلاة، باب التوجه نحو القبلة حیث کان، رقم الحدیث: ۴۰۱.
[۲] سنن أبي داؤد، کتاب الصلاة، باب من قال بعدالتسلیم، رقم الحدیث: ۱۰۳۳.
[۳] وحدثنا إسحاق بن إبراهیم، أخبرنا عبدالوهاب الثقفي، حدثنا خالد وهو الحذاء، عن أبي قلابة، عن أبي المهلب، عن عمران بن حصین، قال: سلم رسول الله صلی الله علیه وسلم في ثلاث رکعات، من العصر، ثم قام فدخل الحجرة، فقام رجل بسیط الیدین، فقال: أقصرت الصلاة یارسول الله؟ فخرج مغضبا، فصلی الرکعة التي کان ترک، ثم سلم، ثم سجد سجدتین السهو، ثم سلم. (صحیح مسلم، کتاب الصلاة، باب السهو في الصلاة والسجود له، رقم الحدیث: ۵۷۴.)
[۴] شرح معاني الآثار، کتاب الصلاة، باب سجودالسهو في الصلاة، هل هو قبل التسلیم أو بعده:۵۶۹-۱/۵۶۳. المصنف لابن أبي شیبة، کتاب الصلاة، في السلام في سجدتي السهو: قبل السلام أو بعد، رقم الحدیث: ۴۴۷۰، ۴۴۸۱، ومن ان یقول: اسجدهما قبل أن تسلم، رقم الحدیث: ۴۴۸۲، ۴۴۸۳.
[۵] معارف السنن، کتاب الصلاة، باب ماجاء في سجدتي السهو قبل السلام، رقم الحدیث: ۴۰۰، ۱/۴۸۹.

اودا سجدې دې دَ سلام نه روستو وی(۱).

دَ احنافو دَ مذهب دَ ترجيح وجه: احنافو ته په دې توګه وجه ترجيح حاصله ده چه په دې باب کښې احاديث فعليه او قوليه دواړه قسم دی. په کوم کښې چه په غور کولو سره دا خبره مخې ته راځی چه دَ حضورپاك فعل په دواړه طريقو سره ملاويږی. مخکښې دَ سلام نه هم او روستو دَ سلام نه هم. چنانچه احنافو دَ حضورپاك هغه فعل ته ترجيح ورکړه دَ کوم مطابق چه دَ حضورپاك قول هم وو. دغه شان دَ احنافو په نيز په قول او فعل دواړو باندې عمل اوشو.

په دې باندې دَ شوافعو دَ طرف نه دا اعتراض کيږی چه لکه څنګه دَ احنافو سره دَ فعلی سره سره قولی حديث هم شته. دغه شان شوافعو سره هم دواړه احاديث موجود دی. نو دې جواب دادې چه په احاديث قوليه کښې چه کله تعارض پيدا شی نو دَ قياس په ذريعه ترجيح ورکولې شی. دَ قياس تقاضا داده چه دَ سلام په ذريعه په سجده سهو کښې فصل کيدل پکاردی. ځکه چه سجده سهو دَ مونځ دکمی پوره کولو شئ دې اودَ يو شئ کمی پوره کونکې شئ دَ هغه څيز غير وی. لکه په فرض مونځونو کښې دننه دَ سنتو کوتاهی دَ مونځ نه پس سنت او ذکرونه دغه کمې پوره کوی. لهذا دلته هم سجده سهو دَ سلام نه پس راتلل پکاردی دې دَ پاره چه دَ کمی پوره کونکی شئ سره جدائی راشی اودا دَ اصل شئ غير ثابت وی. ليکن چونکه دواړه طريقې سجده سهو مخکښې دَ سلام نه او روستو دَ سلام دَ حضورپاك نه قولاً او فعلاً ثابتې دی لهذا مونږ څوك نه شو منع کولې(۲).

په مذکوره مسئله کښې دَ مذاهبو دَ اختلاف حيثيت: دَ سلام نه مخکښې يا روستو سجده سهو کولو کښې دَ ائمه اختلاف دَ جواز او عدم جواز نه دې بلکه دَ افضل او غير افضل دې، يعنی دواړه جائز دی(۳).

دَ حضرت ګنګوهی رحمه الله يوه سهو او صحيح خبره: په دې مقام باندې دَ حضرت مولانا رشيد احمد ګنګوهی نه سهوه شوې ده. دَ مذاهبو دَ نقل کولو په وخت هغوی ليکلی دی چه دَ امام شافعی رحمه الله مذهب دادې چه سجده سهوه به پس دَ سلام نه کيږی ليکن مخکښې دَ سلام نه سجده کول جائز نه دی ځکه چه دَهغوی په نيز دَ هغوی دَ مستدل حديث نه علاوه باقی ټول منسوخ دی نو په منسوخ حديث باندې عمل کول څنګه جائز دی(۴)؟

شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائی چه حضرت ګنګوهی رحمه الله دَ امام ترمذی رحمه الله راتلونکې قول چه "سجدة السهو قبل التسليم" والا احاديث دَ نورو احاديثو دَپاره ناسخ دی، دَدې نه استدلال کړې دې چه دَ شوافعو په نيز سجده سهوه هلو جائز نه ده ځکه چه په منسوخ حديث باندې

---

(۱) شرح معانی الآثار، کتاب الصلاة، باب سجودالسهو فی الصلاة، هل هو قبل التسليم أو بعده؟: ۵۶۹-۱/۵۶۸.

(۲) الکوکب الدری، کتاب الصلاة، باب ماجاء فی سجدتی السهو قبل السلام: ۱/۱۷۳-۱۷۲، سعيد.

(۳) الدرالمختار مع ردالمحتار، کتاب الصلاة، باب سجودالسهو: ۲/۵٤۱، الهداية، کتاب الصلاة، باب سجودالسهو: ۱/۳۳۱، اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح للبرماوی: ۳/۱٤۸.

(۴) الکوکب الدری، کتاب الصلاة، باب ماجاء فی سجدتی السهو قبل السلام: ۱/۱۷۲، سعيد.

عمل صحيح نه وی. لیکن د شوافعو دمذهب اکثر ناقلینو په دې باندې اجماع نقل کړې ده چه دواړه شان جائز دی. چنانچه حافظ رحمه الله فتح الباری کښې دماوردی رحمه الله نه نقل کړی دی چه په دواړو د سجده سهوه کولو په جواز باندې اجماع ده. اختلاف خود افضلیت دې. دغه شان امام نووی رحمه الله د اجماع قول نقل کړی دې، "انتهی کذا فی الاوجز"[1].

دحدیث د ترجمة الباب سره مناسبت: دمذکوره حدیث د ترجمة الباب سره مناسبت د حدیث دې جملې "فثنی رجلیه واستقبل القبلة" سره دی[2].

دمذکوره حدیث نه مستنبط شوی احکام او فوائد: ددې حدیث شریف نه ډیرې زیاتې فائدې مستنبط کیږی. د هغې نه یو څو لاندې لیکلې شی:

① د صحابه کرامو رضی الله عنهم په دې سوال "أحدث فی الصلاة شیئ؟" سره د نسخ جواز معلومیږی[3].
② د انبیاء کرامو علیهم السلام نه سهوه او نسیان واقع کیدل هم معلومیږی[4].
③ ددې حدیث شریف نه هغه فقهاء کرامو دلیل نیسی څوك چه ددې خبرې قائل دی چه په هیره سره کلام کولو سره مونځ نه فاسد یږی[5].
④ په دې حدیث کښې په دې خبره باندې دلیل دې چه د سهو دوه سجدې وی[6].
⑤ په دې حدیث کښې په دې خبره باندې دلیل دې چه د سهو دوه سجدې د سلام نه پس دی نه چه مخکښې[7].
⑥ ددې حدیث نه داهم معلومیږی چه د (هغه) مونځ نه پس (په کوم کښې چه د فرضو نه پس سنت نه وی نو) امام دې د مقتدیانو طرف ته راګرځیدو سره کینی[8].
⑦ تابع ته د متبوع طرف نه د دې خبرې حکم ورکول چه کله مانه هیره اوشی نوماته رایادوئی، هم معلومیږی[9].
⑧ داهم معلومیږی چه د یو خبرې وضاحت دهغې د حاجت د وخت نه روستو کول نه دی پکار لکه چه حضورپاك اوفرمائیل «لوحدث فی الصلاة شیئ لنبأتکم به»[10].

[1] الکوکب الدری، کتاب الصلاة، باب ماجاء فی سجدتی السهو قبل السلام: ۱۷۲/۱، سعید.
[2] فتح الباری: ۶۵۲/۱، عمدة القاری: ۲۰۵/۴، کوثر المعانی الدراری فی کشف الخبایا صحیح البخاری: ۴۶/۷، الکنزالمتواری: ۹۱/۴.
[3] عمدة القاری: ۲۰۶/۴.
[4] عمدة القاری: ۲۰۶/۴.
[5] عمدة القاری: ۲۰۶/۴.
[6] عمدة القاری: ۲۰۶/۴.
[7] عمدة القاری: ۲۰۶/۴.کوثرالمعانی الدراری فی کشف الخبایا صحیح البخاری: ۵۳/۷.
[8] عمدة القاری: ۲۰۶/۴.
[9] المنهاج للنووی، کتاب الصلاة، مواضع الصلاة، صلاة المسافرین، رقم الحدیث: ۵۷۲، ۶۲/۵-۶۱.
[10] فتح الباری: ۶۵۳/۱عمدة القاری: ۲۰۶/۴.

⑨ په دې حدیث شریف کښې دَ احنافو دلیل دې چه کله په مونځ کښې چاته دَ رکعتونو په تعداد کښې شك واقع شی نوهغه دې تحری کولوسره خپل مونځ پوره کړی(۱).

⑩ په دې خبره باندې هم دلیل دې چه سجده سهو دَ متعدد اسبابو په وجه سره متعدد کیږی نه، بلکه چه څومره هم غلطیانې وی دَ هغې په تدارك کښې صرف هم دوه سجدې دی لکه چه په دې واقعه کښې حضورپاك په رکعتونو کښې هم سهوه شو اودې نه پس دَ حضورپاك نه کلام هم صادر شو(۲).

٥-باب: بَابُ مَا جَاءَ فِي القِبْلَةِ، وَمَنْ لَا يَرَى الإِعَادَةَ عَلَى مَنْ سَهَا، فَصَلَّى إِلَى غَيْرِ القِبْلَةِ

داباب دَ هغه روایاتو باره کښې دې کوم چه دَ قبلې باره کښې راغلی دی اودَ هغه حضراتو باره کښې دې څوك چه دَدې خبرې قائل دی چه په هیره سره دَ غیرقبلې طرف ته مونځ کونکی باندې دَ مونځ واپس راګرځول واجب نه دی.

دَترجمة الباب وضاحت: "وَمَنْ لَا يَرَى الإِعَادَةَ" او بعضې نسخو کښې "وَمَنْ لَمْ يَرَ الإِعَادَةَ" دې یعنی "لایری" په ځائې باندې "لم یر" دې. مقصود دَ دواړو نه هم یو دې. دَ "وَمَنْ لَا يَرَى الإِعَادَةَ" عطف په "القبلة" باندې دې. په دې صورت کښې به پوره عبارت "باب ماجاء فی من لایری الإعادة علی من سها، فصلی إلی غیرالقبلة" شی.(۳)

علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه کلمة "فصلی" کښې فاء تفسیریه ده او "فصلی" لفظ تفسیر دې دَ کلمه "سها"(۴).

علامه عینی رحمه الله دَدې په جواب کښې فرمائی: په دې تشریح کښې بُعد دې بهتر توجیه داده چه فاء سببیه جوړه کړې شی نه چه تفسیریه. لکه چه دَ الله تعالی قول: ﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَتُصْبِحُ الْأَرْضُ مُخْضَرَّةً ﴾ کښې فاء سببیه ده نه چه تفسیریه. او که چرې دَ "فصلی" په ځائې باندې "وصلی" وې نو زیاته بهتر به وه(۵). علامه عینی رحمه الله نور فرمائی. دا باب دَ ماقبل والا باب نه جدا دې، هلته دَ قبلې طرف ته دَ مخ کولو بیان وو او دلته دا خودل مقصود دی چه که یو سړې په غلطئ سره دَ قبلې نه علاوه بل طرف ته مخ کولو سره مونځ اوکړی نودَ هغه مونځ به اوشی او که نه؟ دَامام بخاري رحمه الله خپل مسلك په دې باره کښې دادې چه داسې سړې

---

۱) عمدة القاري: ۲۰۶/٤.
۲) عمدة القاري: ۲۰۶/٤.
۳) عمدة القاري: ۲۱۳/٤.
۴) شرح الکرماني: ۶۶/٤.
۵) عمدة القاري: ۲۱۳/٤.

په خپل مونځ واپس نه راګرځوی[1].

دَ ترجمة الباب مقصد: حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائی چه دَ شارحينو په نيز "ومن لا يرالإعادة على من سها" تفسيردې دَ "ماجاء في القبلة". او زمونږ په نيز "ماجاء في القبلة" جدا دې او "ومن لايرالإعادة على من سها" جدا دې. ځکه چه دَ قبلې باب اوس ختميږی او قاعده ده چه هر يو مصنف دَ باب په ختميدو باندې يو باب دَ مسائل شتی ليکی. په دې اعتبار سره دلته هم مسائل شتی امام بخاری رحمه الله ليکی[2].

دَ قبلې مشتبه کيدو په صورت کښې دَ مونځ حکم: دَدې مسئلې باره کښې دَ ائمو اختلاف دې. دَ احنافو په نيز مسئله داده چه کله دَ يو مونځ ګذار په قبله کښې شك پيدا شی او څوك دَ قبلې خودونکې نه وی او مونځ ګذار تحری او اجتهاد کولو سره يو طرف دَ قبلې دَ پاره متعين کړی او مونځ اوکړی. روستو ورته معلومه شی چه قبله خو بل طرف ته وه، نودَداسې سړی دَ پاره دَ دغه مونځ واپس راګرځول لا زم نه دی[3]. دَ حنابلؤ په نيز هم مسئله هم دغه شان ده[4]. دَ مالکيه په دې باره کښې دَوه اقوال دی. يو خو هم هغه کوم چه دَ احنافو په نيز دې او دويم دا چه په وخت کښې دننه دننه معلوميدو په صورت کښې به اعاده کوی[5]. دَ شوافعؤ په نيز مسئله دا ده چه دَمونځ نه فارغيدو نه پس ښکاره شو چه هغه خو مونځ دَ غير قبلې طرف ته ادا کړې دې، نودې به دَ سره مونځ اداکوی دا حکم په هغه صورت کښې دې کله چه ده ته په خپله خطا باندې کيدل بغيردَ کوشش نه معلوم شوی وی. او که باقاعده غور او فکر کولو سره هغه ته دَ خپلې غلطئ علم وی نو په هغه باندې اعاده واجب نه ده[6].

---

[1]) عمدة القاری: ۲۱۳/٤.

[2]) الکنزالمتواری: ٤/٩٤-٩٣. سراج القاری: ۴٤٢/۲.

[3]) البحرالرائق، كتاب الصلاة، شروط الصلاة: ١/٥٠٢-٤٩٨. الهداية، كتاب الصلاة، باب شروط الصلاة التی تتقدمها: ١/١٨٠-١٧٩،مکتبة البشری. الفتاوی الهندية، كتاب الصلاة، الباب الثالث: فی شروط الصلاة، الفصل الثالث فی استقبال القبلة: ١/٦٤.

[4]) المقنع مع الشرح الكبير والإنصاف، كتاب الصلاة، باب استقبال القبلة، مسئلة: ومن صلی بالاجتهاد إلی جهة، ثم علم أنه أخطأ القبلة: ۳/٣٥٤. الكافی لابن قدامة المقدسی، كتاب الصلاة، باب استقبال: ١/٢٦٠. المحرر فی فقه المذهب للإمام أحمد بن حنبل، كتاب الصلاة، باب استقبال القبلة: ١/٥٢.

[5]) بداية المجتهد، كتاب الصلاة، الجملة الثانية فی الشرط، الباب الثالث من جملة الثانية فی القبلة: ١/١١١. المدونة الكبری، كتاب الصلاة الأول، فيمن صلی إلی غير القبلة ١/١٧٤. الشرح الكبير للدردير و حاشية الدسوقی، كتاب الصلاة، فصل شروط صحة الصلاة، الشرط الرابع وهو استقبال القبلة: ١/٢٢٥.

[6]) الأم كتاب الصلاة، باب استقبال القبلة، فيمن استبان الخطأ بعد الاجتهاد: ۲/٢١٣. تحفة الحبيب علی شرح الخطيب المعروف ب حاشية البجيرمی علی الخطيب،كتاب الصلاة،فصل فی شروط الصلاة، القول فی مراتب القبلة وتعلم أدلتها: ٢/١٣٢. الحاوی فی فقه الشافعی، كتاب الصلاة، باب استقبال القبلة وأن لا فرض إلا الخمس: ٢/٨٦.

تعليق: «وَقَدْ سَلَّمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَكْعَتَيِ الظُّهْرِ، وَأَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ بِوَجْهِهِ ثُمَّ أَتَمَّ مَا بَقِيَ» [ر: ٤٦٨]

دَ تعليق ترجمه: او تحقيق نبي كريم ﷺ دَ ماسپښين په دوو ركعتو كښې سلام اوګرځولو سره دَخلقو طرف ته مخ كړو، دې نه پس چه كوم باقي پاتې شوې وو هغه ئې پوره كړې وو.

دَ تعليق تخريج: دعلامه ابن بطال رحمه الله ګمان دې چه دا حديث دَحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دَ حديث ټكړه ده[١]. علامه ابن حجر رحمه الله او علامه عيني رحمه الله فرمائي په دې معامله كښې ابن بطال رحمه الله ته وهم شوې دې. په دې وجه چه دَ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه په حديث كښې په دوو ركعتو دَ سلام ګرځولو هډو ذكرنشته دې. بلكه دا تعليق حو دَ حديث ابوهريره رضي الله عنه په كوم كښې چه ذواليدين ذكر دې[٢]. دَهغې ټكړه ده[٣].

دَ تعليق ترجمة الباب سره مناسبت: علامه عيني رحمه الله فرمائي چه دَمذكوره تعليق ترجمة الباب سره مناسبت په دې اعتبار سره دې چه څنګه دَ ترجمة الباب نه معلوميږي چه كوم سړې په هيره سره دَ غير قبلې طرف ته مخ كولو سره مونځ اوكړي نو په هغه باندې مونځ راګرځول واجب نه دي اوهم دا څيز دَ مذكوره تعليق نه معلوميږي. هغه داسې چه حضورپاك په غلطئ سره په دوو ركعتو باندې سلام اوګرځولو. دې نه پس دَ مقتديانو طرف ته مخ كولو سره كيناستو. بيا چه كله په غلطئ باندې خبر كړې شو نوبيائې قبلې ته مخ كولو سره مونځ پوره كړو. اوس چه څومره وخت حضورپاك دَ خلقو طرف ته متوجه دې دومره وخت دَ قبلې نه تاؤشوې دې حالانكه هغه وخت هم دَ حضورپاك شمير هم په مونځ كښې وو. او روستو بيا حضورپاك دَ مونځ اعاده هم اونه كړه[٤].

---

[١] وقد أشار البخاري في ترجمته إلى هذا الاستدلال من حديث ابن مسعود فقال: وقد سلم النبي عليه السلام في ركعتي الظهر وأقبل على الناس بوجهه....... إلخ. (شرح ابن بطال: ٧٨/٢).

[٢] حدثنا إسحاق، قال: حدثنا النضر بن شميل، أخبرنا ابن عون، عن ابن سيرين، عن أبي هريرة، قال: صلى بنا رسول الله صلى الله عليه وسلم إحدى صلاتي العشاء قال ابن سيرين: سماها أبوهريرة ولكن نسيت أنا، قال: فصلى بنا ركعتين، ثم سلم، فقام إلى خشبة معروضة في المسجد، فاتكأ عليها كأنه غضبان، ووضع يده اليمنى على اليسرى، وشبک بين أصابعه، ووضع خده الأيمن على ظهركفه اليسرى، وخرجت السرعان من أبواب المسجد، فقالوا: قصرت الصلاة؟ وفي القوم أبوبكر وعمر، فهابا أن يكلماه، وفي القوم رجل في يديه طول، يقال له: ذواليدين، قال: يارسول الله! أنسيت أم قصرت الصلاة؟ قال: لم أنس ولم تقصر، فقال: أكما يقول ذواليدين؟ فقالوا: نعم، فتقدم فصلى ما ترک، ثم سلم، ثم كبر وسجد مثل سجوده أو أطول، ثم رفع رأسه وكبر، ثم كبر وسجد مثل سجوده أو أطول، ثم رفع رأسه وكبر، فربما سألوه: ثم سلم؟ فيقول: نبئت أن عمران بن حصين، قال: ثم سلم. (صحيح البخاري، كتاب الصلاة، باب تشبيک الأصابع في المسجد وغيره، رقم الحديث: ٤٨٢).

[٣] فتح الباري: ٦٥٤/١، عمدة القاري: ٢١٣/٤.

[٤] (١ فتح الباري: ٦٥٤/١، عمدة القاري: ٢١٣/٤). حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائي: دَدې تعليق نه داسې استدلال دې چه حضورپاك په هيره سره سلام اوګرځولو اوخلقوته ئې مخ كړو، دَ قبلې طرف نه ئې مخ واړولو. بيا دَ صحابه كرامو رضي الله عنهم په خبردارولوسره ئې قبلې ته مخ كړو باقي مونځ ئې پوره كړو. سجده سهو كولوسره ئې سلام اوګرځولو. دلته دا عرض كول دې چه كه هغه رومبې مونځ صحيح نه وو نو څنګه اوشوه او پوره كيدل ئې څنګه صحيح شو؟ او سجده ئې څنګه اوكړه؟ كه چرې ....

حديث باب (دومبي حديث) [حديث نمبر ۳۹۴-۳۹۳]

۴۰۲- حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ قَالَ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ [۱] قَالَ قَالَ عُمَرُ وَافَقْتُ رَبِّي فِي ثَلَاثٍ، فَقُلْتُ يَارَسُولَ اللّٰهِ لَوِ اتَّخَذْنَا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى فَنَزَلَتْ (وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى) وَآيَةُ الْحِجَابِ قُلْتُ يَارَسُولَ اللّٰهِ، لَوْ أَمَرْتَ نِسَاءَكَ أَنْ يَحْتَجِبْنَ، فَإِنَّهُ يُكَلِّمُهُنَّ الْبَرُّ وَالْفَاجِرُ. فَنَزَلَتْ آيَةُ الْحِجَابِ، وَاجْتَمَعَ نِسَاءُ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فِي الْغَيْرَةِ عَلَيْهِ فَقُلْتُ لَهُنَّ عَسَى رَبُّهُ إِنْ طَلَّقَكُنَّ أَنْ يُبَدِّلَهُ أَزْوَاجًا خَيْرًا مِنْكُنَّ. فَنَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ.

د حديث ترجمه: د حضرت انس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي چه د دريو معاملاتو (باره) كښي حضرت عمر فاروق رضي الله عنه اوفرمائيل چه زما رائي زما پروردګار سره موافق شوه. يو دا چه ما عرض اوكړو يا رسول الله! كه چرې مونږ مقام ابراهيم مصلي (د مانځه ځائي) جوړكړو نو بهتر به وي. چنانچه دا آيت مبارك ﴿وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى﴾ نازل شو. دويمه موقع د حجاب يعني پردې د آيت ده. ما عرض اوكړو يارسول الله! كه چرې تاسو ازواج مطهرات ته په پرده كښي د اوسيدو حكم وركړئي نودا به بهتر وي. ځكه چه هغوى سره خبرې اترې كونكو كښي ښه او خراب هرقسم خلق وي. چنانچه دا آيت د حجاب ﴿وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَسْئَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ﴾ نازل شو. دريمه موقع دا شوه چه د رسول اكرم صلى الله عليه وسلم ازواج مطهرات د حضورپاك په خدمت كښي د ځان خودونكو جذباتو په وجه راجمع شوې نو ما د زجر په توګه هغوى ته اووئيل كه چرې رسول الله صلى الله عليه وسلم خفه شي او تاسو ټولو ته طلاق دركړي نو هيڅ عجيبه نه ده چه ستاسو پروردګار حضورپاك ته ستاسو نه بهترې بيبياني وركړي، نو هم دې مضمون آيت نازل شو. ﴿عَسَى رَبُّهُ إِنْ طَلَّقَكُنَّ أَنْ يُبْدِلَهُ أَزْوَاجًا خَيْرًا مِنْكُنَّ مُسْلِمَاتٍ مُؤْمِنَاتٍ قَانِتَاتٍ تَائِبَاتٍ عَابِدَاتٍ سَائِحَاتٍ ثَيِّبَاتٍ وَأَبْكَارًا﴾

تراجم رجال: د مذكوره حديث شريف په سند كښي ټول پنځه رجال دي:

① **عمرو بن عون رحمه الله:** دا ابوعثمان عمرو بن عون بن اوس بن الجعد السلمي الواسطي

...... حضورپاك د دغه وخته پورې هم په مونځ كښي وو نو بنا صحيح شوه. لهذا صلاة إلى غيرالقبلة ساهيًا لا زم شو او حضورپاك په هغې باندې بنا اوكړه. ښكاره دې وى چه صلاة إلى غير القبلة سهواً سره مونځ فاسديږي. (تقرير بخارى شريف: ۳۱۳/۲).

[۱] أخرجه البخارى أيضًا فى تفسير سورة البقرة، باب قوله تعالى: ﴿وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى﴾، رقم الحديث: ۴۴۸۳ - وفى تفسير سورة الأحزاب، باب قول الله تعالى: ﴿لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ﴾، رقم الحديث: ۴۷۹۰ - وفى سورة التحريم، باب قوله تعالى: ﴿عَسَى رَبُّهُ إِنْ طَلَّقَكُنَّ أَنْ يُبْدِلَهُ أَزْوَاجًا خَيْرًا مِنْكُنَّ﴾، رقم الحديث: ۴۹۱۶. وأخرجه مسلم فى صحيحه، فى فضائل الصحابة، باب من فضائل عمر، من حديث ابن عمر، رقم الحديث: ۲۳۹۹. وأخرجه الترمذى فى جامعه، فى التفسير، باب ومن سورة البقرة، رقم الحديث: ۲۹۶۰. وأخرجه ابن ماجه فى سننه، فى صلاة، باب القبلة، رقم الحديث: ۱۰۰۹. وفى جامع الأصول، حرف التاء، الكتاب الأول فى تفسير القرآن، سورة البقرة، رقم الحديث: ۴۷۴، ۹/۲.

الزاز رحمه الله دې. د ابو العجفاء السلمی ازاد کړې شوې غلام وو. د بصرې اوسیدونکې وو. دَدوی په مشهورو استاذانو کښې هشیم بن بشیر ، اسحاق بن یونس الازرق، حماد بن زید، خالد بن عبدالله الواسطی وغیره رحمهم الله شامل دی. اود دوی په مشهورو شاګردانو کښې امام بخاری، امام ابوداؤد، امام دارمی، احمدبن سلیمان الرهاوی، احمد بن محمد وزیر الواسطی وغیره رحمهم الله شامل دی.
یحیی بن معین، العجلی، یزید بن هارون، ابوزرعه او ابو حاتم وغیره رحمهم الله ټولو دَ دوی توثیق کړې دې. ابن حبان رحمه الله کتاب الثقات کښې دَ دوی ذکر کړې دې. دَ ابن حبان، امام بخاری، امام ابوداؤد او امام حاتم رحمهم الله دَ اقوالو مطابق دَ دوی وفات ۲۲۵هجری کښې شوې دې[1].

② هُشیم رحمه الله: دا ابومعاویه هُشیم بن بشیر بن قاسم الواسطی رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب التیمم، باب قول الله تعالی: ﴿فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ مِنْهُ﴾ دَ دویم حدیث لاندې تیرشوی دی.[2]

③ حمید رحمه الله: دا ابوعبیده حمید بن ابی حمید الطویل الخزاعی البصری رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: خوف المؤمن من أن یحبط عمله وهو لایشعر، لاندې تیر شوی دی.[3]

④ انس رضی الله عنه: دا انس بن مالک رضی الله عنه دې دَدوی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه لاندې تیر شوی دی[4].

⑤ عمر رضی الله عنه: دا امیر المؤمنین حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه دې. دَدوی مختصر احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: بدء الوحی، دویمې حدیث کښې او تفصیلی احوال کتاب الإیمان، باب: أحب الدین إلی الله أدومه لاندې تیر شوی دی[5].

دَ حدیث شرح قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: "وَافَقْتُ رَبِّي فِي ثَلَاثٍ" حضرت عمر فاروق رضی الله عنه دَ دریو معاملاتو (باره) کښې اوفرمائیل چه زما رائې زما دَ پروردګار موافق شوې ده
قوله: "وَافَقْتُ رَبِّي" دَ اکثرو شارحینو دَ حدیث په نیز حضرت عمر رضی الله عنه دَ ادب دَ وجې نه داسې اوفرمائیل ګنې حضرت عمر رضی الله عنه به خبره اوکړه او الله تعالی دَ هغه دَ خبرې مطابق وحی

[1] تهذیب الکمال: ۱۸۰/۲۲-۱۷۷، الطبقات لابن سعد: ۳۱۶/۷، تاریخ الکبیر للبخاری: ۶ رقم الترجمة: ۲۶۳۸، الثقات لابن حبان: ۴۵۸/۸، سیرأعلام النبلاء: ۴۵۰/۱۰، تهذیب التهذیب: ۸۷/۸-۸۶.
[2] کشف الباری، کتاب التیمم، ص: ۸٤.
[3] کشف الباری: ۷۱/۲.
[4] کشف الباری: ٤/۲.
[5] کشف الباری: ۲۳۹/۱، ۲۷٤/۲.

نازل کړه. لکه چه موافقت د الله تعالی د طرف نه شوي دي. لیکن په باب مفاعله کښې فعل چونکه من الجانبین وی په دې وجه د ادب رعایت کولو سره حضرت عمر رضی الله عنه داسې اووئیل چه ما د خپل رب موافقت اوکړو اودا عنوان ئې بې ادبی اوګنړله چه الله تعالی زما موافقت اوکړو. په دې وجه ئې وَافَقَنِيْ رَبِّيْ اونه وئیل.

علامه برماوی رحمه الله فرمائی چه دَدې تشریح ضرورت نشته دې، دلته د موافقت اصطلاحی معنی یعنی امتثال اوامر رب عزوجل مراد نه دې بلکه د موافقت لفظ په خپل اطلاق باندې استعمال شوې دې. یعنی کومه خبره چه د حضرت عمر رضی الله عنه وه د قرآن پاک آیت هم د هغې موافق نازل شو[۱].

علامه کورانی رحمه الله هم دا خبره ذکرکولوسره نور فرمائیلی دی چه که چرې د ادب د رعایت د وجې "وَافَقْتُ رَبِّي" وینا کول اومنلې شی نو بیا د صحیح بخاری کتاب التفسیر کښې هم دَدې آیت په نازلیدو باندې د حضرت عمر رضی الله عنه "وَافَقَنِيْ رَبِّيْ" وئیل نقل دی، دَدې به څه جواب وی[۲]؟علامه کرمانی رحمه الله د تمییز "أمورا" ذکرکړې دې او په دې باندې یو اشکال ذکرکولوسره د هغې جواب ورکړې دې چه "أموراً" جمع ده د "أمر"، کوم چه مذکر دې. دَدې تقاضا داده چه لفظ "ثلاث" مؤنث وې نودَدې جواب ئې دا ورکړو چه تمییز ذکر نه وی (لکه څنګه چه دلته دې) نو د عدد مذکر یا مؤنث راوړلو کښې اختیار وی[۳]. خو علامه برماوی رحمه الله "فِي ثلاث" نه مراد قضایا اخستې دي.[۴] او حافظ ابن حجر رحمه الله لیکلی دی چه "فِي ثلاثٍ" نه مراد "ثلاثة وقائع" دی[۵].

موافقات عمر رضی الله عنه: دلته د دریو مقاماتو ذکر دې چه په دې دریو مقاماتو کښې وحی د حضرت عمر رضی الله عنه د رائې موافق راغلې ده. دا (درې مقامات) غالبًا د مقام اومصلحت په رعایت سره بیان کړې شوې دی چه د هغه مقام اود هغه ځائې د مصلحت تقاضا دَدې دریو د ذکر وه په دې وجه ئې د دریو ذکر اوکړو[۶]. یا به داسې وئیلې شی چه اقل عدد د اکثر نفی نه کوی[۷].

یوه توجیه دا هم ممکن ده چه دَدې قول په وخت صرف هم په دریو امورو کښې موافقت

---

[۱]) اللامع الصبیح بشرح الجامع الصحیح للبرماوی: ۱۵۰/۳.
[۲]) الکوثرالجاری للکورانی: ۹۵/۲.
[۳]) شرح الکرمانی: ۶۶/۴.
[۴]) اللامع الصبیح بشرح الجامع الصحیح للبرماوی: ۱۵۰/۳.
[۵]) فتح الباری: ۶۵٤/۱.
[۶]) التوضیح لشرالجامع الصحیح لابن ملقن: ٤۱۱/۵، اللامع الصبیح بشرح الجامع الصحیح للبرماوی: ۱۵۰/۳،فتح الباری: ۶۵٤/۱.
[۷]) شرح الکرمانی: ۶۶/۴، فتح الباری: ۶۵٤/۱.

مخې ته راغلې وی اوباقی مواقع ددې قول نه پس حاصل شوې وی[۱]. دا مذکوره توجیه د علامه کرمانی رحمه الله ذکرکړې ده. علامه عینی رحمه الله د مذکوره توجیه ذکرکولو نه پس په دې باندې رد کولوسره فرمائی چه په دې توجیه کښې نظر دې ځکه چه حضرت عمر رضي الله عنه د دې موافقاتو خبر د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د وفات نه پس ورکړې وو لهذا مذکوره احتمال صحیح کیدې نه شی[۲].

علامه انورشاه کشمیری رحمه الله فرمائی چه د تعداد اهتمام غالبًا د وحی قرآن مجید د موافقت د وجې نه ښکاری ګنی د ابن عمر رضي الله عنه د ارشاد مطابق مطلق د وحئ نبوت موافقت په کثیر تعداد باندې موجود دې. او که ددې ټولو هم د شمیر طرف ته توجه کولې نو عدد به ډیر زیاتیدو.[۳]

دموافقات عمر رضي الله عنه تعداد: حقیقت دادې چه د حضرت عمر رضي الله عنه موافقت په ډیرو مقاماتو کښې ثابت دې. چنانچه حافظ ابن حجر رحمه الله پنځلس مقامات شمیرکړی دی.[۴] او امام سیوطی رحمه الله دا شل او یویشتو ته رسولی دی.[۵] بلکه د دوی (امام سیوطی رحمه الله) خو په دې باره کښې مستقل یو منظوم کلام هم دې.[۶]

---

[۱] شرح الکرمانی: ٦٦/٤ التوضیح لشرح الجامع الصحیح لابن ملقن: ٤١١/٥.

[۲] عمدة القاری: ٢٠٥/٤.

[۳] انوارالباری: ٢٠٤/١٢.

[۴] فتح الباری: ٦٥٤/١.

[۵] تاریخ الخلفاء للسیوطی رحمه الله فصل فی موافقات عمر رضی الله عنه قد وصلها بعضهم إلی أكثر من عشرين، ص: ٨٥-٨٣

[۶] د دغه منظوم کلام نوم "قطف الثمر فی موافقات عمر" دې. کوم چه د امام سیوطی رحمه الله د مجموعه رسائل "الحاوی للفتاوی: ٣٧٧/١" جزء دې او د هغې سره چهاپ شوې دې. وئی ګورئی:

الحمد لله و صلى الله — على نبيه الذي اجتباه
يا سائلي والحادثات تكثر — عن الذي والق فيه عمر
وما يرى أنزل الكتاب — موافقاً لرأيه الصواب
عد ما سألت منه في أبيات — منظومة تأمن من شتات
فقي المقام وأسارى بدر — و آيتي تظاهر و ستر
وذكر جبريل لأهل الغدر — و آيتين أنزلا في الخمر
وآية الصيام في حل الرفث — وقوله نساؤكم حرث بهث
و قوله لا يؤمنون حتى — يحكموك إذ بقتل أفتى
وآية فيها لبدر أوبه — ولا تصل آية في التوبة
وآية في النور هذا بهتان — وآية فيها بها الاستئذان
في ختام آية في المؤمنين — تبارك الله بحفظ المتقين
وثلة من في صفات السابقين — في سواء آية المنافقين

وعدة من ذاك نسخ الرسم	لآية قد أنزلت في الرجم
وقال قولا هو في التوراة قد	نبه كعب عليه فسجد
وفي الأذان الذكر للرسول	رأيته في خبر موصول
وفي القرآن جاء بالتحقيق	ماهو من موافق الصديق
كقوله هو الذي يصلي	عليكم أعظم به من فضل
وقوله في آخر المجادله	لاتجد الآية في المفاضله
هذا ما رأيته منقولا	والحمد لله على ما أولى

دَ فائدې دَ پاره هغه ۱۶ آياتونه لاندې ذکرکولې شي. په وخت دَ ضرورت دې سره متعلقه تفصيلي مباحث او ددې شان نزول په تفاسيرو کښې کتلې شي:

① آيت: ﴿قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيلَ فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ عَلَىٰ قَلْبِكَ بِإِذْنِ اللَّهِ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ۝ مَن كَانَ عَدُوًّا لِّلَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَرُسُلِهِ وَجِبْرِيلَ وَمِيكَالَ فَإِنَّ اللَّهَ عَدُوٌّ لِّلْكَافِرِينَ ۝﴾ (البقرة: ۹۸-۹۷)

② آيت: ﴿وَإِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَأَمْنًا وَاتَّخِذُوا مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى ۖ وَعَهِدْنَا إِلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ أَن طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْعَاكِفِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ ۝﴾ (البقرة: ۱۲۵)

③ آيت: ﴿يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ ۖ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا ۗ﴾ (البقرة: ۲۱۹)

④ آيت: ﴿أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَائِكُمْ ۚ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ۗ عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَخْتَانُونَ أَنفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنكُمْ ۖ فَالْآنَ بَاشِرُوهُنَّ وَابْتَغُوا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ ۚ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ۖ ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ ۚ وَلَا تُبَاشِرُوهُنَّ وَأَنتُمْ عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ ۗ تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ فَلَا تَقْرَبُوهَا ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ۝﴾ (البقرة: ۱۸۷)

⑤ آيت: ﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ۝﴾ (النساء: ۶۵)

⑥ آيت: ﴿كَمَا أَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِن بَيْتِكَ بِالْحَقِّ وَإِنَّ فَرِيقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ لَكَارِهُونَ ۝﴾ (الأنفال: ۵)

⑦ آيت: ﴿مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ لَهُ أَسْرَىٰ حَتَّىٰ يُثْخِنَ فِي الْأَرْضِ ۚ تُرِيدُونَ عَرَضَ الدُّنْيَا وَاللَّهُ يُرِيدُ الْآخِرَةَ ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ۝ لَّوْلَا كِتَابٌ مِّنَ اللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَا أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ۝﴾ (الأنفال: ۶۸)

⑧ آيت: ﴿وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰ أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَىٰ قَبْرِهِ ۖ إِنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَاتُوا وَهُمْ فَاسِقُونَ ۝﴾ (التوبة: ۸۴)

⑨ آيت: ﴿ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُمَّ أَنشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ ۚ فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ ۝﴾ (المؤمنون: ۱۴)

⑩ آيت: ﴿وَلَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُم مَّا يَكُونُ لَنَا أَن نَّتَكَلَّمَ بِهَٰذَا سُبْحَانَكَ هَٰذَا بُهْتَانٌ عَظِيمٌ ۝﴾ (النور: ۱۶)

⑪ آيت: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِيَسْتَأْذِنكُمُ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنكُمْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ۚ مِّن قَبْلِ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَحِينَ تَضَعُونَ ثِيَابَكُم مِّنَ الظَّهِيرَةِ وَمِن بَعْدِ صَلَاةِ الْعِشَاءِ ۚ ثَلَاثُ عَوْرَاتٍ لَّكُمْ ۚ لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌ بَعْدَهُنَّ ۚ طَوَّافُونَ عَلَيْكُم بَعْضُكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ۝﴾ (النور: ۵۸)

⑫ آيت: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَن يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَىٰ طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ وَلَٰكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانتَشِرُوا وَلَا مُسْتَأْنِسِينَ لِحَدِيثٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيِي مِنكُمْ ۖ وَاللَّهُ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ ۚ وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِن وَرَاءِ حِجَابٍ ۚ ذَٰلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ ۚ وَمَا كَانَ لَكُمْ أَن تُؤْذُوا رَسُولَ اللَّهِ وَلَا أَن تَنكِحُوا أَزْوَاجَهُ مِن بَعْدِهِ أَبَدًا ۚ إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ عِندَ اللَّهِ عَظِيمًا ۝﴾ (الاحزاب: ۵۳)

⑬ آيت: ﴿ثُلَّةٌ مِّنَ الْأَوَّلِينَ ۝ وَثُلَّةٌ مِّنَ الْآخِرِينَ ۝﴾ (الواقعة: ۴۰)

او امام ترمذى رحمه الله په صحيح سند سره د حضرت ابن عمر رضي الله عنه روايت ذكركړې دې. چه كله به څه خبره پيښيدله او په هغې كښې به د رائې اختلاف كيدو. خلقو به يوه خبره كوله او حضرت عمر رضي الله عنه به بله خبره كوله نو قرآن پاك به د حضرت عمر رضي الله عنه د رائې مطابق نازليدلو(۱).

رب سره د موافقت وجه: دا دې نه معلوميږى چه يو څو مقاماتو كښې نه بلكه ډيرو مقاماتو كښې به په كثرت سره داسې كيدل چه وحى به د حضرت عمر رضي الله عنه د رائې په موافقت كښې نازليدله. د دې وجه دا معلوميږى چه حضرت عمر رضي الله عنه محدَث دې.(۲) محدث هغه سړى ته وائى د چا په زړه كښې چه د الله تعالى د طرف نه صحيح خبره اچولې كيږى. يا هغه سړى ته وائى د چا د ژبې نه چه بغير د ارادې صحيح خبره جارى كيږى(۳).

د خطاء نه محفوظ صرف انبياء كرام عليهم السلام دى: د رسول الله ﷺ د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه باره كښې د مذكوره او نورو ډيرو بشارتونو مطلب دا هم نه دې چه هغوى د خطاء او غلطئ نه محفوظ وو. ځكه چه د الله تعالى د طرف نه د خطاء نه حفاظت صرف او صرف د انبياؤ عليهم السلام كيږى خو د دې برخلاف اصحاب رسول رضي الله عنهم نه خطاګانې صادر شوى. او په دې باب كښې هم د امت مرحومه د پاره اسوهٔ نبوى ﷺ مخې ته راغله خو بيا هم دومره ضرورى دى چه د دغه پاك دامن جماعت قدسيه د الله تعالى د طرف نه هم په دنيا كښې د خلاصى، د ګناهونو نه د پاكيدو او د الله تعالى د رضا كيدو اعلان اوشو. ﴿ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ﴾.

چنانچه د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه محدث او ملهم كيدو او د دې په سبب ډير قرآنى موافقات كيدو باوجود د هغوى نه څو ځل خطاء هم شوې او روستو د هغې نه رجوع هم شوې. مثلاً

---

⑭ آيت: ﴿سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ۚ لَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ۚ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ﴾ (المنافقون: ۶).
⑮ آيت: ﴿عَسٰى رَبُّهٗٓ إِنْ طَلَّقَكُنَّ أَنْ يُّبْدِلَهٗٓ أَزْوَاجًا خَيْرًا مِّنْكُنَّ مُسْلِمٰتٍ مُّؤْمِنٰتٍ قٰنِتٰتٍ تٰٓئِبٰتٍ عٰبِدٰتٍ سٰٓئِحٰتٍ ثَيِّبٰتٍ وَّأَبْكَارًا﴾ (التحريم: ۵).
⑯ آيت: ﴿إِنْ تَتُوْبَآ إِلَى اللّٰهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوْبُكُمَا ۚ وَإِنْ تَظٰهَرَا عَلَيْهِ فَإِنَّ اللّٰهَ هُوَ مَوْلٰىهُ وَجِبْرِيْلُ وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَعْدَ ذٰلِكَ ظَهِيْرٌ﴾ (التحريم: ۴).

(۱) عن ابن عمر أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: "إن الله جعل الحق على لسان عمر وقلبه"، وقال ابن عمر: ما نزل بالناس أمر قط، فقالوا فيه، وقال فيه عمر، أو قال ابن الخطاب فيه – شك خارجة – إلا نزل فيه القرآن على نحوما قال عمر. (سنن الترمذى، المناقب، باب فى مناقب عمر بن الخطاب رضى الله عنه، رقم الحديث: ۳۶۸۲).

(۲) عن أبى هريرة رضى الله عنه قال قال رسو الله صلى الله عليه وسلم: لقد كان فيما قبلكم من الأمم محدثون، فإن يك فى أمتى أحد، فإنه عمر. زاد زكريا بن أبى زائدة عن سعد عن أبى سلمة عن أبى هريرة قال قال النبى صلى الله عليه وسلم: "لقد كان فيمن كان قبلكم من بنى إسرائيل رجال، يكلمون من غير أن يكونوا أنبياء، فإن يكن من أمتى منهم أحد فعمر" قال ابن عباس رضى الله عنهما: "من نبى ولا محدث". (صحيح البخارى، كتاب المناقب، باب مناقب عمر بن الخطاب رضى الله عنه، رقم الحديث: ۳۶۸۹).

(۳) الكاشف عن حقائق السنن، كتاب المناقب، مناقب عمر، رقم الحديث: ۶۰۵۳، ۱۲/۳۸۵۴. إرشاد السارى للقسطلانى، كتاب المناقب، باب مناقب عمر بن الخطاب رضى الله عنه، رقم الحديث: ۳۶۸۹، ۶/۱۰۳.

① د صلح حديبيه په موقع باندې چه کله بغير د عمرې صلح کيدو په وجه د واپس تلو حکم اوشو نو د حضرت عمر رضي الله عنه په دې باندې سينه کولاؤ نه وه د کوم په وجه چه هغه د حضورپاك په خدمت کښې حاضر شو او په دې باره کښې ئې ډير اوږده سوالونه او جوابونه اوکړه. اودې نه پس ئې هم هغه سوال او جواب د حضرت صديق اکبر رضي الله عنه نه هم اوکړه. د الله تعالى شان ته گوره چه د هغوى جوابونه هم بالکل هغه شان وو کوم چه د نبى کريم صلى الله عليه وسلم وو. روستو بيا د حضرت عمر رضي الله عنه فرمان هم ملاويږى چه هغوى به په خپلو دغه جذباتو باندې خپيمانتيا کوله[1].

② دويمه موقع هغه وه چه کله د رسول الله صلى الله عليه وسلم انتقال اوشو نو هغه وخت حضرت عمر رضي الله عنه توره راويستله او اودريدو. هغوى د نبى کريم صلى الله عليه وسلم د وفات نه انکاراوکړو او اعلان ئې اوکړو چه که چرې چا داسې اووئيل چه نبى کريم صلى الله عليه وسلم وفات شوې دې نوزه به د هغه سر قلم کړم. بلکه په رسول الله صلى الله عليه وسلم خو هسې سکته راغلې ده ځنګه چه موسى عليه السلام راغلې وه. الله

---

[1] صحيح بخارى کښې د صلح حديبيه په تفصيلاتو باندې ډير اوږد حديث شريف موجود دې د افادهٔ عام په خاطر د متعلقه واقعه ترجمه لاندې ذکرکولې شي:
د عمرې کولو نه بغير چه کله د واپسئ حکم اوشو نو په عامو مسلمانانو باندې د هغوى واپس کيدل سخت تير شو. د حضرت عمر نه صبر اونه شو اوعرض ئې اوکړو يا رسول الله، ولې تاسو د الله تعالى په حقه نبى نه يئ؟ حضورپاك اوفرمائيل ولې نه. حضرت عمر عرض اوکړو آيا مونږ په حقه او هغوى په باطله باندې نه دى؟ حضورپاك اوفرمائيل بې شکه. حضرت عمر رضي الله عنه عرض اوکړو يا رسول الله: بيا مونږ دا ذلت ولې برداشت کړو؟ حضورپاك اوفرمائيل زه د الله تعالى رسول او په حقه نبى يم د هغه د حکم نه خلاف نه شم کولې اوهغه زما ملګرې او امدادى دې. حضرت عمر رضي الله عنه عرض اوکړو يا رسول الله: تاسو دا نه وو فرمائيلى چه مونږ به د بيت الله طواف کوو؟ حضورپاك ارشاد اوفرمائيلو آيا ما وئيلى وو چه دې کال به طواف کوو؟ حضرت عمر رضي الله عنه جواب ورکړو چه نه، حضورپاك اوفرمائيل چه بيا په دې کښې هيڅ شك نشته چه ته به بيت الله ته اورسې او د هغې طواف به کوې.
حضرت عمر رضي الله عنه بيان اوکړو چه بيا زه حضرت ابوبکر رضي الله عنه له لاړم او د هغوى نه مې هم دغه تپوس اوکړو چه اې ابوبکره ولې دا حقيقت نه دې چه حضورپاك د الله تعالى نبى صلى الله عليه وسلم دې؟ هغوى هم اوفرمائيل ولې نه؟ ما وئيل ولې مونږ په حقه باندې نه يو او زمونږ دښمن په باطله باندې دې؟ هغوى وئيل ولې نه. ماتپوس اوکړو چه بيا مونږ د دين په معامله کښې ولې نيکته شو؟ حضرت ابوبکر رضي الله عنه اوفرمائيل حضورپاك بغير د شك او شبهې د الله رسول دې او هغوى د خپل رب د حکم نه ډډه نه شى کولې او د هغوى رب هم د هغوى مددګار دې. پس د هغوى رسئى په مضبوطيا سره اونيسه الله ګواه دې چه هغوى په حق باندې دى. ما ورته اووئيل چه ولې حضورپاك مونږ ته دا نه وو وئيلې چه مونږ به زر بيت الله ته اورسو او د هغې طواف به کوو؟ هغوى جواب ورکړو چه دا هم صحيح ده ليکن حضورپاك تاته فرمائيلې وو چه هم دې کال کښې به ته بيت الله ته رسيږې؟ ما اووئيل نه. حضرت ابو بکر رضي الله عنه اوفرمائيل بيا په دې کښې هيڅ شك شبه نشته چه ته به بيت الله ته رسيږې او د هغې طواف به کوې. (صحيح البخارى، کتاب الشروط، باب الشروط فى الجهاد والمصالحة مع أهل الحرب وكتابة الشروط، رقم الحديث: ۲۷۳۱).
حضرت عمر رضي الله عنه فرمائي چه روستو زه په دغه خپله ګستاخئ باندې ډير خپيمانه شوم او د دې په کفاره کښې مې ډيرزيات مونځونه اوکړه، روژې مې اوساتلې او صدقې اوخيراتونه مې اوکړل او ډير زيات غلامان مې آزاد کړل. (سيرت مصطفى صلى الله عليه وسلم، صلح حديبيه، شرائط صلح: ۲/۳۴۷-۳۴۶).

تعالی به هغه دوباره دې مخکښې په شان کوی او هغه وخت به حضورپاك د داسې وينا کونکو خپې لاسونه پرې کوی. هغه وخت حضرت ابوبکر رضی الله عنه تشریف راوړو او حضرت عمر رضی الله عنه ئې خاموش کړو او په منبر باندې وراوختو اود قرآن پاك دا آیت ئې تلاوت کړو: ﴿إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُمْ مَيِّتُونَ﴾ [الزمر: ۳۰]. ﴿وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفَإِنْ مَاتَ أَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ﴾ [آل عمران: ۱۴۴] دې آیاتونو اورېدو سره حضرت عمر رضی الله عنه فرمائی چه ما دا آیاتونه واورېدل نو سکته کښې راغلم اوماته داسې محسوسه شوه چه زما خپې لاسونه به زما بوج اوچت نه کړې شي او زه به په زمکه باندې راپرېوځم.[1]

③ يو دريمه موقع هم ده چه د حضورپاك علیه السلام د وفات نه پس کله چه حضرت ابوبکر رضی الله عنه د مرتدينو سره د جنګ اراده اوکړه نو حضرت عمر رضی الله عنه د حضرت ابوبکر رضی الله عنه مخالفت اوکړو. لیکن هغه په خپله فیصله باندې کلك ولاړ وو. په دې باندې روستو چه کله د حضرت ابوبکر رضی الله عنه په دې اقدام باندې ښه اثرات مخې ته راغلل نو حضرت عمر رضی الله عنه به فرمائيل په الله قسم الله تعالی په دغه معامله کښې د هغوی سینه کولاؤ کړې وه او ما اوپېژندلو چه هغه په حق باندې وو.[2]

---

[1] صحيح البخاري کښې دا واقعه په تفصيل سره په ډيرو مقاماتو کښې موجود ده. د افادهٔ عام په خاطر د متعلقه واقعې ترجمه لاندې ذکر کولې شي:

حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما بیان کړې دې چه......حضرت ابوبکر رضی الله عنه تشريف راوړو نوحضرت عمر رضی الله عنه خلقوته خه وئيل. حضرت ابوبکر رضی الله عنه اوفرمائيل اې عمر کينه. ليکن حضرت عمر رضی الله عنه د کيناستو نه انکاراوکړو. په دې کښې خلقو حضرت عمر رضی الله عنه پرېخودو اوحضرت ابوبکر رضی الله عنه له لاړل. هغوی دا آيت تلاوت کړو: ﴿وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفَإِنْ مَاتَ أَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ﴾ اما بعد! تاسو کښې چه چا هم د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم عبادت کولو نوهغه ته دې معلومه وی چه هغوی وفات شوی دی اوچاچه د الله تعالی عبادت کولو نو(د هغه معبود) الله هميشه ژوندې پاتې کيدونکې دې او په هغه باندې کله هم مرګ نه راځی. الله تعالی پخپله فرمائيلی دی: "محمد صرف رسول دې، ددوی نه مخکښې هم رسولان تيرشوی دی......الخ". ......د زهری رحمه الله بيان دې چه ماته سعيد بن مسيب رحمه الله خبر راکړو چه حضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائيل خدائی ګواه دې چه ماته هغه وخت هوش راغلو کوم وخت چه ما د حضرت ابوبکر رضی الله عنه نه ددې آيت تلاوت واورېدو. کله چه ما د هغوی نه تلاوت کولو سره واورېده چه حضورپاك وفات شوې دې نو زه سکتې کښې راغلم اوداسې مې محسوس کړه چه زما خپې به زما بوج اوچت نه کړې شي او زه به په زمکه راپرېوځم. (صحيح البخاری، کتاب المغازی، باب مرض النبی صلی الله عليه وسلم ووفاته، رقم الحديث: ٤٤٥٤).

[2] صحيح بخاری کښې ددې واقعې تفصيل موجود دې. د افادهٔ عام په خاطر د متعلقه واقعې ترجمه لاندې ذکر کولې شي:

حضرت ابوهريره رضی الله عنه بيان کړې دې چه کله حضورپاك وفات شو نو حضرت ابوبکر رضی الله عنه خليفه جوړشو. بل طرف ته د عربو ډيرو قبائلو (د خلافت او زکوة وغيره) نه انکار شروع کړو نو (د هغوی په انکار باندې حضرت ابوبکر رضی الله عنه د هغه منکرينو سره د جنګ قصه اوکړو په دې باندې) حضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائيل تاسو د حضورپاك ددې فرمان چه ماته حکم راکړې شوې دې چه زه به د خلقو سره ترهغې پورې جنګيږم ترکومې پورې چه هغوی د لا اله الا الله ګواهی ورنه کړی اوکوم سړي چه ددې ګواهی ورکوی........

په حضرت عمر فاروق رضی الله عنه باندې يو اشکال او د هغې جواب: علامه ابن جوزي رحمه الله د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه باره کښې يو اعتراض ذکرکړې دې چه څه وجه وه چه هغه په شريعت محمدی علی صاحبها الف الف تحيات باندې اکتفاء نه کوله، حالانکه نبی کريم صلی الله عليه وسلم هغه يو ځل منع کړې هم وو کوم وخت چه هغه د توريت څو پاڼې راوړې وې نو حضورپاك هغه ته اوفرمائيل: ((أمطهاعناياعمر)). بيا ابن جوزي رحمه الله د دې اعتراض جواب نقل کړې دې. د تتبع کتب نه دا خبره مخې ته راځي چه دا جواب په اصل کښې علامه خطابی رحمه الله ذکر کړې دې.(۱)

دکوم تسهيل چه ابن جوزي رحمه الله نقل کړې دې. هغه دا چه د حضرت عمر رضی الله عنه مخې ته د قرآن دوه روايات وو، يو: ﴿إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا﴾ [سورة بقره: ۱۲۴]او دويم: ﴿أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا﴾[النحل: ۱۲۳]. په اول آيت کښې حضرت ابراهيم عليه السلام د پوره انسانيت د پاره امام اوګرځولې شو او دويم آيت کښې د ملت ابراهيمی د اقتداء حکم ورکړې شو. نو هغه د دې خبرې نه په دې پوهه شو چه د نورو انبياء کرامو نه جدا دوی لره امام جوړول او د دوی اقتداء کول مشروع دې. بيا دا خبره هم د هغوی مخې ته وه چه د بيت الله نسبت هم د دوی طرف ته دې چه هغوی د دې پاك کور تعمير اوکړو. بيائی د الله تعالی په حکم سره خلق د دې کور طرف ته راؤغوښتل. بله دا خبره هم د هغوی مخې ته وه چه مقام ابراهيم کوم چه يو کاڼې دې په کوم چه د حضرت ابراهيم عليه السلام د قدم مبارك نښه هم باقی ده. دا داسې ده لکه چه يو سړې يو عمارت جوړکړی او د يادګار د پاره په هغې باندې خپل نوم اوليکی دې د پاره چه د هغه د مرګ نه پس هم د هغه نوم باقی وی. چنانچه د حضرت عمر رضی الله عنه په زړه کښې دا خبره راغله چه په دې مقام باندې دوه رکعته مونځ ادا کړې شی دا به هم داسې وی چه يو آباد کړې شوې کور ته راتلونکې سړې هلته ليکلې شوې د هغه عمارت د جوړونکی نوم لولی. نو د هغوی په دې رائې باندې د الله تعالی د طرف نه تائيد اوشو او په حضورپاك باندې وحی نازل شوه. ليکن داسې اتباع يا د اتباع رائې د حضرت ابراهيم عليه السلام نه علاوه د بل نبی باره کښې نه ده شوې(۲).

...... نو زما د طرف نه به د هغه مال اوځان محفوظ وی. د هغه حق او د هغه حساب د الله تعالی په ذمه وی، په موجودګئ کښې څنګه هغوی سره جنګ کولې شې؟ په دې باندې حضرت ابوبکر رضی الله عنه هغه ته جواب ورکړو په الله قسم زه به هر هغه سړی سره جنګ کوم څوك چه په زکوة او مونځ کښې فرق کوی. څکه چه زکوة د مال حق دې په الله قسم که هغوی (زکوة کښې) د څلورو مياشتو د بچې ورکولو نه هم انکار اوکړو لکه څنګه چه به هغوی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ورکولو نو زه به هم هغوی سره جنګيږم. حضرت عمر رضی الله عنه روستو اوفرمائيل په خدائی چه دا خبره د هغې نتيجه وه چه الله تعالی د حضرت ابوبکر رضی الله عنه سينه کولاؤ کړې وه او روستو زه هم په دې نتيجه باندې اورسيدم چه حضرت ابوبکر رضی الله عنه په حقه باندې وو. (صحيح البخاری، کتاب الزکوة، باب وجوب الزکوة، رقم الحديث: ۱۳۹۹).

(۱) أعلام الحديث للخطابی: ۳۸۵/۱.

(۲)كشف المشكل من حديث الصحيحين لابن الجوزی،مسند عمربن الخطاب، الحديث الرابع عشر:۸۲/۱. اوګورئ دا اشکال او جواب علامه ابن الملقن رحمه الله په خپله شرح البخاری (التوضيح لشرح الجامع ......

فَقُلْتُ يَارَسُولَ اللّٰهِ، لَوِاتَّخَذْنَامِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى، فَنَزَلَتْ: ﴿وَاتَّخِذُوامِنْ مَّقَامِ إِبْرٰهِيْمَ مُصَلًّى﴾ (البقرة: ۱۲۵): (یودا چه) ما عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ که چرې مونږ مقام ابراهیم مصلی (دَمونځ ځائی) جوړ کړو نو بهتر به وی. نو آیت مبارك: ﴿وَاتَّخِذُوامِنْ مَّقَامِ إِبْرٰهِيْمَ مُصَلًّى﴾ نازل شو.

قوله: "لَوِاتَّخَذْنَا" کښې دَ کلمه "لو" جواب به محذوف وی یعنی "لکان خیراً" یا به کلمه "لو" دَتمنی دَ پاره ده. په دې صورت کښې جواب دَ "لو" ضرورت نشته([۱]).

قوله: "وَاتَّخِذُوا" کښې دوه قراءتونه دی یو: "وَاتَّخِذُوا" په کسرې دَ خاء دا قراءت دَ ابن کثیر، عاصم، ابوعمرو، حمزه اوکسائی رحمهم الله نه نقل دې. اودویم قراءت: "وَاتَّخَذُوا" په فتحې دَ خاء دَ نافع رحمه الله او ابن عامر رحمه الله نه نقل دې.([۲])

قوله: وَآيَةُ الْحِجَابِ، قُلْتُ: يَارَسُولَ اللّٰهِ، لَوْأَمَرْتَ نِسَاءَكَ أَنْ يَحْتَجِبْنَ، فَإِنَّهُ يُكَلِّمُهُنَّ الْبَرُّوَالْفَاجِرُ، فَنَزَلَتْ آيَةُ الْحِجَابِ:

دویمه موقع دَ حجاب دَ آیت ده. ما عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ که چرې تاسو ازواج مطهرات ته په پرده کښې دَ اوسیدو حکم اوکړئی نو بهتره به وی. ځکه چه هغوی سره خبرې اترې کونکو کښې ښه او بد هرقسم خلق وی. چنانچه دَ حجاب آیت نازل شو.

قوله: "وَآيَةُ الْحِجَابِ" دَدې عطف په ماقبل کښې په مقدر عبارت "اتخاذ المصلٰی مقام ابراهیم" باندې وی کوم چه دَ سیاقِ عبارت نه معلومیږی. لفظ "آیة" باندې کسره وثیل زیات ظاهر دی په دې صورت کښې به دا لفظ دَعبارت دَ لفظ "ثلاث" نه بدل شی([۳]).

.... الصحیح: ۱۱۲/۵-۱۱٤)، کښې دَ علامه ابن الجوزی رحمه الله په نسبت سره په دې الفاظو "فإن قلت: ما السر فی أن عمر لم یقنع بما فی شریعتنا حتی طلب الا ستکان بملة إبراهیم، وقد نهاه الشارع عن مثل هذا حین أتی بأشیاء من التوراة، فقال له: أمثلها منک یا عمر" ذکرکړې دې لیکن په دې کښې په ظاهره دَ کاتب دَ غلطئ دَ وجې نه په دوو مقاماتو کښې سهوه شوې ده: یو لفظ "استکان" او بل دَ شارع علیه السلام قول "أمثلها منک یا عمر". ځکه چه دَ علامه ابن الجوزی رحمه الله کتاب "کشف المشکل من حدیث الصحیحین" کښې چه دَدې اشکال کوم عبارت دې په هغې کښې داسې نه دې. اصل عبارت اوګورئی: "فإن قیل: فما السر فی أن عمر لم یقنع بما فی شریعتنا حتی طلب الاستنان بملة إبراهیم، وقد نهاه رسول الله عن مثل هذا حین أتی بأشیاء من التوراة، فقال: أمطها عنا یا عمر. (کشف المشکل من حدیث الصحیحین لابن الجوزی، مسند عمر بن الخطاب، الحدیث الرابع عشر: ۸۲/۱).

[۱]) شرح الکرمانی: ٦٦/٤، اللامع الصبیح بشرح الجامع الصحیح للبرماوی: ۱۵۱/۳.

[۲]) جامع البیان عن تأویل آی القرآن المعروف بتفسیر الطبری، سورة البقرة، رقم الآیة: ۱۲۵، ۵۲۲/۲ وقال الإمام الطبری رحمه الله: والصواب من القول والقراءة فی ذلک عندنا: ﴿وَاتَّخِذُوا﴾ بکسر الخاء علی تأویل الأمر باتخاذ مقام إبراهیم مصلی. (أیضاً: ۵۲٤/۲) الجامع لأحکام القرآن المعروف بتفسیر القرطبی، سورة البقرة، رقم الآیة: ۱۲۵، ۳۷۳/۲.

[۳]) شرح الکرمانی: ٦٧/٤-٦٦.

ددې نه علاوه دا لفظ مبتدا ګرځولو سره مرفوع لوستل هم صحيح دی.(۱) په دې صورت کښې به خبر محذوف "كذلك" شی(۲).

دَ حجاب دَ ايت په مصداق کښې اختلاف: دَعلامه کرمانی رحمه الله او علامه برماوی رحمه الله دَ تصريحاتو مطابق دَ حجاب آيت: ﴿يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ﴾ دې(۳).

خو علامه کورانی رحمه الله دَدې دواړو حضراتو دَدې آيت تعيين ته دَ بعضې خلقو قول وئيلو سره سهوه ګرځولې ده او دَ حجاب دَ آيت نه مراد ئې هم دَ سورت احزاب آيت نمبر ۵۳:

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ وَلَكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوا وَلَا مُسْتَأْنِسِينَ لِحَدِيثٍ إِنَّ ذَلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيِي مِنْكُمْ وَاللَّهُ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ ذَلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ وَمَا كَانَ لَكُمْ أَنْ تُؤْذُوا رَسُولَ اللَّهِ وَلَا أَنْ تَنْكِحُوا أَزْوَاجَهُ مِنْ بَعْدِهِ أَبَدًا إِنَّ ذَلِكُمْ كَانَ عِنْدَ اللَّهِ عَظِيمًا﴾ ګرځولې دی(۴).

قوله: وَاجْتَمَعَ نِسَاءُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْغَيْرَةِ عَلَيْهِ، فَقُلْتُ لَهُنَّ: (عَسَى رَبُّهُ إِنْ طَلَّقَكُنَّ أَنْ يُبَدِّلَهُ أَزْوَاجًا خَيْرًا مِنْكُنَّ)، فَنَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ" قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ:

دريمه موقع دا شوه چه دَ نبی کريم ﷺ ازواج مطهرات دَ حضورپاك په خدمت کښې دَ غيرت دَ جذباتو دَ وجې نه راجمع شوې نو ما زجراً هغوی ته اووئيل چه که رسول الله ﷺ خفه شو او تاسو ټولو ته ئې طلاق درکړو نو هيڅ عجيبه نه ده چه دَهغوی پروردګار حضورپاك ته تاسو نه بهترې بيبيانې ورکړي. نو هم دَدې مضمون آيت نازل شو.

دَدې آيت دَ نزول پس منظر تفصيلاً كتاب التفسير سورة التحريم کښې راځی(۵).

قوله: "فَنَزَلَتْ آيَةُ الْحِجَابِ": حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله ليکلی دی چه روايت تير شوې دې په باب: خروج النساء إلي البراز کښې چه حضرت سوده رضي الله عنها بهر اووتله. حضرت عمر رضي الله عنه اووئيل چه مونږ اوپيژندله چه سوده ده. دَغه وخت دَ حجاب آيت نازل شو(۶).

حضرت عمر رضي الله عنه له په کومه خبره غيرت راغلو؟

قوله: "وَاجْتَمَعَ نِسَاءُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْغَيْرَةِ عَلَيْهِ" غيرت خو يا په دې خبره باندې وو چه حضرت ماريه رضي الله عنها سره ئې صحبت اوکړو يا په دې وجه چه حضرت ام سلمه رضي الله عنها کره ئې شات اوڅکل. دا پوره واقعه به په خپل ځائې راشی. هغه دا چه يو ځل حضرت عمر رضي الله عنه خه اوفرمائيل په دې باندې دَ هغه بی بی هغه اورېدلو. حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائيل ته څوك ئې

---

(۱) اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح للبرماوی: ۱۵۱/۳، تحفة الباری: ۱۰۸/۲.
(۲) ضياء الساری فی مسالک أبواب البخاری: ۲۹۵/۵.
(۳) شرح الکرمانی: ۶۷/۴، اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح للبرماوی: ۱۵۱/۳.
(۴) الکوثر الجاری للکورانی: ۹۶/۲.
(۵) شرح الکرمانی: ۶۷/۴، اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح للبرماوی: ۱۵۱/۳.
(۶) تقرير بخاری شريف: ۱۴۸/۲.

خبرې کونکې؟ اوددې وجه دا وه چه د انصارو ښځو به همیشه خپلو خاوندانو سره بلاتکلف اونیغ په نیغه خبرې اترې کولې اودَ قریشو ښځې بالکل چپ او د خپلو خاوندانو مخې ته به دیرې غلې اوسیدې صحابه کرامو ﷺ چه کله هجرت اوکړو او مدینې منورې ته راغله نودَ انصارو ښځو نه دَ قریشو ښځو دَهغوی عادتونه او طور طریقې زده کړې خربوزه خربوزې ته په کتو سره رنګ نیسي. ښځې ورته عرض اوکړو. خپلې لور ته نه ګورې چه رسول الله ﷺ ته څنګه جواب ورکوی. حضرت عمر ﷺ دې اوریدو سره ام المؤمنین حضرت حفصه ﷺ کره تشریف یوړو او ورته ئې اوفرمائیل چه بیا هیڅ کله داسې اونه کړې اوخپلې بنې سره ضد مه کوه هغه دَ خپل حسن دَ وجې نه نیازبینه ده. که ستا څه ضرورت وی نو ماته وایه. حضرت عمر ﷺ بیا ام سلمه ﷺ له راغلو او ورته ئې اوفرمائیل چه ما اوریدلی دی چه ته حضورپاك ته جواب ورکوې. حضرت ام سلمه ﷺ اووئیل اې عمر! (ته) دَ حضورپاك دَ بیبیانو باره کښې په هره خبره کښې خپه تاووې. غرض دا چه دَ شاتو څکلو واقعه یا دَ حضرت ماریه ﷺ خبره پیښه شوه او حضورپاك په مشربه کښې قیام اوکړو[1].

دَ حدیث مبارك ترجمة الباب سره مناسبت: علامه کرمانی ﷺ او علامه برماوی ﷺ فرمائی چه داحدیث دَ ترجمة الباب په اول جزء باندې دلالت کوی او ورباندې حدیث دَترجمة الباب په جزء اخیر باندې دلالت کوی. دلالت به په دې توګه وی چه دَ مقام ابراهیم دَ مصداق باره کښې علماء مختلف دی. نوچه کوم علماء دَ مقام ابراهیم نه مراد کعبه اخلی نودَهغوی په نیز خو مطابقت اودلالت واضح دې او کوم علماء چه دَمقام ابراهیم نه مراد پوره حرم اخلی دَهغوی په نیز به ﴿وَاتَّخِذُوا مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى﴾ کښې کلمه "مِن" تبعیضیه وی. (لکه چه حضرت عمر ﷺ غوښتنه ښکاره کړه چه یا رسول الله زما زړه غواړی چه مقام ابراهیم یعنی دَ پوره حرم څه حصه قبله جوړه شي).

اودَ ﴿مُصَلًّى﴾ نه مراد به قبله یا دَدې طرف ته مخ کولوسره دَمونځ کولو ځائی وی. یا دَ ترجمة الباب نه مراد "ماجاء فى القبلة ومايتعلق بها" واخستې شي اوهم دا زیاته ښکاره ده ځکه چه متبادرالى الفهم دَ مقام نه هغه کانړې مراد دې په کوم چه حضرت ابراهیم ﷺ ولاړ وو اودَ دې دَ نصب کیدو ځائی مشهور اومعروف دې[2].

علامه خطابی ﷺ لیکلی دی چه حضرت عمر فاروق ﷺ دَ نبی کریم ﷺ نه دې باره کښې تپوس اوکړوچه که چرې دا کانړې مونځ ګذار دَ قبلې او خپل مینځ کښې کړی په کوم چه حضرت ابراهیم ﷺ اودریدو سره تعمیر اوکړو او مونځ اداکړی نوڅنګه دې؟ نو دَدې تپوس کولو باندې دَ الله تعالی دَ طرف نه مذکوره آیت مبارك نازل شوې وو[3].

ابن رجب الحنبلی ﷺ فرمائی چه امام بخاری ﷺ دا حدیث په دې باب کښې ذکرکړو دَدې

---

[1]) تقرير بخاری شريف: ۱۴۹/۲-۱۴۸.
[2]) شرح الكرمانی: ۶۷/۴ اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح للبرماوی: ۱۵۱/۳، تحفة الباری: ۱۰۹/۲.
[3]) أعلام الحديث للخطابی: ۳۸۵/۱.

مقصد دادې چه هغوی د الله تعالی د دې قول: ﴿وَاتَّخِذُوا مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى﴾ تفسیر بیت الله یعنی د کعبې (کومه چه حضرت ابراهیم علیه السلام تعمیر کړې وه) طرف ته مخ کولو سره مونځ اداکولو سره کړې دې[1].

د بعضې شارحینو وینا ده چه زیاته مناسب خبره دا وه چه امام بخاري رحمه الله دا حدیث ماقبل باب کښې ذکرکړې وې. نو حافظ ابن حجر رحمه الله د دې په جواب کښې لیکلی دی چه د اسې وینا کول صحیح نه دی ځکه چه هلته حدیث ابن عمر رضي الله عنهما کښې د مقام ابراهیم مصلی جوړولو تصریح وه او دلته حدیث عمر رضي الله عنه کښې د دې تصریح نشته دې[2].

تعلیق: وحَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي مَرْيَمَ، قَالَ: أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، قَالَ: حَدَّثَنِي حُمَيْدٌ قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسًا بِهَذَا [۴۲۱۳، ۴۲۲۲، ۴۵۱۲، ۴۶۳۲]

د ابوعبدالله نه مراد امام بخاري رحمه الله پخپله دې. هغوی دا تعلیق په دې مقام باندې او کتاب التفسیر کښې تعلیقًا ذکرکړې دې. د دې تعلیق نه مقصود صرف دادې چه په دې تعلیق کښې د حمید رحمه الله راوی د حضرت انس رضي الله عنه نه د سماع تصریح ده. په کوم سره چه د تدلیس نه امن حاصلیږي. او ماقبل روایت کښې عنعنه وه یعنی "عن حمید عن أنس" سره روایت ذکر وو او دلته "حدثني حميد قال: سمعت أنسا" دې[3].

حدیث باب (دویم حدیث) [حدیث نمبر ۳۹۵]

-٣- حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ[4] بَيْنَا النَّاسُ بِقُبَاءٍ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ إِذْ جَاءَهُمْ آتٍ فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ

---

[1]) فتح الباري لابن رجب الحنبلي: ١/٣٨٥.

[2]) فتح الباري لابن حجر: ١/٦٥٥-٦٥٤، ضياء الساري في مسالك أبواب البخاري: ٥/٢٩٥.

[3]) فتح الباري: ١/٥٢٠، عمدة القاري: ٤/٢٠٥.

[4]) أخرجه البخاري أيضًا في التفسير، سورة البقرة، باب قوله الله تعالى: ﴿وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِي كُنتَ عَلَيْهَا إِلَّا لِنَعْلَمَ مَن يَتَّبِعُ الرَّسُولَ﴾ رقم الحديث: ٤٤٨٨ وباب: ﴿وَلَئِنْ أَتَيْتَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ بِكُلِّ آيَةٍ مَّا تَبِعُوا قِبْلَتَكَ﴾ رقم الحديث: ٤٤٩٠ وباب: ﴿الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءَهُمْ﴾ رقم الحديث: ٤٤٩١ وباب: ﴿وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ﴾ رقم الحديث: ٤٤٩٣ وباب: ﴿وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ﴾ رقم الحديث: ٤٤٩٤. وفي اخبارالآحاد، باب ماجاء في إجازة خبر الواحد الصدوق، رقم الحديث: ٧٢٥١. ورواه مسلم في صحيحه، في المساجد، باب: تحويل القبلة، رقم الحديث: ٥٢٦ ورواه الترمذي في جامعه، في الصلاة، باب: ماجاء في ابتداء القبلة، رقم الحديث: ٣٤١. ورواه النسائي في سننه، في القبلة، باب: استبانة الخطأ بعد الاجتهاد، رقم الحديث: ٤٩٤. وفي جامع الأصول، حرف التاء الكتاب الأول: في تفسير القرآن وأسباب نزوله، سورة البقرة، رقم الحديث: ٤٧٩، ٢/١٤. علامه ابن الملقن رحمه الله په التوضیح کښې لیکلی دی چه د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما مذکوره حدیث صحیح البخاری کتاب الصلاة کښې په دوو نورو ځایونوکښې هم راځی او کتاب التفسیر کښې به څلور ځل راځی. اوګورئی. والكلام عليه من أوجه: أحدها: هذا الحديث سيأتي إن شاء الله في الصلاة في موضعين، وفي التفسير في أربعة مواضع، وفي خبر الواحد، وقد سلف في الإيمان من حديث البراء. (التوضيح لابن الملقن: ٥/٤١٤-٤١٣). خو معلومیږی داسې چه د علامه ابن الملقن رحمه الله نه په دې باره کښې سهوه شوې ده. ځکه چه دا حدیث کتاب الصلاة کښې صرف هم په یو مقام باندې او کتاب التفسیر کښې پنځو مقاماتو کښې راغلی دې.

-صلى الله عليه وسلم- قَدْ أُنْزِلَ عَلَيْهِ اللَّيْلَةَ قُرْآنٌ، وَقَدْ أُمِرَ أَنْ يَسْتَقْبِلَ الْكَعْبَةَ فَاسْتَقْبِلُوهَا، وَكَانَتْ وُجُوهُهُمْ إِلَى الشَّامِ، فَاسْتَدَارُوا إِلَى الْكَعْبَةِ.

د حديث ترجمه: حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما اوفرمائيل چه مونږه په قبا كښې د سحر مونځ كولو چه په دې كښې يو سړې راغلو هغه اووئيل چه په رسول الله ﷺ باندې تيره شپه د قرآن پاك آياتونه نازل شوى دى او هغه ته دكعبې طرف ته (په مونځ كښې د مخ) كولو حكم شوې دې. لهذا تاسو هم د قبلې طرف ته مخ كړئ. دغه وخت هغوى د شام (ملك) طرف ته مخ كړې ولاړ وو په دې وجه هغوى د كعبې طرف ته راتاؤ شو.

تراجم رجال: د مذكوره حديث شريف په سند كښې ټول څلور رجال دى.

① عبدالله بن يوسف رحمه الله: دا عبدالله بن يوسف تنيسى دمشقى رحمه الله دې. د دوى مختصر تذكره كشف البارى، كتاب بدء الوحى، الحديث الثانى او تفصيلى تذكره كتاب العلم، باب: ليبلغ العلم الشاهد الغائب لاندې تيره شوې ده[1].

② مالك بن انس رحمه الله: دا مالك بن انس بن مالك بن ابى عامر المدنى رحمه الله دې. د دوى تفصيلى تذكره كشف البارى كتاب الإيمان باب: من الدين، الفرار من الفتن لاندې تيره شوې ده[2].

③ عبدالله بن دينار رحمه الله: دا ابوعبدالرحمن عبدالله، بن دينار ورشى عدوى مدنى رحمه الله دې. د دوى تفصيلى تذكره كتاب العلم، باب: قول المحدث: حدثنا وأخبرنا وأنبأنا لاندې تيره شوې ده[3].

④ عبدالله بن عمر رضي الله عنهما: دا د مشهور صحابى حضرت عمر فاروق رضي الله عنه خوئى حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دې. د دوى احوال كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: الإيمان وقول النبى صلى الله عليه وسلم: بنى الإسلام على خمس لاندې تير شوى دى[4].

د حديث شرح: قَالَ: بَيْنَا النَّاسُ بِقُبَاءٍ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ: حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمائى چه مونږه په قبا كښې د سحر مونځ كولو.

قوله: "بَيْنَا": دا كلمه نورو نسخو كښې په ميم سره يعنى "بَيْنَمَا" ده مطلب د دې "بَيْنَ أوقات كذا" دې. يعنى د هغه اوقاتو په مينځ كښې چه خلق په قباء كښې...... إلخ.[5] كلمه "بَيْنَا" صيغه د ظرف ده د مفاجاة په معنى كښې. د دې استعمال د جملې طرف ته په اضافت سره كيږى اودا د خپل معنوى تماميت د پاره د جواب هم محتاج وى. چنانچه په دې مقام باندې د دې

---

[1]) كشف البارى: ٢٨٩/١، ١١٣/٤.
[2]) كشف البارى: ٢٩٠/١١، ٨٠/٢
[3]) كشف البارى: ٢٥٨/١، ١٢٥/٣.
[4]) كشف البارى: ٦٣٧/١
[5]) التوضيح لابن الملقن: ٤١٤/٥.

کلمي دَ اضافت مبتداء او خبر (الناس بقباء في صلاة الصبح) طرف ته دي. لهذا مضاف او مضاف اليه ملاويدو نه پس دَدي جواب به راتلونکي جمله (إذ جاءهم آتٍ) وي[۱].

قوله: "النَّاسُ" کښي الف لام عهدي ذهني دي. مراد اهل قباء اوهغه کسان دي چه هغه وخت هلته حاضر وو[۲].

قوله: "قُبَاءٍ" دَ صحيح مشهور قول مطابق داکلمه په مد سره لوستلي کيږي. او دَ مد نه علاوه قصر سره، مذکرهم، مؤنث هم، منصرف هم اوغير منصرف هم استعماليږي. دامديني سره نيزدې دَ مديني عوالي کښي دَ يو ځائي نوم دې[۳] اودې نه مراد مسجد قباء دې[۴].

دَ قبلې دَ بدليدو حکم په کوم مونځ کښي اوشو؟:

قوله: "صَلَاةِ الصُّبْحِ" په دې حديث کښي دَ سحر دَ وخت ذکردې خو دې نه مخکښي باب: "التوجه نحو القبلة" کښي دَ مازيګر دَ وخت ذکر دې. نو په دې دواړو کښي څه منافات نشته دې. تطبيق ممکن دې. هغه داسې چه کوم سرې مدينه کښي اوسيدونکي وو هغه ته خبر دَ مازيګر په وخت کښي رسيدلې وو او کوم چه دَ مديني نه بهر (مثلاً قباء وغيره کښي) اوسيدونکي وو هغه ته خبر په صبائي ورځ دَ سحر په مونځ کښي به رسيدلې وي[۵].

قوله: إِذْ جَاءَهُمْ آتٍ، فَقَالَ: «إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أُنْزِلَ عَلَيْهِ اللَّيْلَةَ قُرْآنٌ: چه په دې کښي يو سړې راغلو هغه اووئيل چه په رسول الله ﷺ باندې تيره شپه دَ قرآن آياتونه نازل شوي دي.

دا راتلونکي سړې څوک وو؟: "إِذْ جَاءَهُمْ آتٍ" دا راتلونکي څوک وو؟ په دې باره کښي علامه کرماني رحمه الله ليکلي دي چه دَهغه نوم عباد بن ابي بشر وو[۶]. او علامه ابن الملقن رحمه الله درې نومونه ذکرکړي دي په دې دريو کښي يو وو عبادبن نهيك، عبادبن ابن بسر او عباد بن ابن وهب[۷].

قوله: "أُنْزِلَ عَلَيْهِ اللَّيْلَةَ" په دې کښي لفظ "اللَّيْلَةَ" مطلق دې دکوم نه مراد چه تيره شوې ورځ او هغې سره متصل شپه ده[۸].

قوله: "قُرْآنٌ" نه مراد دَمکمل قرآن نازليدل نه دي بلکه دَ بعضې قرآن نازليدل مراد دي. ځکه

---

[۱]) عمدة القاري: ۲۱۹/٤.
[۲]) فتح الباري: ٦٥٥/۱، عمدة القاري: ۲۱۹/٤.
[۳]) شرح الكرماني: ٦٨/٤، التوضيح لابن الملقن: ٤١٤/٥، عمدة القاري: ۲۱۹/٤.
[۴]) فتح الباري: ٦٥٥/۱.
[۵]) شرح الكرماني: ٦٨/٤، په دې موضوع باندې تفصيلي کلام کشف الباري: ۳۹٤/۲-۳۹۲ کښي تيرشوې دې.
[۶]) شرح الكرماني: ٦٨/٤، عمدة القاري: ۲۱۹/٤.
[۷]) التوضيح لابن الملقن: ٤١٤/٥، الإعلام بفوائد عمدة الأحكام لابن الملقن: ٤٨٩/۲.
[۸]) فتح الباري: ٦٥٥/۱، عمدة القاري: ۲۱۹/٤.

چه په دې باندې تنوين دتبعيض دې يعنې د قرآن يو څو اياتونه نازل شوي دي[1]. او د دغه آياتونو نه مراد ﴿قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَآءِ﴾ والا آياتونه دي[2].

قوله: وَقَدْ أُمِرَ أَنْ يَسْتَقْبِلَ الْكَعْبَةَ، فَاسْتَقْبِلُوهَا: او هغوی ته د کعبې طرف ته (په مانځه کښې د مخ) کولو حکم شوې دې. لهذا تاسو هم قبلې طرف ته مخ کړئ.

قوله: "وَقَدْ أُمِرَ" حضرت محمد ﷺ ته حکم ورکړې شو[3]. هم په دې کښې دا امر موجود دې چه د حضور پاك نه صحط سره د حضور پاك امت ته هم دا حکم ورکړې شوې. هم د دې نه هم دا معلومیږي چه دامت د پاره د حضور پاك د افعالو تابعداري کول هم هغه شان ضروري دي څنګه چه د رسول الله ﷺ د اقوالو تابعداري کول، ترهغه وخته پورې چه د دغه فعلِ نبوی باره کښې څه قرينه قائم شي چه دا فعل نبي اکرم ﷺ سره خاص دې[4].

قوله: "فَاسْتَقْبِلُوهَا" په دې کلمه کښې دوه احتمالات دي. رومبې احتمال دا دې چه دا د امر صيغه وي (د حديث ترجمه کښې هم د دې مطابق ترجمه کړې شوې ده) او دويم احتمال دا دې چه دا فعل ماضي وي په دې صورت کښې به دا جمله د خبر د پاره وي چه نبي کريم ﷺ او صحابه کرامو ﷺ په مونځ کښې خپل مخ د قبلې طرف ته کړې دې[5].

ابن الملقن رحمه الله فرمائي چه دا د امر صيغه لوستل د ماضي صيغه لوستلو نه زيات بهتر او مشهوره ده. ابن عبد البر رحمه الله ليکلي دي چه د بخاري اکثر رواة هم په دې باندې دي[6].

قوله: وَكَانَتْ وُجُوهُهُمْ إِلَى الشَّأْمِ، فَاسْتَدَارُوا إِلَى الْكَعْبَةِ»: هغه وخت هغوی د شام (ملك) طرف ته مخ کړې شوي وو. په دې وجه هغوی د کعبې طرف ته تاؤ شو. مذکوره دواړه جملې د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما دي نه چه د دغه خبر ورکونکي سړي[7].

د حديث مبارک د ترجمة الباب سره مناسبت: علامه کرماني رحمه الله ليکي چه د دې حديث د ترجمة الباب د رومبي جزء سره مطابقت خو "فاستقبلوها" د امر په صيغه کښې دې. او په دويم جزء باندې دلالت په دې جهت سره دې چه د مانځه شروع هغه خلقو د داسې قبلې طرف ته مخ کولو سره کړې وه کومه چه منسوخ شوې وه. دکوم علم چه هغوی ته نه وو. چنانچه هغوی د هيرونکو په شان شو. بيا د اعلان کونکي اعلان اوريدو سره هغوی ته د صحيح قبلې علم

[1] شرح الکرماني: ۶۸/۴، اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح للبرماوي: ۱۵۲/۳، فتح الباري: ۶۵۵/۱.

[2] عمدة القاري: ۲۱۹/۴.

[3] عمدالقاري: ۲۱۹/۴.

[4] فتح الباري: ۶۵۵/۱.

[5] شرح الکرماني: ۴/۶۸.

[6] التوضيح لابن الملقن: ۴۱۴/۵. خو علامه دماميني رحمه الله د دې برعکس ذکر کړې دي چه د جمهورو رواتو مطابق دا د ماضي صيغه ده او د اصيلي په روايت کښې د امر صيغه ده. وګورئ: المصابيح الجامع الدماميني: ۱۱۵/۲، والله اعلم بالصواب.

[7] شرح الکرماني: ۶۸/۴اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح للبرماوي: ۱۵۳/۳،عمدة القاري: ۲۱۹/۴.

اوشو. دَدې نه پس هغوی هم په مونځ کښې خپل مخ تاؤ کړو نو چه کوم مونځ دهغوی د غير قبلې طرف ته اوشو دَ هغه مونځ هغوی ته دَ راګرځولو حکم اونه کړې شو. اوهم دغه خبره د ترجمة الباب په دويم جزء کښې ذکرده[1].

ابن الملقن رحمه الله صرف هم دومره خبره کړې ده چه دَدې حديث مطابق دَ انحراف قبلې په صورت کښې هم دَمونځ دَ راګرځولو حکم نه ورکول هم داسې دی لکه "مجتهد القبلة" چه په هغه باندې هم دَ مونځ واپس راګرځول لا زم نه دی[2].

دَ حديث مبارک نه مستنبط شوی فوائد او احکام: د مذکوره حديث شريف نه ډير احکام مستنبط کيږی په هغې کښې څه لاندې نقل کولې شی:

① معلومه شوه چه دَ حضورپاك په توسط سره دهغوی امت ته هم داحکم ورکړې شو. هم دَدې نه داهم معلوميږی چه دَ امت دَپاره دَ حضورپاك دَ افعالو تابعداری کول هم هغه شان ضروری دی څنګه چه دَ حضورپاك دَ اقوالو تابعداری کول ترهغه وخته پورې چه دَ فعلِ نبوی باره کښې څه قرينه قائم شی چه دا فعل دَ نبی کريم ﷺ سره خاص دې[3].

② دَ افعال نبوی ﷺ تابعداری کولو کښې که دَدې عمل په وجوب باندې څه قرينه قائم وی نودَ دې فعل اتباع کول به واجب وی، په بل صورت کښې به دَ دليل په قائميدو باندې دَ تابعدارئی حکم متعين کيږی[4].

③ دَدې حديث نه دَ خبر واحد دَمقبول کيدو علم کيږی[5].

④ داهم معلومه شوه چه که مونځ ګذار سړې دَ غير مونځ ګذار خبره واوری نوداَ هغه دَ پاره نقصانی نه ده[6].

⑤ داهم معلوميږی چه کومو کسانو ته دَ ورځې يو حکم نه وی رسيدلې نودَ هغوی نه به دَ دغه حکم تپوس پوښتنه نه کيږی ترکومې چه هغه دَ دين حکم هغوی ته اونه رسيږی[7].

⑥ دَدې حديث نه دَاحکامو دَ منسوخ کيدو دَ جواز علم هم کيږی.[8]

[1] شرح الكرماني: ٦٨/٤.

[2] التوضيح لابن الملقن:٤١٤/٥، المصابيح الجامع للدماميني: ١١٥/٢، اللامع الصبيح بشرح الجامع التصحيح للبرماوي: ١٥١/٣، فتح الباري: ٦٥٥/١ عمدة القاري: ٢١٨/٤.

[3] فتح الباري: ١/٦٥٥، عمدة القاري: ٢٢٠/٤.

[4] عمدة القاري: ٢٢٠/٤.

[5] عمدة القاري: ٢٢٠/٤الإعلام بفوائد الأحكام لابن الملقن: ٤٩٨/٢.

[6] عمدة القاري:: ٢٢٠/٤.

[7] الإعلام بفوائدعمدة الإحكام لابن الملقن: ٤٩٩/٢، عمدة القاري: ٢٢٠/٤. واضحه دې وی چه دا حکم دارالاسلام کښې دَ آزاد عاقل بالغ دَ پاره نه دې بلکه دهغوی دَ پاره خو پخپله دَ بلوغت نه مخکښې يا د بلوغت نه پس متصل احکامات دينيه زده کول ضروری دی. دهغوی داسې عذر چه مونږ ته خو داسې حکم هډورسيدلې نه دې دَ الله تعالی په نيز به مسموع نه وی. والله اعلم بالصواب.

[8] الإعلام بفوائدعمدة الإحكام لابن الملقن: ٤٩٧/٢.

⑥ دا هم معلوميږي چه دَ "الليلة" اطلاق په تيره شوې شپه باندې خو صحيح دې ليکن دَ راتلونکې شپې دَپاره صحيح نه دي[1].

حديث باب: (دريم حديث) [حديث نمبر ۳۹۶]

- ۳۰۲ حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ شُعْبَةَ عَنِ الْحَكَمِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ[2] صَلَّى النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- الظُّهْرَ خَمْسًا فَقَالُوا أَزِيدَ فِي الصَّلاَةِ قَالَ «وَمَا ذَاكَ». قَالُوا صَلَّيْتَ خَمْسًا. فَثَنَى رِجْلَيْهِ وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ.

دحديث ترجمه: د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دي چه يو ځل رسول الله ﷺ د ماسپښين مونځ ورکړو او پنځه رکعتونه ئې اوکړه. نوخلقو عرض اوکړو آيا په مونځ کښې څه دَ زياتي حکم کړې شوې دې؟ حضورپاك اوفرمائيل څه مطلب؟ خلقو عرض اوکړو تاسو پنځه رکعته اوکړل. دې اوريدو سره حضورپاك خپلې خپې راغونډې کړې او دوه سجدې ئې اداکړې.

تراجم رجال. دَ مذکوره حديث شريف په سند کښې ټول اووه رجال دي:

① مسدد رحمه الله: دا مسدد بن مسرهد بن مسر بل بن مرعبل الاسدي بصري رحمه الله دې. دَ بعضو په نيز دَ دوی نوم عبدالملك بن عبدالعزيز دې. دَ دوی مختصر حالات كشف الباري كتاب الإيمان، باب: من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه، لاندې او تفصيلي حالات كتاب العلم، باب: من خص بالعلم قوما دون قوم كراهية أن لايفهموا دَ دويم حديث لاندې تيرشوې دي.[3]

② يحيى رحمه الله: دا يحيى بن سعيد بن فروخ القطان تميمي رحمه الله دې. دَ دوی کنيت ابوسعيد دې. دَ دوی مختصر حالات كشف الباري كتاب الإيمان، باب: من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه لاندې تير شوی دی[4].

③ شعبه رحمه الله: دا امير المؤمنين شعبه بن الحجاج بن واسطی بصري رحمه الله دې. دَ دوی تذکره كشف الباري، كتاب الإيمان، باب: المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده، لاندې تيره شوې ده[5].

④ حکم رحمه الله: داحکم بن عتيبه الکندي الکوفي رحمه الله دې. دَ دوی احوال كشف الباري، كتاب العلم، باب: السمر في العلم لاندې تير شوی دی[6].

---

[1]) الإعلام بفوائد عمدة الإحكام لابن الملقن: ۵۰۱/۲.
[2]) مر تخريجه رقم الحديث: ۳۹۲.
[3]) كشف الباري: ۲/۲، ۵۸۸/٤.
[4]) كشف الباري: ۲/۲.
[5]) كشف الباري: ۶۷۸/۱.
[6]) كشف الباري: ٤١٤/٤.

⑤ ابراهيم رحمه الله: دا ابوعمران ابراهيم بن يزيد النخعي رحمه الله دې. دَ دوی احوال كشف الباری، كتاب الإيمان، باب: ظلم دون ظلم، لاندې تير شوي دي[1].
⑥ علقمه رحمه الله: دا علقمه بن قيس بن عبد الله نخعي رحمه الله دې. دَدوی احوال كشف الباری كتاب الإيمان، باب: ظلم دون ظلم لاندې تيرشوی دی[2].
⑦ عبدالله رحمه الله: دامشهور صحابئ رسول حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه دې. دَدوی احوال كشف البارى كتاب الإيمان، باب: ظلم دون ظلم لاندې تيرشوی دی[3].

دَ حديث شرح: دَ مذكوره حديث مكمل شرح ماقبل باب: "التوجه نحو القبلة حيث كان" كښې حديث نمبر ۴۰۱ لاندې تيره شوې ده. په دې باب كښې هم دَ هغه سابقه حديث څه ټكړه ذكركولو نه مقصود صرف داخودل يا واضح كول دی چه په غلطئ سره سلام ګرځولو نه پس حضورپاك دَ قبلې نه تاويدو سره دَخلقو طرف ته مخ كړو او كيناستو. په سهوه باندې خبردار كولو نه پس دوباره قبلې طرف ته تاؤ شو او سجده سهوه ئې اوكړه. كه چرته دَ قبلې نه تاويدو سره حضورپاك دَ مونځ نه وتلې وې نوصرف په سجده سهوه باندې به ئې اكتفاء نه كوله بلكه مونځ به ئې راګرځولو ليكن حضورپاك داسې اونه كړل. لهذا دَدې نه معلومه شوه چه په خطا دَ قبلې نه تاويدل مونځ واپس راګرځول نه واجبوی[4].

دَحديث شريف دَ ترجمة الباب سره مناسبت: دَمذكوره حديث دَترجمة الباب سره مناسبت ښكاره دې چه حضورپاك سهوه شو او حضورپاك صرف سجده سهوه اوكړه مونځ ئې راؤنه ګرځولو اوهم دغه څيز په ترجمة الباب كښې ذكردې.[5]

---
[1]) كشف الباري: ۲۵۳/۲.
[2]) كشف الباري: ۲۵۶/۲.
[3]) كشف الباري: ۲۵۷/۲.
[4]) عمدة القاري: ۲۲۰/۴..
[5]) عمدة القاري: ۲۲۰/۴.

بسم الله الرحمن الرحيم

۱۱- أبواب المساجد

ماقبل سره مناسبت: علامه عيني رحمه الله فرمائي چه دَ احکام قبله نه پس اوس دَ ابواب مساجد په مينځ کښې مناسبت واضح دې. دَدې باب نه واخله تر باب سترة الامام پورې دَ ټولو ابوابو تعلق هم دَمساجدو سره دې.[1]

۱- بَابُ حَكِّ البُزَاقِ بِاليَدِ مِنَ المَسْجِدِ

داباب په جمات کښې دَپريوتلې توکانړې او بلغم په خپلو لاسونو سره دَ صفا کولو په بيان کښې دې.

دَ ترجمة الباب مقصد:

دَحضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله رائې: حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائي چه چونکه دَ قبلې ذکرشروع وو نو امام بخاري رحمه الله ۵۵ ابواب مساجد سره متعلق دَ باب (حك البزاق باليد من المسجد نه ترباب المساجد على طرق المدينة) منعقد کړل او دَ ټولو خلاصه داده چه دَ مساجدو باره کښې تشديدات اووعيدات په کثرت سره راغلي دي. په يو روايت کښې دي چه يو سړی په جمات کښې فضول خبرې کولې. حضورپاك اوفرمائيل «لا ردها الله عليك» او په کنزالعمال کښې دَ جماتونو په آدابو کښې داسې روايات ذکرکړي شوی دی دَ کوم تقاضا داده چه په جماتونو کښې دې هيڅ قسم کلام اونه کړی صرف تلاوت قرآن، دَ الله ذکر او مونځ دې اوکړی. چنانچه په يو روايت کښې دی چه په جمات کښې خندا په قبر کښې دَ تيارو سبب دې. يو ځل حضرت عمر رضي الله عنه په مسجدنبوی کښې دوه کسان په زوره خبرې کولو باندې اوليدل نو وئی فرمائيل چه که تاسو دَدې ځائی اوسيدونکې وئی نو تاسو به مې وهلی وئی. نو امام بخاري رحمه الله ابواب المساجد اوتړل او په دې کښې ئی دوه ځيزونه ذکرکړی دی. يو خو هغه چه دَ امام بخاري رحمه الله په نيز په آدابو کښې داخل دی. هغه ئی ثابت کړو لکه "حك بزاق" او بل ئی دَ هغه ځيزونو استثناء اوکړه دَ کوم چه په جمات کښې کول جائز دی. لکه چه دَدې عموم ئی مقيد کړو لکه چه "من دعا الی الطعام فی المسجد".

امام بخاري رحمه الله په ترجمة الباب کښې دَ "يد" قيد لګولې دې دَ "يد" ذکر صرف په يو روايت کښې دې. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه په ترجمه کښې تعميم دې دَ "باليد او بغيره"، "يد" احترازی قيد نه دې اودَ بعضې علماؤ رائې داده چه امام بخاري رحمه الله دَ "باليد" په قيد سره "تولی بنفسه" طرف ته اشاره اوکړه چه پخپله کول پکاردی. اوس ئی که په لاس سره لرې کوی او که په بل ځيز سره.

اودَ حضرت شاه ولی الله صاحب رحمه الله رائې مبارك په خپلو تراجموکښې داده چه دَ امام

[1]) عمدة القاري: ۴/۲۲۰.

بخاري رحمه الله مقصد کله کله ابواب نه وي بلکه روايات وي. چنانچه دلته هم غرض ابواب نه دي بلکه روايات دي او باب ئې د رواياتو د الفاظو لحاظ کولو سره د تفنن په توګه او ترلو ګنې د دواړه بابونو (باب البزاق او باب المخاط) غرض هم يو دې او هغه ده ازاله.

اوزما رائې داده چه امام بخاري رحمه الله دوه بابونه ترلو سره بزاق ومخاط کښې فرق اوکړو چه بزاق کښې خو يد کافي کيږي ځکه چه په دې کښې دننه لزوجت نه وي او مخاط کښې يد نه کافي کيږي بلکه د دې د پاره د حصي وغيره ضرورت وي ځکه چه په دې کښې لزوجت وي.[۱]

دعلامه شبير احمد عثماني رحمه الله رائې: علامه شبير احمد عثماني صاحب رحمه الله فرمائي چه د "حك البزاق باليد" دوه مطلبونه کيدې شي ① بعضو وئيلي دي چه "باليد"، د "بالعصا ونحوه" په مقابله کښې دې يعنې لرګي وغيره سره نه بلکه بغير د واسطې په لاس سره دې هغه لرې کړي. ② بعضو وئيلي دي چه "باليد"، د "بالغير" په مقابله کښې دې يعنې پخپله په خپل لاس سره دې هغه لرې کړي، بل ته دې حکم نه کوي.[۲]

دعلامه ابن رجب الحنبلي رحمه الله رائې: علامه ابن رجب الحنبلي رحمه الله فرمائي چه د امام بخاري رحمه الله د دې تبويب نه دا خبره معلوميږي چه حضور پاك پخپله او بغير د څه حائله په خپل لاس مبارك سره هغه بلغم صفا کړو. په دې باندې دليل دا دې چه د دې باب نه پس ئې باب "حك المخاط بالحصى من المسجد" په عنوان سره قائم کړې شوې دې. يعنې راتلونکي باب کښې د "بالحصى" قيد او په دې باب کښې د "باليد" قيد احترازي دې نه چه واقعي.[۳]

---

[۱]) تقرير بخاري شريف: ۲/۱۵۰-۱۴۹، الکنز المتواري: ۹۷/٤. سراج القاري کښې د حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله يو بل تقرير نقل دې: "حک البزاق باليد" په تشريح کښې حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائي چه د دې باب لاندې امام بخاري رحمه الله درې روايتونه نقل کړي دي ليکن د "يد" ذکر صرف په رومبي روايت کښې دې. حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عيني رحمه الله فرمائي "أي سواء كان، بآلة أم لا" مطلب دادې چه د يد قيد، قيد احترازي نه دې بلکه په ترجمه کښې تعميم دې که هغه په لاس وي او که په بل څه څيز سره وي مقصد دغه ګندګي د الله تعالى د کور نه لرې کول دي. صحيح مسلم او سنن ابوداؤد کښې د حضرت جابر رضي الله عنه بيان دې چه نبي کريم صلى الله عليه وسلم زمونږ جمات ته تشريف راوړو او د حضور پاك په لاس مبارك کښې عرجون (د کهجورې د غنچې جرړه کومه چه کږه وي او د غنچې پرې کيدو باندې په ونه کښې اوچيدو سره باقي پاتې کيږي) ابن طاب وو. په دې کښې د حضور پاك نظر مبارك په جمات کښې قبلې طرف ته پروت بلغم باندې پريوتلو نو حضور پاك هغه د عرجون په ذريعه صفا کړو. دې نه پس زمونږ طرف ته متوجه شو وئې فرمائيل: (أيكم يحب أن يعرض الله عنه بوجهه، ثم قال: إن أحدكم إذا قام يصلي، فإن الله قبل وجهه، فلا يبصقن قبل وجهه، ولا عن يمين، وليبزق عن يساره تحت رجله اليسرى، فإن عجلت به بادرة، فليقل بثوبه هكذا، ووضعه على فيه ثم دلكه، الحديث). د دې نه معلومه شوه چه د حضور پاك په لاس مبارك کښې چه کوم لرګې وو د هغې په مدد سره ئې هغه بلغم صفا کړو. (سراج القاري: ۲/٤٤۹-٤٤۸).

[۲]) فضل الباري: ۱۱٦/۳.

[۳]) فتح الباري لابن رجب الحنبلي: ۱۰۸/۳.

حديث باب (رومبي حديث) [حديث نمبر ۳۹۷]

-٥٠٥- حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ (۱) أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - رَأَى نُخَامَةً فِي الْقِبْلَةِ، فَشَقَّ ذَلِكَ عَلَيْهِ حَتَّى رُئِيَ فِي وَجْهِهِ، فَقَامَ فَحَكَّهُ بِيَدِهِ فَقَالَ «إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا قَامَ فِي صَلَاتِهِ، فَإِنَّهُ يُنَاجِي رَبَّهُ - أَوْ إِنَّ رَبَّهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ - فَلَا يَبْزُقَنَّ أَحَدُكُمْ قِبَلَ قِبْلَتِهِ، وَلَكِنْ عَنْ يَسَارِهِ، أَوْ تَحْتَ قَدَمَيْهِ» . ثُمَّ أَخَذَ طَرَفَ رِدَائِهِ فَبَصَقَ فِيهِ، ثُمَّ رَدَّ بَعْضَهُ عَلَى بَعْضٍ، فَقَالَ «أَوْ يَفْعَلُ هَكَذَا» .

ترجمه حديث: د حضرت انس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دې چه يو ځل حضورپاك د قبلې طرف ته ديوال باندې بلغم لګيدلې اوليدلو نو په حضورپاك باندې داخبره ډيره سخته اولګيدله تردې چه د حضورپاك په مخ مبارك باندې د دې اثر ښكاره شو. بيا حضورپاك په ولاړه باندې هغه په خپل لاس مبارك سره اوتوكلو. بيائې اوفرمائيل په تاسو كښې چه څوك د مونځ د پاره اودريږي نوهغه خپل پروردګار سره مناجات كوي. نور ئې اوفرمائيل لكه چه بيشكه د هغه رب د هغه او د قبلې په مينځ كښې وي. په دې وجه دې يو كس هم خپل د قبلې طرف ته هيڅ كله نه توكئ او خپل كس طرف ته يا د خپو لاندې د توكلو ګنجائش شته. د دې نه پس حضورپاك د خپل څادر مبارك غاړه اونيوله او په هغې كښې اوتوكل او وئې مږل او وئې فرمائيل يل دې داسې كوي.

تراجم رجال: د مذكوره حديث شريف د ټولو رجالو ذكر ماقبل كښې تيرشوې دې (۲).

شرح حديث: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى نُخَامَةً فِي الْقِبْلَةِ، فَشَقَّ ذَلِكَ عَلَيْهِ يو ځل حضورپاك د قبلې په ديوال باندې بلغم لګيدلې اوليدلو نو په حضورپاك باندې داخبره ډيره سخته تيره شوه.

قوله: نُخَامَةً- ابن اثير رحمه الله ليكلي دي چه نخامه هغه بلغم وي چه د حلق د آخر او د خاء معجمه د مخرج نه راوځي. (۳) علامه طيبي رحمه الله هم دغه ذكركړي دي (۴).

ليكن لرم ياد كښې راځي چه ملا علي قاري رحمه الله په دې رد كړې دې (۵). او په مُغرب كښې ئې

---

(۱) مرتخريجه في كتاب الوضوء باب: البصاق والمخاط ونحوه في الثوب. رقم الحديث: ۲٤۱.

(۲) د مذكوره حديث مبارك مكمل سند كتاب الإيمان، باب: خوف المؤمن أن يحبط عمله كښې تيرشوې دې. د رجال د احوال د پاره اوكورئي: كشف الباري: ۵۷۱/۲.

(۳) النهاية في غريب الحديث والأثر. المادة: ن خ م: ۷۲۳/۲.

(۴) الكاشف عن حقائق السنن المعروف بشرح الطيبي، كتاب الصلاة، باب المساجد ومواضع الصلاة. رقم الحديث: ۷٤۶، ۲۵۹/۲.

(۵) ملاعلي قاري رحمه الله ليكلي دي چه د علامه ابن اثير رحمه الله خبره صحيح نه ده ځكه چه د خاء معجمه مخرج اقصى الحلق نه بلكه أدق الحلق دې. (يعني د ابن اثير رحمه الله د قول مطابق نخامه هغه توكانړې يا بلغم دې كوم چه د اقصى حلق او مخرج خاء نه راوځي، خو مخرج خاء اقصى حلق نه بلكه أدق حلق دې، چنانچه توكانړې په يو وخت د دغه دواړو مقاماتو نه نشي وتلې. مرقاة المفاتيح. كتاب الصلاة، باب المساجد ومواضع الصلاة، رقم الحديث: ۷٤۶، ۴۲۰/۲.

ليكلې دى چه هغه بلغم چه د پوزې سوړې كولو په وخت د پوزې نه اوځى([1]).
په دې باره كښې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه نخامه باره كښې ونيلې شوى دى چه دې نه مراد هغه بلغم دې كوم چه د سينې نه اوځى اودا هم ونيلې شوى دى چه كه دا لفظ په عين سره وى يعنى نخاعة نودې نه مراد د سينې نه وتونكې بلغم دې او كه دا لفظ په ميم سره وى يعنى نخامة نودې نه مراد د سر د طرف نه راتلونكې بلغم دې([2]).
قوله: "في القبلة" نه مراد هغه ديوال دې كوم چه د قبلې طرف ته وو([3]).
قوله: "فشق ذلك" د ذلك مشاراليه به هغه منظر شى كوم چه د حضورپاك مخې ته د قبلې د ديوال راغلې وو. يعنى دا منظر په حضورپاك باندې ډير سخت تير شو يا د مشقت سبب جوړ شو.
قوله: حَتّٰى رُئِيَ فِي وَجْهِهٖ، فَقَامَ فَحَكَّهُ بِيَدِهٖ: تردې چه د حضورپاك په مخ مبارك باندې د دې اثر رانبكاره شو. بيا حضورپاك اودريدو او دا ئې په خپل لاس مبارك سره اوتوكل.
قوله: "رُئِيَ" فعل مجهول دې، د دې ضمير كوم چه به نائب فاعل جوړيږى. د دې مرجع به د "فشق ذلك عليه" معنى شى كراهت، ناخوښى اوبد لګيدل وغيره([4]). په رواياتو كښې دا هم ذكر دې چه د دې منظر د وجې نه د ناخوښئ اثرات د حضورپاك په مخ مبارك باندې اوليدلې شو([5]).
اود سنن النسائى په روايت كښې دى چه د غصې د وجې نه د حضورپاك مخ مبارك تك سور شو([6]).. دې نه علاوه په صحيح بخارى كښې "العمل في الصلاة" او "الأدب" كښې د حضرت ابن عمر رضي الله عنه يو حديث دې په كوم كښې چه دى چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم د دې منظر د وجې په جمات والو باندې غصه هم شو([7]).

---

[1]) المغرب فى ترتيب المعجم، المدة: ن خ م: ۲/۲۹۴.
[2]) فتح الباري: ۱/۶۵۸.
[3]) شرح الكرماني: ۴/۷۰،مرقاة المفاتيح، كتاب الصلاة،باب المساجد ومواضع الصلاة،رقم الحديث: ۷۴۶، ۲/۴۲۰.
[4]) شرح الكرماني: ۴/۷۰ مرقاة المفاتيح، كتاب الصلاة،باب المساجد ومواضع الصلاة،رقم الحديث: ۷۴۶، ۲/۴۲۰.
[5]) اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ۳/۱۵۵، عمدة القاري: ۴/۲۲۱.
[6]) أخبرنا إسحاق بن إبراهيم قال: حدثنا عائذ بن حبيب قال: حدثنا حميد الطويل، عن أنس بن مالك قال: رأى رسول الله صلى الله عليه وسلم نخامة فى قبلة المسجد، فغضب حتى احمر وجهه، فقامت امرأة من الأنصار فحكتها وجعلت مكانها خلوقا، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ما أحسن هذا. (سنن النسائى، كتاب المساجد، تخليق المساجد، رقم الحديث: ۷۲۸)
[7]) حدثنا سليمان بن حرب، حدثنا حماد، عن أيوب، عن نافع، عن ابن عمر رضى الله عنهما: أن النبى صلى الله عليه وسلم رأى نخامة فى قبلة المسجد، فتغيظ على أهل المسجد، وقال: إن الله قبل أحدكم، فإذا كان فى صلاته فلا يبزقن أو قال: لا يتنخمن، ثم نزل فحتها بيده وقال ابن عمر رضى الله عنهما: إذا بزق أحدكم فليزق على يساره. (صحيح البخارى، أبواب العمل فى الصلاة، باب: مايجوز من البصاق والنفخ فى الصلاة، ......

قوله: "فَقَامَ فَحَكَّهُ بِيَدِهِ" په دې جمله کښې اشاره ده چه دَ قوم سردار دَهغوی خادم وی. په دې وجه نبي ﷺ پخپله اودريدو او په خپل مبارك لاس باندې ئې صفا کړو اودا صفا کول دَ الله تعالى دَ پاره تواضع او عاجزي اختيارول وو. اودَ الله تعالى کور دَ جمات سره دَ محبت وجه وه اودَ ضعيف امت دَ طرف نه دَعوض په توګه وو(١).

قوله: فَقَالَ: «إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا قَامَ فِي صَلاَتِهِ فَإِنَّهُ يُنَاجِي رَبَّهُ» بيائې اوفرمائيل په تاسو کښې چه څوك كله دَمانځه دَ پاره اودريږى نو هغه خپل پروردګار سره مناجات کوی.

قوله: "إِذَا قَامَ فِي صَلاَةٍ" په دې جمله کښې تعميم دې چه هغه په جمات کښې مونځ کونکې وی يا دَ جمات نه علاوه چرته بل ځائې کښې مونځ اداکونکې وی(٢).

قوله: "فَإِنَّهُ يُنَاجِي رَبَّهُ" يعني كله چه مونځ ګذار په مانځه کښې قراءت، ذکر او دعاګوی نو دې په ژبه دَ الله تعالى سره خبرې کوی. اوکله چه رکوع سجده او قعده وغيره کښې دَ يو حالت نه بل حالت ورېدليږى نودَ خپل بدليدو په احوالو سره دَ الله تعالى سره خبرې کوی(٣).

علامه کرماني رحمه الله ليکلى دی چه کلمه "فإنه" دَ کأنه په معنى ده. دَ کوم معنى چه به دا شى لکه چه هغه دَ خپل رب سره مناجات کوی(٤).

قوله: أَوْ إِنَّ رَبَّهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ، فَلاَ يَبْزُقَنَّ أَحَدُكُمْ قِبَلَ قِبْلَتِهِ: او وئې فرمائيل لکه چه بيشکه دَ هغه رب، دَ هغه او دَ قبلې په مينځ کښې وی. په دې وجه دې يو کس دَخپلې قبلې طرف ته هيڅ كله توکانړې نه توکى. دَ مستملى اوحموی په نسخه کښې "أوإن ربه" په ځائې "وإن ربه" دی.(٥) "أوإن ربه بينه وبين القبلة" علامه کرماني رحمه الله ليکلى دی چه دَدې جملې ظاهرى معنى مراد اخستل خو ممکن نه دی ځکه چه الله تعالى خو په يو مکان وغيره کښې دَ راکوزيدو وغيره نه بې نيازه دې نودلته صرف تشبيه مراد ده چه دې وخت لکه چه الله تعالى دَ دغه مونځ ګذار او دَ قبلې دَ ديوال په مينځ کښې موجود دې(٦).

علامه بغوی رحمه الله شرح السنة کښې دَدې جملې په معنى کښې ليکى چه ظاهراً خو مونځ ګذار قبلې ته مخ کولو سره اودريږى. ليکن په دَغه اودريدو کښې هغه دَ الله تعالى قصد کوی

.... رقم الحديث: ١٢١٣). حدثنا موسى بن إسماعيل، حدثنا، جويرية، عن نافع، عن عبدالله رضى الله عنهما، قال: بينا النبى صلى الله عليه وسلم يصلى، رأى فى قبلة المسجد نخامة، فحكها بيده، فتغيظ، ثم قال: إن أحدكم إذا كان فى الصلاة، فإن الله حيال وجهه، فلا يتنخمن حيال وجهه فى الصلاة. (صحيح البخارى، كتاب الأدب، باب: مايجوز من الغضب والشدة لأمرالله، رقم الحديث: ٦١١١).

(١) مرقاة المفاتيح، كتاب الصلاة، باب المساجد ومواضع الصلاة، رقم الحديث: ٧٤٦، ٤٢٠/٢.

(٢) مرقاة المفاتيح، كتاب الصلاة، باب المساجد ومواضع الصلاة، رقم الحديث: ٧٤٦، ٤٢٠/٢.

(٣) مرقاة المفاتيح، كتاب الصلاة، باب المساجد ومواضع الصلاة، رقم الحديث: ٧٤٦، ٤٢٠/٢.

(٤) شرح الكرمانى: ٧٠/٤.

(٥) اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ١٥٥/٣، فتح البارى: ٦٥٨/١

(٦) شرح الكرمانى: ٧٠/٤.

نولکه چه هغه هم د الله تعالی په مخکښې ولاړ دې يعنی د دغه مونځ ګذار او د قبلې د ديوال په مينځ کښې الله تعالی موجود دې. چنانچه حضورپاک د دغه طرف د خيال د ساتلو او د توکانړو توکلو وغيره نه د دې د حفاظت کولو حکم ورکړې دې[۱].

علامه خطابی رحمه الله فرمائيلی دی چه د دې جملې معنی داده چه د مونځ ګذار قبلې ته د مخ کولو مقصد قبله نه ده بلکه د هغه رب دې نولکه چه د مونځ ګذار رب د هغه او د قبلې په مينځ کښې دې. هم په دې وجه حکم ورکړې شو چه د دغه طرف حفاظت دې اوکړې شی دغه طرف ته دې توکانړې توك نه کړې شی او نه دې متيازې اوکړې شی[۲].

قوله: "فَلَا يَبْزُقَنَّ أَحَدُكُمْ قِبَلَ قِبْلَتِهِ" د قبلې طرف ته د اشرف الجهات کيدو په سبب د هغې طرف ته د توکانړې توکلو نه په تاکيد سره منع کړې شوې ده[۳].

ابن بطال رحمه الله د امام مهلب رحمه الله طرف ته نسبت کولو سره ليکلی دی چه په دې حکم کښې د قبلې اعزاز، اکرام او هغه د ګندګئ وغيره نه پاك صفا ساتل دی. ځکه چه مونځ ګذار خپل رب سره مناجات کوی نو په هغه باندې لازم دی چه د قبلې داسې اکرام اوکړی لکه د مخلوقاتو سره د خبرو اترو کولو په وخت چه د هغوی طرف ته مخ کولو سره خبرې اترې کوی. يعنی څنګه چه د دغه مخلوقاتو اکرام کولې شی هم دغه شان دې د الله تعالی هم اکرام اوکړی ځکه چه الله تعالی خو د مخلوقاتو په مقابله کښې د ډير زيات اکرام لائق دې.

د طاؤس تابعی رحمه الله قول دې چه د الله تعالی د قبلې اکرام کوئ داسې چه د هغې طرف ته مخ کولو سره مه توکئ. نبی کريم ﷺ داخبره واضحه کړه چه د قبلې طرف ته د توکانړو توکلو نه د ممانعت وجه د الله تعالی سره مناجات کول دی کوم چه مونځ ګذار په خپل مونځ کښې د قبلې طرف ته مخ کولو سره د الله تعالی سره کوی. څومره لوئی ظلم او بې ادبی ده چه يو سړې د رب الارباب او شهنشاه په مخکښې ولاړ وی او د هغه طرف ته مخ کولو سره توکانړې اوتوکی[۴].

قوله: وَلَكِنْ عَنْ يَسَارِهِ أَوْ تَحْتَ قَدَمَيْهِ»: آو خپل ګس طرف ته يا د خپلو خپو لاندې د توکلو ګنجائش شته.

قوله: "عَنْ يَسَارِهِ" به د فعل محذوف "لِيَبْصُقْ" سره متعلق وی.[۵]

---

[۱]) شرح السنة للبغوی، كتاب الصلاة، باب: كراهية البزاق فی المسجد ونحو القبلة، رقم الحديث:۴۹۲، ۳۱۲/۲.
علامه طيبی رحمه الله هم دغه خبره د علامه بغوی رحمه الله طرف ته د نسبت کولو نه بغير ذکرکړې ده. وګورئ: الكاشف عن حقائق السنن المعروف بشرح الطيبی، كتاب الصلاة، باب المساجد ومواضع الصلاة، رقم الحديث: ۷۴۶، ۲/۲۵۹.

[۲]) أعلام الحديث للخطابی: ۳۸۶/۱.

[۳]) مرقاة المفاتيح، كتاب الصلاة، باب المساجد ومواضع الصلاة، رقم الحديث: ۷۴۶، ۴۲۰/۲.

[۴]) شرح ابن بطال: ۶۸/۲.

[۵]) مرقاة المفاتيح، كتاب الصلاة، باب المساجد ومواضع الصلاة، رقم الحديث: ۷۴۶، ۴۲۰/۲.

قوله: تَحْتَ قَدَمَيْهِ، کينې دَ قدم نه مراد هم ګس قدم دې.[۱]
علامه خطابی رحمه الله فرمائي چه ګس طرف ته دَ توکلو حکم ئې ځکه ورکړو چه په دې کينې دَ ښي طرف تحفظ هم وو ځکه چه په بعضې رواياتو کښې دا هم راغلې دی چه ښي طرف ته مه توکئ ځکه چه ښي طرف ته فرښته وی. او ګس طرف ته دَ توکلو حکم هم هغه وخت دې کله چه ګس طرف ته بل مونځ ګذار نه وی يعنې که چرته ګس طرف ته هم څوك مونځ ګذار وی نو بيا دې ګس او ښي يو طرف ته هم نه توکی بلکه دَ خپو لاندې يا په خپله کپړا کښې دې اوتوکی څنګه چه حضورپاك اوکړل[۲].
علامه نووی رحمه الله ليکلی دی چه دَ ضرورت په وخت په دغه دواړو طرفونو کښې دَ توکلو حکم هغه وخت دې کله چه مونځ بهر دَ جمات نه ادا کولې شی خو چه کله مونځ په جمات کښې ادا کولې شی او بيا دَ توکلو ضرورت راغلو نو صرف هم په خپله کپړا کښې دې توکی، ښي، ګس طرف ته يا دَ خپو لاندې دې نه توکی[۳].
دَ علامه نووی رحمه الله په دې خبره باندې ملاعلی قاری رحمه الله دَحافظ ابن حجر رحمه الله دَ طرف نه يو اشکال نقل کولو سره دَ هغې جواب ورکړې دې. چنانچه فرمائي: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه [دَعلامه نووی رحمه الله] په دې توجيه کښې نظر دې. ځکه چه کله مونځ ګذار په جمات کښې څه کپړا يا جائې نماز وغيره خوررولو سره مونځ کوی نو دَ ضرورت په وخت دَ هغه دَ پاره جائز دی چه خپل ګس طرف ته يا خپو لاندې دې توکی ځکه چه مقصود دا وو چه دَتوکانړو، قرينګ يا بلغم نه څه هم په جمات کښې پرينوځی لکه څنګه چه دلته دې مونځ ګذار په خپله کپړا باندې پريوځی نه چه دَ جمات په فرش باندې.
په دې باندې ملاعلی قاری رحمه الله فرمائي چه دَ علامه نووی رحمه الله ذکرکړې شوی تفصيل کښې دَ څه قسم اشکال نه پيدا کيږی ځکه چه دَ حديث شريف دَ جملې "إلا في ثوبه" دَ مطلق کيدو نه چه څه مفهوم کيږی هغه صحيح او صريح دې په دې کښې دَ څه قسم نظر نشته دې. عملی صورت ددې جملې دا دې چه حضورپاك دَ خپل څادر مبارك يو ګوټ اونيولو او په هغې کښې ئې اوتوکل. ځکه چه په عامه توګه باندې خلق په مونځ کښې جدا دَ ځان لاندې څه کپړا نه خوروی[۴]. ابن الملقن رحمه الله هم دَ علامه نووی رحمه الله تائيد کړې دې[۵].
قوله: ثُمَّ أَخَذَ طَرَفَ رِدَائِهِ، فَبَصَقَ فِيهِ ثُمَّ رَدَّ بَعْضَهُ عَلَى بَعْضٍ، فَقَالَ: «أَوْ يَفْعَلُ هَكَذَا»:
دې نه پس حضورپاك دَ خپل څادر مبارك يو ګوټ اونيولو او په هغې کښې توکلو سره

---

[۱] كما فى حديث أبى هريرة فى الباب الذى بعده.
[۲] أعلام الحديث للخطابى: ۳۸۷/۱-۳۸۶.
[۳] شرح النووى، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب: النهى عن البصاق فى المسجد فى الصلاة، رقم الحديث: ۵۵۰، ۴۱/۵.
[۴] مرقاة المفاتيح، كتاب الصلاة، باب المساجد ومواضع الصلاة، رقم الحديث: ۷۴۶، ۴۲۱/۲.
[۵] التوضيح لابن الملقن: ۴۱۹/۵.

اومرلو او ارشادئی اوفرمائیلو یا دې داسې کوی.

قوله: "ثُمَّ أَخَذَ رِدَاءَهُ" نه واخله ترآخر پورې په وخت دَ ضرورت دَ بلغم دَ غورزولو طریقه اوخودلې شوه. اودا دَ بیان بالفعل دَ قبیل نه دې ځکه چه دا طریقه دَ سامع دَ پاره اوقع فی النفس وی[1].

قوله: "أَوْيَفْعَلُ" دَدې "عطف به دَ لکن حرف استدراك نه پس په فعل محذوف باندې وی. تقدیری عبارت به داسې شي: "ولکن یبزق عن یساره او یفعل هکذا"[2]. علامه عینی رحمه الله فرمائی چه کلمه دَ او دَ شك دَ پاره نه ده بلکه دَتنویع دَ پاره ده. دَ کوم معنی چه به دا وی چه هغه ته په دواړو عملونو کښې اختیاردې کوم هم چه کوی[3].

دَحدیث مبارك دَدې جملې نه معلومیږی چه توکل کونکی ته دَ دواړو کارونونه دَ یو دَکولو اختیار دې لیکن دَ ځلورو ابوابو نه پس ذکرشوی یو باب کښې دَ راتلونکی روایت دَ وجې مصنف دغه آخری عمل بهتر گرځولې دې[4].

دَ بلغم دَ پاکوالی یا ناپاکوالی حکم: دَ حدیث شریف په آخره کښې دَ ذکرکړې شوې طریقې نه معلومیږی چه بلغم پاك وی نجس نه وی. اودا حکم اجماعی دې. دَدې خلاف چه دکومو ائمه حضراتو چه څه اقوال دی هغه دَ شاذ په حکم کښې دی. لکه قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چه توکل دَ هغه سړی په حق کښې گناه ده چه هغه خښ نه کړی اوکه یو سړې دَ توکلو نه پس هغه په خاوره یا شگه کښې ورخښ کړی یا داسې ممکن نه کیدو دَ وجې په څه څیز هغه اوتوگی نودَ هغه په حق کښې گناه نشته[5].

دَحدیث شریف دَ ترجمة الباب سره مناسبت: علامه کرمانی رحمه الله فرمائی اگرچه په ترجمة الباب کښې دَ حك بالید ذکر دې لیکن حدیث باب کښې دَ "حك" تصریح خو شته اودَ بالید تصریح نشته دې. لیکن متبادر الی الفهم داخبره موجود ده چه حضورپاك به دَ دیوال نه هغه بلغم وغیره هم په خپل لاس سره صفا کړې وی[6].

دَ حدیث شریف نه مستفاد امور او اداب: دَمذکوره حدیث شریف نه دَ ډیرو امورو او آدابو استنباط کیږی دَ هغې نه یو څو لاندې ذکرکولې شي:

① دَدې حدیث شریف نه دَ نبې طرف دَ کس طرف نه افضل کیدل معلومیږی[7].

② دَ بدن فضلات دَ جمات نه دَ لرې ساتلو حکم معلومیږی[8].

---

[1]) فتح الباري: ۶۵۹/۱.

[2]) اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ۱۵۶/۳.

[3]) عمدة القاري: ۲۲۲/٤.

[4]) فتح الباري: ۶۵۹/۱.

[5]) التوضيح لابن الملقن: ٤۱۹/۵.

[6]) شرح الكرماني: ۷۱/٤، اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ۱۵۶/۳، عمدة القاري: ۲۲۱/٤.

[7]) التوضيح لابن الملقن: ٤۱۹/۵، عمدة القاري: ۲۲۲/٤.

[8]) عمدة القاري: ۲٤۲/٤.

③ دَ قبلې دَ طرف تعظيم هم معلوميږي.[1]

④ دَ جمات دَ صفائی مستحسن كيدل معلوميږي.[2]

⑤ دَ توكانړو، بلغم وغيره پاك كيدل معلوميږي ځكه چه مونځ ګذار ته په حالت دَ مانځه كښې په خپله كپړا كښې دَ توكلو حكم دَدې أمر تقاضا كوي چه هغه دې پاك وي. ګنې دَ مونځ ګذار كپړا ناپاكه كيدل اودَ دغه نجس كپړې دَ وجې به مونځ نه كيدل لا زم شي دكوم چه هيڅوك هم قائل نه دي[3].

حديث باب: (دويم حديث)[حديث نمبر ٣٩٨]

٣٠٦ - حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ.[4] أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - رَأَى بُصَاقًا فِي جِدَارِ الْقِبْلَةِ فَحَكَّهُ، ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ فَقَالَ «إِذَا كَانَ أَحَدُكُمْ يُصَلِّي، فَلاَ يَبْصُقْ قِبَلَ وَجْهِهِ، فَإِنَّ اللَّهَ قِبَلَ وَجْهِهِ إِذَا صَلَّى».

دحديث ترجمه: د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې چه نبي كريم ﷺ د قبلې طرف ته ديوال باندې بلغم لګيدلې اوليدلو نو هغه ئې اوتوكل. بيائې خلقو طرف ته متوجه كيدو سره ارشاد اوفرمائيلو كله چه تاسو كښې څوك مونځ كوي نوخپلې مخې ته دې نه توكي، ځكه چه الله تعالى دَ مونځ ګذار مخې ته وي.

تراجم رجال: دَ مذكوره حديث شريف په سند كښې ټول څلور رجال دي:

① عبدالله بن يوسف رحمه الله: دا عبدالله بن يوسف تنيسي دمشقي رحمه الله دي. دَ دوي مختصر احوال كشف الباري، كتاب بدء الوحي په دويم حديث كښې او تفصيلي احوال كتاب العلم، باب: ليبلغ الشاهد الغائب لاندې تيرشوي دي[5].

② مالك بن انس رحمه الله: دا مشهور امام مالك بن انس بن مالك الاصبحي المدني رحمه الله دي. دَ دوي احوال كشف الباري، كتاب بدء الوحي په دويم حديث كښې او تفصيلي تعارف كتاب

---

[1]) عمدة القارى: ٢٢٢/٤.

[2]) عمدة القارى: ٢٢٢/٤.

[3]) عمدة القارى: ٢٢٢/٤.

[4]) رواه البخاري أيضًا في صفة الصلاة، باب: هل يلتفت لأمر ينزل به، رقم الحديث: ٧٥٣، وفي العمل في الصلاة، باب: مايجوز من البصاق والنفخ في الصلاة، رقم الحديث: ١٢١٣، وفي الأدب، باب: ما يجوز من الغضب والشدة لأمرالله تعالى، رقم الحديث: ٦١١١. ورواه مسلم في صحيحه في المساجد، باب: النهي عن البصاق في المسجد، رقم الحديث: ٥٤٧، ورواه أبوداؤد في سننه في الصلاة باب: في كراهية البزاق في المسجد، رقم الحديث: ٤٧٩. ورواه النسائي في سننه في المساجد، باب: النهي عن أن يتنخم الرجل في قبلة المسجد، رقم الحديث: ٧٢٥. وفي جامع الأصول، حرف الميم، الكتاب السادس في المساجد وما يتعلق به، الفصل الثاني في أحكام تتعلق بالمسجد، الفرع الأول في البصاق، رقم الحديث: ٨٧٢٩، ١٩١/١١.

[5]) كشف البارى: ٢٨٩/١، ١١٣/٤.

الإيمان، باب: من الدين الفرار من الفتن لاندې تيرشوې دي[1].

④ نافع رحمه الله: دا مولى عبد الله بن عمر القرشى رحمه الله دې. دَ دوى احوال كشف البارى، كتاب العلم، باب: ذكر العلم والفتيا فى المسجد لاندې تير شوى دى[2].

⑤ عبدالله بن عمر رضي الله عنهما: دا مشهور صحابي رسول دَ حضرت عمر فاروق رضي الله عنه خوئى حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما دې. دَ دوى احوال كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: الإيمان وقول النبى صلى الله عليه وسلم: بنى الإسلام على خمس كښې تير شوى دى[3].

دَ حديث شرح: "في جدار القبلة" كښې دَ القبلة الف لام دَ عهد ذهنى دَ پاره دې يعنى فى جدار قبلة المسجد، دَمستملى په روايت كښې "فى جدار المسجد" الفاظ دى[4].

هم په صحيح البخارى كښې دَ كتاب الصلاة په آخر كښې دَ "ايوب عن نافع" په طريق سره يو روايت موجود دې په هغې كښې دَ "فى قبلة المسجد" الفاظ دى. او په دې روايت كښې دَ "ثم نزل، فحتها بيده" الفاظو زياتوالي هم دې. دَدې زياتوالى نه معلوميږى چه حضور پاك خطبه ارشاد فرمائيله كوم وخت چه حضور پاك په ديوال باندې بلغم اوليدلو[5].

قوله: "فإن الله قبل" يعنى الله تعالى ستاسو دَ مخ په طرف كښې دې. په دې حديث شريف كښې دا جمله دَ تشبيه په توګه وئيلې شوې ده. يعنى لكه چه الله تعالى دَ مونځ ګذار مخ ته مخامخ دې. لهذا دغه طرف ته مه توكئ. ځكه چه په دې عمل كښې دَ هغه پاك ذات تخفيف لازميږى.[6]

دَ حديث مبارك دَ ترجمة الباب سره مناسبت: دَدې حديث شريف به دَ ترجمة الباب سره مناسبت په دې حيثيت سره قائميږى چه په دې حديث كښې دَ "حك" نسبت دَ نبى كريم صلى الله عليه وسلم طرف ته دې نو په پوهه كښې راتلونكې خبره هم داده چه دَ دغه بلغم توكل به هم دَ لاس په ذريعه شوې وى.

دويمه خبره دا چه په حديث كښې "جدار القبلة" نه مراد "جدار قبلة مسجد رسول الله صلى الله عليه وسلم" دې. په دې تقدير سره به هغه اعتراض هم ختم شى كوم چه دَ بعضې كسانو دَ طرف نه كړې شوې دې چه دَدې حديث دَترجمة الباب دَ كل سره نه بلكه دَ جزء سره مطابقت دې ځكه

---

[1] كشف البارى: ۲/۱۸۰-۲۹۰.
[2] كشف البارى: ۱/۶۴۸.
[3] كشف البارى: ۱/۶۳۷.
[4] عمدة القارى: ۲۲۳/٤.
[5] صحيح البخارى، العمل فى الصلاة، باب: مايجوز من البصاق والنفخ فى الصلاة، رقم الحديث: ۱۲۱۳.
[6] عمدة القارى: ۲۲۳/٤.

چه ترجمة الباب کښې "جدار المسجد" ذکر دې او حديث کښې "جدار القبلة" ذکر دې[۱].

حديث باب: دريم حديث [حديث نمبر ۳۹۹]

۴۰۲- حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ[۲] أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - رَأَى فِي جِدَارِ الْقِبْلَةِ مُخَاطًا أَوْ بُصَاقًا أَوْ نُخَامَةً فَحَكَّهُ.

د حديث ترجمه: د ام المؤمنين حضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه رسول الله ﷺ د قبلې طرف ته ديوال باندې قرينګ، توکانړې يا بلغم لګيدلې اوليدلو نو هغه ئې اوتوګلو.

تراجم رجال: دَ مذکوره حديث په سند کښې ټول پنځه رجال دي:

① عبدالله بن يوسف رحمه الله: دا عبدالله بن يوسف تنيسي دمشقي رحمه الله دې. دَ دوی مختصر احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی دَ دويم حديث او تفصيلی احوال کتاب العلم، باب: ليبلغ الشاهد الغائب لاندې تيرشوی دی[۳].

② مالك بن انس رحمه الله: دا مالك بن انس المدنی رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی دَ دويم حديث او تفصيلی تعارف کتاب الإيمان، باب: من الدين الفرار من الفتن لاندې تيرشوی دی[۴].

③ هشام بن عروه رحمه الله: دا هشام بن عروه بن زبير رحمه الله دې. دَ دوی مختصر احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی دَ دويم حديث او تفصيلی احوال کتاب الإيمان، باب: أحب الدين إلى الله أدومه لاندې تيرشوی دی[۵].

④ عروه رحمه الله: دا عروه بن زبيربن عوام رحمه الله دې. دَ دوی مختصر احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی، دويم حديث لاندې او تفصيلی احوال کتاب الإيمان باب: أحب الدين إلى الله أدومه لاندې تير شوی دی[۶].

⑤ حضرت عائشه رضي الله عنها: دا ام المؤمنين حضرت عائشه بنت ابی بکر صديق رضي الله عنهما ده. دَ

---

[۱] عمدة القاری: ۲۲۳/۴.

[۲] أخرجه مسلم فی صحيحه فی المساجد، باب: النهی عن البصاق فی المسجد، رقم الحديث: ۵۴۹. وفی جامع الأصول، حرف الميم، الکتاب السادس فی المساجد وما يتعلق به، الفصل الثانی فی أحکام تتعلق بالمسجد، الفرع الأول فی البصاق، رقم الحديث: ۸۷۳۳، ۱۹۵/۱۱.

[۳] کشف الباری: ۲۸۹/۱، ۱۱۳/۴.

[۴] کشف الباری: ۲۹۰/۱، ۸۰/۲.

[۵] کشف الباری: ۲۸۹/۱، ۱۱۳/۴.

[۶] کشف الباری: ۱/۲۹۱، ۲/۴۳۲.

دوی احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی، دَدویم حدیث لاندې تیر شوی دی([1]).

دَحدیث شرح: دَ مذکوره حدیث تشریح وړاندې تیر شوی دواړو احادیثو کښې تیره شوې ده

دَحدیث شریف دَ ترجمة الباب سره مناسبت: دَ حدیث مبارك دَ ترجمة الباب سره مناسبت واضح دې چه متبادرالی الفهم هم دادی چه دغه بلغم به ئې هم په خپل لاس مبارك سره توکلې وی([2]).

۲ - بَابُ حَكِّ الْمُخَاطِ بِالْحَصَى مِنَ الْمَسْجِدِ

داباب دې دَ جمات نه دَ وړوکی کاڼړی په ذریعه دَ بلغم توګلو باره کښې

دَ مذکوره باب دَ ماقبل سره مناسبت: علامه عینی رحمه الله فرمائی چه سابقه باب کښې په لاس سره توکاڼړې یا بلغم دَ لرې کولو بیان وو اودلته په قوتکاڼړی یا کاڼړی وغیره سره دَ لرې کولو بیان دې. په دواړوکښې فرق دادې چه دَ "مخاط" رطوبت بالزوجت په نسبت دَ بلغم یا دَ توکاڼړو زیات وی لهذا دا دَ جمات نه په مکمله توګه لرې کولو دَ پاره صرف لاس کافی نه وی بلکه په څه څیز وغیره سره دَ لرې کولو ضروزت وی. په دې وجه په وړوکی کاڼړی سره دَ صفا کولو بیان په دې حدیث مبارك کښې ذکرشو. په دې مقام باندې یو اشکال پیدا کیږی چه ترجمة الباب کښې خو دَ "مخاط" ذکردې خو په حدیث مبارك کښې دَ "نخامه" ذکردې. نودَدې جواب دادې چه دا دواړه دَ انسانی بدن پاك فضلات دی. په دې دواړو کښې دَ حکم په اعتبارسره هیڅ فرق نشته دې. علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دا جواب علامه کرمانی رحمه الله ذکرکړې دې. زما په نیز زیات بهتر جواب دادې چه اګرچه په دې دواړو کښې څه فرق دې چه "مخاط" دَ پوزې نه وتونکې بلغم وی او "نخامه" دَ سینې نه وتونکې بلغم. لیکن په ترجمة الباب کښې دَ "مخاط" ذکر او حدیث شریف کښې دَ "نخامه" ذکر دَدې خبرې خبر ورکوی لکه څنګه چه دواړه په خپل ځان کښې دَ غوړوالی او تینګوالی په اعتبار سره برابر دی نو هم دغه شان دواړه په حکم کښې هم برابردی([3]).

حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله فرمائی چه دَ امام بخاری رحمه الله دَدې ترجمې قائمولو مقصد په هغه بعضې حضراتو باندې رد کول دی چاچه دَ پوزې اوبه او رطوبت پلیت ګرځولې دې اودلیل ئې دَدې حدیث مبارك نه نیولې دې. کوم چه امام بخاری رحمه الله په دې باب کښې ذکرکړې دې. اودَدې بنیاد ئې دا ګرځولې دې چه نبی اکرم ﷺ پخپله دا رطوبت صفا کول صرف دَ جمات دَ صفائی او نظافت په خاطر نه وو کړې بلکه جمات دَ دغه نجاست نه پاکول هم وو. نو عین ممکن دی چه امام بخاری رحمه الله دَداسې کسانو دَتردید دَپاره دا ترجمه قائمه کړې وی. خاص کر دَ ابن عباس رضی الله عنهما اثربه ئې هم دَدې دَ پاره قائم کړې وی چه دَ دغه اثر

---

[1] کشف الباری: ۱/۲۹۱.
[2] عمدة القاری: ۲۲۲/۴.
[3] عمدة القاری: ۲۲٤/٤.

نه د هغه بعضې حضراتو تردید کیدلو.
حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائی چه یوښه توجیه زما په نیز دا ده چه امام بخاری رحمه الله سره که چرې یو حدیث په مختلف طرق سره وی نو د هغوی عادت دا دې چه دغه ټول طرق د یو عنوان لاندې نه راجمع کوی بلکه هر روایت د مستقل عنوان لاندې ذکرکوی. د حدیث الفاظ مخې ته ساتلوسره ترجمة الباب او عنوان کښې تنویع پیدا کوی. او اصل مقصد د حدیث طرق بیانول وی هم دغه شان دلته هم شوی دی[1].
د صحیح بخاری د بعضې نسخو مطابق امام بخاری رحمه الله د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما یو اثر د دې ترجمة الباب جزء جوړولو سره تعلیقًا نقل کړې دې هغه هم لاندې نقل کولې شی.
تعلیق نمبر[2]: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: «إِنْ وَطِئْتَ عَلَى قَذَرٍ رَطْبٍ، فَاغْسِلْهُ وَإِنْ كَانَ يَابِسًا فَلَا»
د تعلیق تخریج: د حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما دا اثر ابن ابی شیبه رحمه الله خپل مصنف کښې ذکرکړې دې، وئی کورئی:

«حدثنا حفص بن غياث، عن الأعمش، عن يحيى بن وثاب قال: سئل ابن عباس عن رجل خرج إلى الصلاة فوطئ على عذرة؟ قال إن كانت رطبة غسل ما أصاب، وإن كانت يابسة لم تضره»[3]

د تعلیق ترجمه: حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه که چرې ستا خپې په څه لمده ګندګئ باندې اولګی نو هغه اووینځه او که چرې په اوچه ګندګئ باندې اولګی نو د وینځلو ضرورت نشته.
د تعلیق د ترجمة الباب سره مناسبت: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه په دې نهی کښې لوئی او اهم علت د قبلې احترام دې صرف د رطوبت د نفرت قابل کیدل نه دی، اګرچه د دې قابل نفرت کیدل هم یو سبب دې لیکن د قبلې د احترام په مقابله کښې دکمې درجې سبب دې. هم دغه وجه کیدې شی چه د جمات په معامله کښې د رطوبت صفا کولو کښې د دې د لوند یا د اوچیدو فرق نه دې کړې شوې (په خلاف د دې که چرې د نهی علت صرف د دې د نفرت قابل کیدل وی نو هلته به دواړو کښې فرق کیدل پکار دی چه چرته په اوچ رطوبت باندې خپه راشی نو څه د حرج خبره نه ده لیکن چه کوم ځائی په لوند رطوبت باندې خپه راشی نو هغه وخت دغه رطوبت وینځل پکاردی. چنانچه ونیلې شی چه د ابن عباس رضی الله عنهما په اثر کښې په رطوبت باندې د خپې راتلو واقعه د جمات نه وی بلکه د جمات نه به د بهر وی. په دې وجه د جمات په معامله کښې به د رطوبت لوند کیدو یا اوچ کیدو ته نه شی کتلې بلکه دا به صفا کولې شی)[4]

---

[1] الأبواب والتراجم للدهلوی فی بداية صحيح البخاری، باب: حک المخاط بالحصی، ص: ۳۰.
[2] مذکوره تعلیق الدکتور مصطفی دیب البغا والا نسخه کوم چه د کشف الباری د پاره بنیاد جوړ کړې شوې دې، کښې نشته دې لیکن شراح حدیث په دې کلام کړې دې. په دې وجه کشف الباري کښې هم د دې تشریح کړې شوې ده.
[3] المصنف لابن أبی شیبة، کتاب الطهارة، باب فی الرجل یتوضأ فیطأ علی العذرة، رقم الحدیث: ۶۱۳، ۱/۴۲۶.
[4] فتح الباری: ۶۶۰

علامه عینی رحمه الله د حافظ ابن حجر رحمه الله په رد کښې فرمائی چه داسې صحیح نه دی په دې کښې ډیر بعد دې بلکه علت د ممانعت د قبلې احترام سره سره د تکلیف موجودیدل هم دی ځکه چه لږ شان روستو د حضرت ابو سهله رضی الله عنه روایت راځی چه حضور پاك ارشاد فرمائیلې دي. «إنك آذيت الله ورسوله»، د دې ارشاد نه په واضحه توګه باندې د تکلیف حصول علت ممانعت کیدل معلومیږی.

د ترجمة الباب سره د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د دې اثر مناسبت په دې توګه باندې هم ممکن دی چه ترجمه کښې "حك المخاط بالحصى" دې او د روایت نه دا خبره هم معلومیږی چه د پوزې هغه رطوبت اوچ وو ځکه خو په کانړی سره صفا کول ممکن کیدې شی ګنې په کانړی سره به په ځائې د صفا کیدو نور زیات خوریدلو. چنانچه مذکوره اثر په اوچ او لوند نجاست کښې د فرق د پاره راوړلې شوې دې. سره د دې چه ظاهر حدیث کښې په دې باندې څه دلالت نشته دې. چنانچه اثر او ترجمه کښې په دې حیثیت سره مناسبت دې او دومره مقدار د مناسبت کافی دې[1].

د تعلیق د ترجمة الباب سره مناسبت: د مذکوره اثر یا تعلیق د ترجمة الباب سره مناسبت په پورته دوارو اقوالو کښې واضح شوې دې.

حدیث باب: رومبې حدیث [حدیث نمبر ۴۰۰]

۴۰۸و۴۰۹- حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ أَخْبَرَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ أَخْبَرَنَا ابْنُ شِهَابٍ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ وَأَبَا سَعِيدٍ[2] حَدَّثَاهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - رَأَى نُخَامَةً فِي جِدَارِ الْمَسْجِدِ، فَتَنَاوَلَ حَصَاةً فَحَكَّهَا فَقَالَ «إِذَا تَنَخَّمَ أَحَدُكُمْ فَلاَ يَتَنَخَّمَنَّ قِبَلَ وَجْهِهِ وَلاَ عَنْ يَمِينِهِ، وَلْيَبْصُقْ عَنْ يَسَارِهِ أَوْ تَحْتَ قَدَمِهِ الْيُسْرَى».

د حدیث ترجمه: د حضرت ابوهریره رضی الله عنه او حضرت ابوسعید رضی الله عنه بیان دې چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د جمات په دیوال باندې بلغم اولیدلو نو یو کانړې ئې راواخستلو او هغې سره ئې اوګرولو. بیائې اوفرمائیل کله چه تاسو کښې څوك بلغم توکی، نو نه دې خپلې مخې طرف ته توکی او نه دې خپل ښی طرف ته بلکه خپل ګس طرف ته یا د خپو لاندې دې توکی.

تراجم رجال: د مذکوره حدیث شریف په سند کښې ټول شپږ راویان دی:

---

[1] عمدة القاري: ۴/۲۲۵-۲۲۴.

[2] أخرجه البخاری أيضًا فی المساجد، باب: لا يبصق عن يمينه فی الصلاة، رقم الحديث: ۴۱۰، ۴۱۱، ۴۱۴، ۴۱۶. ومسلم فی صحيحه فی المساجد، باب النهی عن البصاق فی المسجد، رقم الحديث: ۵۴۸. وأبوداؤد فی سننه فی الصلاة، باب فی كراهية البزاق فی المسجد، رقم الحديث: ۴۸۰. والنسائی فی سننه فی المساجد، باب ذكر نهی النبی صلی الله عليه وسلم عن يبصق الرجل بين يديه أو عن يمينه وهو فی صلاته، رقم الحديث: ۷۲۶. وابن ماجة فی سننه فی المساجد، باب كراهية النخامة فی المسجد، رقم الحديث: ۷۶۱. وفی جامع الأصول، حرف الميم، الكتاب السادس، فی المساجد وما يتعلق به أو لا وآخرا، الفصل الثانی: فی أحكام تتعلق بالمساجد، الفرع الأول: فی البصاق، رقم الحديث: ۸۷۳۰، ۱۱/۱۹۳.

① موسیٰ بن اسماعیل رحمه الله: دا ابوسلمه موسیٰ بن اسماعیل التبوذکی البصری رحمه الله دي. دَ دوی مختصر احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی دَ څلورم حدیث او تفصیلی احوال کتاب العلم، باب: من أجاب الفتيا بإشارة اليد والرأس لاندې تیرشوي دي[1].

② ابراهیم بن سعد رحمه الله: دا ابو اسحاق ابراهیم بن سعد بن ابراهیم الزهری رحمه الله دي. دَ دوی مختصر احوال کشف الباری، کتاب الإیمان باب: من كره أن يعود في الكفر كما يكره أن يلقى في النار من الإيمان او تفصيلی احوال کتاب العلم، باب: ما ذكر في ذهاب موسىٰ عليه السلام في البحر إلى الخضر...... لاندې تیرشوي دي[2].

③ ابن شهاب رحمه الله: دا ابوبکر محمد بن مسلم، بن عبيد الله، بن عبد الله بن شهاب الزهری المدنی رحمه الله دي. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی دریم حدیث لاندې تیر شوی دی.[3]

④ حمید بن عبدالرحمن رحمه الله: دا حمید بن عبدالرحمن بن عوف رحمه الله دي. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: تطوع قيام رمضان من الإيمان لاندې تیر شوی دی[4].

⑤ ابوهریرة رضي الله عنه: دا مشهور صحابئ رسول حضرت ابوهریره رضي الله عنه دي. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: امور الإيمان لاندې تیر شوی دی[5].

⑥ ابوسعید رضي الله عنه: دا مشهور صحابئ رسول حضرت ابوسعید خدری رضي الله عنه دي. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: من الدين الفرار من الفتن لاندې تیر شوی دی[6].

دَ حدیث شرح: دَ مذکوره حدیث شریف تشریح وړاندې باب کښې تیره شوې ده. نور دَ تشریح قابل څۀ څیز نشته دې. سوا دَدې نه چه په دې روایت کښې "فحکها" لفظ دې خودَ کشمیهني په روایت کښې هم دغه لفظ "فحتها" دې خبره په دواړو کښې هم یوه ده.

دَ حدیث مبارک دَ ترجمة الباب سره مناسبت: دَ حدیث مبارک ترجمة الباب سره مناسبت هم او په دې باندې یو اشکال او جواب هم دَ باب په شروع کښې تیر شوې دي.

---

[1]) کشف الباري: ۴۳۲/۱، ۴۷۷/۱.
[2]) کشف الباري: ۱۲۰/۲، ۳۳۳/۳.
[3]) کشف الباري: ۱/۳۲۶.
[4]) کشف الباري: ۲/۳۱۶.
[5]) کشف الباري: ۶۵۹/۱
[6]) کشف الباري: ۸۲/۲.

۳- بَابُ: لاَيَبْصُقْ عَنْ يَمِينِهٖ فِى الصَّلاَةِ

په دې باب کښې ذکر کړې شوی دی چه مونځ ګذار دې
دَ مونځ په وخت خپل ښی طرف ته نه توکی.

دَترجمة الباب مقصد:

دَ حضرت شيخ الحديث صاحب نورالله مرقده رائې: حضرت شيخ الحديث صاحب نورالله مرقده فرمائي چه شارحينو دې ابوابو ته هيڅ تعرض نه دی کړې بلکه دا فرمائی چونکه دَ مذکوره رواياتو نه مختلف احکام ثابتيدل په دې وجه امام بخاری رحمه الله په هريو باندې مستقل باب اوتړلو. خوزما په نيز دَ هريوباب نه خانله يو غرض دې. چنانچه دَدې باب غرض دادې چه په دې کښې اختلاف چه دَ بصاق عن اليمين نهی دَ صلوة سره خاص ده او که عام ده صلوة اوغيرصلوة ټولو ته څکه چه روايات دواړه شان دی.

دَ حضرت امام مالك رحمه الله نه تخصيص بالصلوة نقل دې او امام نووی رحمه الله فرمائی چه عام دې. اودَدې اختلاف وجه اختلاف فی التعليل دې. کوم خلق ئې چه عام منی هغوی وائی چه نهی دَ بصاق إلى اليمين معلل کړې شوې ده دَ فرښتې دَ ښی طرف ته په کيدو سره. اوهغه هروخت انسان سره وی لهذا نهی عام ده، څکه چه دا دَ هغې دَ احترام خلاف ده. مګر په دې باندې اشکال دا کولې شی چه ګس طرف ته خو هم دَ ګناهونو ليکونکې فرښته وی. ويراعى للأميرمالا يراعى للمأمور. دې نه علاوه دَ نيکو ليکونکې فرښتې لره بدی ليکونکې فرښته دَ ګناه ليکلو نه منع کوی. لهذا دَ هغې په مونږ باندې احسان دې په دې وجه مونږ له هم دَ هغې احترام کول پکاردی.

او حضرت امام بخاری رحمه الله "فى الصلاة" زياتولو سره دَ امام مالك رحمه الله تائيد کړې دې. اوزما رائې هم دغه ده چه نهی دَ صلاة سره خاص ده اوکوم علت چه شارحينو بيان کړې دې او دَ "ملك" نو "كاتبين حسنات" مراد اخستې دې دا زما په نيز صحيح نه دی. اګرچه دَ مشرانو نه نقل دی اودَ صحيح نه کيدو وجه داده چه کاتب سيئات اګرچه کاتب سيئات ده مګر فرښته خوبيا هم ده او فرښتې ټول په ټولې مکرم دی. "هم عباد مكرمون". بله دا چه هغه خودَ سيئات کتابت پخپله نه کوی بلکه هغه مامور ده لهذا دَ هغې هم احترام کيدل پکاردی. بله دا خبره چه توکانړې ښکته پريوځی او فرښته پورته وی. لهذا زما په نيز دا صحيح نه ده چه دَ "ملك" نه مراد کاتب حسنات وی بلکه دې نه مراد دَدې نه علاوه بله فرښته ده چه خاص هم په مونځ کښې راځی او ښی طرف ته اودريږی او دَده دَ زړه حفاظت کوی. او يو شيطان راځی کوم چه ګس طرف ته اودريږی اودَ ده په زړه کښې وسوسې اچوی. نودَدغه فرښتې نه مراد دا فرښته ده او چونکه دا لاندې ولاړه وی په دې وجه که توکی نو هغه توکل به په دې باندې

پريوځي([1]).

دَ حضرت مولانا محمدادريس کاندهلوی رحمه الله رائې: ترجمة الباب کښې "في الصلاة" نه دې خبرې طرف ته اشاره کيږي چه دا ممانعت صرف دَمونځ دوران کښې دې دَ مانځه نه بهر نه دې. لکه چه امام بخاری رحمه الله دَ هغه حضراتو رد کوی څوك چه په مونځ کښې اودَ مونځ نه بهر هرحالت کښې توکل منع کوی. اګرچه ادب ته نيزدې خبره هم دا ده چه په هرحالت کښې دَ قبلې طرف ته توکل منع وی ځنګه چه به دَ حضرت ابن مسعود، حضرت معاذبن جبل، حضرت عمر بن عبد العزيز رحمهم الله وغيره دَ مونځ نه بهر هم قبلې طرف ته توکل مکروه ګرځولو([2]).

حديث باب «رومبی حديث» [حديث نمبر ۴۰۱]

۴۰۱- حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ وَأَبَا سَعِيدٍ([3]) أَخْبَرَاهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- رَأَى نُخَامَةً فِي حَائِطِ الْمَسْجِدِ، فَتَنَاوَلَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- حَصَاةً فَحَتَّهَا ثُمَّ قَالَ «إِذَا تَنَخَّمَ أَحَدُكُمْ فَلاَ يَتَنَخَّمْ قِبَلَ وَجْهِهِ وَلاَ عَنْ يَمِينِهِ، وَلْيَبْصُقْ عَنْ يَسَارِهِ، أَوْ تَحْتَ قَدَمِهِ الْيُسْرَى».

دحديث ترجمه: د حضرت ابوهريره او حضرت ابوسعيدخدری رضی الله عنهما بيان دې چه نبی اکرم صلی الله عليه وسلم دَ جمات په ديوال باندې بلغم اوليدلو نو يو کانړې ئې راواخستلو او هغې سره ئې اوګرولو، بيائې اوفرمائيل کله چه تاسو کښې څوك بلغم توکی، نو نه دې خپلې مخې طرف ته توکی او نه دې خپل ښی طرف ته بلکه خپل ګس طرف ته يا دَ خپو لاندې دې توکی.

تراجم رجال: دَمذکوره حديث شريف په سند کښې ټول اووه راويان دی:

① **يحيى بن بكير رحمه الله:** دا ابوزکريا يحيى بن عبدالله بن بکير القرشی المخزومی رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی، باب: کيف کان بدء الوحی دريم حديث لاندې تير شوی دی([4]).

② **الليث رحمه الله:** دا امام ابوالحارث الليث بن سعد بن عبد الرحمن رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی، باب: کيف کان بدء الوحی دريم حديث لاندې تير شوی دی([5]).

③ **عقيل رحمه الله:** دا عُقيل بن خالد بن عَقيل رحمه الله دې. دَ دوی مختصر احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی، باب: کيف کان بدء الوحی دريم حديث لاندې او تفصيلی احوال کتاب العلم باب: فضل

[1]) تقرير بخاری شريف: ۲/۳۶۲.
[2]) تحفة القاری للکاندهلوی: ۲/٤٧١.
[3]) مرتخريجه تحت رقم الحديث: ٤٠٠.
[4]) کشف الباری: ۱/۳۲۳.
[5]) کشف الباری: ۱/۳۲٤.

العلم لاندې تير شوی دی(۱).

④ ابن شهاب رحمه الله: دا ابوبكر محمدبن مسلم، بن عبيد الله، بن عبد الله بن شهاب الزهری المدنی رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی دریم حدیث لاندې تیر شوی دی(۲).

⑤ حمید بن عبدالرحمن رحمه الله: دا حمید بن عبدالرحمن بن عوف رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: تطوع قیام رمضان من الإیمان لاندې تیر شوی دی(۳).

⑥ ابوهریرة رضي الله عنه: دا مشهور صحابئ رسول حضرت ابوهریره رضي الله عنه دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: امور الإیمان لاندې تیر شوی دی(۴).

⑦ ابوسعید رضي الله عنه: دا مشهور صحابئ رسول حضرت ابوسعید خدری رضي الله عنه دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: من الدین الفرار من الفتن لاندې تیر شوی دی(۵).

دَ حدیث شرح: دَ مذکوره حدیث مبارك مکمل شرح وړاندې تیره شوې ده په دې کښې هیڅ څه نوې خبره نشته دې. وړاندې او دې موجوده حدیث شریف کښې صرف څه لفظی فرق دې په کوم سره چه په معنی او مباحثو باندې هیڅ فرق نه پریوځی. مثلاً هلته "جدار المسجد" وو او دلته "حائط المسجد" دې هلته "فحکها" وو اودلته "فحتها" دې هلته "فلایتنخمن" وو او دلته "فلایتنخم" دې. هلته "تحت قدمه" وو اودلته "تحت قدمه الیسری" دې.

دَ حدیث مبارک دَ ترجمة الباب سره مناسبت: دَحدیث مبارك دَ ترجمة الباب سره مناسبت په دې جمله "فلایتنخم قبل وجهه ولاعن یمینه" کښې دې. که چرې دا اعتراض اوکړې شی چه ترجمة الباب کښې خو دی: "لایبصق عن یمینه" او په حدیث مبارك کښې دَ "لایتنخم" الفاظ دی نودَ دې جواب دادې چه دَ حکم په اعتبار سره "نخامه" او "بصاق" یو گرځولې شوی دی دَ نورو احادیثو نه ددې تساوی اشاره ملاویږی.(۶)

---

(۱) کشف الباری:۱/۳۲۵، ۳/٤٥٥.

(۲) کشف الباری: ۱/۳۲۶.

(۳) کشف الباری: ۲/۳۱۶.

(۴) کشف الباری: ۱/۶۵۹.

(۵) کشف الباری: ۲/۸۲.

(۶) عمدة القاری: ٤/۲۲۶. مثلاً لږ شان روستو راتلونکې حدیث شریف کښې دی (لا یبزقن فی قبلته ولکن عن یساره) حضورپاك دا جمله دَ قبلې په دیوال کښې "نخامه" لیدلونه پس ارشاد فرمائیلې وه. دا دلالت دې چه نخامه او بزاق دَ حکم په اعتبار سرهٔ برابر دی. (عمدة القاری: ٤/۲۲۶).

حديث باب (دويم حديث) [حديث نمبر ۴۰۲]

- ۳۱۲ حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي قَتَادَةُ قَالَ (١) سَمِعْتُ أَنَسًا قَالَ قَالَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - «لاَ يَتْفِلَنَّ أَحَدُكُمْ بَيْنَ يَدَيْهِ وَلاَ عَنْ يَمِينِهِ، وَلَكِنْ عَنْ يَسَارِهِ أَوْ تَحْتَ رِجْلِهِ.

د حديث ترجمه: حضرت انس رضي الله عنه فرمائي چه نبي اکرم ﷺ اوفرمائيل چه تاسو کښې دې څوك خپلې مخې ته نه توکي او نه دې خپل ښي طرف ته ليکن (چه د توکلو ضرورت پيښ شي نو) خپل گس طرف اود خپو لاندې توکلې شي.

تراجم رجال: دَ مذکوره حديث شريف په سند کښې ټول څلور راويان دي:

① حفص بن عمر رحمه الله: دا حفص بن عمر، ابن الحرث الحوضي رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف البارى، کتاب الوضوء، باب: إذا شرب الکلب فی إناء أحدکم فليغسله سبعًا، الحديث الرابع لاندې تير شوى دى.(٢)

② شعبه رحمه الله: دا امير المؤمنين شعبه بن الحجاج بن الورد عتکی الواسطی بصری رحمه الله دې. دَ دوی تذکره کشف البارى، کتاب الإيمان، باب: المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده، لاندې تيره شوې ده(٣).

③ قتادة رحمه الله: دا قتاده بن دعامه رحمه الله دې. دَ دوی تذکره کشف البارى، کتاب الإيمان، باب: من الإيمان أن يحب لأخيه ما يحب لنفسه لاندې تيره شوې ده(٤).

④ انس رضي الله عنه: دا مشهور معروف صحابئ رسول حضرت انس بن مالك بن نضر خزرجي انصاری رضي الله عنه دې. دَ دوی تذکره کشف البارى، کتاب الايمان، باب: من الإيمان أن يحب لأخيه ما يحب لنفسه لاندې تيره شوی ده.(٥)

دَ حديث شرح: دَ مذکوره حديث شريف تشريح او وضاحت هم وړاندې تير شوې دې. "لايتفلنّ" دا صيغه دَ باب نصر او ضرب دواړو نه مستعمل دې. يعنى دَ فاء کسره او ضمه دواړه شان لوستلې کيدې شي. دَدې معنى دَ توکلو ده. "لايتفلنّ" او "لايبزقن" يا "لايبصق" دَدې ټولو هم يوه معنى ده(٦).

(١) مر تخريجه تحت رقم الحديث: ٢٤١، فی کشف البارى، کتاب الوضوء، باب: البزاق والمخاط ونحوه فی الثوب.
(٢) کشف البارى: ٦٧٨/١.
(٣) کشف البارى: ٦٧٨/١.
(٤) کشف البارى: ٣/٢.
(٥) کشف البارى: ٤/٢.
(٦) عمدة القارى: ٢٢٧/٤.

دَ حديث مبارک دَ ترجمة الباب سره مطابقت: دَ مذكوره حديث دَ ترجمة الباب سره مطابقت بالكل واضح دې چه په دواړو كښې هم يوه خبره ذكر ده[١].

۴- بَابٌ: لِيَبْزُقْ عَنْ يَسَارِهِ، أَوْ تَحْتَ قَدَمِهِ الْيُسْرَى

داباب دې په دې باره كښې چه (مونځ گذار له) پكار دى چه (دَ ضرورت په وخت) خپل گس طرف ته توكى يا دَ خپلې گسې خپې لاندې

دَباب دَ عنوان بعضې نسخو كښې "ليبزق" په ځائې "ليبصق" دې. دَ دواړو معنى هم يوه ده[٢].

دَ ترجمة الباب مقصد: حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله په دې باب سره يو اختلاف طرف ته اشاره كړې ده او هغه دا چه قاضى عياض رحمه الله فرمائى چه بصاق في المسجد جائز دې اودَدې نه دفن كول گناه ده. او امام نووى رحمه الله فرمائى بصاق في المسجد گناه ده اودَدې كفاره دَدې دفن كول دى.

ما بيان كړى وو چه دا دواړه دَ پخوانو شارحينونه دى. قاضى عياض رحمه الله مقدم دې اومالكى دې. او امام نووى رحمه الله مؤخر دې او شافعى دې. نو اكثر وختونو كښې دَ حديث معانى بيانولو كښې دواړه اختلاف كوى او بيا دَ هغوى نه پس راتلونكى دوه فريق شو. يو دَ امام عياض رحمه الله موافقت كوى او دويم دَ امام نووى رحمه الله تائيد كوى. هم دَدغې نه دا اختلاف هم دې. امام بخارى رحمه الله دَ مختار قاضى عياض رحمه الله طرف ته اشاره فرمائيلې ده. دَ مختار قاضى عياض رحمه الله دامطلب نه دې چه امام بخارى رحمه الله مختار عياض رحمه الله گڼړلو سره دَ هغه طرف ته اشاره كړې ده. چونكه شهرت هم په امام عياض رحمه الله سره شوې وو په دې وجه هغه طرف ته منسوب كړې شو[٣].

حديث باب (رومبى حديث) [حديث نمبر ۴۰۲]

- ۴۰۲- حَدَّثَنَا آدَمُ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ[٤] قَالَ قَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- «إِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا كَانَ فِي الصَّلاَةِ فَإِنَّمَا يُنَاجِي رَبَّهُ، فَلاَ يَبْزُقَنَّ بَيْنَ يَدَيْهِ وَلاَ عَنْ يَمِينِهِ، وَلَكِنْ عَنْ يَسَارِهِ أَوْ تَحْتَ قَدَمِهِ».

دَ حديث ترجمه: حضرت انس رضي الله عنه فرمائى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو مؤمن چه كله په مانځه كښې وى نوهغه دَخپل پروردگار سره مناجات كښې مشغول وى. چنانچه دَ (توكلو حاجت راتلو په وخت) دې خپل مخامخ يا خپل ښى طرف ته نه توكى بلكه خپل گس طرف ته يا دَ خپو طرف ته دې توكى.

تراجم رجال: دَمذكوره حديث شريف په سند كښې تول څلور راويان دى:

---

[١] عمدة القارى: ۲۲۷/۴.

[٢] فتح البارى: ۶۶۲/۱ عمدة القارى: ۲۲۷/۴.

[٣] تقرير بخارى شريف: ۱۵۱/۲.

[٤] مرتخريجه رقم الحديث: ۳۹۷.

① آدم رحمه الله: دا آدم بن ابى اياس العسقلانى رحمه الله دی. دَ دوی احوال كشف البارى، كتاب الايمان، باب: المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده لاندې تير شوى دى.[1]

② شعبه رحمه الله: دا امير المؤمنين شعبه بن الحجاج بن الورد عتكى الواسطى بصرى رحمه الله دی. دَ دوى تذكره كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده، لاندې تيره شوې ده[2].

③ قتادة رحمه الله: دا قتاده بن دعامه رحمه الله دی. دَدوى تذكره كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه لاندې تيره شوې ده[3].

④ انس بن مالك رضي الله عنه: دامشهور او معروف صحابئ رسول حضرت انس بن مالك بن نضر خزرجى انصارى رضي الله عنه دی. دَ دوى تذكره كشف البارى، كتاب الايمان، باب: من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه لاندې تيره شوى ده.[4]

دَ حديث شرح: دَمذكوره حديث شريف تشريح ماقبل كښې تيره شوې ده.

دَمذكوره حديث دَ ترجمة الباب سره مناسبت: دَمذكوره حديث دَترجمة الباب سره مناسبت "ولكن عن يساره أو تحت قدمه" كښې دی. معنى دَدې جملې داده چه پكاردى چه خپل كس طرف ته اونه توكى. واضحه دې وى چه ماقبل ترجمة الباب كښې دَ فى الصلاة قيدوو خو په دې روايت كښې دا قيد نه وو. اودلته په ترجمة الباب كښې دا قيد نشته دې خو په حديث شريف كښې دا قيد موجود دې[5].

حديث باب (دويم حديث) [حديث نمبر ۴۰۴]

-۴۰۳- حَدَّثَنَا عَلِيٌّ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ. [6] أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- أَبْصَرَ نُخَامَةً فِي قِبْلَةِ الْمَسْجِدِ فَحَكَّهَا بِحَصَاةٍ، ثُمَّ نَهَى أَنْ يَبْزُقَ الرَّجُلُ بَيْنَ يَدَيْهِ أَوْ عَنْ يَمِينِهِ، وَلَكِنْ عَنْ يَسَارِهِ أَوْ تَحْتَ قَدَمِهِ الْيُسْرَى. وَعَنِ الزُّهْرِيِّ سَمِعَ حُمَيْدًا عَنْ أَبِي سَعِيدٍ نَحْوَهُ.

د حديث ترجمه: د حضرت ابوسعيد خدرى رضي الله عنه نه روايت دې چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم د جمات قبلې طرف (ديوال) باندې بلغم اوليدلو نو حضورپاك په يو كانړى باندې هغه اوكرولو. بيا

[1] كشف البارى: ۶۷۸/۱.
[2] كشف البارى: ۶۷۸/۱.
[3] كشف البارى: ۳/۲.
[4] كشف البارى: ۴/۲.
[5] عمدة القارى: ۲۲۷/۴.
[6] مرتخريجه تحت رقم الحديث: ۴۰۰.

حضور پاك منع اوفرمائيله چه يو كس دې هم خپل مخې طرف ته يا خپل ښي طرف ته نه توكى بلكه (د ضرورت په وخت) دې خپل كس طرف ته يا د خپلې گسې خپې لاندې توكى.

تراجم رجال: دَمذكوره حديث شريف په سند كښې تول پنځه رجال دي:

① علي رحمه الله: دا علي بن عبد الله المديني رحمه الله دې. دَ دوى احوال كشف البارى، كتاب العلم، باب: الفهم في العلم لاندې تير شوى دى(۱).

② سفيان رحمه الله: دا سفيان بن عيينه رحمه الله دې. دَ دوى مختصر احوال كشف البارى، كتاب بدء الوحي، الحديث الأول او تفصيلي حالات كتاب العلم، باب: قول المحدث: حدثنا أو أخبرنا وأنبأنا لاندې تير شوى دى.(۲)

③ زهري رحمه الله: دا امام محمد بن مسلم، بن عبيد الله، بن شهاب الزهري رحمه الله دې. دَ دوى مختصر حالات كشف البارى، كتاب بدء الوحي دَ دريم حديث لاندې تير شوى دى(۳).

④ حميد بن عبد الرحمن رحمه الله: دا حميد بن عبد الرحمن بن عوف رحمه الله دې. دَ دوى احوال كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: تطوع قيام رمضان من الإيمان لاندې تير شوى دى(۴).

⑤ ابوسعيد رضي الله عنه: دا مشهور صحابئ رسول حضرت ابوسعيد خدرى رضي الله عنه دې. دَ دوى تفصيلي تذكره كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: من الدين الفرار من الفتن لاندې تير شوى دى(۵).

دَ حديث شرح: دا روايت هم واضح دې. دَدې تشريح هم ماقبل ابواب كښې بيان شوې ده.

دَ مذكوره حديث دَ ترجمة الباب سره مناسبت: دَ مذكوره حديث دَ ترجمة الباب سره مناسبت "ولكن عن يساره أو تحت قدمه" كښې دې. معنى دَدې جملې داده چه پكاردى خپل كس طرف ته اونه توكى(۶).

قوله: وَعَنِ الزُّهْرِيِّ، سَمِعَ حُمَيْدًا، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ نَحْوَهُ: دَدې تكړې په ذريعه امام بخارى رحمه الله دا اشاره كول غواړى چه مذكوره حديث ماقبل سند كښې زهرى رحمه الله دَ حميد بن عبد الرحمن رحمه الله نه په عنعنه سره روايت كړې وو او دَ زهرى رحمه الله دَ حميد بن عبد الرحمن رحمه الله نه سماع هم ثابته ده. چنانچه دا سند هم په دغه سماع باندې دلالت كوى(۷).

---

(۱) كشف البارى: ۲۹۷/۳.
(۲) كشف البارى: ۲۳۸/۱، ۱۰۲/۳.
(۳) كشف البارى: ۳۲۶/۱.
(۴) كشف البارى: ۳۱۶/۲.
(۵) كشف البارى: ۸۲/۲.
(۶) عمدة القارى: ۲۲۷/۴.
(۷) شرح الكرمانى: ۷۳/۴، عمدة القارى: ۲۲۸/۴.

ددې تکرې باره کښې علامه کرماني رحمه الله فرمائي چه دا تعليق دې.(١) خو حافظ ابن حجر رحمه الله دَهغوی د نوم اخستو نه بغير نقد کولو سره فرمائي چه دا تعليق ګرځول دَ شراحو وهم دې بلکه دا موصول دې لکه چه دَدې نه مخکښې هم داسې شوې دی.(٢) په دې باندې علامه عيني رحمه الله دَ علامه کرماني رحمه الله طرف داری کولو سره دَدې تعليق کيدل راجح ګرځولی دی(٣).

٥- بَابٌ: كَفَّارَةِ الْبُزَاقِ فِي الْمَسْجِدِ

دا باب دَدې باره کښې دې چه په جمات کښې دَ بلغم غورزولو کفاره څه ده؟

دَ ترجمة الباب مقصد: حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائي چه په دې باب سره امام بخاري رحمه الله دَ امام نووي رحمه الله مختار (مذهب) طرف ته اشاره کړې ده. (او دَ سابقه ابوابو نه دَ قاضي عياض رحمه الله دَ مذهب تائيد کيدلو)(٤).

په جمات کښې دَ توکلو يا نه توکلو دَ احکاماتو خلاصه: دَ تيرو شوو ابوابو دَمقاصدو خلاصه به دا راوځي چه په جمات کښې دَمونځ دروان کښې يا دَ مونځ نه بهر که چرته دَ توکانړو توکلو مجبوري پيښه شي نو دَ احاديثو مطابق په جمات کښې خپل ګس طرف ته يا دَ خپلې ګسې خپې لاندې دَ توکلو تصريح ذکر ده. هغه په دې شرط سره چه جمات کچه وی دکوم په بنياد چه هغه توکانړې په خاوره وغيره سره پټول ممکن وی نو داسې دې کوی خو که جمات پوخ دې نو بيا دَ جمات په فرش باندې دَ توکلو اجازت نشته دې. په دې صورت کښې په خپله کپړا وغيره کښې توکلو سره هغه مړل پکار دی. زمونږ دَدې خبرې تائيد دَ ابوداؤد شريف دَ يو روايت نه هم کيږي.(٥)

حديث باب [حديث نمبر ٤٠٥]

٤١٥ - حَدَّثَنَا آدَمُ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ قَالَ(٦) قَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- «الْبُزَاقُ فِي الْمَسْجِدِ خَطِيئَةٌ، وَكَفَّارَتُهَا دَفْنُهَا».

---

(١) شرح الكرماني: ٧٣/٤.

(٢) فتح الباري: ٦٦٢/١.

(٣) عمدة القاري: ٢٢٨/٤.

(٤) تقرير بخاري شريف: ١٥٢/٢.

(٥) عن عبدالرحمن بن أبي حدرد الأسلمي قال سمعت أباهريرة يقول: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "من دخل هذا المسجد، فبزق فيه، أو تنخم، فليحفر، فليدفنه، فإن لم يفعل، فليبزق فی ثوبه ثم ليخرج به. (سنن أبي داؤد، كتاب الصلاة، كراهية البزاق فى المسجد، رقم الحديث: ٤٧٧).

(٦) أخرجه مسلم فی صحيحه فی المساجد، باب: النهی عن البصاق فی المسجد، رقم الحديث: ١٢٦٠. وأبوداؤد فی سننه، فی الصلاة، باب: فی كراهية البزاق فی المسجد، رقم الحديث: ٤٧٤، ٤٧٥، ٤٧٦. والترمذي فی جامعه، فی الصلاة، باب: ماجاء فی كراهية فی المسجد، رقم الحديث: ٥٧٢. والنسائي فی سننه فی المساجد، باب: البصاق فی المسجد، رقم الحديث: ٨٠٤ وفی جامع الأصول، حرف الميم، الكتاب السادس: فی المساجد، الفصل الثانی: فی أحكام تتعلق بالمساجد، الفرع الأول: فی البصاق، رقم الحديث: ٨٧٣٢ ١١/١٩٤.

دَ حديث ترجمه: حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه جمات کښې توکل ګناه ده اودَې کفاره دفن کول دی.

تراجم رجال: دَ مذکوره حدیث په سند کښې ټول څلور راویان دی.

① آدم رحمه الله: دا آدم بن ابی ایاس العسقلانی رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده لاندې تیر شوی دی[1].

② شعبه رحمه الله: دا شعبه بن الحجاج رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده، لاندې تیر شوی دی[2].

③ قتادة رحمه الله: دا قتاده بن دعامه رحمه الله دې. دَ دوی تذکره کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه لاندې تیره شوې ده[3].

④ انس بن مالك رضی الله عنه: دا مشهور او معروف صحابئ رسول حضرت انس بن مالك بن نضر خزرجی انصاری رضی الله عنه دې. دَ دوی تذکره کشف الباری، کتاب الایمان، باب: من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه لاندې تیره شوی ده.[4]

دَ حدیث شرح: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْبُزَاقُ فِي الْمَسْجِدِ خَطِيئَةٌ: نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه په جمات کښې توکانړې توکل ګناه ده.

قوله: "الْبُزَاقُ فِي الْمَسْجِدِ" دَ صحیح بخاری دَ روایت الفاظ خو دادی لیکن دَ صحیح مسلم په روایت کښې دَ "البزاق" په ځائی دَ "التفل" لفظ دې یعنی "التفل فی المسجد" معنی دَ دواړو هم یوه ده[5].

قوله: "فِي الْمَسْجِدِ" دا ظرف دې دَ وقوع فعل دَ پاره یعنی دا خبره ضروری نه ده چه فاعل دې هم په ظرف کښې دننه وی بلکه فاعل دَ ظرف نه بهر وی اودَغه فعل په ظرف کښې دننه واقع وی نو بیا به هم ممانعت متوجه وی. چنانچه توکونکې که په جمات کښې دننه وی که بهر وی په دواړو صورتونو کښې توکانړې په جمات کښې غورزیدل ګناه ده[6].

قوله: وَكَفَّارَتُهَا دَفْنُهَا: اودَې کفاره دفن کول دی.

په جمات کښې که چرته خاوره، شګه یا واړه کانړی وغیره وی نو دَ دفن کولو نه مراد دادې چه دَ جمات په خاوره وغیره کښې دې هغه توکانړې پټې کړی. اوکه دغه ذکرشوی څیزونه نه

---

[1]) کشف الباری: ۱/۶۷۸.

[2]) کشف الباری: ۶۷۸/۱.

[3]) کشف الباری: ۳/۲.

[4]) کشف الباری: ٤/۲.

[5]) أخرجه مسلم فی صحیحه فی المساجد، باب: النهی عن البصاق فی المسجد، رقم الحدیث: ۱۲۶۰.

[6]) عمدة القاری: ٤/۲۲۹.

وی مثلاً پوخ فرش وی یا قالینونه وغیره خواره وی نو دَ دفن کولو نه مراد به دا وی چه توکانړې یا بلغم دَ جمات نه اوباسی یعنی وئی گروی یا ئی په څه کپړا وغیره باندې ئی صفا کړی[١].

دَ سنن ابوداؤد حدیث کښې دَدې امر طرف ته اشاره موجود ده وئی گورئی: ((عن عبد الرحمن بن أبي حدرد الأسلمي قال سمعت أبا هريرة يقول: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "من دخل هذا المسجد، فبزق فيه، أو تنخم، فليحفر، فليدفنه، فإن لم يفعل، فليبزق في ثوبه ثم ليخرج به"))[٢].

امام نووی رحمه الله فرمائی چه دا حکم دَ جمات نه دَ بهرسرې دې نه چه په جمات کښې دَ داخل سرې په جمات کښې دَ داخل سرې حکم خودادې چه هلته دې هډو توکی نه اوکه چرې دَ توکلو حاجت راغلو نو په خپله کپړا کښې دې اوتوکی[٣].

علامه عینی رحمه الله دَدې خبرې په تردید کښې فرمائیلو سره لیکی چه (دَ علامه نووی رحمه الله په دې خبره باندې ډیر زیات احادیث دال دی چه دا ټول احکام په جمات کښې دَ دننه توکلو او صفاکولو سره متعلق دی.)[٤] علامه قرطبی رحمه الله فرمائی چه په توکانړو باندې به دَ گناه اطلاق هغه وخت کیږی کله چه هغه بغیر دَ دفن کولو نه هم داسې پریخودې شی صرف دَتوکلو دَ وجې نه به دَ گناه حکم نه لاگو کیږی[٥].

علامه عینی رحمه الله دَ حضرت سعید بن منصور رحمه الله یو اثر نقل کړې دې چه حضرت ابوعبیده رضی الله عنه ته یو ځل دَ شپې دَ مجبورئی په صورت کښې توکل پیښ شو بیا هغه صفا کول هیر کړل اوخپل کور ته لاړو. کور ته چه اورسیدو نو ورته یاد شو دَ اور شغله ئی دَ رڼړا دَ پاره راوړه ـ جمات طرف ته راؤگرځیدو جمات ته په رسیدو ئی توکانړې اولټولې اوهغه ئی دفن کړې. یعنی صفا ئی کړې. بیائی اوفرمائیل ټول ثنا اوصفت هم دَ الله تعالی دَ پاره دی چه هغه زما په عمل نامه کښې دَ شپې دغه خطا اونه لیکله[٦].

دَ حدیث مبارک دَ ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حدیث شریف دَ ترجمة الباب سره مطابقت بالکل واضح دې چه په دواړو کښې هم یوه خبره ذکر ده.

---

[١] عمدة القاري: ٢٢٩/٤.
[٢] سنن أبي داؤد، كتاب الصلاة، كراهية البزاق في المسجد، رقم الحديث: ٤٧٧.
[٣] شرح النووي على صحيح مسلم، كتاب الصلاة، كتاب المساجد، باب النهي عن البصاق في المسجد في الصلاة وغيرها: ٣٩/٥.
[٤] عمدة القاري: ٢٢٩/٤.
[٥] المفهم لما أشكل من تلخيص كتاب مسلم للقرطبي، كتاب الصلاة، باب النهي عن الاختصار، وما يجوز من اللبس فيها، وماجاء في البصاق في المسجد، رقم الحديث: ٤٤٩، ١٥٥/٢.
[٦] عمدة القاري: ٢٢٩/٤.

۶- بَابٌ: دَفْنِ النُّخَامَةِ فِي الْمَسْجِدِ

دا باب په جمات كښې دَ بلغم دَ دفن كولو باره كښې دې

دَ ترجمة الباب مقصد: حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائي چه نخامه په جمات كښې دفن كول جائز دي. علامه رویانی رحمه الله وائي چه جمات دَ تحت الثرىٰ نه واخله تر آسمانه پورې دې. لهذا كه په جمات كښې دفن كړې شو نو هم په جمات كښې به وي او حك دَجمات دَ احترام دَ وجې نه كيږي نو اوس هم دَ احترام خلاف شو، لهذا دَ فن نه مراد ددې بهر كول دي. حضرت امام بخاري رحمه الله دَ دفن جواز ثابتوي. ځكه چه اوس هغه (بلغم) دَ خاورې لاندې شوې دې او ددې نه لاندې نه ده معلومه چه څومره څيزونه دي، مرې هم وي. لهذا داددې خلاف دى او دويم غرض دا دې چه دفن دَ جمات سره خاص دې دَ جمات نه بهر نه دې[۱].

حديث باب [حديث نمبر ۴۰۶]

۴۰۶- حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ هَمَّامٍ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ[۲] عَنِ النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ: «إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَلَا يَبْصُقْ أَمَامَهُ، فَإِنَّمَا يُنَاجِي اللَّهَ مَا دَامَ فِي مُصَلَّاهُ، وَلَا عَنْ يَمِينِهِ، فَإِنَّ عَنْ يَمِينِهِ مَلَكًا، وَلْيَبْصُقْ عَنْ يَسَارِهِ أَوْ تَحْتَ قَدَمِهِ، فَيَدْفِنُهَا».

دَ حديث ترجمه: حضرت ابوهريره رضي الله عنه دَ نبي اكرم صلى الله عليه وسلم نه نقل كوي چه حضور پاك ارشاد فرمائيلي دي كله چه تاسو نه څوك دَ مانځه دَ پاره اودريږي نو هغه دې خپلې مخې ته نه توكي، ځكه چه تركومې پورې هغه په خپل مونځ كښې مشغول وي نوترهغه وخته پورې الله تعالى سره مناجات كوي. او خپل ښى طرف ته دې هم نه توكي، ځكه چه دَ هغه ښى طرف ته يو فرښته وي البته خپل گس طرف ته يا دَ خپلو خپو لاندې دې توكي بيا دې هغه دفن كړي.

تراجم رجال: دَمذكوره حديث شريف په سند كښې ټول پنځه راويان دي:

① **اسحاق بن نصر رحمه الله:** دا اسحاق بن ابراهيم بن نصر رحمه الله دې. دَ دوى احوال كشف البارى، كتاب الوضوء، باب: من اغتسل عريانا وحده فى خلوة لاندې تير شوې دى[۳].

② **عبد الرزاق رحمه الله:** دا عبد الرزاق بن همام بن نافع صنعاني رحمه الله دې. دَ دوى احوال كشف

---

[۱] تقرير بخاري شريف: ۱۵۲/۲، سراج القاري: ۴۵۸/۲، الكنز المتواري: ۱۰۶/۴. دَ تقرير بخاري شريف په حواشي كښې دَ مولوي سلمان صاحب طرف ته منسوب تقرير كښې يوه بله خبره ذكر ده چه دَ بعضې علماؤ نه دَ نخامه دَ دفن كولو ممانعت نقل كړې شوې دې دَ احترام دَ خلاف كيدو دَ وجې، نوزمونږ دَ طرف نه ددې جواب دادې چه دا دَ احترام مخالفت ترهغې به هله وى چه هغه پخپله ناپاك وى. بزاق پخپله ناپاكه نه دې بلكه دَ استقذار دَ وجې دفن كولې شى او په دې حيثيت سره دَ احترام خلاف نه دې. (حاشيه تقرير بخاري شريف: ۱۵۲/۲).

[۲] تقدم تخريجه تحت رقم الحديث: ۴۰۰.

[۳] كشف الباري، كتاب الوضوء، باب: من اغتسل عريانا وحده فى خلوة.

الباری، کتاب الإیمان، باب: حسن إسلام المرء لاندې تیر شوې دی[۱].

③ معمر رحمه الله: دا ابوعروه معمر بن راشد الازدی رحمه الله دې. دَ دوی مختصر احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی څلورم حدیث او تفصیلی احوال کتاب العلم، باب: کتابة العلم لاندې تیر شوې دی[۲].

④ همام رحمه الله: داهمام بن منبه بن کامل یمانی صنعانی رحمه الله دې. دَ دوی مختصر احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: حسن إسلام المرء او تفصیلی احوال کتاب العلم، باب: کتابة العلم دَدریم حدیث لاندې تیر شوې دی[۳].

⑤ ابوهریرة رضي الله عنه: دا مشهور صحابئ رسول حضرت ابوهریره رضي الله عنه دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: أمور الإیمان لاندې تیر شوې دی[۴].

دَ حدیث شرح: إِذَاقَامَ أَحَدُكُمْ إِلَى الصَّلَاةِ، فَلَا يَبْصُقْ أَمَامَهُ: حضرت ابوهریره رضي الله عنه دَ نبی کریم ﷺ نه نقل کوی چه حضور پاک ارشاد اوفرمائیلو کله چه تاسو کښې څوك دَ مانځه دَ پاره اودریږی نو هغه دې خپلې مخې ته نه توکی.

قوله: "فَلَا يَبْصُقْ" دا دَ نهی غائب واحد مذکر غائب صیغه ده.

قوله: فَإِنَّمَا يُنَاجِي اللَّهَ مَادَامَ فِي مُصَلَّاهُ: ځکه چه ترکومې پورې هغه په خپل مونځ کښې مشغول وی نو ترهغه وخته پورې دَ الله تعالی سره مناجات کوی. دَ کشمیهنی په روایت کښې "فإنه يناجی" الفاظ دی[۵].

قوله: "مَادَامَ فِي مُصَلَّاهُ" څو پورې، چه په مونځ کښې مشغول وی ترهغه وخته پورې.

په جمات کښې دَتوکلو ممانعت صرف دَ مونځ دوران کښې دې که دَ مونځ نه بهر هم دې؟: په دې باندې اشکال راځی چه دَدې روایت مطابق دَ توکلو ممانعت صرف دَ مونځ په حالت کښې دې حالانکه دَ روایت په کوم کښې چه دَدې وجه مسلمان ته تکلیف رسول خودلې شوې وو، تقاضا خو داده چه ممانعت دې دَ مانځه سره خاص نه وی بلکه مطلق وی.

دَدې جواب دا ورکړې شوې دې چه دَدې ممانعت مختلف درجې دی. دا کار په مانځه کښې کول ډیره سخته گناه ده او بیا دَ جمات دَ نورو حصو په نسبت دَ قبلې دیوال باندې کیدل نوره هم سخته گناه ده وغیره وغیره[۶].

---

[۱] کشف الباری: ۴۲۱/۲.
[۲] کشف الباری: ۴۶۵/۱، ۳۲۱/۴.
[۳] کشف الباری: ۴۲۸/۲، ۳۱۷/۴.
[۴] کشف الباری: ۶۵۹/۱.
[۵] فتح الباری: ۶۶۴/۱، عمدة القاری: ۲۳۰/۴.
[۶] فتح الباری: ۶۶۴/۱، عمدة القاری: ۲۳۰/۴.

قوله: وَلاَ عَنْ يَمِيْنِهِ، فَإِنَّ عَنْ يَمِيْنِهِ مَلَكًا: اوخپل ښي طرف ته دې هم نه توکي ځکه چه ددٰه ښي طرف ته يو فرښته ده.

قوله: "مَلَكًا" په يو روايت کښې دا لفظ "ملك" استعمال شوې دې په دې صورت کښې به داد لفظ "إن" خبر وي او د "إن" اسم به ضمير الشان وي[1].

کس طرف ته توکلو کښې ولې د فرښتې بې احترامي نشته؟ په دې عبارت باندې يو اشکال دا راځي چه ښي طرف ته د فرښتې د کيدو د وجې نه د هغې په اکرام کښې ښي طرف ته توکل منع دې. خو فرښته خو کس طرف ته هم وي لهذا کس طرف ته توکل څنګه جائز کيدې شي؟ نو ددې مختلف جوابات ورکړې شوي دي:

يو جواب علامه کرماني رحمه الله ورکړې دې چه مونځ کوم چه ام الحسنات دې ددې د اداکيدو په وخت کښې د بدنۍ د ليکونکې فرښتې هيڅ عمل دخل نه وي لهذا د مونځ په حالت کښې هغه فرښته نه وي. يا بيا داهم مراد کيدې شي چه د کراما کاتبين نه علاوه څه بله فرښته ورسره وي لهذا هيڅ اشکال نشته[2].

ليکن علامه عيني رحمه الله دا جوابات رد کولو سره يو خپل جواب نقل کړې دې چه هرانسان سره يو فرښته او يو قرين (شيطان) وي، د فرښتې ځائې ښي طرف ته او د قرين ځائې کس طرف ته وي. نو کيدې شي چه کس طرف ته توکلې بلغم په شيطان باندې پريوځي په فرښته باندې نه[3]. هم ددې طرف ته د طبراني رحمه الله په يو روايت کښې اشاره هم ملاويږي[4].

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائي چه دا فرښته کاتب حسنات نه ده بلکه دا هغه فرښته ده چه مصلي له راشي ښي طرف ته اودريږي او المام حسنات کوي[5].

قوله: وَلْيَبْصُقْ عَنْ يَسَارِهِ، أَوْتَحْتَ قَدَمِهِ، فَيَدْفِنُهَا: البته خپل کس طرف ته يا د خپلو خپو لاندې دې اوتوکي او بيا دې هغه دفن کړي.

قوله: "وَلْيَبْصُقْ" دا لفظ د يو بل روايت مطابق "وليبزق" دې[6].

---

[1]) شرح الكرماني: ٧٤/٤، اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ١٦٢/٣.

[2]) شرح الكرماني: ٧٤/٤، اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ١٦٢/٣.

[3]) عمدة القاري: ٢٣٠/٤.

[4]) عن أبي أمامة قال قام رسول الله صلى الله عليه وسلم ذات يوم، فاستفتح الصلاة، فرأى نخامة في القبلة فخلع نعليه، ثم مشى إليها فحتها، ففعل ذلك ثلاث مرات، فلما قضى صلاته، أقبل على الناس بوجهه، فحمدالله وأثنى عليه، ثم قال: "أيهاالناس! إن أحدكم إذا قام في الصلاة فإنه في مقام عظيم، يسأل أمرا عظيما الفوز بالجنة، والنجاة من النار، وإن أحدكم إذا قام في الصلاة، فإنه يقوم بين يدي الله مستقبل ربه وملكه عن يمينه، وقرينه عن يساره، فلا يتفلن أحدكم بين يديه، ولا عن يمينه، ولكن عن يساره تحت قدمه اليسرى......." (المعجم الكبير للطبراني، صدى بن العجلان أبو أمامة الباهلي، رقم الحديث: ٧٨٠٨، ١٩٩/٨).

[5]) الكنز المتواري: ١٠٢/٤، سراج القاري: ٤٥٩/٢، اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ١٦٢/٣.

[6]) مصابيح الجامع شرح الجامع الصحيح للإمام البخاري: ١١٨/٢.

قوله: "فَيَدْفِنُهَا" په دې فعل باندې درېواړه اعراب (نصب، رفع او جزم) لوستل جائز دی. د نصب لوستلو په صورت کښې به دا صيغه د امر واقع کیږي. د رفع په صورت کښې به مبتداء محذوف "هو" خبر وی او د جزم لوستلو په صورت کښې به د دې عطف په امر "ليبصق" باندې وی(١).

قوله: "فَيَدْفِنُهَا" د هاء ضمير مرجع به "النخامة" جوړولې شی په کوم چه د حديث شريف قول "وليبصق" دلالت کوی(٢).

علامه کرمانی رحمه الله يو اشکال ذکرکولو سره د هغې جواب هم ورکړې دې چه ترجمة الباب خو "دفن نخامة" په ذکر باندې دې او حديث شريف "دفن بزاق" باندې دلالت کوی. نو د دې جواب دادې چه د حکم په اعتبار سره دواړه (نخامه او بزاق) برابر دی(٣).

توکانړې په جمات کښې د دفن کولو صورت:

قوله: "فَيَدْفِنُهَا" يو صورت خو دا دې چه د مونځ پوره کولو نه پس به هغې باندې لږه ډيره خاوره اچولو سره پټ کړې شی نو دلته دا معنی مراد نه ده. ځکه چه په دې صورت کښې به دا خطره باقی پاتې وی چه هلته د چا خپه راشی يا هغه هم په دغه ځائ باندې کينی نو په دې سره به هغه ته تکليف او پريشانی اورسی. بلکه د دې د دفن کولو طريقه به دا مراد وی چه باقاعده لږه شان زمکه اوکنی د هغې په خاوره کښې دغه بلغم پټ کړی شی. اوس ښکاره خبره ده چه دا په هغه صورت کښې ممکن کيدې شی کله چه د جمات فرش کچه وی خو که فرش پوخ وی نو دا خبره بيا وراندې تيره شوې ده چه په دې صورت کښې د جمات په فرش باندې اونه توکلی شی بلکه د خپلې کپړې په يوه غاړه کښې دې اوتوکی او اودې مږی. اوکه هم په هغه فرش باندې توکل اوشو نو په دې صورت کښې به د مونځ نه پس په کپړا يا اوبو سره هغه توکانړې صفا کول مراد وی(٤).

د ترجمة الباب سره مناسبت: د مذکوره حديث شريف د ترجمة الباب سره مناسبت د روايت لفظ په "فَيَدْفِنُهَا" کښې دې په دې توګه چه بزاق او نخامه هم په يو حکم کښې دی(٥).

---

(١) شرح الکرمانی: ٧٤/٤، اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ١٦٢/٣، عمدة القاری: ٢٣٠/٤.
(٢) عمدة القاری: ٢٣٠/٤.
(٣) شرح الکرمانی: ٧٤/٤.
(٤) فتح الباری: ٦٦٤/١.
(٥) اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ١٦٢/٣، فتح الباری: ٦٦٤/١، عمدة القاری: ٢٢٩/٤.

۷ - بَابٌ: إِذَا بَدَرَهُ الْبُزَاقُ فَلْيَأْخُذْ بِطَرَفِ ثَوْبِهِ

دا باب په دې باره کښې دې چه کله مونځ گذار باندې دَ توکلو غلبه راشي نو هغه دې دا توکانړې دَ کپړې په غاړه کښې واخلي.

دَترجمة الباب مقصد: په دې باب کښې دا خودل مقصود دی چه که مونځ گذار دَ توکلو وغیره دَ پاره مجبوره شی نو دَ هغه دَ پاره په کپړا کښې توکل هم جائز دی.[1]

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله تنبیه فرمائی چه په روایت کښې ئې "بصاق فى اليسار" او "تحت القدم" او "فى الثوب" کښې تسویه فرمائیلې ده. دا مطلب ئې نه دې چه په کپړه کښې دې واخلی اودې مږی بلکه دا هغه وخت دی کله چه بصاق په ده غالب راشي او بل څه لار نه وی نو داسې دې اوکړی. اگرچه ترجمه شارحه ده او ما بیان کړې دې چه دَ امام بخاری رحمه الله دَ اصول نه دی چه هغه کله ترجمهٔ شارحه تړی. په کوم کښې چه دَ ابهام توضیح او دَ خاص تعمیم او دَعام تخصیص وی[2].

---

[1]) انوار البارى: ۳۲۲/۱۳.مولانا بجنوری رحمه الله په دې مقام باندې ليكى چه په دې موقع باندې امام بخاری رحمه الله "بدره" دَ عربيت خلاف ليكلى دى صحيح "بدر إليه" وو لكه چه جوهرى وغيره اهل لغت او تصريف ليكلى دى. محقق عينى رحمه الله ليكلى دى حافظ ابن حجر رحمه الله چه په دې موقع باندې دَ امام بخارى رحمه الله كوم بې خايه حمايت كړې دې هغه پخپله دَ هغه دَعلم تصرف نه دَ ناواقفيت دليل دې. (عمده: ۲۲۴/۳). دلته په دې خبره باندې حيرانتيا نه دى كول پكار چه امام بخارى رحمه الله يا حافظ ابن حجر رحمه الله په علم تصرف كښې كمزورې وو څكه چه لكل فن رجال دى، دا كله ضرورى دى چه امام بخارى رحمه الله او حافظ ابن حجر رحمه الله دَعلم حديث او رجال امامان وى نو دَ لغت او تصريف دې هم امامان وى. علامه كشميرى رحمه الله په درس دَ بخارى شريف كښې په ډېرو مواقعو دَ امام بخارى رحمه الله په عربيت باندې نقد كړې اوفرمائيلى ئې وو چه ده له خو په جرح او تعديل دَ رواة كښې كيدل پكار دى دلته خو به هم دَ زمخشرى رحمه الله اتباع كولې شي څكه چه هغه دَعربيت مالك دې. يوځائې كښې داهم فرمائيلى دى چه كه دَ امام بخارى رحمه الله عربيت كامل وې نو هغه به دَ مجاز القرآن نه په نقل كولو باندې اكتفاء نه كوله بلكه پخپله به ئې هم څه ليكل. دا هم داسې دى لكه چه حافظ ابن تيميه رحمه الله دَ امام نحو سيبويه غلطيانې ښائى حالانكه په قول دَ حضرت كشميرى رحمه الله هغه به په كتاب سيبويه باندې پوره شان سره پوهه شوې هم نه وې. (انوار البارى: ۳۲۳/۱۳) وكذا فى عمدة القارى: ۲۳۰/۴.

[2]) تقريربخارى شريف: ۱۵۲/۲.په دې مقام دَ تقريربخارى شريف په حاشيه كښې يوه بله توجيه ذكرده: زما په نيز دَ امام بخارى رحمه الله غرض يوې باريكې طريقې سره تنبيه كول دى. هغه دا چه په كثرت سره دامضمون راغلې دې چه "لكن عن يساره أو تحت قدمه. أو يفعل هكذا". نوحضرت امام بخارى رحمه الله "إذا بدره البزاق" زياتولو سره اوخودل چه دا په كپړې سره بلغم مږل دَ لاندې توكلو برابر نه دې لكه چه لفظ "او" نه معلوميږى. بلكه دا مقيد دې "إذا بدره" سره اودَدې درجه دَ لاندې توكلو نه كمه ده او لاندې توكل دَدې فعل ثوب نه وړاندې شوې دې. (كذافى تقريرمولوى احسان).

حديث باب [حديث نمبر ۴۰۷]

-۴۰۷ حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ قَالَ حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ عَنْ أَنَسٍ (١) أَنَّ النَّبِي -صلى الله عليه وسلم- رَأَى نُخَامَةً فِي الْقِبْلَةِ فَحَكَّهَا بِيَدِهِ، وَرُئِيَ مِنْهُ كَرَاهِيَةٌ - أَوْ رُئِيَ كَرَاهِيَتُهُ لِذَلِكَ وَشِدَّتُهُ عَلَيْهِ - وَقَالَ «إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا قَامَ فِي صَلاَتِهِ فَإِنَّمَا يُنَاجِي رَبَّهُ - أَوْ رَبُّهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ قِبْلَتِهِ - فَلاَ يَبْزُقَنَّ فِي قِبْلَتِهِ، وَلَكِنْ عَنْ يَسَارِهِ أَوْ تَحْتَ قَدَمِهِ» . ثُمَّ أَخَذَ طَرَفَ رِدَائِهِ فَبَزَقَ فِيهِ، وَرَدَّ بَعْضَهُ عَلَى بَعْضٍ، قَالَ «أَوْ يَفْعَلُ هَكَذَا» .

د حديث ترجمه: حضرت انس بن مالك رضي الله عنه روايت كوى چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم د جمات د قبلې والا ديوال باندې بلغم لګيدلې اوليدلو نو حضورپاك هغه په خپل لاس مبارك سره صفا كړو په داسې حال كښې چه د ناخوښئ آثار د حضورپاك په مخ مبارك باندې اوليدلې شو. يا (راوى اوفرمائيل چه) په دغه ديوال د جمات باندې د بلغم د پريوتلو د وجې نه د خفګان آثار د حضورپاك په مخ مبارك باندې اوليدلې شو. بيا حضورپاك اوفرمائيل كله چه تاسو كښې څوك د مانځه د پاره اودريږى نو هغه د خپل رب سره مناجات كوى. يا (داسې ئې اوفرمائيل چه) د هغه رب لګه چه د هغه او د هغه د قبلې په مينځ كښې وى. لهذا هغه دې د قبلې طرف ته نه توكى بلكه خپل ګس طرف ته يا د خپلو خپو لاندې دې توكى. بيا حضورپاك د خپل څادر مبارك غاړه اونيوله په هغې كښې ئې اوتوكل اوهغه ئې اومږله او وئې فرمائيل يادې داسې كوى.

تراجم رجال: د مذكوره حديث شريف په سند كښې ټول څلور راويان دى:

① مالك بن اسماعيل رحمه الله: دا مالك بن اسماعيل ابوغسان النهدى رحمه الله دې. د دوى احوال كشف البارى، كتاب الوضوء، باب: الماء الذى يغسل به شعرالإنسان، رقم الحديث: ١٧٠ لاندې تير شوى دى(٢).

② زهير رحمه الله: دا زهير بن معاويه بن حُديج جعفى كوفى رحمه الله دې. د دوى احوال كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: الصلاة من الأيمان لاندې تير شوې دى(٣).

③ حميد رحمه الله: دا حميد بن ابى حميد الطويل ابوعبيده بصرى رحمه الله دې. د دوى احوال كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: خوف المؤمن من أن يحبط عمله وهولا يشعر د دويم حديث لاندې تير شوى دى.(٤)

④ انس بن مالك رضي الله عنه: دامشهور او معروف صحابئ رسول حضرت انس بن مالك رضي الله عنه دې.

---

(١) مرتخريجه تحت كتاب الوضوء، باب: البزاق والمخاط ونحوه فى الثوب، رقم الحديث: ٢٤١.
(٢) كشف البارى، كتاب الوضوء ، باب: الماء الذى يغسل به شعر الإنسان، رقم الحديث: ١٧٠
(٣) كشف البارى: ٣۶٧/٢.
(٤) كشف البارى: ٥٧١/٢.

دَ دوی په احوالو باندې تفصیلي کلام کشف الباری، کتاب الایمان، باب: من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه لاندې تیر شوی دی.(۱)

دَ حدیث شرح: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى نُخَامَةً فِي القِبْلَةِ، فَحَكَّهَا بِيَدِهِ وَرُئِيَ مِنْهُ كَرَاهِيَةٌ: حضرت انس بن مالک ﷺ روایت کوی چه نبی کریم ﷺ دَ جمات دَ قبلې والا دیوال باندې بلغم لګیدلې اولیدلو نو حضورپاك په خپل لاس مبارك سره صفا کړو په داسې حال کښې چه دَ خفګان آثار دَ حضورپاك په مخ مبارك باندې اولیدلې شو.

قوله: "وَرُئِيَ مِنْهُ كَرَاهِيَةٌ" حضرت شیخ الحدیث ﷺ فرمائی چه قاعده دا ده چه کله یو سړې ښکلې وی نو غم اوخفګان، خوشحالی او راحت دَ هغه په مخ نه ښکاری. اودَ حضورپاك نه زیات حسین اوجمیل څوك کیدې شی؟ نه دَ حضورپاك په شان ښکلې څوك پیدا شوې دې او نه به پیدا شی. چنانچه دَ حضورپاك دَ زیات حسن دَ وجې نه به په مخ مبارك باندې چه کومه خبره وه هغه به ښکاره معلومیدله(۲).

قوله: أَوْ رُئِيَ كَرَاهِيَتُهُ لِذَلِكَ وَشِدَّتُهُ عَلَيْهِ: یا (راوی اوفرمائیل چه) په دغه دیوال دَ جمات باندې دَبلغم دَ پریوتلو دَ وجې نه دَ خفګان آثار دَ حضورپاك په مخ مبارك باندې اولیدلې شو.

"او" نه دَ راوی دَ شك بیان دې او شك په هغه امر کښې دې چه دَ لفظ "كراهیة" دَ "هو" ضمیر طرف ته اضافت دې که نه. بعضې نسخو کښې دا لفظ دَ یاء نه بغیر او په اضافت سره دې یعنی "كراهته"(۳).

قوله: "شِدَّتُهُ" مرفوع او مجرور دواړه شان لوستل صحیح دی. دَ مرفوع په صورت کښې به دَدې عطف په "كراهیته" باندې وی اودَ مجرور لوستلو په صورت کښې به دَدې عطف په "ذلك" باندې وی(۴).

دَ روایت دَ ترجمة الباب سره مناسبت: ترجمة الباب کښې دوه اجزاء دی. اول "إذا بدره البزاق" او دویم "فلیأخذ بطرف ثوبه". خو په روایت کښې دَ ړومبی هیڅ ذکر نشته دې البته دَ دویم جز ذکر موجود دې اوهغه دادې "ثم أخذ طرف ردائه فبزق فیه، ورد بعضه علی بعض" لیکن "إذا بدره البزاق" چه کوم جز وو دَ هغې ذکر په روایت کښې نشته دې. "إذا بدره البزاق" معنی ده چه داسې تو کانړې ورته راغلې چه دَهغې غورزول ضروری وی تیرولې نه شی.

نودَدې جواب دادې چه امام مسلم ﷺ روایت نقل کړې دې: «وإن عجلت به بادرة، فلیأخذها

---

(۱) کشف الباري: ۲/ ٤.
(۲) تقریر بخاری شریف: ۲/ ۱۵۲.
(۳) شرح الکرمانی: ٤/ ۷۵.
(٤) شرح الکرمانی: ٤/ ۷۵، اللامع الصبیح بشرح الجامع الصحیح: ۳/ ۱٦۳، عمدة القاری: ٤/ ۲۳۱.

بطرف ثوبه»(١) امام بخاري رحمه الله دَدې روايت طرف ته په ترجمة الباب کښې اشاره کول غواړي اودلته هغوی باب کښې دَترجمې دغه جز سره متعلق څه حديث نه دې نقل کړې. اوداسې هغه وخت کيږي کله چه هغه حديث دَ امام بخاري رحمه الله دَ شرائطو مطابق نه وی نو بيا امام بخاري رحمه الله هغه دَ خپل ترجمة الباب جز جوړوي. يا دَ هغې طرف ته اشاره کوي.

علامه سندي رحمه الله اوفرمائيل چه امام بخاري رحمه الله دَدې ترجمې په ذريعه دې خبرې طرف ته اشاره کوي چه په باب کښې کوم مطلق حديث دې هغه به دَدې روايت دَ وجې "إذا بدرة" سره مقيد وی کوم چه امام صاحب رحمه الله نه دې ذکرکړې او امام مسلم رحمه الله هغه ذکرکړې دې(٢).

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائيلی چه دی داسې روايات صحيح مسلم، سنن ابوداؤد اومصنف ابن ابی شيبه کښې موجود دی(٣).

دَ حديث مبارک نه مستنبط شوی احکام اومسائل: دَدې حديث شريف نه ډيرزيات مسائل مستنبط کيږي. په کوم کښې چه يو څو لاندې ذکرکولې شي:

① معلومه شوه چه توکانړې ناپاکه نه وی، بلکه پاکې وی(٤).

② توکانړې توکل مونځ نه باطلوی(٥).

---

(١) تفصيل وړاندې په حاشيه نمبر ۴ کښې راځي.

(٢) حاشية السندي على الجامع الصحيح: ١٢٢/١، الطاف سنز.

(٣) فتح الباري: ٦٦٥/١. صحيح مسلم کښې دَ مذکوره حديث متعلقه حصه: «ثم مضينا حتى أتينا جابر بن عبدالله في مسجده...... أتانا رسول الله صلى الله عليه وسلم في مسجدنا هذا...... قال [رسول الله صلى الله عليه وسلم]: "فإن أحدكم إذا قام يصلي، فإن الله تبارک وتعالى قِبَلَ وجهه، فلا يبصقن قبل وجهه، ولا عن يمينه، وليبصق عن يساره، تحت رجله اليسرى، فإن عجلت به بادرة، فليقل بثوبه هكذا" ثم طوى ثوبه بعضه على بعض......(صحيح مسلم، كتاب الزهد، باب: حديث جابر الطويل وقصة أبي اليسر، رقم الحديث: ٣٠٠٨)». سنن ابی داؤد کښې مذکوره حديث شريف: «عن أبي سعيد الخدري: أن النبي صلى الله عليه وسلم كان يحب العراجين ولا يزال في يده منها، فدخل المسجد فرأى نخامة في قبلة المسجد فحكها، ثم أقبل على الناس مغضبا فقال: أيسرّ أحدكم أن يبصق في وجهه، إن أحدكم إذا استقبل القبلة فإنما يستقبل ربه عزوجل والملك عن يمينه، فلا يتفل عن يمينه ولا في قبلته، وليبصق عن يساره أو تحت قدمه، فإن عجل به أمر فليقل هكذا – ووصف لنا ابن عجلان ذلک – أن يتفل في ثوبه ثم يرد بعضه على بعض»(سنن أبي داؤد، كتاب الصلاة، باب: في كراهية البزاق في المسجد، رقم الحديث: ٤٨٠، ٤٨٥). مصنف ابن ابی شيبه کښې مذکوره حديث شريف: «عن أبي سعيد قال دخل رسول الله صلى الله عليه وسلم وبيده عُرجون – وكان يحب العرجون – ، فرأى نخامة في القبلة، فحكها، ثم أقبل على الناس فقال: "أيهاالناس، إن أحدكم إذا قام يصلي استقبله الله، وعن يمينه، ملک، أفيحب أحدكم أن يستقبله الرجل فيبزق في وجهه؟ فلا يبزق أحدكم في القبلة و لا عن يمينه، وليبزق تحت رجله اليسرى أو عن يساره، فإن عجلت به بادرة فليقل هكذا" يعني: في ثوبه. (المصنف لابن أبي شيبة، كتاب الصلاة، من كره أن يبزق تجاه المسجد، رقم الحديث: ٧٥٢٧، ١٤٤/٥)»

(٤) شرح الكرماني: ٧٥/٤، اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ١٦٣/٣، عمدة القاري: ٢٣١/٤.

(٥) شرح الكرماني: ٧٥/٤، اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ١٦٣/٣، عمدة القاري: ٢٣١/٤.

③ دَقبلې طرف محترم اومکرم کيدل اودا صفا ساتل هم معلوميږي[۱].
④ داهم معلوميږي چه دَمونځ په حالت کښې مونځ ګذار دَ خپل رب سره مناجات کښې مشغول وي[۲].
⑤ دَدې امر ډيره لويه خطا کيدل هم معلوم شو چه دَ مونځ ګذار توجه بواسطه جانب قبله دَ الله تعالى طرف ته وي، په دې وجه دغه طرف ته توکانړې توکل دَ ادب خلاف کيدو دَ وجې نه ممنوع دي[۳].
⑥ نبي اوګس طرفونو نه دَ نبې طرف افضل کيدل معلوم شو[۴].
⑦ جمات دَ ناخوښه څيزونو نه پاك صفا ساتل هم معلوم شو[۵].
⑧ دَ جمات دَ امام دَ پاره دَ جمات دَ احوالو کتل او خيال ساتل هم مستحن او مستحب دي[۶].

۸- بَابٌ: عِظَةِ الإِمَامِ النَّاسَ فِي إِتْمَامِ الصَّلاَةِ، وَذِكْرِ القِبْلَةِ

داباب امام له خلقو ته دَ مونځ دَ پوره کولو اود قبلې دَ ذکر نصيحت کولو بيان کښې دي
دَترجمة الباب ماقبل سره مناسبت او مقصد: علامه شبيراحمد عثماني رحمه الله فرمائي. دَدې باب کښې دلته ابواب سره هيڅ تعلق نه وو په دې وجه هم پخپله امام بخاري رحمه الله "وذکر القبلة" لفظ زيات کړو، چه (دا باب) دَ هغه ابوابو سره مناسب شي[۷].

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائي چه زما په نيز ابواب المساجد شروع شو ليکن دَدې باب دَ مسجد سره تعلق نه معلوميږي. بل وړاندې چه کوم دويم جز دَ باب دې يعنې "وذکر القبلة" په دې باندې اشکال پيدا کيږي چه په دې صورت کښې دَدې تعلق باب: استقبال القبلة سره شو، ابواب المساجد سره نه شو. زما رائې داده چه دَ قبلې ذکر تنبيهاً او استطراداً راغلې دې اومقصود اول جز دې او په عام توګه خلق په جمع سره مونځونه په جماتونو کښې کوي په دې اعتبار سره دا ابواب مساجد سره متعلق شو[۸].
دَ مسجد مصالح ډير دي دَ هغه ټولو نه يو دا چه جهلاء جمات ته راشي دَ علماؤ عبادت ته په کتلو سره خپل عبادت صحيح کولې شي. وغيره وغيره. دَدې نه يو داهم دې چه امام دې دَ

[۱]) شرح الكرماني: ۷۵/٤، اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ٤٢٢/٥، اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ١٦٣/٣.
[۲]) شرح الكرماني: ۷۵/٤، اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ١٦٣/٣.
[۳]) شرح الكرماني: ۷۵/٤، اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ١٦٣/٣.
[۴]) شرح الكرماني: ۷۵/٤، اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ١٦٣/٣، عمدة القاري: ٢٣١/٤.
[۵]) التوضيح لشرح الجامع الصحيح: ٤٢٢/٥، فتح الباري: ٦٦٥/١، عمدة القاري: ٢٣١/٤.
[۶]) فتح الباري: ٦٦٥/١، عمدة القاري: ٢٣١/٤.
[۷]) فضل الباري: ١٢٢/٣.
[۸]) حاشيه تقرير بخاري: ١٥٣/٣.

قوم نګراني کوي او د هغوي په غلطيانو باندې توکي او هغوي دې پوهه کوي. مګر روره دا خو هم ضروري دي چه خپل حالات د مخکښې نه صحيح کړي[۱].

علامه انور شاه کشميري رحمه الله فرمائي چه د امام بخاري رحمه الله دا عادت دې چه يوه سلسله روانه وي په مينځ کښې څه خاص فائده د هغه سلسلې د رواياتو نه مستفاد کيږي نو امام بخاري رحمه الله د لږ ساعت د پاره هغه سلسله کټ کړي او په هغه فائده جليله باندې تنبيه کوي. شاه صاحب رحمه الله فرمائي چه ما د دې نوم "انجاز" کيخودې دې. دلته چونکه د استقبال قبلې سلسله روانه وه په دې کښې يو خاص خبره مينځ کښې راغله په هغې باندې خبرداره کولو د پاره امام بخاري رحمه الله دا ترجمه قائمه کړه[۲].

په رومبي باب کښې ئې ادب خودلې وو چه د مونځ په حالت کښې د بلغم د توکلو غلبه وي نو د دې د دفع کولو په وخت د قبلې د طرف عظمت او ادب په خيال کښې اوساته. په دې باب کښې د مونځ د ارکانو پوره شان سره ادا کولو حکم ئې اوخودلو او په دې کښې هم د قبلې طرف ته مخ کولو ذکر ضمنًا راغلې دې. لهذا سابقه باب سره ئې مناسبت معلوم دې.

او هم دا توجيه په کلي توګه محقق عيني رحمه الله او په جزوي توګه حافظ ابن حجر رحمه الله ذکر کړې ده. د دې دواړو اکابرو توجيه او مناسبت ابواب لره بعيد او ابعد ګرځولو سره د لامع الدراري دا توجيه مونږ اوجه منلو کښې په تردد کښې يو چه په دواړو ابوابو کښې جمات او د جمعې احکامو باندې دې خبرداره ورکړې شوې دي ځکه چه نه باب سابق "إذا بدره البزاق فليأخذ بطرف ثوبه" کښې د جمات او جمع ذکر وو او نه په دې باب "عظة الإمام" کښې د اتمام صلوة حکم د جمات او جمع سره مخصوص دې. اتمام صلوة خو په هر مونځ کښې ضروري دې که هغه ځان له وي او که په جمع سره وي، که په جمات کښې وي او که غير د جمات نه وي. او حضرت شاه ولي الله رحمه الله چه کوم مصالح "حجة الله" کښې ذکر کړي دي هغه هم د مساجد سره خاص نه دي، مطلق د جمع د پاره دي او پخپله امام بخاري رحمه الله هم دلته "ابواب المساجد" عنوان چرته قائم کړې دې؟ کتاب الصلوة لاندې مساجد او غير مساجد د ټولو احکام ئې مختلف عنوانات قائمولو سره بيان کړي دي. والله اعلم. واضحه دې وي چه د شاه ولي الله رحمه الله رساله شرح تراجم ابواب البخاري کښې باب عظة الإمام او د دې نه مخکښې هم د ډيرو ابوابو ذکر نشته دې[۳].

---

[۱]) الكنزالمتواری ۴/۱۰۸،سراج القاري: ۲/۴۶۱.
[۲]) فيض الباري:۲/۵۱.
[۳]) انوارالباري: ۵/۱۴.

حديث باب «رومبی حديث» [حديث نمبر ۴۰۸]

۴۰۸- حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ (۱) أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «هَلْ تَرَوْنَ قِبْلَتِي هَا هُنَا فَوَاللَّهِ مَا يَخْفَى عَلَيَّ خُشُوعُكُمْ وَلَا رُكُوعُكُمْ، إِنِّي لَأَرَاكُمْ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِي».

دَ حديث ترجمه: دَ حضرت ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دي چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلي دي تاسو څه ګنړئ چه زما قبله هم دې طرف ته ده؟ زه قسم خورم وايم چه زما نه نه ستاسو خشوع پټه ده اونه ركوع، بيشكه زه خو تاسو دَ خپل شا طرف نه هم وينم.

تراجم رجال: دَمذكوره حديث شريف په سند كښې ټول پنځه راويان دی:

① عبدالله بن يوسف رحمه الله: دا عبدالله بن يوسف تنيسی رحمه الله دې. دَ دوی مختصر احوال كشف الباری، كتاب بدء الوحی په دويم حديث او تفصيلی احوال كتاب العلم، باب: ليبلغ الشاهد الغائب لاندې تيرشوي دي(۲).

② مالك رحمه الله: دا امام مالك بن انس رحمه الله دې. دَ دوی مختصر احوال كشف الباری، كتاب بدء الوحی په دويم حديث او تفصيلی احوال كتاب الإيمان، باب: من الدين الفرار من الفتن لاندې تيرشوي دې(۳).

③ ابی الزناد رحمه الله: دا ابوالزناد عبدالله بن ذكوان مدنی قرشی رحمه الله دې. دَ دوی احوال كشف الباری، كتاب الإيمان، باب: حب الرسول صلى الله عليه وسلم من الإيمان لاندې تيرشوي دي(۴).

④ الاعرج رحمه الله: دا ابوداوٗد عبدالرحمن بن هرمز مدنی قريشی رحمه الله دې. دَ دوی احوال كشف الباری، كتاب الإيمان، باب: حب الرسول صلى الله عليه وسلم من الإيمان لاندې تيرشوي دي(۵).

⑤ ابوهريرة رضی الله عنه: دا مشهور صحابئ رسول حضرت ابوهريره رضی الله عنه دې. دَ دوی احوال كشف الباری، كتاب الإيمان، باب: امور الإيمان لاندې تير شوی دی(۶).

---

[1] أخرجه البخاری فی صفة الصلاة، باب: الخشوع فی الصلاة، رقم الحديث: ۷۴۱، ومسلم فی صحيحه، فی الصلاة، باب: الأمر بتحسين الصلاة واتمامها والخشوع فيها، رقم الحديث: ۴۲۵، وفی جامع الأصول، حرف الصاد، القسم الأول: فی الفرائض وأحكامها وما يتعلق بها، الباب الثانی فی صلاة الجماعة، الفصل الرابع فی أحكام المأموم، الفرع الثالث: فی آداب المأموم، رقم الحديث: ۳۹۱۲، ۶۴۳/۵

[2] كشف الباری: ۲۸۹/۱، ۱۱۳/۴.

[3] كشف الباری: ۱۸۰/۲، ۲۹۰.

[4] كشف الباری: ۱۰/۲.

[5] كشف الباری: ۱۱/۲.

[6] كشف الباری: ۶۵۹/۱.

دَ حديث شرح: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: هَلْ تَرَوْنَ قِبْلَتِي هٰهُنَا:
دَ حضرت ابوهريره ﷺ نه روايت دې چه رسول اکرم ﷺ ارشاد اوفرمائيلو تاسو څه ګنړئ چه زما قبله هم دې طرف ته ده؟

قوله: "هَلْ تَرَوْنَ" دا استفهام انکاري دې او "ترون" نه مراد حقيقي رؤيت نه دې بلکه دادَ "تظنون" په معنی دې يعنی آيا تاسو دا ګمان کوئ....

قوله: "قِبْلَتِي" دې نه مراد اصطلاحي قبله نه ده بلکه دَ مونځ ګذار دَ مخې طرف مراد دې يعنی کوم طرف ته چه ما مخ کړې دې[1].

قوله: "هٰهُنَا" ځکه چه عام قاعده خو دغه ده چه کله يو طرف ته مخ کړې شی نودَ هغې په مقابل طرف ته شاه راځی[2]..

اوس به دَدې جملې مکمل مراد دا شی اې زما صحابه کرامو دا تاسو چه داګنړئ چه په مانځه کښې زما مخ قبلې طرف ته وی وستاسو طرف ته مې شا وی په دې وجه ماته ستاسو دَ افعالو څه خبر نه وی نو ستاسو دا ګنړل صحيح نه دی بلکه زه چه څنګه دَ مخې نه ګورم هم دغه شان دَ شا نه هم ګورم[3].

قوله: فَوَاللّٰهِ مَا يَخْفَى عَلَيَّ خُشُوعُكُمْ وَلَا رُكُوعُكُمْ: زه قسم خورم او وايم چه زما نه نه ستاسو خشوع پټه ده او نه رکوع. په يو روايت کښې "رکوعکم ولاخشوعکم" الفاظ راغلی دی[4].

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دلته مراد ټول ارکان دی نه چه صرف رکوع اوسجود. او يو احتمال دا هم دې چه دَ رکوع ذکرکولوسره سجود مراد اخستې شوې وی، ځکه چه دَ سجدې په حالت کښې دَ پوره درجې خشوع وی. په دې حال کښې چه دَ صحيح مسلم حديث کښې رکوع سره دَ سجود ذکر په تصريح سره موجود دې[5]. چه په دې صورت کښې دَ سجود نه مراد ټول ارکان واخستې شی نو بيا به دَ رکوع ذکر دَ تخصيص بعدالتعميم دَ قبيل نه وی يا رکوع کښې مونـدونکې دَ رکعت حاصلونکې ګرځولې شوې دې. اودَ رکوع نه پاتې کيدونکې دَ رکعت فوت کونکې ګرځولې شوې دې[6].

---

[1]) عمدة القاري: ٢٣٢/٤. شرح العلامة الزرقاني على المواهب اللدنيه بالمنح المحمديه، المقصد الثالث فيما فضله لله تعالى به، الفصل الأول في كمال خلقته وجمال صورته صلى الله عليه وسلم: ٢٦٤/٥.

[2]) أيضاً

[3]) اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ١٦٥/٣، فتح الباري: ٦٦٦/١، عمدة القاري: ٢٣٢/٤.

[4]) شرح العلامة الزرقاني على المواهب اللدنيه بالمنح المحمديه، المقصد الثالث فيما فضله لله تعالى به، الفصل الأول في كمال خلقته وجمال صورته صلى الله عليه وسلم: ٢٦٤/٥.

[5]) فتح الباري: ٦٦٦/١.

[6]) عمدة القاري: ٢٣٢/٤، شرح العلامة الزرقاني على المواهب اللدنيه بالمنح المحمديه، المقصد الثالث فيما فضله لله تعالى به، الفصل الأول في كمال خلقته وجمال صورته صلى الله عليه وسلم: ٢٦٤/٥.

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائي چه بعضې علماؤ د ركوع لفظ ليدو سره د خشوع تفسير په سجود سره كړې دې مگر زما په نيز اولى دا دى چه خشوع په خپل عموم باندې اوساتلې شى دې د پاره چه د مانځه ټولو افعالو ته شامل شى. گنى په صورت اولى كښې به صرف د سجدې او ركوع ذكروى د باقى به نه وى. او چه كله د مونځ ټول افعال په خشوع كښې دننه راغلل او بيا په خاص توگه ئې ركوع ځكه ذكر كړه چه زيات كړبړ هم په ركوع كښې كيږى، هم ددې اتمام نه كيږى، سجده خو لږه ډيره بيا هم اوشى ځكه چه په سجده كښې سر په زمكه باندې كيخودې شى. په دې وجه هلته لږ ساعت ايساريږى په خلاف د ركوع او ډير خلق خو داسې دى چه د هغوى د تادئې د وجې د هغوى هډو ركوع نه كيږى(۱).

په اصل كښې مشهوره خو داده چه د خشوع تعلق د زړه سره دې او د خضوع تعلق د جوارحو سره دې. ليكن حقيقت دا دې چه خشوع د زړه سره محدود گول صحيح نه دى ځكه چه د خشوع تعلق څنگه چه زړه سره دې لكه چه د قرآن پاك په دې آيت: ﴿أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللَّهِ﴾ كښې ذكر دى، هم دغه شان د خشوع تعلق د اصواتو سره هم دې لكه چه: ﴿وَخَشَعَتِ الْأَصْوَاتُ لِلرَّحْمَٰنِ﴾ او دغه شان د خشوع تعلق د سترگو سره هم دې لكه چه قرآن پاك كښې راغلى دى: ﴿خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ﴾.

قوله: إِنِّي لَأَرَاكُمْ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِي: بيشكه زه تاسو د خپل شا طرف نه هم وينم. دا جمله په ماقبل جمله كښې موجود جواب قسم "مايخفى على خشوعكم ولا ركوعكم" بدل يا بيان جوړ شى(۲).

د نبى كريم ﷺ د شاته كتلو مطلب: د نبى كريم ﷺ شاته ليدل حقيقى كتل وو ادراكى يعنى عقلى نه وو. د اهل سنت والجماعة په نيز هم دغه حق دى چه دكتلو د پاره د يو خاص اندام كيدل يا مخامخ كيدل شرط نه دې.(۳) او د امام بخارى رحمه الله هم دغه مسلك معلوميږى. زمونږ

(۱) تقرير بخارى شريف: ۱۵۳/۲.

(۲) اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ۱۶۵/۲، عمدة القارى: ۲۳۲/٤، شرح العلامة الزرقانى على المواهب اللدنيه بالمنح المحمديه، المقصد الثالث فيما فضله لله تعالى به، الفصل الأول فى كمال خلقته وجمال صورته صلى الله عليه وسلم: ۲۶٤/۵.

(۳) قاضى ابوالوليد الباجى رحمه الله فرمائى: بعضې حضرات دې خبرې طرف ته تلى دى چه "إني لأراكم من وراء لظهرى" معنى "لأعلم بافعالكم" ده ځكه چه رؤيت د علم په معنى كښې هم وى لكه چه د الله تعالى فرمان دې: ﴿أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ﴾ [الفيل: ۱] په دې آيت كښې د "الم تر" معنى "الم تعلم" ده. او جمهوردې خبرې قائل دى چه دې ځائى كښې رؤيت حقيقى مراد دى. قاضى ابوالوليد رحمه الله نور فرمائى: زما په نيز صحيح هم دغه ده [كوم چه پورته د جمهورو مسلك بيان شو] ځكه چه كه چرې ددې نه رؤيت علمى مراد واخستې شى نو د رسول الله ﷺ ددې قول "من وراء ظهرى" به هيڅ معنى باقى پاتې نه شى. ځكه چه كله ددې نه مراد علم واخستې شى نو شاته كتو او مخې ته كتو كښې به څه فرق باقى پاتې نه شى. بلكه رسول الله ﷺ خو خبر وركړې دې لكه څنگه چه زه تاسو د خپل وړاندې كيدو په حالت كښې وينم هم دغه شان چه كله تاسو شاته شئ نو زه بياهم تاسو وينم. (المنتقى شرح مؤطأ مالک، كتاب الصلوة، باب: فى العمل فى جامع الصلاة، رقم الحديث: ۳۹۶، ۳۱۸/۲)، عمدة القارى: ۲۳۲/٤.

دَدې خبرې تائيد دَ صحيح مسلم دَهغه روايت نه هم كيږي په كوم كښې چه دي: «إني لأبصر من ورائي كما أبصر من بين يدي»[1]

علامه سيوطي رحمه الله الخصائص الكبري كښې دَجمهورو مذهب هم دا نقل كړې دې[2]. ابن عبد البر رحمه الله فرمائي چه څه خلقو تاويلاً دلته "أرى" دَ "أعلم" په معنى اخستې دې لكه چه الله تعالى په قرآن حكيم كښې دَ حضرت شعيب عليه السلام قول: ﴿إِنِّي أَرَاكُم بِخَيْرٍ﴾ نقل كړې دې كوم چه هغوى خپل قوم ته وئيلې وو. دَدې مطلب كتل نه وو بلكه پيژندل وو، چه هغوى اوفرمائيل زه ښه شان سره پوهيږم چه تاسو مالدار يئ. چنانچه په دې صورت كښې به دَحديث مبارك مطلب دا شي چه نبي كريم ﷺ فرمائي چه زه ستاسو دَ خشوع او ستاسو دَ ركوع تماميت پيژنم الله تعالى ستاسو دَ احوالو معرفت زما په زړه كښې اچوي.

ابن عبد البر رحمه الله دَدې په جواب كښې فرمائي چه په دې دعوى كښې په ظاهر مخالفت كولو سره دَرسول الله ﷺ دا صفت محدود كول دي حالانكه څنګه چه نور خرق عادت امور دي او معجزات نبويه دي دغه شان دا بيان نبوى ﷺ دې هم خرق عادت او معجزه تصور كړې شي اودَ دې هم ظاهري معنى دې مراد واخستې شي. البته دَدغه كتلو كيفيت به څه وو نودا دَ نبوت دَ اعلامو اومعجزاتو نه يو معجزه كيدو دَ وجې نه پيژندل ممكن نه دي.

دَ ابوبكر الاثرم رحمه الله وينا ده چه ما دَ امام احمد بن حنبل رحمه الله نه دَ حضورپاك دَدې قول: «إني لأراكم من وراء ظهري» باره كښې تپوس اوكړو نو هغوى جواب راكړو چه حضورپاك به څنګه خپلې مخې ته كتل هم هغه شان به ئې خپل شاته هم كتل. ما وئيل چه دَ يو انسان نه دا خبره څنګه ممكن ده هغه خو خپلې مخې ته يا خپل ښي اوګس طرف والا ليدلې شي نو په دې باندې هغوى ډيره په مضبوطه طريقه رد اوكړو[3].

دَدې شاته كتو په تشريح كښې بعضې حضراتو وئيلي دي چه دې نه مراد دادې چه دَوحى او الهام په ذريعه به حضورپاك ته دَ هغوى دَحالت علم كيدلو اګرچه چرې هغوى به شاته وو. ليكن دا توجيه ضعيف ده ځكه چه دَ وحى او الهام په ذريعه دَهغوى علم كيدل دا خو بيا دَ مونځ سره مخصوص نه دي دَ مانځه نه علاوه هم كيدې شي[4].

بعضې حضراتو وئيلى دي چه دَدې مطلب دادې چه كله تاسو ښي او ګس طرف ته يئ يا

[1]) حدثنا أبو كريب محمد بن العلاء الهمداني، حدثنا أبو أسامة، عن الوليد يعني ابن كثير، حدثني سعيد بن أبي سعيد المقبري، عن أبيه، عن أبي هريرة، قال: صلى رسول الله صلى الله عليه وسلم يوما ثم انصرف فقال: يا فلان! ألا تحسن صلاتك؟ ألا ينظر المصلي إذا صلى كيف يصلي؟ فإنما يصلي لنفسه، إني والله لأبصر من ورائي كما أبصر من بين يدي.(صحيح مسلم، كتاب الصلاة، باب: الأمر بتحسين الصلاة وإتمامها والخشوع فيها، رقم الحديث: ٤٢٣).

[2]) الخصائص الكبرى، باب: المعجزه والخصائص في عينيه الشريفتين: ١/١٠٦، فتح الباري: ١/٦٦٦ عمدة القاري: ٤/٢٣٢.

[3]) الاستذكار لابن عبدالبر، كتاب الصلاة، باب: حديث أبي هريرة: "أترون قبلتي هاهنا؟": ٦/٢٧٤-٢٧٣.

[4]) فتح الباري: ١/٦٦٦ شرح الزرقاني على الموطأ، كتاب الصلوة، العمل في جامع الصلاة: ١/٣٠٢.

شاته یئ نو زه تاسو ته د سترګې د ګوټ نه ګورم اوستاسو کیفیت زمانه پټ نه وی. دا توجیه هم ضعیف ده[1]. لهذا دلته به دا وئیلی شی چه دلته د کوم رؤیت حضورپاك ذکر فرمائی دا رؤیت کشفیه نه دی یا دا رؤیت د سترګې په ګوټ نه دی بلکه دا رؤیت هم داسې دی لکه چه مخامخ څه څیز وی او هغه انسان وینی. حضورپاك فرمائی چه کله تاسو شاته یئ نوماته تاسو هغه وخت هم داسې ښکارئی. امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائیلی دی چه په دې کښې د حیرانتیا هیڅ خبره نشته. د سرې غوږ مخامخ آواز هم اوری، د نبی طرف اود ګس طرف آواز هم اوری او شاته آواز هم اوری. دغه شان د انسان قوت شامه ده د مخې نه یا شانه خوشبوئی یا بدبوئی راځی د هغې هم هغه احساس کوی. د ښی یا ګس طرف نه چه کومه خوشبوئی یا بدبوئی راځی د هغې هم احساس کوی. لکه څنګه چه د قوت سامعه او قوت شامه د پاره مقابل او د مخې طرف ته کیدل ضروری نه دی نو دغه شان څه لرې خبره ده چه الله تعالی رسول الله ﷺ ته هم هغه طاقت ورکړې وی چه د عامو انسانانو قوت سامعه او قوت شامه ته حاصل وی[2].

نورحضرات دا فرمائی چه په اصل کښې به د رسول اکرم ﷺ د شاته مونځ ګذارو کیفیت منکشف کیدلو. په دې وجه به د هغوی عکس د قبلې په دیوال کښې منعکس کیدلو[3].

بعضې حضراتو دا وئیلی دی چه د حضورپاك په ملا کښې د سم الخیاط برابر، بعضو وئیلې دی چه یو او بعضو وئیلی دی چه دوه سترګې وې. اود کپړو په مینځ کښې حائل کیدل د ابصار او د رؤیت د پاره مانع نه وو او حضورپاك به د خرق عادت په توګه اود معجزې په توګه په هغه سترګوکومې چه د حضورپاك په شا کښې وې شاته طرف ته مونځ ګذار کتل[4].

لیکن دا خبره د دلائلو په اعتبارسره قوی نه ده تردې چه علامه قسطلانی رحمه الله داخبره "المواهب اللدنیه" کښې نقل کولوسره وئیلې دی چه که چرې داخبره د حضورپاك نه په صحیح طریقې سره ثابته شی نو بیا به دا قبلولې شی اودا به د خرق عادت د قبیل نه ګرځولې شی. په بل صورت کښې به دا د ظاهر حدیث نه د مخالف کیدو په وجه قبلول صحیح نه وی. شارح المواهب علامه زرقانی رحمه الله هم د دې خبرې تائید کړې دی[5].

---

[1]) المنتقی شرح مؤطأ مالک، کتاب الصلوة، باب: فی العمل فی جامع الصلاة، رقم الحدیث: ٣٩٦، ٣١٨/٢.إکمال إکمال المعلم، کتاب الصلاة، خروج النبی صلی الله علیه وسلم لبنی عمرو بن عوف لیصلح بینهم: ١٧٩/٢-١٧٨، فتح الباری: ٦٦٦/١،عمدة القاری: ٢٣٢/٤.

[2]) شرح العلامة الزرقانی علی المواهب اللدنیه بالمنح المحمدیه، المقصد الثالث فیما فضله الله تعالی به، الفصل الأول فی کمال خلقته وجمال صورته صلی الله علیه وسلم: ٢٦٦/٥.

[3]) فتح الباری: ٦٦٦/١، عمدة القاری: ٢٣٢/٤، شرح الزرقانی علی المؤطأ، کتاب الصلوة، العمل فی جامع الصلاة: ٣٠٢/١.

[4]) فتح الباری: ٦٦٦/١، عمدة القاری: ٢٣٢/٤، شرح الزرقانی علی المؤطأ، کتاب الصلوة، العمل فی جامع الصلاة: ٣٠٢/١. الخصاص الکبری، باب: المعجزه والخصائص فی عینیه الشریفتین: ١٠٧/١.

[5]) شرح العلامة الزرقانی علی المواهب اللدنیه بالمنح المحمدیه، المقصد الثالث فیما فضله الله تعالی به، الفصل الأول فی کمال خلقته وجمال صورته صلی الله علیه وسلم: ٢٦٧/٥.

دمنكرينو اشكالات اود هغوى دلائل: د عقل نه دخالى خلقو يو جماعت دا حديث شريف ردكړې دې. دهغوي وينا ده چه دا حديث څنګه قبلولې شى حالانکه ددې برعکس احاديث موجود دى. مثلاً د حضرت ابوبكره ﷺ حديث كوم كښې چه دى چه هغوى امام په ركوع كښې ليدو سره د صف نه شاته نيت تړلو سره ركوع كړې وه اوددې نه پس قدم په قدم تلو سره صف ته اورسيدلو. بيا چه كله نبى كريم ﷺ د مونځ نه فارغ شو نورسول الله ﷺ تپوس اوكړو چه هغه څوك سړې دې چه د صف نه شاته اودريدو سره ئې ركوع اوكړه بيا تلو سره په صف كښې شامل شو؟ نو حضرت ابوبكره ﷺ جواب وركړو چه ما. نو نبى كريم ﷺ ورته اوفرمائيل الله تعالى دې ستا په حرص كښې نوره هم اضافه اوكړى خو بيا داسې مه كوه. (بلكه په صف كښې شامليدو سره مونځ شروع كوه)(۱) دغه شان د حضرت انس ﷺ حديث دې په كوم كښې چه هغه د نبى كريم ﷺ نه روايت كوى چه يو سړې تيز تيز راتګ سره راغلو او صف كښې داخل شو، نود هغه سا تيزه چليدله. بيا چه كله هغه په صف كښې داخل شو نو هغه اووئيل: "الحمدلله حمداً كثيراً طيبا مباركافيه". بيا د مونځ نه فارغيدو باندې نبى ﷺ تپوس اوكړو هغه سړې څوك دې چه داكلمات ئې اووئيل..... (۲)

چنانچه دغه جماعت ددې قسم احاديث نقل كولونه پس وئيلى دى چه ولې نه ګورئى چه رسول الله ﷺ ته ددې خبرې علم اونه شو چه د صف نه شاته ركوع كولو سره صف كښې شامليدونكې څوك دې. تردې چه رسول الله ﷺ ددې باره كښې تپوس اوكړو اود دويم حديث مطابق حضورپاك ته د دغه كلماتو د ويونكى هم علم اونه شو تردې چه حضورپاك تپوس اوكړو چه دا كلمات چا اووئيل. نو بيا دا صحيح كيدل څنګه ممكن كيدې شى چه نبى ﷺ به په مانځه كښې د خپل شاطرف نه هم كتل. كه چرې داسې كيدې نود مذكوره دواړو احاديثو په شان واقعه به نه پيښيدله.

د اشكالاتو جواب: ددې په جواب كښې ابن عبدالبر ﷫ وائى چه د پورته ولې د اشكال جواب دادې چه په هره يوه راتلونكې لمحه كښې به د نبى كريم ﷺ فضائل په مقابله د سابقه لمحې زياتيدل يعنى په هغې كښې به زياتوالې كيدو. اوداسې د نبى ﷺ د دنيا نه پرده كولو پورې كيدل لكه دا خبره د تولو په مخكښې ده چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه زه د نبوت ملاويدو نه مخكښې يو بنده ووم اود رسول جوړولو نه مخكښې

---

(۱) عن الحسن أن أبابكرة جاء رسول الله صلى الله عليه وسلم راكع فركع دون الصف، ثم مشى إلى الصف، فلما قضى النبى صلى الله عليه وسلم صلاته قال: "أيكم الذى ركع دون الصف ثم مشى إلى الصف؟ فقال أبوبكرة: أنا، فقال النبى صلى الله عليه وسلم: "زادك الله حرصا ولا تعدُ". (سنن أبى داؤد، كتاب الصلاة، باب: الرجل يصلى وحده خلف الصف، رقم الحديث: ۶۸۳).

(۲) عن أنس أن رجلا جاء فدخل الصف وقد حفزه النفس، فقال: "الحمدلله حمداً كثيراً طيبًا مباركا فيه . فلما قضى رسول الله صلى الله عليه وسلم صلاته فقال: "أيكم المتكلم فالكمات؟ . فأرمّ القوم. فقال: "أيكم المتكلم بها؟ فإنه لم يقل بأساً . فقال رجل: جئت وقد حفزنى النفس فقلتها. فقال: "لقد رأيت اثنى عشر ملكاً يبتدرونها أيهم يرفعها . (صحيح مسلم، كتاب الصلاة، باب: ما يقال بين تكبيرة الإحرام والقراءة، رقم الحديث: ۱۳۵۷).

یونبی ووم. دغه شان نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه تاسو کښې څوك (زما باره کښې) دا مه وایئ چه زه دَحضرت یونس بن متی علیه السلام نه بهتر یم. یو سړی حضورپاك ته "یاخیرالبریة" وئیلوسره مخاطب کړو نوحضورپاك ارشاد اوفرمائیلو "خیرالبریة" خوحضرت ابراهیم علیه السلام وو.
دغه شان یو سړی حضورپاك ته "یاسیدابن السادة" یا "یاشریف ابن الشرفاء" وئیلوسره مخاطب کړو نو حضورپاك ارشاد اوفرمائیلو چه هغه خو حضرت یوسف بن یعقوب بن اسحاق بن ابراهیم علیهم السلام دي. نو دَ حضورپاك دا مبارك ارشاد په حضورپاك باندې دَ سورة الفتح دَ نازلیدو نه دَمخکښې وخت دې. بیا چه کله سورة الفتح نازل شو او په هغې کښې دا آیت:
﴿لِيَغْفِرَلَكَ اللّٰهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ﴾ نازل شو په داسې حال کښې چه دَ حضورپاك نه مخکښې دَ چا هم سابقه ګناهونه معاف شوې نه وو. الغرض چه کله داسې اوشو نو هغه وخت حضورپاك ارشاد اوفرمائیلو: ((أنا سید ولد آدم ولا فخر)). او هم هغه وخت حضورپاك ارشاد اوفرمائیلو الله تعالی ښه شان سره پوهیږی چه زه تاسو خلق دَ شا نه وینم.
الغرض دَ حضورپاك فضائل ورځ په ورځ زیاتیدله کمیدل نه. (نوچه کله داسې ده نو دا وئیلې شی چه دَ معترضینو پیش کړې شوی نظائر به دَ شروع دَ دور وی روستو دَحضورپاك دَ طرف نه دا ارشاد مبارك مخې ته راغلو چه زه تاسو دَ خپل شا طرف نه وینم).(۱)
دَ حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله ذکرکړې شوې تشریح: حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله فرمائی چه په دې روایت کښې دَ شارحینو حضراتو پنځه اقوال دی. کوم چه مختلفو شراحو جدا جدا ذکرکړی دی. ماته چرته یو ځائی نه دی ملاؤ شوی:
① اول داچه التفات سره به ئې کتل. مګرپه دې باندې دا اشکال دې چه په دې کې دَ حضور پاك څه خصوصیت دې؟ دَحضورپاك نه علاوه بل څوك خوهم په التفات سره کتلې شی.
② دویم قول دادې چه دَ وحی په ذریعه علم شوې وو. دا دَ اول نه زیات صحیح دې. مګر په دې صورت کښې دَ "إني لأراكم" وئیلو نه زیات مناسب "إني لأوحى" وو.
③ دریم قول دادې چه دَ قبلې دیوال به دَ حضورپاك دَ پاره دَ آئینې په مثال کیدلو. صحابه کرامو رضي الله عنهم چه به څه کول هغه به حضورپاك ته ښکاریدل. عام مشائخو دا اختیارکړې ده.
④ څلورم قول دادې چه دَ حضورپاك دَ سټ شاته دوه سترګې وې په کوم سره چه به حضورپاك کتل کول مګر دا محققینو ردکړې دې. په دې وجه چه که چرې دا خبره صحیح وې نودَ حضورپاك په احوالو کښې به خامخا دَدې تذکره کیدله.
⑤ او پنځم قول دَ اوریدو نه مخکښې یو تمهید واؤرئې هغه دا چه دَ الله تعالی لیدل په دنیاکښې ممکن نه دی اودَ اهل سنت والجماعة عقیده ده چه دا څیز به په جنت کښې وی. لیکن معتزلؤ انکارکړې دې. داځکه چه په دې سره خودا لازم راځی چه دَ الله تعالی دَ پاره جهت وی. مرئی دَ رائی مخامخ وی. دَدې جواب دا ورکړې شوې دې چه دَ رؤیت دَ پاره دَ

(۱) الاستذکار لابن عبدالبر، کتاب الصلاة، باب: حدیث أبي هریرة: "أترون قبلتي هاهنا؟" : ٦/٢٧٢ – ٢٧٣ .

جهت کیدل دَدې عالم سره خاص دي دَ اخرت په عالم کښې به جهت ضروري نه وي. نولکه څنګه چه به په آخرت کښې تول کسان الله تعالی بغیردَ جهت نه ګوري دغه شان څه عجیبه ده چه په دنیاکښې دَ حضورپاك دَ پاره په مونځ کښې دا خصوصیت وي چه حضورپاك مقتدیان بغیردَ جهت نه ګوري. هم دا زما په نیز راجح دي [۱].

دکلام خلاصه: دَ پوره بحث نه څه اهم دَ نتیجې خبرې معلومیږي چه مختصراً لاندې نقل کولې شي:

① علامه سهیلي الشامي رحمه الله لیکلي دي چه قاضي رحمه الله فرمائیلي دي چه حضورپاك ته دَدې صفت حاصلیدل دَ معراج دَ شپې نه په واپسې باندې شوي وو. لکه څنګه چه موسی علیه السلام الله تعالی سره په کوه طور باندې کلام کړې وو نودَ هغې نه پس دَ هغوی په بصیرت کښې ډیره زیاته اضافه شوې وه. تردې چه هغوی به په توره تیاره شپه کښې دَ لسو فرسخو دَ فاصلې نه هم تور میږې لیدلو. [۲]

② دا رؤیة رؤیة ادراك وو او رؤیة دَ اهل حق په نیز دَ یو اندام، رنړا یا بل څه څیز مخې ته راتلو سره نه حاصلیږي. دا شان دَ حق تعالی شانه دي. چه هغه دکتلو دَپاره نه یو اندام مثلاً سترګه وغیره محتاج دي او نه دَهغې دَ کتلو دَپاره دَ څه رنړا ضرورت وي اونه دَ الله تعالی دَ کتلو دَ پاره دا ضروري دي چه څوك به دَهغه مخې ته راځي نو بیا به دَهغه دَ طرف نه دکتلو فعل صادریږي. لکه انسان چه ترهغه وخته پورې به هغه کتونکې نه یادیږي ترکومې پورې چه دَ هغه مخې ته دَمذکوره دریو امورو نه یو امر په وجود کښې رانه شي.

دا خو تفصیل وو دَ خالق دَ لیدو، پاتې شو مخلوق نودَ هغوی کتل خو به هم په دغه دریو څیزونو باندې موقوف وي. چنانچه دَ چا سترګې خو شته لیکن تیاره ده اودَ هغه دَ سترګې مخې ته څوك هم نشته نودا نه شي کتلې دَ خالق په نسبت سره چونکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم هم مخلوق دي لهذا دَ هغوی دکتلو صفت به هم په دغه امورو باندې موقوف وي. البته هغه ذات اقدس چه په سترګه کښې بصارت پیداکولو باندې قادر دي هم هغه په دې خبره باندې هم قادر دي چه دَ سترګې نه علاوه په بل اندام کښې دَ لیدو صفت راپیداکړي. چنانچه دَ حضورپاك شانه لیدل به هم دَخرق عادت په توګه هم دَدې قبیل نه وي. [۳]

③ قرطبي رحمه الله فرمائیلي دي چه دَ حضورپاك دا خبردَې په ظاهر باندې محمول کول اولی دي. ځکه چه په دې امر کښې دَ نبي کریم صلی الله علیه وسلم دَ کرامت او دَ بزرګۍ په اوچته درجه کښې اظهاردي. [۴]

---

[۱] تقرير بخاري شريف: ۲/۱۵۳.

[۲] سُبل الهدى والرشاد في سيرة خير العباد، جماع أبواب صفة جسده الشريف صلى الله عليه وسلم، الباب الخامس: في صفة عينيه وحاجبيه صلى الله عليه وسلم، تنبيهات: ۳۶/۲.

[۳] سبل الهدى والرشاد في سيرة خير العباد، جماع أبواب صفة جسده الشريف صلى الله عليه وسلم، الباب الخامس: في صفة عينيه وحاجبيه صلى الله عليه وسلم، تنبيهات: ۳۶/۲ - ۳۷.

[۴] سبل الهدى والرشاد في سيرة خير العباد، جماع أبواب صفة جسده الشريف صلى الله عليه وسلم، الباب الخامس: في صفة عينيه وحاجبيه صلى الله عليه وسلم، تنبيهات: ۳۶/۲ - ۳۷.

دَ نبی کریم ﷺ دَ پاره دعلم غیب په ثبوت باندې يو غلط استدلال: حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائی "من وراء ظهري" بعضې خلقو دې نه علم غيب مراد اخستې دې. ليکن دا بالکل غلطه ده ځکه چه دَدې مطلب دادې چه زه پخپله دَ مونځ گذارو حالات وينم او داسې ماته علم کيږی. بل دا حالت کُلی هم نه دې پخپله دَ حضرت ابوبکره رضي الله عنه په روايت کښې دی چه هغه جمات ته راغلو هلته جمع کيدله، هغه هم دَ لرې نه رکوع اوکړه. دَمانځه نه پس حضورپاك ته دا خبره په تپوس کولو سره معلومه شوه.

دغه شان يوروايت کښې دی چه يو سرې سانيولې راغلو اودَ رکوع نه اوچتيدو سره ئی لږ په اوچت آواز سره "حمداً طيباً کثيراً مباركاً" اووئيل. حضورپاك دَ مونځ نه پس تپوس اوکړو نو بيا ورته معلومه شوه چه فلانکې سړې وو. لهذا قاعده کليه نه شوه او بعضې ظاهريه دَ خپل ظاهربين دَ وجې نه داسې وائی چه دَدې ظاهری معنی مراد ده. يعنی دَ حضورپاك په سټ مبارك کښې دوه سترګې لګيدلې وې. ليکن دا صحيح نه ده. که چرې داسې وې نو خامخا به چرته نه چرته يو حديث کښې دَدې تذکره ملاويدله لکه مهر نبوت، په ډيرو احاديثو کښې دَدې ذکردې([1]).

علامه شبيراحمدعثمانی رحمه الله فرمائی چه دا تنبيه هغه خلقو ته وه چه تر دغه وخته پورې (په ايمان او يقين کښې) پاخه شوی نه وو، ځه کمزوری پاتې شوی وو گنی دَ صحابهٔ کاملين رضي الله عنهم په حق کښې دَ الله تعالی کتل (دَدې دَپاره) کافی وو (چه مونځونه په مکمل خشوع اوخضوع سره اوکړی، ځکه) چه کاملينو ته خو دَ احسان مرتبه حاصله وی. البته قاصرين تردغه وخته پورې چه دَ احسان مرتبې ته نه وو رسيدلی دَهغوی په حق کښې خپل مرشد مثلاً دَ حضورپاك کتل ډير مؤثر دی ځکه چه دَ حضورپاك کتل بالکل مشاهَد، ظاهر او باهر دی.([2])

ترجمة الباب سره دَ حديث شريف مناسبت: علامه عينی رحمه الله فرمائی چه دَ حديث شريف دَ ترجمة الباب سره مناسبت به داسې جوړيږی چه په حديث کښې مونځ گذارو ته نصيحت اوکړې شو. هغوی ته دا وينا کولو سره تنبيه اوکړې شوه چه دَ نبی کريم ﷺ نه دَ مونځ گذارو رکوع، سجده او دَهغوی خشوع اوخضوع پټه نه پاتې کيږی ځکه چه نبی کريم ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه زه خپل شا طرف ته هم کتلې شم لکه چه وړاندې گورم([3]).

علامه شبيراحمدعثمانی رحمه الله فرمائی چه دا شبه کيدې شی چه په حديث باب کښې بيشکه لفظ دَ قبلې راغلو مگر صرف په لفظ راتلو سره خو ترجمة الباب قائميدې نشی؟ دَ ترجمة الباب (لاندې ذکرکړې شوې حديث) کښې خو دَمذکوره عنوان سره متعلق څه مسئله ذکرکيدل پکاردی.

---

[1] حاشيه تقرير بخاری: ۱۵۳/۳.
[2] فضل الباری: ۱۲۲/۳.
[3] عمدة القاري: ۲۳۲/۴.

جواب دادې چه دلته امام بخاري رحمه الله په ډير مزيدار او عجيبه انداز سره دَ يوې مسئلې استنباط کوی کومه چه هم دَ قبلې سره متعلق ده. هغه دا چه انحراف عن القبله چه بعضې وختونو کښې مونځ مفسد کوی په دې انحراف کښې دَ کوم يو اندام اعتبار دې؟ (يعنی دَ کوم يو اندام منحرف عن القبله کيدو سره مونځ فاسديږی.) نومعلومه دې وی چه دَ انحراف درې صورتونه دی:

① يودا چه په سينې سره انحراف وی يعنی دَمونځ گذار سينه دَ قبلې نه واوړی.
② دويم دا چه صرف په مخ سره انحراف وی (يعنی مخ دَ قبلې نه واوړی).
③ دريم دا چه صرف نظر او سترگه اخوا (يعنی دَ قبلې نه) اخوا شی.

زمونږ فقهاء ليکی چه ړومبې صورت مفسدصلوة دې، دويم مکروه دی او دريم دَ ضرورت په وخت بغيردَ څه کراهت نه جائز دی، بغيردً ضرورت نهداهم مکروه دې مگر دَدې کراهت دَ دويم (دکراهت نه) کم دې. غالبًا هم دَدې مسئلې طرف ته امام بخاري رحمه الله څه قدرې اشاره کوی چه اوگورئ حضورپاك فرمائی چه زه دَ شانه هم گورم يعنی په مونځ کښې. نومعلومه شوه چه دَانحراف عن القبله په مسئله کښې دَ نظر اوبصر اعتبار نشته (دَدې په منحرف کيدو باندې به مونځ نه فاسديږی) گنی په شاته کتلوسره به دَ حضورپاك مونځ معاذالله فاسد يا مکروه گرځی. نو په انحراف کښې به اعتبار صرف دَ سينې او مخ وی. (الغرض) په حديث کښې دَ قبلې سره متعلق دَ يوې مسئلې طرف ته لطيف اشاره ده، لهذا اوس شبه پاتې نه شوه).([1])

دَ حديث شريف نه مستنبط شوی امور او احکام: دَ مذکوره حديث شريف نه ډير احکام مستنبط کيږی دَهغې نه څه لاندې ذکرکولې شی:

① دَدې حديث نه معلومه شوه چه مونځ په ډيره خشوع اوخضوع سره، او ټول ارکان په کاملې طريقې سره ادا کول پکاردی.([2])
② دَ يوې خبرې دَ مؤکد کولودَپاره قسم سره دَ بيانولو گنجائش معلوميږی([3]).
③ امام له پکاردی چه دَمقتديانونه په چا کښې دَ دينی امورو سره متعلق څه کمې کوتاهې اوگوری نو هغه خلق دې خبردار کړی او هغوی لره دې دکمال پورې دَ بوتللو کوشش اوکړی([4]).

---

[1]) فضل الباري: ١٢٢/٣.
[2]) شرح النووي، كتاب الصلاة، باب: الأمر بتحسين الصلاة، رقم الحديث: ٤٢٣٠، ١٥٠/٤.
[3]) شرح النووي، كتاب الصلاة، باب: الأمر بتحسين الصلاة، رقم الحديث: ٤٢٣٠، ١٥٠/٤.
[4]) عمدة القاري: ٢٣٢/٤.

حدیث باب (دویم حدیث)[حدیث نمبر ۴۰۹]

- ۴۰۹ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ صَالِحٍ قَالَ حَدَّثَنَا فُلَيْحُ بْنُ سُلَيْمَانَ عَنْ هِلَالِ بْنِ عَلِيٍّ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ [۱] قَالَ صَلَّى بِنَا النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- صَلَاةً ثُمَّ رَقِيَ الْمِنْبَرَ، فَقَالَ فِي الصَّلَاةِ وَفِي الرُّكُوعِ «إِنِّي لَأَرَاكُمْ مِنْ وَرَائِي كَمَا أَرَاكُمْ».

د حدیث ترجمه: حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه یوه ورځ نبی کریم ﷺ مونږ ته مونځ راکړو. بیا په منبر باندې تشریف فرماشو او د مونځ او رکوع باره کښې ئې اوفرمائیل. زه تاسو د شا نه هم داسې وینم لکه څنګه چه (د مخې نه) وینم.

تراجم رجال: د مذکوره حدیث شریف په سند کښې ټول څلور راویان دی:

① یحیی بن صالح رحمه الله: دا ابوزکریا یحیی بن صالح الوحاظی رحمه الله دې. د دوی احوال کشف الباری، کتاب الصلاة، باب: إذا كان الثوب ضيقًا، الحديث الأول لاندې تیرشوي دي [۲].

② فلیح بن سلیمان رحمه الله: دا ابویحیی فلیح بن سلیمان بن ابی المغیره الخزاعی رحمه الله دې. د دوی احوال کشف الباری، کتاب العلم، باب: من سئل علما وهو مشتغل في حديثه، فأتم الحديث ثم أجاب السائل لاندې تیرشوي دي [۳].

③ هلال بن علی رحمه الله: دا هلال بن علی بن اسامه قرشی رحمه الله دې. د دوی احوال کشف الباری، کتاب العلم، باب: من سئل علما وهو مشتغل في حديثه، فأتم الحديث ثم أجاب السائل لاندې تیرشوي دي [۴].

④ انس بن مالک رضی الله عنه: دا مشهور صحابئ رسول حضرت انس بن مالک رضی الله عنه دې. د دوی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان أن یحب لأخيه ما يحب لنفسه لاندې تیرشوي دی [۵].

د حدیث شرح: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: صَلَّى بِنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةً، ثُمَّ رَقِيَ الْمِنْبَرَ: حضرت انس بن مالک رضی الله عنه فرمائی چه یوه ورځ مونږ ته رسول الله ﷺ مونځ راکړو، بیا په منبر باندې تشریف فرما شو.

---

[۱]) رواه البخاري أيضًا في الصلاة، باب: الخشوع في الصلاة، رقم الحديث: ۷۴۲. وفي كتاب الأيمان والنذور، باب: كيف كانت يمين النبي صلى الله عليه وسلم، رقم الحديث: ۶۶۴۴. ومسلم في صحيحه، في الصلاة، الأمر بتحسين الصلاة، وإتمامها والخشوع فيها، رقم الحديث: ۴۲۵. والنسائي في سننه، في الصلاة، في الافتتاح، باب: الأمر بإتمام الركوع، رقم الحديث: ۱۰۵۵. وفي جامع الأصول، حرف الصاد، الكتاب الأول: في الصلاة، القسم الأول: في الفرائض وأحكامها، الفصل الخامس: في كيفية الصلاة، الفرع الرابع: في الركوع والسجود، النوع الأول: في الركوع والسجود، الاعتدال، رقم الحديث: ۳۴۹۰، ۳۶۳/۵.

[۲]) كشف الباري، كتاب الصلاة، باب: إذا كان الثوب ضيقًا، الحديث الأول، ص: ۳۰۶.

[۳]) كشف الباري: ۵۵/۳.

[۴]) كشف الباري: ۶۲/۳.

[۵]) كشف الباري: ۴/۲.

قوله: "صَلّٰى بِنَا" په دې روايت كښې دَ صلي صله "ب" ده خو دَ ابوذر، اصيلي او ابن عساكر په روايت كښې دَدې صله "لام" استعمال شوې ده. يعنى "صلي لنا" په دې صورت كښې به معنى دا شى "صلي لاجلنا" چه زمونږ دَ خاطره ئې مونځ اوكړو(۱).

قوله: فَقَالَ فِي الصَّلَاةِ وَفِي الرُّكُوعِ: «إِنِّي لَأَرَاكُمْ مِنْ وَرَائِي كَمَا أَرَاكُمْ»: اودَ مونځ او ركوع باره كښې ئې اوفرمائيل: زه تاسو ته دَ شانه هم داسې گورم لكه څنګه چه دَ (مخې نه) گورم.

قوله: "فَقَالَ فِي الصَّلَاةِ وَفِي الرُّكُوعِ" په دې جمله كښې حذف دې، تقديرى عبارت داسې دې:

"فقال في شأن الصلاة وفي أمرها" يعنى حضورپاك دَ مونځ او ركوع په باب كښې اوفرمائيل چه زه تاسو ته دَ شانه هم داسې گورم لكه څنګه چه دَمخې نه وينم( ).

دَركوع ذكر خاص په دې وجه اوكړې شو چه ركوع دَ نورو اركانو په نسبت يو لوئى ركن دې په دې توګه چه امام لره په ركوع كښې موندونكې دَركعت حاصلونكې ګرځولې شوې دې. اودَ ركوع نه پاتې كيدونكې دَ ركعت فوت كونكې ګرځولې شوې دې. په دې وجه ئې په دې باندې دَتنبيه كولو دَ پاره جدا دَدې ركن ذكر اوكړو(۲).

قوله: "إِنِّي لَأَرَاكُمْ مِنْ وَرَائِي كَمَا أَرَاكُمْ" په دې حديث كښې چه مطلقًا دا فرمائيلې شوى دى چه زه تاسو دَ شانه ګورم، دَدې دَ اطلاق تقاضادا ده چه دا (دَ شانه كتل) دَ مونځ حالت او غيردَ مونځ دواړو ته عام وى. ليكن دَ سياقِ حديث تقاضا داده چه دا كيفيت هم په مونځ كښې وى(۳).

حافظ ابن حجر رحمه الله ليكلى دى چه ظاهر دَ حديث خو دا دلالت كوى چه دا كيفيت دې هم دَ مونځ سره خاص وى ليكن دا احتمال موجود دې چه دا كيفيت په ټولو احوالو كښې وى. لكه چه دَ بقى بن مخلد رحمه الله نه نقل دى چه نبى اكرم ﷺ به په تياره كښې هم هغه شان ليدل لكه چه په رڼا كښې(۵). "مِنْ وَرَائِي" بعضې رواياتو كښې داكلمه دَ "ي" نه بغيرده يعنى: "من وراء"(۶).

قوله: "كَمَا أَرَاكُمْ" په دې روايت كښې دَدې فعل مفعول به ذكر نه دې خو په نورو رواياتو كښې بالتصريح ذكر دې. اودې سره به عبارت "كما أراكم من أمامي" وى.(۷)

---

۱) إرشادالسارى: ۲/۷۶.
۲) شرح الكرمانى: ۴/۷۷، عمدة القارى: ۴/۲۴، التوشيح للسيوطى: ۲/۴۹۹.
۳) شرح الكرمانى: ۴/۷۷، عمدة القارى: ۴/۲۴، التوشيح للسيوطى: ۲/۴۹۹،شرح العلامة الزرقانى على المواهب اللدنيه بالمنح المحمديه، المقصد الثالث فيما فضله الله تعالى به، الفصل الأول فى كمال خلقته وجمال صورته صلى الله عليه وسلم: ۵/۲۶۴.
۴) عمدة القارى: ۴/۲۳۴.
۵) فتح البارى: ۱/۶۶۷.
۶) شرح الكرمانى: ۴/۷۷، عمدة القارى:۴/۲۳۴.
۷) التوشيح للسيوطى: ۴/۴۹۹.

دې نه علاوه دَمسلم په روايت كښې خو په تصريح سره داخبره ده: "إني لأبصر من ورائي كما أبصر من بين يدي" چه زه دَ خپل شا طرف نه هم داسې ګورم لکه چه دَخپلې مخې طرف نه[1]. "كما أراكم" كښې كاف دَتشبيه دَ پاره دې. مشبه "لأراكم من ورائي" دې او مشبه به ما بعد والا كلام يعنی "أراكم من أمامي"[2].

نور تول بحثونه دَماقبل حديث شريف لاندې تيرشوى دى.

۹ - بَابٌ: هَلْ يُقَالُ: مَسْجِدُ بَنِي فُلَانٍ؟

داباب په دې باره كښې دې چه آيا (دَ يو جمات باره كښې) وئيلې شى
چه دا جمات دَ فلانكو خلقو دې؟

دَترجمة الباب دَ ماقبل ابوابو سره مناسبت: په مخكينو بابونو كښې دَ جماتونو متعلق احكام ذكر وو او په دې باب كښې هم دَ جمات دَ احكامو نه يو حكم (يعنې دَ جمات نسبت دَ يو سړى طرف ته دَ كولو) ذكر دې لهذا دَ دومره مناسبت موجوديدل كافي دى.[3]

دَ ترجمة الباب مقصد: دَدې باب مطلب دادې چه قرآن پاك كښې: ﴿ وَأَنَّ الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ ﴾ راغلي دې په دې سره شبه كيږى چه جماتونه خو دَ الله تعالى دى. لهذا دَ يو سړى يا دَ يو قبيلې طرف ته به دَدې اضافت صحيح نه وى؟ په سلفو كښې بعضې حضراتو لكه حضرت ابراهيم نخعي رحمه الله دې ته مكروه وئيلى دى.[4] ليكن حديث باب دا نظر په رد كوى.

امام بخارى رحمه الله داخودل غواړى چه "مسجد بني فلان" يا "دَ فلانكى جمات" وئيلو كښې هيڅ حرج نشته دې يعنې دَ جمات نسبت يو قبيلې يا يو كس طرف ته كول جائز دى. پاتې شوه داخبره كومه چه په قرآن پاك كښې ذكر ده. نودَدې مطلب دادې چه په حقيقت كښې خو جماتونه هم دَ الله تعالى دَ پاره جوړولې شى ليكن دا چه وئيلى شى چه دا جمات دَ فلانكې قبيلې والو دې يا دا جمات دَ فلانكى سړى دې نوداسې وينا كول صرف دَ پيژندګلو دَ پاره وى، دَ فرق او امتياز دَ پاره وى. دَدې دا مطلب هيڅ كله نه دې چه اسناد يا اضافت حقيقى دَ فلانكې قبيلې او يا فلانكى سړى طرف ته دې[5].

---

[1] حدثنا أبو كريب محمد بن العلاء الهمداني، حدثنا أبوأسامة، عن الوليد يعني ابن كثير، حدثني سعيد بن أبي سعيد المقبري، عن أبي هريرة قال: صلى رسول الله صلى الله عليه وسلم يوما ثم انصرف فقال: يا فلان! ألا تحسن صلاتك؟ ألا ينظر المصلي إذا صلى كيف يصلي؟ فإنما يصلي لنفسه، إني والله لأبصر من ورائي كما أبصر من بين يدي. (صحيح مسلم، كتاب الصلاة، باب: الأمر بتحسين الصلاة وإتمامها والخشوع فيها، رقم الحديث: ٤٢٣).

[2] عمدة القاري: ٢٣٤/٤.

[3] عمدة القاري: ٢٣٤/٤.

[4] حدثنا هشيم عن مغيرة عن إبراهيم أنه كان يكره أن يقول: "مسجد بني فلان . ولا يرى بأسا أن يقول: "مصلى بني فلان . (المصنف لابن أبي شيبة، كتاب الصلاة، باب: في المسجد ينسب إلى قوم، يقال: مسجد بني فلان، رقم الحديث: ٨١٥٤، ٣٤١/٥).

[5] عمدة القاري: ٢٣٤/٤.

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائي چه د امام بخاري رحمه الله مقصد د دغه مقولې جواز خودل دی ځکه چه نسبت دتعريف دې نه چه د تخصيص. وړاندې روايت دكتاب الجهاد دی. د حضورپاك په زمانه كښې به جنگ مخامخ كيدلو اود هغې د پاره به د اسونو زغلول كيدل. خير محل د ترجمې صرف دادې چه په روايت كښې مسجد بنی زريق راځی. ددې نه ثابته شوه چه د فلانكی د خوئی جمات وئيل جائز دی ليكن بيا اشكال پيدا كيږی چه كله دا ثابته ده اودې د پاره روايت هم پيش كوی چه مسجد بنی فلان وئيل جائز دی نو بيا په ترجمه كښې به "هل" ولې اولكولې شو؟

نودې جواب دادې چه د "هل" مقصد طالبعلمان خبردار كول دی چه خبره خو هم داسې ده ليكن په دې كښې څه نور څه هم دی او هغه دا چه په روايت كښې دمسجد بنی زريق كوم لفظ راغلې دې. د حضورپاك په زمانه كښې هم دا نوم وو او كه د حضورپاك نه پس د صحابه كرامو رضي الله عنهم په زمانه كښې كيخودلې شوې دې؟ په دې كښې لږ شان غور اوكړنئ.[1]

حديث باب[حديث نمبر ۴۱۰]

۴۲۰- حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ[2] أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- سَابَقَ بَيْنَ الْخَيْلِ الَّتِي أُضْمِرَتْ مِنَ الْحَفْيَاءِ، وَأَمَدُهَا ثَنِيَّةُ الْوَدَاعِ، وَسَابَقَ بَيْنَ الْخَيْلِ الَّتِي لَمْ تُضْمَرْ مِنَ الثَّنِيَّةِ إِلَى مَسْجِدِ بَنِي زُرَيْقٍ ،وَأَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ كَانَ فِيمَنْ سَابَقَ بِهَا.

د حديث ترجمه: د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه اسونه كوم چه (دجهاد د پاره) تيار كړې شوې وو د مقام حفياء نه تر مقام ثنية الوداع پورې اوزغلول. او چه كوم اسونه تيار كړې شوې نه وو د هغوی منډه ئی د ثنية الوداع نه واخله دمسجد بنی زريق پورې اوكړه او حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دهغه خلقو نه وو چا چه په دغه منډه كښې حصه واخستله.

تراجم رجال: د مذكوره حديث شريف په سند كښې څلور رجال دی:

① عبدالله بن يوسف رحمه الله: دا عبدالله بن يوسف تنيسی رحمه الله دې. د دوی مختصر احوال كشف

---

[1]) الأبواب والتراجم: ۲۱۰/۲،سراج القاري: ۴۶۳/۲.

[2]) رواه البخاري أيضًا في الجهاد، باب: السبق بين الخيل، رقم الحديث: ۲۸۶۸، وباب: إضمار الخيل للسبق، رقم الحديث: ۲۸۶۹، وباب: غاية السبق للخيل المضمرة، رقم الحديث: ۲۸۷۰. وفي الاعتصام، باب: ما ذكر النبي صلى الله عليه وسلم وحضّ على اتفاق أهل العلم، رقم الحديث: ۷۳۳۶. ومسلم في صحيحه، في الإمارة، باب: المسابقة بين الخيل وتضميرها، رقم الحديث: ۱۸۷۰. وأبوداؤد في سننه، في الجهاد، باب: في السبق، رقم الحديث: ۲۵۷۵. والترمذي في جامعه، في الجهاد، باب: ماجاء في الرهان والسبق، رقم الحديث: ۱۶۹۹. والنسائي في سننه، في الخيل، باب: إضمار الخيل للسبق، رقم الحديث: ۳۶۱۴. وابن ماجة، في الجهاد، باب: السبق والرهان، رقم الحديث: ۲۸۷۷. وفي جامع الأصول، حرف السين، الكتاب الثالث: في السبق والرمي، الفصل الأول: في أحكامها، رقم الحديث: ۳۰۳۵، ۳۸/۵.

الباری، کتاب بدء الوحی په دویم حدیث او تفصیلی احوال کتاب العلم، باب: لیبلغ الشاهد الغائب لاندې تیرشوي دی[1].

⑫ مالك رحمه الله: دا امام مالك بن انس رحمه الله دی. دَ دوی مختصر احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی په دویم حدیث او تفصیلی احوال کتاب الإیمان، باب: من الدین الفرار من الفتن لاندې تیرشوی دی[2].

⑬ نافع رحمه الله: دا مولی عبدالله بن عمر القرشی رحمه الله دی. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب العلم، باب: ذکر العلم والفتیا فی المسجد لاندې تیر شوی دی[3].

⑭ عبدالله بن عمر رضی الله عنهما: دا مشهور صحابئ رسول حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما دی. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: استثناء فی الإیمان کښې تیر شوی دی[4].

دَ حدیث شرح: عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عُمَرَ، «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَابَقَ بَيْنَ الخَيْلِ الَّتِي أُضْمِرَتْ مِنَ الحَفْيَاءِ، وَأَمَدُهَا ثَنِيَّةُ الوَدَاعِ: دَ حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ هغه اسونو کوم چه (دَ جهاد دَ پاره) تیارکړې شوې وو، دَمقام حفیاء نه تر مقام ثنیة الوداع پورې دَمنډې مقابله اوکړه.

دَمسابقه نه مراد: "سَابَقَ" دا دَ باب مفاعله نه فعل ماضی معروف دی. دَ باب مفاعله خاصه ده چه په دې کښې دَ اشتراك معنی وی. اومصدری معنی ده منډه لګول. چنانچه هغه منډه په کوم کښې چه دوه یا دَ دوو نه زیات کسان شریك وی هغې ته به مسابقه وئیلې شی. اودا دَمنډې مقابله دَ اسونو په مینځ کښې اوکړې شوه. په دغه منډه کښې دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم اس هم شریك شوې وو. دَ هغه نوم السکب وو. دَ بنو فزاره نه دا حضورپاك اخستې وو. دَهغوی په نیز دَ ده نوم ضرس وو. عجیبه خبره دا ده چه دا اولنې اس وو کوم چه حضورپاك اخستې وو او هم دا هغه رومبې اس دې په کوم چه کیناستو سره حضورپاك په جهاد کښې شرکت کړې وو. او بیا دا هم چه دغه اس په مقابله کښې شریك شو او ګټه ئی هم اوکړه. چنانچه دَ حضورپاك اس مبارك ته دا فضیلت او درجه حاصله شوه نو په دې سره حضورپاك اودَ حضورپاك صحابه کرامو رضی الله عنهم ته هم خوشحالی اوشوه[5].

علامه ابی رحمه الله فرمائی دَ "سابق" معنی "أذن فی المسابقة" ده. او بعضو "أمر للمسابقة" ذکرکړې دی[6]. او بعضو "أمر بالسباق" یا "أباحه" معنی ذکرکړې ده[7].

---

[1]) کشف الباری: ۱/۲۸۹، ۱۱۳/٤.
[2]) کشف الباری: ۲/۱۸۰/۲۹۰.
[3]) کشف الباري: ۴۵۱/۴.
[4]) کشف الباری: ۱/۶۳۷.
[5]) عمدة القاری: ۲۳۵/٤.
[6]) إکمال إکمال المعلم للأبی، کتاب الإمارة،باب:الخیل فی نواصیها الخیرإلی یوم القیامة، رقم الحدیث: ۱۸۷۰ و ۲۱۷/۵.
[7]) ذخیرة العقبی، کتاب الخیل، غایة السبق للتی لم تضمر، رقم الحدیث: ۳۶۱۰، ۲۳/۳۰.

دَ تضمير دَدوو معنو بيان: "اضمرت" دَ اضمار مطلب دا وي چه اس باندې زين اچوی او بيا دَ هغې دَ پاسه زَل (څادر) اچولې شي او هغه دغه شان مسلسل په زين کښې تړلې او په زَل (څادر) کښې پټ وي. ښه خولې پرې راځی نودَ هغه دَ بدن پوستوالې ختميږی او دَ هغه بدن دَ اوسپنې په شان سختيږی.[۱]

دَ اضمار يوبله طريقه هم ده چه په اس باندې ښه خوراك کوی او په ښه شان سره دَ هغه خدمت کوی. کله چه هغه ښه چاق او تازه شی نو بيا هغه په يوه کوټه کښې بندوی. چرته چه ډيره گرمی وی. په دغه زمانه کښې په هغه باندې اوچ وابنه خوری. په دې سره دَ هغه په بدن باندې ښه خوله راځی. په کوم سره چه دَهغه په بدن کښې چه څومره وازگه وی او زياتی غوښه وی هغه ويلی کيږی او قوت او طاقت ئی باقی پاتې کيږی. دې اسونو ته مضمرونيلی شی اودا عمل اضمار او تضمير ياديږی.[۲]

حفياء نه مراد: "الحَفْيَاء" دَحاء فتحه او فاء سکون سره دَ يو ځائی نوم دې. دَ هغه ځائی نه دَ مقام ثنية الوداع فاصله په قول دَ حضرت سفيان ثوری رحمه الله پينځه يا شپږ ميله دې او په قول دَ حضرت موسیٰ بن عقبه رحمه الله په نيز شپږ يا اووه ميله دې. دَدې لفظ استعمال ممدود يعنی "حفياء" او مقصوره يعنی "حفياء" دواړه شان صحيح دې.[۳]

علامه نووی رحمه الله فرمائی چه صاحب دَ مطالع ذکر کړې دې چه بعضې خلقو دا دَ حاء ضمې سره هم لولی هغه په خطا باندې دې. بل دا لفظ دَ ياء تقديم سره "حيفاء" هم لوستلې شی. ليکن دحديث په کتابونو کښې ياء مؤخر کولو سره حفياء لوستل مشهوردی.[۴]

قوله: "أَمَدُهَا" همزه او ميم مفتوحه سره دې. دَدې معنی دَ غايت او حد ده. او مطلب دا چه دَمنډې شروع دَمقام حفياء نه اوشوه او ختميدل ثنية الوداع باندې اوشو.[۵]

دَ ثنية الوداع دَ تسميې وجه او مطلب: "ثَنِيَّةُ الوَدَاع" دادَ ثاء فتحه نون کسره او ياء تشديد سره مستعمل دې. "ثنية" معنی دَ دوو غرونو مينځ کښې تلونکې لار او "وداع" نه مراد رخصت

---

[۱]) عمدة القاري: ۲۳۵/٤.

[۲]) معالم السنن للخطابي، كتاب الجهاد، باب: السبق: ۲٤٥/۲. عمدة القاري: ۲۳۵/٤. الكوكب الوهاج والروض البهاج، كتاب الإمارة، باب: الخيل في نواصيها الخير إلى يوم القيامة، رقم الحديث: ۱۸۷۰، ۱۵۵/۲۰.

[۳]) إكمال إكمال المعلم للأبي، كتاب الإمارة، باب: الخيل في نواصيها الخير إلى يوم القيامة، رقم الحديث: ۱۸۷۰، ۲۸۵/٦.الديباج على صحيح مسلم للسيوطي، كتاب الإمارة، باب: الخيل في نواصيها الخير إلى يوم القيامة، رقم الحديث: ۱۸۷۰، ٤٦۸/٤.

[٤]) المنهاج شرح صحيح مسلم، كتاب الإمارة، باب اخليل في نواصيها الخير إلى يوم القيامة. رقم الحديث: ۱۸۷۰، ۱٤/۱۳. عمدة القاري: ۲۳۵/٤.

[۵]) الكوكب الوهاج والروض البهاج،كتاب الإمارة، باب: الخيل في نواصيها الخير إلى يوم القيامة، رقم الحديث: ۱۸۷۰، ۱۵۵/۲۰.

کول دی. چنانچه په دې تناظر کښې د "ثنية الوداع" معنی به دا جوړیږی چه دا د مدینې منورې سره څوك د يو وادئ نوم دی. کوم ځائ پورې چه به د مدینې خلق د رخصت کولو د پاره تلل. هم د دې وجې نه د دې وادئ نوم ثنية الوداع مشهور شو[1].
هم د دې طرف ته په دې شعرونو کښې اشاره ده چه د نبی کریم ﷺ په استقبال کښې د مدینې نه بهر راتلو سره د مدینې ماشومانو جینکو وئیل: طلع البدر علینا من ثنیات الوداع.[2]
دی نه علاوه د دې لفظ وجه تسميه کښې نور اقوال هم دی، مثلاً: کله چه نبی کریم ﷺ د مدینې طرف ته هجرت او کړو نو هغه وخت دغه مقام نه خپل ځان سره راتلونکی کسان واپس رخصت کړل په دې وجه د دې ځائ نوم ثنية الوداع مشهور شو. بعضې ذکر کړې دې چه دا هغه ځائ وو د کوم ځائ نه چه بعضې لښکرې د جهاد د پاره رخصت کړې او صحيح هم هغه دی کوم چه پورته ذکر شو چه اهل مدینه به د چا د رخصت کولو د پاره د دې مقام پورې تلل[3].
قوله: وَسَابَقَ بَيْنَ الْخَيْلِ الَّتِي لَمْ تُضْمَرْ مِنَ الثَّنِيَّةِ إِلَى مَسْجِدِ بَنِي زُرَيْقٍ: او کوم اسونه چه نه وو تیار کړې شوې د هغوی منډه ئې د ثنية الوداع نه واخله تر مسجد بنی زریق پورې ورکړه.
د بنی زریق مصداق: "بنی زُرَیْق" دا د تصغیر صیغه ده. فُعَیْل په وزن باندې دې. د انصار مدینه مشهور قبیلې خزرج یو ښاخ بنو زریق بن عامر مراد دې. د دغه غیر مضمر اسونو د منډې مقابلې ختمیدل مسجد بنی زریق باندې شوې وو. علامه ابی مالکی رحمه الله لیکلی دی چه ثنية الوداع او مسجد بنی زریق په مینځ کښې د یو میل فاصله وه[4].
قوله: وَأَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ كَانَ فِيمَنْ سَابَقَ بِهَا: او حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما د هغه خلقو نه وو چاچه په دغه منډه کښې حصه واخستله.
قوله: سَابَقَ بِهَا: کښې د هاء ضمیر مرجع الخیل هم کیدې شي او المسابقة هم. یعنی حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما هم په هغه خلقو کښې شامل وو چاچه د اسونو منډه کښې حصه واخسته. د حدیث شریف د مذکوره ټکرې باره کښې امکان دې چه دا پخپله هم د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما قول وی چه هغوی د خپل طرف نه په طریق د حکایت نقل کړې وی.[5] او دا هم امکان دې چه دا د هغوی د شاګرد نافع رحمه الله قول وی[6].

[1]) إكمال المعلم بفوائد مسلم، في الإمارة، باب المسابقة بين الخيل وتضميرها، رقم الحديث: ۱۸۷۰، ۲۸۵/۶. الديباج على صحيح مسلم للسيوطي، كتاب الإمارة، باب: الخيل في نواصيها الخير إلى يوم القيامة، رقم الحديث: ۱۸۷۰، ۴۶۸/۴.
[2]) ذخيرة العقبى، كتاب الخيل، غاية السبق للتي لم تضمر، رقم الحديث: ۳۶۱۰، ۲۳/۳۰.
[3]) بذل المجهود، كتاب الجهاد، باب في السبق: ۷۵/۱۲.
[4]) إكمال المعلم بفوائد مسلم، في الإمارة، باب المسابقة بين الخيل وتضميرها، رقم الحديث: ۱۸۷۰، ۲۸۵/۶.
[5]) عمدة القاري: ۲۳۵/۴، بذل المجهود، كتاب الجهاد، باب في السبق: ۸۵/۱۲.
[6]) عمدة القاري: ۲۳۵/۴.

داسونو زغلولو حکم: د مذکوره حدیث شریف په رنړا کښې دټولو ائمه حضراتو په نیز د جهاد په نیت سره اسونه تیارول اودَ هغوی په مینځ کښې مقابله کول جائز دی. البته که په مقابله کښې شرط اولګولې شی نو په هغې کښې څه تفصیل دې. کوم چه به ان شاء الله کتاب الجهاد کښې بیانولې شی[1].

[1]) کشف الباري، کتاب الجهاد، باب: السبق بین الخیل، رقم ا لحدیث: ۲۸۶۸، وباب: إضمار الخیل للسبق، رقم الحدیث: ۲۸۶۹، وباب: غایة السبق للخیل المضمرة، رقم الحدیث: ۲۸۷۰. دلته اختصاراً دَ اسونو دمقابلې جائز صورتونو حکم نقل کولې شي:

داسونو د زغلولو جائز صورتونه: دَاسونو زغلولو ټولوجائز صورتونوکښې دوه شرطونه لا زمی دی. ① چه ددې مقصد صرف لوبې او تماشې نه وی بلکه قوت جهاد یا جسمانی ورزش وی. ② کوم انعام چه مقرر کړېشی هغه معلوم او متعین وي مجهول یا غیرمتعین نه وی.

رومبې صورت: مشروط رقم باندې دَ اسونو زغلولو جائز صورت یو دادې چه فریقین څوك چه خپل خپل اسونه زغلولو سره بازی لګوی په خپل مینځ کښې دَ یو بل نه اخستل ور کول نه وی، بلکه دَ حکومت یا دریم سړی یا جماعت د طرف نه دَ انعام په توګه رقم ګټونکی دَ پاره مقرر وی.

دویم صورت: دَ ګټونکي دَ پاره رقم یا انعام دَ فریقینو نه وی مګر چه صرف دَ یو طرف نه وی دواړو طرفونه شرط نه وی. مثلاً زید اوعمر دَ اسونو زغلولو کښې بازی لګوی. زید اووائی چه که عمر وړاندې شو نو زه به هغه له زر روپې انعام ورکوم. د بل طرف نه یعني دعمر د طرف نه دا شرط نه وی چه که زید مخکښې شو نوعمربه هغه ته زر روپئی ورکوی. د دوو طرفوشرط صورت دَجوارئی دې کوم چه حرام دې.

دریم صورت: دَ دوو طرفو شرط هم په یو خاص صورت کښې جائز دې هغه دا چه فریقین یو دریم په اس سورته مثلاً خالد خپل ځان سره شریك کړی، دَ کوم چه دوه صورتونه دی. ① چه دَ شرط صورت دا اوګرځی چه زید وړاندې شي نو عمر به زر روپئی هغه ته ورکوي او که عمر وړاندې شو نو زید به دومره رقم هغه ته ادا کوی اوکه خالد وړاندې شی نوهغه ته څه ورکول دَ چا په ذمه نشته. ② چه شرط داسې وی چه خالد وړاندې شي نو زید اوعمر دواړه به زر زر روپئی ورکوی او زید اوعمر دواړه یا دَ دوی نه یو که وړاندې شو نود خالد په ذمه هیڅ نشته. خوکه په زید اوعمر کښې دواړو نه یو وړاندې شی په دواړو کښې به په یوباندې هغه ته زر روپئی ادا کول لاَ زم راځی. په دې دواړو صورتونو کښې چه کوم دریم سړې شریك کړې شوې دې هغه ته په حدیث کښې محلل ونیلې شوې دې. په یو صورت کښې هم به هغه ته څه ورکول نه وی. دې نه علاوه ددې حدیث دَ وجې نه دِاهم ضروری دی چه دریم اس دَ زید اوعمر اسونو سره یوشان حیثیت لری د کوم په وجه چه د هغه د وړاندې کیدو یا روستو پاتې کیدو دواړه احتمال مساوی وی. داسې نه وي چه دکمزورئی یا عیب دَ وجې نه د هغه شاته پاتې کیدل عادةً یقینی وی یا دَ زیات قوي او چالاك کیدو د وجې نه دهغه وړاندې کیدل یقینی وی.

د اسونو د زغلولو ناجائز صورتونه: ① دَ اسونو دزغلولو بازی صرف لوبه تماشه یا دَ روپو طمع دَ پاره وی اود قوت جهاد نیت نه وی. ② دمعاوضه یا انعام شرط فریقین کښې دوطرفه وی او یو دریم فریق (محلل) په مذکوره بالا طریق باندې ورسره نه وی یوځائی کړې. ③ د منډې مروجه شکل چه د اسونو زغلول دَ یو کمپنئ یا کلب د طرف نه وی. اسونه دکمپنئ ملکیت او سواره هم دکمپنئ نوکران وی او نور نورخلق د اسونو په نمبر باندې خپل داؤ لګوي دکوم فیس چه هغوی داخلوی. دکوم نمبر اس چه مخکښې لاړو په هغې باندې داؤ لګونکی ته دانعام رقم ملاویږی باقی د ټولو خلقو فیس ضبط کیږی. دا صورت مطلقاً قمار او جوارئ ده اوحرام دې. بیا په دې کښې دَ جهاد یا بدنی ورزش څه تعلق نشته خکه چه بازی لګونکی نه اسونه ساتی اونه دَ سورلئی مشق سره دَهغوی څه تعلق وی.

تنبیه: کوم احکام چه د جائز او ناجائز تفصیل دَ اسونو په زغلولو کښې لیکلې شوې دې هم دغه حکم دَ اوښانو په زغلولو او خپې ابله منډې او دَ نښې ویشتلو هم دې. (ماخوذ از مسائل بہشتی زیور، مفتی عبدالواحد زید مجدہ، باب: قمار اور جوے کا بیان: ۲۶۱/۲-۲۶۰، مجلس نشریات اسلام، کراچی)

دَ اسونو زغلولو په شركاؤ كښې دَ نبي كريم ﷺ دانعام تقسيمول: ابن الملقن رحمه الله التوضيح كښې دَ ابن التين په حواله سره ذكركړې دې چه نبي كريم ﷺ دَ اسونو زغلول اوكړل. په دې موقعه حضورپاك له دَ يمن نه څڅې وغيره راغلې وې نوحضورپاك په اول نمبر راتلونكي ته درې څڅې وركړې په دويم نمبر باندې راتلونكي ته دوه او په دريم نمبر راتلونكي ته ئې يو څڅه وركړه. په څلورم نمبر باندې راتلونكي ته ئې يو دينا وركړو. پنځم نمبر باندې راتلونكي ته ئې يو درهم وركړو او په شپږم نمبر راتلونكي ته ئې دَ چاندئې لږه شان حصه وركړه او ټولو ته ئې دَ بركت دعا اوكړه([1]).

دَ حديث شريف ترجمة الباب سره مناسبت: دَمذكوره حديث شريف ترجمة الباب سره مناسبت دَ راوي قول "إلى مسجد بني زريق" كښې دې([2]).

دَ حديث مبارك نه مستنبط شوې فوائد اواحكام: دَمذكوره حديث شريف نه ډيرزيات فوائد او احكام مستنبط كيږي. دَ كوم نه چه يو څو دلته نقل كولې شي:

① علامه نووي رحمه الله فرمائي په دې حديث سره دَ اسونو مينځ كښې دَ زغلولو دَ جواز علم كيږي اودَ دې دَ تضمير دَ جواز هم علم كيږي. دا دواړه امور دَ ټولو په نيز اتفاقي دي. ځكه چه دَ جنګ دَپاره دَ تيز صحت منداو كلكو اسونو ضرورت وي. لهذا دَ اسونو په تضمير كښې اودَ هغوي دَ زغلولو په مقابله كولو كښې په اسونو كښې مطلوبه صفتونه پيداكولې شي([3]).

② په دې كښې دليل دې چه دَ پيژندګلو دَپاره جمات دَ هغې دَ جوړونكي يا يو سړي يا دَ قبيلې وغيره طرف ته منسوب كولوسره يادول جائز دي([4]).

③ دَ اسونو دَ تضمير جواز معلوميږي([5]).

④ دَ يوكار دَحكم وركونكي طرف ته دَ هغه كار نسبت كول هم صحيح دي. لكه څنګه چه ددې حديث دَ رومبي جملې "سابق" نه معلومه شوه چه حضورپاك خود دغه مقابلې اجازت وركړې وو يا ئې مباح ګرځولې وه يائي حكم فرمائيلې وو. ليكن انداز دَتعبير دا اختيار كړې شو چه حضورپاك په خپله په مقابله كښې حصه واخسته([6]).

---

[1]) التوضيح لابن الملقن: ٤٢٨/٥.

[2]) التوضيح لابن الملقن: ٤٢٦/٥، عمدة القاري: ٢٣٥/٤.

[3]) المنهاج شرح صحيح مسلم، كتاب الإمارة، باب: الخيل في نواصبها الخير إلى يوم القيامة، رقم الحديث: ١٨٧٠، ١٤/١٣.

[4]) فتح الباري: ٦٦٧/١،عمدة القاري: ٢٣٦/٤، المنهاج شرح صحيح مسلم، كتاب الإمارة، باب: الخيل في نواصبها الخير إلى يوم القيامة، رقم الحديث: ١٨٧٠، ١٥/١٣.

[5]) عمدة القاري: ٢٣٦/٤، تحفة الأحوزي، كتاب الجهاد، باب: ماجاء في الرهان والسبق، رقم الحديث: ١٦٩٩، ٢٥٠/٥، ذخيرة العقبى، كتاب الحيل، غاية السبق للتي لم تضمر، رقم الحديث: ٣٦١٠، ٢٥/٣٠.

[6]) فتح الباري: ٦٦٧/١،عمدة القاري: ٢٣٦/٤، تحفة الأحوزي، كتاب الجهاد، باب: ماجاء في الرهان والسبق، رقم الحديث: ١٦٩٩، ٢٥٠/٥، ذخيرة العقبى، كتاب الحيل، غاية السبق للتي لم تضمر، رقم الحديث: ٣٦١٠، ٢٥/٣٠.

⑤ دَ اسونو دَ زغلولو مقامات ابتداء او انتهاء مقرر کولو دَ مشروعیت هم علم کیږي(۱).
⑥ څناورو سره بغیرهَ ضرورتَ نه چه کوم معاملات ناجائز دي مثلاً (او ګي ساتل او هغه دَ ضرورت نه زيات زغلول وغيره) هم هغه معاملات دي چه په وخت دَ ضرورت (مثلاً: دَ جهاد دَ تياري دَ پاره) جائز کيږي(۲).
⑦ څناورو سره دَ هغوی دَ طاقت او قوت په اعتبار سره معامله کولو طريقه معلوميږي. لکه چه په مذکوره حديث کښې مخې ته راغله چه دَمضمر اسونو منډه تر پنځو يا شپږو ميلو پورې اوکړې شوه (ځکه چه په دغه اسونوباندې دَمنډې ښه مشق کړې شوې وی) اودَ غير مضمر اسونو منډه صرف يو ميل پورې اوکړې شوه (ځکه چه دا اسونه دَ ډيرې زياتې منډې عادت نه وی اونه دَ مشق)(۳).

۱۰ - بَابٌ: القِسْمَةِ، وَتَعْلِيقِ القِنْوِفِي المَسْجِدِ

دا باب په جمات کښې (دَ يوځيز) دَ سيم اودَ کهجورو غونچه زوړندولو دَ جواز په بيان کښې دې.

دَ ترجمة الباب مقصد اودَ حضرت ګنګوهي رحمه الله رائې: لامع الدراری کښې حضرت ګنګوهي رحمه الله فرمائي چونکه په احاديث مبارکه کښې په جمات کښې دَ عباداتو نه علاوه دَ نورو امورو ممانعت موجود دې. مثلاً دَيوحديث مفهوم دې چه په دې جماتونو کښې دَ خلقو (دنيا سره متعلق) کارونونه څه کول جائز نه دی. دَدې حديث ظاهر خو دا تقاضا کوی چه دَ عبادت نه علاوه دې هيڅ يو کار هم په جمات کښې جائز نه وی. ليکن (دَمذکوره حديث نه معلوميږي چه په سابقه حديث کښې دَ ذکر شوې) امورو نه مراد دَ دغه امورو نه علاوه دی دکوم چه هم په جمات کښې ضرورت وی.

حضرت شيخ الحديث صاحب نورالله مرقده لامع الدراری کښې په دې حديث باندې دَ حضرت ګنګوهي رحمه الله په دې کلام باندې حاشيه کښې تحرير کوی چه (کوم حديث چه حضرت ګنګوهي رحمه الله ذکرکړې دې) دَ دغه حديث معنی مختلف الفاظو سره په احاديثو کښې ذکر دی. مثلاً جمع الفوائد کښې دَ صحيح مسلم يو روايت دَ حضرت ابوهريره رضي الله عنه موجود دې چه کوم کس بل سړي په جمات کښې دَ خپل ورک شوی ځيز اعلان کولو سره واؤري نو هغه ته دې اووائي چه الله تعالی دې تاته ستا ورک شوې ځيز واپس نه کړی ځکه چه دا جماتونه ددې کارونودَ پاره نه دی جوړشوی.

په يوبل حديث کښې دی چه يو سړی په جمات کښې دَخپل ورک شوی اوښ باره کښې اعلان

---

(۱) عمدة القاري: ۲۳۶/٤، تحفة الأحوزي، كتاب الجهاد، باب: ماجاء في الرهان والسبق، رقم الحديث: ۱٦۹۹، ۲۵۰/۵، ذخيرة العقبى، كتاب الحيل، غاية السبق للتي لم تضمر، رقم الحديث: ۳٦۱۰، ۲۵/ ۳۰.

(۲) التوضيح لابن الملقن: ٤۲۷/۵ ، عمدة القاري: ۲۳٦/٤، ذخيرة العقبى، كتاب الحيل، غاية السبق للتي لم تضمر، رقم الحديث: ۳٦۱۰، ۲۵/۳۰.

(۳) ذخيرة العقبى، كتاب الحيل، غاية السبق للتي لم تضمر، رقم الحديث: ۳٦۱۰، ۲۵/۳۰.

کولو نو حضورپاك هغه ته اوفرمائيل چه (الله دې اوکړی چه) ستا اوبنې ملاؤ نه شي. دا جماتونه دَدې (قسم اعلانونو) دَ پاره نه دی جوړشوی.
په يوبل حديث کښې حضورپاك په جمات کښې دَ خرڅولو او اخستلو، دَ ورك شوو څيزونو دَ اعلان کولو او اشعار وغيره لوستلو نه منع کړې ده.
په يو بل حديث کښې دی چه دَ طائف دوو کسانو په جمات کښې په اوچت آواز سره خبرې کولې نو حضرت عمر رضي الله عنه هغوی ته اوفرمائيل که چرې تاسو دَدې ښار وئې نوتاسو ته به مې دردناکه سزا درکړې وه. دې نه علاوه يو بل حديث کښې دی چه په جمات کښې خندا کول دَ قبر تياره ده. په يو بل روايت کښې دی چه بغيردَ قرآن، دَ الله تعالى دَ ذکر اودَ خير دَ سوال جواب نه هرقسم خبره اوکار په جمات کښې دتنه فضول دې.
چنانچه دَدې قسم رواياتو په رڼا کښې امام بخاري رحمه الله په راتلونکو ابوابو کښې په تفصيل سره دَهغه رواياتو ذکر کړې دې په کوم کښې چه دَهغه امورو ذکر دې دَ کوم کول چه دَنبی کريم صلى الله عليه وسلم نه نقل دی[۱].
دَحضرت شيخ الحديث صاحب نورالله مرقده رائې: حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائی چه دَ حضرت امام بخاري رحمه الله مقصد دادې چه په جمات کښې دَ يوڅيز تقسيم جائز دې. دارنګ دَ کهجورې غونچې دَ زوړندولو جواز هم ثابتول دی اودَ دويمې مسئلې په خاص توګه سره ضرورت ځکه پيښ شو چه حضرت امام بخاري رحمه الله په دې سره دَ عوف بن مالك اشجعي رضي الله عنه دَ روايت طرف ته اشاره کړې ده. په کوم کښې چه دی چه رسول الله صلى الله عليه وسلم جمات ته تشريف راوړو وئې کتل چه يو سړی په جمات کښې حشف يعنی دَ ردی کهجورو غونچه زوړنده کړې ده. دَ حضورپاك په لاس مبارك کښې همسا وه. حضورپاك هغه غونچه په همسا باندې وهلوسره اوفرمائيل که چرته صدقه ورکونکې غوښتل نودَدې نه دَ بهتر صدقه ئې هم کولې شوه. او په يو بل روايت کښې دی چاسره چه دومره کهجورې (لس وسق) وی نوهغه دې زکوة هم اداکړی اويوه غونچه دې راوړی دَاصحاب صفه دَپاره دې جمات کښې زوړنده کړی.
او دَ امام بخاري رحمه الله قاعده داده چه دَ روايت طرف ته په ترجمة الباب کښې اشاره فرمائی.
بله دا چه دَ حضرت امام احمد رحمه الله په نيز دَ جمات په مينځ کښې ميوه داره ونه کرل جائز نه دی ځکه چه خامخا به هرقسم خلق ميوې شوکولو له راځی. نودَ هغوی دَدې قول ترديد کول دی.
امام بخاري رحمه الله خو په ترجمه کښې هغه روايت ذکرکړې دې په کوم کښې چه دَ بحرين دَ مال دَ راتلو ذکر دې نودَدې نه خو قسمت ثابت شو ليکن دکهجورې غونچه زوړندول ثابت نه شو. نو دَدې به ئې دلالة النص يا اشارة النص په ذريعه ثابت کړو[۲].

---

[۱] لامع الدراری مع حواشيه: ۱/۱۶۰.
[۲] سراج القاری: ۲/۴۶۶. تقرير بخاری شريف کښې دی: قسمت هم دَ دغه استثناءاتو نه دې دکوم چه به جمات کښې کول جائز دی. او زوړندول دَ کهجورې دَ غونچې دَ ابن بطال رحمه الله په نيز امام بخاري رحمه الله نه غفلت شوې دې اودَدې ئې څه دليل نه دې ذکرکړی. بعضې خلقو دَ امام بخاري رحمه الله دَ طرف نه دا جواب ورکړې دې چه دَهغوی اراده دَ ليکلو وه خو وئې نه ليکلې شو. بياض ئې پريخودې دې.......

دحضرت کشمیری صاحب رحمه الله رائې: صاحب انوارالباري علامه بجنوري رحمه الله په دې مقام باندې ليکلي دي چه حضرت شاه صاحب رحمه الله اوفرمائيل:[1] امام بخاري رحمه الله ددې ځائې نه د هغه افعالو ذکرشروع کړو کوم چه دَ جنس مونځ او ذکرونونه خارج دي او بيا هم په جمات کښې اوکړې شو او په دې سره هغه دَ خپل وسيع مسلك تائيدکول غواړي. چنانچه په دې حديث کښې ئې دَ مال تقسيم ثابت کړو خو زمونږ فقهاء په جمات کښې دننه کلام طعام وغيره مکروه ګرځوي اودَمال تقسيم وغيره هم ځکه چه جماتونه دَدې کارونودَ پاره موزون نه دي. امام بخاري رحمه الله ترلږې پورې داسې احاديث ذکرکوي حالانکه هغه ټول خاص واقعات وو دکوم نه چه فقهاء هم انکار نه کوي او هغوي دا امور صرف په توګه دَ عادت اختيارول مکروه ګرځوي. که يوځل دوه داسې اوشي نودهغوي په نيز هم جائز دي. لهذا که چرې امام بخاري رحمه الله دې جزوي واقعاتو نه دَ جمات احکاماتو کښې توسع پيداکول غواړي نو په دې سره دَهغه مقصد نه شي پوره کيدې ځکه چه کوم نور افعال چه احيانًا ثابت شوي دي. ښکاره خبره ده چه جماتونه دَدې دَ پاره نه دي جوړشوي. بيا دَ نفل مونځونودَ پاره هم مستحب دادي چه هغه دې په کورونوکښې اوکړې شي او په جماتونوکښې دې صرف فرائض ادا کړې شي. نودَ نورو اعمالو اوافعالو دَ پاره په مستقل توګه باندې دَ ګنجائش ويستلو کوشش کولو څه موقع ده؟ قضادَ احنافو په نيز په جمات کښې هم جائز ده ځکه چه هغه دَ عبادت په حکم کښې ده. دَ شافعيه په نيز ممنوع ده. په تدريس کښې هم اختلاف دې. احناف دا په جمات کښې بغير دَ اجرت جائز او اجرت سره ناجائز ګرځوي. (ځکه چه دا دَعبادت په حکم کښې پاتې نه شو).

② حضرت رحمه الله نور فرمائي چه زما په دې امر کښې هم تردد دې چه دَاموالو تقسيم دَ بحرين وغيره معاملات جمات کښې پيښ شوې وې ځکه چه علامه سمهودي رحمه الله ذکرکړې دي چه

...... کوم چه کاتبانو ملاؤ کړو. بعضې وائي چه دَ شرط موافق ورته څه روايت ملاؤ نه شو يا ترې هير شو وغيره وغيره. مګر زما په نيز دالفظ صحيح دې او حضرت امام بخاري رحمه الله دَ ابوداؤد شريف دَ يو روايت طرف ته کوم چه کتاب الزکاة کښې دې اشاره کړې ده. په هغه روايت کښې دي چه حضورپاك جمات ته تشريف راوړو وئې کتل چه يو سړي حشف يعني دَ ردي کهجورو يوه غونچه په جمات کښې زوړنده کړې ده. دَ حضوپاك په لاس مبارك کښې همسا وه. حضورپاك هغه غونچه په هغې اووهله او وئې فرمائيل که چرې دې غونچې والا غوښتلې نودَدې نه ئې بهتر صدقه کولې شوه. په يو روايت کښې دي چه حضورپاك حکم اوفرمائيلو چه دهرباغ نه دې يوه غونچه په جمات کښې دَ مسکينانودَپاره زوړنده کړې شي. اودَ حضرت امام بخاري رحمه الله قاعده داده چه دَ رواياتو طرف ته په ترجمة الباب سره اشاره کوي. اوزما رائې داده چه په قياس سره ئې ثابته کړه. ځکه چه په روايت کښې دَ قسمت الدنانير ذکر دې او دنانير اوکهجورې تقريبًا دَ رنګ او مقدار په اعتبار سره برابر وي. دا قياس هم صحيح دې ځکه چه دَ حضورپاك په زمانه کښې دَ تسبيح په وجود باندې دَ کهجورې دَ هډوکو والا رواياتو نه استدلال کيدې شي. نو دلته هم شرکت فی التقسيم وغيره نه استدلال کيدې شي او بعضې مشائخ فرمائي چه قسمت اوتعليق قنو چونکه دَنفع عامه څيزونه دي په دې وجه څنګه چه قسمت جائز دې تعليق قنو به هم جائز وي. (تقرير بخاري شريف: ۱۵۵/۲).

[1]) انوارالباري: ۱۸/۱۴.

دَ مسجد نبوی قبله اول دَ بيت المقدس طرف ته وه بيا چه كله تحويل قبله اوشو نو په بل مقابل طرف كښې شوه اوهغه حصه مسقف شوه او اوله حصه صفه يادېدله. دَ فقهې په كتابونو كښې دا هم دى چه دَ جمات يوه حصه په وخت دَ ضرورت دَدې نه خارج كولې هم شي[1]. لهذا دا ټول توسعات كوم چه امام بخارى رحمه الله ذكر كړې دى. په اوله حصه كښې به شوى وى كومه چه روستو دَ جمات په حكم كښې داخل پاتې نه شوه. راويانو هم توسع كولو سره دې ته هم جمات اووئيل اوعرفًا دَدې گنجائش هم وو. علامه ذهبى رحمه الله هم ليكلى دى چه صفه دَ اجزاء مسجد نه وه بيا دَدې نه خارج كړې شوې وه.[2] په دې تحقيق باندې دَ امام بخارى رحمه الله مقصد نه پوره كيږى اودَدې دَ پاره به دا اجمالى جواب هرځائې جارى كيږى.

③ دَدې نه علاوه داهم وئيلې شى چه دا دَ بحرين مال (چه تقريبًا يو لاكه درهم وو) په جمات كښې دَدې دَ پاره هم جمع كړې شوى وو چه هغه وخت بيت المال نه وو اودا يو صحابى سره كيخودل هم دَ بدگمانۍ سبب جوړېدې شو او پخپله حضورپاك هم دَ دنيا دا متاع په خپل كوركښې كيخودل نه خوښول.

---

[1] دَ جمات يوه حصه بالكليه دَ جمات نه خارجول، ويستل شرعًا جائز نه دى. كوم ځائې چه يو ځل شرعى جمات جوړ شو هغه ځائې دَ جمات كيدو نه دَ چا په ويستلو سره هم نه شى وتلې. البته بعضې وخت داسې ممكن دى چه عوام الناس ته دَ لارې دَ تنگيدو وغيره دَ وجې نه په جمات كښې دَ بار بار تيريدو ضرورت پيښيږى او دَ جمات هغه حصه دغه وخت دمونځ وغيره دَ ضرورت نه زياتى هم وى يعنى دَ جمات باقې حصه دَ مونځ دَ پاره كافى هم وى نو په داسې صورت كښې عوام الناس ته دَ هغوى دَ ضرورت دَ وجې دَ جمات هغه متعلقه حصه دَ لارې په توگه دَ استعمالولو تر هغه وخته پورې اجازت وركولې شى تركومې پورې چه دَ متبادل لارې بندوبست اونه شى. ليكن په دغه اجازت سره دَ جمات هغه حصه دَ جمات كيدو نه نه شى وتلې بلكه دَ هميشه دَپاره به هم جمات وى. اوگورئى: ردالمحتار، كتاب الوقف، مطلب: فى الوقف إذا خرب ولم يمكن عمارته: ۳۷۸/٤، دارالفكر. وفى البحرالرائق، كتاب الوقف: ۲۷۶/۵، دارالكتاب الإسلامى.

[2] دَحضرت شاه صاحب رحمه الله دَ طرف نه چه دَ علامه سمهودى رحمه الله كومه خبره ذكركړې شوې ده هغه خبره دَهغوى كتاب وفاء الوفاء، كښې ملاؤ نه شوه. معلوميږى دا چه علامه كشميرى رحمه الله دهغوى دا خبره صرف دَ بحث په توگه ذكركړې ده. ځنكه چه فيض البارى كښې دَدې قول دَ نقل كولو نه پس كذا ذكره السمهودى وئيلو سره دَ پوره خبرې حواله په هغوى باندې واچوله، نه يوازې دا بلكه دَ دغه عبارت دَ نقل كولو نه پس خپله نتيجه ذكركوى. دَ كوم حاصل چه دا جوړيږى چه دَ نبى كريم صلى الله عليه وسلم په جمات كښې دَ غنيمت مال تقسيمول دَ هغه وخت دَ هنگامى حالت دَ وجې نه شوى وو. ددې عبارت نه معلوميږى چه دَ حضرت كشميرى رحمه الله په نيز هم صفه دَ مسجد نبوى حصه ده دَ هغې نه خارج نه ده. كه څرې شاه صاحب رحمه الله دَ علامه سمهودى رحمه الله خبره په توگه دَ جواب ذكر كړې وې اودَ حضرت شاه صاحب رحمه الله په نيز صفه شرعى مسجد نه كيدل راجع وې نو په آخره كښې به ئې داسې جواب نه وركولو دَ كوم مدار چه صفه دَ جمات حصه منلو باندې مبنى دى. اوفرض كړه كه دا اومنلې شى چه دَحضرت شاه صاحب رحمه الله رائې هم دا وه چه صفه دَ جمات نه خارج كړې شوې وه نو به ظاهر به دَدې نه مراد دا وى چه جمات كيدل خو ئې باقى وو ليكن دَ ضرورت په وجه دَ صفه په حصه كښې ددې كارونو اجازت وركړې شوې وه كوم چه په عام توگه په جماتونوكښې منع دى. او په دې اعتبار سره به دا وينا كول هم صحيح شى چه دَ دغه تقسيم په وخت صفه دَ عين جمات حصه نه وه. بل دا چه ددې گنجائش دَ فقهې په كتابونوكښې ملاويږى هم، ځنكه چه پورته تير شوى دى. والله اعلم بالصواب.

دَدې ټولو شواهدو او قرائنو په موجودګئ كښې كه چرې حضورپاك هغه ټول مال په مسجد نبوى كښې ډهيرې كړو او فورى توګه باندې ئې تقسيم هم كړو نو آيا دا خبره موزون او مناسب ګرځولې شى چه دا قاعده اوكليه جوړه كړې شى؟ نه بلكه دا په توګه دَ يوې واقعې خاصې جزئيې ګڼړل زيات بهتر دى او هر انصاف خوښونكې به هم دغه فيصله كوى.

فائده مهمه: حضرت شاه صاحب رحمه الله اوفرمائيل چه امام بخارى رحمه الله دَ تراجم ابواب دَ وضع په باره كښې سباق غايات دې يعنى دَ هغوى دا فضيلت او مزيت بې مثال دې مګر په دې كښې چه يو طرف ته دَ امت محمديه دَپاره غيرمعمولى منافع او فوائد دى نوبل طرف ته يو دير لوئى مضرت اونقصان هم دې ځكه چه يو حديث دَ يوخاص حادثه په موقع باندې راغلى وى او قرائن ښائى چه هغه وخت حضورپاك كوم حكم او دَ څه وجې نه وركړې وو. مګر دَ امام بخارى رحمه الله دَ ترجمة الباب او دَ توسع دَ وجې نه بل سړې په مغالطه كښې پريوځى اودغه حكم نبوى حكم مطرد اوعام ګڼړى[1].

تعليق او يو وضاحت: قَالَ أَبُوعَبْدِاللهِ: الْقِنْوُ الْعِذْقُ وَالِاثْنَانِ قِنْوَانِ وَالْجَمَاعَةُ أَيْضًا قِنْوَانٌ مِثْلَ صِنْوٍ وَصِنْوَانٍ: ابوعبدالله (امام بخارى) رحمه الله فرمائى چه "قنو" "عذق" يعنى دَ كهجورې غونچې ته وائى دَدې تثنيه اوجمع دَ قنوان په وزن باندې راځى په شان دَ صنو او صنوان.

دا تعليق مصطفى ديب البغا والا نسخه كښې نشته دې كوم چه په كشف البارى كښې دَمتن په توګه لګولې شى. البته زمونږ په هندى نسخواو شروحاتو كښې دَدې تعليق ثبوت ملاويږى. علامه قسطلانى رحمه الله ليكى چه دا تعليق دَ ابى ذر، ابن عساكر او ابى الوقت په نسخوكښې ملاويږى ليكن دَدې نه علاوه نورو نسخوكښې دا روايت نه ملاويږى.

دَ تعليق مقصد اوتشريح: "ابوعبدالله" نه مراد پخپله امام بخارى رحمه الله دې. هغه په ترجمة الباب كښې موجود دَ يو لفظ قنولغوى تشريح كوى. دَ ټولو نه اول دَ قِنو دَ قاف په كسرې سره، معنى ښائى چه دَدې معنى "العِذق" دَ عين په كسرې سره يعنى دَ كهجورې غونچه ده او نور ئې اوخودل چه دَدې لفظ تثنيه اوجمع دواړو هم په يو وزن دې يعنى قنوان. لهذا كله چه دَدې استعمال دَتثنيه دَ پاره مقصود وى نوهم دا لفظ به وى ليكن دَ نون په كسرې سره او كله چه دَدې استعمال دَ جمع دَ پاره مقصود وى نودَدې اعراب به دَ ضرورت مطابق وى. لكه چه صنو دَدې تثنيه او جمع هم په دې وزن باندې راځى او فرق دَ نون دَ كسرې سره او دَ كسرې نه بغير سره كولې شى[2].

---

[1]) انوارالبارى: ٤١/٢٠-١٩.

[2]) إرشادالسارى: ٧٨/٢.

حديث باب [حديث نمبر ٤١١]

٤١١- وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ[1] عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ[2] عَنْ أَنَسٍ[3] -رضي الله عنه- قَالَ أُتِيَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- بِمَالٍ مِنَ الْبَحْرَيْنِ فَقَالَ «انْثُرُوهُ فِي الْمَسْجِدِ». وَكَانَ أَكْثَرَ مَالٍ أُتِيَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-، فَخَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- إِلَى الصَّلاَةِ، وَلَمْ يَلْتَفِتْ إِلَيْهِ، فَلَمَّا قَضَى الصَّلاَةَ جَاءَ فَجَلَسَ إِلَيْهِ، فَمَا كَانَ يَرَى أَحَدًا إِلاَّ أَعْطَاهُ، إِذْ جَاءَهُ الْعَبَّاسُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَعْطِنِي فَإِنِّي فَادَيْتُ نَفْسِي وَفَادَيْتُ عَقِيلاً، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «خُذْ». فَحَثَا فِي ثَوْبِهِ، ثُمَّ ذَهَبَ يُقِلُّهُ فَلَمْ يَسْتَطِعْ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، أُؤْمُرْ بَعْضَهُمْ يَرْفَعْهُ إِلَيَّ. قَالَ «لاَ». قَالَ فَارْفَعْهُ أَنْتَ عَلَيَّ. قَالَ «لاَ». فَنَثَرَ مِنْهُ، ثُمَّ ذَهَبَ يُقِلُّهُ، فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، أُؤْمُرْ بَعْضَهُمْ يَرْفَعْهُ عَلَيَّ. قَالَ «لاَ». قَالَ فَارْفَعْهُ أَنْتَ عَلَيَّ. قَالَ «لاَ». فَنَثَرَ مِنْهُ، ثُمَّ احْتَمَلَهُ فَأَلْقَاهُ عَلَى كَاهِلِهِ ثُمَّ انْطَلَقَ، فَمَا زَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يُتْبِعُهُ بَصَرَهُ حَتَّى خَفِيَ عَلَيْنَا، عَجَبًا مِنْ حِرْصِهِ، فَمَا قَامَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَثَمَّ مِنْهَا دِرْهَمٌ.

د حدیث ترجمه: د حضرت انس ﷛ نه روایت دي چه د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې د بحرین نه مال راوړلي شو نو حضورپاك اوفرمائیل چه دا جمات کښې واچوئی. دا مال د هغه تولو مالونو نه زیات وو کوم چه تر دغه وخته پورې د حضورپاك په خدمت کښې راليږلې شو. بیا رسول الله ﷺ د مونځ د پاره اووتلو نو دغه مال طرف ته ئی توجه هم اونه کړه. بیا نی چه کله مونځ ادا کړو نو حضورپاك راغلو اومال سره کیناستو. بیا چه به حضورپاك چاته هم کتل مال به ئی ورکولو. په دې کښې حضورپاك له (د هغوی تره) حضرت عباس ﷛ تشریف راوړو هغوی اوونیل اې د الله رسول! ماته هم راکړه ځکه چه ما خپله اود عقیل (دواړو) فدیه هم اداکړې وه. نو حضورپاك ارشاد اوفرمائیل (څومره چه غواړې) واخله نو حضرت عباس ﷛ په خپله کپړا کښې مال (بنه شان سره) ډك کړو. بیائی دغه پنډ اوچت کړو نو (د بوج زیاتیدو د وجې) ئی اوچت نه کړې شو. نو هغوی اوونیل اې د الله رسول! تاسو

---

[1] حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه مونږ سره چه کومې نسخې دی په هغې کښې دَدې راوی "ابراهیم" سره دهغه د پلار نوم یعنی ابن طهمان هم ذکردې اوهم دغه صحیح دی. خودَدې نسخې نه علاوه کښې دا لفظ "ابراهیم" د خپل پلار د نسبت نه بغیرذکر دې. (فتح الباری: ۱/۶۶۸).

[2] دَدې راوی باره کښې هم حافظ ابن حجر رحمه الله لیکلی دی چه زمونږ په نسخوکښې دا لفظ عبدالعزیز بن صهیب دې خودَدې نه علاوه نسخوکښې د پلار طرف ته د نسبت نه بغیر صرف عبدالعزیز دې. (فتح الباری: ۱/۶۶۸).

[3] أخرجه البخاری أیضًا فی الجهاد، باب: فداء المشرکین، رقم الحدیث: ۳۰۴۹. وباب: ما أقطع النبی صلی الله علیه وسلم من البحرین وما وعد من مال البحرین والجزیة ولمن یقسم الفیئ والجزیة، رقم الحدیث: ۳۱۵۶. وفی جامع الأصول، حرف الجیم، الکتاب الأول: فی الجهاد، الباب الثانی: فی فروع الجهاد الفصل الثالث: فی الغنائم والفیئ، الفرع الرابع: فی الفیئ، رقم الحدیث: ۱۲۰۷، ۲/۷۱۱.

چاته اووايئ چه (زما امداد اوکړی او ما سره) ئې اوچت کړی. حضورپاك اوفرمائيل نه، نوهغه اووئيل بنه ده بيا تاسو ئې ماته اوچت کړئې. حضورپاك اوفرمائيل نه، پخپله ئې اوچت کړه. په دې باندې هغه دَ هغه پنډ نه څه مال کم کړو بيا ئې (اوچت کړو ليکن دَ بوج دَ وجې اوچت نه کړې شو په دې باندې هغوی بيا) اووئيل اې دَ الله رسوله تاسو چاته اووايئ چه (زما امداد اوکړی اوما سره دا) اوچت کړی. حضورپاك اوفرمائيل نه، نوهغه اووئيل بنه بيائې تاسو ماته اوچت کړئې. حضورپاك اوفرمائيل نه ته ئې پخپله اوچت کړه. په دې باندې هغه دَ هغه پنډ نه څه نور مال کم کړو اوبيائې په خپله اوګه باندې اوچت کړو او لاړو حضورپاك دَ هغه په مال باندې حرص ليدو سره هغه (تر دَ تللوپه وخت) پورې شان کتلو تردې چه هغه زمونږ دَ نظرونو نه غيب شو. بيا چه ترکومې پورې يو درهم هم باقې پاتې شو حضورپاك ترهغه وخته پورې هم هلته حصار وو.

تراجم رجال: دَمذکوره حديث شريف په سند کښې ټول درې راويان دی:

① ابراهيم رحمه الله: دا ابراهيم بن طهمان رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف البارى، کتاب الغسل، باب: من اغتسل عريانا وحده في الخلوة، ومن تستر فالستر أفضل، رقم الحديث: ٢٧٩ لاندې تير شوی دی.(١).

② عبدالعزيز بن صهيب رحمه الله: دا عبدالعزيز بن صهيب بنانى نصرانى رحمه الله دې. دَدوی احوال کشف البارى، کتاب الإيمان، باب: من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه لاندې تير شوی دی.(٢)

③ انس رضي الله عنه: دامشهور او معروف صحابئ رسول حضرت انس بن مالك رضي الله عنه دې. دَ دوی احوال کشف البارى، کتاب الايمان، باب: من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه لاندې تيره شوی ده.(٣)

دَ حديث شرح: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَالٍ مِنَ البَحْرَيْنِ، فَقَالَ: «انْثُرُوهُ فِي المَسْجِدِ» وَكَانَ أَكْثَرَ مَالٍ أُتِيَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: دَ حضرت انس رضي الله عنه نه روايت دې چه دَ نبی کريم صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې دَ بحرين نه مال راوړلې شو نو حضورپاك اوفرمائيل چه دا جمات کښې واچوئې. دا مال دَ هغه ټولو مالونو نه زيات وو چه تردغه وخته پورې دَ حضورپاك په خدمت کښې راليږلې شوې وو.

دَ بحرين نه څنګه او څومره مال راوليږلې شو؟:

قوله: "بِمَالٍ مِنَ البَحْرَيْنِ" حافظ ابن حجر رحمه الله ليکلی دی چه ابن ابی شيبه رحمه الله دَ حميد بن هلال په طريق سره دَ يو روايت تخريج کړې دې.(٤) چه دا مال يو لاکهـ وو(١) اودا مال خراج يا

(١) کشف البارى، کتاب الغسل، باب:من اغتسل عريانا وحده في الخلوة، ومن تستر فالستر أفضل، رقم الحديث:٢٧٩

(٢) کشف البارى: ١٢/٢.

(٣) کشف البارى: ٤/٢.

(٤) حدثنا أبوأسامة، عن سليمان بن المغيرة، عن حميد بن هلال، قال: بعث العلاء بن الحضرمی إلی ....

د جزيې مال وو کوم چه د بحرين والو نه وصول کړې شوې وو. وئيلې شوى دى چه دا د ټولو نه رومبې خراج وو کوم چه د نبى كريم ﷺ په خدمت کښې راوليږلې شو. او راليږونکې حضرت علاء بن الحضرمى رضی الله عنه وو.

امام بخارى رحمه الله كتاب الجزيه کښې د حضرت عمرو بن عوف رضی الله عنه روايت نقل کړې دې.(۲) چه نبى كريم ﷺ د بحرين خلقو سره صلح اوکړه او په هغوى باندې ئې حضرت العلاء بن الحضرمى رضی الله عنه امير جوړ کړو او د هغوى طرف ته ئې حضرت ابوعبيده بن الجراح رضی الله عنه اوليږلو چه د هغه ځائې نه جزيه واخلى او رائې وړى. نو چه کله انصارو ته د هغوى د راتلو خبر اورسيدو نو هغوى د سحر مونځ حضور پاك سره اوکړو. کله چه نبى كريم ﷺ هغوى اوليدل

......رسول الله صلى الله عليه وسلم بثمان مائة ألف من خراج البحرين، وكان أول خراج قدم به على رسول الله صلى الله عليه وسلم. فأمر به فنثر على حصير في المسجد، وأذن المؤذن فخرج إلى الصلاة فصلى. ثم جاء إلى المال فمثل عليه قائما فلم يعط ساكتا ولم يمنع سائلا، فجعل الرجل يجيئ فيقول: أعطني. فيقول: خذ قبضة. ثم يجيئ الرجل فيقول: أعطني. فيقول: خذ قبضتين. ويجيئ الرجل فيقول: أعطيني. فيقول: خذ ثلاث قبضات. فجاء العباس، فقال: يارسول الله! أعطني من هذا المال، فإني أعطيت فداي وفداء عقيل يوم بدر، ولم يكن لعقيل مال، قال: فأخذ يبسط خميصة كانت عليه، وجعل يحثى من المال، فحثا فيها، ثم قام به فلم يطق حمله. فقال: يارسول الله! احمل علي. فنظر إليه النبي صلى الله عليه وسلم فتبسم حتى بدا ضاحكه. وقال: أنقص من المال وقم بقدر ما تطيق. فلما ولى العباس قال: أما إحدى اللتين وعدنا الله فقد أنجز لنا إحداهما، ونحن ننتظر الأخرى. قوله تعالى: ﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِمَنْ فِي أَيْدِيكُمْ مِنَ الْأَسْرَى إِنْ يَعْلَمِ اللَّهُ فِي قُلُوبِكُمْ خَيْرًا﴾ (الأنفال: ۷۰) إلى آخر الآية. قد أنجزها الله لنا ونحن ننتظر الأخرى. (المصنف لابن أبي شيبة، كتاب الأوائل، باب: أول ما فعل ومن فعله، رقم الحديث: ۳۶۹۵۵، ۱۹/۵۳۳-۵۳۲).

(۱) حافظ ابن حجر رحمه الله فتح البارى کښې په حواله د المصنف لابن ابى شيبه ليکلى دى چه د جزيې مقدار يو لاکه وو. (دراهم وو که دنانير؟ د دې تصريح نشته دې.) خو چه په المصنف کښې کوم روايت دې په هغې کښې د اتو لاکهو ذکر دې نه چه د يو لاکه او ابن سعد، يعقوب بن سفيان او امام حاکم رحمهم الله د روايت مطابق اتيا زره وو. شيخ عوامه حفظه الله په حاشيه د المصنف کښې دا تفصيل ذكر کړې دې.
(قوله: "بثمان مائة ألف: كذا في النسخ، وفي فتح الباري: ۵۱۷/۱ أول الصفحة عن المصنف: "أنه كان مئة ألف". والذي عند ابن سعد، ويعقوب بن سفيان والحاكم: بثمانين ألف. [حاشية المصنف للشيخ عوامة، كتاب الأوائل، باب: أول ما فعل ومن فعله، رقم الحديث: ۳۶۹۵۵، ۱۹/۵۳۳-۵۳۲]).

(۲) حدثنا أبواليمان أخبرنا شعيب عن الزهري قال حدثني عروة بن الزبير عن المسور بن مخرمة أنه أخبره أن عمرو بن العوف الأنصاري وهو حليف لبني عامر بن لؤي، وكان شهد بدرا، أخبره، أن رسول الله صلى الله عليه وسلم بعث أبا عبيدة بن الجراح إلى البحرين يأتي بجزيتها، وكان رسول الله صلى الله عليه وسلم هو صالح أهل البحرين أمر عليهم العلاء الحضرمي، فقدم أبوعبيدة بمال من البحرين، فسمعت الأنصار بقدوم أبي عبيدة، فوافقت صلاة الصبح مع النبي صلى الله عليه وسلم، فلما صلى بهم انصرف، فتعرضوا له، فتبسم رسول الله صلى الله عليه وسلم حين رآهم، وقال: "أظنكم قد سمعتم أن أبا عبيدة قد جاء بشيئ". قالوا: أجل يارسول الله، قال: "فأبشروا وأملوا ما يسركم، فوالله لا الفقر أخشى عليكم، ولكن أخشى عليكم أن تبسط عليكم الدنيا، كما بسطت على من كان قبلكم، فتنافسوها كما تنافسوها، وتهلككم كما أهلكتهم". (صحيح البخاري، كتاب الجزية، باب: الجزية والموادعة مع أهل الذمة والحرب، رقم الحديث: ۲۹۸۸).

نو مسکې شو او ارشاد ئې اوفرمائيلو چه زما خيال دې چه تاسو د ابوعبيده د بحرين نه د واپس راتلو خبر اوريدلې دې چه هغه څه راوړې راغلې دې...... الحديث.

قوله: "انْثُرُوهُ فِي الْمَسْجِدِ" دَدې معنی "صبوه" ده يعنی په جمات کښې ئې واچونې.[1]

په جمات کښې دَمال ډهيرې کولو وجه: علامه شبيراحمد عثمانی رحمه الله فرمائی چه دې وخته پورې باقاعده او مستقل دَ څه بيت المال بندوبست نه وو شوې او حضورپاك ﷺ په خپل کور کښې مال او دولت کيخودل نه خوښول. بيا دَ بل چا په کور کښې کيخودو سره دَ جنګ جګړې او يو بل نه دَ وړاندې کيدو انديښنه وه. په دې وجه (دامال) په جمات کښې کيخودلې شو.[2]

قوله: فَخَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الصَّلَاةِ وَلَمْ يَلْتَفِتْ إِلَيْهِ، فَلَمَّا قَضَى الصَّلَاةَ جَاءَ فَجَلَسَ إِلَيْهِ، فَمَا كَانَ يَرَى أَحَدًا إِلَّا أَعْطَاهُ:

بيا رسول الله ﷺ دَ مانځه دَ پاره اووتلو نو دَ هغه مال طرف ته ئې توجه هم اونه فرمائيله. بيائې چه کله مونځ اداکړو نو حضورپاك راغلو اومال سره کيناستو. بياچه به نبی ﷺ څوك هم ليدل نو هغه ته به ئې مال ورکولو.

قوله: إِذْ جَاءَهُ العَبَّاسُ، فَقَالَ يَارَسُولَ اللَّهِ: أَعْطِنِي، فَإِنِّي فَادَيْتُ نَفْسِي وَفَادَيْتُ عَقِيلًا، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «خُذْ» فَحَثَا فِي ثَوْبِهِ، ثُمَّ ذَهَبَ يُقِلُّهُ فَلَمْ يَسْتَطِعْ، فَقَالَ: يَارَسُولَ اللَّهِ، اؤْمُرْ بَعْضَهُمْ يَرْفَعْهُ إِلَيَّ، قَالَ: «لَا»:

په دې کښې حضورپاك له (دَحضورپاك تره) حضرت عباس رضی الله عنه تشريف راوړو. هغوی اووئيل اې دَ الله رسوله! ماته (هم) راکړه ځکه چه ما خپله اودَ عقيل (دواړو) فديه اداکړې وه. نوحضورپاك ارشاد اوفرمائيلو (څومره چه غواړې) واخله، نوحضرت عباس رضی الله عنه په خپله کېړا کښې مال (په بنه شان) سره ډك کړو. بيائې دغه پنډ اوچتولو نو (دَ بوج دَ زياتوالی دَ وجې نې) اوچت نه کړې شو. نوهغه اووئيل اې دَ الله رسوله! تاسو چاته اووايئ (چه زما امداد اوکړی يو څانې به شی دا) رااوچت کړو. حضورپاك اوفرمائيل نه.

دَ حضرت عباس رضی الله عنه دَ سوال کولو وجه:

قوله: "أَعْطِنِي" دَ حضرت عباس رضی الله عنه دا سوال کول دَغربت دَ وجې نه نه وو بلکه دَدې وجه وړاندې راغې چه هغه فديه اداکړې وه.[3]

---

[1] عمدة القاري: ۲۳۸/٤.

[2] فضل الباري: ۱۲۶/۳.

[3] حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائی چه دَدې مطلب بعضې حضراتو دا بيان کړې دې چه دَ حضورپاك تره حضرت عباس بن عبدالمطلب رضی الله عنه دا فرمائی چه زه غريب شوې يم مګر دا صحيح نه دی ځکه چه کله چرې دامعنی وی نو په دې صورت کښې به دهغه روايت معنی صحيح نه شی په کوم کښې چه دا مضمون دې چه حضورپاك د دوو کالو زکاة د حضرت عباس رضی الله عنه نه پيشکی اخستې وو. بلکه مطلب دادې چه زما خرچه زياته شوې ده. (لامع الدراري: ۶۱/۱ الأبواب والتراجم: ۲۱۱/۲-۲۱۰).

دَ فديې وركولو مطلب:

قوله: "فَادَيْتُ عَقِيلًا" دا دَ ابوطالب څوئي وو يعني دَ حضرت علي ﷺ رور وو په غزوه بدركښې حضرت عباس ﷺ اودا قيديان جوړكړې شوي وو. نو حضرت عباس ﷺ خپله اودَ ده فديه ادا كولو سره دَ قيد نه خلاصې حاصل كړې وو.(١)

قوله: "فَحَثَا فِي ثَوْبِهِ" كښې دَ حثاء ضمير او دَ ثوبه ضمير دَ حضرت عباس ﷺ طرف ته راګرځي.(٢)

قوله: قَالَ: فَارْفَعْهُ أَنْتَ عَلَيَّ، قَالَ: «لَا» فَنَثَرَ مِنْهُ، ثُمَّ ذَهَبَ يُقِلُّهُ، فَقَالَ: يَارَسُولَ اللّٰهِ، اؤْمُرْ بَعْضَهُمْ يَرْفَعْهُ عَلَيَّ، قَالَ: «لَا» قَالَ: فَارْفَعْهُ أَنْتَ عَلَيَّ، قَالَ: «لَا» فَنَثَرَ مِنْهُ، ثُمَّ احْتَمَلَهُ، فَأَلْقَاهُ عَلَى كَاهِلِهِ، ثُمَّ انْطَلَقَ، فَمَا زَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُتْبِعُهُ بَصَرَهُ حَتَّى خَفِيَ عَلَيْنَا - عَجَبًا مِنْ حِرْصِهِ:

نو هغوى اووئيل بنه ده تاسو بيا ماته دا راوچت كړئى. حضورپاك اوفرمائيل نه ته ئې پخپله اوچت كړه. په دې باندې هغه دَ دغه پنډ نه څه مال كم كړو بيائې (اوچتولو خو دَ بوج دَ وجې نه ئې اوچت نه كړې شو په دې باندې هغه بيا) اووئيل اې دَ الله رسوله! تاسو چاته اَووايئ چه (زما امداد اوكړى او دا ماته) راوچت كړي. حضورپاك اوفرمائيل نه. نو هغه اووئيل بنه ده بيا تاسو ماته دا راوچت كړئى حضورپاك اوفرمائيل نه ته ئې پخپله اوچت كړه. په دې باندې هغه دَ دغه پنډ نه لږ نور مال كم كړو بيائې په خپلو اوګو باندې راوچت كړو او لاړو. حضورپاك دَ هغه دَ مال دا حرص ليدلو سره هغه (ته) مسلسل كتل تردې چه هغه زمونږ دَ نظرونو نه غيب شو.

قوله: "يُقِلُّهُ" دا دَ باب افعال نه دَ فعل مضارع صيغه ده. دَدې معنى اوچتول دي(٣).

نبى كريم ﷺ دَ حضرت عباس ﷺ امداد ولې اونه كړو؟ دلته دا سوال پيدا كيږى چه كله حضرت عباس ﷺ نبى كريم ﷺ ته درخواست اوكړو چه چاته اووايئ چه دا پنډ راسره اوچت كړى نو حضورپاك چاته دَ داسې وئيلو نه انكارولې اوكړو؟ بلكه دا چه حضرت عباس ﷺ بيا نبى كريم ﷺ ته درخواست اوكړو چه بنه ده تاسو چاته نه وايئ نو بيا پخپله ئې

---

(١) فتح الباري: ٦۶٩/١ عمدة القاري: ٢٣٨/٤. حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائى چه حضرت عباس ﷺ چه دا څه وئيلى وو چه ماته هم راكړه څكه چه ما دَ خپل خان او عقيل بن ابى طالب فديه ادا كړې وه او دوچند مې اداكړې وه. په اصل كښې جنګ بدركښې دا دواړه حضرات دَ قريشو دَ كافر انودَ طرف نه راغلى وو. كافرانو ته چه كله ماتې اوشوه نود هغوى ٧٠ كسان مسلمانانو قيديان كړى وو. كوم چه روستو دَ فديې په بدله كښې پريخودې شو. حضرت عباس ﷺ مالدار سړې وو اودَ هغه وراره عقيل غريب او نادار وو. په دې وجه دَ دواړو فديه حضرت عباس ﷺ اداكړې وه. اوس دَ دغه واقعې په موقع دواړه مسلمانان شوى وو اودَ حضرت دَ خپلولئ دَ وجې دَ غنيمت دَ مالونو نه خمس او فئ كښې دَ دغه خلقو هم حق وو. په دې وجه حضرت عباس ﷺ سوال اوكړو حضورپاك اوفرمائيل واخله. هغه په كپړا كښې دومره مال اوترلو چه اوچتول ئې ورته ګران شو. (سراج القاري: ٥٠٥/٢).

(٢) فتح الباري: ٦۶٩/١ عمدة القاري: ٢٣٨/٤.

(٣) قال ابن أثير: "يقال: أقل الشيئ يقله، واستقله يستقله، إذا رفعه وحمله. (النهاية فى غريب الحديث والأثر لابن آثير: ٤٨٧/٢).

را سره اوچت كړه. نو نبی كريم ﷺ ددې نه هم انكار اوكړو ددې څه وجه وه؟
ددې دا جواب وركړې شوې دې چه ددې انكار وجه داوه چه حضرت عباس رضي الله عنه په دې خبره باندې خبردار شی چه دمال كثرت څه خوښ كړې شوې څيز نه دې. يا د دغه انكار وجه داكيدې شی چه په دې طريقې سره نصيحت كول مقصود وو چه د خپل ضرورت مطابق اخستو باندې اكتفاء كوه. يا د دغه عمل په ذريعه د آخرت د معاملې طرف ته توجه وركول مقصود وو چه صبا به څوك هم د چابوج نه اوچتوى[۱].

قوله: "كَاهِلِهِ" مطلب "بين كتفيه" دې چه په خپله شا باندې ئې د اوګو په مينځ كښې واچولو[۲]. "يُتْبِعُهُ بَصَرَهُ" د حضورپاك ترلرې پورې هغه ته كتل په مال باندې د هغه حرص كتلو د وجې وو.

قوله: فَمَا قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَثَمَّ مِنْهَا دِرْهَمٌ: بياتركومې پورې چه يو درهم هم باقى پاتې وو حضورپاك ترهغه وخته پورې هم هلته حصار وو.

قوله: "ثَمَّ" په معنى د هناك دې.[۳] دا آخرى جمله خال دې چه د حضورپاك هلته كښې قيام د آخرى درهم ختميدو پورې باقى وو[۴].

د حديث شريف ترجمة الباب سره مناسبت: علامه عينى رحمه الله فرمائى چه په دې باب كښې اوددې لاندې راتلونكې حديث سره متعلق كه څوك اعتراض اوكړى چه ترجمة الباب خو په دوو خبرو باندې مشتمل دې. يو په جمات كښې څه څيز تقسيمول او دويم په جمات كښې يو څيز زوړندول. خو حديث باب صرف د اولنې خبرې سره متعلق دې او په حديث كښې د دويمې خبرې سره متعلق هيڅ هم نشته دې. نوددې جواب دا دې چه كله داسې هم كيږى چه امام بخارى رحمه الله په ترجمة الباب كښې څه امر ذكركوى ليكن د هغوى د شرائطو مطابق حديث نه ملاويدو د وجې د حديث ذكر نه كوى. چنانچه په يو حديث كښې داخبره موجود ده چه نبی كريم ﷺ د كهجورو د باغ خلقو ته حكم فرمائيلې وو چه غونچې په جمات كښې زوړندې كړئى دې د پاره چه چا سره څه څيز نه وى نوهغه به دا اوخورى.
دويم جواب دا دې چه په جمات كښې د مال تقسيمولو په شان غونچې په جمات كښې زوړندول هم دى. څنګه چه په جمات كښې مال اچول او هغه تقسيمول د حديث په رڼا كښې جائز اوګرځولې شو دغه شان دغونچې زوړندول اود هغې نه خوړل هم صحيح شو[۵].

د حديث نه مستنبط شوى فوائد اواحكام: د مذكوره حديث شريف نه ډير فوائد اواحكام معلوميږى، مثلاً:

[۱] عمدة القارى: ۲۳۹/۴.
[۲] عمدة القارى: ۲۳۹/۴.
[۳] فتح البارى: ۶۶۹/۱.
[۴] عمدة القارى: ۲۳۹/۴.
[۵] عمدة القارى: ۲۳۷/۴.

① دَ نبی کریم ﷺ کریم کیدل او دَ مال طرف ته خیال نه کول معلومیږی. که هغه مال ډیر وی او که لږ.[1]

② دَوخت دَ امام دَ پاره دا مناسب دی چه مال دَ مستحقینو په مینځ کښې تقسیمولو کښې تاخیر اونه کړی[2].

③ دَ وخت امام له په خپل اختیار باندې دَ مال تقسیمول هم معلومیږی[3].

④ دا هم معلومیږی چه کله امام ته دَ خلقو دَ حاجت علم وي نو مال ذخیره کول او ساتل نه دی پکار بلکه دَ خلقو په حاجتونو کښې خرچ کول پکاردی[4].

⑤ په جمات کښې دَ داسې څیزونو کیخودو جواز معلوم شو دَ کوم په استعمال کښې چه خلق مشترك وی[5].

۱۱ - بَابٌ: مَنْ دَعَا لِطَعَامٍ فِي الْمَسْجِدِ وَمَنْ أَجَابَ فِيهِ

داباب دَ هغه سړی باره کښې دې چه په جمات کښې یو سړې دَ خوراك خوړلو دَپاره راغواړی او دَ هغه سړی باره کښې دې چه په جمات کښې دَ غه دعوت قبول کړی.

دَترجمة الباب تشریح: په دې ترجمة الباب کښې "فی المسجد" لفظ به دَ "دعا" سره متعلق وی. مطلب به دا شی چه څوك جمات ته لاړ شی او هلته موجود سړی ته دَ خوراك دعوت ورکړی.

قوله: "من أجاب فیه"، دَ صحیح بخاری په اکثرو نسخو کښې دَ "من أجاب منه" الفاظ دی. دکشمیهنی په روایت کښې دَ "من أجاب إلیه" الفاظ دی.[6]

دَ دواړو روایتونو مطابق څه لویه تبدیلی نه راځی. په اول صورت کښې چه "منه" وی نو "ہ" ضمیر به دَ جمات طرف ته راګرځی او که چرې "إلیه" وی نو ضمیر به دَ طعام اوخوراك طرف ته راګرځی، بهرصورت معنی صحیح ده[7].

دَ ترجمة الباب مقصد: حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله فرمائی چه دَدې باب مقصد په جمات کښې دَ مباح خبرو اترو جائز کیدل خودل دی. خکه چه جماتونه دَ عبادتونو دَ پاره جوړولې شی او په حدیث کښې دَ دنیاوی خبرو اترو نه ممانعت هم موجود دې. لهذا په دې باب سره دغه وهم لرې کړې شوې دې[8].

---

[1] فتح الباری: ۶۶۹/۱ عمدة القاری: ۲۳۹/۴.
[2] عمدة القاری: ۲۳۹/۴.
[3] عمدة القاری: ۲۳۹/۴.
[4] عمدة القاری: ۲۳۹/۴.
[5] عمدة القاری: ۲۳۹/۴.
[6] فتح الباری: ۶۷۰/۱ إرشادالساری: ۷۹/۲.
[7] عمدة القاری: ۲۴۰/۴، إرشادالساری: ۸۰/۲.
[8] شرح تراجم أبواب البخاری، ص: ۲۱.

حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله فرمائی چونکه دعوت وغیره دَ دینی امورو نه دی او حدیث کښې «إن هذه المساجد لا تصلح لشيئ من هذا البول ولا القذر إنما هي لذكر الله عزوجل والصلاة وقراءة القرآن» وغیره راغلي دی. لهذا امام بخاری رحمه الله دَدې جواز ثابتوی ځکه چه په روایت کښې دَدې ثبوت دې.(۱)

علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دَ امام بخاری رحمه الله دَدې باب نه مقصد دې خبرې طرف ته اشاره کول دی چه دا کارونه په جمات کښې دننه مباح دی. دَدې شمیر "امور لغویه ممنوعه فی المسجد" کښې نه راځی.(۲)

حدیث باب [حدیث نمبر ۴۱۲]

- ۴۲۲ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ سَمِعَ أَنَسًا (۳) قَالَ وَجَدْتُ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- فِي الْمَسْجِدِ مَعَهُ نَاسٌ فَقُمْتُ، فَقَالَ لِي «آرْسَلَكَ أَبُو طَلْحَةَ» قُلْتُ نَعَمْ. فَقَالَ «لِطَعَامٍ». قُلْتُ نَعَمْ. فَقَالَ لِمَنْ حَوْلَهُ «قُومُوا». فَانْطَلَقَ وَانْطَلَقْتُ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ.

دَ حدیث ترجمه: دَ حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دې چه هغوی اوفرمائیل ما نبی کریم صلی الله علیه وسلم په جمات کښې څه خلقو سره اولیدلو. زه اودریدم نو حضورپاك زما نه تپوس اوکړو آیا ته ابوطلحه رالیږلي ئې؟ نو ما عرض اوکړو آوجی، حضورپاك تپوس اوکړو دَ خوراك دَپاره ئې (غوښتي یو)؟ ما عرض اوکړو آوجی. نو حضورپاك خپل نیزدې موجود خلقو ته اوفرمائیل پاسئ (او ما سره لاړشئ) بیا حضورپاك روان شو نوزه دَ هغوی ټولو نه وړاندې روان ووم.

تراجم رجال: دَمذکوره حدیث مبارك سند کښې ټول څلور رایوان دی:

① عبدالله بن یوسف رحمه الله: دا عبدالله بن یوسف تنیسی رحمه الله دې. دَ دوی مختصر احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحي په دویم حدیث او تفصیلی احوال کتاب العلم، باب: لیبلغ الشاهد الغائب لاندې تیرشوې دی.(۴)

② مالك رحمه الله: دا مشهور امام مالك بن انس رحمه الله دې. دَ دوی مختصر احوال کشف الباری،

---

(۱) تقریربخاری شریف: ۳۱۹/۲.

(۲) عمدة القاری: ۲٤٠/٤.

(۳) أخرجه البخاری أیضًا فی الأنبیاء، باب: علامات النبوة فی الإسلام، رقم الحدیث: ۳۵۷۸، وفی الأطعمة، باب: من أكل حتى يشبع، رقم الحديث: ۵۲۸۱، وباب: من أدخل الضيفان عشرة عشرة، رقم الحديث: ۵٤۵٠، وفی الأيمان والنذور، باب: إذا حلف أن لا يأتدم فأكل تمرا بخبز وما يكون منه الأدم، رقم الحديث: ۶۶۸۸ و فی مسلم فی صحيحه، فی الأشربة، باب: جواز استباعه غيره إلى دار من يثق برضاه، رقم الحديث: ۲٠٤٠، والترمذی فی جامعه، فی المناقب، باب: ۱۱، رقم الحديث: ۳۶۳٤، وفی جامع الأصول، حرف النون، الكتاب الأول: فی النبوة، الباب الخامس: فی معجزاته ودلائل البنوة، الفصل الثالث: فی زيادة الطعام والشراب، رقم الحديث: ۸۹۱٠، ۳۵۶/۱۱.

(۴) کشف الباری: ۲۸۹/۱، ۱۱۳/٤.

کتاب بدء الوحی په دویم حدیث او تفصیلی احوال کتاب الإیمان، باب: من الدین الفرار من الفتن لاندې تیرشوې دی.(۱)

④ اسحاق بن عبدالله رحمه الله: دا اسحاق بن ابراهیم بن مخلد، ابن راهویه رحمه الله دې. دَدوی احوال کشف الباری، کتاب العلم، باب: فضل مَن عِلم وعلّم لاندې تیر شوی دی.(۲)

⑤ انس بن مالك رضي الله عنه: دامشهور اومعروف صحابئ رسول حضرت انس بن مالك رضي الله عنه دې. دَ دوی تفصیلی حالات کشف الباری، کتاب الایمان، باب: من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه لاندې تیر شوی دی. (۳)

دَ حدیث شرح: دَمذکوره حدیث شریف تشریح تقریبًا واضحه ده، څه خاص خبره دَ ذکر قابل په کښې نشته دې. البته په دې حدیث کښې ذکرشوې واقعه په دې مقام باندې ډیره اجمال سره ده. امام بخاری رحمه الله دَ خپل عادت موافق محض ترجمة الباب سره متعلق ټکړا نقل کړې ده. پوره تفصیل به ئې کتاب علامات النبوة کښې راځی.(۴)

---

۱) کشف الباری: ۲/۱۸۰/۲۹۰.

۲) کشف الباری: ۳/۴۲۸.

۳) کشف الباری: ۲/۴.

۴) په دې واقعه باندې مشتمل باب علامات النبوة کښې موجود دَ حدیث خلاصه دلته نقل کولې شی. یوځل ابوطلحه زید بن سهل انصاری رضي الله عنه خپلې بی بی ام سلیم (چه دَحضرت انس رضي الله عنه مور بی بی ده) ته اووئیل ماته نن دَ حضورپاك په آواز کښې ضعف محسوس شو داسې معلومیږی چه هغوی اوږی دی، تاسره دَ خوراك څه شته؟ حضرت ام سلیم رضي الله عنها څه وزې مرې روټئ راویستلې اودَ خپلې لوپټې په یو پلو کښې ئې راغونډې کړې اودَ حضرت انس رضي الله عنه په ترخ کښې ئې وردننه کړې اوباقی لوپټه ئې په بنه شان سره دَ حضرت انس رضي الله عنه دَ لاس نه راتاؤ کړه اودَ حضورپاك خدمت کښې ئې اولیږلو. دَ حضرت انس رضي الله عنه بیان دې چه کله زه لاړم نو حضورپاك مې ۷۰ یا ۸۰ کسانو سره ناست اولیدلو. دې حالت لیدو سره زه اودریدم نو حضورپاك تپوس اوکړو ته ابوطلحه ته رالیږلې ئې؟ ما اووئیل آوجی. تپوس ئې اوکړو دَ خوراك دَ دعوت دپاره؟ ما اووئیل آوجی. نوحضورپاك هغه ټولو خلقو ته اووئیل کوم چه دَ هغوی نه چاپیره ناست وو چه پاسئ روان شئ هغه ټول روان شو نو زه دَهغوی نه مخکښې مخکښې په تیزئی سره کور ته اورسیدم اوحضرت ابوطلحه رضي الله عنه ته مې ټوله خبره اوکړه. هغوی زما مور ام سلیم رضي الله عنها ته اووئیل چه اوس به څه چل کیږی؟ حضورپاك خو پوره ډلې سره تشریف راوړی. هغوی ته خوراك ورکولو دپاره خو مونږ سره دَ خوراك څه نشته دې. ام سلیم رضي الله عنها جواب ورکړو الله اودَ هغه رسول زمونږنه زیات پوهیږی. ابوطلحه رضي الله عنه دَ حضورپاك دَ راوستلو دپاره دَ کور نه بهر اووتلو او په لارکښې ئې ټوله خبره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بیان کړه. حضورپاك او ابوطلحه رضي الله عنه مخکښې مخکښې او باقی خلق وروسې شاشاته کورته اورسیدل. حضورپاك اوفرمائیل ام سلیم څه چه تاسره دی هغه راوړه. ام سلیم هم هغه روټئ وړاندې کړې. روسل الله هغه روټئ ماتې کړې او چورې ئې کړې. بیا ئې دَ ام سلیم رضي الله عنها دَ تیلو کپئ په هغې باندې نچوړی کړه اودَ هغې نه ئې ترکاری جوړه کړه. بیا حضورپاك په هغې باندې څه دعاګانې اووئیلې او ابوطلحه رضي الله عنه ته ئې اوفرمائیل چه لسو لسو کسانو له دَ دننه راتلو اجازت ورکوه. لس کسان به راغلل په مړه خیټه به ئې خوراك اوکړو بیا به لاړل. تردې چه هغه ټولو خوراك اوکړو. (صحیح البخاری، کتاب الأنبیاء، باب: علامات النبوة فی الإسلام، رقم الحدیث: ۳۵۷۸).

دَ حديث دَ ترجمة الباب سره مناسبت: علامه عيني رحمه الله فرمائي چه دَ حديث شريف ترجمة الباب سره مناسبت بالكل واضح دې. دَ ترجمة الباب دوه اجزاء دي. رومبې "من دعا لطعام في المسجد" او دويم "من أجاب منه" دَ رومبي جز مناسبت به په دې صورت كښې وي چه كله دَ "في المسجد" تعلق دَ دعا سره وي ځكه چه په دې صورت كښې به معنى وي چه كوم سړې جمات كښې راوبلي او كه چرې "في المسجد" تعلق دَ طعام سره شي نو بيا به دَ ترجمة الباب سره مناسبت قائم نه شي ځكه چه په دې صورت كښې به معنى وي چه كوم سړې په جمات كښې دَ خوراك كولو دعوت وركړي يعنې خوراك په جمات كښې وي.

او دَ دويم جز مناسبت به داسې قائميږي چه په حديث شريف كښې موجود دي چه حضورپاك خپل ځان سره ناستو صحابه كرامو ته اشاره اوكړه چه پاسئ دَ خوراك دَ پاره روان شئ. نو دَ حضورپاك دا كلام دَ دعوت قبلولو لره مستلزم دې. په دې تقرير سره دَ هغه خلقو اشكال لرې شو ځوك چه دَدې خبرې قائل دي چه دَدې حديث دَ ترجمة الباب سره مناسبت صرف دَدويم جز سره جوړيږي نه چه اول جز سره.(1)

دَ حديث شريف نه مستفاد امور او احكام: دَمذكوره حديث شريف نه ډير احكام او آداب مستنبط كيږي. په هغې كښې يو څو دلته ذكركولې شي:

① دَدې حديث نه دَ خوراك دَ دعوت وركولو دَ جواز علم اوشو اګرچه هغه خوراك دَ وليمې نه وي.(2)

② خوراك كه لږ شان هم ولې نه وي ډير خلق راغوښتو كښې هيڅ حرج نشته دې.(3)

③ دعوت قبلونكي ته چه معلومه وي چه زما دَ ځان سره نه راغوښتې شوې خلقو بوتلو سره به راغوښتونكي ته څه قسم خفګان نه وي نو خپل ځان سره نور څوك هم بوتلل جائز دي.(4)

④ دَ يو كشر دَ خپل مشر نه مخكښې تګ په غرض دَ لارخودنې جائز دي.(5)

(1) عمدة القارى: ٤/٢٤٠.
(2) فتح البارى: ١/٦٧٠،عمدة القارى: ٤/٢٤٠.
(3) فتح البارى: ١/٦٧٠،عمدة القارى: ٤/٢٤٠.
(4) فتح البارى: ١/٦٧٠،عمدة القارى: ٤/٢٤٠.
(5) عمدة القارى: ٤/٢٤٠.

۱۲ - بَابُ القَضَاءِ وَاللِّعَانِ فِي المَسْجِدِ بَيْنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ

دا باب په جمات کښې د سړو او ښځو په مينځ کښې
دَ قضاء او لعان کولو دَ جواز په بيان کښې دې

دَترجمة الباب تشريح، دَ قضاء لغوى او اصطلاحي تعريف: "القَضَاءُ" په لغت کښې دَ قضاء معنى فيصله کول، مضبوطول، دَ يو څيز دَ هغې آخرې ته رسولو وغيره ده.[۱] دَ فقهاء کرامو په اصطلاح کښې دَ لا زم کولو په توګه دَ يوشرعي حکم خبر ورکولو ته قضاء وائى. علامه شامي رحمه الله ليکلى دى چه په خاص طريقه باندې جګړه ختمول او دَ هغې فيصله کول قضاء ده.[۲]

په جمات کښې دَ قضاء حکم: دَ امام ابوحنيفه رحمه الله، امام مالک رحمه الله او دَ امام احمد رحمه الله په نيز دَ وخت قاضي په جمات کښې کيناستو سره دَ خصوماتو فيصلې کولې شي. بلکه دَ هغه دَ پاره هم په جمات کښې کيناستل او فيصلې کول بهتر دى. دې دَپاره چه صاحب حق او حاجت، په آسانئ سره جمات ته راشي او دَ قاضي په مخکښې خپله مدعا بيان کړې شي. بل په جمات

---

[۱]) النهاية فى غريب الحديث والأثر: ۴۶۷/۲. وفيه أيضًا: وقال الزهرى: القضاء فى اللغة على وجوه، مرجعها إلى انقطاع الشيئ وتمامه، وكل ما أحكم عمله، أو أتم، أو ختم،أو أدى، أو أوجب، أو أعلم، أو أنفذ، أمضى، فقد قضى، وقدجاءت هذه الوجوه كلها فى الحديث. (المصدر السابق).

[۲]) "قوله: (وشرعا فصل الخصومات إلخ)عزاه فى البحر إلى المحيط، ولا بد أن يزاد فيه عله وجه خاص، وإلا دخل فيه نحوالصلح بين الخصمين". (حاشية ابن عابدين، كتاب القضاء: ۲۰/۸-۱۹،دارعالم الكتب). "ابواب فقه کښې چه دَ قضاء په موضوع باندې په کوم تفصيل، شرح او بسط سره مستقل کتابونه ليکلى شوى دى او په دې سلسله کښې ئې يو يو جز واضح کړې دې. شايد چه چرته په بله موضوع باندې داسې توجه ورکړې شوې وى. په کوم کښې چه دَ قاضى ابوالحسن ماوردى رحمه الله "ادب القاضى"، دَ ابوبکرخصاف حنفى "ادب القضاء" او په دې باندې دَ صدر الشهيد شرح، اودارنګ هم په دې نوم سره دَ ابن الدم حموى رحمه الله کتاب، دَ علامه قرافى رحمه الله کتاب "الحكام فى تمييز الفتاوى عن الأحكام"، دَ ابن فرحون "تبصرة الحكام"، دَ ابن شحنه حنفى "لسان الحكام"، دَ قاضى علاء الدين طرابلسى "معين الأحكام"، او علامه ابوالقاسم سمنانى "روضة القضاء وطريق النجاة" ډير اهم کتابونه دى. دَ قاضى عمادالدين اشورقانى حنفى "صنوان القضاء وعنوان الفتاء" (چه اوس اوس دَ حضرت مولانا قاضى مجاهدالاسلام قاسمى په تحقيق اوتعليق سره چهاپ شوى دى) او دَ فقهي په عامو کتابونو کښې دَ کتاب القضاء لاندې چه کوم مباحث راغلى دى هغه دَدې نه علاوه دى. دَ اردو ژبې لمن باوجود دَ خپل وسعت دَدې موضوع نه محروم وه اګرچه په بعضې مختصر رسائل، دَ قضاء تاريخ، او قضاء سره متعلق بعضې مخصوص مسائلو باندې موجود وې مګر يو داسې کتاب موجود نه وو چه وضاحت او دَ احکامو استيعاب سره دَ اسلام قانون معدلت پيش کړى. دَ مولانامجاهدالاسلام قاسمى قاضى القضاة امارات شرعيه بهار واړيسه کتاب "اسلامى عدالت" (مطبوعه: ۱۹۸۸ء)، الحمدلله دا کمې پوره کړې ده. خو بياهم دَ قضاء متعلق نور مباحث، دعوىٰ شهادت، اقرار، صلح وغيره موضوعاتو باندې په اردو ژبه کښې دَ کار ضرورت دې. اميد دې چه دَمذکوره کتاب دَ دويمې حصې په ذريعه باند به دَ دغه ضرورت پوره والې اوشى" وبالله التوفيق وهوالمستعان (قاموس الفقه: ۵۲۳/۴-۵۲۲).

کښې کیناستو سره فیصله کولو کښې یوه فائده داهم ده چه د جمات د تقدس په رڼړا کښې به خلق د دروغو وینا نه کوی.[۱]

خو دَ امام شافعی رحمه الله په نیز دَ قضاء انعقاد په جمات کښې مناسب نه دې ځکه چه په دې کښې دَ خصمینو خبرې اترې او شور غوبل سره دَجمات دَ تقدس خرابیدل لا زم راځی. دَدې نه علاوه په جمات کښې دَ فیصلې کولو په غرض به مشرك هم داخلیږی حالانکه هغه نجس دې او دَ نجس جمات ته داخلیدل جائز نه دی. چنانچه دَدې خبرې په رڼړا کښې حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله قاضی تمیم بن عبدالرحمن په جمات کښې دَ قضاء دَ انعقاد نه منع کړې وو.[۲]

دَ لعان لغوی او اصطلاحی تعریف: لعان دَ باب مفاعله مصدر دې، دَ لعنت نه مشتق دې. دَ لعنت معنی لرېوالې او محرومتیا ده. په دې اعتبار سره دَ لعان لغوی معنی دا شوه چه دَدوو یا زیاتو کسانو په خپل مینځ کښې په یو بل باندې لعنت کول. او په اصطلاح کښې دَ لعان تعریف داسې دې داسې څلور شهادتونه چه په قسم سره مؤکد وی. خاوند په خپل شهادت سره په خپل ځان باندې لعنت وئیلی وی اوښځې په خپل ځان باندې دَالله تعالی دَغضب دعا کړی دی، دَ سړی په حق کښې گواهیانې حدقذف دی او دَ ښځې په حق کښې حد دَ زنا.[۳]

کیږی داسې چه کله چرې یو سړې په خپله ښځه باندې دَ زناتهمت اولګوی یا دَ پیدا کیدونکی بچی دَ نسب انکار.اوکړی اوښځه دَ دغه تهمت نه انکار اوکړی نو اول په سړی باندې لعان واجب دې او کله چه سړې لعان اوکړی نو بیا په ښځه باندې هم لعان واجب دې.[۴]

---

[۱]) بدائع الصنائع، كتاب القضاء، فصل: وأما آداب القضاء: ۱۳/۷. حاشية ابن عابدين، كتاب القضاء: ۸/۴۸-۴۷، دارعالم الكتب. المدونة الكبرى، كتاب القضاء: ۱۲/۱۴۴. الذخيرة،كتاب القضاء. الباب الرابع فی آداب القضاة: ۵۸/۱۰. المقنع،مع الشرح الكبير، مع الإنصاف، كتاب القضاء، باب: أدب القاضی، مسألة: ويستعين بالله ويتوكل عليه...... فصل: لا يكته القضاء فی الجامع والمساجد....: ۲۳۷/۲۸.

[۲]) الحاوی فی فقه الشافعی، كتاب القاضی، القول فی حكم القضاء. القضاء فی غيرالمسجدو كراهة القضاء فيه: ۳۰/۱۶. جواهر العقود، كتاب القضاء، أدب القاضی: ۳۵۷/۲.

[۳]) هولغة: مصدر لاعن كقاتل، من اللعن: وهوالطرد والإبعاد، سمی به لا بالغضب للعنه نفسه قبلها، والسبق من أسباب الترجيح. وشرعًا: (شهادات)أربعة كشهودالزنا (مؤكدات بالأيمان مقرونة شهادتة) باللعن وشهادتها بالغضب لأنهن يكثراللعن، فكان الغضب أردع لها (قائمة)شهاداته (مقام حد القذف فی حقه و) شهاداتها (مقام حدالزنا فی حقها)أی: إذا تلاعنا سقط عنه حد القذف وعنها حد الزنا، لأن الاستشهاد بالله مهلک كالحد بل أشد. (الدرالمختار، كتاب الطلاق، باب: اللعان، ص: ۲۴۱).

[۴]، دَ لعان پس منظر دادې: چه په اسلام کښې دَ انسانی عزت او ناموس ډیر اهمیت دې. په دې وجه په شریعت کښې چه څومره دَ زنا سزاسخته کیخودې شوې ده نو دَ بل یو جرم سزا دومره سخته نه ده. دغه شان که په یو سړی باندې دَ بدنۍ تهمت اولګولې شی نودا دَ اسلام په نظرکښې یو لوئی جرم دې. اوددې سزا اتیا (۸۰) کوړې پخپله قرآن مجید مقررکړې ده. (سورة النور: ۵-۴). نوکه په یوه پاکدامنه ښځه یا سړی باندې دَ زنا تهمت اولګولې شی اودَ څلورو کسانو په ګواهئ سره دا ثابته نه کړې شی.......

دَ لعان طريقه: قاضى به دَ تولو نه مخکښې خاوند ته وائي چه څلور ځل داسې اووايه چه زه الله تعالى ګواه جوړوم چه زه په فلانکې ښځه باندې دَ زنا دعوى کښې رښتونې يم او په پنځم ځل دې اووائى که چرې زه په دغه خپله دعوى کښې دروغژن يم نو په ما دې دَ الله تعالى لعنت وى.

دې نه پس به قاضى دغه شان په ښځه باندې څلور ځل داسې اووائى چه زه الله تعالى ګواه جوړوم چه زما خاوند په ما باندې دَ زنا په الزام لګولو کښې دروغژن دې او په پنځم ځل به وائى چه که هغه په خپل الزام لګولو کښې رښتونې وى نو په ما دې دَ الله تعالى غضب وى.
دا ټول تفصيل پخپله په قرآن پاك کښې موجود دې. اوکه چرې دواړه دغه شان لعان اوکړى نو دَ دواړو په مينځ کښې به قاضى تفريق يعنى جدائى راولى.[1]

قوله: "بين الرجال والنساء" علامه عينى رحمه الله فرمائى چه دا الفاظ زياتى واقع شوى دى هم دغه وجه ده چه دَدې الفاظو زيادت صرف دَ مستملى په روايت کښې دى دَبل چا په روايت کښې نشته.[2]

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائى چه شراح اعتراض کوى چه په دې ځائى کښې امام بخارى رحمه الله لغوه کلام کړې دې ځکه چه لعان خو هم دسړى او ښځې په مينځ کښې وى نه چه دَ سړى او سړى په مينځ کښې يا په ښځه او ښځه کښې. نو دَ "بين الرجال والنساء" څه مطلب دې؟ دَ حافظ ابن حجر رحمه الله سره دَ نورو حضراتو هم دغه رائې ده چه دا کلام لغوه دې او هم دغه وجه ده چه بين السطور "هذا حشو" ليکلې شوې دې اودَمستملى نه علاوه بله يوه نسخه کښې هم دا نشته دې.

.... نودغهِ الزام به دروغ ګڼړلې شى او هغه ته به اتيا (۸۰) کوړې ورکولې شى. دَ قرآن دا حکم عام وو او په ظاهر ددې اطلاق په هغه سړو باندې هم کيدِو څوك چه په خپله بى بى باندې داسې تهمت اولګوى. چنانچه حضرت هلال بن اميه رضي الله عنه خپله بى بى دَ شريك ابن سحماء سره متهم کړه. حضورپاك دَ عمومى قاعدې مطابق اوفرمائيل چه ګواه پيش کړه ګنى ستا په شا باندې به حد جارى کيږى. حضرت هلال رضي الله عنه عرض اوکړو چه ښه ده مونږ کښې دې څوك سړې خپله بى بى په داسې حال کښې اوګورى او بيا دې ګواه لټوى؟ ليکن حضورپاك مسلسل دَ هغه نه دَ ثبوت اصرارِ کولواو فرمائيلې ئې ګنى حد به درباندې جارى کيږى. تردې چه پخپله په قرآن مجيد کښې دا آيت دَ لعان نازل شو. (سورة النور: ۱۰-۶). بعضې رواياتو کښې دَ حضرت هلال بن اميه رضي الله عنه په ځائى دَ عويمر عجلانى ذکردې.
چونکه دَ ښځې خاوند معامله دَ خصوصى نوعيت حامل ده اودَ ښځې ګنده کيدل نيغ په نيغه دَ خاوند مفاد او دَ هغه عزت نفس مجروح کوى. بل دَ ګواهانو نه مهيا کيدو دَ وجې که هغه چپ پاتې شى ليکن دَ دغه صورت حال نه خبريدو نه پس دَ يو شريف سړى او ښځې په مينځ کښې کورنې ژوند مضبوط اودَ خوشحالئ تعلقات په ځائى پاتې کيدل ممکن نه وى. په دې وجه په دې معامله کښې دا خصوصى حکم ورکړې شو چه دَ خاوند او ښځې نه په دې مخصوصو الفاظوسره قسم واخستلى شى او په هغوى باندې دې دَ لعنت او غضب سره دَ خيرو الفاظ اووئيلى شى او بيا دې دا دواړه جدا کړې شى. ځکه چه داسې بې اعتمادئى اوبې اعتبارئى سره دارشته په ځائى ساتل به ددواړو دپاره دَ بې آرامئ او اضطراب سبب وى.

[1]) ردالمحتارمع الدرالمختار، کتاب الطلاق، باب: اللعان: ۱۵۷/۵.

[2]) عمدة القارى: ۲۴۱/٤، فتح البارى: ۶۷۱/۱.

قوله: "عندي: هذا صحيح" په دې توګه چه کوم دَ "بين" لفظ دې دا دَ لعان متعلق نه دې بلکه دَ قضاء متعلق دې او مطلب دا شو چه "باب: القضاء في المسجد بين الرجال والنساء" يعنی په جمات کښې فيصله دَ سړو او ښځو په مينځ کښې، نو ددې نه دَ سړو او سړو يا دَ ښځو او ښځو په مينځ کښې به فيصله په طريق اولی ثابتيږی ([1])

حديث باب [حديث نمبر ۴۱۳]

۴۱۳- حَدَّثَنَا يَحْيَى قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ قَالَ أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ أَخْبَرَنِي ابْنُ شِهَابٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ([2]) أَنَّ رَجُلاً قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَرَأَيْتَ رَجُلاً وَجَدَ مَعَ امْرَأَتِهِ رَجُلاً أَيَقْتُلُهُ فَتَلاَعَنَا فِي الْمَسْجِدِ وَأَنَا شَاهِدٌ.

د حديث ترجمه: د حضرت سهل بن سعد رضی الله عنه نه روايت دې چه يو سړی اووئيل يا رسول الله! تاسو اووايئ چه يو سړې خپلې ښځې سره څوک سړې (بدکاری کولو سره) اووينی نو آيا هغه دې قتل کړی؟ بيا دغه دواړو (ښځې خاوند) په جمات کښې لعان اوکړو په داسې حال کښې چه زه هلته موجود ووم.

تراجم رجال: دَمذکوره حديث شريف په سند کښې ټول پنځه راويان دی:

① يحيی رحمه الله: دا ابو زکريا يحيی بن موسٰی بلخی رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب الحيض، باب: دلك المرأة إذا تطهرت من المحيض، كيف تغتسل، وتأخذ فرصة ممسكة، فتتبع أثر الدم کښې تير شوی دی. ([3])

② عبدالرزاق رحمه الله: دا عبد الرزاق بن همام صنعانی رحمه الله دې. دَدوی احوال کشف الباری، کتاب الإيمان باب: حسن إسلام المرء لاندې تيرشوی دی. ([4])

---

[1]) هامش اللامع: ۱۶۲/۱، الأبواب والتراجم: ۲۱۱/۲، سراج القاري: ۴۷۱/۲.

[2]) أخرجه البخاری أيضًا فی التفسير، سورة النور، باب: قوله عزوجل: ﴿وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُن لَّهُمْ شُهَدَاءُ﴾ رقم الحديث: ۴۷۴۵. وباب: ﴿وَالْخَامِسَةُ أَنَّ لَعْنَتَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِن كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ﴾ رقم الحديث: ۴۷۴۶. وفی الطلاق، باب: من جوز طلاق الثلاث، لقول الله تعالى: ﴿الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ﴾ رقم الحديث: ۵۲۵۹. وباب اللعان ومن طلق بعد اللعان، رقم الحديث: ۵۳۰۹. وفی المحاربين، باب: من أظهر الفاحشة واللطخ والتهمة بغير بينة، رقم الحديث: ۶۸۵۴ وفی الأحكام، باب: من قضى ولا عن فی المسجد، رقم الحديث: ۷۱۶۵. ۷۱۶۶. وفی الاعتصام، باب: ما يكره من التعمق والتنازع فی العلم والغلو فی الدين والبدع، رقم الحديث: ۷۳۰۴. ومسلم فی صحيحه، فی كتاب اللعان، رقم الحديث: ۱۴۹۲، وأبوداؤد فی سننه، فی الطلاق، باب: فی اللعان، رقم الحديث: ۲۲۴۵، ۲۲۴۶، ۲۲۴۷، ۲۲۴۸، ۲۲۴۹، ۲۲۵۰، ۲۲۵۱، ۲۲۵۲. والنسائی فی سننه، فی الطلاق، باب: بدء اللعان، رقم الحديث: ۳۴۹۶. وفی جامع الأصول، حرف اللام، الكتاب الثالث: فی اللعان ولحاق الولد، الفصل الأول: فی اللعان وأحكامه، رقم الحديث: ۸۳۸۱ ۷۱۳/۱۰.

[3]) كشف البارى، كتاب الحيض، باب: دلك المرأة إذا تطهرت من المحيض، كيف تغتسل، وتأخذ فرصة ممسكة، فتتبع أثر الدم، ص: ۳۷۴.

[4]) كشف البارى: ۴۲۱/۲.

③ ابن جريج رحمه الله: دا عبدالملك بن عبدالعزيز بن جريج رحمه الله دي. دَدوی احوال کشف الباری، کتاب الحیض باب: غسل الحائض رأس زوجها وترجیله لاندې تیرشوی دی.(۱)

④ ابن شهاب رحمه الله: دا محمدبن مسلم ابن شهاب الزهری رحمه الله دي. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی، دریم حدیث لاندې تیر شوی دی.(۲)

⑤ سهل بن سعد رضي الله عنه: دا صحابئ رسول حضرت سهل بن سعد بن مالك بن خالد خزرجی ساعدی رضي الله عنه دي. دَ دوی حالات کشف الباری، کتاب الوضو، باب: غسل المرأة أباها الدم عن وجهه لاندې تیرشوی دی.(۳)

دَ حدیث شرح: **قوله:** "أن رجلا" دَمحدثینو او شارحینو په دې امر کښې اختلاف دې چه دا رجل څوك وو؟ نو دې باره کښې درې نومونه ذکرشوی دی.(۴) ① هلال بن امیه ② عاصم بن عدی ③ عویمر عجلانی. صحیح بخاری کښې دَ عویمر عجلانی دَ سائل کیدو تصریح موجود ده.(۵)

قوله: "أرأیت رجلاً؟" رومبې همزه استفهامیه ده. مطلب دادې چه اې دَ الله رسول ! ماته اووایئ که یو سړې چرته خپلې ښځې سره پردې سړې اووینی نو آیا هغه به قتلوی که نه؟(۶)

قوله: "فتلاعنا" دَ سائل په سوال اودَې جملې په مینځ کښې ډیره زیاته خبره محذوف ده. کومه چه دَ نورو روایتونو سره راښکاره کیږی. دَ کوم خلاصه داده چه سائل دا سوال اوکړو

---

(۱) کشف الباري، کتاب الحيض باب: غسل الحائض رأس زوجها وترجيله، ص: ۲۰۴

(۲) کشف الباري: ۱/۳۲۶.

(۳) کشف الباري، کتاب الوضوء، باب: غسل المرأة أباها الدم عن وجهه.

(۴) مصابيح الجامع شرح الجامع الصحيح للإمام البخاري: ۱۲۴/۲، عمدة القاري: ۲۴۲/۴. یوڅلورم نوم حضرت سعد بن عباده رضي الله عنه هم نقل دې. چه په حیثیت دَ سائل صحیح مسلم کښې ذکر دې. وئی ګورئی: حدثني عبيدالله بن عمر القواريري، وأبوكامل فضيل بن حسين الجحدري، واللفظ لأبي كامل، قالا: حدثنا أبوعوانة، عن عبدالملك بن عمير، عن وراد، كاتب المغيرة، عن المغيرة بن شعبة، قال: قال سعد بن عبادة: لورأيت رجلا مع امرأتي لضربته بالسيف غير مصفح عنه، فبلغ ذلک رسول الله صلى الله عليه وسلم. فقال: أتعجبون من غيرة سعد، فوالله لأنا أغير منه، والله أغيرمني، من أجل غيرة الله حرم الفواحش، ما ظهرمنها، وما بطن، ولا شخص أغير من الله، ولا شخص أحب إليه العذر من الله، من أجل ذلک بعث الله المرسلين، مبشرين ومنذرين، ولا شخص أحب إليه المدحة من الله، من أجل ذلک وعدالله الجنة. (صحيح مسلم، كتاب اللعان، رقم الحديث: ۱۴۹۹).

(۵) صحيح البخاري، كتاب التفسير، سورة النور، باب: قوله عزوجل: ﴿وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُن لَّهُمْ شُهَدَاءُ﴾ رقم الحديث: ۴۷۴۵، وباب: ﴿وَالْخَامِسَةُ أَنَّ لَعْنَتَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِن كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ﴾ رقم الحديث: ۴۷۴۶، وكتاب الطلاق، باب: من جوز طلاق الثلاث: لقول الله تعالى: ﴿الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ﴾ رقم الحديث: ۵۲۵۹، وباب اللعان ومن طلق بعداللعان، رقم الحديث: ۵۳۰۹.

(۶) شرح الكرماني: ۸۲/۴، عمدة القاري: ۲۴۳/۴.

چه هغه ليدونكې سړى ايا خپله ښځه قتل كړى كه څه اوكړى؟ بيا الله تعالى د هغه په شان كښې دَ لعان دا حكم رانازل كړو. نو نبى كريم ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه واخله ستا اوستا دَ ښځې باره كښې دَ الله تعالى دَ طرف نه فيصله راغلې ده. بيا په دواړو باندې په جمات كښې لعان اوكړې شو. راوى وائى چه زه هم دغه وخت په جمات كښې موجود ووم.(۱)

دَ حديث مبارک دَ ترجمة الباب سره مناسبت: په مذكوره حديث شريف كښې ذكر شو چه حضورپاك دَ سړى او دَ ښځې دَ دواړو په مينځ جمات كښې لعان اوكړو او په ترجمة الباب كښې هم دغه ذكرشوى دى.(۲)

۱۳-بَابٌ: إِذَادَخَلَ بَيْتًا يُصَلِّي حَيْثُ شَاءَ أَوْحَيْثُ أُمِرَوَلَايَتَجَسَّسُ

داباب په دې باره كښې دې چه كله دَ چا كورته لاړشې نو چه په كوم ځائى كښې غواړې مونځ دې اوكړې، يا «دَ مالك مكان دَ طرف نه، چه هغه ته په كوم ځائى كښې دَ مونځ كولو دَ پاره اووئيلې شى، هم هلته دې اوكړى او تجسس دې نه كوى»

دَترجمة الباب مقصد: ترجمة الباب كښې دكلمه "او" په ذريعه دوه خبرې ذكردى: ① دَ چا كورته تلونكې كه هلته مونځ كول غواړى نو هغه ته اختيار دې چه بغيرتپوس نه چرته چه غواړى مونځ دې اوكړى. اوكه غواړى نو دَ كور والا نه دې معلومه كړى چه دَ مونځ اداكولو ځائى كوم يو دې. بيا دې هلته مونځ اداكړى. البته ډير تجسس او اخوا ديخوا كتل وغيره دې نه كوى. ② دويم دا چه په ترجمة الباب كښې سوال كولې شى چه دَ چا كورته تلونكې كه هلته مونځ ادا كول غواړى نو څه به كوى؟ هلته په خپله مرضئ چه هر چرته وى مونځ دې اداكړى يا دَ كور والو نه دې دَ مونځ دَ ځائى معلومات كولو سره مونځ اداكړى؟ نو ددې سوال جواب دَ حديث باب نه ملاويږى چه هغه دې دَ كور دَ خلقو نه تپوس اوكړى هغوى چه چرته دَ مونځ كولو اووائى هم هلته دې مونځ اداكړى. او په دې صورت كښې هم دَ تجسس نه ځان ساتل پكاردى.(۳)

---

(۱) عمدة القارى: ۲۴۳/۴.

(۲) ايضاح البخارى: ۲۰۸/۳.

(۳) حضرت مولانا محمدانورشاه كشميرى رحمه الله فرمائى چه دَ بخارى شريف شارحينو دواړه صورتونه دَ امام بخارى رحمه الله مقصد خودلې دې چه كوم غواړى اختياردې كړى. مګر زه ګڼړم چه دَترجمې مقصد حسب امر صاحب الدارخودې مګر بيا دا خيال كولوسره چه دَ شارع عليه السلام حكم هم په دې باندې منحصر اونه ګڼړلې شى، دويم صورت ئى هم ذكركړو. احقر عرض كوى چه كيدې شى هم ددې دَ پاره تجسس منع كړې شو ځكه چه چرته غواړى مونځ كولو كښې دا هم كيدې شى چه هغه ئى په داسې ځائى كښې كول غواړى چرته چه دَ كور والو خوښه نه وى. يا دَ پردې او ستر خلاف وى يا په هغه ځائى كښې داسې كورنې سامان وى كوم چه هغه ته خودل نه غواړى وغيره. او دا خبره ده كه چرته دَ كورمالك عام اجازت وركړى چه چرته غواړى مونځ دې اوكړى بيا څه باك نشته. داخو عام خبره شوه ليكن كه يو سړې خوك ولې يا بزرګ راؤغواړى د خپل كور څه حصه بابركته جوړولو دَ پاره يا دَ مونځ دَپاره يو ځائى مقرركول غواړى نو بهتر هم دغه ده چه هغه بزرګ ځائى معلوم كړى لكه چه حضورپاك معلوم كړو. والله اعلم. په دې حديث سره دَ صالحينو په آثارو سره دَ بركت حاصلولو ثبوت معلوم شو او سلفى حضرات.......

حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله لیکی چه دعام شراحو رائې داده چه د ترجمې دوه جزه دي. یو "یصلی حیث شاء" او دویم "حیث أمر" اوس اختلاف په "لایتجسس" کښې پیدا کیږي چه دَ څه متعلق دې؟ دَ اول جز که دَ دویم سره. دَ شارحینو رائې داده چه دَ دویم جز سره متعلق دې او مطلب دادې چه چرته حکم ورکړې شي هم هلته دې مونځ اوکړي. تجسس دې نه کوي او اخوا دیخوا دې نه ګوري. اود حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله رائې داده چه دَ دواړو سره متعلق کیدې شي.

اوس دلته دا واورئې چه دلته دَ روایت نه صرف "حیث أمر" کیدې شي ځکه چه حضورپاک تپوس کړې وو چه چرته مونځ اوکړم؟ په دې باندې حضرت عتبان رضي الله عنه اووئیل چه فلانکی ځائی کښې، دا حیث أمر شو. اود حیث شاء په روایت کښې چرته ذکر نشته. حضرت شاه ولی

.... کوم چه دا کارونه بې حیثیت ګرځوی په هغې رد اوشو. حرمین شریفین کښې دَهغه تبرکاتو نښې ترديې چه دِ نبی کریم دَ پیدا کیدو ځائی اود حضرت خدیجه رضي الله عنها کور ئې معطل او بې نښې کړې دې اودې ته دَ خالص توحید نوم ورکولې شي. یعنی د هغه یوڅوك کسانو نه علاوه د ټولې دنیا دَ کروړونو عام مسلمانان او علماؤ ټول د توحید په مقابله کښې ناخالص دی. مګر ولې هم دغه حدیث د بخاری شریف دَدې خبرې کامل ثبوت نه دې چه دَ حضورپاك چرته په یو ځائی باندې صرف نفل مونځ کولو سره به صحابه کرامو هغه ځائی څومره دَ برکت ګنړلو. آیا دا څوك وئیلې شي چه هغه ځائی حضرت عتبان بن مالك رضي الله عنه دَ بت پرستو په شان دَ عبادت ځائی جوړ کړې وو؟ بیا څه وجه ده چه په کوم کور مبارك کښې د حضورپاك پیدائش شوې دې په کالونو حضورپاك په هغې کښې عبادت کړې دې، شپې ورځې ئې تیرې کړې دی. اود حضرت خدیجه رضي الله عنها په کور کښې به څوځل د الله تعالی دَ طرف نه وحی نازل شوې وی او په هغې کښې حضورپاك په سوونو نوافل بلکه فرائض هم ادا کړې وی. بیا دا چه د دیارلسو سوو کالو پورې د هر دوِر حجاج او زائرینو دَ دغه مبارکو مقاماتو زیات کولو اود حضرت عتبان رضي الله عنه په شان هلته ئې د برکت د حاصلولو د پاره نفل مونځونه هم کول. څوارلسمه صدی راتلو سره دغه مقدس مقامات صرف یو دَ وهم خطره جوړولو په وجه چه خلق به هلته شرك کوی دَهغې نښې ئې هم ختمې کړې یا ئې هغه بندې کړې آیا هلته هم د نورو جماتونو اومدینې طیبې په شان دَ سپاهیانو څوکئ کیښولو سره صرف دمزعوم شرك بندول نه شو کیدې. دَ نورو صحابه کرامو ډیر واقعاتو نه استبراك ثابت دې نو آیا دَ هغوی نه زیات دا خلق دَ څه خالص توحید منونکی دی؟ زما دعاجزئی درخواست د موجوده دَ نجدد علماؤ او امراؤ ته دې چه هغوی دې دَ تلافی مافات طرف ته ډیر زر توجه اوکړی. علامه ابن قیم رحمه الله دَ زادالمعاد هم په شروع کښې دَ حضرت اسماء بنت ابي بکر رضي الله عنها حدیث دَمسلم شریف نه نقل کړې دې چه هغې جبه مبارکه راویستله او وئې فرمائیل چه دا د حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها سره ترآخره پورې وه دَ هغې د وفات نه پس ماله راغله. چونکه نبی کریم صلی الله علیه وسلم به دا اچوله په دې وجه مونږ دا وینځو او بیمارانو له هغه اوبه ورکوو او هغوی ته شفا ملاویږی. او حضرت ابو ایوب انصاری رضي الله عنه چاسره چه حضورپاك په مدینه منوره کښې تر اووه میاشتو پورې میلمه اوسیدلو، دَ حضرت ابوایوب رضي الله عنه او بی بی ئې دا معمول وو چه دواړه وخته به ئې حضورپاك له خوراك راوړو او څه چه به حضورپاك ته پاتې شو هغه به ئې خوړلو. څوك نجدي مزاج داسې وئیلې شي چه داسې خو ټول کوی مګر اوس نور اوګورئې چه حضرت ابوایوب رضي الله عنه به د برکت حاصلولو دپاره هم هلته ګوتې لګولې چرته چه به ئې د حضورپاك دَ ګوتو نښې لیدلې. (زرقانی، وفا الوفاء، حاکم، اصابه) افسوس دې چه زمونږ نجدی رونړه اودهغوی په شان خیال لرونکی داسې خبرې مهمل ګنړی. (انوارالباري: ۴۸/۱۴).

الله رحمه الله فرمائی چه د امام بخاری رحمه الله د اصولو نه دادی چه د روایت دویم طریق طرف ته اشاره فرمائی نو دلته امام بخاری رحمه الله یو بل طریق طرف ته اشاره اوکړه په کوم کښې چه تخییر موجود دې. اودویم قول دادې چه دلته "هل" مقدر دې او مطلب دادې چه "إذا دخل بيتا هل يصلى حيث شاء أوحيث أمر" اود روایت نه دَدې جواب معلوم شو "أى: يصلى حيث أمر" او بعضې حضرات فرمائی چه د امام بخاری رحمه الله مقصد دادې چه مسئله محل د غور اوفکر ده ځکه چه د روایت د لفظ نه امر ثابتیږی او راغوښتل دلیل دې دَدې خبرې چه اختیار دې چرته چه غواړې مونځ دې اوکړی.(١)

دَ چاکورته دَ تلو ادب: "ولايتجسس" دَدې لفظ نه معلومیږی چه یو سړې دَ چا کور ته لاړشی نو دَ هغه دَ پاره مناسب او بهتر هم دغه ده چه هغه دَ تجسس او تفتیش په نظر سره کورکښې اخوادیخوا نه ګوری راګوری بلکه خپل کارسره دې کار لری او دَ هغه ځائی نه دې واپس راشی.(٢)

حدیث باب [حدیث نمبر ۴۱۴]

- ۴۱۴- حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ قَالَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ مَحْمُودِ بْنِ الرَّبِيعِ عَنْ عِتْبَانَ بْنِ مَالِكٍ (٣) أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - أَتَاهُ فِي مَنْزِلِهِ فَقَالَ «أَيْنَ تُحِبُّ أَنْ أُصَلِّيَ لَكَ مِنْ بَيْتِكَ». قَالَ فَأَشَرْتُ لَهُ إِلَى مَكَانٍ، فَكَبَّرَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - وَصَفَفْنَا خَلْفَهُ، فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ.

د حدیث ترجمه: د حضرت عتبان بن مالک رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ د هغه کور ته تشریف راوړو او وئې فرمائیل ته په خپل کور کښې چرته خوښوې چه زه هغه ځائی کښې

---

(١) تقریربخاری شریف: ۱۵۶/۲.

(٢) فیض الباری: ۵۵/۲.

(٣) أخرجه البخاری أيضًا فی المساجد، باب: المساجد فی البيوت، رقم الحديث: ٤٢٥. وفی الجماعة، باب: الرخصة والمطر والعلة أن يصلى فی رحله، رقم الحديث: ٦٦٧. وباب: إذا زار الإمام قومًا فأمهم، رقم الحديث: ٦٨٦. وفی صفة الصلاة، باب: يسلم حين يسلم الإمام، رقم الحديث: ٨٣٨. وباب: من لم يرد السلام على الإمام، واكتفى بتسليم الصلاة، رقم الحديث: ٨٤٠. وفی التطوع، باب: صلاة النوافل جماعة، رقم الحديث: ١١٨٦. وفی المغازی، باب: شهودالملائكة بدراً، رقم الحديث: ٤٠٠٩، ٤٠١٠. وفی الأطعمة، باب: الخزيرة، رقم الحديث: ٥٤٠١. وفی الرقاق، باب: العمل الذی يبتغى به وجه الله، رقم الحديث: ٦٤٢٣. وفی استتابة المرتدين، باب: ماجاء فی المتأولين، رقم الحديث: ٦٩٣٨. ومسلم فی صحيحه، فی الإيمان، باب: الدليل على أن من مات على التوحيد، رقم الحديث: ٣٣. وفی المساجد، باب: الرخصة فی التخلف، رقم الحديث: ٢٦٣. والنسائی فی سننه، فی الإمامة، باب: إمامة الأعمى، رقم الحديث: ٧٨٩. وباب: الجماعة للنافلة، رقم الحديث: ٨٤٥. وفی السهو، باب: تسليم المأمون حين يسلم الإمام، رقم الحديث: ١٣٢٨. وفی جامع الأصول، حرف الصاد، الكتاب الأول: فی الصلاة، القسم الأول: فی الفرائض وأحكامها، الباب الأول: فی الصلاة وأحكامها، الفصل السادس: فی شرائط الصلاة، الفرع الرابع: فی أمكنة الصلاة، النوع الرابع: فی أحاديث متفرقة، رقم الحديث: ٣٦٨٦، ٤٨٤/٥.

مونځ اوکړم؟ د هغه وينا ده چه ما د يو ځائي طرف ته اشاره اوکړه نو نبي کريم ﷺ تکبير اووئيلو او مونږ حضورپاك پسې شاته صف جوړ کړو نو حضورپاك مونږ ته دوه رکعته مونځ راکړو.

تراجم رجال: دَمذکوره حديث شريف ټول رجال پنځه دي:

① عبدالله بن مسلمه رحمه الله: دا عبد الله بن مسلمه بن قعنب حارثي بصري رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب الإيمان، باب من الدين الفرار من الفتن لاندې تير شوی دی. (1)

② ابراهيم بن سعد رحمه الله: دا ابو اسحاق ابراهيم بن سعد بن ابراهيم قرشي مدني رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب الإيمان، باب: تفاضل أهل الإيمان في الأعمال او تفصيلي احوال کتاب العلم، باب: ما ذكر في موسى عليه السلام في البحر إلى الخضر لاندې تير شوی دی. (2)

③ ابن شهاب رحمه الله: دا محمد بن مسلم بن عبيد الله بن عبد الله بن شهاب الزهري رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحي، دريم حديث لاندې تير شوی دی. (3)

④ محمود بن الربيع رحمه الله: دا محمود بن الربيع بن سراقه خزرجي انصاري رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب، باب: متى يصح سماع الصغير لاندې تير شوی دی. (4)

⑤ حضرت عتبان بن مالك رضي الله عنه: دَدوی پوره نوم عتبان بن عمرو بن عجلان بن زيد دې. دوی انصاري دی. دَ دوی مور بي بي دَ قبيله مزينه نه وه. دَ دوی واده دَ ليلى بنت رتاب ابن حنيف بن رتاب بن اميه سره شوې. دَ چانه چه ئې يو ځوئې عبدالرحمن پيدا شو. قبا سره نيزدې (يعنى مدينې نه دوه درې ميله فاصله باندې) دَ دوی کور وو. دَ خپلې قبيلې سردار او دَ دوی امام وو.

دَ دوی دَ جمات او کور په مينځ کښې يوه وادي وه. کله چه به باران کيدو نو په هغې کښې به اوبه جمع کيدې. دَ نظر دَ کمزورئې دَ وجې نه په دغه اوبو کښې تيريدل او جمات ته تلل به ئې ډير سخت محسوسول. نو هغوی دَ حضورپاك نه اجازت اوغوښتو چه ماته په جمع کښې دَ شرکت په ځائې هم په کورکښې دَ مونځ کولو اجازت راکړه. حضورپاك تپوس اوکړو چه ته دَ اذان آواز اورې عرض ئې اوکړو چه آوجي، نو حضورپاك دوی ته اجازت ورنه کړو.

دَ عبدالواحد بن ابي عون رحمه الله نه روايت دې چه رسول الله ﷺ دَ هغوی او حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه په مينځ کښې روروَلي قائمه کړې وه. هغوی په غزوه بدر، غزوه احد او غزوه خندق کښې شرکت کړې دې. باقي غزواتو کښې ئې دَ نابينا کيدو دَ وجې نه شرکت اونه کړې شو.

---

1) کشف الباری: ۸۰/۲.
2) کشف الباری: ۳۳۳/۳.
3) کشف الباری: ۱/۳۲۶.
4) کشف الباری: ۲۹۳/۳.

د جمهورو په نیز د بدری صحابه کرامو نه وو. لیکن ابن اسحاق رحمه الله د بدر په شرکاؤ کښې د دوی ذکر نه دې کړې. هم په دې زمانه کښې د دوی نظر لاړو نو دوی نبی کریم ﷺ ته درخواست اوکړو چه تاسو زما کورته تشریف راوړئی او زما په کورکښې چرته یو ځائی کښې مونځ اداکړئی دې د پاره چه زه هغه ځائی د ځان د پاره د مونځ ځائی جوړکړم. نو حضورپاك هم داسې اوکړه.

د محمد بن عمر رحمه الله بیان دې چه ترننه پورې خلق مدینه کښې د دوی په کورکښې د برکت د حاصلولو د پاره هغه ځائی کښې مونځ کوی. دوی د حضرت معاویه بن ابی سفیان رضي الله عنه د خلافت په دوران کښې تقریباً ۵۲ھ کښې وفات شوی دوی وخت کښې د دوی څه اولاد هم موجودنه وو.[1]

د حدیث شرح:

قوله: عَنْ عِتْبَانَ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَاهُ فِي مَنْزِلِهِ: د حضرت عتبان بن مالك رضي الله عنه نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ د هغوی کورته تشریف راوړو.

نبی کریم ﷺ پخپله راغلو؟ یا حضورپاک راغوښتې شوې وو؟: دَدې روایت نه معلومیږی چه نبی کریم ﷺ پخپله تشریف راوړې وو. خو په حقیقت کښې په دې روایت کښې ډیر اختصار دې. په تفصیلی روایت کښې دا خبره ملاویږی چه حضرت عتبان بن مالك رضي الله عنه د جمعې په ورځ د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو چه اې د الله رسوله! زه غوارم چه تاسو زما کور ته تشریف راوړئی. نو حضورپاك د هفتې په ورځ د دوی کور ته تشریف یوړو. او حضورپاك سره حضرت ابوبکر او حضرت عمر رضي الله عنهما هم وو.[2]

بعضې روایاتو کښې دی چه هغه پخپله هم نه دې راغلې بلکه هغه د حضورپاك په خدمت کښې یو سړې پیغام ورکولو سره لیږلې وو. ابن حبان رحمه الله په خپل صحیح کښې دا روایت نقل کړې دې.[3]

---

[1]) أسدالغابة: رقم الترجمة: ٣٥٣٥. معرفة الصحابة: رقم الترجمة:٢٣٣٣،ص: ٢٢٢٥. الطبقات الكبرى لابن سعد: رقم الترجمة:٢٦٠، ٥٠٩/٣.

[2]) عن محمود بن الرابيع الأنصاري أخبرني عتبان بن مالك: أنه كان إمام قومه وقد شهد بدراً. فقال للنبي صلى الله عليه وسلم أنه لما ساء بصري شقت على إجازة الوادي إذا سال بيني وبين مسجد قومي. فقال للنبي صلى الله عليه وسلم يوم الجمعة: رأيتني يارسول الله! لوأتيتني. فصليت في مكان من بيتي. أتخذه مصلى؟ فقال له:سأفعل. فغدالنبي صلى الله عليه وسلم يوم السبت ومعه أبوبكرو عمر رضى الله عنهما. فدخل. فما جلس حتى قال: أين تحب أن أصلى في بيتك؟ فأشرت إلى الناحية التي أردت. فصلى فيها ضحى. وحبسناه على خزيرة يصنع له. (المعجم الكبير للطبراني، عتبان بن مالك، رقم الحديث: ١٤٧٦١، ٣١/١٨).

[3]) عن أبي هريرة رضى الله عنه أن رجلا من الأنصار عمي، فبعث إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم أن تعال، فاخطُط في داري مسجداً أتخذه مصلى، فجاء رسول الله صلى الله عليه وسلم واجتمع اليه قومه، وبقي رجل منهم فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم:"أين فلان؟"، فغمزه بعض القوم: إنه وإنه، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "أليس قد شهد بدراً؟"، قالوا بلى يارسول الله! ولكنه كذا وكذا، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم:".........

قوله: فقال: «أين تحب أن أصلي لك من بيتك؟»: او وئې فرمائيل چه ته په خپل کور کښې چرته خوښوې چه زه هغه ځائې کښې مونځ ادا کړم؟

دَمستملي په روايت کښې صرف دَ "أن يصلى لك" الفاظ دى. دَ "من بيتك" الفاظ په کښې نشته دې. او دَ کشميهنى په روايت کښې دَ "من بيتك" په ځائې دَ "لى بيتك" الفاظ دى. (۱)

علامه عيني رحمه الله دې ځائې کښې يو سوال اودَ هغې جواب نقل کړې دې چه مونځ خودَ الله تعالى دَ پاره اداکيږى بيا دلته دَ حضورپاك دا فرمائيل چه زه ستا دَپاره مونځ اوکړم دا به څنګه صحيح وى؟ نودَدې جواب دا ورکړې شوې دى چه نفس مونځ خودَ الله تعالى دَپاره دې او ادا کول هغه ځائې کښې وو کوم چه دَ مانځه دَ پاره خاص کول وو. لکه چه حضورپاك دا اوفرمائيل چه کوم ځائې ته دَ مونځ دَ اداکولو دَپاره مخصوص کول غواړې هغه اوښايه چه زه په هغه ځائې کښې مونځ اوکړم. (۲)

قوله: قال: فأشرت له إلى مكان، فكبر النبي صلى الله عليه وسلم، وصففنا خلفه، فصلى ركعتين. دَ هغه وينا ده چه ما دَ يو ځائې طرف ته اشاره اوکړه نو نبى کريم ﷺ تکبير اووئيلو، او مونږ دَ حضورپاك شاته صف جوړکړو، نو حضورپاك مونږ ته دوه رکعته مونځ راکړو.

په دې عبارت کښې دَ بعضې رواياتو مطابق دَ "فصففنا" لفظ دې دَ "وصففنا" په ځائې. او بعضې نسخوکښې دَ "صففنا" په ځائې دَ "فصفنا" لفظ دې. په اول صورت کښې به مطلب دا وى چه مونږ صف جوړکړو او دويم صورت کښې به مطلب دا وى چه نبى کريم ﷺ دَخپل ځان شاته زمونږ صف جوړکړو. (۳)

دَ نوافلو دَ جمع حکم: دَ مذکوره حديث شريف نه دا خبره مخې ته راځى چه نبى کريم ﷺ دَ نفل مونځ جمع اوکړه. نو پوهيدل پکاردى چه دا دَ نبى کريم ﷺ دَ هميشه معمول نه وو او نه ډيره لوئى جمع وه، او نه دَدغه جمع دَ پاره څه باقاعده دعوت ورکړې شوې وو. بلکه دلته خو حضرت عتبان رضي الله عنه صرف حضورپاك ته درخواست کړې وو چه حضورپاك تشريف راوړى او زما په کورکښې مونځ اوکړى چه ماته په دغه ځائې کښې برکت حاصل شى او بيا زه هم هغه ځائې کښې مونځ کوم. هغه خو راتلوسره پخپله نبى کريم ﷺ ځان سره سيدنا صديق اکبر او فاروق اعظم رضي الله عنهما راوستل او په کور کښې ئې مونځ ادا کړو نو دا تول بغيردَ څه دعوت نه اوشو. دې نوعيت لره مخې ته ساتلوسره ائمه کرام په دې مسئله کښې مختلف شو.

دَ احنافو مسلک: دَ احنافو په نيز که چرې دَ نوافلو دَ فرائضو په شان اهتمام اوکړې شى او دَ اذان او دَ اقامت يا په بل څه طريقه خلق راؤغوښتې شى نو جمع کول مکروه تحريمى دى.

...... لعل الله اطلع على أهل بدر، فقال: اعملوا ما شئتم فقد غفرت لكم".(صحيح ابن حبان، كتاب الجهاد، باب الخروج وكيفية الجهاد، رقم الحديث: ٤٧٩٨، ١١/١٢٣).

(۱) فتح الباري: ۱/۶۷۲، عمدة القاري: ٤/٢٤٥.

(۲) عمدة القاري: ٤/٢٤٥.

(۳) عمدة القاري: ٤/٢٤٥.

كه چرته كله كله اذان او اقامت يا دَ تداعى (رابللو) نه بغير دَ امام نه علاوه يو، دوه يا درې كسان دَ جمات په يو گوټ كښې نفل مونځ په جمع سره اوكړى نو څه حرج نشته. اوكه چرته دَ امام نه علاوه څلور كسان دَ هغه سره په جمع كښې شريك وى نو په دې كښې اختلاف دې. دَ صحيح قول مطابق دامكروه تحريمى دى. او په دې باره كښې دَ رمضان اوغير رمضان څه تفريق هم نشته دې. [1] زمونږ دَ استاذانو نه دَ حضرت مولانا سيد حسين احمد مدنى رحمه الله ذاتى خيال او رائې په رمضان كښې دَ نوافلو په جمع سره دَ كولو دَ جواز وه ليكن دا دَ حضرت اقدس ذاتى رائې وه دَ جمهورو احنافو نه دَدې په خلاف قول نقل دى. والله تعالى اعلم بالصواب. [2]

---

[1] أن التطوع بالجماعة إذا كان على سبيل التداعي يكره في الأصل للصدر الشهيد. أما إذا صلوا بجماعة بغير أذان وإقامة في ناحية المسجد لا يكره. وقال شمس الأئمة الحلواني: إن كان سوى الإمام ثلاثة لا يكره بالاتفاق. وفي الأربع اختلف المشايخ، والأصح أنه يكره ا هـ. كذا في شرح المنية. وقال ابن عابدين في منحة الخالق تحت **قوله:** أما إذا صلوا بجماعة إلخ" لا محل لهذه الجملة هنا، وإنما محلها فيما بعد عند ذكر حكم تكرارها. (البحرالرائق، كتاب الصلاة، باب: الإمامة: ١/٦٠٤،٦٠٦ دارالكتب العلمية). أن الجماعة في التطوع ليست بسنة إلا في قيام رمضان، وفي الفرض واجبة أو سنة مؤكدة. .... لأن الجماعة من شعائر الإسلام، وذلک مختص بالفرائض أو الواجبات دون التطوعات. (البدائع الصنائع، كتاب الصلاة، فصل: فيما يفارق التطوع الفرض: ٢٠١/٢). وكذا في الفتاوى الهندية، كتاب الصلاة، الباب الخامس في الإمامة، الفصل الأول في الجماعة: ١/٨٣.

[2] حضرت مولانا مفتى محمدتقى عثمانى رحمه الله په خپله يوه مقاله كښې دَ حضرت اقدس مولانا سيد حسين احمد مدنى قدس سره په دې مسئله كښې دلائل دَ هغې جوابونه او دَ جمهور فقهاء احناف مسلك په ډير تفصيل سره ډير په مدلل انداز كښې ليكلى دې. كوم چه فقهى مقالات، دويم جلد او فتاوى عثمانى اول جلد كښې موجود دې. دَدې طرف ته مراجعت به فائده مند وى. دَ مذكوره مسئلې باره كښې دَ انوارالبارى څلورم جلد كښې هم ډير تفصيلى بحث موجود دې كوم چه دَ كتلو قابل دې. په دې كښې په دغه باره كښې دَ اكابر علماء ديوبند چه كوم معمول نقل كړې شوې دې دَ عام فائدې په خاطر صرف هغه ذكر كولې شى:

په دې سلسله كښې دَ اكابرعلماء ديوبند نه دَ حضرت مولانا رشيد احمد گنگوهى رحمه الله چه په دغه ډله كښې دَ حديث اوفقهې دوارو مسلم امام وو ارشاد دى: "دَ نوافلو جمع بغيردَ هغه موقعو نه كوم چه دَ حديث نه ثابت دى كه چرې تداعى سره وى نو په فقه كښې مكروه تحريمى دى اودَ تداعى نه مراد دَ څلورو مقتديانو موجوديدل دى، لهذا صلوة كسوف، تراويح او استسقاء صحيح دى. باقى ټول مكروه دى. (كذافى كتب الفقه، فتاوى رشيديه، ص: ١٢٨/١)".

بل ځائې كښې ئې فرمائيلى دى: "دَ نوافلو جمع كه تهجدوى اوكه غير تهجد، سوا دَ تراويح، كسوف او استسقاء نه كه چرته څلور مقتديان وى نودَ احنافو په نيز مكروه تحريمى ده. برابره خبره ده كه پخپله راجمع شوى وى اوكه دَ چا په راغوښتو سره راغلې وى اودَ دريو په صورت كښې اختلاف دې. البته په دوو كښې كراهت نشته. (كذافى كتاب الفقه، ص: ٦٦/٢)".

دَ حضرت شيخ الهند مولانا محمودالحسن صاحب رحمه الله په رمضان كښې دَ احياء ليالى او دَ قرآن مجيد اوريدو ډير شوق وو په دې وجه ئې اول دا معمول وو چه بغيردَ تداعى به ئې په تهجد كښې قرآن مجيد اوريدو، خاص ميلمنو به شركت كولو چه دَ دوه يا دَ څلورو نه به زيات نه وو. دَ مكان دَ بهر دروازه به ئې بندوله. حضرت مولانا مفتى محمد شفيع صاحب ديوبندى، صدر مفتى دارالعلوم ديوبند دام ظلهم ليكلى دى: چه زما په نيز په زير بحث كښې فتوى هم دغه ده چه دَ تراويح نه علاوه په ....

...... رمضان کښې بل څه دَ نفل مونځ په جمع صحيح نه دي. جمهور محدثين او فقهاء هم په دې باندې دي او هم په دې باندې دَ اکابر علماء ديوبند عمل دې. سيدي و سندی حضرت شيخ الهند قدس سره دَ چا معمول چه په پوره رمضان کښې دَ شپې دَ بيدارئى او په نفلونو کښې دَ قرآن دَ اوريدو وو. کله چه خلقو په دغه جمع کښې دَ شريکيدو خواهش ښکاره کړو نو ددې اجازت ئې ورنه کړو. دَ کور دروازه ئې بنده کړه. دَ حافظ کفايت الله صاحب په اقتداء، کښې به ئې قرآن مجيد اوريدو او په کور کښې به جمع کيده په کومه کښې به چه ۴۰/۵۰ کسان شريکيدل. دا احقر يخپله هم دحضرت رحمه الله دماليا دَ قيد کيدو نه مخکښې دوه کاله هم په دغه جمع کښې شريك شوې نه دې. کوم چه دَ تراويح جمع وه. دَ نفل او تهجد جمع حضرت رحمه الله کله هم نه ده برداشت کړې. دَ حضرت مدنى اوچت شان او علمى مقام په خپل ځائې دې ليکن چه کله جمهور احنافو دَ محقق ابن همام رحمه الله تفردات دَ عمل قابل اونه ګڼړلو، او دَ حضرت شاه ولى الله رحمه الله او مولانا اسماعيل شهيد رحمه الله تفردات ئې معمول جوړنه کړل نو د روستو راتلونکو علماؤ معامله اهون ده.

والله سبحانه وتعالى اعلم. بنده محمد شفيع عفاالله عنه (دارالعلوم کراچى ۱/ ۴ شوال ۱۳۷۸هـ).

دغه پورتنې چهاپ شوې عبارت "فتوى متعلقه جماعت تهجد و رمضان" نه نقل کړې شوې دې. کوم چه ادارة المعارف لسبيله چوك کراچئ نه چهاپ شوې دې. په دې کښې دَ مفتى محمد سهول صاحب سابق صدر مفتى دارالعلوم ديوبند فتوى هم دَ کراهت متعلق دَ تهجد په جمع درج ده. په کوم کښې چه تفصيلى دلائل پيش کړې شوى دى:

حکيم الامت حضرت علامه تهانوى رحمه الله چه په حديث او فقه کښې دَ يو سمندر په شان عالم وو امداد الفتاوىٰ جلد اول کښې دَ نوافلو جمع علاوه دَ تراويح نه مکروه ګرځولې ده. مګر دا چه صرف دوه مقتديان وى او په دريو کښې ئې اختلاف ليکلې دې. بلکه دا چه دويم ځائې کښې ئې دَ شبينه رمضان په سلسله کښې ليکلى دى که چرې دا دَ تراويح نه پس په نوافلو کښې وى نو په وجه دَ ډيرې جمع مکروه ده.

مولانا خليل احمدصاحب سهارنپورى مهاجر مدنى قدس سره حافظ وو او په تهجد کښې به ئې دَ قرآن مجيد تلاوت کولو او دوه حافظانو مقتديانو به اوريدو. دَ مولانا اسد الله صاحب مدظلهٗ بيان دې چه يوه شپه زه هم مقتدى جوړ شوم نو حضرت دَ مونځ نه پس زما غوږ اونيولو او جدا ئې کړم.

دَ حضرت شاه صاحب رحمه الله دَ علم او تبحر به څه وايو، په درس دَ بخارى شريف کښې "باب: طول السجود فى قيام الليل" باندې ئې عجيبه تحقيق کړې دې چه دلته دَ ذکر قابل دې. وئې فرمائيل چه دلته په حديث کښې دَ حضورپاك دَ اوږدو سجدو اندازه ښودلې شوې ده. لکه څومره وخت کښې چه څوك ۵۰ آياتونه اووائى په دې وجه حضورپاك خپل صحابه کرامؓ دَ خپل ځان سره دَ تهجد په مونځ کښې دَ اقتداء کولو نه منع کړى وو ځکه چه په دې کښې دَ فرض مونځونو په شان دَ ضعيفانو او مريضانو رعايت نه شو کولې. بيائى اوفرمائيل چه دې نه دا هم معلوم شو چه دَ تهجد مونځ ځان له بغير دَ جمع کولو خيز دې او هم ددې طرف ته په قرآن مجيد کښې اشاره موجود ده. الله تعالىٰ دې ته ﴿نَافِلَةً لَّكَ﴾ فرمائيلو سره دَ پنځو فرض مونځونو نه جدا کړلو کوم ئې چه: ﴿أَقِمِ الصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ إِلَىٰ غَسَقِ اللَّيْلِ وَقُرْآنَ الْفَجْرِ﴾ سره بيان کړې وو. ددې پنځو مونځونو دپاره ئې دَ اقامت حکم اوفرمائيلو دکوم منشاء چه دا ده چه په اوچت آواز سره په جماتونو کښې په اذان او اقامت سره ادا کړې شى. بيا ئې دَ تهجد ذکر اوفرمائيلو نو ﴿وَمِنَ اللَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِ نَافِلَةً لَّكَ﴾ کښې ئې دا په ﴿نَافِلَةً﴾ سره تعبير کړه ځکه چه په دې کښې دَ جمع شرکت نشته دې. او په پنځو فرض مونځونو کښې نور ټول هغوى سره شريك دى لکه څنګه چه به په مال غنيمت کښې حصې ملاويدې او نفل (په خاص توګه عطيه کښې) دَ ټولو څه حق نه وو. دغه شان دَ تهجد مونځ دَ حضورپاك دَ پاره نافله دې لهذا نور خلق به حضورپاك سره په مونځ کښې داخل نه وى. نو دا دَ حضورپاك يو جدا حالت او دَ حضورپاك ځان له وظيفه ده. په حقيقت کښې هم په دې امورو باندې نظر ساتلو سره زمونږ امام اعظم رحمه الله دا فيصله اوکړه چه دَ شپې په نوافلو کښې تداعى مکروه ده او زما په نيز دَ تداعى نه مراد هم هغه معنى ده کومه چه په عام عرف کښې ګڼړلې شى چه خلق ددې دَ پاره راوغوښتې شى. ......

د تداعي نه مراد: تداعي يو فقهي اصطلاح ده د کوم لغوي مطلب دا دې چه: بعضې کسان بعضې نورو ته د يو کار دعوت ورکړي اود هغې د پاره ئې راوغواړي.[1] او په اصطلاح کښې د دې اطلاق په هغه جمع باندې کيږي په کومه کښې چه د امام نه علاوه څلور کسان شريك وي يا د څلورو نه زيات. اوکه چرې د څلورو نه کم وي نو بيا تداعي نه ده. [2]

واضحه دې وي چه دا خبره د فقهې په کتابونو کښې ذکرخو ده ليکن په کتاب او سنت کښې د دې په تحديد باندې څه اصل نه ملاويږي. لهذا د عرف په اعتبار سره صحيح خبره دا معلوميږي چه کله د يو نفل مونځ د جمعې د پاره نورو ته دعوت ورکړې شي نو هغې ته به تداعي وئيلې شي اودې په خلاف که د جمعې د پاره دعوت ورنه کړې شي نو بيا به دا تداعي نه وي. حضرت علامه کشميري رحمه الله فيض الباري کښې هم دې طرف ته خپل ميلان ښکاره کړې دې.[3]

د مالکيؤ مذهب: د مالکيؤ په نيز نفل په جمع سره ادا کولو کښې مختلف صورتونه ممکن دی. مثلاً که د نوافلو جمع په جمات کښې اوکړې شي، يا په جمع کښې ډير کسان شريك وي، يا جمع په داسې مکان کښې قائم کړې شي چه هلته د خلقو تګ راتګ عام وي نو په دې دريواړو صورتونو کښې به د نوافل جمع مکروه وي. اوکه چرته په دغه جمع کښې کسان کم وي اوداسې ځائې کښې اداکړې شي چه هلته د خلقو تګ راتګ بغير د منع کولو نه ممکن نه وي نو بيا داسې ځائې کښې د نوافلو جمع کولو کښې هيڅ حرج نشته. که غور اوکړې شي نو د احنافو او مالکيؤ په مذهب کښې څه خاص فرق نشته دې.[4]

د حنابلؤ مذهب: د حنابله په نيز د نوافعل جمع مباح ده.[5]

.... او دا کومو مفتيانو صاحبانو چه دوه يا درې مقتديان ليکلي دی هغه ئې په غرض د تحديد عمل ليکلی دی ددې د پاره نه چه دغه د صاحب مذهب نه نقل دی.

دغه شان حضرت شاه صاحب رحمه الله د "باب صلاة النفل" په درس کښې اوفرمائيل چه د احنافو په نيز د نفلو جمع مکروه ده بغير د رمضان نه. بعضې خلقو دا اوګڼړل چه په رمضان کښې د هر نفل جمع جائز ده حالانکه د فقهاؤ مراد ددې نه صرف د تراويح نوافل وو. نور هيڅ نه وو. بيائې اوفرمائيل په دې ځان په ښه شان سره پوهه کړئې ځکه چه علم ډير تحقيق، پوخ نظر، کوشش او تجربې نه پس حاصليږي. (تفصيل دپاره اوګورئې: انوار الباري: ۴/۲۴۶-۲۴۸)

[1]) المغرب، المادة: د ع و: ۲/۲۸۹.

[2]) البحر الرائق، کتاب الصلاة، باب: الإمامة: ۶۰۴، ۱/۶۰۶دارالکتب العلمية، وکذا فی الفتاوی الهندية، کتاب الصلاة، الباب الخامس فی الإمامة، الفصل الأول فی الجماعة: ۱/۸۳.

[3]) "ثم التداعی علی عرف اللغة، و لا تحديد فی أصل المذهب وإن عينه المشائخ". (فيض الباری، کتاب الصلاة، باب: إذا دخل بيتا يصلی حيث شاء، أو حيث أمر، ولا يتجسس: ۲/۶۳).

[4]) حاشية الدسوقی علی الشرح الکبير، کتاب الصلاة، فصل: فی بيان حکم صلاة الجماعة: ۱/۳۲۰. شرح منح الجليل علی مختصر العلامة خليل، کتاب الصلاة، فصل فی بيان حکم فعل الصلاة فی جماعة: ۱/۲۱۱. مواهب الجليل، کتاب الصلاة، فصل فی صلاة الجماعة: ۲/۳۹۵.

[5]) ولا بأس بالجماعة فيه، قال فی الفروع: ويجوز جماعة، وأطلقه بعضهم. قلت: منهم الشيخ فی المغنی، الکافی، والشارح، و شرح ابن رزين والرعايتين، والحاوی الصغير. وقيل: ما لم يتخذ عادة وسنة، قطع به ....

دَ شافعيوٌ مذهب: د شوافعو په نيزد نوافل جمع كه هرڅومره لويه وي جائز ده. د هيڅ قسم څه كراهت نشته. ليكن جمع مستحب هم نه ده. مذكوره حديث شريف شوافع دَ خپل دليل په توګه باندې پيش كوي. خودَ احنافو په نيز په دې حديث شريف كښې بغيرد تداعي دَ جمع دَ مونځ صورت جوړشوې دې لهذا هم دَدې مطابق به دَ دغه جمع حكم وي دَ كوم تفصيل چه پورته ذكركړې شوې دې.(۱)

دَ سلف صالحينو په آثار سره دَ تبرک حكم: دَدې حديث شريف نه يو مسئله دَ انبياء كرامو عليهم الصلوات والتسليمات په آثارو سره دَ بركت حاصلولو هم مخې ته راځي چه حضرت عتبان بن مالك رضي الله عنه حضورپاك ته درخواست اوكړو چه تاسو زما كور ته تشريف راوړو سره دوه ركعته مونځ اوكړئ دې دَ پاره چه زه بيا هم هغه ځائې كښې مونځ اداكوم او په هغې سره زه بركت حاصل كړم. دَ جمهور اهل سنت والجماعة عقيده هم دغه ده چه په دغه آثارو سره بركت حاصلول جائز دي. په دې باره كښې ډير بهترين تفصيل دَ علامه شبيراحمد عثماني رحمه الله په تقرير بخاري شريف كښې موجود دې. هغوی دَ سعودي بادشاه په وړاندې ډيرې مدلل خبرې كړې وې دكوم په اوريدو سره چه هغه هم لاجواب شوې وو.(۲)

...... لمجد في شرحه، ومجمع البحرين. وقيل: يستحب. اختاره الآمدي. وقيل: يكره. (الإنصاف في معرفة الراجح من الخلاف على مذهب الإمام أحمد بن حنبل، كتاب الصلاة، باب: صلاة التطوع: ١٨٦/٢). الكافي لموفق الدين، كتاب الصلاة، باب: صلاة التطوع: ٣٥٤/١. المغني، كتاب الصلاة، صلاة التطوع، رقم المسألة: ٢٣٩، ٥٦٧/٢.

(١) الثامن: قد سبق أن النوافل لا تشرع الجماعة فيها إلا في العيدين والكسوفين والاستسقاء، وكذا باقي النوافل كالسنن الراتبة مع الفرائض والضحى والنوافل المطلقة فلا تشرع فيها الجماعة. أي: لا تستحب. لكن لو صلاها جماعة جاز، ولا يقال: أنه مكروه، وقد نص الشافعي رحمه الله في مختصري البوطي والربيع على أنه لا بأس بالجماعة في النافلة، ودليل جوازها جماعة أحاديث كثيرة...... إلخ. (المجموع شرح المهذب، كتاب الصلاة، باب: صلاة التطوع: ٥٤٨/٣). الوسيط في المهذب، كتاب الصلاة، الباب السابع في صلاة التطوع: ٢١٥/٢. حاشية قليوبي وعميرة على منهاج الطالبين، كتاب الصلاة، باب: صلاة النفل: ٢١٠/١.

(٢) دَ مذكوره موضوع دَ اهميت په رڼا كښې دَ علامه عثماني رحمه الله دَ تقرير بخاري "فضل الباري" نه هغه مكمل بحث لفظ په لفظ نقل كولې شي:

دَ صالحينو په آثارو دَ تبرک مسئله: دا كوم چه حضرت عتبان بن مالك رضي الله عنه حضورپاك ته عرض اوكړو چه "وددت يا رسول الله، أنك تأتيني، فتصلي في بيتي، فأتخذه مصلى" داهم تبرك بالآثار وو حضورپاك په دې باندې انكار اونه كړو بلكه وعده ئې اوكړه چه "سأفعل إن شاء الله" اوبيا هغه پوره هم كړه. نودا حديث شريف يو ډير لوئې اصل دې دَ تبرك بآثار الصالحين دَ ثبوت دَ پاره، لكه څنګه چه امام نووي رحمه الله غوندې لوئې لوئې محققينو حضراتو تصريح كړې ده. بلكه دَدې نه زيات دَدې (حديث) نه طلب التبريك منهم (يعني دَ بزرګانو نه دَ هغوی د يو څيزنه دَ بركت حاصلولو درخواست كول) هم ثابتيږي. ځكه چه حضرت عتبان رضي الله عنه طلب اوكړو او حضورپاك عليه السلام انكار اونه كړو بلكه دَ هغه درخواست قبلولو سره ئې هغه ته عزت وركړو.

دَحجاز دَبادشاه، شاه ابن سعودپه خصوصي جلسه كښې په مذكوره مسئله باندې اوردې خبرې اترې: زه (حضرت عثماني رحمه الله) په كال ۱۳۴۴هـ كښې دَ جمعيت علماء هند دَ طرف نه دَملك الحجاز ابن سعود په دعوت باندې مؤتمر العالم الاسلامي كښې شريك شوې ووم. هلته دَ ټولې دنيا مشاهير بللې.......

.... شوی وو. نو يوه ورځ يوه خاص جلسه اوشوه په کومه کښې چه بادشاه هم شريك وو. هغه وخت په يو څو مسئلو باندې ما خبرې اترې اوکړې په کوموکښې چه يوه مسئله د کتاب په شروع کښې د هرقل د حديث لاندې په عنوان د "شرك جلي او شرك خفي" اود سجود تعظيم متعلق تير شوی دی. هم د دغو مسئلو نه يوه مسئله دا "تبرك بآثار الصالحين" هم وه. په دغه خاص جلسه کښې مسلسل پوره گهنټه تقرير ما اوکړو په کوم سره چه بادشاه ډير متأثر شو او وئې فرمائيل زه عالم نه يم په دې وجه زه ستا خبره نه رد کولې شم او نه ئې قبلولې شم. تاسو زمونږ علماؤ سره په دې خبرې اترې اوکړئ. بيا چه د بحث نه پس څه فيصله وی دَخپل ستې طرف ته ئې اشاره کولوسره اووئيل چه د عبدالعزيز دا ستې د هغې فيصلې لاندې دې. ما وئيل ډيره ښه ده. چنانچه بيايوه ورځ شيخ الاسلام عبدالله بن بليهد نجدی سره په خصوصی توگه خبرې اترې اوشوې.

دغه خلقو خود حضورپاك ډير آثار قديمه لکه د حضرت خديجه رضي الله عنها كور اود حضورپاك د پيدائش ځائې وغيره بالكل ختم كړې وو اود كومو د ختمولو نه چه عاجز پاتې وو لكه غار ثور، غارحرا وغيره هلته ئې د خلقو تگ راتگ بند كړو او څوكئ ئې پرې كينولې ځكه چه هغه خلق داسې تبرك بالآثار بدعت او ناجائز گڼړي.

د تبرك بالآثار په ثبوت باندې د ټولو نه قوی او صريح دليل: دَدې مسئلې متعلق چه كوم دلائل هلته ما پيش كړې وو او په هغې كښې د ټولو نه زيات قوی او صريح هم دغه د عتبان بن مالك رضي الله عنه حديث وو. خيال كوئې چه د عتبان بن مالك رضي الله عنه مصلی په كوم باندې چه حضورپاك په ټول عمر كښې يو ځل دوه ركعته مونځ كړې وو په دې وجه كه چرې دغه مصلی متبرك كيدې شی نو د خديجه رضي الله عنها كورچرته چه حضورپاك په كلونو شپې ورځې د الله تعالی عبادت كړې وو اوغارحرا په كوم كښې چه حضورپاك عليه السلام په مياشتو خاص كيفيت سره د عبادت د پاره قيام فرمائيلې وو اوچرته چه شپه ورځې حضورپاك عليه السلام په عبادت كښې مشغول پاتې شوې وونو آيا دا ټول مقامات زمونږ د پاره د بركت ځايونه نه شی كيدې؟

دويم دليل: دويم دليل كوم چه ما پيش كړې وو هغه د صحيح بخاری: "باب المساجد بين المكة والمدينة" كښې د ابن عمر رضي الله عنهما يو اوږد حديث دې په كوم كښې چه دا ذكركړې شوی دی چه حضرت ابن عمر رضي الله عنهما د مكې اومدينې په مينځ لاره كښې چه د حضورپاك كوم مآثر او موضع صلوة دی (په كوم كښې چه حضورپاك عليه السلام مونځ كړې وو) هغه به ئې ښه په اهتمام او كوشش سره لټولو او هم هلته به ئې مونځ كولو. دې نه علاوه چه په كوم ځائې كښې كوم يو كار هم حضورپاك كړې وو حضرت ابن عمر رضي الله عنهما به هم هغه كار هلته كولو. دا مقامات چرته چه حضورپاك اتفاقی توگه باندې يو ځل دوه مونځ كړې وو يا يو ځل نيم ئې تشريف اوړې وو نو په دې وجه دغه مقامات د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما د پاره متبرك كيدې شی نونن د امت د پاره د خديجه رضي الله عنها كور اوغارثور وغيره مقامات څنگه متبرك كيدې نه شی؟

دريم دليل: بيا په آخره كښې ما اووئيل چه پرېږدئې داخبرې د ليلة الاسراء يو اوږد تفصيلی حديث دې په هغې كښې دا اجزاء هم ذكر دی چه : "مربأرض ذالت نخل، فقال له جبريل: انزل فصل. فنزل فصلی. فقال: صليت بيثرب" (يعنی د حضورپاك عليه السلام تيريدل په يوداسې تكړه د زمكې باندې اوشو چرته چه ډيرې زياتې د كهجورو ونې وې جبرئيل عليه السلام اوفرمائيل دلته راكوز شه او مونځ اوكړه، حضورپاك عليه السلام مونځ ئې اوكړو نوجبرائيل عليه السلام اوفرمائيل چه تاسو د يثرب يعنی د مدينې په زمكه باندې مونځ ادا كړو) بيا وړاندې تلو نه پس جبرائيل عليه السلام اوفرمائيل "انزل فصل، فنزل فصلی، فقال: صليت بطور سيناء حيث كلم الله موسی" (دلته هم راكوز شه اومونځ اوكړه، حضورپاك عليه السلام راكوز شو مونځ ئې اوكړو نو جبرائيل عليه السلام اوفرمائيل چه تاسو په طور سيناء كښې مونځ اوكړو چرته چه موسی عليه السلام ته الله د خبرو كولو په توگه عزت وركړې وو) ....

.... جبل طور په کوم چه الله تعالی حضرت موسیٰ علیه السلام سره خبرې کړې وې که هغه جبل طور د نبي آخر الزمان ﷺ د پاره متبرک کیدې شي، تردې چه په هغه خاص سفر کښې چه کله نبي علیه السلام ته دعوت ورکړې شوې وو اوملا اعلیٰ اوخاص د الله تعالی دربار ته نې تشریف اوړلو په لاره کښې حضورپاك علیه السلام کوزول او هلته پرې مونځ اوکړې شو نو ولې هغه غارحرا په کوم کښې چه الله تعالی په سیدالانبیاء علیه الصلاة والسلام باندې د ټولونه غوره کتاب (قرآن کریم) اوخپل قدیم کلام نازلول شروع کړل نن هغه زمونږ ګناهګارانو امتیانو د پاره متبرک کیدې نه شي چه مونږ یو وخت لاړ شو او هلته دوه رکعته مونځ خاص د الله تعالی د پاره اوکړو؟

بیا وړاندې تلوسره حضرت جبرائیل علیه السلام اووئیل "انزل، فنزل فصلی، قال: صلیت ببیت اللحم حیث ولد عیسیٰ" دلته کوز شه حضورپاك راکوز شو او مونځ نې اوکړو نو حضرت جبرائیل علیه السلام اوفرمائیل تاسو په بیت لحم کښې مونځ اوکړه دې چرته چه د حضرت عیسیٰ علیه السلام پیدائش شوې وو. دا بیت لحم چه د حضرت عیسیٰ علیه السلام د پیدا کیدو ځائې دې که چرته دا د حضورپاك غوندې هستئ د پاره متبرک کیدې شي نوڅه وجه ده چه د حضورپاك د پیدائش هغه مبارك مقام نن مونږ امتیانو د پاره متبرک کیدې نه شي؟

بیا وړاندې تلو سره حضرت جبرائیل علیه السلام اوفرمائیل: "انزل فصل. فنزل فصلی، قال: صلیت بمدین" ، مسکن شعیب علیه السلام که د شعیب علیه السلام مسکن اود موسیٰ علیه السلام مورد (چرته چه نې الله تعالی سره خبرې شوې وې) د سید المرسلین په حق کښې دومره اندازه باندې متبرک ګرځیدې شي نو پخپله د سید المرسلین مسکن اومکان د هغوی د امتیانود پاره ولې نه شي متبرک کیدې؟ زما مراد د دغه مسکن نه د حضرت خدیجه رضی الله عنها کور دې په کوم کښې چه حضورپاك په کلونو باندې اوسیدلو اود الله تعالی د وحی سلسله شپه، ورځ جاري وه. مناسك کښې ملاعلي قاري رحمه الله د طبراني رحمه الله نه نقل کړې دی چه هغه په دې باندې د اجماع دعویٰ کوی چه په مکه کښې د حرم شریف نه پس هیڅ یو مکان د حضرت خدیجه رضی الله عنها د کور نه غوره نه دې.

د مذکوره حدیث حواله اودَدې درجه: کله چه ما دلا نل بیانول نو شیخ الاسلام (عبدالله بن بلیهد) په یو خبره باندې هم هیڅ اونه وئیل، صرف په دې اخیری دلیل حدیث اسراء باندې هغه تپوس اوکړو چه دا روایت چرته دې؟ نو ما په حیرانتیا سره اووئیل چه تاسو خو فرمائیل چه الحمدلله ماته د حدیث په کتابونو وغیره کافي علم حاصل دې. په دې وجه چه ما حواله ورکول ضروري اونه ګڼړل. داحدیث د حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباري کښې موجود دې. او حافظ رحمه الله دَدې نقل کولو نه پس خاموشي اختیارکړې ده. هیڅ کلام نې نه دې کړې دا دلیل دې دَدې خبرې چه دا حدیث د حسن نه کم نه دې ځکه چه حافظ رحمه الله په مقدمه د فتح الباري کښې تصریح کړې ده. چه په کوم روایت باندې زه خاموشي اختیارکړم نو په هغې هیڅ کلام مه کوئي هغه به زما په نیز د حسن د درجې نه کم نه وی.

تبرک باثارالصالحین باندې د مخالفینو شبهات اود هغې جواب: دَدې دلا نلو په مقابله کښې شیخ الاسلام هیڅ دلیل رانوړلې شو صرف د سیر چه کوم یو روایت دې چه حضرت عمر رضی الله عنه شجرة الرضوان پرې کړې وه. رواها ابن سعد فی الطبقات من طریق نافع عن عمر، دائي وړاندې کړو. مګر اول خو په دې کښې یو ډیره لویه خبره داده چه هغه ونه کومه چه حضرت عمر رضی الله عنه پرې کړې وه اوکومه چه خلقو شجرة رضوان متعین کړې وه اود هغې نه ئې تبرك حاصلولو د هغې په واقع کښې شجرة متبرکه کیدل د کوم لاندې چه د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه بیعت رضوان اخستې شوې ووهم دغه خیز متیقن توګه باندې ثابت نه دې. چنانچه په صحیح بخاري کښې یو صریح روایت دې د حضرت مسیب رضی الله عنه چه پخپله په دغه بیعت رضوان کښې شریك وو هغه وائي چه د بیعت رضوان نه یو کال پس مونږ هلته لاړو نوهغه ونه مونږ ته یاده نه وه چه کومه یوه وه یعنې په تعیین سره مونږ ته پته اونه لګیده. نوخامخا یو غیر متعین موهوم خیز متبرك او معظم ګرځول، دا څوك هم جائز نه ګڼړي. مونږ چه د تبرك بالآثار قائل یو نوځکه ....

او زمونږ په دې تقریر کښې هم په دې موضوع باندې مخکښې هم خبره شوې ده. (۱)

دَ حدیث دَ ترجمة الباب سره مناسبت: علامه عینی رحمه الله ذکر کړی دی چه د ترجمة الباب دوه اجزاء دی یو "یصلی حیث شاء" او دویم "حیث أمر" دَ دواړو اجزاؤ سره به دَ حدیث شریف مطابقت هله جوړیږی چه کله معطوف علیه "یصلی حیث شاء" کښې دَ "یصلی" نه مخکښې همزهٔ استفهام محذوف زاا وویستلې شی ګنی مطابقت به صرف دَ دویم جز سره وی. (۲)

دَ حدیث شریف نه مستفاد امور اواحکام: داحدیث شریف دلته مختصر دې تفصیلی روایت به وړاندې باب کښې راځی. نودَ حدیث شریف سره متعلق اهم امور او احکام به هم په وړاندې باب کښې ذکرکولې شی دې دَ پاره چه تکرار لا زم رانه شی.

.... قائل یو چه کله دَ یو څیز متبرك کیدل یعنی دَ یو نیك مثلاً دَ حضورپاك سره دَ څه قسم نسبت لرل په متعین او متیقن توګه باندې ثابت شی. اوکه چرته چا هسې بغیردَ دلیل او بغیردَ سند وغیره نه دعوی اوکړه چه دَ حضورپاك قمیص مبارك دې یا نعل شریف دی نو مونږ هغه متبرك نه ګڼړو لکه څنګه چه دا نن صبا اهل هوا یوه پیشه ګرځولې ده، هیڅ کله نه.

(بهرحال) مونږ داسې وهابیان هم نه یو چه دَ یو څیز متبرك کیدل ثابتیدو نه پس هم دَ هغې تعظیم اونه کړو او نه ئې په خپل سر او سترګو باندې کیږدو او داسې بدعتیان هم نه یو چه موهوم، بې ثبوت، بې دلیل او بې سند څیزونه متبرك او معظم اوګڼړو. نو ممکن ده چه دغه شجره (اونه) حضرت عمر رضی الله عنه هم په دې وجه پرې کړې وی چه کله تیقن سره متعین نه ده چه داهم هغه شجرة رضوان ده نو بیا ددې دومره تعظیم او تبرك بې اصل دې. باقی پاتې شو دَ حضرت خدیجه رضی الله عنها کور،غار حرا او غارثور وغیره مآثر قدیمه، دا ټول خو تواتر په شان قرآن دَ تواتر طبقه نه ثابت دی چه مفید للقطع والیقین دې په اتفاق سره، لکه چه دَ کتاب الایمان په شروع کښې دَ تواتر دَ اقسامو تحقیق کړې شوې. والله اعلم

دویم جواب دویم دا چه داروایت دَ سیر دې بیا منقطع دې. (څکه چه دَ حضرت عمر رضی الله عنه دا واقعه بیانونکې حضرت نافع رحمه الله دې) اودَ حضرت نافع رحمه الله دَ حضرت عمر رضی الله عنه سره ملاقات نه دې شوې.

دریم جواب: بیا دا څه مرفوع څیز نه دې بلکه صرف دَ حضرت عمر رضی الله عنه رائې وه. دا څیز دَ هغه دلا ئلو په مقابله کښې هیڅ وزن نه لری کوم چه (پورته) ذکرکړې شو. په کوم کښې چه بعضې دَ صحیحینو متفق علیه، بعضې دَ بخاری او بعضې دَ نورو کتابونودَ حدیث قابل احتجاج روایات دی.

څلورم جواب: بیا په دې کښې یو څیز بل دې چه حضرت عمر رضی الله عنه کوم څه کړې وو هغه ئې دَ وخت دَ یو مصلحت دَ وجې نه کړې وو او هغه مصلحت هم دغه "سد ذرائع وحسم مادته" (یعنی دا اندیښنه وه چه چرته دَ دغه ونې نه تبرك حاصلولوکښې غلو اونه شې او تبرك دَ شرك حد ته اونه رسی. هم دَ دغه اندیښنې دَ وجې نه ئې هغه ونه پرې کړه. چه راتلونکی وخت کښې کله دَ شرك سبب جوړیدې شو) هغه څه دَ شرعی مسئلې په وجه باندې نه وو (یعنی دَ هغې وجه دا نه وه چه تبرك په خپل اصل اعتبار سره شرعاً منع دې). که چرې تاسو هم دَ مصلحت متعلق څه وئیل غواړئ نوغور اوکړئ. دا تاسو چه دغه مآثر سره کوم سلوك کړې په دې کښې مصلحت شوې دې که دَ مصلحت خلاف شوی دې؟ ستاسو په دې کار کولو سره دهر طرف په مسلمانانوکښې یو کشمکش پیدا شو چه اوګورئ دَ ابن سعود حکومت څه اوکړل په کوم سره چه دَ حج غونډې شعائر اسلام له راتلونکی خلق شك شبه کوی. نودا څنګه مصلحت شو؟

دَ شیخ عبدالله بن بلیهد اخر اعتراف: په دې باندې شیخ الاسلام هیڅ اونه وئیلې شو. په آخره کښې ئې ملنو سره صرف دومره اووئیل چه څه اوکړم زمونږ قوم نه منی. (فضل الباری: ۱۲۶/۳-۱۲۹)

(۱) کشف الباری، کتاب الصلاة، باب: الصلاة فی الثوب الأحمر. ص: ۵۵۸-۵۵۱.

(۲) عمدة القاری: ۲۴۴/۴.

۱۴-بَابٌ: المَسَاجِدِفِي البُيُوتِ

داباب په کورونو کښې دَ جماتونو جوړولو په جواز کښې دې

دَ ترجمة الباب وضاحت

په کورونوکښې دَ جماتونو جوړولو مطلب: په کورونو کښې دننه جماتونه داسې جوړولې شي چه دَ کور یوه کوټه یا یو کوټ دَ خپل عبادت دَ پاره مخصوص کړې شي. هلته پوزکې یا دَ لرګې تخت وغیره خور کړې شي. او دَ کور خلق هم دغه ځائې کښې نوافل وغیره اداکوی. دا جمات به اصطلاحی جمات نه وی اونه به وقف وی. دلته دَ مونځونودَ پاره اذان کول هم ضروری نه دی. چنانچه دا ځائې به دَ کور دَ مالك په وراثت کښې هم جاری وی. خو په دغه ځائې کښې به هغه ثواب نه ملاویږی کوم چه په اصطلاحی جمات کښې ملاویږی. دغه شان جماتونه په کورونو کښې جوړول مسنون او مستحب دی.

په سنن ابوداؤد کښې یو روایت دې: (۱)په کوم کښې چه په صراحت سره داخبره ذکر ده چه رسول الله ﷺ مونږ ته حکم راکړو چه مونږ په خپلو کورونو کښې جماتونه جوړ کړو، یعنی دَ عبادت دَ پاره ځائې خاص کړو. شارحینو دَدې دوه مطلبونه بیان کړی دی.(۲) چه په خپلوکورونوکښې جماتونه جوړکړئی او دویم دا چه په خپله محله کښې جماتونه جوړ کړئی. خودَ ابوداؤد شریف داحدیث چونکه دَ امام بخاری رحمه الله دَ شرائطو مطابق نه وو په دې وجه نې دا دَ ترجمة الباب لاندې رانوړو. البته دَ خپلې مدعیٰ دَ اثبات دَ پاره هغوی دَ حضرت عتبان رضي الله عنه داحدیث ذکرکړې دې.

په کورونوکښې دَ جمع کولو حکم: دَ څه عذر دَ وجې په کورکښې په جمع سره مونځ ادا کول صحیح دی. مثلاً کله په څه وجه باندې دَ جمات په جمع کښې حاضر نه شی نو کور کښې محرم ښځې وغیره یو ځائې کولو سره په جمع سره مونځ ادا کول صحیح دی. لیکن بغیردَ عذر نه دَدې عادت جوړول ښه نه دی. بلکه دَ داسې سړی باره کښې سخت وعید هم دې چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلې دې زما زړه غواړی چه یو خو ځوانانوته حکم ورکړم چه هغوی ډیر زیات خشاك راجمع کړی، بیا زه هغه خلقو له لاړ شم چه بغیردَ عذر نه په کورونو کښې مونځونه کوی او دَ هغوی کورونه اوسوزوم.(۳)

حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله په خپله رساله فضائل نماز کښې پوره یو فصل په دې

---

(۱) عن عائشة قالت: أمر رسول الله صلى الله عليه وسلم ببناء المساجد في الدور، وأن تنظف وتطيب. (سنن أبي داؤد، كتاب الصلاة، باب: اتخاذ المساجد في الدور، رقم الحديث: ٤٥٥). وأيضًا: حدثني خبيب بن سليمان عن أبيه سليمان بن سمرة، عن أبيه سمرة قال: إنه كتب إلى بنيه: أما بعدا فإن رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يأمرنا بالمساجد أن نَصنَعَها في دورنا، ونُصلح صَنعَتَها و نُطهّرها.(أيضًا، رقم الحديث: ٤٥٦).

(۲) بذل المجهود، كتاب الصلاة، باب: اتخاذ المساجد في الدّور، رقم الحديث: ٤٥٥، ٢٩٢/٣

(۳) عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لقد هممت أن امر فتيتي، فيجمعو الى حزما من حطب، ثم آتي قوماً يصلون في بيوتهم، ليست بهم علة، فأحرقها عليهم (صحيح مسلم، كتاب المساجد، باب: ماروى في التخلف عن الجماعة، رقم الحديث: ١٤٨١).

باره کښې قائم کړې دي په کوم کښې چه ئې هغه احادیث راجمع کړي دي کومو کښې چه د جمع په پریخودو باندې راغلي وعیدونو ذکر دې. هغه فصل خاص توګه باندې او پوره رساله بالعموم د کتلو لائق ده. فقهاؤ لیکلي دي چه په کور کښې جمع کولو سره به د جمع ثواب ملاؤ خو شي لیکن په جمات کښې د ادا کړې شوي د جمع ثواب به نه ملاویږي. د مونځ په موضوع باندې لیکلې شوې د ټولو نه تفصیلي کتاب منیة المصلي کښې ددې تفصیل کتلي شي.(١)

د ترجمة الباب مقصد: علامه عیني رحمه الله فرمایي چه دا باب او سابقه باب په حقیقت کښې هم یو دي. په دې وجه امام بخاري رحمه الله دواړو ابوابو کښې هم یو حدیث د حضرت عتبان بن مالك رضي الله عنه راوړې دې. او هم دغه حدیث امام صاحب په بخاري شریف کښې په څو مقاماتو کښې ذکر کړې دې، چرته مختصر او چرته مفصل او ددې ټولو نه مقصود مختلف تراجم قائمول دي. (٢)

امام بخاري رحمه الله ترجمة الباب مطلق ساتلې دې حالانکه زمونږ د خیال مطابق په دې کښې د معذورانو د پاره قید لګول پکار وو. نو هر کله چه داسې نه ده نو مطلب به دا شي چه د امام بخاري رحمه الله په نیز د معذور او غیر معذور دواړو په کور کښې جمات جوړول او هلته مونځ کول صحیح دي. یعني چه د عذر قید وې نو مطلب به دا مخې ته راتلو چه هغوی معذورانو ته په کور کښې د مونځ کولو اجازت ورکول غواړي. خو چه کله هغوی د قید نه بغیر دا اوفرمائیل چه په کور کښې د جمات جوړولو بیان، نو مطلب دا شو چه بغیر د عذر او بغیر د قید نه کور کښې د جمات د جوړولو او د مونځ کولو بیان. په دلیل کښې هغوی د حضرت براء بن عازب رضي الله عنه تعلیق هم بیان کړې دې. دلیل داسې چه هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم یو جلیل القدر صحابي دې. هغه ته څه عذر هم نه وو ددې باوجود هغه د جمات جمع پریخودو سره په کور کښې مونځ اوکړو نو که په دې کښې څه نقصان یا ممانعت وې نو هغه به داسې ولې کول؟

که چرې دا ټول صحیح فرض کړې شي نو ددې جواب به دا ورکولې شي چه ددې خبرې قوي احتمال موجود دې چه هغوی به داسې هغه وخت کړي وي کوم وخت چه د هغوی نه په جمات کښې جمع فوت شوې وی او هغوی به په کور کښې د کور خلق راجمع کولو سره په جمع مونځ اداکړې وي چه د جمع د مونځ ثواب حاصل شي. چنانچه ددې نه استدلال کولو سره په کور کښې بغیر د عذر نه هم جمات جوړولو سره مستقل توګه باندې په کور کښې د مونځ کولو جواز نه شي راوتلې. او د حدیث باب نه استدلال هم ممکن نه دې ځکه چه په دې کښې د حضرت عتبان بن مالك رضي الله عنه رخصت د هغه د عذر د وجې نه وو لکه چه حدیث باب کښې

---

(١) وإن أقيمت في المسجد بجماعة وتخلف عنها رجل من أفراد الناس وصلى في بيته فقد ترك الفضيلة. وإن صلى في بيته بالجماعة لم ينالوا فضيلة الجماعة في المسجد وهكذا في المكتوبة. (منية المصلي، كتاب الصلاة، صلاة التراويح، ص: ١٤٥، مكتبة طيبة، كوئته).

(٢) عمدة القاري: ٢٤٥/٤.

تفصيل راځي.

تعليق: وَصَلَّى الْبَرَاءُ بْنُ عَازِبٍ: «فِي مَسْجِدِهِ فِي دَارِهِ جَمَاعَةً»:

دَ تعليق تخريج: حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عيني رحمه الله فرمائي چه ابن ابى شيبه رحمه الله په خپل مصنف کښې دَدې اثر هم معنې يوه قصه ذکر کړې ده.[1]

دَ تعليق رجال: دَ تعليق راوی حضرت براء عازب رضي الله عنه دې. دَ دوی ذکر کشف البارى کښې تيرشوی دې.[2]

دَ تعليق ترجمه او تشريح: حضرت براء بن عازب رضي الله عنه دَ خپل کور په جمات (دَ مانځه دَ پاره مقرر کړې شوی ځائی) کښې په جمع سره مونځ ادا کړو.

"جماعة" دلته دا لفظ په نصب سره دې خو دَ کشميهنى روايت کښې دې نه مخکښې "في" حرف جر دې. يعنى "في جماعة".[3]

دَ تعليق مقصد: دَ تعليق مقصد واضح دې چه ترجمة الباب ثابتول مقصود دى.

دَ تعليق دَ ترجمة الباب سره مناسب: ترجمة الباب هم دغه دې چه په کورکښې دې جماتونه جوړ کړې شى. يعنى په کورونو کښې دې دَ عباداتو او مونځونو وغيره دَ پاره ځايونه متعين کړې شى. او په مذکوره تعليق کښې هم دا امر ذکر دى چه حضرت براء بن عازب رضي الله عنه په خپل کورکښې دَمونځ دَ پاره مقرر کړې شوی ځائی کښې مونځ اداکړو.

حديث باب [حديث نمبر ٤١٥]

-٤٢٥ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي مَحْمُودُ بْنُ الرَّبِيعِ الْأَنْصَارِيُّ أَنَّ عِتْبَانَ بْنَ مَالِكٍ[4] -وَهُوَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا مِنَ الْأَنْصَارِ- أَنَّهُ أَتَى رَسُولَ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَدْ أَنْكَرْتُ بَصَرِي، وَأَنَا أُصَلِّي لِقَوْمِي، فَإِذَا كَانَتِ الْأَمْطَارُ سَالَ الْوَادِي الَّذِي بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ، لَمْ أَسْتَطِعْ أَنْ آتِيَ مَسْجِدَهُمْ فَأُصَلِّيَ بِهِمْ، وَوَدِدْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنَّكَ تَأْتِينِي فَتُصَلِّيَ

---

[1] فتح البارى: ٦٧٢/١، عمدة القارى: ٢٤٦/٤.راقم وائى چه سره دَ کوشش المصنف لابن ابى شيبة کښې دَ حضرت براء بن عازب رضي الله عنه دغه مذکوره يا دَدې دَمعنې والا څه اثر ملاؤ نه شو. تردې چه هم دَ حافظ صاحب رحمه الله تصنيف تغليق التعليق اوکتلو نو هلته هم دَدې تعليق دَ تخريج په مقام باندې بياض وو. يعنى نه حافظ رحمه الله يخپله دَدې تخريج کړې دې او نه محشى حضراتو دَدې تخريج کړې دې. وګورئ: تغليق التعليق: ٨٢/٢. البته په المصنف کښې دَ حضرت ابوالمجلز معمول ذکردې چه هغوی په خپل کورکښې جمات جوړ کړې وو او په کوم کښې چه به اکثر وختونو کښې خپل دکور خلق او غلامان راجمع کول او په جمع سره به ئى مونځ اداکولو. وګورئ: حدثنا زيد بن حباب، عن مطهر بن جويرية قال: "رأيت أبامجلز، وله مسجد في داره، فربما جمع أهله وغلمانه". (المصنف لابن أبي شيبة، كتاب الصلاة، باب: في الرجل يؤم النساء، رقم الحديث: ٦٢١٠).

[2] كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: الصلاة من الإيمان: ٣٧٥/٢.

[3] فتح البارى: ٦٧٢/١، عمدة القارى: ٢٤٦/٣.

[4] مر تخريجه تحت الحديث السابق الرقم: ٤١٤.

فِي بَيْتِي، فَأَتَّخِذَهُ مُصَلًّى. قَالَ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- «سَأَفْعَلُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ». قَالَ عِتْبَانُ فَغَدَا رَسُولُ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- وَأَبُو بَكْرٍ حِينَ ارْتَفَعَ النَّهَارُ، فَاسْتَأْذَنَ رَسُولُ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- فَأَذِنْتُ لَهُ، فَلَمْ يَجْلِسْ حَتَّى دَخَلَ الْبَيْتَ ثُمَّ قَالَ «أَيْنَ تُحِبُّ أَنْ أُصَلِّيَ مِنْ بَيْتِكَ». قَالَ فَأَشَرْتُ لَهُ إِلَى نَاحِيَةٍ مِنَ الْبَيْتِ، فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- فَكَبَّرَ، فَقُمْنَا فَصَفَّنَا، فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ، قَالَ وَحَبَسْنَاهُ عَلَى خَزِيرَةٍ صَنَعْنَاهَا لَهُ. قَالَ فَثَابَ فِي الْبَيْتِ رِجَالٌ مِنْ أَهْلِ الدَّارِ ذَوُو عَدَدٍ فَاجْتَمَعُوا، فَقَالَ قَائِلٌ مِنْهُمْ أَيْنَ مَالِكُ بْنُ الدُّخَيْشِنِ أَوِ ابْنُ الدُّخْشُنِ فَقَالَ بَعْضُهُمْ ذَلِكَ مُنَافِقٌ لاَ يُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- «لاَ تَقُلْ ذَلِكَ، أَلاَ تَرَاهُ قَدْ قَالَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ. يُرِيدُ بِذَلِكَ وَجْهَ اللَّهِ». قَالَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ فَإِنَّا نَرَى وَجْهَهُ وَنَصِيحَتَهُ إِلَى الْمُنَافِقِينَ. قَالَ رَسُولُ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- «فَإِنَّ اللَّهَ قَدْ حَرَّمَ عَلَى النَّارِ مَنْ قَالَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ. يَبْتَغِي بِذَلِكَ وَجْهَ اللَّهِ». قَالَ ابْنُ شِهَابٍ ثُمَّ سَأَلْتُ الْحُصَيْنَ بْنَ مُحَمَّدٍ الأَنْصَارِيَّ- وَهُوَ أَحَدُ بَنِي سَالِمٍ وَهُوَ مِنْ سَرَاتِهِمْ- عَنْ حَدِيثِ مَحْمُودِ بْنِ الرَّبِيعِ، فَصَدَّقَهُ بِذَلِكَ.

د حديث ترجمه: د ابن شهاب رحمه الله نه روايت دي چه ماته محمود بن ربيع انصاري خبر راكړو حضرت عتبان بن مالك رضي الله عنه چه د هغه انصاري صحابه كرامو نه دي كوم چه بدر كښې شريك وو. د رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضر شو اوعرض ئې اوكړواې د الله رسول! زما نظر كمزورې شوې دې او زه د خپل قوم خلقو ته جمع وركوم. كله چه باران وى نو په دغه وادئى كومه چه زما د كور او هغه خلقو په مينځ كښې راځى، كښې اوبه راځى د كوم په وجه چه زه د هغوى جمات ته نه شم رسيدې چه هغوى ته جمع وركړم. يارسول الله! زما زړه غواړى چه تاسو زما كور ته تشريف راوړئى او زما په كوركښې مونځ اوكړئى نو زه به هغه ځائى د ځان د پاره د خپل مونځ ځائى جوړكړم

راوى وائى چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه ان شاء الله ډير زر به زه داسې اوكړم. حضرت عتبان رضي الله عنه اوفرمائيل چه په دويمه ورځ كله ورځ روښانه شوه نو رسول الله ﷺ او حضرت ابوبكر رضي الله عنه تشريف راوړو (اوكور كښې د داخليدو) اجازت ئې اوغوښتلو نو ما اجازت وركړو. رسول الله ﷺ چه كله كور ته داخل شو نو تشريف ئې كينخودو او وئې فرمائيل چه ته په خپل كوركښې كوم ځائى غواړې چه زه مونځ اوكړم؟ حضرت عتبان رضي الله عنه وائى چه ما حضورپاك ته د كور د يو كوټ طرف ته اشاره اوكړه نو حضورپاك اودريدو او (د مونځ شروع كولو د پاره ئې تكبير يعنى) الله اكبر اووئيلو مونږ هم اودريدو او رسول الله مونږ (خپل ځان پسې شاته يو) صف كښې اودرولو. حضورپاك دوه ركعته اوكړل او سلام ئې اوګرځولو.

حضرت عتبان بن مالك رضي الله عنه وائى چه ما حضورپاك د حليم (خوراك) د پاره ايسار كړو چه مونږ په (خاص توګه سره) د حضورپاك د پاره تيار كړې وو.

حضرت عتبان رضي الله عنه اووئيل چه بيا د محلې څوكسان زما كورته راغله او جمع شو. بيا په

هغوی کښې يو وينا کونکي اوونيل چه مالك بن دخيشن يا مالك بن دخشن چرته دي؟ نو د هغوی نه چا اوونيل چه هغه خو منافق دي، الله او دَ هغه رسول ﷺ سره محبت نه لري نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل داسې مه وايئ آيا تاسو نه ګورئې چه هغه صرف دَ الله دَ رضا دَ پاره لا اله الا الله وائي. نو هغه سړي اوونيل چه الله او دَ هغه رسول ﷺ ښه پوهيږي. مونږ خو دَ هغه توجه او همدردي دَ منافقانو سره ګورو. رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه الله تعالى په هر هغه سړي باندې دوزخ حرام کړې دې کوم چه دَ الله تعالى دَ راضي کولو په غرض لا اله الا الله وائي.

ابن شهاب رحمه الله وائي چه بيا ما حصين بن محمد انصاري نه چه دَ قبيله بنو سالم يو کس او دَ هغوی دَ سردارانو نه دې، محمود بن ربيع رضي الله عنه دَ دې حديث باره کښې تپوس اوکړو نو هغوی دَ دې تصديق اوکړو.

تراجم رجال: دَ مذکوره حديث مبارك په سند کښې ټول شپږ راويان دی.

① **سعيد بن عفير رحمه الله:** دا سعيد بن کثير بن عفير رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف البارى، كتاب العلم، باب: من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين لاندې تيرشوی دی. ([1])

② **الليث رحمه الله:** دا ليث بن سعد بن عبد الرحمن رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف البارى، كتاب بدء الوحي دريم حديث لاندې تيرشوی دی. ([2])

③ **عقيل رحمه الله:** دا عقيل بن خالد بن عکرمه رحمه الله دې. دَ دوی مختصر احوال کشف البارى، كتاب بدء الوحي دَ دريم حديث لاندې او تفصيلي احوال كتاب العلم، باب: فضل العلم لاندې تيرشوی دی. ([3])

④ **ابن شهاب رحمه الله:** دا محمد بن مسلم، بن عبيد الله، بن عبد الله بن شهاب الزهري رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف البارى، كتاب بدء الوحي دريم حديث لاندې تير شوی دی. ([4])

⑤ **محمود بن الربيع الانصاري رضي الله عنه:** دا محمود بن ربيع بن سراقه بن عمرو خزرجي رضي الله عنه دې. دَ دوی احوال کشف البارى، كتاب العلم، باب: متى يصح سماع الصغير لاندې تيرشوی دی. ([5])

⑥ **عتبان بن مالك رضي الله عنه:** دا صحابئ رسول حضرت عتبان بن مالك رضي الله عنه دې. دَ دوی احوال دَ کشف البارى هم په دې جلد کښې تير شوی دی. ([6])

---

[1]) کشف الباری: ۲۷٤/۳.
[2]) کشف الباری: ۳۲٤/۱.
[3]) کشف الباری: ۳۲۵/۱، ٤٥٥/۳.
[4]) کشف الباری: ۱/۳۲۶.
[5]) کشف الباری: ۳۲۶/۱.
[6]) کشف الباری.

د حدیث شرح:

قوله: عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي مَحْمُودُ بْنُ الرَّبِيعِ الأَنْصَارِيُّ، أَنَّ عِتْبَانَ بْنَ مَالِكٍ وَهُوَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا مِنَ الأَنْصَارِ أَنَّهُ أَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ قَدْ أَنْكَرْتُ بَصَرِي

د ابن شهاب رحمه الله نه روایت دې چه ماته محمود بن ربیع انصاری رضی الله عنه خبر راکړو چه حضرت عتبان بن مالك رضی الله عنه چه د هغه انصاری صحابه کرامو نه دې کوم چه بدر کښې شریك شوی وو. د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو چه اې د الله رسول! زما نظر کمزورې شوې دې.

قوله: عتبان، دا نوم د عین فتحې او کسرې دواړو سره استعمالیږي.([1])

قوله: أنه أتى، دې نه معلومیږي چه حضرت عتبان بن مالك رضی الله عنه پخپله د حضورپاك په خدمت کښې حاضر شو. حالانکه په صحیح مسلم کښې د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت نقل دې په کوم کښې چه دی چه د حضورپاك په خدمت کښې ئې څوك قاصد اولیږلو چه راوئې غواړي.([2]). د دې تعارض په حل کولو کښې شارحینو حضراتو دوه احتمالات ذکر کړې دی:

① دلته پخپله د حاضریدو خبره مجازاً کړې شوې ده ګنې هم قاصد ئې لیږلې وو.

② داسې دوه ځل شوی وو یو ځل پخپله حاضر شو او په دویم ځل ئې قاصد اولیږلو او قاصد لیږلو کښې هم دوه احتمالات دی چه هغه ابتداءً کورته د تشریف راوړلو مطالبه اوکړه او دویم دا چه مطالبه خو حضرت عتبان رضی الله عنه پخپله کړې وه او قاصد صرف د یاداشت د پاره لاړو.([3])

طبرانی رحمه الله د ابی اویس رحمه الله په طریق سره یو روایت نقل کړې دې په کوم کښې چه دی چه کله چه حضرت عتبان رضی الله عنه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم کورته د راوستو خبره اوکړه نو په هغه ورځ د جمعې مبارکې ورځ وه. او هم په دغه روایت کښې دا خبره ده چه حضورپاك د هفتې په ورځ د هغه کورته تشریف یوړو.([4])

---

[1]) فتح الباري: ۶۷۳/۱ او علامه ابن الملقن رحمه الله د عین ضمه سره استعمالیدل خودلی دی. (التوضیح لابن الملقن: ۴۴۲/۵)

[2]) حدثنا شيبان بن فروخ، حدثنا سليمان يعني ابن المغيرة، قال: حدثنا ثابت، عن أنس بن مالك، قال: حدثني محمود بن الربيع، عن عتبان بن مالك، قال: قدمت المدينة، فلقيت عتبان، فقلت: حديث بلغني عنك، قال: أصابني في بصري بعض الشيء، فبعثت إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم، ومن شاء الله من أصحابه، فدخل وهو يصلي في منزلي وأصحابه يتحدثون بينهم، ثم أسندوا عظم ذلك وكبره إلى مالك بن دخشم، قالوا: ودوا أنه دعا عليه فهلك، ودوا أنه أصابه شر، فقضى رسول الله صلى الله عليه وسلم الصلاة، وقال: أليس يشهد أن لا إله إلا الله، وأني رسول الله؟ قالوا: إنه يقول ذلك، وما هو في قلبه، قال: لا يشهد أحد أن لا إله إلا الله، وأني رسول الله، فيدخل النار، أو تطعمه، قال أنس: فأعجبني هذا الحديث، فقلت لابني: اكتبه فكتبه. (صحيح مسلم، كتاب الإيمان، باب: من لقي الله بالإيمان وهو غير شاك فيه دخل الجنة وحرم النار، رقم الحديث: ٥٤)

[3]) فتح الباري: ۶۷۳/۱، عمدة القاري: ۷۴۲/۴.

[4]) فتح الباري: ۶۷۳/۱.

حضرت عتبان بن مالك رضي الله عنه نابينا وو كه كم نظر والا؟:

قوله: "قد أنكرت بصري" دَدې جملې معنى دا ده چه زما نظر كمزورې شوې دې اوس دَ مخكښې په شان نه دې.(١). په ىې روايت كښې دَ "قد أنكرت بصري" الفاظ دى. په بل روايت كښې "أنا رجل ضرير البصر" الفاظ دى.(٢). هم دَ صحيح بخاري په روايت كښې دى "أن عتبان بن مالك كان يؤم قومه وهو أعمى".(٣)

دَ صحيح مسلم په يو روايت كښې "إن بصري قد ساء" الفاظ دى. (٤)او په بل روايت كښې "أصابني في بصري بعض الشيئ" الفاظ دى.(٥) دَ طبراني په يو روايت كښې "وأن بصري قد ذهب" الفاظ دى. (٦)او په بل روايت كښې "لما ساء بصري" الفاظ دى.(٧)

خلاصه دا چه دَ اختلاف روايت دَ وجې نه يو تعارض پيداكيږي چه دَ يو روايت مطابق هغه نابينا وو او دَ نورو رواياتو مطابق دَ نظر كمزوري معلوميږي. نو په تولو كښې تطبيق كول

---

(١) صحيح البخاري، كتاب الصلاة، باب: الرخصة في المطر، رقم الحديث: ٦٣٦

(٢) صحيح البخاري، كتاب الصلاة، باب: الرخصة في المطر، رقم الحديث: ٦٦٧

(٣) صحيح البخاري، كتاب الصلاة، باب: الرخصة في المطر، رقم الحديث: ٦٣٦

(٤) وحدثنا إسحاق بن إبراهيم، أخبرنا الوليد بن مسلم، عن الأوزاعي، قال: حدثني الزهري، عن محمود بن الربيع، قال: إني أعقل مجة مجها رسول الله صلى الله عليه وسلم من دلو في دارنا، قال محمود: فحدثني عتبان بن مالك، قال: قلت: يارسول الله! إن بصري قد ساء، وساق الحديث إلى قوله، فصلى بنا ركعتين، وحبسنا رسول الله صلى الله عليه وسلم على جشيشة صنعناهاله، ولم يذكر ما بعده من زيادة يونس، ومعمر. (صحيح مسلم، كتاب الصلاة، باب: الرخصة في التخلف عن الجماعة بعذر، رقم الحديث: ٢٥٦).

(٥) حدثنا شيبان بن فروخ، حدثنا سليمان يعني ابن المغيرة، قال: حدثنا ثابت، عن أنس بن مالك، قال: حدثني محمود بن الربيع، عن عتبان بن مالك، قال: قدمت المدينة، فلقيت عتبان، فقلت: حديث بلغني عنك، قال: أصابني في بصري بعض الشيئ، فبعثت إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم أني أحب أن تأتيني فتصلي في منزلي........ (صحيح مسلم، كتاب الإيمان، باب: من لقي الله بالإيمان، رقم الحديث: ٣٣).

(٦) حدثنا علي بن عبدالعزيز، ثنا عارم أبوالنعمان، ثنا حماد بن زيد، ثنا علي بن زيد، قال: كنا عند أنس بن مالك فقال لابنه أبي بكر حدثهم حديث عتبان بن مالك الأنصاري، فحدثنا أبوبكر، وأنس، شاهد فقال: خرجت مع أبي إلى الشام فلما أقبل من الشام مشى معنا محمود بن الربيع الأنصاري فشيعنا حتى إذا أراد أن يفارقنا قال: ألا أحدثكم بحديث عتبان بن مالك؟ قلنا: بلى! قال: فإنه حدثني أنه ذهب بصره على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: يارسول الله! فلو أتيت منزلي، فبوأت لي فيه مسجدا، وصليت فيه، فأتخذه مسجدا، وإن بصري قد ذهب،وضعفت عن الخروج إلى المسجد.....(المعجم الكبير للطبراني،عتبان بن مالك الأنصاري، رقم الحديث: ١٤٧٥٤).

(٧) حدثناالعباس بن الفضل الأسفاطي، ثنا إسماعيل بن أبي أويس، حدثني أبي، أخبرني ابن شهاب، عن محمود بن الربيع الأنصاري، أخبرني عتبان بن مالك، أنه كان إمام قومه وقد شهد بدرا فقال للنبي صلى الله عليه وسلم: أنه لما ساء بصري شقت على إجازة الوادي إذا سال بيني وبين مسجد قومي، .... (المعجم الكبير للطبراني، عتبان بن مالك الأنصاري، رقم الحديث: ١٤٧٦١).

داسې ممکن دی چه د اعمی نه مراد حقیقي نابینا کیدل نه دی بلکه مراد دادي چه هغه نابینا کیدو ته نیزدې شوې وو لکه څنګه چه د بل روایت نه د نظر کمزوری ثابتیږی. بلکه دا چه د صحیح بخاری په کوم روایت کښې چه "اعلی" ذکردې په هغې کښې دا حتمال هم کیدې شی چه کله د راوی پورې دا حدیث راورسیدو نو هغه وخت حضرت عتبان ﷺ پوره نابینا شوې وو. یعنی په شروع کښې ئې نظر کمزورې شوی وو بیا زیاتیدو زیاتیدو سره پوره نابینا شو.[۱]

قوله: وَأَنَا أُصَلِّي لِقَوْمِي فَإِذَا كَانَتِ الأَمْطَارُ سَالَ الْوَادِي الَّذِي بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ، لَمْ أَسْتَطِعْ أَنْ آتِيَ مَسْجِدَهُمْ فَأُصَلِّيَ بِهِمْ، وَوَدِدْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَنَّكَ تَأْتِينِي فَتُصَلِّيَ فِي بَيْتِي، فَأَتَّخِذَهُ مُصَلًّى:

او د خپل قوم خلقو ته مونځ ورکوم. کله چه باران وی نو هغه وادی کومه چه زما د کور او د دغه خلقو په مینځ کښې ده، هغې کښې اوبه راځی د کوم په وجه چه زه د هغوی جمات ته نه شم رسیدې چه هغوی ته مونځ ورکړم. یارسول الله! زما زړه غواړی چه تاسو زما کور ته تشریف راوړئی اوزما په کورکښې مونځ اوکړئی نو زه به هغه ځائی د خپل ځان د پاره د مونځ ځائی جوړکړم.

قوله: سَالَ الْوَادِي، دَدې مطلب دادې چه په وادئی کښې اوبه بهیږی، په دې جمله کښې د محل اطلاق په حال باندې کړې شوې دې.[۲]

د صحیح مسلم[۳] او طبراني[۴]. روایت کښې دَدې جملې په ځائی "إذاکانت الأمطار سالت الوادی الذی بینی وبینهم، ولم أستطیع أن آتی مسجدهم" الفاظ هم راغلی دی چه کله بارانونه وی نوهغه وادی کومه چه زما او زما د قوم په مینځ کښې ده هغه د اوبو نه ډکیږی د کوم په وجه

[۱]) فتح الباری: ۶۷۳/۱، عمدة القاری: ۷۴۲/۴.

[۲]) عمدة القاری: ۲۴۷/۴.

[۳]) حدثنی حرملة بن یحیی التجیبی، أخبرنا ابن وهب، أخبرنی یونس، عن ابن شهاب، أن محمود بن الربیع الأنصاری، حدثه أن عتبان بن مالک – وهو من اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم ممن شهد بدرا من الأنصار – أنه أتی رسول الله صلی الله علیه وسلم، فقال: یارسول الله! إنی قد أنکرت بصری، وأنا أصلی لقومی. وإذا کانت الأمطار سال الوادی الذی بینی وبینهم ولم أستطع أن آتی مسجدهم فأصلی لهم، وددت أنک یارسول الله! تأتی فتصلی فی مصلی، فأتخذه مصلی، قال: فقال: رسول الله صلی الله علیه وسلم: سأفعل إن شاء الله........(صحیح مسلم، کتاب الصلاة، باب: الرخصة فی التخلف عن الجماعة بعذر، رقم الحدیث: ۲۵۶).

[۴]) حدثنا مطلب بن شعیب الأزدی، ثنا عبدالله بن صالح، حدثنی اللیث، عن عقیل – ح – وحدثنا عمرو بن أبی الطاهر بن السرح المصری، ثنا محمد بن عزیز الأیلی، ثنا سامة بن روح، عن عقیل، أخبرنی محمد بن مسلم، أن محمود بن الربیع الأنصاری، أخبره أن عتبان بن مالک، وهومن أصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم ممن شهد بدرا من الأنصار أتی رسول الله صلی الله علیه وسلم فقال: یارسول الله! إنی قد أنکرت بصری وإنی أصلی بقومی، فإذا کانت الأمطار سال الوادی بینی وبینهم، فلم أستطع أن آتی مسجدهم فأصلی لهم...... (المعجم الکبیر للطبرانی، عتبان بن مالک، رقم الحدیث: ۱۴۷۵۹)

چه زه د جمات پورې د راتلو قدرت نه لرم.

قوله: بيني وبينهم، د اسماعيلي په روايت كښې دي: "بين مسكني وبين مسجد قومي". (۱)

قوله: وودِدتُ، د دال كسره او فتحه دواړه شان مستعمل دي. هم دغه شان د دې مصدر "وُدّ" او "وَدّ" هم دواړه شان يعني د واؤ فتحې او ضمر سره مستعمل دي. (۲)

قوله: فتصلي: ، او "فأتخذه" دواړه مجزوم او منصوب لوستل جائز دي. (۳)

قوله: قَالَ: فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «سَأَفْعَلُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ» قَالَ عِتْبَانُ: فَغَدَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو بَكْرٍ حِينَ ارْتَفَعَ النَّهَارُ، فَاسْتَأْذَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَذِنْتُ لَهُ:

راوي وائي چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو ان شاء الله ډير زر به زه داسې اوكړم. حضرت عتبان رضي الله عنه فرمائي چه په دويمه ورځ چه كله ورځ رڼرا شوه نو رسول الله ﷺ او حضرت ابوبكر رضي الله عنه تشريف راوړو او (كور ته د داخليدو) اجازت ئې اوغوښتلو نو ما اجازت وركړو.

د ان شاء الله وئيلو مقصد:

قوله: سَأَفْعَلُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ، په دې جمله كښې لفظ ان شاء الله نه مقصود تبريك نه دې بلكه تعليق دې چه كه د الله تعالى رضا ماسره شوه نو زه به راځم. دويم قول دا دې چه لفظ ان شاء الله هم د بركت حاصلولو د پاره دې نه چه د تعليق د پاره، دا معنى به په هغه صورت باندې محمول وي چه د الله تعالى د طرف نه حضور پاك ته خبر وركړې شو چه زر به تاسو دا كار كوئى. (۴)

قوله: قال عتبان: فغدا، د دې نه د مخكښې پورې عبارت د محمود رحمه الله راوي وو او د دې پس مكمل روايت هم د حضرت عتبان بن مالك رضي الله عنه په خله دې، په دې اعتبار سره د اوس نه د مخكښې پورې روايت به د هغوى په مراسيلو كښې شميرلې شي ځكه چه ظاهر هم دغه دي چه هغوى به دا هم د حضرت عتبان رضي الله عنه نه اوريدلې وي مګر بيان ئې د حوالې نه بغير اوكړو. (۵)

نبى كريم ﷺ سره څومره صحابه كرامو تشريف راوړو؟:

قوله: فَغَدَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو بَكْرٍ، په دې روايت كښې رسول الله ﷺ سره صرف حضرت ابوبكر رضي الله عنه تشريف راوړې وو. تردې چه د اوزاعي رحمه الله د روايت مطابق حضرت عتبان رضي الله عنه دا خبره بيانولو سره د دغه دواړو حضراتو د پاره د تثنيې صيغه او هم د تثنيې

(۱) فتح الباري: ۱/۶۷۳ عمدة القاري: ۴/۲۴۷.
(۲) فتح الباري: ۱/۶۷۳ عمدة القاري: ۴/۲۴۷.
(۳) فتح الباري: ۱/۶۷۴ عمدة القاري: ۴/۲۴۷.
(۴) فتح الباري: ۱/۶۷۴ عمدة القاري: ۴/۲۴۷.
(۵) فتح الباري: ۱/۶۷۴.

ضمیر استعمال کړو، یعنی "فاستأذنا فأذنت لهما" (۱) لیکن په نورو روایاتو کښې دَ حضرت عمر رضی الله عنه هم دَتشریف راوړلو ذکرملاویږی.(۲).

دَ طبرانی په روایت کښې "فی نفر من أصحابه" الفاظ دی. (۳) په یو بل روایت کښې "فأتانی ومن شاء الله من أصحابه" الفاظ دی.(۴)

په دې مختلفو روایاتو کښې شارحینو داسې تطبیق کړې دې چه په شروع کښې دحضورپاك سره صرف هم حضرت ابوبكر رضی الله عنه وو بیا ورسره حضرت عمر رضی الله عنه او بعضې نور صحابه کرام هم یوځائی شو.(۵)

قوله: فَلَمْ يَجْلِسْ حَتَّى دَخَلَ الْبَيْتَ، ثُمَّ قَالَ: «أَيْنَ تُحِبُّ أَنْ أُصَلِّيَ مِنْ بَيْتِكَ» قَالَ: فَأَشَرْتُ لَهُ إِلَى نَاحِيَةٍ مِنَ الْبَيْتِ، فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَبَّرَ، فَقُمْنَا فَصَفَّنَا فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ:

رسول الله صلی الله علیه وسلم چه کله کورته ورداخل شو نو تشریف ئې کینخودو او معلومات ئې اوکړو چه

---

(۱) فتح الباري: ۱/۶۷٤ عمدة القاري: ٤/۲٤۷.

(۲) حدثنا مطلب بن شعيب الأزدي، ثنا عبدالله بن صالح، حدثني الليث، عن عقيل – ح – وحدثنا عمرو بن أبي الطاهر بن السرح المصري، ثنا محمد بن عزيز الأيلي، ثنا سلامة بن روح، عن عقيل، أخبرني محمد بن مسلم، أن محمود بن الربيع الأنصاري، أخبره أن عتبان بن مالك، وهومن أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم ممن شهد بدرا من الأنصار أتى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: يارسول الله! إني أنكرت بصري وإني أصلي بقومي، فإذا كانت الأمطار سال الوادي بيني وبينهم، فلم أستطع أن آتي مسجدهم فأصلي لهم،فوددت يارسول الله! أن تصلي في مصلى أتخذه مصلى، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: سأفعل إن شاء الله فقال عتبان: فغدا رسول الله صلى الله عليه وسلم وأبوبكر وعمر حيث ارتفع النهار.....(المعجم الكبير للطبراني، عتبان بن مالك، رقم الحديث: ۱٤۷٦۲)

(۳) حدثنا محمدبن العباس المؤدب، ثنا محمد بن بكير الحضرمي، ثنا عامر بن يساف، عن سعيد بن أبي عروبة، عن قتادة، عن النضر بن أنس، عن أنس قال: لما أصيب عتبان بن مالك في بصره، بعث إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم، أحب أن تأتيني فتصلي في بيتي، وتدعولنا بالبركة، فقام رسول الله صلى الله عليه وسلم في نفر من أصحابه، فدخلوا عليه، فتحدثوا بينهم فذكروا مالك بن الدخشم، فقال بعضهم: يارسول الله! ذاک كهف المنافقين ومأواهم، فأكثروا فيه، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: أوليس يصلي؟ قالوا: نعم يا رسول الله! صلاة لا خير فيها، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: نهيت عن قتل المصلين، مرتين. (المعجم الكبير للطبراني، عتبان بن مالك الأنصاري، رقم الحديث: ۱٤۷٥۳).

(٤) حدثنا شيبان بن فروخ، حدثنا سليمان يعني ابن المغيرة، قال: حدثنا ثابت، عن أنس بن مالک، قال: حدثني محمود بن الربيع، عن عتبان بن مالک، قال: قدمت المدينة، فلقيت عتبان، فقلت: حديث بلغني عنک، قال: أصابني في بصري بعض الشيئ، فبعثت إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم أني أحب أن تأتيني فتصلي في منزلي،فأتخذه مصلى، قال: فأتى النبي صلى الله عليه وسلم، ومن شاء الله من أصحابه، فدخل وهو يصلي في منزلي وأصحابه يتحدثون بينهم، ثم أسندوا عظم ذلک وكبره إلى مالک بن دخشم، قالوا: ودوا أنه دعا عليه فهلک، ودوا أنه أصابه شر، فقضى رسول الله صلى الله عليه وسلم الصلاة،....... (صحيح مسلم، كتاب الإيمان، باب: من لقي الله بالإيمان، رقم الحديث: ۳۳).

(٥) فتح الباري: ۱/۶۷٤ عمدة القاري: ٤/۲٤۷.

ته په خپل كور كښې كوم ځائې غواړې چه زه مونځ اوكړم؟ حضرت عتبان رضي الله عنه اوفرمائيل چه ما حضورپاك ته دَ كور يو كوټ طرف ته اشاره اوكړه نورسول الله ﷺ اودريدو او مونځ شروع كولو دَپاره ئې تكبير يعنې الله اكبر ئې اووئيلو. مونږ هم اودريدو او حضورپاك مونږ (خپل شاته يو) صف كښې اودرولو. حضورپاك دوه ركعته مونځ اوكړو او سلام ئې اوګرځولو.

په دوو مختلفو مقاماتو كښې دَ نبي d مختلف عمل:

قوله: فَلَمْ يَجْلِسْ، دَ حضرت عتبان بن مالك رضي الله عنه كور ته تشريف راوړلو واقعه كښې دي چه حضورپاك دَ هغه په كور كښې كينه ناست بلكه كور ته رسيدو سره ئې تپوس اوكړو چه وايه دَ كور په كومه حصه كښې په ما باندې مونځ كول غواړې. او حضورپاك ﷺ يوځل داسې دَ حضرت ام سليم رضي الله عنها په كور كښې هم مونځ اداكړې وو نو هلته رسيدو سره ئې مونځ نه وو اداكړې بلكه هلته ئې اول خوراك اوكړو بيائې مونځ كړې وو.

نو په دواړو واقعاتو كښې دَ عمل دَ فرق وجه دا معلوميږي چه دَ حضرت عتبان بن مالك رضي الله عنه كور ته دَ تشريف راوړلو مقصد هلته صرف هم مونځ اداكول وو. لهذا هلته په رسيدو سره ئې اصلي مقصد پوره كړو هغې نه پس ئې ورسره خوراك هم اوكړو. اودَ حضرت ام سليم رضي الله عنها دَ طرف نه خو دعوت هم دَ خوراك ملاؤ شوې وو لهذا دَ هغې كورته په رسيدو سره ئې اول خوراك اوكړو او بيا ئې دې سره سره دَهغې په درخواست باندې دَ بركت دَ پاره مونځ هم اداكړو.[1]

حضرت عبدالله بن ام مكتوم رضي الله عنه ته خو په كور كښې دَمونځ كولو اجازت نه وو ملاؤ شوې بيا ده ته څنګه ملاؤ شو؟: دلته يو سوال پيدا كيږي چه ابن ام مكتوم رضي الله عنه هم حضورپاك نه په كوركښې دَ مونځ اداكولو اجازت غوښتې وو او حضرت عتبان رضي الله عنه هم اجازت اوغوښتو ليكن حضورپاك ابن ام مكتوم رضي الله عنه ته اجازت ورنه كړو او ده ته ئې اجازت وركړو، دَدې فرق څه وجه ده؟

نودَدې جواب دادې چه ابن ام مكتوم رضي الله عنه پيدائشي نابينا وو دَداسې بنده حسيات ډير تيز وی دَ هغه دَ پاره تلل راتلل مشكل نه وو، آسان وو، په دې وجه ئې هغه ته اجازت ورنه كړو په خلاف دَ ده چه دې پيدائشي نابينا نه وو اول ئې نظر كمزورې شو بيا دغه دَ نظر كمزورې زياتيدله نودَ هغه دَ پاره زيات مشقت وو په دې وجه هغه ته اجازت ملاؤ شو.

دويم جواب دادې چه ابن ام مكتوم رضي الله عنه دَ مسجد نبوی نه دَ تخلف اجازت غوښتې وو او دوی دَ محلې دَ جمات نه دَ تخلف اجازت اخستې وو.

دريم جواب دا دې چه دَ ابن ام مكتوم رضي الله عنه تعلق دَ نبی كريم ﷺ سره په نسبت دَ حضرت عتبان بن مالك رضي الله عنه زيات وو په دې وجه هغه ته اجازت ملاؤ نه شو.

څلورم جواب دادې چه دَ سورت عبس دَ نازليدلو نه پس به حضورپاك دَ ابن ام مكتوم رضي الله عنه ډير زيات خيال ساتلو هم دَدې په وجه ئې هغه دَ خپل ځان نه لرې كول مناسب نه ګنړل.

---

[1] فتح الباري: ۱/ ۶۷۴ عمدة القاري: ۴/ ۲۴۷.

پنځم جواب دادې چه ابن ام مکتوم ﷺ ته ئې په عزيمت باندې د عمل کولو دعوت ورکړو او حضرت عتبان ﷺ ته ئې په رخصت باندې د عمل کولو اجازت ورکړو.

قوله: حَتّٰى دَخَلَ: دا د کشميهنی روايت دې په نورو رواياتو کښې د "حين دخل" الفاظ هم ملاويږی. په دې صورت کښې به معنی دا شی چه حضورپاك د هغه په کور کښې داخليدو پورې چرته به ځائی کښې کيناستو بلکه نيغ ئې د هغه کور ته تشريف يوړو. ([1])

قوله: قَالَ وَحَبَسْنَاهُ عَلَى خَزِيرَةٍ صَنَعْنَاهَا لَهُ: حضرت عتبان بن مالك ﷺ اووئيل چه ما حضورپاك د حليم (خوړلو) د پاره ايسار کړو چه مونږ په (خاص توګه) د حضورپاك د پاره تيار کړې وو.

قوله: وَحَبَسْنَاهُ: د دې معنی ده چه مونږ حضورپاك د واپس کيدو نه منع کړو. ([2])

د خَزِيرَة **معنی:** خَزِيرَةٍ، د خاء په فتحې او زاء کسرې سره د عربو د يو قسم خوراك نوم دې. د کوم د پخوولو طريقه دا وه چه د غوښې به ورې ورې ټکرې جوړې کړې شی او بيا به ئې هغه په اوبو کښې پخولې چه کله به ښه پخې شوې نو د پاسه به ئې پرې اوړه دوړول. ([3])

قوله: قَالَ: فَثَابَ فِي الْبَيْتِ رِجَالٌ مِنْ أَهْلِ الدَّارِ ذَوُو عَدَدٍ، فَاجْتَمَعُوا، فَقَالَ قَائِلٌ مِنْهُمْ: أَيْنَ مَالِكُ بْنُ الدُّخَيْشِنِ أَوِ ابْنُ الدُّخْشُنِ؟ فَقَالَ بَعْضُهُمْ: ذَلِكَ مُنَافِقٌ لَا يُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ:

حضرت عتبان ﷺ اووئيل چه بيا د محلې يو څو کسان راغله راجمع شو بيا په هغوی کښې يو وينا کونکی اووئيل چه مالك بن دخيشن يا مالك بن دخشن چرته دې؟ نو په هغوی کښې چا اووئيل چه هغه خو منافق دې د الله او د هغه رسول ﷺ سره محبت نه لری.

قوله: فَثَابَ فِي الْبَيْتِ رِجَالٌ، په عام توګه دستور دا وی چه يو بزرګ چرته تشريف راوړی نو خلق د هغه د زيارت، مصافحې او ملاقات د پاره حاضريږی. نو دلته هم داسې اوشو چه د حضرت عتبان ﷺ په کور کښې خلق راجمع شو او ولې به نه راجمع کيدل؟ هلته خود صحابه کرامو محبوب ترين هستی رسول الله ﷺ تشريف راوړې وو.

قوله: فَثَابَ، معنی جمع کيدل او راتلل دی. ([4])

قوله: مِنْ أَهْلِ الدَّارِ، د دې نه مراد محله ده لکه څنګه چه په يو بل حديث شريف کښې هم د "دار" نه محله مراد اخستې شوې ده. ([5])

قوله: فَقَالَ قَائِلٌ مِنْهُمْ، دا وينا کونکې څوك وو؟ د دې باره کښې وضاحت نه ملاويږی.

---

[1]) فتح الباری: ۱/ ٦٧٤ عمدة القاری: ٤/ ٢٤٧.
[2]) فتح الباری: ۱/ ٦٧٤ عمدة القاری: ٤/ ٢٤٧.
[3]) فتح الباری: ۱/ ٦٧٥ عمدة القاری: ٤/ ٢٤٧.
[4]) عمدة القاری: ٤/ ٢٤٩.
[5]) عمدة القاری: ٤/ ٢٤٩.

صحیح لفظ "الدخیشن" نه بلکه "الدخیشم" دی.

قوله: ابن الدُّخَیْشِنِ أوابن الدُّخشُنِ؟ ، دَدې دواړو اسمونو په مینځ کښې دَ کلمې او مطلب دادې چه راوئ حدیث ته شك شوې دې چه دا اسم تصغیر سره "الدُّخَیْشِن" دې یا تصغیر نه بغیر "الدُّخشُنِ". نو په دې باره کښې خان پوهه کړئې چه په دې اسماء کښې دواړه لغات صحیح نه دی ځکه چه صحیح لفظ "ابن الدُّخَیْشِم او ابنُ الدُّخشُم" دې. یعنی دَ نوم په آخره کښې میم دې نه چه نون. لکه چه دَ صحیح مسلم په روایت کښې مالك بن دخشم ذکر دې. او امام طبرانی رحمه الله هم دَ احمد بن صالح رحمه الله نه نقل کړی دی چه صحیح په میم سره دې یعنی دخشم.[1]

قوله: فَقَالَ بَعْضُهُمْ، دَدغه قائل باره کښې داخبره ملاویږی چه دا دَ حدیث راوی حضرت عتبان رضی الله عنه وو. علامه ابن عبدالبر رحمه الله په التمهید کښې دا خبره ذکر کړې ده چه هغه سړې چاچه نبی کریم ﷺ سره دَ منافقانو نه دَ یو سړی دَ قتل کولو باره کښې غوږ کښې پټه خبره اوکړه هغه عتبان وو. اوهغه سړې دَ کوم طرف ته چه دَ نفاق اشاره اوکړې شوه هغه مالك بن دخشن وو.[2]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ابن عبدالبر رحمه الله دَدې خبرې دَ ذکرکولو نه پس دَ حضرت عتبان رضی الله عنه مذکوره حدیث شریف ذکرکوی. حالانکه دَ هغوی په دې دعوئ چه نبی کریم ﷺ سره غوږ کښې پټه خبره کونکې سړې عتبان وو، باندې هیڅ دلیل نشته دې.[3]

ابن حجر رحمه الله نور فرمائی چه المغازي لابن اسحاق کښې داخبره ذکر ده چه نبی کریم ﷺ مالك (بن دخشم) او معن بن عدی رضی الله عنهما مسجد ضرار سوزولو دَ پاره لیږلی وو. حضورپاك دغه دواړه حضرات دَمنافقانو جوړکړې شوی جمات ته اور لګولو دَ پاره لیږل دَدې خبرې دلیل دې چه دا دواړه حضرات دَنفاق دَ تهمت نه بری دی. یا چه دَ کوم نفاق دَ هغوی طرف ته تهمت لګولې شوې وو هغه نفاق دکفر والا نفاق نه وو نو بیا صحابه کرامو رضی الله عنهم هغوی داسې ځکه ګڼړلې وو چه دوی منافقانو سره څه تعلقات لرل دَ کوم په وجه چه هغوی هم دَ منافقانو په صف کښې شامل اوګڼړلې شول. حالانکه په مدینه کښې اوسیدونکی منافقان دَ قبیلهٔ اوس اوخزرج نه وو نو هغوی سره دَمعاشرتی تعلقات خو ئې وو. دَدې نه علاوه دَ یوې بلې خبرې احتمال هم دې چه هغه وخت دَ هرمنافق سړی حالت دَ نفاق په تولو باندې ښکاره نه وو لهذا عین ممکن ده چه دَحضرت مالك بن دخشم چه دَ چا سره تعلقات وو هغه دَ دوی په نظر کښې منافق نه وو اودَ نورو په نظرکښې منافق وو.[4]

---

[1] فتح الباري: ۶۷۵/۱ عمدة القاري: ۲۴۹/۴.

[2] وأما الرجل الذی سار رسول الله صلى الله علیه وسلم فهو عتبان بن مالك، الرجل المتهم بالاتفاق والذی جرى فیه هذا الكلام هومالك بن الدخشم. (التمهید لابن عبدالبر، تابع حرف المیم، تابع لمحمد بن شهاب الزهری، الحدیث السابع والثلاثون: ۱۰/۱۴۹).

[3] فتح الباري: ۶۷۵/۱ عمدة القاري: ۲۴۹/۴.

[4] فتح الباري: ۶۷۵/۱.

ابن حجر رحمه الله يو بل جواب ليکلې دې چه ممکن ده د دغه تعلقاتو په حواله د هغه حاطب (بن ابي بلتعه) طرف ته څه عذر وي.[1]

الغرض دا خبره يقيني ده چه حضرت مالك بن دخشم رضي الله عنه منافق نه وو ګنی نبی کريم ﷺ به د هغه براءت نه کولو.

قوله: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لاَتَقُلْ ذَلِكَ، أَلاَتَرَاهُ قَدْقَالَ: لاَإِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، يُرِيدُ بِذَلِكَ وَجْهَ اللَّهِ" قَالَ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: فَإِنَّانَرَى وَجْهَهُ وَنَصِيحَتَهُ إِلَى الْمُنَافِقِينَ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "فَإِنَّ اللَّهَ قَدْ حَرَّمَ عَلَى النَّارِمَنْ قَالَ: لاَإِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، يَبْتَغِي بِذَلِكَ وَجْهَ اللَّهِ:

نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل داسې مه وايئ آيا تاسو نه ګورئ چه هغه صرف د الله تعالى د رضا د پاره لا اله الا الله وائي. نو دغه سړي اووئيل چه الله او د هغه رسول ډير ښه پوهيږي مونږ خو د ده توجه او همدردي د منافقانو سره ګورو. رسول الله ﷺ اوفرمائيل الله تعالى په هر هغه سړي باندې جهنم حرام کړې دې چه د الله تعالى د راضى کولو د پاره لا اله الا الله اووائي.

قوله: فَإِنَّانَرَى وَجْهَهُ: په دې جمله کښې د "وجهه" نه مراد توجه ده. يعنى مونږ د هغه توجه د

---

[1]) فتح البارى: ۶۷۵/۱. حافظ ابن حجر رحمه الله په خپل دې قول کښې د حاطب بن ابى بلتعه چه د کوم عذر طرف ته اشاره کړې ده د هغې نه مراد هغه قصه ده په کوم کښې چه حاطب بن ابى بلتعه د غزوه احد په موقع د مکې د مشرکانو طرف ته د جنګ خبر رسولو کوشش کړې وو. بيا چه کله حضرت عمر فاروق رضي الله عنه اجازت اوغوښتو چه اې د الله رسوله! د ده سټ دې والوزولى شي نو حضورپاك اوفرمائيل چه نه دا د اصحاب بدر نه دې. د چا چه ټول ګناهونه الله تعالى معاف کړې دي. او هغه په خبر ورکولو کښې دا عذر بيان کړې وو چه اې د الله رسوله! دا وجه هيڅ کله نه ده چه په الله او د هغه په رسول باندې زما ايمان باقي پاتې نه وو بلکه زما مقصد صرف دومره وو چه په قريشو به زما دا يو احسان اوشي د کوم په وجه چه به هغوى هلته زما د بال بچ حفاظت کوى. نو نبى کريم ﷺ د هغه د دې قول تصديق اوکړو او هغه ئې برى کړو. پوره قصه د عام فائدې د خاطره دلته نقل کولې شي: عن على رضى الله عنه قال بعثنى رسول الله صلى الله عليه وسلم وأبا مرثد الغنوى والزبير بن العوام وكلنا فارس، قال: انطلقوا حتى تأتوا روضة خاخ، فإن بها امرأة من المشركين معها كتاب من حاطب بن ابى بلتعة إلى المشركين ، فادركناها تيسير على بعير لها حيث قال رسول الله صلى الله عليه وسلم فقلنا: الكتاب؟ فقالت: ما معنا كتاب، فأنضناها، فالتمسنا، فلم نر كتاباً، فقلنا: ماكذب رسول الله صلى الله عليه وسلم، لتخرجن الكتاب أو لنجردنک،فلما رأت الجد أهوت إلى حجزتها وهى محتجزة بكساء، فأخرجته فانطلقنا بها إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم، فقال عمر: يارسول الله! قدكان الله ورسوله والمؤمنين، فدعنى فلأضرب عنقه، فقال النبى صلى الله عليه وسلم ماحملک على ماصنعت؟ قال حاطب: والله ما بى أن لا أكون مؤمنا بالله ورسوله صلى الله عليه وسلم، أردت أن يكون لى عندالقوم يد يدفع الله بها عن أهلى ومالى وليس أحد من أصحابک إلا له هناک من عشيرته من يدفع الله به عن أهله وماله، فقال النبى صلى الله عليه وسلم: صدق، ولا تقولوا له إلا خيرا، فقال عمر: أنه قد خان الله ورسول له والمؤمنين، فدعنى فلأضرب عنقه، فقال: أليس من أهل بدر، فقال: لعل الله اطلع إلى أهل بدر، فقال: اعملوا ما شئتم، فقد وجبت لكم الجنة أو فقد غفرت لكم، فدمعت عيناعمر، وقال: الله ورسوله أعلم. (صحيح البخارى، كتاب المغازى، باب: فضل من شهدبدرا، رقم الحديث:۳۹۸۳).

منافقانو طرف ته گورو.(۱)

قوله: وَنَصِيحَتَهُ إِلَى الْمُنَافِقِينَ: علامه کرماني رحمه الله ليکلي دي چه که چرته دلته څوك اشکال اوکړي چه په دې جمله کښې د"نصيحته" صله "إلی" صحيح نه ده ځکه چه د دې صله لام استعماليږي إلی نه نو د دې جواب دا دې چه نصح په دې مقام باندې د إلی معنې ته متضمن دې.(۲)

حافظ ابن حجر رحمه الله د علامه کرماني جواب نقل کولو نه پس ليکلي دي چه دا جمله "إلي المنافقين" د "وجهه" سره متعلق کړې شي نو بيا هيڅ اشکال نشته، ځکه چه د "وجهه" صله "إلي" استعماليږي او په دې صورت کښې که د"نصيحته" صله محذوف اوګنړلې شي نو خبره به صحيح شي.(۳)

په دې باندې علامه عيني رحمه الله په حافظ صاحب باندې هم رد کولو سره دا فرمائي چه دومره خبره کافي ده چه په دې جمله کښې "إلی المنافقين" د "وجهه" سره متعلق کړې شي او په دې باندې "نصيحته" عطف کړې شي د دې نه پس د نورې وينا کولو ضرورت نشته چه "نصيحته" صله محذوف اوګنړلې شي نو خبره به صحيح شي. ځکه چه معطوف خو د معطوف عليه په حکم کښې وي د دې وجې نه د معطوف د پاره د جدا صلې محذوف راويستلو حاجت نشته دې.(۴)

شيخ الحديث صاحب نور الله مرقده فرمائي که چرې دې حضراتو د عغه په نه راتلو باندې د غصې په وجه دا خبره اوکړه نو په دې کښې هيڅ خبره نشته، په غصه کښې داسې کيږي او که چرې غصه نه وه بلکه په واقع کښې ئې داسې ګنړلو سره دا اووئيل نو هغوی ته به معلومه نه وه او حضور پاك ته به د وحی په ذريعه معلومه شوې وی. په دې وجه حضور پاك "لا تقل ذلك، ألا تراه قد قال: لا إله إلا الله، يريد بذلك وجه الله" اوفرمائيل.(۵)

قوله: قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: ثُمَّ سَأَلْتُ الْحُصَيْنَ بْنَ مُحَمَّدٍ الأَنْصَارِيَّ - وَهُوَ أَحَدُ بَنِي سَالِمٍ - وَهُوَ مِنْ سَرَاتِهِمْ، عَنْ حَدِيثِ مَحْمُودِ بْنِ الرَّبِيعِ الأَنْصَارِيِّ: «فَصَدَّقَهُ بِذَلِكَ»:

ابن شهاب رحمه الله اووئيل چه بيا ما د حصين بن محمد انصاري نه چه د قبيله بنو سالم يو کس او د هغوی د سردارانو نه دې د محمود بن ربيع د دې حديث باره کښې تپوس اوکړو نو هغوی د دې تصديق اوکړو.

قوله: قَالَ ابْنُ شِهَابٍ، د دې نه د يو نوی تعليق بيان نه دې بلکه دا قول په سابقه سند سره

---

(۱) فتح الباري:۱/۶۷۶ عمدة القاري: ۴/۲۵۰.
(۲) شرح الکرماني: ۴/۸۵.
(۳) فتح الباري: ۱/۶۷۶.
(۴) عمدة القاري: ۴/۲۵۰.
(۵) تقرير بخاري شريف: ۳/۱۵۸.

هغوی ارشاد کړي دي.(۱) ليکن د علامه عينی رحمه الله خيال دې طرف ته دي چه دا تعليق دې
څکه چه د "قال ابن شهاب" شروع د حرف عطف نه بغير ده.(۲)

قوله: قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: ثُمَّ سَأَلْتُ، شيخ الحديث مولانا محمد زکريا کاندهلوی رحمه الله فرمائی چه د سوال وجه داده چه د روايت نه په ظاهره اهمال عمل په پوهه کښې راځی او نورو روايتونه عمل غواړی نو هغوی سوال اوکړو چه آيا دا صحيح محفوظ دې يا د نسيان طريان شوي دې.(۳)

قوله: مِنْ سَرَاتِهِمْ، داجمع ده دَدې واحد "سری" دې، دَدې معنی "من خيارهم" يعنی د قوم د سردارانو نه يو.(۴)

په روايت باب کښې د محمود بن الربيع رحمه الله د حضرت عتبان بن مالک رضي الله عنه نه د سماع صراحت نشته دې. په دې وجه امام بخاری دويم سند راوړلو سره د محمود بن الربيع تصديق اوکړو. د صحيحين نه علاوه دَدې حديث په دويم طريق کښې د محمود بن الربيع د حضرت عتبان بن مالک رضي الله عنه نه د سماع تصريح شته.(۵)

د روايت د ترجمة الباب سره مطابقت: دَمذکوره حديث شريف د ترجمة الباب سره مناسبت اومطابقت پوره شان سره واضح دې چه ترجمة الباب او روايت دواړو کښې په خپل کور کښې په قائميدونکي جمات کښې په جمع سره د مونځ ادا کولو ذکر دې.(۶)

د حديث شريف نه مستنبط شوی فوائد او احکام: دَمذکوره حديث شريف نه ډيرزيات فوائد او احکام معلوميږی په کوم کښې چه څه دلته لاندې نقل کولې شی:

① د عذر د وجې د جمع نه پاتې کيدل او په کورکښې خپل مونځ کول جائز دی.(۷)

② په نيکانو خلقو په يو ځائی کښې په مونځ کولو سره برکت حاصلول جائز دی.(۸)

③ د برکت د حاصلولو په غرض څوک خپل کور ته راوغوښتې شی نو هغه له هم پکاردی چه دَده دعوت قبول کړی.(۹)

④ د مذکوره حديث نه د وعدې پوره کولو او سرته د رسولو هم علم کيږی.(۱۰)

---

(۱) فتح الباري: ۶۷۶/۱.
(۲) عمدة القاري: ۲۵۰/۴.
(۳) تقرير بخاري شريف: ۱۵۸/۲.
(۴) فتح الباري: ۶۷۶/۱ عمدة القاري: ۲۵۰/۴.
(۵) عمدة القاري: ۲۵۱/۴.
(۶) عمدة القاري: ۲۴۶/۴.
(۷) شرح الکرماني: ۸۶/۴ عمدة القاري: ۲۵۱/۴.
(۸) شرح الکرماني: ۸۶/۴ التوضيح لابن الملقن: ۴۴۲/۵ عمدة القاري: ۲۵۱/۴.
(۹) شرح الکرماني: ۸۶/۴ التوضيح لابن الملقن: ۴۴۲/۵ عمدة القاري: ۲۵۲/۴.
(۱۰) شرح الکرماني: ۸۶/۴ عمدة القاري: ۲۵۲/۴.

⑤ کله چه کور ته څوك نيك بنده يا عالم وغيره راوغوښتې شى نودَ هغه دَ خوراك څښاك په څه ځيزسره اكرام هم كول پكاردى [١]
⑥ داهم معلوميږى چه دَ حاكم په وړاندې دَ يو فاسق وغيره باره كښې خبر وركول جائز دى. [٢]
⑦ دا هم معلومه شوه چه كله دَ جمعې وخت وى اودَ مونځ ګذارو نه څوك چرته غيب وى نو امام له پكاردى چه دَ هغه باره كښې تپوس پوښتنه اوكړى. [٣]
⑧ داهم معلومه شوه چه دَ يو كشر دَپاره خپل مشر دَ څه مصلحت په غرض خپل خوا لـه پـه راغوښتلو كښې څه بې ادبى يا حرج نشته دې. [٤]
⑨ دَ كور والو په رضا او اجازت سره دَميلمه دَ كوربه په كور كښې په جمع مونځ كول جائز دى. [٥]
⑩ دَ چاكورته دَ داخليدو اجازت اخستل پكاردى اګرچه راتلونكې سړې دَ هغوى پـه رابللو راغلې وى. [٦]
⑪ داهم معلومه شوه چه چرته يو بزرګ شخصيت راځى نودَ هغه دَ زيارت وملاقات دَ پاره حاضريدل پكاردى. [٧]
⑫ په كوركښې دننه يو ځائى دَ مونځ دَ پاره مستقل كولوكښې هيڅ حرج نشته. په خلاف دَ جمات چه هلته دَ يو مونځ ګذار يو ځائى مستقل كول مكروه دى. [٨]
⑬ دَ كوم سړى مرګ چه په توحيد باندې وى هغه به هميشه په دوزخ كښې نه وى. [٩]
⑭ دَ نابينا سړى دَ امامت جواز هم معلوميږى. [١٠]
⑮ دَ جمات نسبت دَ قوم طرف ته دَ كولو جواز هم معلوميږى. [١١]
⑯ دَ يو سړى په خپل ځان باندې دَ واقع كيدونكې مصيبت خبر وركول په شكايت كښې داخل نه دى. [١٢]

---

[١]) شرح الكرمانى: ٨٦/٤ عمدة القارى: ٢٥٢/٤.
[٢]) شرح الكرمانى: ٨٦/٤ التوضيح لابن الملقن: ٤٥٥/٥ عمدة القارى: ٢٥٢/٤.
[٣]) شرح الكرمانى: ٨٦/٤ التوضيح لابن الملقن: ٤٥٥/٥ عمدة القارى: ٢٥٢/٤.
[٤]) شرح الكرمانى: ٨٦/٤ التوضيح لابن الملقن: ٤٤٦/٥ عمدة القارى: ٢٥٢/٤.
[٥]) شرح الكرمانى: ٨٦/٤ التوضيح لابن الملقن: ٤٥٣/٥ عمدة القارى: ٢٥١/٤.
[٦]) شرح الكرمانى: ٨٦/٤ التوضيح لابن الملقن: ٤٤٦/٥ عمدة القارى: ٢٥٢/٤.
[٧]) شرح الكرمانى: ٨٦/٤ عمدة القارى: ٢٥٢/٤.
[٨]) شرح الكرمانى: ٨٦/٤ التوضيح لابن الملقن: ٤٥١/٥ عمدة القارى: ٢٥١/٤.
[٩]) شرح الكرمانى: ٨٦/٤ عمدة القارى: ٢٥٢/٤.
[١٠]) شرح الكرمانى: ٨٦/٤ عمدة القارى: ٢٥١/٤.
[١١]) شرح الكرمانى: ٨٦/٤ عمدة القارى: ٢٥٢/٤.
[١٢]) عمدة القارى: ٢٥١/٤.

⑥ په كوركښې جمات جوړول مباح دي ليكن دا جوړشوې جمات به شرعي جمات نه وي، لهذا دَدې خرڅول به جائز وي.[1]

۱۵ - بَابٌ: التَّيَمُّنِ فِي دُخُولِ الْمَسْجِدِ وَغَيْرِهِ

دا باب په جمات كښې ښي خپې سره دَ داخليدو او (جمات ته دَ داخليدو نه علاوه) دَ نورو كارونو دَ ښي طرف نه دَ شروع كولو باره كښې دې.

دَترجمة الباب تشريح: دَ ترجمة الباب تشريح كولو سره علامه كرماني رحمه الله ليكلي دي چه دَ لفظ "غيره" عطف نه په "دخول" باندې وي نه په "مسجد" باندې او دغه شان "التيمن" باندې به هم عطف نه وي.[2] حافظ ابن حجر رحمه الله هم دَ علامه كرماني رحمه الله والا قول اختيار كړې دې.[3] علامه عيني رحمه الله دَ دواړو حضراتو تحقيق ذكر كولو نه پس فرمائي چه دَدې خبرې هيڅ وجه نشته دې چه دَ لفظ "غيره" عطف په مسجد باندې اونه كړې شي بلكه دَدې عطف خو په مسجد باندې صحيح دې. نو اوس به مطلب دا شي چه كه مسجد وي او كه غير مسجد يعني كور وغيره هر دواړو ځايونو كښې دخول هم په ښي خپې سره كول پكاردي.[4]

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله هم دغه خبره ارشاد فرمائي: **قوله:** وغيره، دَدې عطف په دخول باندې دې او په مسجد باندې هم دَدې عطف كيدې شي. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه په دخول باندې عطف كول زيات مفيد دي. حضرت شيخ صاحب رحمه الله فرمائي چه زما په نيزدويم احتمال (په مسجد باندې عطف كول) راجح دې او غرض دا چه دَ حضور پاك دَ ټولو امورو عموم كښې مسجد ته تلل هم شامل دي. مطلب دا چه دَمسجد نه علاوه په نورو متبرك ځايونو كښې هم دَ ښي طرف خيال ساتل پكاردي.[5]

دَ ترجمة الباب مقصد: حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائي چه ما په شروع كښې بيان كړې وو چه امام بخاري رحمه الله ۵۵ ابواب دَمساجد ذكر كړي دي او په دغه ابوابو كښې هغوى درې ځيزونه ذكر كوي. يو هغه افعال كوم چه په جمات كښې كول جائز دي. دويم دَ مسجد آداب او دريم هغه امور دكومو چه په جماتونو كښې كول دَ احترام خلاف دي. نو حضرت امام بخاري رحمه الله دلته دا ادب ذكر كړو چه جمات ته دَ داخليدو ادب دادې چه اول دې ښي خپه داخله كړې او دَدې وجه داده چه جمات متبرك ځائې دې او ښي خپه مكرم ده. لهذا دَ متبرك دَ پاره دې مكرم استعمال كړې شي او دَ جمات نه وتلو كښې دَدې خلاف يعني كسه خپه دې اول اوباسي.[6]

---

[1]) التوضيح لابن الملقن: ٤٤٢/٥.
[2]) شرح الكرماني: ٨٦/٤.
[3]) فتح الباري: ٦٧٨/٢.
[4]) عمدة القاري: ٢٥٢/٤.
[5]) الأبواب والتراجم: ٢١٢/٢.
[6]) تقرير بخاري شريف: ١٥٨/٢ سراج القاري: ٧/٣.

تعليق: وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ: «يَبْدَأُ بِرِجْلِهِ الْيُمْنَى فَإِذَا خَرَجَ بَدَأَ بِرِجْلِهِ الْيُسْرَى»
دَ تعليق ترجمه: حضرت ابن عمر رضي الله عنهما به جمات كښې دَ داخليدو په وخت اول خپله ښې خپه دننه كيخودله او كله چه به وتلو نو اول به ئې كسه خپه بهر راويستله.
دَتعليق تخريج: امام بخارى رحمه الله مرفوعاً هيڅ يوروايت نه دې پيش كړې. البته دَ صحابى عمل ئې دَدې عمل دَ پاره ذكر كړې دې. اوحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما چه به په سنت باندې په څومره سختئ سره عمل كونكې وو هغه دَنمر په شان ښكاره ده. البته دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما دَدې فعل تائيد دَ المستدرك للحاكم دَ يو روايت نه كيږي.(١) په كوم كښې چه حضرت انس رضي الله عنه دا فرمائى چه داعمل سنت دې چه كله ته جمات ته داخليږې نو دَ ښې خپې داخليدو سره شروع كوه او كله چه راوځې نو په كس قدم سره دَ وتلو شروع كوه.
اوس هم دا روايت ولې امام بخارى رحمه الله پيش نه كړو. نو دَدې جواب دادې چه داحديث دَهغوى دَ شرائطو مطابق نه وو. په دې وجه هغوى دَدې په ځائې دَحضرت ابن عمر رضي الله عنهما اثر پيش كولو باندې اكتفاء كړې ده.(٢)

شارحينو په خپلو كتابونو كښې داخبره ليكلې ده چه دَ صحابى رسول "من السنة كذا" ويل دَ نبى عليه السلام نه مرفوعاً ثبوت باندې محمول وى.(٣)
دَ تعليق مقصد: خپله مدعا ثابتولو دَپاره چونكه امام بخارى رحمه الله سره دَ هغه دَ شرائطو مطابق څه مرفوع حديث نه وو په دې وجه هغوى دا اثر دَ صحابى ذكركولو سره دَ خپلې قائم كړې شوې ترجمې اثبات كړې دې.
دَ تعليق دَ ترجمة الباب سره مطابقت: دَتعليق او دَ ترجمة الباب مطابقت دَ دواړو دَ مضمون نه بالكل ښكاره دى چه په دواړو كښې جمات ته داخليدل ښې خپې سره كيدل ذكر دى.(٤)

حديث باب [حديث نمبر ٤١٦]

٤٢٦- حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْأَشْعَثِ بْنِ سُلَيْمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ(٥) كَانَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- يُحِبُّ التَّيَمُّنَ مَا اسْتَطَاعَ فِي شَأْنِهِ كُلِّهِ فِي طُهُورِهِ وَتَرَجُّلِهِ وَتَنَعُّلِهِ.

دَ حديث ترجمه: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى چه څومره به ممكن كيدې شوه دومره به رسول

(١) حدثنا أبوحفص عمر بن جعفر المفيد البصري ثنا أبوخليفة القاضي ثنا أبوالوليد الطيالسي ثنا شداد أبوطلحة قال سمعت معاوية بن قرة يحدث عن انس بن مالك أنه كان يقول: "من السنة إذا دخلت المسجد أن تبدأ برجلك اليمنى، وإذا خرجت أن تبدأ برجلك اليسرى" هذا حديث صحيح على شرط مسلم. (المستدرك على الصحيحين، كتاب الصلاة، رقم الحديث: ٧٩١، ١/٢١٨).
(٢) فتح البارى: ١/٦٧٨.
(٣) فتح البارى:١/٦٧٨عمدة القارى: ٤/٢٥٢.
(٤) عمدة القارى: ٤/٢٥٢.
(٥) مرتخريجه تحت الحديث، الرقم: ١٨٦، كشف البارى، كتاب الوضوء، باب: التيمن في الوضوء والغسل.

الله ﷺ په هركار كښې دَ ښي طرف نه شروع خوښوله. مثلاً طهارت حاصلولو كښې، ګمنځه كولو كښې او پيزار اچولو كښې.

تراجم رجال: دَ مذكوره حديث شريف په سند كښې ټول شپږ رجال دي:

① **سليمان بن حرب** رحمه الله: دا سليمان بن حرب بن بجيل بصري رحمه الله دې. دَدوى تفصيلي ذكر كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: من كره أن يعود في الكفر كما يكره أن يلقى في النار من الإيمان كښې تيرشوې دې.[1]

② **شعبه** رحمه الله: دا شعبه بن الحجاج رحمه الله دې. دَدوى تفصيلي ذكر كشف البارى، كتاب الإيمان ،باب: من سلم المسلمون من لسانه ويده كښې تيرشوې دې.[2]

③ **الأشعث بن سليم** رحمه الله: دا الاشعث بن سليم رحمه الله دې. دَدوى تفصيلي ذكر كشف البارى، كتاب الوضوء باب: التيمن في الوضوء والغسل دَ دويم حديث لاندې تيرشوې دې.[3]

④ **أبيه** رحمه الله: دا سليم بن الاسود المحاربي رحمه الله دې. دَدوى تفصيلي ذكر كشف البارى، كتاب الوضوء باب: التيمن في الوضوء والغسل دَ دويم حديث لاندې تيرشوې دې.[4]

⑤ **مسروق** رحمه الله: دا مسروق بن الاجدع بن مالك همداني كوفي رحمه الله دې. دَدوى تفصيلي ذكر كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: علامة النفاق، الحديث الثاني كښې تيرشوې دې.[5]

⑥ **عائشه** رضي الله عنها: دا ام المؤمنين حضرت عائشه بنت ابى بكرصديق رضي الله عنهما ده. دَدوى تفصيلي ذكر كشف البارى، كتاب بدء الوحى دَ دويم حديث لاندې تيرشوې دې.[6]

دَ حديث شرح:

قوله: عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ التَّيَمُّنَ مَا اسْتَطَاعَ فِي شَأْنِهِ كُلِّهِ، فِي طُهُورِهِ وَتَرَجُّلِهِ وَتَنَعُّلِهِ»:

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه څومره به ممكن كيدې شوه روسل الله ﷺ به دومره خپل هركار دَ ښي طرف نه شروع كول خوښول. (مثلاً) طهارت حاصلولو كښې، ګمنځل كولو كښې او پيزار اچولو كښې.

دَ مذكوره حديث شريف تفصيلي شرح كتاب الوضوء، باب: التيمن في الوضوء والغسل دَدويم حديث لاندې تيره شوې ده. هلته مراجعت اوكړئ. دلته څه ضروري تشريح ذكركولې شي.

[1] كشف البارى: ١٠٥/٢.
[2] كشف البارى: ٦٧٨/١.
[3] كشف البارى، كتاب الوضوء، باب: التيمن في الوضوء والغسل.
[4] كشف البارى، كتاب الوضوء، باب: التيمن في الوضوء والغسل.
[5] كشف البارى: ٢٨١/٢.
[6] كشف البارى: ٢٩١/١.

قوله: يُحِبُّ التَّيَمُّنَ، دَ حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها چونكه حضور پاك سره ډير زيات محبت وو په دې وجه هغې ته دَ نبى اكرم ﷺ دَ محبوب عادت معلوميدل قرين قياس دى. اوس دا علم څنګه اوشو؟ نو دَدې جواب دادې چه دا علم پخپله دَ نبى كريم ﷺ په خودلو سره كيدل هم ممكن دى او دَ هغوى قرائنو نه اندازې لګولو په ذريعه هم ممكن دى. والله اعلم بالصواب. (۱)

حضرت شيخ الحديث رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله دَدې روايت دَ عموم نه تيمن فى دخول المسجد باندې استدلال كړې دې چه كله ئې په هر څيز كښې ښى طرف خوښولو نو جمات ته دننه داخليدل كوم چه يو متبرك عمل دې په دې كښې به ئې په درجهٔ اولى دا خوښولو. (۲)

قوله: مَا اسْتَطَاعَ، دَ كلمهٔ ما باره كښې علامه عينى رحمه الله فرمائى چه دا موصوله هم كيدې شى او دَ تيمن نه بدل هم كيدې شى او دَ ما دام په معنى هم كيدې شى. (۳)

ابن حجر رحمه الله فرمائى چه دې لفظ سره دا احتمال راوځى چه مقصود دَ هغه څيزونو نه احتراز كول دى كوم چه كول په شرعى توګه په ښى لاس سره صحيح نه دى. مثلاً دَ جمات نه وتل، ليټرين كښې داخليدل وغيره. دغه شان ناخوښه كارونه هم په ښى لاس سره نه شى كولې لكه استنجاء كول، دَ پوزې نه بلغم صفا كول وغيره. (۴)

قوله: فِى شَأْنِهِ: دَدې جار مجرور تعلق به التيمن سره وى دا هم ممكن ده چه دَ المحبة سره متعلق وى او دَدې هم احتمال دې چه دواړو سره متعلق وى، دَتنازع په توګه. (۵)

قوله: طُهُورِهِ: دا لفظ دَ طاء په ضمې سره دې. دَدې معنى طهارت حاصلول دى. يعنى اودس كول. او "ترجُله" معنى ويښتو كښې ګمنزل كول دى. او "تنعُله" معنى په خپو پيزار اچول دى. "طُهوره" په تركيبى اعتبار سره دَ "شأنه" نه بدل دې. بدل البعض من الكل دَ قبيل نه.

علامه عينى رحمه الله په دې تركيبى احتمال باندې يو سوال او دَهغې جواب هم نقل كړې دې. كه چرې دا بدل البعض من الكل دَ قبيل نه اوګرځولې شى نو په دې سره بعضې امورو كښې دَ ښى طرف اهتمام كول مستحب كيدل ثابت شى. حالانكه دَ "فى شأنه" دَ دې تاكيد "كله" تقاضا داده چه استحباب دې په ټولو امورو كښې وى نه چه په بعضې امورو كښې. نو دَدې جواب دادې چه دا تخصيص بعد التعميم دې. او په دې دريو كارونو كښې دَ ښى طرف نه شروع كول

---

(۱) فتح البارى: ۶۷۸/۱ علامه عينى رحمه الله دا خبره دَ سوال او جواب په انداز كښې ذكر كړې ده چه محبت خو امرباطنى دې. نو حضرت عائشه رضي الله عنها په دغه امر باطنى څنګه خبر شوه؟ نو دَدې ئې هم هغه جواب ذكر كړې دې كوم چه پورته ذكر شو. (عمدة القارى: ۲۵۳/۴)

(۲) الكنز المتوارى: ۱۲۵/۴ الأبواب والتراجم: ۲۱۲/۲ تقرير بخارى شريف: ۱۵۸/۲.

(۳) عمدة القارى: ۲۵۳/۴.

(۴) فتح البارى: ۶۷۸/۱

(۵) عمدة القارى: ۲۵۳/۴.

دَدې شرف اودَدې دَ اهميت دَ وجې نه دې. بل بدل دی بدل الكل من الكل اوګرځولې شی نوبياهم صحيح دې. په دې توګه چه "طهور" دَ ټولو عباداتو كنجی ده. "ترجل" يعنی دګمنزلو تعلق دَ سر سره دې او دَ "تنعل" تعلق دَ خپو سره دې اودَ انسان ټول احوال يا خودَده دَ پورته حصې سره متعلق وی يا لاندې حصې سره يا دَ اطرافو سره، نو په دې كښې ئی دَ هرحالت سره متعلق هم دَهغې په شان لفظ ذكركړو. دې دَ پاره چه دَ ټولو احوالو احاطه اوشی.([1])

دَ حديث مبارک دَ ترجمة الباب سره ربط: دَدې حديث دَ ترجمة الباب سره ربط ددې حديث شريف دَعموم په وجه دې ځكه چه ښی شانه كله كښې نورو كارونو سره جمات ته داخليدل هم دی.([2])

۱۶ - بَابٌ: هَلْ تُنْبَشُ قُبُورُ مُشْرِكِي الجَاهِلِيَّةِ، وَيُتَّخَذُ مَكَانُهَا مَسَاجِدَ لِقَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَعَنَ اللهُ اليَهُودَ اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ»

[ر: ۱۳۲۴]

وَمَا يُكْرَهُ مِنَ الصَّلاَةِ فِي القُبُورِ، وَرَأَى عُمَرُ بْنُ الخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يُصَلِّي عِنْدَ قَبْرٍ، فَقَالَ: «القَبْرَ القَبْرَ، وَلَمْ يَأْمُرْهُ بِالإِعَادَةِ»

داباب په دې باره كښې دې چه آيا دَ جاهليت دَمشركانو قبرونه كنستل اودَ هغې په ځائی جماتونه جوړول جائز دی؟ ځكه چه نبی كريم ﷺ ارشاد فرمائيلي دې چه دَ الله تعالى لعنت دې وی په يهوديانو باندې، ځكه چه هغوی دَ خپلو انبياؤ په قبرونو باندې جماتونه جوړكړل. او (دا باب په دې باره كښې دې چه) په قبرستان كښې مونځ كول صحيح نه دی. چنانچه يو ځل حضرت عمر رضی الله عنه حضرت انس رضی الله عنه (دَ لاعلمئ دَ وجې) دَ قبر سره په مونځ كولو باندې اوليدلو نو قبر قبر وئيلو سره ئی هغه خبردار كړو خودَ مونځ دَ واپس راګرځولو حكم ئی ورته اونه كړو.

دَ ترجمة الباب تشريح: امام بخاری رحمه الله باب قائم كړې دې: هل تنبش قبور مشركی الجاهلية ويتخذ مكانها مساجد، آيا دَ جاهليت دَ مشركانو قبرونه به وران كړې شی اودَ هغې په ځائی جماتونه جوړولی شی؟ "هل تنبش" ئی فرمائيلی دی او هل دَ استفهام دَپاره راځی دګوم معنی چه به داسې شی آيا داسې كيدلی شی؟ جواب به وی آوجی داسې كيدې شی. ليكن په عام توګه دَ شارحينو رائې داده چه دلته هل دَ قد په معنی دې. سوال جوړول او بيا دَ هغې جواب راويستل، ددې ضرورت نشته دې.

علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی: ﴿هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنسَانِ حِينٌ مِّنَ الدَّهْرِ﴾ په دې آيت كښې چه ځنګه

[1]) عمدة القاري: ٢٥٣/٤.
[2]) عمدة القاري: ٢٥٢/٤.

هل په معنی دَ قد دې دغه شان دلته هم هل دَ قد په معنی دې.(١) حضرت ابن عباس ﷺ، امام زجاج، امام فرّا او امام مبرد رحمهم الله ﴿هَلْ أَتَىٰ عَلَى الْإِنسَانِ حِينٌ مِّنَ الدَّهْرِ﴾ په دې آيت کښې هل دَ قد په معنی گرځولې دې.(٢) دلته هم دا دَ قد په معنی اخستې شي. اوس به دَدې مطلب دادې چه وی مشرکانو به دَ جاهليت قبرونه به ورانولی شی او هلته به جماتونه جوړولې شی.

ليکن حضرت شيخ الحديث صاحب ﷺ فرمائی چه دَ شارحينو رائې داده چه "هل" دَقد په معنی دې اودَدې وجه داده چه په روايت کښې دَمسجدنبوی دَ جوړولو ذکردې او په دې کښې تصريح ده چه دَ مشرکانو دَ قبرونو نبش کړې شوې وو نو بيا هل په خپل اصلی معنی اخستل غلط دی. په دې وجه دا دَ "قد" په معنی دې او زما په نيز قد په خپله اصل معنی دې لکه چه وړاندې به ئې بيان کړم.(٣)

قوله: لِقَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَعَنَ اللَّهُ الْيَهُودَ اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ»:(٤)

ترجمة الباب کښې يوه خبره ذکرکولونه پس امام بخاری ﷺ "لقول النبی صلی الله عليه وسلم: "لعن الله اليهود، اتخذوا قبور أنبيائهم مساجد" فرمائيلی دی.

په دې سلسله کښې حافظ ابن حجر، علامه قسطلانی اودَ دوی نه مخکښې علامه کرمانی رحمهم الله تقرير دَ استدلال دا کړې دې چه رسول الله ﷺ دَ لعنت تخصيص کړې دې دَ انبياء عليهم الصلاة والسلام په قبرونو باندې دَ جماتونه جوړونکو سره. دَدې نه معلومه شوه چه که دَ انبياؤ علهم السلام قبرونه نه وی بلکه دَ نورو قبرونه وی مثلاً دَ کافرانو قبرونه دی نودَ نبش نه پس هلته جمات جوړولو کښې به هيڅ قباحت نه وی.

دَ انبياؤ عليهم السلام په قبرونو باندې که چرې جمات جوړ کړې شی نودَ دوؤ حالاتونه به خالی نه وی يا خو به قبرباقی ساتلو سره جمات جوړولې شی نو إفضاء إلى الشرك به لازم شی.

---

(١) إرشادالساري: ٨٦/٢.

(٢) تنوير المقباس من تفسير ابن عباس، سورة الإنسان، رقم الآية:١، ٤٩٥/١. معانی القرآن وإعرابه للزجاج، سورة الإنسان، رقم الآية:١، ٢٥٧/٥. معانی القرآن للفراء، سورة الإنسان، رقم الآية:١، ٢١٣/٣دارالنصريه. و"هل" تخرج من حدالمسألة فتصير بمنزلة "قد" نحو: قوله عزوجل ﴿ هَلْ أَتَىٰ عَلَى الْإِنسَانِ حِينٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُن شَيْئًا مَّذْكُورًا﴾ المقتضب للمبرد، هذا باب أم، وأو، ٢٨٩/٣، وزارة الأوقاف لجنة إحياء التراث الإسلامی.

(٣) تقرير بخاری شريف: ١٥٨/٢.

(٤) دا تعليق امام بخاری ﷺ په نورو مقاماتو کښې موصولاً نقل کړې دې، وئی گورئی: حدثناموسی بن إسماعيل، حدثنا أبوعوانة، عن هلال هو الوزان، عن عروة، عن عائشة رضی الله عنها قالت:قال رسول الله صلی الله عليه وسلم فی مرضه الذی لم يقم منه: لعن الله اليهود والنصاری اتخذوا قبور أنبيائهم مساجد. لو لا ذلک أبرزقبره غير أنه خشی – أو خشی – أن يتخذ مسجدا: (صحيح البخاری، کتاب الجنائز، باب: ماجاء فی قبرالنبی صلی الله عليه وسلم، رقم الحديث: ١٣٩٠) وأيضًا بهذا السند حدثنا الصلت بن محمد، حدثنا أبوعوانة، عن هلال الوزان، عن عروة بن الزبير، ؤ عن عائشة رضی الله عنها، قالت:......... (صحيح البخاری، کتاب المغازی، باب: مرض النبی صلی الله عليه وسلم ووفاته، رقم الحديث): ٤٤٤١).

او كه چرې د انبياء كرامو عليهم الصلوة والسلام د قبرونو نبش اوكړې شي نوهغه به ورانولې شي نو سپكاوې به لازم شي په خلاف د كافرانو او مشركانود قبرونو چه د هغې په نبش كښې د سپكاوى هيڅ سوال نشته. هغه د احترام مستحق نه دى. لهذا د كافرانو او مشركانو د قبرونو په ځائې د نبش نه پس جمات جوړولو كښې هيڅ بديت نشته دې. او صالحين چونكه د انبياؤ عليهم الصلاة والسلام سره ملحق دى لهذا د انبياؤ په قبرونو باندې هم اود صالحينو په قبرونو باندې هم جمات جوړونكى به د لعنت مستحق وى.[1]

د لعنت په سبب كښې د علامه نووى رحمه الله تشريح: علامه نووى رحمه الله فرمائى چه د علماء كرامو د بيان مطابق د دې ممانعت مقصد دادې چه چرته د قبر په تعظيم كښې مبالغه اونه كړې شى اوخلق په خپله عقيده كښې خلل پيدا كولوسره په فتنه كښې پرينوځى. ځكه چه بيا هم دغه څيز كفر ته رسوى لكه څنګه چه په پخوانو امتونوكښې داسې شوى دى.[2]

د لعنت په سبب كښې د ملاعلى قارى رحمه الله تشريح: ملاعلى قارى رحمه الله ليكلى دى چه د لعنت سبب خو يا دا وو چه يهوديانو به د انبياؤ په قبرونو باندې تعظيمى سجدې كولې كوم چه شرك جلى وو. يا دا وو چه هغوى به د الله تعالى مونځ د انبياء په قبرونو كښې دهغوى قبرونو طرف ته توجه كولو سره ادا كولو چه عبادت د الله او تعظيم د انبياؤ. دواړه په يو ځائى سر ته اورسوى كوم چه شرك خفى وو ځكه چه په دواړو كښې حدود د اذن خداوندى نه متجاوز شوې وو. دا زمونږ ائمو كښې بعضې شارحينو ذكركړې دى.[3]

د لعنت په سبب كښې د حضرت ګنګوهى رحمه الله تشريح: ليكن حضرت ګنګوهى رحمه الله چه د استدلال كوم تقرير فرمائيلې دې هغه دادې چه حضورپاك لعنت فرمائيلې دې د تشبه بعبادة الأصنام د وجې نه. او تشبه به هله لازميږى چه كله به قربانى كيږى. لهذا چه د صالحينو او انبياؤ قبرونه وى او هغه برابر كړې شي يا دا چه د هغوى عظام راويستلى شى او په ادب او احترام سره چرته بل مقام كښې دفن كړى شى نو بيا هلته جمات جوړول هم جائز دى او تركومې چه تعلق دې د مشركانود قبرونو نو په هغې كښې نبش متعين اومقرردې. دهغوى هډوكى به راويستې شي او غورزولې به شى اوپه هغه ځائى به جمات جوړولې شى.[4]

علامه طحطاوى رحمه الله د مراقى الفلاح په حاشيه كښې دا ليكلى دى چه د ميزاب رحمت لاندې د حجر چه كوم ځائى دې هلته د حضرت اسماعيل عليه السلام قبر دې اود حجر اسود او مقام ابراهيم په مينځ كښې د ۷۰ انبياؤ عليهم الصلاة والسلام قبرونه دى. ليكن چونكه زمكه برابر كړې شوې ده اود قبر نشان باقى پاتې نه دې لهذا هلته جمات دې او په دې كښې څه

[1] شرح الكرمانى: ۸۸/٤ فتح البارى: ۶۷۹/۱ إرشادالسارى: ۸۷/۲.

[2] شرح النووى على صحيح مسلم، كتاب المساجد ومواضع الصلوة،باب: النهى عن بناء المسجد على القبور واتخاذ الصور: ۱۳/۵.

[3] مرقاة المفاتيح، كتاب الصلاة، باب المساجد ومواضع الصلاة: ۳۸۹/۲.

[4] لامع الدرارى: ۱۶۵/۱.

حرج او مضائقه نشته دي.(١)

دَ لعنت په سبب کښې دَ کشمیری رحمه الله تشریح: دې نه علاوه حضرت مولانا محمدانورشاه کشمیری صاحب دَ نکتې یوه خبره ذکرکړې ده چه ومایکره من الصلوة فی القبور کښې "ما" موصوله او که چرې "من" بیانیه دی نو دَ دې مطلب به داوی چه په قبرستان کښې مونځ مکروه دې. لیکن "من" که چرته تبعیضیه واخستلې شی نوبیا به دَ دې مطلب دا وی چه امام بخاری دَ صلوة فی القبر کراهت بیانوی. که چرې بالکل مخامخ وی نو کراهت به ډیر سخت وی اوکه چرې قبر ښی طرف ته وی نو دَ مخامخ کیدو په مقابله کښې به کم کراهت وی او چه گس طرف ته وی نو دَ ښی طرف په مقابله کښې به نور هم کم کراهت وی. اوکه چرې شاته وی نوبیابه هډو کراهت نه وی.(٢)

دَ لعنت په سبب کښې دَ علامه شبیر احمد عثمانی رحمه الله تشریح:

قوله: لعن الله الیهود، بعضې روایتونو کښې دَ نصاری هم ذکر راغلې دې. هلته اشکال راځی چه دَ نصاراؤ دَ نبی یعنی دَ عیسی علیه السلام خو قبر نشته دې بیا په هغوی باندې "اتخذوا قبور انبیائهم....." څنګه صادق علیه السلام لعنت اوکړو؟ چا دا جواب ورکړو چه یهودو چه دَ کوم انبیاؤ سابقین مثلاً ابراهیم علیه السلام وغیره منل نصاری هم نیزدې نیزدې هغه ټول منل نو دَ هغوی دَ قبرونو سره به ئې داسې کول.

لیکن صحیح جواب دادې چه دَ مسلم په روایت کښې یو لفظ زائد دې. "قبور انبیائهم وصلحائهم" نو اوس هیڅ اشکال باقی پاتې نه شو. آخر صالحین دَ هغوی په نیز هم وو هغوی سره به ئې دا معامله کوله. والله اعلم.(٣)

دَ لعنت په سبب کښې دَ حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله تشریح: دَ دې نه استدلال داسې دې چه حضورپاک دَ انبیاء کرامو قبرونه جماتونه جوړونکو باندې لعنت فرمائیلې دې نو دَ مشرکانو به څه حال وی؟ لهذا که چرته هلته دَ جمات دَ جوړولو ضرورت وی نو دَ مشرکانو دَ قبرونو نبش به کولې شی.(٤)

دَ قبر مخامخ دَ مونځ کولو حکم:

دَ احنافو مذهب: دَ احنافو په نیز په قبرستان کښې که چرته دَ مونځ دَ پاره جدا څه ځائې جوړکړې شوې وی یعنی متعین کړې شوې وی او هغه ځائې کښې څه قبر نه وی، نه څه پلیتی وی او نه دَ مونځ کونکی مخې ته څه قبر وی یعنی دَ مونځ گذار قبله دَ قبر طرف ته نه

---

(١) حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح،ص: ٣٥٧-٣٥٦ وکذافی مرقاة المفاتیح، کتاب الصلاة، باب المساجد ومواضع الصلاة: ٣٨٩/٢.

(٢) فیض الباری: ٣٨/٢.

(٣) فضل الباری: ١٤٠/٣-١٣٩.

(٤) تقریربخاری شریف: ١٥٨/٢.

وی نو داسې ځائی کښې مونځ کول مکروه نه دی. او که قبر ښی، گس یا شاته وی یا چه قبر مخې ته وی او دې دَ سترې مخې ته مونځ اوکړې نو بیاهم څه کراهت نشته دې. او بغیرِ دَ څه حائل دَ قبر مخې ته مونځ کول صحیح نه دی.(١)

دَ مالکیوٌ مذهب: دَمالکیوٌ په نیز په قبرستان کښې مونځ اداکول جائز دی که هغه قبرستان آباد وی که آباد نه وی، بلکه وران شوې وی دَ هغې نه مړی راویستلې شوې وی که نه وی راویستلې شوې، که هغه قبرستان دَ یو مسلمان وی او که دَمشرکانو، په هرصورت کښې مونځ کول جائز دی.(٢)

دَ حنابلوٌ مذهب: دَ حنابلوٌ په نیز په قبرستان کښې مونځ کول جائز نه دی که قبرستان زوړ وی او که نوې، دَ هغه ځائی نه مړی ویستلې شوې وی او که نه وی ویستلې شوې. دَدوی نه نقل دی چه دَ قبرونو نه چاپیره چه کوم ځائی هم دَ قبرستان دَ نوم لاندې راځی هلته مونځ اداکول جائز نه دی.

دَ حنابلوٌ په نیز دَ قبرستان تعریف: البته دَ قبرستان په تعریف کښې دَ حنابلوٌ نه نقل دی چرته چه دَ دریو نه زیات قبرونه وی هغې ته به قبرستان وئیلی شی لیکن که قبرونه دَ دریو نه کم وی نو هغې ته به دَ قبرستان نوم نه شی ورکولې. او هلته به مونځ اداکول هم جائز وی. دغه شان که په کور کښې دننه مړی خښ کړی شوې وی نو هلته هم مونځ اداکول جائز دی اگرچه هلته دَ دریو نه زیات قبرونه وی ځکه چه دې ته هم دَ قبرستان نوم نه شی ورکولې.(٣)

دَ شوافعوٌ مذهب: دَ شوافعوٌ په نیز په دې مسئله کښې لږ تفصیل دې. دَ هغوی په نیز که دَ قبرستان نه مړی ویستلې شوې وی نو دغه ځائی کښې مونځ کول په اتفاق (عندالشوافع) صحیح نه دی. ځکه چه زمکې سره دَ مړو پیپ وغیره شامل شوې وی. داحکم په هغه صورت کښې دې چه کله په دغه دَ قبرستان والا زمکه باندې څه کپړا خورولو نه بغیر مونځ اداکړې شی. او که چرته څه کپړا وغیره خورولوسره مونځ اداکړې شی نو دَ کراهت سره به مونځ ادا شی. او که دَ قبرستان نه مړی نه وی ویستلې شوې نو دَ هغوی په نیز بغیرِ دَ څه اختلافه په دغه زمکه باندې مونځ ادا کول صحیح دی. البته مکروه تنزیهی دی. دَ جواز وجه داده چه په

---

(١) ردالمحتار، کتاب الصلاة، مطلب فی تعریف الإعادة: ٤٢٥/٢ دارعالم الکتب. البحرالرائق، کتاب الجنائز، فصل: السلطان أحق بصلاته: ٣٤١/٢. فتاوی قاضی خان علی هامش الفتاوی الهندیة، کتاب الصلاة: ٢٩/١. الموسوعة الفقهیة الکویتیة، حرف المیم، المقبرة، الصلاة فی المقبرة: ٣٤٦/٣٨. فضل الباری: ١٣٩/٣.

(٢) المدونة الکبری، کتاب الصلاة، الصلاة فی المواضع التی تکره فیها الصلاة: ١٨٢/١. مناهج التحصیل ونتائج لطائف التأویل فی شرح المدونة وحل مشکلاتها، کتاب الصلاة، المسألة التاسعة فی المواضع الذی تجوزفیه الصلاة وما تکره فیه الصلوات: ٣٢٠/١-٣٢٩. الموسوعة الفقهیة الکویتیة، حرف المیم، المقبرة، الصلاة فی المقبرة: ٣٤٦/٣٨.

(٣) الکشاف القناع عن متن الاقناع، کتاب الصلاة، باب: اجتناب النجاسة ومواضع الصلاة، فصل: فی بیان المواضع التی نهی عن الصلاة فیها: ٢٩٨، ٢٨٩/١. الإنصاف فی معرفة الراجح من الخلاف للمرداوی، کتاب الصلاة، الأماکن التی لا تصح الصلاة فیها کالمقبرة ونحوها: ٤٩١/١-٤٨٩. نیل المآرب بشرح دلیل الطالب، کتاب الصلاة، باب: شروط الصلاة، الموضع المنهی عنها: ١٢٨/١. الموسوعة الفقهیة الکویتیة، حرف المیم، الصلاة فی المقبرة: ٣٤٦/٣٨.

کومه زمکه باندې مونځ اداکولې شي هغه پاکه ده او دکراهت وجه داده چه مونځ په قبرستان کښې اداکیږي کوم چه د نجاست د دفن کولو ځائې دې.
اوکه چرې معامله مشکوك وي چه آیا دَدې قبرستان نه مړي ویستلې شوې دي که نه. نو د اصح قول مطابق مونځ به سره د کراهت نه صحیح شي. ځکه چه په زمکه کښې اصل دَدې پاکیدل دي دَ شك په وجه په دې دَ نجاست حکم نه شي لګولې کیدې. دَ اصح قول په مقابله کښې یو بل قول دادې چه مونځ نه صحیح کیږي ځکه چه دَ بنده په ذمه اصل دَ دَه فرض باقي پاتې کیږي اودَدې په ساقط کولو کښې که چرې شك وي نو شك سره به فرض ساقط نه شي.[1]

قوله: وَمَا يُكْرَهُ مِنَ الصَّلَاةِ فِي الْقُبُورِ: دَدې جملې باره کښې علامه کرماني رحمه الله دا فرمائیلي دي چه دَدې عطف "هل ينبش قبور مشركي الجاهلية" باندې دې اودادَ ترجمې دویم جز دې.
په دې باندې دا اشکال اوکړې شو چه "مايكره من الصلوة في القبور" جمله خبریه ده او "هل ينبش قبور مشركي الجاهلية" جمله انشائیه ده. استفهام په دې کښې راځي نو بیا به دا عطف څنګه صحیح شي؟ نودَدې جواب علامه کرماني رحمه الله دا ورکړې دې چه "هل" چونکه هلته دَ "قد" په معنی دې لهذا هغه هم جمله خبریه ده او "مايكره من الصلوة في القبور" هم جمله خبریه ده لهذا په عطف کښې هیڅ مضائقه نشته دې.
او نور شراح هم دا فرمائي چه دَ "مايكره من الصلوة في القبور" عطف په "هل ينبش قبور مشركي الجاهلية" باندې دې. اودادَ ترجمې دویم جز دې لیکن دَدې جز ثبوت دَ حدیث شریف نه نه کیږي کوم چه امام بخاري رحمه الله وړاندې بیان کړې دې. په دې وجه شراح فرمائي چه امام بخاري رحمه الله دَدې جز ثابتولو دَ پاره دَ حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه اثر نقل کړې دې.
قوله: وَرَأَى عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يُصَلِّي عِنْدَ قَبْرٍ فَقَالَ: «الْقَبْرَ الْقَبْرَ» چه دَ قبر نه جدا شه دَدې طرف ته مخ کولو سره مونځ مه کوه.
قوله: ولم يأمره بالإعادة: لیکن حضرت عمر رضي الله عنه حضرت انس رضي الله عنه ته دَ مونځ دَ راګرځولو حکم ورنه کړو. دَدې نه معلومه شوه چه مونځ خو کیږي لیکن مکروه دې دا رائې دَ شراحو ده.[2]
دَ حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله **رائې:** لیکن دَ حضرت شیخ الحدیث مولانا محمدزکریا رحمه الله رائې دَدې برعکس ده هغوی فرمائي چه دادَ ترجمة الباب جز دې اودَ باب لاندې داخل

---

[1] الحاوی الکبیر فی فقه مذهب الإمام الشافعی رحمه الله للماوردی المعروف بشرح مختصر المزنی، کتاب الصلاة، باب: الصلاة بالنجاسة ومواضع الصلاة: ۲۶۱/۱-۲۶۰. فتح العزیز شرح الوجیز للرافعی رحمه الله مطبوع تحت المجموع شرح المهذب، کتاب الصلاة، الباب الخامس فی شرائط الصلاة: ۳۶/٤. المجموع شرح المهذب، کتاب الصلاة، باب: مواقیت الصلاة، باب: طهارة البدن وما یصلی فیه وعلیه: ۱۵۸/۳-۱۵۷. الموسوعة الفقهية الكويتية، حرف الميم، المقبرة الصلاة فی المقبرة: ۳٤٦/۳۸.
[2] شرح الکرمانی: ۸۸/٤ فتح الباری: ۶۷۹/۱ إرشادالساری: ۸۷/۲.

دي او په دې باندې دَ عطف نشان هم لګيدلې دې. اوس سوال دادې چه دَ كراهة صلوٰة فى المقابر امام بخارى رحمه الله څه روايت نه دې ذكر كړې شراح دَدې جواب دا وركوى چه اثر انس بن مالك رضی الله عنه باندې اكتفاء اوكړې شوه اودَ حضرت انس رضی الله عنه دَ اثر نه استدلال داسې دې چه حضرت عمر رضی الله عنه قبرونو سره په مونځ كولو باندې اوټوكلو او دَ واپس راګرځولو حكم ئې ورنه كړو نومعلومه شوه چه مكروه خودې ليكن مونځ به اوشى. كه چرې مونځ نه صحيح كيدو نو دَ واپس راګرځولو حكم به ئې وركولو.

اوس اشكال دادې چه امام بخارى رحمه الله دَدې نه پس يو مستقل باب كراهية الصلوٰة فى المقابر ترى لهذا ترجمه مكرر شوه اودا خبره په اصولو كښې معلومه شوې ده چه كه چرې دَ تراجم غرض يو وى او الفاظ ئې بدل شى نو دا به تكرار وى. اوكه چرې الفاظ يو وى ليكن اغراض ئې جدا جدا وى نودا به تكرار نه وى. ليكن دلته دَ دواړو بابونو غرض هم يو دې.

شراح دَدې جواب دا وركوى چه دلته دا باب تبعاً دې او راتلونكې باب قصداً دې. مګر زما په نيز په دې باندې اشكال دې چه دَ قصد اوتبع ونيلو ضرورت خو به هغه وخت پيښيږى چه كله چرته بل صورت نه وى اودلته دَدې نه علاوه يو صورت بل هم شته هغه دا چه زما په نيز

هل په خپل اصل معنى دې او مطلب دادې چه آيا دَ جاهليت دَ مشركانو دَ قبرونو نبش اوكړې شى او په هغې جماتونه جوړكړې شى؟ ځكه چه حضورپاك دَ انبياؤ قبرونه جماتونه جوړونكو باندې لعنت ونيلې دې. نودَ مشركانودَ قبرونو به څه حال وى؟ اودا ځكه چه صلوٰة فى المقابر مكروه دى نوزما په نيز "ومايكره من الصلوٰة" دَترجمې جز نه بلكه دَ لام لاندې داخل دې او په قول باندې عطف دې اوداهم يو علت دې، زما دَ قول مطابق چه كله دا په ترجمه كښې داخل نه دې نودَ روايت ضرورت پاتې نه شو. په دې وجه دَ اثر نه دَ ثابتولو هم ضرورت نشته او نه تكرار شو دكوم دَ لرې كولو چه كوشش اوكړې شى؟

اوس دلته اشكال دادې چه هل په خپل اصل معنى څنګه صحيح كيدې شى؟ حالانكه دَ مسجد نبوى دَتعمير په وخت دَمشركانودَ قبرونو نبش شوې دې. ددې جواب دادې چه امام بخارى رحمه الله يو څو ابوابه پس باب: الصلوٰة فى مواضع الخسف والعذاب ترى. په هغې كښې دا دى چه حضرت على رضی الله عنه په بابل كښې دَ موضع عذاب كيدو په سبب مونځ كول مكروه اوګڼړلو نودَ حضرت على رضی الله عنه كراهت دَموضع عذاب كيدو په سبب وو. اوچرته چه مشركان ښخ شوى وى هغه پخپله موضع عذاب دې. لهذا دَدې طرف ته اشاره كولو دَپاره ئې په ترجمه كښې لفظ هل راوړلو. او كه څوك دا اووائى چه دَ قبرونو دَ نبش نه پس هلته څه پاتې شو؟ نوددې جواب دا دې چه په بابل كښې كله خسف واقع شوې وو، اوس هلته څه پاتې شوې وو؟ بالكل نه،لهذا لكه څنګه چه هلته باوجود دَ كراهت دَ موضع عذاب كيدو دَ وجې نه وو، نوداهم موضع عذاب شوې دې.[1]

[1] تقرير بخارى شريف:۲/۱۵۹.

دَ حضرت عمر رضي الله عنه دَ اثر تخريج: حضرت ابن ابى شيبه رحمه الله او عبد الرزاق رحمه الله په خپل خپل مصنف كښې او امام بيهقى رحمه الله په السنن الكبري كښې په څه اندازه مختلف الفاظو سره دَدې اثر تخريج كړې دې. دَ المصنف لابن ابى شيبه روايت دادې: ((حدثنا حفص، عن حميد، عن أنس، قال أبصرني عمر وأنا أصلي إلى قبر، فجعل يقول: يا أنس! القبر، فجعلت أرفع رأسي أنظر إلى القمر، فقالوا: إنما يعني: القبر)). (١)

المصنف لابن عبد الرزاق كښې دَ موجود اثر الفاظ دادي: ((عبد الرزاق، عن معمر، عن ثابت البناني، عن أنس بن مالك قال: رآني عمر بن الخطاب وأنا أصلي عند قبر، فجعل يقول: القبر، قال: فحسبته يقول: القمر، قال: فجعلت أرفع رأسي إلى السماء، فأنظر، فقال: إنما أقول، القبر، لا تصل إليه، قال ثابت: فكان أنس بن مالك يأخذ بيدي إذا أراد أن يصلي فيتنحى عن القبور)) (٢)

السنن الكبرى كښې دَموجود اثر الفاظ دادي: ((أخبرنا محمد بن موسى بن الفضل حدثنا أبو العباس، محمد بن يعقوب حدثنا محمد بن هشام حدثنا مروان بن معاوية حدثنا حميد عن أنس قال: قمت يوما أصلي وبين يدي قبر لا أشعر به، فناداني عمر: القبر القبر، فظننت أنه يعني: القمر، فقال لي بعض من يليني: إنما يعني: القبر، فتنحيت عنه)). (٣)

دَ صالحينو دَ مزاراتو سره نيزدې دَ جماتونو حكم. نن صبا هرطرف ته دا په كتلو كښې راځي چه كوم يو ځائې كښې هم چه دَ الله والا قبر وى نو هغې سره نيزدې يو جمات هم وى نو دا سې كولو كښې هيڅ حرج نشته دې، صحيح دى. چنانچه علامه عينى رحمه الله په دې باره كښې تحرير فرمائى چه كه چرته دَ يو نيك صالح انسان قبر سره دا سې جمات جوړ شى چه قبر دَ جمات نه بالكل جدا وى. مزار سره نيزدې دَ جمات جوړولو مقصود صرف دَ بركت حاصلول وى، په مونځ كښې دَ صاحب قبر تعظيم يا دَ هغه طرف ته توجه نه وى نو په دې كښې بديت نشته دې دا به په مذكوره وعيد كښې داخل نه وى (٤)

---

(١) المصنف لابن أبي شيبة، كتاب الصلاة، الصلاة بين القبور، رقم الحديث: ٣٧٥٣٢، ١٤٠/١٤.

(٢) المصنف لابن عبدالرزاق، كتاب الصلاة، باب الصلاة على القبور، رقم الحديث: ١٥٨١، ٤٠٤/١.

(٣) السنن الكبرى للبيهقي، كتاب الصلاة، باب النهى عن الصلاة إلى القبور، رقم الحديث: ٤٤٥٠. تغليق التعليق، كتاب الصلاة، باب: هل تنبش قبور مشركى الجاهلية ويتخذ مكانها مساجد لقول النبي صلى الله عليه وسلم: لعن الله اليهود، اتخذوا قبور أنبيائهم مساجد، وما يكره من الصلاة في القبور. ورأى عمر أنس بن مالك يصلى عندالقبر، فقال: القبر القبر، ولم يأمره بالإعادة: ٢٢٨-٢٢٩/٢. مسندالفاروق لابن الكثير، كتاب الصلاةباب في مواطن السجود، رقم الحديث: ٧٨، ١٨٧/١. المطالب العالية بزوائد المسانيد الثمانية، كتاب الصلاة، باب: مايصلى إليه وما لا يصلى إليه، رقم الحديث: ٣٣٩، ٤١٧/٣. سلسلة الآثار الصحيحة أو الصحيح المسند من أقول الصحابة والتابعين، كتاب الصلاة، الصلاة عندالقبر: ٢٧٧/٢.

(٤) فأما من اتخذ مسجدا في جوار صالح وقصد التبرك بالقرب منه لا للتعظيم له، ولا للتوجه إليه، فلا يدخل في الوعيد المذكور. عمدة القاري: ٢٥٨/٤.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه د يو صالح سړي قبر سره (دغه پورته تفصيل سره) جمات جوړول په وعيد كښې شامل نه دي. (١)

ملاعلي قاري رحمه الله فرمائي چه پاتې شوه دا خبره چه كه چرې د صالحينونه د چا مزار سره نيزدې جمات جوړكړې شي يا په مقبره كښې مونځ اوكړې او د هغه د روح نه د تقويت حاصلولو يا د هغه د عبادتونو د اثراتو نه د فائدې اوچتولو اراده وي، په مونځ كښې د هغه تعظيم يا د هغه طرف ته توجه نه وي نو دغه جمات جوړولو كښې هيڅ حرج نشته دې. (٢)

خلاصه دا چه د صالحينو مزاراتو سره نيزدې د شرائطو خيال ساتلو سره جمات جوړول جائز دي.

حديث باب [حديث نمبر ٤١٧]

٤٢٧ - حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ هِشَامٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ أُمَّ حَبِيبَةَ وَأُمَّ سَلَمَةَ (٣) ذَكَرَتَا كَنِيسَةً رَأَيْنَهَا بِالْحَبَشَةِ فِيهَا تَصَاوِيرُ، فَذَكَرَتَا لِلنَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ « إِنَّ أُولَئِكَ إِذَا كَانَ فِيهِمُ الرَّجُلُ الصَّالِحُ فَمَاتَ بَنَوْا عَلَى قَبْرِهِ مَسْجِدًا، وَصَوَّرُوا فِيهِ تِلْكَ الصُّوَرَ، فَأُولَئِكَ شِرَارُ الْخَلْقِ عِنْدَ اللَّهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ.

د حديث ترجمه: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه حضرت ام حبيبه او حضرت ام سلمه رضي الله عنهما د نبي كريم ﷺ په وړاندې د يوې ګرجې ذكر اوكړو چه هغوى په حبشه كښې ليدلې وه. په كومه كښې چه تصويرونه لګيدلي وو. نو نبي كريم ﷺ اوفرمائيل چه د هغه خلقو دا دستور وو چه كله به د هغوى څوك نيك سړې وفات شو نوهغوى به د هغه په قبر باندې د عبادت خانې جوړولو او په هغې كښې به ئې د هغوى بتان كيخودل. (بيائې اوفرمائيل چه) د قيامت په ورځ به داسې كونكې خلق د الله تعالى په نيز په مخلوق كښې بدترين خلق وي.

تراجم رجال: د مذكوره حديث شريف په سند كښې ټول پنځه راويان دي.

---

(١) فتح الباري: ٦٨٠/١ د سلفي حضراتو په فتح الباري باندې اعتراض اودهغې رد: د فتح الباري دارالسلام نسخې (دكوم چه حواله وركړې شوې ده) حاشيه كښې په دې مقام باندې د محشي طرف نه داحاشيه "هذا غلط واضح، والصواب تحريم ذلک، ودخوله تحت الأحاديث الناهية عن اتخاذ القبور مساجد. فانتبه واحذر، والله الموفق" موجود دى كوم چه صحيح نه دې. ځكه چه د ماقبل تفصيل نه داخبره واضحه ده چه د ممانعت تعلق د منكراتو سره دې د دې نه بغيرسره نه دې. او د حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عيني رحمه الله ذكركړې شوې تفصيل د منكراتو نه د بچ كيدو سره د جماتونه جوړولو سره مقيد دې. فلااشكال.

(٢) أما من اتخذ مسجدا في جوار صالح أو صلى في مقبرة وقصدالاستظهار بروحه أو وصول أثر ما من أثر عبادته اليه لا للتعظيم له والتوجه نحوه، فلا حرج. (مرقاة المفاتيح، كتاب الصلاة، باب المساجد ومواضع الصلاة: ٣٨٩/٢).

(٣) أخرجه البخاري أيضا في الصلاة في البيعة، رقم الحديث: ٤٣٤، وفي الجنائز، باب: بناء المسجد على القبر، رقم الحديث: ١٣٤١، وفي فضائل أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم، باب: هجرة الحبشه، رقم الحديث: ٣٨٧٨، ومسلم في صحيحه، في المساجد، باب: النهي عن بناء المسجد على القبور، رقم الحديث: ٥٢٨، والنسائي في سننه، في المساجد، باب: النهي عن اتخاذ القبور مساجد، رقم الحديث: ٧٠٥، وفي جامع الأصول، حرف الزاء، الكتاب الثالث: في الزينة، الباب السابع: في الصور والنقوش والستور، الأحاديث الواردة في ذم المصورين، رقم الحديث: ٢٩٦١، ٨٠٢/٤

① محمد بن المثنى رحمه الله: دا حضرت محمد بن المثنى بن عبيد عنزى بصرى رحمه الله دي. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: حلاوة الإیمان لاندې تیر شوی دی.[1]

② یحیی رحمه الله: دا یحیی بن سعید بن فروخ القطان تمیمی رحمه الله دي. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه لاندې تیر شوی دی.[2]

③ هشام رحمه الله: دا هشام بن عروه بن زبیر بن العوام قرشی اسدی مدنی رحمه الله دي. دَ دوی مختصر احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی په دویم حدیث او تفصیلی احوال کتاب الإیمان، باب: أحب الدین إلى الله أدومه لاندې تیرشوی دی.[3]

④ ابی رحمه الله: دا عروه بن زبیر بن العوام قرشی اسدی مدنی رحمه الله دي. دَ دوی مختصر احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی په دویم حدیث او تفصیلی احوال کتاب الإیمان، باب: أحب الدین إلى الله أدومه لاندې تیرشوی دی.[4]

⑤ عائشه رضی الله عنها: دا ام المؤمنین حضرت عائشه بنت ابی بکر صدیق رضی الله عنهما ده. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی، دویم حدیث لاندې تیر شوی دی.[5]

دَ حدیث شرح:

قوله: عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ، أَنَّ أُمَّ حَبِيبَةَ، وَأُمَّ سَلَمَةَ ذَكَرَتَا كَنِيسَةً رَأَيْنَهَا بِالْحَبَشَةِ فِيهَا تَصَاوِيرُ:
حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه حضرت ام حبیبه او حضرت ام سلمه رضی الله عنهما دَنبی کریم ﷺ په وړاندې دَ یوې ګرجې ذکر اوکړو چه هغوی په حبشه کښې لیدلې وه. په کومه کښې چه تصویرونه لګیدلی وو.

قوله: كَنِيسَةً: دَ عیسایانو عبادت خانې ته کنیسه وائی.[6] دَ دغه کنیسه نوم ماریه خودلې شی.[7]

قوله: ذَكَرَتَا: دَ تثنیه دَدې صیغې ضمیر حضرت ام حبیبه او حضرت ام سلمه رضی الله عنهما طرف ته راګرځی. دَمستملی اوحموی په نسخو کښې دا لفظ "ذکرا" دَمذکر صیغه ده چه دَ اصل خلاف دې. ظاهر دا معلومیږی چه دا به دَ نسخې لیکونکو نه غلطی نه وی شوې.[8]

---

[1] کشف الباری: ۲/۲٥.
[2] کشف الباری: ۲/۲.
[3] کشف الباری: ۱/۲۹۱، ۲/٤۳۲.
[4] کشف الباری: ۲/٤۳٦.
[5] کشف الباری: ۱/۲۹۱.
[6] شرح الکرمانی: ٤/۸۸.
[7] فتح الباری: ۱/٦۸۰، عمدة القاری: ٤/۲٥۷.
[8] عمدة القاری: ٤/۲٥۷.

قوله: رَأَيْنَا: دالفظ دَ جمع صيغې سره استعمال شوې دې حالانکه کتونکې دوه وې، نودې په جواب کښې وئيلى شى چه دَ جمع نسبت صرف دَ دغه دوو طرف ته نه بلکه دَدغه دواړو سره نور کوم کسان هم چه شريك وو هغه ټول په دې روايت کښې شامل کړې شوى دى. دويمه خبره دَ اقل دَ جمع دوه وى لهذا په دې اعتبار سره هم دَ اشکال څه خبره نشته دې. دريمه خبره دا چه بعضې نسخو کښې مثلاً دَ کشميهنى او اصيلى په نسخه کښې "رأتا" لفظ هم ملاويږى. فلا اشکال.(١)

قوله: فَذَكَرَتَا لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «إِنَّ أُولَئِكَ إِذَا كَانَ فِيهِمُ الرَّجُلُ الصَّالِحُ فَمَاتَ، بَنَوْا عَلَى قَبْرِهِ مَسْجِدًا، وَصَوَّرُوا فِيهِ تِلْكَ الصُّوَرَ، فَأُولَئِكَ شِرَارُ الخَلْقِ عِنْدَ اللَّهِ يَوْمَ القِيَامَةِ»

نونبى کريم ﷺ اوفرمائيل چه دَ هغه خلقو دا رواج وو چه کله به دَ هغوى څوك نيك سړې وفات کيدو نو هغوى به دَ هغه په قبر باندې عبادت خانه جوړوله او په هغې کښې به ئې دَ هغه سړى بتان کيخودل. (بيائى اوفرمائيل چه) دَ قيامت په ورځ به دا سې کونکى دَ الله تعالى په نيز په مخلوق کښې بدترين خلق وى.

قوله: فَأُولَئِكَ: په يو بل روايت کښې دَ فاء په ځائى واؤ يعنى وأولئك دې.(٢)

قوله: فَمَاتَ: دَدې عطف به په کان باندې وى. او وړاندې دَ بنوا جمله به دَ إذا دَ پاره جواب شى.(٣)

دَ بت پرستئ شروع څنګه شوې ده؟:

قوله: وَصَوَّرُوا فِيهِ: قاضى عياض مالکى رحمه الله ليکلى دى چه دا دَ بت پرستئ شروع وه يعنى بت پرستى په دې طريقه درجه په درجه شروع شوه.(٤)

علامه قرطبى رحمه الله ليکلى دى چه دَ هغوى طريقه دا وه چه کله به نيکان خلق وفات کيدل نودَ هغوى تصويران به ئې جوړول او هغه به ئې زوړندول او دَ هغوى مقصد به دا وو چه دغه تصويرانو ته په کتلو دَ هغوى زړونه تسلى او سکون حاصل کړى اودَ هغوى نيکا اعمال ياد کړى او بيا هم دَ هغوى په شان په عبادت کښې سعى اوکوشش اوکړى او دَ هغوى قبرونو سره به خواکې دوى مونځونه کول. ليکن قبرونه به ئې خپلې مخې ته نه ساتل. دغه ړومبنى چه فوت شو او دَ هغوى نه پس روستو جانشين دَ هغوى په ځائى راغله نو هغوى دَ دغه ړومبنو او متقدمينو مقصد خو فوت کړو او شيطان دَ هغوى په زړونو کښې دا وسوسه واچوله چه ستاسو بزرګانو خو به دَ قبرونو عبادت کولو لهذا تاسو هم دَ دوى عبادت کوئى. نو روستو راتلونکو دَ قبرونو عبادت شروع کړو.

(١) شرح الکرمانى: ٨٨/٤ فتح البارى: ٦٨٠/١ عمدة القارى: ٢٥٧/٤.
(٢) عمدة القارى: ٢٥٧/٤.
(٣) فتح البارى: ٦٨٠/١.
(٤) إکمال المعلم بفوائد مسلم، کتاب: فى المساجد، باب النهى عن بناء المساجد على القبور، رقم الحديث: ٥٢٨، ٤٥٠/٢.

په دې باندې حضورپاك دا نكير اوفرمائيلو چه دَ حضورپاك امت دا طريقه اختيارولو سره په شرك كښې اخته نه شى او هم دَدې دَ پاره حضورپاك دا ارشاد اوفرمائيلو چه زما نه پس زما قبر سره دا معامله اونه كړې شى.(۱)

دَ شرار لغوى تحقيق:

قوله: فَأُولَٰئِكَ شِرَارُ الْخَلْقِ عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ: شرار دَ شين په كسرې سره جمع ده دَ شر او دَ بعضو په نيزدَ شرير جمع ده.(۲)

دَ شرارالخلق مصداق كوم خلق دى؟: علامه كرمانى رحمه الله په دې ځائى يو اشكال كړې دې چه حضورپاك خو "فَأُولَٰئِكَ شِرَارُ الْخَلْقِ عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" فرمائيلى دى، دَدې نه خو په ظاهره دا معلوميږى چه دَ قبر طرف ته مونځ كول حرام دى او علماء دې ته صرف مكروه وائى؟ بيائى هم پخپله دَدې جواب وركړو چه په اصل كښې دَ كراهت نه كراهت تحريمى مراد دې لهذا دَ شرارالخلق په اطلاق كښې هيڅ اشكال نشته. دَدې اطلاق تقاضا دا وه چه قبر مخې ته وى نو مونځ حراميدل پكار دى او علماء كرامو چه دې ته مكروه تحريمى اووئيل نو دا په حكم كښې هم دَ حرام دې.

علامه كرمانى رحمه الله دويمه خبره دا فرمائى چه كه چرې دَ كراهت نه كراهت تنزيهى مراد واخستې شى نو بيا به دَدې مطلب داوى چه حضورپاك دَ تصوير په مذمت كښې "فَأُولَٰئِكَ شِرَارُ الْخَلْقِ عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" فرمائيلى دى. په دې باندې علامه رحمه الله اشكال كړې دې چه كه چرې دَ تصوير په مذمت كښې ئى "فَأُولَٰئِكَ شِرَارُ الْخَلْقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" فرمائيلى دى نو تصوير خو صرف معصيت دې او شرارالخلق كيدو نه دا لا زميږى چه هغوى دې كافر اوګرځولې شى. نو دَ ګناه په كولو سره دَ كافر اطلاق څنګه اوكړې شو؟

دَدې جواب بيا هغه وركړې دې چه په اصل كښې دوى ته شرارالخلق څكه اووئيلې شو چه هغوى به دَ تصوير عبادت كولو اوكافران هم وو په دې وجه په دې اطلاق كښې څه اشكال نشته.(۳)

يوه بله خبره ئى داهم كړې ده چه دَ شرارالخلق اطلاق به په كفر باندې هله اوشى چه كله شرارالخلق على الاطلاق مراد وى. هسې دَ شر لفظ دَ خير په مقابله كښې هم راځى او شرار دَ خيار په مقابله كښې استعماليږى. لكه څنګه چه په حديث شريف كښې دَ رسول الله ﷺ

---

(۱) المفهم لما أشكل من تلخيص كتاب مسلم، كتاب الصلاة، باب: تحويل القبلة من الشام إلى الكعبة، والنهى عن بناء المساجد على القبور وعن التصاوير فيها، رقم الحديث: ۱۲۵، ۵/۵۴.

(۲) عمدة القاري: ۴/۲۵۷.

(۳) شرح الكرماني: ۴/۸۹.

ارشاد دي: «إن شر الناس عند الله منزلة من تركه الناس اتقاء شره»[1] دلته دَ شر الناس مطلب كافر نه دي. دغه شان په بل حديث كښې حضور پاك فرمائي: «ألا أخبركم بشر الناس؟ رجل يسأل بالله ولا يعطي به»[2] چه دَ الله تعالى واسطه وركولو سره دَ هغه نه سوال اوكړې شي او دَ دغه واسطې باوجود هم هغه وزكړه اونه كړي هغه شر الناس دي. دغه شان په حديث كښې راځي حضور پاك فرمائي: «إن شر الناس ذو الوجهين الذي يأتي هؤلاء بوجه وهؤلاء بوجه»[3] دا هم دَ كفر دَ وجې نه نه دي وئيلى شوى. غرض دا چه دَ شرار اطلاق دَ اخيار په مقابله كښې هم كيږي لهذا دا هم وئيلې شي چه دلته نبي ﷺ دَ تصوير دَ وجې هغوى ته شرار الخلق وئيلى دي دا نې في مقابلة الأخيار وئيلى دي.

دَ حديث شريف دَ ترجمة الباب سره مناسبت: علامه عيني رحمه الله فرمائي چه دَدې حديث شريف دَ ترجمة الباب سره مناسبت دَترجمې جز "لعن الله اليهود" په وجه دي. په دې اعتبار سره چه په دې قول كښې دا خبره ده چه نبي ﷺ په يهودو باندې ځكه لعنت اووئيلو چه هغوى دَ انبياؤ قبرونه دَ سجدو ځايونه جوړكړي وو. او په دې حديث كښې دَ نصاراؤ په داسې طريقې سره مذمت اوكړې شو چه دَ لعنت نه هم زيات دې. په وجه دَدې خبرې چه په هغوى كښې دا دستور پيدا شوې وو چه كله به دَ هغوى څوك نيك سړې وفات شو نو دَ هغه په قبر باندې به ئې جمات جوړولو او په هغې كښې به ئې دَ هغه سړي تصويرونه زوړندول.[4]

علامه شبير احمد عثماني رحمه الله فرمائي دلته شارحين حيران دي چه په دعوىٰ او دليل كښې

---

[1] حدثنا عمرو بن عيسى، حدثنا محمد بن سواء، حدثنا روح بن القاسم، عن محمد بن المنكدر، عن عروة، عن عائشة: أن رجلا استأذن على النبي صلى الله عليه وسلم، فلما رآه قال: بئس أخو العشيرة، وبئس ابن العشيرة، فلما جلس تطلق النبي صلى الله عليه وسلم في وجهه وانبسط إليه، فلما انطلق الرجل قالت له عائشة: يارسول الله! حين رأيت الرجل قلت له كذا وكذا، ثم تطلقت في وجهه وانبسطت إليه؟ فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ياعائشة! متى عهدتني فحاشا، إن شر الناس عند الله منزله يوم القيامة من تركه الناس اتقاء شره. (صحيح البخاري، كتاب الأدب، باب لم يكن النبي صلى الله عليه وسلم فاحشا ولا متفحشا، رقم الحديث: ٦٠٣٢).

[2] حدثنا قتيبة، قال: حدثنا ابن لهيعة، عن بكير بن عبدالله بن الأشج، عن عطاء بن يسار، عن ابن عباس، أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: ألا أخبركم بخير الناس؟ رجل ممسك بعنان فرسه في سبيل الله. ألا أخبركم بالذي يتلوه؟ رجل معتزل في غنيمة له يؤدي حق الله فيها. ألا أخبركم بشر الناس؟ رجل يسأل بالله ولا يعطي به. هذا حديث حسن غريب من هذا الوجه، ويروى هذا الحديث من غير وجه، عن ابن عباس، عن النبي صلى الله عليه وسلم. (جامع الترمذي، فضائل جهاد، أي الناس خير، رقم الحديث: ١٦٥٢).

[3] حدثنا قتيبة، حدثنا الليث، عن يزيد بن أبي حبيب، عن عراك، عن أبي هريرة، أنه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم، يقول: إن شر الناس ذو الوجهين، الذي يأتي هؤلاء بوجه، وهؤلاء بوجه. (صحيح البخاري، كتاب الأحكام، باب: ما يكره من ثناء السلطان وإذا خرج قال غير ذلك، رقم الحديث: ٧١٧٩).

[4] عمدة القاري: ٢٥٦/٤.

څه مناسبت دې؟ په دعوىٰ کښې يعنى ترجمة الباب کښې دَمشرکانو دَ قبرونو (ذکر) دې او دليل يعنى حديث دَ انبياء کرامو دَ قبرونو متعلق دې. او په دعوىٰ کښې دَ قبرونو دَ نبش (ذکر) دې او په دليل کښې دَ قبرونو دَ جماتونو جوړولو نفى ده. (الغرض دعوىٰ داده چه دَ مشرکانو قبرونه کنستلو سره په هغه ځائى جماتونه جوړول جائز دى او په دې باندې دليل دادې چه حضورپاك دَ انبياؤ قبرونونه جماتونه جوړولونه منع فرمائيلې ده. نو په دې دواړو کښې څنګه مناسبت راغې؟). (فرمائى) زما په نيز دلته مناسبت داسې دې چه (دلته) دوه مسئلې دى:

① يوه مسئله خو (په قبر باندې دَ جمات جوړولو سره متعلق ده. اودَدې دوه صورتونه دى (اول صورت) دا چه دَ قبرونو په موجودګئ کښې په هغې جمات جوړول، دَچاهم چه قبر وى دَ انبياؤ اولياؤ يا دَيو کافر او فاسق. بل صورت دا چه قبر نبش کړې شى (يعنى هغه ورانولو سره برابر کړې شى) بيا دغه ځائى کښې جمات جوړ کړې شى. دَدې متعلق فقهاؤ ليکلى دى چه دَ قبرونو په موجودګئ هلته جمات جوړول صحيح نه دى دَ چا هم چه قبر وى که هغه دَ نبى وى او که دَ يو کافر وى. اودَممانعت علت دَ قبرونو موجودګى ده. اوس که قبرونه وران کړې شى او برابر کړې شى چه نښه ئې باقى پاتې نه شى (اوبياهلته جمات جوړ کړې شى) نوددې حکم امام بخارى رحمه الله خودل غواړى.

② دويمه مسئله داده چه دَ کومو قبرونو نبش جائز دې؟ دَدې متعلق مسئله داده چه دَ انبياؤ او صالحينو بلکه بغيردَ ډير سخت ضرورت نه دَ عام مؤمنانو دَ قبرونو نبش هم جائز نه دې. دَ مشرکانو او کافرانو دَ قبرونو نبش جائز دې. ﴿أُولَٰئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ﴾.

نو اوس امام بخارى رحمه الله دَ اولنئ مسئلې دويم صورت (قبر ورانول او بيا جمات جوړولو) متعلق حکم بيانول غواړى چه دَ قبرونو ورانولو نه پس هلته جمات جوړول جائز دى. لقول النبى.......... (وجه دَ استدلال دا ده چه) ګورئى حضورپاك لعنت په هغه صورت کښې کړې دې کله چه قبرونه موجود وى او په هغې باندې جمات جوړکړې شى (چنانچه) دَ يهودو فعل په کوم چه آقا عليه السلام لعنت کړې دې هم داسې وو چه دَ انبياؤ قبرونه ئى باقى ساتلو سره تعظيما جماتونه جوړول. (نوکله چه لعنت، قبرونه باقى ساتلو سره په هغې باندې دَ جماتونو جوړولو په صورت کښې دې نو معلومه شوه چه قبرونه ورانولو سره په هغه ځائى جمات جوړول جائز دى).نو دعوىٰ سره دَ دليل مناسبت پيدا شو.

باقى پاتې شوه دويمه مسئله چه دَ کومو قبرونو نبش جائز دې؟ دَ انبياؤ دَ قبرونو نبش جائز دې که نه؟ دَدې سره متعلق دلته هيڅ بحث نشته. چونکه دَ مشرکانو دَ قبرونو نبش جائز وو په دې وجه ئى په ترجمه کښې دا بالتخصيص ذکرکړو. اصل مقصودخو دا مسئله بيانول دى چه دَ قبرونو نبش کولو سره هلته جمات جوړول جائز دى که نه؟ نو دائى ثابت کړل چه دَ نبش نه پس جائز دى.[1]

[1]) فضل البارى: ۳/۱۳۹-۱۳۸.

دَ حديث شريف نه مستنبط شوي فوائد او احكام: ① معلومه شوه چه كه يو سړي دَ عجائباتو نه دَ څه څيز مشاهده اوكړي نو دَ نورو خلقو په مخكښې دَ هغې دَ بيانولو گنجائش شته.[1]

② دَ كوم سړي په وړاندې چه څوك څه خبره بيانوي او هغه سړي دَ دغه خبرې حكم پيژندونكې وي نو په هغه باندې دَ هغه خبرې حكم بيانول او په محرماتو كښې دَ اخته كيدو مذمت كول واجب دي.[2]

③ دا هم معلومه شوه چه په احكامو كښې اعتبار دَ شريعت دې نه چه دَ عقل.[3]

④ دَدې حديث نه په قبرستان كښې دَمونځ اداكولو دَ كراهت علم هم اوشو. برابره ده چه قبر سره متصل وي، دَ قبر دَ پاسه وي او كه دَ قبر مخې ته اودريدو سره وي.[4]

⑤ دَدې حديث نه دَ تصوير حرمت خصوصاً دَ نيكانو صالحانو كسانو دَ تصوير حرمت معلوم شو.[5]

حديث باب (دويم حديث) [حديث نمبر ۴۱۸]

۴۲۸- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ عَنْ أَبِي التَّيَّاحِ عَنْ أَنَسٍ[6] قَالَ قَدِمَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - الْمَدِينَةَ فَنَزَلَ أَعْلَى الْمَدِينَةِ، فِي حَيٍّ يُقَالُ لَهُمْ بَنُو عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ. فَأَقَامَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - فِيهِمْ أَرْبَعَ عَشْرَةَ لَيْلَةً، ثُمَّ أَرْسَلَ إِلَى بَنِي النَّجَّارِ فَجَاءُوا مُتَقَلِّدِي السُّيُوفِ، كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى النَّبِيِّ - صلى الله عليه وسلم - عَلَى رَاحِلَتِهِ، وَأَبُو بَكْرٍ رِدْفُهُ، وَمَلأُ بَنِي النَّجَّارِ حَوْلَهُ، حَتَّى أَلْقَى بِفِنَاءِ أَبِي أَيُّوبَ، وَكَانَ يُحِبُّ أَنْ يُصَلِّيَ حَيْثُ أَدْرَكَتْهُ الصَّلاَةُ، وَيُصَلِّي فِي مَرَابِضِ الْغَنَمِ، وَأَنَّهُ أَمَرَ بِبِنَاءِ الْمَسْجِدِ، فَأَرْسَلَ إِلَى مَلإٍ مِنْ بَنِي النَّجَّارِ فَقَالَ «يَا بَنِي النَّجَّارِ ثَامِنُونِي بِحَائِطِكُمْ هَذَا». قَالُوا لاَ وَاللَّهِ، لاَ نَطْلُبُ ثَمَنَهُ إِلاَّ إِلَى اللَّهِ. فَقَالَ أَنَسٌ فَكَانَ فِيهِ مَا أَقُولُ لَكُمْ، قُبُورُ الْمُشْرِكِينَ، وَفِيهِ خَرِبٌ، وَفِيهِ نَخْلٌ، فَأَمَرَ النَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - بِقُبُورِ الْمُشْرِكِينَ فَنُبِشَتْ، ثُمَّ بِالْخَرِبِ فَسُوِّيَتْ، وَبِالنَّخْلِ فَقُطِعَ، فَصَفُّوا النَّخْلَ قِبْلَةَ الْمَسْجِدِ، وَجَعَلُوا عِضَادَتَيْهِ الْحِجَارَةَ، وَجَعَلُوا يَنْقُلُونَ الصَّخْرَ، وَهُمْ يَرْتَجِزُونَ، وَالنَّبِيُّ - صلى الله عليه وسلم - مَعَهُمْ وَهُوَ يَقُولُ «اللَّهُمَّ لاَ خَيْرَ إِلاَّ خَيْرُ الآخِرَهْ فَاغْفِرْ لِلأَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرَهْ»

د حديث ترجمه: د حضرت أنس بن مالك ﷺ نه روايت دې چه نبي كريم ﷺ مديني منورې ته تشريف راوړو نو حضورپاك چه دَ مديني برنئ علاقې په كومه محله كښې قيام اوكړو هغه دَ بنو عمرو بن عوف وه. دلته نبي كريم ﷺ څوارلس شپې قيام اوكړو. بيا حضورپاك بنو نجار ته پيغام اوليږلو او راوئي غوښتل نو هغه خلقو توري زوړند وې او په خدمت

[1] فتح الباري: ۶۸۰/۱ عمدة القاري: ۲۵۷/٤.
[2] فتح الباري: ۶۸۰/۱ عمدة القاري: ۲۵۷/٤.
[3] فتح الباري: ۶۸۰/۱ عمدة القاري: ۲۵۷/٤.
[4] فتح الباري: ۶۸۰/۱.
[5] عمدة القاري: ۲۵۷/٤.
[6] مر تخريجه في البخاري. كتاب الوضوء. باب: أبوال الإبل والدواب والغنم ومرابضها. رقم الحديث: ۲۳٤.

كښې حاضر شو (د راوئ حديث بيان دي) لکه چه هغه نظاره زما مخې ته ده چه زه نبى كريم ﷺ په خپله سورلئ باندې ناست وينم. حضرت ابوبكر رضی الله عنه حضورپاك پسې شاته په سورلئ ناست دې اود بنونجار يو جماعت د حضورپاك نه چاپيره دی. په دې حال كښې نبى عليه السلام حضرت ابوايوب رضی الله عنه د كور مخې ته خپل سامان راكوز كړو. حضورپاك به دا خبره خوښوله چه حضورپاك ته به چرته هم د مونځ وخت راتلو هم هلته به ئې مونځ كولو. (تردې چه) حضورپاك د چيلو په باړه كښې هم مونځ ادا كړې دې. حضورپاك په هغه ځائې كښې د جمات جوړولو حكم اوكړو. حضورپاك بنونجار راوغوښتل او ونې فرمائيل اې بنو نجار! تاسو دَدې خپلې زمكې قيمت واخلئ. هغوى عرض اوكړو نه، په الله قسم چه نه، مونږ به تاسو نه دَدې قيمت نه اخلو، مونږ به دَدې بدله صرف د الله تعالى نه اخلو.

حضرت انس رضی الله عنه اوفرمائيل لكه څنگه چه زه تاسو ته وايم چه دلته د مشركانو قبرونه وو. په دې زمكه كښې يو شاړ ځائې وو او د كهجورو ونې وې. نو نبى كريم ﷺ د مشركانو د قبرونو د ورانولو حكم وركړو اود هغه شاړ ځائې د برابرولو حكم ئې وركړو او ونې پرې كړې شوې. خلقو دغه ونې دجمات د قبلې طرف ته خورې كړې او د كاڼو په ذريعه ئې هغه مضبوطې كړې. صحابه كرامو رضی الله عنهم به كاڼې اوچتولو سره رجزيه اشعار وئيل او نبى كريم ﷺ هم هغوى سره وو اودائې فرمائيل اې الله! د آخرت د ښيگړې نه علاوه بل هيڅ ښيگړه (د توجه قابل) نه ده نو د انصارو او مهاجرينو مغفرت اوكړې.

تراجم رجال: دَمذكوره حديث شريف په سند كښې ټول څلور راويان دى.

① مسدد رحمه الله: دا مسدد بن مسرهد الاسدى البصرى رحمه الله دې. دَ دوى مختصر احوال كشف البارى كتاب الإيمان باب: من الإيمان أن يحب لأخيه ما يحب لنفسه، او تفصيلى احوال كتاب العلم باب: من خص بالعلم قوما دون قوم كراهية أن لا يفهموا لاندې تيرشوې دى. [1]

② عبدالوارث رحمه الله: دا عبدالوارث بن سعيد التميمى رحمه الله دې. دَدوى احوال كشف البارى، كتاب العلم، باب: ما كان النبى صلى الله عليه وسلم يتخولهم بالموعظة والعلم كى لا ينفروا لاندې تير شوى دى. [2]

③ ابى التياح رحمه الله: دا ابوالتياح يزيد بن حميد الضبعى رحمه الله دې. دَدوى احوال كشف البارى، كتاب العلم، باب: ما كان النبى صلى الله عليه وسلم يتخولهم بالموعة والعلم كى لا ينفروا لاندې تير شوى دى. [3]

④ انس رضی الله عنه: دا مشهور صحابئ رسول حضرت انس بن مالك رضی الله عنه دې. دَ دوى تذكره كشف البارى، كتاب الايمان، باب: من الإيمان أن يحب لأخيه ما يحب لنفسه لاندې تيره شوى ده. [4]

---

[1]) كشف البارى: ٥٨٨/٤.
[2]) كشف البارى: ٢٥٨/٣.
[3]) كشف البارى: ٢٦١/٣.
[4]) كشف البارى: ٤/٢.

د حديث شرح:

قوله: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ فَنَزَلَ أَعْلَى الْمَدِينَةِ فِي حَيٍّ يُقَالُ لَهُمْ بَنُو عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ:

د حضرت انس بن مالك ﷺ نه روايت دې چه نبی اکرم ﷺ مدينې منورې ته تشريف راوړو نوحضورپاك د مدينې د برنئ علاقې په كومه محله كښې چه قيام كړې وو هغه د بنوعمروبن عوف وه.

د نبی كريم ﷺ مدينې ته راتګ كله شوې وو؟:

قوله: قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ: امام حاكم رحمه الله ذكركړې دې چه اخبار تواتر ته رسيدلی دی په دې خبره باندې چه كله نبی كريم ﷺ قباء ته تشريف راوړو نود ربيع الاول اتم تاريخ وو اود اتوار ورځ وه.

ابن سعد رحمه الله په الطبقات الكبرى كښې داخبره ذكركړې ده چه نبی اكرم ﷺ د غار نه راؤوتلو د ربيع الاول څلورم تاريخ او د اتوار شپه وه. او يو قول داهم دې چه د ربيع الاول دولسم تاريخ وو.([1])

قوله: أَعْلَى الْمَدِينَةِ: په يو روايت كښې صرف د المدينة لفظ دې. د "أعلى" نه بغير. ([2])

خود سنن ابی داؤد په روايت كښې د "أعلى" په ځائی د "علو" لفظ دې داهم د "أعلى" په معنی دې.([3])

قوله: فَأَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهِمْ أَرْبَعَ عَشْرَةَ لَيْلَةً: دلته نبی اكرم ﷺ څوارلس شپې قيام اوكړو. بعضې نورو نسخو (د مستملی او حموی په نسخو) كښې څليريش شپې د قيام كولو ذكر دی. حافظ ابن حجر رحمه الله د څوارلسو شپو د قيام والا خبره راجح ګرځولې ده.([4])

علامه شبيراحمد عثمانی رحمه الله هم د څوارلسو شپو قيام اختياركړې دې.([5])

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله څليريش شپو ته ترجيح وركړې هغه تقرير هم د كتلو لائق دې.([6])

---

[1] للطبقات الكبرى لابن سعد، ذكر خروج رسول الله صلى الله عليه وسلم وأبى بكر إلى المدينة للهجرة: ١٧٩/١.

[2] عمدة القاري: ٢٥٩/٤.

[3] حدثنا مسدد، حدثنا عبدالوارث، عن أبي التياح، عن أنس بن مالك، قال: قدم رسول الله صلى الله عليه وسلم المدينة، فنزل في علوا لمدينة في حي يقال: لهم بنوعمرو بن عوف، فأقام فيهم أربع عشرة ليلة، ثم أرسل إلى بني النجار، فجاءوا متقلدين سيوفهم.........(سنن أبي داؤد، كتاب الصلاة، باب: في بناء المساجد، رقم الحديث: ٤٥٣)

[4] فتح الباري: ٦٨٠/١.

[5] فضل الباري: ١٤٢/٣.

[6] قوله: أربعا وعشرين ليلة ،داد حضورپاك د هجرت واقعه ده. په دې كښې مختلف روايات دی چه حضورپاك په قباء كښې څومره ورځې قيام كړې دی؟ په دې روايت كښې ۲۴ ورځې معلوميږی او پخپله د بخاری شريف په يو روايت كښې ۱۴ ورځو د قيام ذكر دې. ښكاره خبره ده چه په دې كښې به يو خلاف واقعه وی. نود دې نه معلومه شوه چه د بخاری شريف د رواياتو د صحيح كيدو نه دا نه لا زميږی ....

بهرحال که قيام ۲۲ ورځې وی او که ۱۴ ورځې دَدې نه دا ثابتيږی چه جمعه فى القرىٰ جائز نه ده. ځکه چه په دې خبره باندې اتفاق دې چه حضورپاك مدينې منورې طرف ته د راتلونه پس جمعه په قباء کښې نه ده ادا کړې. بلکه چه بنوسالم کښې حضورپاك مدينې منورې ته اورسيدو نو بيا ئې جمعه ادا کړه. په دې باندې د فريقينو اتفاق دې اوداخبره هم متعين ده چه جمعه د هجرت نه مخکښې واجب شوې وه. حضورپاك چونکه مکه مکرمه کښې اوسيدو سره جمعه ادا کولو باندې قادر نه وو په دې وجه هلته خو حضورپاك جمعه ادا نه کړه ليکن چه کله حضورپاك مدينې ته راغلو نو هلته په راتلو باندې ئې جمعه ادا کړې ده.

د جمعې فرضيت مکه کښې شوې وو: حافظ جلال الدين السيوطى رحمه الله په اتقان کښې [۱] ابن حجرمکى رحمه الله په شرح المنهاج کښې [۲] او امام شوکانى رحمه الله نيل الاوطار کښې [۳] دا خبره منلې ده چه په حضورپاك باندې جمعه د مکې مکرمې په قيام کښې فرض شوې وه ليکن د عدم قدرت د وجې نه حضورپاك هلته (مکه کښې) نه وه ادا کړې او د هجرت نه پس چه کله حضورپاك تشريف راوړو نو په قباء کښې د څوارلسو ورځود قيام باوجود هلته حضورپاك دَجمعې مونځ نه وو کړې. بلکه مدينې منورې ته په راتلو ئې کړې دې.

.... چه ټول روايات دې هم دَ واقعه مطابق هم وی. نو احناف هم دَدې قاعدې مطابق وائی. چه بخاری کښې دَ رفع يدين تذکره راتللو سره دا لا زم نه دی چه هغه دې دَ واقعه مطابق هم وی. يعنی د حضورپاك آخری فعل دې هم وی. اوس دلته دواړه روايات مشکل دی. ځکه چه ټول محدثين او مؤرخين په دې خبره باندې متفق دی چه حضورپاك دَ پير په ورځ قباء ته اورسيدو اوهم د پير په ورځ د مکې نه تلې وو. نو پير له روان شو او هم پير له قبا ته اورسيدو او مدينې ته ئې په ورځ د جمعه تشريف يوړو. اود ټولو نه اول جمعه ئې بنوسالم کښې ورکړه نو په دې دواړو باندې اتفاق دې چه د پير په ورځ قبا ته اورسيدو او د جمعې په ورځ ئې د قبا نه مدينې ته تشريف يوړو. اوس دوه قسمه روايات دی يو د ۲۴ او بل د ۱۴ ورځو اود دواړو نه يوهم دَدې اقوالو په رڼا کښې صحيح کيږی نه. ځکه چه که ۱۴ واخستې شی نو پير له حضورپاك قبا ته تشريف راوړو او د پير نه بل پير پورې اته او دريم پير پورې ۱۵ ورځې جوړيږی لهذا څوارلسمه ورځ يکشنبه باندې راځي حالانکه په دې باندې اتفاق دې چه د جمعې په ورځ مدينې ته لاړو. اود ۲۴ والا روايت هم نه جوړيږی ځکه چه د پير نه بل پير پورې اته، اودريم پير پورې پنځلس او څلورم پير له ۲۲ ورځې جوړيږی او نهې له ۲۳ او چارشنبې له ۲۴ ورځې جوړيږی. نو بيا هم د جمعې په ورځ ۲۴ ورځې نه جوړيږی. اوس دا دواړه خو صحيح نه شو لهذا زما رائې داده چه د ۲۴ روايت صحيح دی اودې صورت دادې چه راوی يوم الدخول او يوم الخروج نه دې شميرلې نو پير خو يوم الدخول في قباء وو او جمعه يوم الخروج منه وه اوس چه دواړه اوباسې نو ۲۴ صحيح کيږی. او د قول متفق سره تعارض هم نه راځي. په دې وجه به اوس شمير د نهې د ورځ نه کيږی ځکه چه پير خو تري اووتلو. نو د نهې نه د نهې پورې اته، اود دريمې نهې پورې پنځلس او د څلورمې نهې پورې ۲۲ او چارشنبه ۲۳ او جمعرات ۲۴ جوړيږی.
او جمعه چه يوم الخروج ده هغه هم خارج ده لهذا اوس بالکل صحيح شوه. اوس په دې سره زما يو تائيد اوشو هغه دا چه حضورپاك په قباء کښې د دريو جمعو پورې قيام کړې او يوه جمعه ئې هم د کلى کيدو د وجې نه نه ده ادا کړې ګنې بله څه خبره وه. (تقرير بخاری شريف: ۱۶۰/۲)

[۱] الاتقان فى علوم القرآن، النوع الثانى عشر ماتأخر حكمه عن نزوله وما تأخر نزوله عن حكمه: ۱۳۴/۱.
[۲] تحفة المحتاج فى شرح المهاج لابن حجر الهيثمى، كتاب الصلاة، باب: صلاة الجمعة: ۴۰۵/۲.
[۳] نيل الأوطار للشوكانى، كتاب الجمعة، باب: انعقاد الجمعه بأربعين وإقامتها فى القرى: ۲۷۴/۳.

قوله: ثُمَّ أَرْسَلَ إِلَى بَنِي النَّجَّارِ، فَجَاءُوا مُتَقَلِّدِي السُّيُوفِ: بيا حضورپاك بنونجار ته پيغام ليږلو سره راوغوښتل نو هغه خلقو توري زوړندې كړې وې او په خدمت كښې حاضر شو. بنونجار دَ حضورپاك ماماخيل وو.(١)

توري زوړندولو سره دَ راتلو څه مقصد وو؟:

قوله: مُتَقَلِّدِي السُّيُوفِ، دا په اصل كښې **متقلدين السيوف** وو دَ اضافت دَ وجې نه نون پريوتلو. دا مركب دَ "جاؤوا" دَ ضمير نه حال جوړيږي.(٢) علامه برماوي رحمه الله فرمائي چه دَهغوى دا سې راتلو كښې حكمت دا وو چه په دې سره ئې يهوديان ويرول مقصود وو دې دَ پاره چه هغوى او كوري چه دَمديني انصار دَ حضورپاك دَ امداد او نصرت دَپاره څنګه تيارى كړې دې.(٣)

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائي چه داد هغه زماني دستور وو چه كله به دَ چا دَ استقبال دَ پاره تلل نو توره وغيره به ئې ځان سره اوړل لكه څنګه چه نن صبا دَ شيرواني اچولو رواج دې.(٤)

قوله: كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى رَاحِلَتِهِ، وَأَبُو بَكْرٍ رِدْفُهُ وَمَلَأُ بَنِي النَّجَّارِ حَوْلَهُ حَتَّى أَلْقَى بِفِنَاءِ أَبِي أَيُّوبَ:

(دَ راوى حديث بيان دې چه) لكه هغه نظاره زما مخې ته وى چه زه نبى اكرم صلى الله عليه وسلم په خپله سورلئ باندې سور وينم، حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه حضورپاك پسې شاته په سورلئ ناست دې. اودَ بنونجار يو جماعت دَ حضورپاك نه چاپيره دې. هم په دې حال كښې نبى مكرم صلى الله عليه وسلم دَ حضرت ابوايوب رضي الله عنه دَ كور مخې ته خپل سامان راكوز كړو.

قوله: رَاحِلَتِهِ: دَ اوښ سورلئ ته راحلة وائي. برابره ده كه اوښ نر وى او كه ماده ليكن هغه وخت حضورپاك په اوښه باندې سور وو دَ كومې نوم چه قصواء وو.(٥)

قوله: أَبُو بَكْرٍ رِدْفُهُ: رديف هغه سړي ته وائى چه اصل سور پسې شاته هم په هغه سورلئ ناست وى.(٦)

دَ حضرت ابوبكر رضي الله عنه دَ نبى كريم صلى الله عليه وسلم دَ رديف جوړيدو وجه: دَ روايت مطابق حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه سره خو خپله اوښه هم وه بيا دَ حضورپاك رديف ولې جوړشو؟

نو په دې باره كښې شراحو ليكلى دى چه ممكنه ده دَ څه مرض وغيره دَ وجې نه هغوى خپله اوښه قبيلهٔ عمرو بن عوف كښې يا چرته بل ځائى پريخودې وه. يا هغه اوښه ئې واپس كور ته ليږلې وه. دې دَپاره چه كور والا ئې استعمال كړى. يا يوه بله وجه ده چه ډيره بهتر

(١) التوضيح لابن الملقن: ٤٦٧/٥ عمدة القارى: ٢٥٩/٤.
(٢) عمدة القارى: ٢٥٩/٤.
(٣) اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ١٧٦/٣.
(٤) تقرير بخارى شريف: ١٦٠/٢.
(٥) النهاية فى غريب الحديث والأثر، باب: الراء مع الحاء: ٦٤٥/١ عمدة القارى: ٢٥٩/٤.
(٦) معجم الصحاح، ردف، ص: ٤٠١، ردفه، المرتدف، أى يركب خلف الراكب. (اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ١٨٦/٣).

معلوميږي چه د هغوی اوښه هم ورسره وه ليکن هغه په دې سور نه شودې د پاره چه د نبی اکرمﷺ د رديف جوړيدو شرف حاصل کړي. او په دې کښې دې خبرې طرف ته هم اشاره کيدې شي چه د حضورپاك نه پس هم هغوی د حضورپاك خليفه جوړيدل وو.(١)

قوله: وَمَلَأُ بَنِي النَّجَّارِ حَوْلَهُ: الملاء نه مراد د قبيلې معزز او سرداران خلق دی. دې نه علاوه د ملاء نه مراد جماعت هم وی.(٢)

قوله: أَلْقَى: دې ځائی کښې د دې فعل مفعول محذوف دې کوم چه رحله دې، يعنی خپله کجاوه ئی واچوله.(٣)

قوله: بِفِنَاءِ: دې نه مراد دکور مخې ته خالی ځائې دې.(٤)

اوښه د الله تعالی د طرف نه مامور وه: په انصارو کښې هرسړی د دې نيك بختئ تمنا لرله چه حضورپاك د هغه سره قيام اوکړي. حضورپاك اوښه پريخوده او وئی فرمائيل "إنها مأمورة" هغه اوښه د حضرت ابو ايوب انصاری رضي الله عنه د کورمخې ته په خالی ځائی کښې کيناسته. بعضې رواياتو کښې دا هم راځی چه په اول ځل کيناسته بيا پاسيده دوه څلور قدمه تلو سره دوباره هم هلته کيناسته.

د دې واقعې سره متعلق د سير يو عجيبه روايت: علامه نيسابوری رحمه الله خپل کتاب "شرف مصطفی صلی الله عليه وسلم" کښې يوه واقعه نقل کړې ده دکوم مفهوم چه څه داسې دې. يو صحابی وو جبار بن صخر رضي الله عنه د هغه کور د حضرت ابو ايوب انصاری رضي الله عنه د کور نه لرې شان وړاندې وو هغه غوښتل چه (اوښه) لرې شان وړاندې خوئيدو سره زما د کور مخې ته اودريږی هغه په پټه باندې اوښه باندې څکونډئی اولګوله. حضرت ابو ايوب انصاری رضي الله عنه چه دا اوکتل نو غصه کښې راغلو وئی وئيل والله که چرته نن اخوت اسلامی يعنی اسلامی رور ولی نه وې نو ما به ستا سټ الوزولې وو. ته زما نه دا سعادت په زور اخلې او خپل کور ته ئی بوتلل غواړې کوم چه الله تعالی په خپل فضل سره ماته راکړې دې.(٥)

---

(١) التوضيح لابن الملقن: ٤٦٨/٥ عمدة القاري: ٢٥٩/٤.

(٢) النهاية في غريب الحديث والأثر، باب: الميم مع اللام: ٦٧٢/٢ عمدة القاري: ٢٥٩/٤.

(٣) اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ١٨٦/٣ عمدة القاري: ٢٥٩/٤.

(٤) النهاية في غريب الحديث والأثر، باب: الفاء مع النون: ٣٩٧/٢ عمدة القاري: ٢٥٩/٤.

(٥) قال لما دخل رسول الله صلى الله عليه وسلم المدينة قام إليه المنذر بن عمرو وأبو دجانة وجامعة من أشرافهم يقولون: هلم يا رسول الله إلى العز والثروة، وجعل رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: بارك الله عليكم، خلوا سبيلها فإنها مأمورة، حتى جاء إلى باب أبي أيوب فبركت ناقته هناک، فجاء جبار بن صخر فنخسها بالرحل، فقال أبوأيوب: أعن منزلي تنحيها، فما؟ والذي بعثه بالحق لولا الإسلام لضربتک بالسيف. (مناحل الشفا ومناهل الصفا بتحقيق كتاب شرف المصطفى صلى الله عليه وسلم للنيسابوري، باب: ذكر مقدم النبي صلى الله عليه وسلم قباء وبناء المسجد: ٣٦٥/٢). د دې کتاب محقق الشيخ ابوالقاسم عبدالکريم بن هوازن القشيري دا واقعه نقل کولو نه پس ليکلی دی چه په دې قصه کښې نکارت دې وئی ګورئی. وفي السياق نكارة، لأن جبار بن صخر هذا كان ممن أسر يوم بدر فيما ذكره أصحاب المغازي والسير، ومحمدبن الحسن ممن يضعف في الحديث، وانظر التعليق التالي (حواله بالا).

دَ حضرت ابوایوب انصاری رضی الله عنه دَ کور تاریخ: علامه زرقانی رحمه الله نقل کړی دی چه دَ یمن دَ بادشاهانو لقب "تبع" دې اودا مشهوره خبره ده. دَ حضورپاك دَ هجرت کولو نه اته سوا کاله وړاندې دَ یمن یو بادشاه جنګ کول تردې چه مدینې پورې راؤ رسیدو. کله چه هغه مدینې ته راؤرسیدو نو یو یهودی عالم هغه ته اووئیل چه ته دلته جنګ مه کوه. دادَ خاتم النبیین صلی الله علیه وسلم دَ هجرت ځائی دې. حضورپاك به دلته راځي او قیام به کوي. لهذا دَ ادب تقاضا داده چه دلته جنګ اونه کړې شي. دغه دَیمن بادشاه چه دَ یهودی عالم خبره واوریدو نو هلته ئې جنګ بند کړو اونه یوازې دا چه جنګ ئې بند کړو بلکه هغه هلته یو مکان جوړ کړو او وئې وئیل په دا دَ نبی آخرزمان دَ پاره دې او څه نور مکانات ئې هم جوړ کړل چه دَ یهودیانو احبارو ته ئې ورکړل. اودَې نه پس هغه دَ حضورپاك په نوم باندې یو خط اولیکلو په هغې کښې ئې دا اولیکل چه دامکان کوم چه مادَ نبی آخرزمان دَ پاره جوړ کړې دې. کله چه هغوی تشریف راوړی نو هغوی ته دې پیش کړې شي. په دغه خط کښې هغه دا هم اولیکل چه زه په هغه باندې ایمان راوړم او دا وعده کوم که چرې ماته دَ هغه زمانه ملاؤ شوه نو زه به دَ هغه خادم جوړشم. هغه په دغه خط کښې یو شعر هم اولیکلو:

شهدت علی أحمد أنه رسول من الله باری النسم

فلو مد عمری إلی عمره لکنت وزیراله وابن عم

یعنی که چرې ما هغه زمانه اوموندله نو زه به دَ هغه خادم، وزیر او دَ تره ځوئی جوړشم. چنانچه علامه زرقانی رحمه الله فرمائی هغه خط او کور منتقل کیدو سره حضرت ابوایوب انصاری رضی الله عنه ته اورسیدو. چنانچه کله چه حضورپاك تشریف راوړو نو حضرت ابوایوب رضی الله عنه هغه خط حضورپاك ته پیش کړو اودَ حضورپاك اوښه کومه چه دَ مدینې منورې دَ رسیدو نه پس دَ حضرت ابوایوب رضی الله عنه دکور مخې ته رامنع شوه دا په حقیقت کښې دَ الله تعالی دَ وحی اثر وو لکه څنګه چه دَ حدیبیه په مقام باندې کله حضورپاك مکه مکرمه کښې داخلیدل غوښتل نو اوښه کیناسته او دَ تلو نه ئې انکارکړې وو، هغه هم دَ وحی اثر وو. کله چه حضورپاك اوفرمائیل که چرې کافرانو اومشرکانو زما سره څه داسې معاهده اوکړه په کوم کښې چه هغوی دَ شعائر الله احترام کونکی وی نو زه به هغه منظور او قبوله کړم. او حضورپاك مکې مکرمې ته دَ تلو او ښار کښې دَ داخلیدو اراده روستو کړه نو هغه اوښه فورې اودریده او حضورپاك دَ حدیبیه مقام ته تلو سره هلته ایسار شوې وو. دغه شان دلته هم دَ حضرت ابوایوب انصاری رضی الله عنه دَ کور مخې ته راغله اوکیناسته. یوځل کیناسته اودې نه پس پاسیده اخوا دیخوا تلو راتلو سره بیا واپس هم هلته راغله اوکیناسته دا دَ الله تعالی حکم سره اوشو.[1]

دې نه پس علامه زرقانی لیکی چه حضورپاك دَ حضرت ابوایوب انصاری رضی الله عنه په کورکښې ایسار شو نو دا هم دَ حضورپاك کور وو چه هم دَ حضورپاك دَ پاره جوړ کړې شوې وو

---

[1] شرح العلامه الزرقانی علی المواهب اللدنیة للقسطلانی، باب: هجرة المصطفی وأصحابه إلی المدینة، خاتمة: فی وقائع متفرقة حصلت فی الهجرة: ۱۶۳/۲.

حضورپاك دَ بل چا په کور کښې قيام نه دې کړې.(۱)

پاتې شوه دا خبره چه اوښې ته وحی، نو دا څه داسې خبره نه ده ﴿ وَاَوْحٰى رَبُّكَ اِلَى النَّحْلِ اَنِ اتَّخِذِيْ مِنَ الْجِبَالِ ﴾ دَ قرآنِ مجيد آيت دې چه الله تعالى دَ شاتو مچئی ته وحی کړې ده.

قوله: وَكَانَ يُحِبُّ أَنْ يُصَلِّيَ حَيْثُ أَدْرَكَتْهُ الصَّلَاةُ، وَيُصَلِّي فِي مَرَابِضِ الْغَنَمِ: حضورپاك دا خبره خوښوله چه چرته هم په هغوی دَ مونځ وخت راغلې هم هلته مونځ ادا کړی. (تردې چه) حضورپاك دَ چيلو په باړه کښې هم مونځ اداکړې دې.

قوله: وَيُصَلِّي فِي مَرَابِضِ الْغَنَمِ: دَ ويصلى عطف په يحب باندې دې نه چه په يصلى باندې.(۲)

قوله: مَرَابِضِ: دَ چيلو دَ ايساريدو ځائی ته مَربض وائی اودَ دې جمع مرابض استعماليږی.(۳) دَ چيلو په باړه کښې دَ مونځ دَ مباح کيدو په بيان کښې مستقل يو باب وړاندې راروان دې.

قوله: وَأَنَّهُ أَمَرَ بِبِنَاءِ الْمَسْجِدِ، فَأَرْسَلَ إِلَى مَلَإٍ مِنْ بَنِي النَّجَّارِ فَقَالَ: «يَا بَنِي النَّجَّارِ ثَامِنُونِي بِحَائِطِكُمْ هَذَا»، قَالُوا: لَا وَاللهِ لَا نَطْلُبُ ثَمَنَهُ إِلَّا إِلَى اللهِ:

چنانچه حضورپاك په هغه ځائی کښې دَ يو جمات جوړولو حکم ورکړو. چنانچه حضورپاك بنونجار راؤغوښتل او ورته ئې اوفرمائيل اې بنونجار! تاسو دَدې ځپل ځائی قيمت واخلئ، هغوی عرض اوکړو نه، په الله قسم چه نه، مونږ به تاسو نه دَدې قيمت نه اخلو مونږ خو به دَدې اجر صرف دَ الله تعالى نه اخلو.

قوله: وَأَنَّهُ أَمَرَ بِبِنَاءِ الْمَسْجِدِ: يو روايت کښې دا کلام دَ اِن نه شروع کيږی په دې وجه چه دا مستقل کلام دې چه حضورپاك دَ جمات جوړولو حکم ورکړو.(۴) او په يو بل روايت کښې "أَمَرَ" دَ معروف په ځائی "أُمِرَ" مجهول صيغه ده.(۵) په دې صورت کښې به دَ "أنه"، "هو" ضمير، ضمير شان وی.

قوله: ثَامِنُونِي بِحَائِطِكُمْ: علامه کرمانی رحمه الله دَدې جملې ترجمه "تبيعونيه بالثمن" سره کړې ده چه تاسو ما باندې دَزمکې دا ټکړه دَ قيمت په بدله خرڅه کړئی.(۶) بعضې حضراتو دَدې مطلب

---

(۱) (فعلى هذا) المذكور من أن تبعًا بنى للمصطفى - صلى الله عليه وسلم - دارًا (إنما نزل فى منزل نفسه لا فى منزل غيره.. كذا حكاه فى تحقيق النصرة) فى تاريخ دارالهجرة لقاضيها الشيخ زين الدين بن الحسين المراغى من مراغة الصعيد من فضلاء طلبة الجمال الإسنوى. (شرح العلامة الزرقانى على المواهب اللدنية للقسطلانى، باب: هجرة المصطفى وأصحابه إلى المدينة، خاتمة: فى وقائع متفرقة حصلت فى الهجرة: ۱۶۴/۲).

(۲) اللامع الصبيح بشرح الجامع الصحيح: ۱۸۶/۳.

(۳) معجم الصحاح، رب ض، ص: ۳۸۶، النهاية فى غريب الحديث والأثر، باب: ربض: ۶۲۶/۱.

(۴) عمدة القارى: ۲۶۱/۴.

(۵) مصابيح الجامع بشر الجامع الصحيح البخارى: ۱۳۵/۲، عمدة القارى: ۲۶۱/۴.

(۶) شرح الكرمانى: ۹۰/۴.

"اذکروالی ثمنه" ذکر کړي دي. د کوم مطلب چه دادې چه تاسو ماته دَدې قیمت اوښایئ.[1]
علامه ابن الملقن رحمه الله "قدروا ثمنه لأشتريه منكم وبايعونی فيه" سره دَدې ترجمه کړې ده، چه تاسو دَدې قیمت مقرر کړئ چه زه تاسو نه دازمکه واخلم او تاسو په دغه قیمت دا زمکه په ما خرڅه کړئ.[2]
دَدې ټولو معانیو نه پس علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دَدې ټولو مطلبونو نه یو هم دَدې مادې/صیغې "ثامنونی" دَ تفسیر جوړیدو صلاحیت نه لری اګرچه دا ټولې معانی په مقصود باندې دلالت کوی. لیکن دَدې صحیح تفسیر هغه دې کوم چه ما په شرح ابوداؤد کښې کړې دې چه کله یو سړې دَ بل نه څه څیز اخستلو دَ پاره بیع وغیره کوی نو هغه وخت دَ ثامنونی لفظ استعمالولې شی. نو دلته به هم دا مراد وی چه ماته دَدې زمکې دَ ټکړې قیمت اوښایه چه زه تانه دَ زمکې دا ټکړه واخلم.[3]
حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله فرمائی چه دا دَ دوو یتیمانو زمکه وه حضورپاک هغوی ته اوفرمائیل چه تاسو دَدې زمکې قیمت اوښایئ. هغوی اووئیل چه مونږ خودا بغیردَ قیمت نه درکوو مګر حضورپاک دا منظوره نه کړه او هم په قیمت ئې ترې زمکه واخستله. ځکه چه دغه دَ یتیمانو مال وو. دلته روایت مختصر دې په ابواب هجرت کښې به پوره شی.[4]
قوله: بِحَائِطِكُمْ: دَ حائط نه مراد باغ دې صرف دیوال نه دې. دَدې دلیل وړاندې راتلونکې قول "وفیه نخل" دې.[5]
قوله: لَاوَاللَّهِ: دا اجمال دې وړاندې قول "لانطلب ثمنه إلا إلى الله" دَدې اجمال نه پس تفصیل دې. او دَ اجمال تفصیل اوقع فی النفس وی لکه ﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ﴾.
قوله: إِلَى اللَّهِ: کښې کلمه "إلى" دَ من په معنی ده. دَ لغت علماؤ لیکلی دی چه "إلى" دَ انتهاء غایت بیانولو دَپاره راځی.[6] لهذا "لانطلب ثمنه إلا إلى الله" کښې بنونجارو حضورپاک ته عرض اوکړو چه زمونږ انتهاء غایت دَ الله تعالی نه طلب دَ اجر دې. دَ الله تعالی دَ رضا طلب دې مونږ ته قیمت نه دې پکار. اودا بالکل داسې ده لکه چه حضرت عیسی علیه السلام فرمائیلې وو: ﴿مَنْ أَنصَارِي إِلَى اللَّهِ ۖ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنصَارُ اللَّهِ﴾ (آل عمران: ٥٤)

---

[1] علامه عینی رحمه الله دلته بعضې حضرات وئیلو سره ذکر کړې دې خودَدې قائل حافظ ابن حجر رحمه الله دې. وګورئ: فتح الباری: ٦٨١/١ اوحافظ صاحب رحمه الله هم داجمله دَ علامه دمامینی رحمه الله نه دَ هغوی طرف ته دَ نسبت کولو نه بغیر نقل کړې ده. اوګورئ: مصابیح الجامع شرح الجامع الصحیح البخاری: ١٣٥/٢.
[2] التوضیح لابن الملقن: ٤٧١/٥.
[3] عمدة القاری: ٢٦١/٤.
[4] تقریربخاری شریف: ١٦٠/٢.
[5] التوضیح لابن الملقن: ٤٧١/٥ عمدة القاری: ٢٦١/٤.
[6] معجم الصحاح، المادة: ا ل، ص: ٤٩.

دلته حضرت عيسى عليه السلام مبتدا خپل ذات جوړ کړو او منتهى نى د الله تعالى ذات جوړ کړې وو. حواريينو جواب ورکړو: ﴿نَحْنُ أَنْصَارُ اللَّهِ﴾ (١) مبتدا هغوى غائب کړه او صرف د منتهى هغوى رعايت اوکړو. هلته هم "إلى" د منتهاء غايت د بيانولو د پاره دې.

علامه کرمانى رحمه الله چه د دې جملې کومه معنى بيان کړې ده د هغې حاصل دادې چه مونږ د هغه زمکې قيمت نه اخلو کومه چه به د الله تعالى په لار کښې استعماليږى.

بيا سوال دا پيدا کيږى چه هغوى د دغه زمکې بدل اخستل نه غوښتل نو د لفظ ثمن استعمال ئى په کوم بنياد اوکړو؟ جواب دادې چه دا لفظ د مشاکلت په توګه استعمال کړې شو. مطلب دا چه کله نبى کريم ﷺ دا فرمائيلي وو چه د دې د قيمت په بدله کښې په ما خرڅه کړئې نو په جواب کښې هم هغوى هغه لفظ استعمالولو سره اووئيل چه مونږ به د دې قيمت هم د الله تعالى نه وصول کوو. بيا علامه کرمانى رحمه الله يو اشکال او د هغې جواب نقل کړې دې چه که څوك دا اعتراض اوکړى چه د "الطلب" د مصدر صله خو "مِن" استعماليږى د کوم تقاضا چه داده چه دا وئيلې شوې وې "إلا من الله" نه چه "إلا إلى الله".

نو د دې جواب دادې چه په دې جمله کښې به په معنوى توګه دا مقدر منلې شى: "لانطلب من أحد لكنه مصروف إلى الله". (٢)

علامه قرطبى رحمه الله فرمائى چه د دې نه معلوميږى چه سړې چرته د اوسيدو اهتمام اوکړى، کوم ځائى چه خپل وطن جوړ کړى نو هلته دې جمعه او د جمع د قائمولو او د شعائر اسلام د اظهار په خاطر جمات قائم کړى. (په دې کښې دا ضرورى دى چه د مخکښې نه هلته جمات نه وى بيا وى خو، ليکن د آبادئى په اعتبار سره ناکافى وى). (٣)

قوله: فَقَالَ أَنَسٌ: فَكَانَ فِيهِ مَا أَقُولُ لَكُمْ قُبُورُ الْمُشْرِكِينَ، وَفِيهِ خَرِبٌ وَفِيهِ نَخْلٌ: حضرت انس رضي الله عنه اوفرمائيل لکه څنګه چه زه تاسو ته وايم چه دلته د مشرکانو قبرونه وو. په دې ځائى کښې يو شاړ ځائى وو او د کهجورو ونې وې.

قوله: فَكَانَ فِيهِ: د ضمير مرجع "الحائط" ده په کوم کښې چه مکان جوړ شوې وو. (٤)

قوله: قُبُورُ الْمُشْرِكِينَ: دې نه وړاندې راوى اووئيل: "ما أقول لكم" چه په دې ځائى کښې هغه وو کوم چه زه تاسو ته بيانوم. د دې نه پس به دا جمله د بدل په توګه يا به د بيان په توګه وى. (٥)

---

(١) ايضاً.

(٢) شرح الكرماني: ٩٠/٤.

(٣) المفهم لما أشكل من تلخيص كتاب مسلم، كتاب الصلاة، باب: ابتناء مسجد النبى صلى الله عليه وسلم: ١٢١/٢.

(٤) فتح الباري: ٦٨١/١.

(٥) عمدة القاري: ٢٦٢/٤.

قوله: خَرِبٌ: دا دَ جمع صیغه ده دکوم واحد چه "خَرِبَة" دي.لکه دَ كَلِمَة جمع كَلِم ده.(۱)

قوله: فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقُبُورِ الْمُشْرِكِينَ، فَنُبِشَتْ، ثُمَّ بِالْخَرِبِ فَسُوِّيَتْ، وَبِالنَّخْلِ فَقُطِعَ، فَصَفُّوا النَّخْلَ قِبْلَةَ الْمَسْجِدِ وَجَعَلُوا عِضَادَتَيْهِ الْحِجَارَةَ:

نونبی کریم ﷺ دَمشرکانو دَ قبرونو دَ ورانولو حکم ورکړو او دَ شاړ ځائی دَ برابرولو حکم ئی ورکړو. او ونې ئې پرې کړې. خلقو دغه ونې دَ جمات دَ قبلې طرف ته خورې کړې اود کانړو په ذریعه ئې دَ هغې دوه ستنې جوړې کړې.

قوله: فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقُبُورِ الْمُشْرِكِينَ، فَنُبِشَتْ: نبی کریم ﷺ دَ مشرکانو دَ قبرونو دَ ورانولو حکم ورکړو نوهغه وران کړې شو.

په وخت دَ ضرورت دَ مشرکانو قبرونو ورانولو جواز: قبرونه ورانول، هغه وخت چه کله دَ مشرکانو ، کافرانو وی، مړی خاورې شوې وی، دَ غصب په ځائی کښې خښ کړې شوې وی، جائز دی. دَ قبر احترام دَدې خبرو نه علاوه صورت کښې دې. خلاصه دا چه داسې کول دَ ضرورت په وخت جائز دی. لیکن دَمسلمانانو قبرونو سره په داسې معامله نه شی کولې.(۲).

قوله: ثُمَّ بِالْخَرِبِ فَسُوِّيَتْ: دَ بالخرب عطف په بقبور المشركين باندې دې. مطلب دا چه په زمکه کښې جوړې شوو کندو وغیره باره کښې ئې حکم اوفرمائیلو چه دا دې برابر کړې شی یعنی ډکې دې کړې شی دې دپاره چه زمکه هواره شی ښکته پورته یا بې ترتیبه پاتې نه شی.

قوله: وَبِالنَّخْلِ: دې نه مراد هم دغه دې چه دَ کهجورو اونو دَ پرې کولو حکم ئې ورکړو.(۳) علامه قرطبی رحمه الله لیکلی دی چه ددې نه معلومیږی چه میوه دارې ونې هم دَ ضرورت اوحاجت په وخت پرې کولې شی.(۴)

قوله: فَصَفُّوا النَّخْلَ قِبْلَةَ الْمَسْجِدِ: علامه سمهودی رحمه الله دَدې قول په تشریح کښې دا فرمائیلی دی چه دغه ونې دَ قبلې طرف ته دَ دیوال نه جدا دَ ستنو په توګه اودرولې شوې.(۵)

علامه سهیلی رحمه الله دَ ابن اسحاق په واسطه دَ یونس بن بکیر رحمه الله روایت نقل کړې دې چه دَ جمات دَ قبلې والا طرف په خښتو باندې پوخ کړې شو بلکه وئیلی شوی دی چه هغه دیوال په کانړو سره داسې پوخ کړې شو چه یو کانړې په بل کانړی کښې داخل وو.(۶)

---

(۱) الخرب: يجوز أن يكون بكسر الخاء، وفتح الراء، جمع خَرِبَة، كَنَقِمَة، ونِقَم. أو يجوز أن تكون، جمع خِرْبَة – بكسر الخاء ، وسكون الراء على التخفيف – كنعمة ونِعَم، ويجوز أن يكون، الخَرِب، بفتح الخاء، وبكسر الراء، كَنَبِقَة، ونَبِق، وكلمة، وكَلِم، وقد روى بالحاء المهملة، والثاء المثلثة، يريد به: الموضع المحروث، للزراعة. (النهاية في غريب الحديث والأثر، خ ر ب: ۱/٤۷۷).

(۲) المفهم لما أشكل من تلخيص كتاب مسلم،كتاب الصلاة، باب: ابتناء مسجد النبي صلى الله عليه وسلم:۲/۱۲۲.

(۳) عمدة القاري: ۲۶۲/٤.

(٤) المفهم لما أشكل من تلخيص كتاب مسلم، كتاب الصلاة، باب: ابتناء مسجد النبي صلى الله عليه وسلم: ۲/۱۲۲.

(۵) خلاصة الوفاء بأخبار دار المصطفى صلى الله عليه وسلم، عمارة النبي صلى الله عليه وسلم مسجدالمدينة: ۲/۸.

(۶) الروض الأنف: ۲٤۸/۲.

دَ "قبلة المسجد" نه مراد دَ قبلې طرف دې، نه چه دَ نن صبا دور كښې موجوده قبله.[1]

قوله: وَجَعَلُوا عِضَادَتَيْهِ الْحِجَارَةَ: عضاد واحد دې او عضادتيه تثنيه ده دَدې معنى ده دَ لارې اړخ، دَ تالاب غاړې، كله چه هغه په كاڼړو سره مضبوط كړې شى، دَ چوكاټ دواړه درشلې مضبوطول، دې ځائې كښې مراد دوه ستنې اودرول دى، كومې چه دَ كاڼړو وې.[2]

دَ حضرت عمار بن ياسر ﷺ دَ شهادت خبر: په دې موقع چه دَ مسجد نبوى آبادې كيده نبى اكرم ﷺ او ټولو صحابه كرامو ﷺ په دې آبادى كښې حصه واخسته نو هغه وخت حضرت عمار بن ياسر ﷺ دَ جمات دَ آبادى دَ پاره دوه دوه خښتې اوچتولې او راوړلې ئې. يوه خښته دَ خپل طرف نه او دويمه دَ نبى كريم ﷺ دَ طرف نه. هغه وخت نبى كريم ﷺ هغه ته ارشاد اوفرمائيلو چه دَ ټولو دَ پاره يو اجر دې اوستا دَ پاره دوه اجرونه دى. (او اې عمار!) په دې دنيا كښې به ستا آخرى خوراك دَ پيو ګوټ وى او تا به يو باغى ډله شهيد كړى.[3]

قوله: وَجَعَلُوا يَنْقُلُونَ الصَّخْرَ وَهُمْ يَرْتَجِزُونَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَهُمْ: صحابه كرامو ﷺ به كاڼړى اوچتولو سره رجزيه شعرونه وئيل او نبى كريم ﷺ هم دَ هغوى سره وو.

دَ نبى كريم ﷺ او دَ صحابوُ ﷺ شعرونه وئيل:

قوله: يَرْتَجِزُونَ: رجز ئې وئيلو.[4]

---

[1]) التوضيح لشرح الجامع الصحيح لابن الملقن: ٤٧٥/٥.

[2]) المعجم الوسيط، ص: ٦٠٦.

[3]) الجامع للإمام معمر بن راشد ومعه المصنف لابن عبدالرزاق، باب أصحاب النبى صلى الله عليه وسلم. رقم الحديث: ٢٠٤٢٦، ١١/٢٤٠-٢٣٩.

[4]) علامه احمد رضا خان بجنورى رحمه الله ليكى چه حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائيلى دى چه دَ اخفش (امام نحو) رائې ده چه رجز دَ بحور اشعار نه نه دې نو علماء دَ نحو ئې هم ددې نه منى. مګر زما په نيز دَ اخفش رائې مضبوطه او ژوره ده رجز دَ اردو فقرې بندې وتک بندى په شان دې او شعر او رجز مقابل ګڼړلې شى. چنانچه دَ تباع يمن سره به راجز هم وو اوشاعران هم، اودَ ټولو شاعرانو نه پس به راجز اوريدلې كيدو، لهذا رجز دَ شعر نه علاوه دې. بيا چه كوم خلق رجز په شعر كښې داخل ګڼړى هغوى هم په دې كښې قصد او اراده ضرورى ګڼړى او وائى چه دَ حضورپاك نه خو انشاء دَ شعر چرته ثابت نه دې يعنى حضورپاك پخپله شاعرى نه ده كړې، نه ئې چرته څه شعر وئيلې دې ځكه چه دَ حضورپاك دَ لوئى شان سره مناسب او موزون نه وو. البته دَ نورو شعرونه او رجز ئې وئيلې دي او په اشعارو كښې به ئې هم نه په قصد سره وزن ماتولو. په كوم باندې چه به حضرت ابوبكر ﷺ فرمائيل هم چه حضرت داسې نه دې او حضورپاك به په جواب كښې فرمائيل چه زه شاعر نه يم. دَ حضورپاك نه دا شعر وئيل ثابت دى دَ كوم په اسناد كښې چه ائمه نحو دى:

تفاءل بما تهوى يكن فلقلما   يقال لشيئ كان الا تحقق

په اصل شعر كښې "تحققا" په الف سره وو كوم چه حضورپاك مات كړو. العرف الشذى او فيض البارى كښې "تحققا" چهاپ شوې دې كوم چه غلط دې ځكه چه سنن بيهقى ص: ۴۳ ج ۷ كښې دى چه حضرت عائشه ﷺ اوفرمائيل چه حضورپاك كله هم پوره شعر نه دې وئيلې مګر يو او بيائى هم دغه پورتنې شعر ذكر كړو. دې نه پس امام بيهقى رحمه الله اوفرمائيل چه دَ رجز وئيلو ثبوت دَ حضورپاك نه ....

په دې خبره كښې د ماهرينو اختلاف دې چه رجز د شعر د قسمونو نه دې كه نه؟ د اكثرو عروضيينو او د اهل ادبو اتفاق دې چه رجز شعر نه دې ځكه چه نبى اكرم ﷺ هم دا ونيلى دې. كه چرې دا شعر وې نو نبى ﷺ ته به د شعر علم كيدل لا زم شى حالانكه په قرآن حكيم كښې دى. ﴿وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ﴾ [1] الله تعالى فرمائيلى دى چه مونږ نبى ﷺ ته شعر نه دې خودلې. ليكن دا قول صحيح نه دې ځكه چه يو نيم شعر ونيلو سره يا كله كله شعر ونيلو سره ځوك شاعر نه جوړيږى او نه داسې سړى ته د شاعر نوم وركولې كيږى. او نه هغه شعرونه د دغه سړى طرف ته منسوب كولې شى. [2]

صحيح قول هم دغه دې چه رجز هم د شعر يو قسم دې، ځكه چه شعر هغه موزون كلام ته وائى په كوم كښې چه د قافيه رعايت اوكړې شى او رجز هم دغه شان دې. [3]

علامه قرطبى ﷫ فرمائى چه په دې كښې داسې هيڅ دليل نشته دې چه نبى كريم ﷺ به اشعار ونيل بلكه ظاهره خبره خودا ده چه صحابه كرامو ﷡ به رجز ونيلو او نبى كريم ﷺ به هلته موجود وو ځكه چه واؤ حاليه دې او جمله "النبى صلى الله عليه وسلم معهم" د حال په ځائى دې. او دويم احتمال دا هم دې چه د دې جملې "النبى صلى الله عليه وسلم معهم" عطف د "يرتجزون" په ضمير باندې دې. په دې صورت كښې اشعار ويونكو كښې صحابه ﷡ او نبى ﷺ ټول وو. [4]

د سماع په مباح كيدو باندې استدلال: علامه قرطبى ﷫ فرمائى چه صوفياء كرامو د نبى ﷺ او صحابه كرامو ﷡ د دې شعرونو ونيلو نه د سماع په مباح كيدو باندې دليل نيولې دې. ليكن په موجوده دور كښې په دې كښې غلو شوې ده، د جواز د حد نه ئې تجاوز كړې شوې دې، د موسيقئ آلات جائز ګرځولې شوى دى حالانكه دغه حرام دى، ګډا كانې جائز ګڼړلې شى، دا خود ليونو، اهل باطل او فاسقانو خلقو كارونه دى. كوم چه هغوى په دين كښې داخل كړى دى حالانكه دا د دين نه نه دى. الله تعالى دې په خپل فضل او احسان سره مونږ د دې نه محفوظ اوساتى، آمين. [5]

.... ضرور شوې دې او بيائې په سندونو سره ونيلې شوى د ډيرو رجزونو ذكر ئې اوكړو. بيا دا اختلاف دې چه د قرآن مجيد نه شعر كښې اقتباس جائز دې كه نه؟ مثلاً

ايها الناس اتقوا ربكم	زلزلة الساعة شيئ عظيم
ومن يتق الله يجعل له	ويرزقه من حيث لا يحتسب

دلته ئې يو يو لفظ كمولو سره شعر جوړ كړې دې داسې د شافعيؤ په نيز جائز دى مګر زمونږ په نيز جائز نه دې او دې نه خو زما هسې ويره ده كه چرې بغير د كمولو اوشى نو خير دې. (انوار البارى: ۱۴/ ۴۰ـ۳۹).

[1] يس: ۶۹.

[2] عمدة القارى: ٤/ ٢٦٣.

[3] المفهم لما أشكل من تلخيص كتاب مسلم، كتاب الصلاة، باب: ابتناء مسجدالنبى صلى الله عليه وسلم: ٢/ ١٢٣.

[4] المفهم لما أشكل من تلخيص كتاب مسلم، كتاب الصلاة، باب: ابتناء مسجدالنبى صلى الله عليه وسلم: ٢/ ١٢٤.

[5] المفهم لما أشكل من تلخيص كتاب مسلم، كتاب الصلاة، باب: ابتناء مسجدالنبى صلى الله عليه وسلم: ٢/ ١٢٤.

قوله: وَهُوَيَقُولُ:

«اَللّٰهُمَّ لاَخَيْرَاِلَّاخَيْرُالْآخِرَةْ فَاغْفِرْلِلْأَنْصَارِوَالْمُهَاجِرَةْ»

اودائی فرمائیل اې الله، دَ آخرت دَ ښیګړې نه علاوه بله هیڅ ښیګړه (دَتوجه قابل) نه ده، نو دَ انصارو او مهاجرینو مغفرت اوکړه.

قوله: وَهُوَيَقُولُ: دا جمله حال ده دَ النبي نه. (۱)

قوله: اَللّٰهُمَّ لاَخَيْرَاِلَّاخَيْرُالْآخِرَةْ: هم دَ صحیح بخاری یو روایت او دَ صحیح مسلم یو روایت کښې "اَللّٰهُمَّ اِنَّه لاَخَيْرَاِلَّاخَيْرُالْآخِرَةْ" دې. په دې کښې دَمعنې په اعتبار سره څه خاص فرق نشته دې. چه اې الله! اصل خیر خو هم دَ آخرت خیر دې.(۲) دې نه علاوه په یو بل روایت کښې دَ "اَللّٰهُمَّ اِنَّ الْخَيْرَخَيْرُالْآخِرَةْ" الفاظ هم نقل دی.(۳)

---

۱) عمدة القاري: ٤/٢٦٤.

۲) حدثنا مسدد، حدثنا عبدالوارث، ح وحدثنا إسحاق بن منصور، أخبرنا عبدالصمد، قال: سمعت أبی يحدث، حدثنا أبوالتياح يزيد بن حميدالضبعي، قال: حدثنی أنس بن مالک رضی الله عنه، قال: لما قدم رسول الله صلی الله عليه وسلم المدينة، نزل فی علو المدينة، فی حی يقال لهم بنوعمرو بن عوف، قال: فأقام فيهم أربع عشرة ليلة، ثم أرسل إلی ملا بنی النجار، قال: فجاءوا متقلدی سيوفهم، قال: وكأنی أنظر إلی رسول الله صلی الله عليه وسلم راحلته وأبوبكر ردفه، وملأ بنی النجار حوله، حتی ألقی بفناء أبی أيوب، قال: فكان يصلی حيث أدركته الصلاة، ويصلی فی مرابض الغنم، قال: ثم إنه أمر ببناء المسجد، فأرسل إلی ملا بنی النجار فجاءوا، فقال: يابنی النجار! ثامنونی حائطكم هذا فقالوا: لا والله، لا نطلب ثمنه إلا إلی الله، قال: فكان فيه ما أقول لكم، كانت فيه قبور المشركين، وكانت فيه خرب، وكان فيه نخل، فأمر رسول الله صلی الله عليه وسلم بقبورالمشركين فنبشت، وبالخرب فسويت، وبالنخل فقطع، قال: فصفوا النخل قبلة المسجد، قال: وجعلوا عضادتيه حجارة، قال: قال: جعلوا ينقلون ذاک الصخر وهم يرتجزون، ورسول الله صلی الله عليه وسلم معهم، يقولون: اللهم إنه لا خير إلا خير الآخره، فانصر الأنصار والمهاجره. (صحيح البخاری، كتاب مناقب الأنصار، باب: مقدم النبی صلی الله عليه وسلم وأصحابه المدينة، رقم الحديث: ٣٩٣٢). حدثنا يحی بن يحی، وشيبان بن فروخ، كلاهما عن عبدالوارث، قال يحيی: أخبرنا عبدالوارث بن سعيد، عن أبی التياح الضبعی، حدثنا أنس بن مالک، أن رسول الله صلی الله عليه وسلم قدم المدينة، فنزل فی علوالمدينة، فی حی يقال لهم بنوعمروبن عوف، أقام فيهم أربع عشرة ليلة، ثم إنه أرسل إلی ملأ بنی النجار، فجاءوا متقلدين بسيوفهم، قال: فكأنی أنظر إلی رسول الله صلی الله عليه وسلم راحلته، وأبوبكر ردفه، وملأ بنی النجار حوله، حتی ألقی بفناء أبی أيوب، قال: فكان رسول الله صلی الله عليه وسلم يصلی حيث أدركته الصلاة، ويصلی فی مرابض الغنم، ثم إنه أمر بالمسجد، قال فأرسل إلی ملأ بنی النجار فجاءوا، فقال: يابنی النجار، ثامنونی بحائطكم هذا قالوا: لا، والله! لا نطلب ثمنه إلا إلی الله، قال أنس: فكان فيه ما أقول: كان فيه نخل وقبورالمشركين وخرب، فأمر رسول الله صلی الله عليه وسلم بالنخل فقطع، وبقبور المشركين فنبشت، وبالخرب فسويت، قال: فصفوا النخل قبلة، وجعلوا عضادتيه حجارةو قال: فكانوا يرتجزون، ورسول الله صلی الله عليه وسلم معهم، وهم يقولون: اللهم إنه لا خير إلا خير الآخره، فانصر الأنصار والمهاجره. (صحيح مسلم، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب: ابتناء مسجد النبی صلی الله عليه وسلم، رقم الحديث: ٥٢٤).

۳) حدثناعمرو بن علی، حدثنا خالد بن الحارث، حدثنا حميد، عن أنس رضی الله عنه: ....

قوله: فَاغْفِرْ لِلْأَنْصَارِ: په دې روايت كښې "للأنصار" دې خودَ مستملی او حموی په روايت كښې دَ لام حرفِ جر نه بغير "الأنصار" دې. (١) اودَ سنن ابی داؤد په روايت كښې دَ "فاغفر" په ځائی "فانصر" دې يعنی "فانصر الأنصار". (٢)

دَ انصارو دَ تسميه وجه: انصار جمع دَ نصير ده لكه شريف جمع دَ أشراف ده. دې ډلې ته انصار په دې وجه وائی چه هغوی دَ نبی كريم ﷺ امداد اونصرت كړې دې اودَ حضور پاك نبی دَ هغوی دَ دښمنانو نه حفاظت كړې دې. دا جماعت په خپل دې صفت كښې داسې ممتاز شو چه دَ هغوی نوم انصار شو. اوداسې معروف او مشهور شو لكه چه دَ يوې قبيلې نوم انصار دې. (٣)

دَ مهاجرينو دَ تسميه وجه:

قوله: وَالْمُهَاجِرَةْ: دې نه مراد هغه جماعت دې چاچه دَ نبی كريم ﷺ په محبت كښې اودَ آخرت دَ كاميابئ په طلب كښې مكه مكرمه پريخودوسره دَ مدينې منورې طرف تـه هجرت اوكړو. دَ هجرت اصل يو ځيز پريخودل او ترك كول دی. بيا دا لفظ يوه زمكه پريخودو سره دَ بلې زمكې طرف ته دَتلو دَ پاره استعمال شو اودَ رومبې معنې استعمال متروك شو. (٤)

علامه كرمانی رحمه الله فرمائی چه كله دا شعر دَ شعر په انداز كښې وئيلې شی نو لفظ "آخرة" او

...... خرج النبي صلى الله عليه وسلم، في غداة باردة، والمهاجرون والأنصار يحفرون الخندق، فقال:

اللهم إن الخير خير الآخره فاغفر للأنصار والمهاجره

فأجابوا:

نحن الذين بايعوا محمدا على الجهاد ما بقينا أبدا

(صحيح البخاري، كتاب الأحكام، باب: كيف يباع الإمام الناس، رقم الحديث: ٧٢٠١).

(١) فتح الباري: ٦٨١/١ عمدة القاري: ٢٦٤/٤.

(٢) حدثنا مسدد، حدثنا عبدالوارث، عن أبي التياح، عن أنس بن مالك، قال: قدم رسول الله صلى الله عليه وسلم المدينة فنزل في علوالمدينة في حي يقال: لهم بنوعمرو بن عوف فأقام فيهم أربع عشرة ليلة، ثم أرسل إلى بني النجار فجاءوا متقلدين سيوفهم، فقال أنس: فكأني أنظر إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم على راحلته، وأبوبكر ردفه، وملأبني النجار حوله حتى ألقى بفناء أبي أيوب، وكان رسول الله صلى الله عليه وسلم يصلي، حيث أدركته الصلاة، ويصلي في مرابض الغنم، وإنه أمر ببناء المسجد، فأرسل إلى بني النجار فقال: يا بني النجار، ثامنوني بحائطكم هذا فقالوا: والله لا نطلب ثمنه إلا إلى الله عزوجل قال أنس: وكان فيه ما أقول لكم، كانت فيه قبورالمشركين، وكانت فيه خرب، وكان فيه نخل، فأمر رسول الله صلى الله عليه وسلم بقبور المشركين، فنبشت وبالخرب فسويت وبالنخل فقطع، فصفوا النخل قبلة المسجد، وجعلوا عضادتيه حجارة، وجعلوا ينقلون الصخر، وهم يرتجزون والنبي صلى الله عليه وسلم معهم، وهو يقول: اللهم لا خير إلا خيرالآخره فانصر الأنصار والمهاجره. (سنن أبي داؤد، كتاب الصلاة، باب: في بناء المسجد، رقم الحديث: ٤٥٣).

(٣) المحكم والمحيط الأعظم لابن سيده، المدة: ن ص ر: ٢٩٩/٨. لسان العرب، فصل النون: ٢١٠/٥.

(٤) عمدة القاري: ٢٦٤/٤.

"المهاجرة" باندې به وقف کولو سره لوستلې شي ليکن نقل دادی چه نبی کريم ﷺ دا شعر د شعر د وزن نه ويستو سره تاء متحرکه سره لوستلې وو (۱)

د حديث مبارک د ترجمة الباب سره مناسبت: د مذکوره حديث شريف د ترجمة الباب سره مناسبت بالکل ښکاره دې ځکه چه په ترجمه کښې هم او په حديث شريف کښې هم د مشرکانو د قبرونو د ورانولو ذکر دې. (۲)

د حديث مبارک نه مستفاد امور اواحکام: د دې حديث شريف نه ډير احکام او آداب مستنبط کيږی په هغې کښې څه دلته ليکلې کيږی.

① هم په يوه سورلئ باندې سور پسې شاته د بل بنده د کينولو جواز معلوميږی. (۳)
② د چيلو د تړلو ځائی کښې د مونځ د ادا کولو د جواز علم اوشو. (۴)
③ د هبه يا بيع د وجې نه چه څوک د قبرستان مالك جوړ شوې وی په هغه قبرستان کښې د تصرفات کولو د جواز علم اوشو. (۵)
④ دا هم معلوم شوچه د مشرکانو قبرونه ورانول جائزدی ځکه چه هغه د احترام قابل نه دی (۶)
⑤ دا هم معلومه شوه چه کله په قبر کښې د مری هډوکی ختميدو سره خاورې شی نو په هغه زمکه باندې مونځ کول صحيح دی. (۷)
⑥ دا هم معلومه شوه چه تازه ميوه دارې ونې په وخت د ضرورت پرې کول او استعمالول هم صحيح دی. (۸)
⑦ د ذهنونو د تازه ساتلو د پاره د شعرونو وئيلو د جواز هم معلوم شو. (۹)
⑧ د علامه قرطبی رحمه الله قول مخکښې تيرشوې دې هغوی فرمائی: د دې نه معلوميږی چه سړې چرته د اوسيدو اهتمام اوکړی او هغه خپل وطن جوړکړی نو هلته دې جُمعه او جمع قائمولو اود شعائر اسلام د اظهار په خاطر جمات قائم کړی. «په دې کښې دا ضروری دی چه د مخکښې نه هلته جمات موجود نه وی يا وی خو صحيح ليکن د آبادئی په اعتبار سره ناکافی وی». (۱۰)

---

(۱) شرح الکرمانی: ۹۰/۴.
(۲) عمدة القاری: ۲۵۸/۴.
(۳) عمدة القاری: ۲۶۴/۴.
(۴) عمدة القاری: ۲۶۴/۴.
(۵) فتح الباری: ۶۸۱/۱ عمدة القاری: ۲۶۴/۴.
(۶) أعلام الحديث فی شرح صحيح البخاری للخطابی: ۳۹۱/۱. فتح الباری: ۶۸۱/۱. عمدة القاری: ۲۶۴/۴.
(۷) التوضيح لابن الملقن: ۷۴۷/۵. عمدة القاری: ۲۶۵/۴.
(۸) التوضيح لابن الملقن: ۷۴۷/۵. عمدة القاری: ۲۶۵/۴.
(۹) عمدة القاری: ۲۶۵/۴.
(۱۰) المفهم لما أشکل من تلخيص کتاب مسلم، کتاب الصلاة باب: ابتناء مسجد النبی صلی الله عليه وسلم: ۱۲۱/۲.

١٧- بَابٌ: الصَّلاَةِ فِيْ مَرَابِضِ الْغَنَمِ

دا باب دې دَ چیلو دَ ترلو په ځائی کښې دمونځ کولو باره کښې

قوله: مرابض: ماده ده ر ب ض، دَ کوم معنی چه دَ یو ځائی کښې ایسار یدل. دا جمع دَ مَربِض ده دَ میم په فتحې او باء په کسرې سره. ربَض، یَربِضُ دَ باب ضرب یضرِبُ نه اسم مکان دې. دکوم معنی چه دَ چیلو دَ اوسیدو ځائی دې کوم ته چه باړه او کنډاؤ هم وائی. (١) بعضې حضراتو دا لفظ مِربَض په کسرې دَمیم ونیلې دې. لیکن دا علامه عینی رحمه الله غلط گرځولې دې. (٢)

دَترجمة الباب مقصد: حضرت شیخ الحدیث مولانا محمدزکریا کاندهلوی رحمه الله فرمائی چه نورو ځناورو مثلاً غوا، میخه، اس او اوښ وغیره په مقابل په چیلو کښې مسکنت یعنی عاجزی وی. په دې وجه به حضورپاک دَ نورو ځناورو مقابله کښې دَ چیلو په باړه کښې مونځ کول خوښول. (٣)

دارنګ هغوی او فرمائیل چه دَ امام بخاری رحمه الله مقصود دَدې ترجمې نه دا دې چه دَ مسجد نبوی دَ جوړیدو نه مخکښې دَ حضورپاک په مرابض غنم یعنی دَ چیلو ځائی کښې مونځ کول څه اتفاقی امر نه وو بلکه قصداً وو. (٤)

حدیث باب [حدیث نمبر ٤١٩]

-٤١٩ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي التَّيَّاحِ عَنْ أَنَسٍ (٥) قَالَ كَانَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- يُصَلِّي فِي مَرَابِضِ الْغَنَمِ، ثُمَّ سَمِعْتُهُ بَعْدُ يَقُولُ كَانَ يُصَلِّي فِي مَرَابِضِ الْغَنَمِ قَبْلَ أَنْ يُبْنَى الْمَسْجِدُ.

دَ حدیث ترجمه: حضرت ابوالتیاح رحمه الله دَ حضرت انس رضی الله عنه نه نقل کوی چه هغوی او فرمائیل چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم به دَ چیلو په باړه کښې مونځ اداکولو. بیا دَدې نه پس ما هغوی داسې وینا کولو سره واؤریدل چه حضورپاک به دَ مسجد نبوی جوړیدو نه مخکښې دَ چیلو په باړه کښې مونځ کولو.

تراجم رجال: دَ مذکوره حدیث شریف په سند کښې ټول څلور راویان دی:

① سلیمان بن حرب رحمه الله: دا ابوایوب سلیمان بن حرب بن بجیل ازدی واشحی بصری رحمه الله دې. دَدوی تفصیلی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: من کره أن یعود فی الکفر کما یکره أن یلقی فی النار من الإیمان کښې تیرشوی دی. (٦)

---

(١) المحکم والمحیط الأعظم، المادة: رب ض: ١٩٤/٨. الصحاح للجوهري، المادة: ر ب ض: ١٠٧٦/٣.
(٢) عمدة القاري: ٢٦٥/٤.
(٣) الأبواب والتراجم: ٢١٤/٢. الکنزالمتواري: ١٣٣/٤.
(٤) سراج القاري: ١٤/٢.
(٥) مرتخریجه تحت رقم الحدیث: ٢٣٢، کتاب الوضوء، باب: أبوال الإبل والدواب والغنم ومرابضها.
(٦) کشف الباري: ١٠٥/٢.

③ شعبه رحمه الله: دا شعبه بن الحجاج بن الورد واسطی بصری رحمه الله دی. دَدوی احوال کشف البارى، کتاب الإيمان، باب: من سلم المسلمون من لسانه ویده کښې تیرشوی دی.[1]

④ ابی التیاح رحمه الله: دا ابو التیاح یزید بن حمید الضبعی رحمه الله دی. دَدوی احوال کشف البارى، کتاب العلم، باب: ماکان النبی صلی الله علیه وسلم یتخولهم بالموعظة والعلم کی لاینفروا لاندې تیر شوی دی.[2]

⑤ انس رضی الله عنه: دامشهور صحابئ رسول حضرت انس بن مالك رضی الله عنه دی. دَدوی احوال کشف البارى، کتاب الایمان، باب: من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه لاندې تیر شوی دی.[3]

دَ حدیث شرح: دَ مذکوره حدیث شرح په تفصیل سره کتاب الوضوء باب: أبوال الإبل والدواب والغنم ومرابضها کښې تیره شوې ده.[4]

دَدې حدیث خلاصه داده چه نبي کریم ﷺ دَ الله تعالی دَ حکم دَ وجې امت محمدیه علی صاحبها الصلوة والتسلیم دَپاره دَ آسانئ او سهولت والا معامله کولو سره ټول مخ دَ زمکې دَ مونځ او طهارت ځائې جوړ کړې دې. دَ کوم تقاضا چه داده چه په چا باندې کوم ځائې کښې هم دَ مونځ وخت راشي هغه دې دَ ځائې دَ پاکوالی لحاظ ساتلو سره هلته مونځ ادا کړی. دا دَدې امت امتیازی صفت دې. دَدې په عمومیت کښې دَ چیلو په باړه کښې اداشوې مونځ هم شامل دې.

دویمه خبره داده چه دَ روایت مطابق دَ نبي کریم ﷺ دا عمل دَ مسجد نبوی دَ جوړیدو نه مخکښې وو اودَ مسجد نبوی دَ آبادیدو نه پس دَ حضور پاك معمول په جمات کښې دَ مونځ ادا کولو وو یعنی دَ چیلو په باړه کښې مونځ مطلوب او محمود نه دی بلکه دَ ضرورت په وخت داسې ځائې کښې مونځ ادا کول جائز دی.

قوله: ثم سمعته بعدُ: دَدې قول قائل څوك دې؟ په دې باره کښې علامه برماوی رحمه الله داخبره اختیار کړې ده چه دَدې قائل ابو التیاح دې چا چه دَ حضرت انس رضی الله عنه نه داخبره اوریدلې ده.[5] او حافظ ابن حجر رحمه الله داخبره اختیار کړې ده چه دَدې قائل حضرت شعبه رحمه الله دې کوم چه داحدیث دَ حضرت ابو التیاح رحمه الله نه روایت کوی.[6] او دَ علامه عینی رحمه الله په نیز په دې کښې دواړه احتمالات دی.[7]

---

[1] کشف البارى: ۶۷۸/۱.
[2] کشف البارى: ۲۶۱/۳.
[3] کشف البارى: ۴/۲.
[4] کشف البارى کتاب الوضوء باب: أبوال الإبل والدواب والغنم ومرابضها، رقم الحدیث: ۲۳٤.
[5] اللامع الصبیح بشرح الجامع الصحیح: ۱۸۹/۳.
[6] فتح البارى: ۶۸۲/۱.
[7] عمدة القارى: ۲۶۶/٤.

دي اضافي مفهوم دادې چه ترکومې پورې مسجد نبوی نه وو جوړشوي ترهغه وخته پورې به نبي كريم ﷺ دَ ضرورت په وخت چه كله چرته بل ځائی نه ملاويدو نود چيلو په باره كښې به ئې هم مونځ ادا كولو. خو چه كله مسجد نبوی جوړ شو نوبيا دهغې نه پس حضورپاك داسې ځائی كښې مونځ نه دي ادا كړي. اګرچه په داسې ځائی كښې دَ ناپاكئ وغيره نه دَ سلامتيا په صورت كښې دَ مونځ ادا كولو جواز برقرار دې.(١)

دَ حديث شريف دَ ترجمة الباب سره مناسبت: دَ حديث شريف دَ ترجمة الباب سره مناسبت بالكل واضح دې چه په دواړو كښې دَ چيلو باره كښې دَمونځ دَ ادا كولو ذكر دې.(٢)

١٨ - بَابٌ: الصَّلَاةِ فِي مَوَاضِعِ الإِبِلِ

داباب دَ اوښانو دَ اوسيدو ځائی كښې دَ مونځ دَ اداكولو په باره كښې دې.

قوله: مواضع الإبل : په دي تر جمة الباب كښې امام بخاري رحمه الله مواضع الإبل لفظ استعمال كړي دې حالانكه په احاديثو كښې دا لفظ نه دې استعمال شوې. بلكه دَ حضرت براء او جابر بن سبره رضي الله عنهما په حديث كښې دَ "مبارك الإبل" الفاظ دى.(٣) دَ حضرت ابوهريره رضي الله عنه په روايت كښې دَ "أعطان الإبل" الفاظ دى.(٤). اودَ حضرت أسيد بن حضير رضي الله عنه په روايت كښې دَ "مناخ الإبل" الفاظ دى. (٥)اودَ حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه په روايت كښې دَ "مرابد الإبل" الفاظ

---

١) عربوبه چيلئ او اوښان ساتل هم دغه دَ هغوي معيشت وو. چرته چه به هغوی دَ شپې په وخت راوستل او ترل به ئې. په هغې كښې به ئې يو طرف ته دَ خپلې ناستې پاستې ځائی هم جوړولو دكوم دَ صفايئ خيال به چه ئې ساتلو. چونكه جماتونونه لا تر دغه وخته پورې اباد شوی نه وو اود مونځ كولو دَ باره په اسلام كښې څه دَ خاص ځائی قيد نه وو. په دي وجه حضورپاك هم او صحابه كرامو هم دَ چيلو په دغه بارو كښې مونځ ادا كړي دي. بيا دَدې ځائی څه تخصيص نه وو چرته چه به هم دَمونځ وخت كيدلو هغوی به فوري ادا كولو. كله چه جمات جوړ شو نو اوس په عامو حالاتو كښې مونځ هم په جمات كښې كول بهتراوګرخولې شو.(انوارالباري: ٤٠/١٤).

٢) عمدة القاري: ٢٦٥/٤.

٣) عن البراء بن عازب، قال:سئل رسول الله صلى الله عليه وسلم عن الوضوء من لحوم الإبل، فقال: توضؤوا منها، وسئل عن لحوم الغنم، فقال: لا توضؤوا منها، وسئل عن الصلاة في مبارك الإبل، فقال:لا تصلوا في مبارك الإبل، فإنها من الشياطين، وسئل عن الصلاة في مرابض الغنم، فقال: صلوا فيها فإنها بركة. (سنن أبي داؤد، كتاب الطهارة، باب: في الضوء من لحوم الإبل، رقم الحديث:١٨٧). عن جابر بن سمرة أن رجلا سأل رسول الله صلى الله عليه وسلم أأتوضأ من لحوم الغنم؟ قال: إن شئت فتوضأ، وإن شئت فلا توضأ. قال أتوضأ من لحوم الإبل؟ قال: نعم فتوضأ من لحوم الإبل، قال: أصلي في مرابض الغنم؟ قال: نعم. قال: أصلي في مبارك الإبل؟ قال: لا. (صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب الوضوء من لحوم الإبل، رقم الحديث:٩٧).

٤)عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:صلوا في مرابض الغنم،ولا تصلوا في أعطان الإبل.(سنن الترمذي، كتاب الصلاة، باب ماجاء في الصلاة في مرابض الغنم وأعطان الإبل، رقم الحديث: ٣٤٨)

٥) فتح الباري: ٦٨٢/١.

نقل دی.(۱). ليکن حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله دا ټول الفاظ ترك كولو سره دَ "مواضع الإبل" لفظ استعمال كړې دې ځكه چه دا لفظ سابقه ټولو معانيو ته شامل دې.(۲) دَدې ټولو الفاظو معنی دَ لږ شان فرق سره تقريبًا هم يوه ده.

قوله: "مَبَارِك" دَدې معنى ده په زنګونونو باندې دَ كيناستو. كوم وخت چه اوښ په زنګونونو باندې په زمکه كيني نو دَ هغه دَ ناستې ځائی ته مَبْرَك او دَدې جمع ته مَبَارِك وائی.(۳)

قوله: "معاطن" جمع ده دَ "معطِن"، دَدې معنی ده دَ تالاب نه ګير چاپيره دَ اوښ دَ كيناستو ځائی. داسې په عام توګه هغه وخت كيږی كله چه اوښ يا چيلئ وغيره اوبه څکلو سره بنه خروب شی. دې نه پس هغوی دَ تالاب نه ګير چاپيره كينولې شی دې دَ پاره چه څه وخت پس هغه بيا اوبه اوڅكی. ځكه چه هغه دَ ټولې هفتې دَ پاره په خپله خيټه كنبې اوبه ذخيره اوجمع كوی، نودې ځائی ته معاطن وائی.(۴)

قوله: "مرابض" جمع ده دَ "مربض"، دَدې معنی هم دَ اوښ كينولو او تړلو دَ ځائی ده.(۵)

قوله: "مناخ" دَدې معنی هم دغه ده.(٦)

دَترجمة الباب مقصد: دَامام بخاری رحمه الله مقصود دَدې باب نه دَاوښانو دَ كيناستو ځايونو كنبې دَمونځ دَ ادا كولو صحيح كيدل بيانول دی او دَ امام احمدبن حنبل رحمه الله رد كول دی. دَ هغوی په نيز دَ اوښانو تړلو ځايونو كنبې مونځ كول جائز نه دی.(۷)

---

(۱) عن عبدالله بن عمرو: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يصلى فى مرابد الغنم، ولا يصلى فى مرابدالإبل والبقر. (مسندأحمد بن الحنبل، مسندعبدالله بن عمرو بن العاص، رقم الحديث:٦٦٥٨، ١١/٢٣٩)

(۲) فتح الباري: ٦٨٢/١.

(۳) الصحاح تاج اللغة، برک: ١٥٧٤/٤. المعجم الوسيط: باب الباء: ٥٢/١.

(۴) النهاية فى غريب الحديث والأثر، عطن: ٢٥٨/٣. لسان العرب، فصل العين المهملة: ٢٨٦/١٣.

(۵) الصحاح تاج اللغة: ٤٧١/٢. المعجم الوسيط: باب الباء: ٥٢/١. لسان العرب، فصل الراء: ١٧٠/٣. المعجم الوسيط: باب الراء: ٣٢٢/١.

(٦) المغرب فى ترتيب المعرب، العين مع الطاء: ٣١٩/١.

(۷) علامه بجنوری رحمه الله ليكی چه په دې باب او حديث سره امام بخاری رحمه الله داخودل غواړی چه دَ اوښانو په طبيله كنبې د مونځ كولو ممانعت چه په كومو احاديثو كنبې موجود دې هغه په نورو وجوهاتو سره دې چه بعضې اوښان شرير وی ورانيږی نو مونځ په تسلئ سره كول مشكل وی وغيره. ګنی كه اموخته كړې شوی وی اود سورلئ وی چه اكثر دير زيات شريف مزاج وی نوكه دَ هغوی په نيزديكت كنبې في نفسه څه خرابی په مونځ كنبې رانلې شوه نوحضورپاك به پخپله ولې مونځ كولو؟ ليكن امام احمد رحمه الله دلته دَ فقهی نظر نه د كار نه اخستو په وجه د حديث دَ ظاهری د ممانعت د وجې د اوښانو په طبيله كنبې مونځ كول صحيح ګرځولی دی او هم ددې رد امام بخاری رحمه الله كړې دې. حافظ صاحب رحمه الله دلته ليكلی دی چه د ممانعت والا احاديث به دَ امام بخاری رحمه الله په شرط باندې نه وو په دې وجه ئې هغه ذكر نه كړل. مګر زه وايم چه امام بخاری رحمه الله دَ نورو مسلكونو والا دَ احاديثو د روايت كولو التزام كله كوی چه مذكوره تاويل اوكړې شی. والله اعلم. (انوارالباري: ٤١/١٢).

دَ علامه سندهي رَحمه الله رائې: دَ علامه سندهي رحمه الله رائې داده چه امام بخاري رحمه الله "مواضع ابل" او "معاطن ابل" كښې فرق بيانوي چه معاطن بل شئ دي او مواضع بل شئ. معاطن هغه ځائې ته وائي چرته چه اوښ دَ اوبو څكلو وخت كښې اودريږي. او نهي مذكور خاص ده دَ معاطن ابل سره. لهذا دَ اوښ دَ ناستې پاستې نور ځايونه به په دې باندې قياس كولې نه شي. چنانچه په دغه ځايونو كښې به مونځ جائز وي.(۱)

دَ حضرت ګنګوهي رحمه الله رائې: حضرت مولانا رشيداحمد ګنګوهي رحمه الله فرمائي چه دَدې باب په قائمولو سره امام بخاري رحمه الله دا خودل غواړي چه هغه ممانعت كوم چه دَ اوښانو په باره كښې دَمونځ كولو متعلق دې هغه په خپل عموم باندې نه دې او نه هغه ممانعت دَ يو داسې علت په وجه دې كوم چه دَ اوښ په ذات كښې موجود وي. بلكه دَدې ممانعت وجه داده چه داسې ځايونو كښې مونځ ادا كولو سره يكسوئي او توجه باقي نه پاتې كيږي. په زړه كښې دَ اوښ دَ طرف نه دَ نقصان، شرارت او دَ نجاست وسوسې راوَچتيږي لهذا كه دَدغه امورو نه تحفظ ممكن وي اودَ زړه تسلي حاصله وي نو بيا په داسې ځايونو كښې دَ مونځ دَ صحيح كيدو نه هيڅ منع كونكې څيز نشته دې. څنګه چه دَ كجاوې دَ لركې وغيره طرف ته مخ كولو سره مونځ ادا كول صحيح دي لكه څنګه چه دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما دَ اثر نه دَدې طرف ته اشاره ملاويږي لهذا دَ امام بخاري رحمه الله دَ ابن عمر رضي الله عنهما دَ اثر نه استدلال كولو سره دَ اوښانو په باره كښې دَ مونځ دَ كولو جواز اختيارول صحيح دي.(۲)

دَ علامه كاندهلوي رحمه الله رائې: علامه محمد ادريس صاحب كاندهلوي رحمه الله فرمائي لكه چه امام بخاري دَدې ترجمې په ذريعه دَ هغه احاديثو طرف ته اشاره كول چه دَ اوښانو په باره كښې دَ مونځ ادا كولو نه دَمنع باره كښې راغلي دي او هغه دَ امام بخاري رحمه الله په شرط باندې نه پوره كيږي. يعني دَدې باب دَ قائمولو په ذريعه امام بخاري رحمه الله دَ اوښانو په باره كښې دَ مونځ جواز ښائي.(۳)

دَ اوښانو باره كښې دَ مونځ كولو حكم: ائمه ثلاثه (امام مالك رحمه الله، امام ابوحنيفه رحمه الله او امام شافعي رحمه الله) په نيزدَ اوښانودَ ترلو په ځائې كښې كوم وخت چه هلته اوښان ترلې وي هلته مونځ ادا كول مكروه دي. اودَ كراهت وجه داده چه اوښ شرير ځناور دې دَ هغه دَ شرارت اودَ هغه دَ تيختې او چقنړې كولو دَ ويرې دَ وجې په مانځه كښې دَ خلل انديښنه ده اودا وجه هم كيدې شي چه دَ اوښانو په باره كښې نجاست زيات وي په خلاف دَ چيلو په باره كښې. اوكه چرې داسې ځايونو كښې ځائې پاك صفا وي يا څه پاكه كپړا خوررولو سره مونځ اوكړې شي نو بيا كراهت هم نشته دې.(۴)

---

(۱) حاشية السندهي، كتاب الصلاة، باب: الصلاة في مواضع الإبل: ۱/۱۲۶، الطاف سنز.

(۲) اللامع الدراري: ۱/۱۶۶.

(۳) تحفة القاري: ۲/٤۸۸.

(٤) بدائع الصنائع، كتاب الصلاة، فصل شرائط أركان الصلاة: ۱/۱۱۵. حاشية ابن عابدين. ....

دَ امام احمد بن حنبل رحمه الله په نيز داسې ځايونو کښې مونځ نه کيږي. دَ هغوی دليل دَ سنن ابی داؤد هغه حديث دې په کوم کښې چه نبی کريم ﷺ دَ اوښانو باره کښې دَ مونځ ادا کولو باره کښې فرمائيلې دی چه دَدې باره کښې مونځ کوئی ځکه چه دَ دوی خلقت دَ شيطانانو نه دی.(۱) البته دَ هغوی په نيز دَ اوښانو دَ تګ راتګ په ځايونو کښې، عارضې دَ ساتلو ځائی (لکه په لاره باندې دَ څه وخت دَ پاره حصاربدل او کيناستل يا دَ ګيا خوړلو دَپاره ناست وی وغيره وغيره) کښې مونځ ادا کول جائز دی.(۲)

دَ حنابله دَ دليل جواب: علامه سهارنپوری رحمه الله فرمائی دَ حديث جملې "فإنها من الشياطين" کښې دَ "ه" ضمير مرجع ماقبل جمله کښې لفظ "مبارك" جوړيږی يا بيا لفظ "ابل"، دواړه احتماله موجود دی. که چرې اول احتمال مراد وی نو په دغه صورت کښې به "الشياطين" نه مخکښې مضاف اليه محذوف وی يعنی "مأوى الشياطين" دَ اوښانو باړې دَ شيطانانو ځايونه دی. اوکه چرې دويم احتمال مراد وی يعنی ضمير راجع وی دَ "ابل" طرف ته نو په دې سره به لا زم راځی چه اوښ دَ شيطانانو دَ نسل نه دی. دا احتمال مخې ته کولو سره دَ بعضو وينا ده چه دا جمله په خپل حقيقت باندې محمول ده. دَ کوم مطلب چه به داشی چه اوښان هم دَ شيطانانو دَ اوبو نه راپيدا کړې شوی دی. او بعضې دا وئيلی دی چه دلته حقيقی معنی مراد نه ده بلکه مجازی معنی مراد ده. يعنی اوښانو له دَ شيطانانو سره په شيطانت کښې تشبيه ورکړې شوې ده لکه څنګه چه شيطانان شرير وی هم دغه شان اوښان هم شرير وی. اودَ بعضې علماؤ داهم وينا ده چه شيطانان هم دوه قسمه دی يو هغه چه دَ جناتو دَ نسل نه دې او مشهور اومعروف دی او دويم هر سرکش او شرير باندې هم دَ شيطان اطلاق کيږی. لهذا دَ اوښانو باره کښې "فإنها من الشياطين" وئيلو کښې هم دغه دويم قسم مراد دې.

بيا ممانعت "لاتصلوا في مبارك الإبل" علت دَ جمهورو په نيز دا نه دې چه هغه دَ شيطان دَ نسل نه دی ګنی په دې صورت کښې خو به هغوی ته نيزدې کيدو اودَ هغوی طرف ته مخ کولو

.... كتاب الصلاة: ۳۸۰/۱. حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح: ۳۵۷/۱. شرح التلقين للمازرى المالكى، كتاب الصلاة، فصل : الأماكن التى تكره فيها الصلاة: ۸۲۰/۱. المدونة، كتاب الصلاة، الصلاة فى المواضع التى تكره فيهاالصلاة: ۱۸۳/۱. مواهب الجليل فى شرحم مختصر الخليل، كتاب الصلاة، فائدة: تكره الصلاة فى أربعة عشر موضعا: ۴۱۹/۱. البيان فى مذهب الإمام الشافعى، كتاب الصلاة، مسألة: الصلاة فى أعطان الإبل: ۱۱۱/۲. التهذيب فى فقه الإمام الشافعى، كتاب الصلاة: ۲۰۵/۲. النجم الوهاج فى شرح المنهاج، كتاب الصلاة، فصل: ۲۴۳/۲.

(۱) عن البراء بن عازب، قال: سئل رسول الله صلى الله عليه وسلم عن الوضوء من لحوم الإبل، فقال توضؤوا منها، وسئل عن لحوم الغنم، فقال: لا توضؤوا منها، وسئل عن الصلاة فى مبارك الإبل، فقال: لا تصلوا فى مبارك الإبل، فإنها من الشياطين، وسئل عن الصلاة فى مرابض الغنم، فقال: صلوا فيها فإنها بركة. (سنن أبى داؤد، كتاب الطهارة، باب: فى الوضوء فى لحوم الإبل، رقم الحديث: ۱۸۷).

(۲) المغنى لابن قدامة، كتاب الصلاة، مسألة: الصلاة فى المقبرة: ۵۳/۲.

سره یا په هغې باندې سوریدو سره هم مونځ جائز نه وی خوددې تولو جواز نقل دې بلکه د ممانعت په علت کښې څو احتماله دی. مثلاً:

بعضې وئیلی دی چه د اوښانو والو دا عادت وی چه هغوی د اوښ پناه کیناستو سره متیازې او د کې متیازې او استنجاء کوی، په دې وجه منع کړې شو. بعضې وائی د اوښانو مالك اوښان پاك صفا او ستهرا نه ساتی. بعضې وائی اوښ ډیر شریر وی، د انگې او ټوپونه وهی د کوم په وجه چه په مونځ کښې نقصان او ضرر رسید و خطره وی. بعضې وئیلی دی چه د اوښانو نه ډیر کرکژن بوائی راځی د کوم په وجه چه منع کړې شو. او د امام شافعی رحمه الله یو قول دې چه د کراهت وجه د شیطان نیزدیوالې دې ځکه چه په حدیث کښې اوښ ته "من جنس الشیاطین" وئیلې شوې دی.(۱)

د غواګانو باړه کښې د مونځ ادا کولو حکم: حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عینی رحمه الله لیکلی دی چه د غواګانو باړه کښې د مونځ ادا کول د چیلو باړې والا حکم سره یو ځائی کړئی نه چه د اوښانو باړه کښې د مونځ حکم سره. یعنی د غواګانو په باړه کښې مونځ ادا کول بغیر د کراهت جائز دې.

بیا علامه صاحب رحمه الله دا هم ذکر کړی دی چه که چرته څوك اووائی چه مسند احمد کښې یو حدیث موجود دې په کوم کښې چه د غواګانو باړه کښې د مونځ حکم د اوښانو باړه کښې د مونځ کولو د حکم سره یو ځائی کړې شوې دې نو د دې جواب دا دې چه هغه حدیث ضعیف دې په هغې باندې عمل نه شی کیدلې.(۲)

حدیث باب [حدیث نمبر ۴۲۰]

۴۲۰- حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ الْفَضْلِ قَالَ أَخْبَرَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَيَّانَ قَالَ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ عَنْ نَافِعٍ قَالَ (۳) رَأَيْتُ ابْنَ عُمَرَ يُصَلِّي إِلَى بَعِيرِهِ وَقَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- يَفْعَلُهُ.

د حدیث ترجمه: حضرت نافع رحمه الله فرمائی چه ما حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما د خپل اوښ طرف ته مخ کولو سره په مونځ اداکولو لیدلې دې. او حضرت ابن عمر رضی الله عنهما اوفرمائیل چه ما

---

(۱) بذل المجهود، کتاب الطهارة، باب: فی الوضوء من لحوم الإبل، رقم الحدیث: ۱۸۷، ۹۸/۲. الکنزالمتواری: ۱۳۴/۴-۱۳۳. أوجز المسالک، کتاب الطهارة، باب: سترة المصلی فی السفر، رقم الحدیث: ۳۵۸، ۲۸۹/۳-۲۸۸. شرح الکرمانی: ۹۲/۴.

(۲) فتح الباری: ۶۸۳/۱. عمدة القاری: ۳۶۹/۴.

(۳) أخرجه البخاری أیضا فی سترة المصلی، باب: الصلاة إلی الراحلة والبعیر والشجر والرحل، رقم الحدیث: ۵۰۷. ومسلم فی صحیحه، فی الصلاة، باب: سترة المصلی، رقم الحدیث: ۵۰۲ وأبوداؤد فی سننه، فی الصلاة، باب: الصلاة إلی الراحلة، رقم الحدیث: ۶۹۲ والترمذی فی جامعه، فی الصلاة، فی باب: ماجاء فی الصلاة إلی الراحلة، رقم الحدیث: ۳۵۲. وفی جامع الأصول، حرف الصاد، الکتاب الأول: فی الصلاة، القسم الأول: فی الفرائض وأحکامها، الباب الأول: فی الصلاة وأحکامها، الفصل السادس: فی شرائط الصلاة، الفرع السابع: فی قبلة المصلی، النوع الثانی: فی سترة المصلی، رقم الحدیث: ۳۷۴۴، ۵۲۱/۵.

نبی کریم ﷺ داسې په مونځ کولو لیدلې دې.

تراجم رجال: دَ مذکوره حدیث په سند کښې ټول پنځه رجال دی:

① **صدقه بن الفضل** رحمه الله: داابو الفضل صدقه بن الفضل مروزی رحمه الله دې. دَدوی تفصیلی احوال کشف الباری، کتاب العلم، باب: العلم والعظة بالليل لاندې تیر شوی دی. [۱]

② **سلیمان بن حیان** رحمه الله: دَدوی نوم حافظ سلیمان بن حیان الازدی الکوفی دې. او کنیت ئې ابوخالد الاحمردې. دَ دوی دَ پیدائش ځائې جرجان او دَ پیدائش کال ۱۱۴هجری دې.
دَ دوی په استاذانو کښې عبیدالله بن عمر، حمید الطویل، داؤد بن ابی هند، ابن عون، یحی بن سعید انصاری، ابن عجلان، هشام بن عروه، ابن جریج، هشام بن حسان، یزیدبن کیسان. عاصم لاأحول، حاتم بن ابی صغیره رحمهم الله شامل دی. اودَ دوی په شاګردانو کښې صدقه بن الفضل، آدم بن ابی ایاس، اسد بن موسیٰ، ابوکریب، ابوسعید الاشج، یوسف بن موسیٰ القطان، عمرو الناقد، محمدبن عبدالله بن نمیر او حمید بن الربیع رحمهم الله شامل دی.
ابن معین رحمه الله او ابن المدینی رحمه الله دَدوی باره کښې وائی: ثقة. عثمان الدارمی دَابن معین رحمه الله نه نقل کوی: لیس به بأس. امام نسائی رحمه الله هم دغه شان فرمائی. عباس الدوری دَابن معین رحمه الله نه نقل کوی: صدوق ولیس بحجة. ابو هشام الرفاعی رحمه الله وائی: الثقة الأمین. ابوحاتم رحمه الله وائی: صدوق. خطیب رحمه الله وائی دَ حدیث په معامله کښې په دوی باندې هیڅ طعن نشته دې. دَ ابن عدی رحمه الله وینا ده: له أحادیث صالحة. ابن حبان رحمه الله دَ دوی ذکر په ثقاتو کښې کړې دې. دَعجلی رحمه الله وینا ده: ثقة ثبت صاحب سنة. دې اصلاً شامې وو لیکن په کوفه کښې لوئی شوې دې. دَ دوی وفات ۱۸۹هجری کښې شوې دې. [۲]

③ **عبیدالله** رحمه الله: دا عبیدالله بن عمر بن حفص بن عبدالله بن عمر بن خطاب رحمه الله دې. دَدوی احوال کشف الباری، کتاب الوضوء، باب: التبرز في البیوت لاندې تیر شوی دی. [۳]

④ **نافع** رحمه الله: دا مولی دَ عبدالله بن عمر القرشی رحمه الله دې. دَدوی احوال کشف الباری، کتاب العلم، باب: ذکر العلم والفتیا في المسجد لاندې تیر شوی دی. [۴]

⑤ **ابن عمر** رضي الله عنهما: دا حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دې. دَدوی تفصیلی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: الإیمان وقول النبي صلی الله علیه وسلم: بني الإسلام علی خمس لاندې تیر شوی دی. [۵]

---

[۱]) کشف الباری: ۳۸۸/٤.

[۲]) تاریخ الإسلام ووفیات المشاهیر، والأعلام للذهبي: ۸۵۹/٤. تهذیب التهذیب: ۱۸۱/٤. إکمال تهذیب الکمال: ۵۰/٦. سیر أعلام النبلاء: ۱۹/۹. لسان المیزان: ۳۱۷/۹. الطبقات الکبری لابن سعد: ۳۹۱/٦.

[۳]) کشف الباری، کتاب الوضوء، باب: التبرز فی البیوت، ص: ۳٦۰.

[۴]) کشف الباری: ٦۵۱/٤

[۵]) کشف الباری: ٦۳۷/۱

د حديث شرح:

قوله: رأيت النبي صلى الله عليه وسلم يفعله: كښې د "يفعله" مطلب "يصلي والبعير إلى طرف قبلته" دې. دا علامه عيني رحمه الله بيان كړې دې. په دې تشريح كښې د دې خبرې بيان دې چه صرف د قبلې طرف ته ئې مخ نه وو بلكه هغه اوښ هم د قبلې طرف ته وو، ځكه خو به مونځ صحيح شي گني نه دې صحيح.([1])

دا خبره وړاندې هم تيره شوې ده چه د علامه سندهي رحمه الله رائې داده چه امام بخاري رحمه الله "مواضع الإبل" او "معاطن الإبل" كښې فرق بيانوي چه معاطن بل شئ دې او مواضع بل شئ دې. معاطن هغه ځائې ته وئيلې شي چرته چه اوښ د اوبو څكلو وخت كښې اودرېږي. او نهي مذكور خاص ده د معاطن ابل سره. لهذا د اوښ د ناستې پاستې ځائې به په نورو ځايونو باندې نه شي قياس كولې. چنانچه په هغه ځايونو كښې به مونځ جائز وي.([2]) په نورو روايتونو كښې د دې خبرې تصريح ده چه نبي اكرم ﷺ د خپل اوښ طرف ته مخ كولو سره مونځ ادا كړې دې.([3])

حضرت گنگوهي رحمه الله فرمائي چه د اوښانو په ځائې كښې مونځ كول جائز دى. خو چه د اوښ د اودريدو نه او د تكليف رسولو نه په امن كښې وى. دلته په حديث كښې د بعير نه مراد سورلى ده ځكه چه د بعير نسبت، اضافت د نبي عليه السلام طرف ته دې او دا خبره بالكل واضحه ده چه د دغې د پاسه به سامان نه اوړلې كيدو گني هغې ته حامله وائي. او نه به د هغې نه كار روزګار اخستې شو گني هغې ته راحله وئيلې شي او نه به په هغې باندې پټې اوبه كولې شو گني هغې ته به سانيه وئيلې شو.

دلته اوښ ستره جوړولو سره د مونځ كولو وجه دا وه چه د هغه د شرارت او فتنې نه حفاظت وو. ځكه چه بعضې سورلو كښې ډيرداسې صفات وى كوم چه په نورو كښې نه وى. لهذا په دې باندې به هغه صورت هم قياس كولې شي چرته چه د ځناور د تكليف نه انسان محفوظ او په امن كښې وى ځكه چه د نهي د علت په نه موجوديدلو يا په نه موجوديدلو باندې د حكم مدار وى. بل د ځناور طرف ته مخ كولو سره د مونځ كولو سبب دا هم دې چه ځناور يو د ساه والا شئ دې ليكن په دې كښې د بت پرستئ مشابهت نشته دې ځكه چه د اهل باطلو نه چا هم د اوښانو عبادت نه دې كړې.([4])

---

[1]) شرح الكرماني: ۹۲/٤، عمدالقاري: ٤/ ۲۸۱.

[2]) حاشية السندهي، كتاب الصلاة، باب: الصلاة في مواضع الإبل: ۱۲۶/۱الطاف سنز.

[3]) عن ابن عمر رضى الله عنهما أن النبي صلى الله عليه وسلم صلى إلى بعيره، أو راحلته، وكان يصلي على راحلته حيث توجهت به (جامع الترمذي، كتاب الصلاة، باب: ماجاء في الصلاة إلى راحلة، رقم الحديث: ۳۵۲).

[4]) الكوكب الدري، كتاب الصلاة، باب: ماجاء في الصلاة إلى الراحلة، رقم الحديث: ۳۵۲، ۳۳۸/۱.

دَ حديث شريف دَ ترجمة الباب سره مناسبت: په ظاهرى توګه خو په ترجمة الباب او حديث كښې مناسبت نشته دې ځكه چه په ترجمة الباب كښې ئې "مواضع الإبل" كښې دَ مونځ جواز خودلې دې او حديث باب كښې "صلوة إلى البعير" ذكردې. ليكن مناسبت او مطابقت به په دې اعتبار سره وى چه دَ امام بخارى په تراجمو او مطالبو كښې توسع ډيره زياته وى نو دلته هم "صلوة إلى البعير" په "مواضع الإبل" شامل كړې شوې دې.

علامه ادريس كاندهلوى رحمه الله فرمائى مطابقت دادې چه (دَ اوښانو باره كښې چه داكوم وئيلې شوى دى چه دا دَ شيطانانونه دى) كه چرې دَ اوښانو دَ شيطانانو كيدل دَ مونځ دَ صحت نه مانع وى نو بيا دَ مونځ ګذار په مخكښې دَ اوښ موجوديدل، يا په اوښ باندې سوريدلو سره مونځ ادا كول هم نه وو صحيح كيدل پكار. حالانكه نبى كريم ﷺ په اوښ باندې دَ سورلئ په حالت كښې نفل مونځ ادا كړې دې.[1]

دَ حديث مبارک نه مستنبط فوائد او احكام: دَ حديث شريف نه يو څو خبرې واضح كيږى كومې چه دلته ذكركولې شى:

① دَ مذكوره حديث نه دا خبره ثابتيږى چه كله څناور قبلې طرف ته ناست وى نو دَ دغه څناور طرف ته مخ كولو سره مونځ كول صحيح دى.[2]

② داهم معلومه شوه چه اوښ سره نيزدې مونځ ادا كول جائز دى په خلاف دَ هغې دَ معاطنو چه په هغې كښې مونځ اداكول مكروه دى.[3]

③ اودَ اوښ كجاوه وغيره ستره جوړولو سره هم مونځ ادا كيدې شى.[4]

---

[1]) تحفة القارى: ٤٨٩/٢.
[2]) التوضيح لابن الملقن: ٤٨٣/٥ عمدة القارى: ٢٧١/٤.
[3]) التوضيح لابن الملقن: ٤٨٣/٥ عمدة القارى: ٢٧١/٤.
[4]) عمدة القارى: ٢٧١/٤.

۱۹ - بَابٌ: مَنْ صَلَّى وَقُدَّامَهُ تَنُورٌ أَوْنَارٌ، أَوْشَيْئٌ مِمَّا يُعْبَدُ، فَأَرَادَبِهِ اللّٰهَ

دا باب دَ هغه سړي باره كښې دې چا چه مونځ په داسې حال كښې اوكړو چه دَ هغه مخې ته تنور، اور يا څه داسې څيز وى دَ كوم چه عبادت كيدې شى، ليكن دَ دغه مونځ په ذريعه هغه دَ الله تعالى دَ رضامندئى اراده اوكړه.

دَ ترجمة الباب تشريح:

قوله: وَقُدَّامَهُ تَنُّورٌ: داجمله اسميه خبريه ده چه حال به واقع كيږى. او "قدامه" خبر مقدم دې او "تنور" مبتداء مؤخر ده. دَ لفظ قدّام معنى ده مخې ته. يعنى دَ خلف ضد.[۱]

قوله: تَنُّورٌ: معنى دا هغه كنده ده په كوم كښې چه اور بليږى اودَدې نه مراد هغه مخصوص اومعروف كنده هم ده په كومه كښې چه روټئ پخولې شى. اوكله په كښې تركارى هم پخولې شى. كله دا كنده دَ خاورې نه جوړولې شى اوكله دَ اوسپنې نه جوړولې شى.[۲]

قوله: أَوْنَارٌ: دَدې عطف په تنور باندې دې. په دې باندې دا سوال كولى شى چه كه صرف هم دا لفظ ذكر كړې شوې دې نوهم كافى وو. دَتنور دَ ذكركولو ضرورت نه وو. دَدې جواب دادې چه دادَ عطف العام على الخاص دَ قبيل نه دې دې لره دَ مستقل ذكركولو فائده دا ده چه په مجوسيانو كښې ډير دَ اور عبادت كونكى هغه دى چه صرف هم دَ هغه اور عبادت كوى كوم چه ښكارى. حالانكه كله كله تنور دَ خپل ژوروالى دَ وجې نه يا دَ اورد كميدو دَ وجې نه خپل اور نه ښكاره كوى. بلكه دَ هغې اور هم دَ تنور په هغه كنده كښې پټ پروت وى. په دې وجه دَ تنور اودَ اور دواړو ذكر جدا اوكړې شو.[۳]

قوله: أَوْشَيْئٌ مِمَّا يُعْبَدُ: دَدې جملې عطف هم په ماقبل باندې دې اودَدې تقديرى عبارت به داسې وى "من صلى وقدامه شيئ مما يعبد كالأوثان والأصنام والتماثيل والصور ونحو ذلك مما يعبده أهل الضلال والكفر". مطلب دا چه كوم سړې په داسې حال كښې مونځ اوكړى چه دَ هغه مخې ته څه داسې څيز وى دَ كوم چه عبادت كيږى لكه بت او تصوير وغيره او هرهغه څيز دَ كوم عبادت چه كافران كوى. دَ ترجمة الباب دا حصه دَماقبل دواړو الفاظو نه هم زياته عام ده.[۴]

قوله: فَأَرَادَبِهِ اللّٰهَ: دَترجمة الباب دَدې حصې نه مقصود دا دې چه دَمونځ گذار مخې ته داسې څيزونو كښې چه څه هم مخې ته وى ليكن دَهغه مقصود څيزونه نه وى بلكه دَ الله تعالى رضامندئى ئې مقصود وى نو په دې وجه داسې ادا شوې مونځ به مكروه نه وى.[۵]

---

[۱]) المحكم والمحيط الأعظم: ۳۲۲/۱ مختارا لصحاح: ۲٤۹/۱.

[۲]) النهاية فى غريب الحديث والأثر: ۱۹۹/۱. المخصص لابن سيده: ۱٦۹/۳.

[۳]) عمدة القارى: ۲۷۳/٤.

[٤]) عمدة القارى: ۲۷۳/۲-۲۷۲.

[۵]) عمدة القارى: ۲۷۳/٤.

دَ ترجمة الباب مقصد: پورتنۍ خبره خودا ده چه دَ امام بخاری رحمه الله په نیز مسئله داده چه که څوك خالص دَ الله تعالی دَ رضا دَ پاره مونځ ادا کولو دَ پاره ولاړ وی اودَ هغه مخې ته تنور، اور یا څه بل داسې څیز راشی دَ کوم چه عبادت کولې شی لکه ونه، نمر، سپوږمۍ، غوا وغیره نودَدې په وجه دَ هغه مونځ ګذار په مونځ کښې هیڅ خرابی یا کراهت نه پیدا کیږی بلکه دَ هغه مونځ صحیح دې.

په دې باندې یو سوال پیدا کیږی چه امام بخاری رحمه الله خو په ترجمة الباب کښې دَ کراهت یا عدم کراهت څه ذکر نه دې کړې بلکه حکم ئې مجهول یا مبهم ساتلې دې نو بیا دَ کراهت جهت دَ متعین کولو څه وجه ده؟ نودَدې جواب دادې چه امام بخاری رحمه الله دا باب قائمولو سره چه کوم دوه احادیث ذکرکړی دی یو تعلیقاً او دویم موصولاً، نو دَدې نه په عدم کراهت باندې دلالت کیږی. اګرچه دَ ډیرو زیاتو وجوهاتو نه ددې احادیثونه په عدم کراهت باندې استدلال تام نه دې. (١)(وضاحت وړاندې راځی). خودَدې مقابل دَ ډیرو زیاتو تابعینو (٢) حنابله (٣) او دَ احنافو (٤) په نیز په داسې صورت کښې مونځ ادا کول مکروه تنزیهی دې.
چنانچه دَ خپلې خبرې دَ ثابتولو اودَ کراهت قائلینو باندې دَ رد کولو دَ پاره امام بخاری رحمه الله دا باب قائم کړې دې اودَ دلیل په توګه باندې ئې دوه احادیث پیش کړی دی یو تعلیقاً او بل موصولاً.

تعلیق: وَقَالَ الزُّهْرِيُّ: أَخْبَرَنِي أَنَسٌ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ: (عُرِضَتْ عَلَيَّ النَّارُ وَأَنَا أُصَلِّي) [ر: ٩٣]
دَ تعلیق ترجمه: حضرت زهری رحمه الله فرمائی چه ماته حضرت انس رضی الله عنه اوفرمائیل چه ماته نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی: زما مخې ته اور راوړلې شو په داسې حال کښې چه ما مونځ ادا کولو.

(١) فتح الباری لابن رجب: ٢٢٨/٣ عمدة القاری: ٢٨١/٤.
(٢) علامه ابن رجب حنبلی رحمه الله، حافظ ابن حجر رحمه الله اوعلامه عینی رحمه الله وغیره خپلو کتابونو کښې: حضرت ابن سیرین رحمه الله باره کښې دا نقل کړې دی چه هغوی به دَ تنور طرف ته مخ کولوسره مونځ ادا کول مکروه ګنړل او تنور ته به ئې بیت النار وئیلو. دَ ابن سیرین رحمه الله او حضرت سفیان رحمه الله نه هم کراهت نقل دې. اوګورئی: فتح الباری لابن رجب: ٢٢٩/٣ فتح الباری لابن حجر: ٦٨٤/١ عمدة القاری: ٢٧٣/٤.
(٣) کشف القناع عن متن الإقناع، کتاب الصلاة، باب صفة الصلاة، فصل: ما یکره وما یباح وما یستحب فی الصلاة: ٣٧٠/١. المغنی لابن قدامة، کتاب الصلاة، باب: الأمامة وصلاة الجامعة، فصل الصلاة مستقبلا وجه الإنسان: ١٧٨/٢. المبدع فی شرح المقنع، کتا بالصلاة، باب: مکروهات الصلاة: ٤٢٨/١.
(٤) دررالحکام شرح غرر الأحکام، کتاب الصلاة،مکروهات الصلاة: ١٠٩/١. حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح شرح نورالإیضاح، کتاب الصلاة، فصل فی مکروهات: ١٣٢/١. المحیط البرهانی، کتاب الاستحسان والکراهة، الفصل الراب فی الصلاة، والتسبیح، وقراءة القرآن والذکر، والدعاء، ورفع الصوت عند قراءة القرآن والذکر والدعاء: ٣٠٨/٥.

دَ تعلیق تخریج: امام بخاري رحمه الله دا تعلیق موصولاً کتاب الصلاة کښې [۱] باب: "وقت الظهر عند الزوال" کښې بیان کړې دې. مکمل تخریج به په متعلقه مقام باندې راشي. ان شاء الله العزیز.

تعلیق او ترجمة الباب کښې مطابقت: په دې تعلیق او ترجمة الباب کښې مناسبت په دې اعتبار سره دې چه نبي کریم ﷺ دَ مونځ دوران کښې خپلې مخې ته دَ اور مشاهده او کړه او په ترجمة الباب کښې هم دغه دی چه دَ مونځ ګذار مخې ته اور وی او هغه مونځ ادا کوی. لیکن په دې مطابقت او په غرض دَ استدلال دا تعلیق دَ ترجمة الباب لاندې راوړلو کښې اشکالات دی، چه په تفصیل سره وړاندې راځی. [۲]

دَ تعلیق نه طریق دَ استدلال: امام بخاري رحمه الله فرمائی چه ګورئ نبي کریم ﷺ دَ مونځ په حالت کښې وو په دې حالت کښې دَ حضورپاک دَ مخې ته دَ دوزخ اور پیش کړې شو یعنی اور دَ حضورپاک مخکې ته وو او حضورپاک مسلسل په مونځ کښې وو. که دَ کراهت قول اختیار کړې شی نو لا محاله به دا لازم شی چه دَ حضورپاک مونځ په دې صورت کښې دَ کراهت سره ادا شو نو دا صحیح نه ده. لهذا چه کله داسې صورت پیښ شی نو مونځ بغیر دَ کراهت نه صحیح دې.

دَ احنافو مسلک او دَ امام بخاري رحمه الله دَ استدلال جواب: دَ احنافو مسلک په دې باره کښې دا دې چه که دَ مونځ ګذار مخې ته اور یا تنور وغیره وی یعنی داسې څیز وی دَ کوم چه عبادت کیږی نو دَ مجوسیانو سره دَ مشابهت دَ وجې به دَ هغه په مونځ کښې هم کراهت راځی لیکن دَ دغه مونځ ګذار دَ عبادت دَ ارادې دَ نه کیدو دَ وجې به هغه کراهت تنزیهی وی تحریمی به نه وی. پاتې شوه خبره دَ امام بخاري رحمه الله دَ استدلال، نو هغه دَ تام نه کیدو دَ وجې مونږ هغه نه منو. دَ دې استدلال ناقص یا دَ تام نه کیدو اول وجه دا ده چه دَ دوزخ اور کوم چه حضورپاک ته دَ مونځ په حالت کښې خودلې شوې وو هغه دَ حضورپاک دَ اختیار نه بغیر وو یعنی داسې نه وو چه اور دَ مخکښې نه بلکیدو او حضورپاک دَ هغې مخې ته اودریدو سره مونځ ادا کول شروع کړل. بلکه داسې اوشو چه حضورپاک علیه السلام مونځ شروع کړو او په دې حالت کښې دَ حضورپاک مخې ته دَ حضورپاک دَ ارادې، خوښې او اختیار نه بغیر جنت او دوزخ مخې ته راوړلې شو. حالانکه زمونږ کلام او بحث خود هغه صورت باره کښې دې چه یو څائی کښې اور بلیږی او یو سړې دَ هغې مخې ته اودریږی او مونځ ادا کول شروع کړی.

---

[۱] حدثنا أبو الیمان، قال: أخبرنا شعیب، عن الزهري، قال: أخبرني أنس بن مالک، أن رسول الله صلی الله علیه وسلم خرج حین زاغت الشمس، فصلی الظهر، فقام علی المنبر، فذکر الساعة، فذکر أن فیها أمورا عظاما، ثم قال: من أحب أن یسأل عن شيئ فلیسأل، فلا تسألوني عن شيئ إلا أخبرتکم، مادمت في مقامي هذا فأکثر الناس في البکاء، وأکثر أن یقول: سلوني، فقام عبدالله بن حذافة السهمي، فقال: من أبي؟ قال: أبوک حذافة، ثم أکثر أن یقول: سلوني، فبرک عمر علی رکبتیه، فقال: رضینا بالله ربا، وبالإسلام دینا، وبمحمد نبیا، فسکت، ثم قال: عرضت علی الجنة والنار آنفا في عرض هذا الحائط، فلم أر کالخیر والشر. (صحیح البخاري، کتاب الصلاة، باب: وقت الظهر عند الزوال، رقم الحدیث: ۵٤۰)

[۲] عمدة القاري: ۲۷۳/٤.

لهذا دا حديث يا واقعه دليل جوړول صحيح نه دی.(۱)

دويمه وجه دا ده چه دَ دوزخ خودل په توګه دَ كشف شوی وو. دليل دا دې چه حضور پاك سره شريك په جمات كښې صحابه كرامو رضي الله عنهم ته دا كشف نه دې شوې يعنى دَ دوزخ دغه اور ښكاره نه شو حالانكه زمونږ بحث خو په عالم حسى كښې دَ مونځ ګذار مخې ته دَ اور كيدو په صورت كښې دې، لهذا په دې وجه هم استدلال تام نه دې.(۲)

دريمه وجه دا ده چه زمونږ بحث دَدې دنيا دَ اور باره كښې دې اوهغه اور كوم چه حضور پاك ته دَ مونځ دوران كښې خودلې شوې وو هغه دَ آخرت اور وو.(۳)

ابن رجب حنبلى رحمه الله دَدې خبرې دَ دليل په توګه يو قول نقل كړې دې چه كله حضرت جبرائيل عليه السلام دَ حضور پاك قلب اطهر څيرلې وو او دَ جنت په اوبو سره ئې هغې ته غسل وركړې وو نودا ټول عمل دَ سرو زرو په ركيبئ كښې اوكړې شو كومه چه حضرت جبرائيل عليه السلام خپل ځان سره راوړې وو. نودَ هغې سرو زرو دَ ركيبئ استعمال باندې دَ حرمت حُكم اونه لګيدو ځكه چه هغه لوښې دَدې دنيا نه وو بلكه دَ جنت نه راوړلې شوې لوښې وو اودَ حرمت تعلق په دنيا كښې دَ سرو زرو دَ لوښى په استعمالولو سره دې. چنانچه په دې باب كښې ذكر كړې شوې تعليق كښې خودلى شوى اخزوى اور باندې به هم دَ دنياوى اور حكم نه شى لګولې. نو چه كله دا دواړه قسمه اور جدا شو نودَ يو اور نه دَ بل اور حكم نه شى مستنبط كيدلې.(۴)

څلورمه وجه دا ده چه زمونږ بحث په هغه اور كښې دې كوم چه دَ مونځ ګذار مخې ته وى. حالانكه هغه اور كوم چه حضور پاك ته خودلې شوې وو هغه ضرورى نه ده چه مخې ته وى بلكه ممكن ده چه هغه ښى يا ګس طرف ته وو.(۵)

علامه محمد ادريس كاندهلوى رحمه الله فرمائى چه دې احتمالاتو ته كتو سره صفا محسوسيږى چه امام بخارى رحمه الله جزئى مسائل بيانول غواړى اودَ هغې دَ حكم بيانولو دَ پاره دَ احاديثو نه دَحكم مستنبط كولو كوشش كښې دې. خو چه كله هغه دَ شرائطو مطابق واضح حديث نه مومى نو بيا په ډيرو تاوولو او راښكلو سره داسې دَ لرې استدلالات كوى.(۶)

علامه كاندهلوى رحمه الله يو توجيه بله پيش كړې ده چه كه چرې دا په خيال كښې اوساتلې شى نوونيلې كيدې شى چه دَ امام بخارى رحمه الله كلام دَ نورو فقهاؤ مقابل او مخالف نه دې. هغه دا چه كله دَمونځ ګذار مخې ته داسې اور وى چه دَ نورو مونځ كونكو مخې ته نه وى يعنى دَ هغوى دَ نظر نه غيب وى او هغه په داسې حيثيت سره وى چه دَ هغه اور دَ مونځ ګذار مخې

(۱) فتح البارى لابن رجب: ۲۲۹/۳ عمدة القارى: ۲۷۲/٤ تحفة القارى: ٤۹۰/۲.
(۲) عمدة القارى: ۲۷۲/٤ تحفة القارى: ٤۹۰/۲.
(۳) عمدة القارى: ۲۷۲/٤ تحفة القارى: ٤۹۰/۲.
(۴) فتح البارى لابن رجب: ۲۲۹/۳.
(۵) عمدة القارى: ۲۷۲/٤.
(۶) تحفة القارى: ٤۹۰/۲.

ته په كيدو. سره د مجوسيانو سره مشابهت لا زم نه راځي نو په داسې حالت كښې په مونځ ادا كولو كښې هيڅ كراهت نشته دې.[۱]

دَ امام بخارى رحمه الله په مسلک باندې يو اعتراض: حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله دَ امام بخارى رحمه الله په اختيار كړې شوې مسئله باندې دَ معترضينو دَ طرف نه كيدونكې يو اعتراض نقل كړې دې دَ هغې جواب وركولو سره فرمائى چه دَ امام بخارى رحمه الله رائې دا ده چه كله دَ مونځ گذار مخې ته اور وى نو دَ هغې طرف ته مخ كولو سره مونځ كول مكروه نه دى. په دې باندې دا اشكال راځى چه امام بخارى رحمه الله په وړاندې صفحه ۶۲ باندې "باب: الصلاة فى ثوب مصلب أو تصاوير" تړلو سره تصوير يا صليب والا كپړا كښې مونځ كول مكروه گرځولى دى او دَ هغې دَ مكروه كيدو علت دَ دې نه سوا هيڅ نه دى چه په دې كښې تشبيه بعبادت الغير لا زميږى كوم چه شرعاً منع دى او دا علت دلته موندلې شى په دې وجه دلته هم مونځ مكروه كيدل پكار دى؟

دَ دې په جواب كښې علامه كرمانى رحمه الله فرمائى چه دَ تماثيل حكم دَ نورو ټولو معبودانو دَ حكم نه جدا دې. ځكه چه تصوير خو په خپله يو منكرشئ دې كه دَ هغې عبادت اوكړې شى او كه او نه كړې شى. په خلاف دَ اور وغيره چه هغه پخپله قبيح نه دې البته دَ دې عبادت حرام دې. بل مذهب دادې چه تصويرونه په مونځ كښې په مكمل توگه مصروف كيدو نه غافل كونكى دى په دې وجه دَ تصوير والا كپړا كښې مونځ مكروه دې.[۲]

حديث باب [حديث نمبر ۴۲۱]

۴۲۱- حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ [۳] قَالَ انْخَسَفَتِ الشَّمْسُ، فَصَلَّى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- ثُمَّ قَالَ « أُرِيتُ النَّارَ، فَلَمْ أَرَ مَنْظَرًا كَالْيَوْمِ قَطُّ أَفْظَعَ ».

دَ حديث ترجمه: حضرت عبد الله بن عباس رضى الله عنهما اوفرمائيل چه نمر تندر اونيولو نو رسول الله ﷺ مونځ ادا كړو. بيائى اوفرمائيل ماته جهنم اوخودلې شو. ما دَ نن په شان ويرونكې منظر كله نه دې ليدلې.

تراجم رجال: دَ دې حديث شريف په سند كښې ټول پنځه راويان دى:

① **عبدالله بن مسلمه رحمه الله:** دا ابو عبد الرحمن عبد الله بن مسلمه بن قعنب حارثى بصرى رحمه الله دې. دَ دوى احوال كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: من الدين الفرار من الفتن لاندې تير شوى دى.[۴]

---

[۱]) تحفة القارى: ۴۹۰/۲.
[۲]) الأبواب والراجيم: ۲۱۵/۲ الكنزالمتوارى: ۱۳۶/۴ سراج القارى: ۹۳/۳.
[۳]) مر تخريجه فى كشف البارى تحت كتاب الإيمان، باب: كفران العشير وكفر بعد كفر، رقم الحديث: ۲۹، ۲۰۶/۲
[۴]) كشف البارى: ۸۰/۲.

④ مالك رحمه الله: دا ابوعبدالله امام مالك بن انس بن مالك رحمه الله دي. دَدوی احوال کشف الباری، کتاب الإيمان، باب: من الدين الفرار من الفتن لاندې تير شوی دی.[1]

③ زيد بن اسلم رحمه الله: دا ابو اسامه زيد بن اسلم قرشی عدوی مدنی رحمه الله دي. دَدوی احوال کشف الباری، کتاب الإيمان، باب: کفران العشير وکفر بعد کفر، رقم الحديث ۲۹، لاندې تير شوی دی.[2]

④ عطاء بن يسار رحمه الله: دا ابومحمد عطاء بن يسار هلالی مدنی رحمه الله دي. دَدوی احوال کشف الباری، کتاب الإيمان، باب: کفران العشير وکفر بعد کفر، رقم الحديث ۲۹، لاندې تير شوی دی[3]

⑤ عبدالله بن عباس رضي الله عنهما: دا مشهور صحابی رسول حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما دي. دَدوی احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی دَ څلورم حديث لاندې تير شوی دی.[4]

دَ حديث شرح:

قوله: "الخسفت": دا دَ "انکسفت" په معنی دي.[5]

دَ صلاة کسوف اوخسوف مصداق: دَ نمر يادَ سپوږمۍ پوره رڼا يا څه رڼا ختميدو اودَ سپوږمۍ او نمر توريدو ته کسف وائی. کسفت الشمس او خسفت الشمس دواړه شان استعماليږی. اودغه شان کسف القمر او کسف القمر دواړه شان استعماليږی.

يو قول دادې چه کسوف دَ نمر دَ پاره او خسوف دَ سپوږمۍ دَ پاره استعماليږی. او هم دغه لغت ډير مشهور دې. او يو قول داهم دې چه دَ تندر نيولو دَ شروع وختونو ته کسوف او آخری وختونو ته خسوف وائی ليکن زيات واضحه تعبير او تعريف او قول هم هغه دې کوم چه پورته ذکر شو.

خلاصه داده چه هغه مونځ کوم چه دَ نمر يا سپوږمۍ نه دَ يو په مکمله توګه يا بعضې حصې توريدو په وخت په مخصوص طريقه باندې ادا کړې شی هغې ته صلاة کسوف وائی.[6]

قوله: "فصلی": دَدې فعل مفعول محذوف دې کوم چه الکسوف دې. يعنی حضورپاك دکسوف مونځ ادا کړو.[7]

---

[1] کشف الباری: ۸۰/۲.
[2] کشف الباری: ۲۰۳/۲.
[3] کشف الباری: ۲۰٤/۲.
[4] کشف الباری: ٤۳۵/۱.
[5] شرح الکرمانی: ۹۳/٤.
[6] تاج العروس، ک س ف: ۳۰۹/۲٤. لسان العرب، فصل الکاف: ۲۹۹/۹.
[7] شرح الکرمانی: ۹۳/۴ عمدة القاري: ۲۷۳/۴ .صلاة کسوف او صلاة خسوف دَ جمهور ....

قوله: "أريت": داد ماضي مجهول صيغه ده. مرادي معنى داده چه ما د مونځ ادا کولو وخت کښې اور اوليدلو.[1]

قوله: "وكاليوم": دا لفظ به د مصدر محذوف صفت جوړشي. يعنى "رؤية مثل رؤية اليوم" د نن د ليدو په شان ليدل ما چرته نه دى ليدلى. "كاليوم" کښې كاف د تشبيه دپاره دې د مثل په معنى.[2]

قوله: "أفظع": دا لفظ د ډيرزيات قباحت معنى بيانوى.[3]

قوله: "قط": دا د زمانهٔ ماضى منفى د استغراق معنى پيدا کوى. مراد دادې چه د کله نه زه پيدا شوې يم نو د هغه وخت نه ما چرته داسې قبيح منظر نه دې ليدلې.[4]

د ترجمة الباب سره مطابقت: د ترجمة الباب مناسب د حديث شريف "أريت النار" د جملې په وجه په داسې توګه چه چرې د مونځ ګذار مخې ته اورموجوديدل ناخوښه او مقصد صلوة وې نو الله تعالى به دا د خپل حبيب ﷺ مخې ته نه پيش کولو.[5]

د حديث مبارک نه مستفاد امور: د مذکوره حديث شريف نه چه کوم فوائد او احکام مستنبط کيږى په هغې کښې څه دلته نقل کولې شى:

① د کسوف د مونځ د مستحب کيدو علم اوشو.[6]

② د اهل سنت والجماعت په نيز جنت او جهنم پيدا کړې شوى دى په خلاف د معتزلؤ.[7]

③ د نبي کريم ﷺ په معجزاتو کښې يوه معجزه دلته ذکر شوه چه الله تعالى د حضورپاك د سترګو د وړاندې نه پردې اخوا کړې او د دوزخ اور ئې د حضورپاك سترګو ته مخامخ کړو. حضورپاك دغه اور په خپلو سترګو باندې هم داسې اوليدلو لکه څنګه چه د معراج نه په واپسئى باندې ئى مسجداقصى ليدلې وو. د ابن الملقن رحمه الله بيان دې چه دلته يو احتمال داهم دې چه د حضورپاك دا رؤيت، رؤيت علمى وى د کوم خبر چه د وحى په ذريعه

...... ائمه کرامو په نيز سنت مؤکده دې. د دې مونځونو وخت د تندر نيولو د وخت نه شروع کيږى او د تندر نيولو د ختميدو پورې باقى وى. ځکه چه د نبي کريم ﷺ ارشاد دې: "إذا رأيتموها فادعوا الله وصلوا حتى ينجلي" يعنى کله چه تاسو دا اووينئ نو د الله تعالى نه دعا غواړئ. او مونځ کوئى تردې چه هغه تندر نيول ختم شى. حضورپاك د تندر ختميدل د مونځ انتهاء اوخودله بل دا چه د دې مشروعيت د الله تعالى نه د دې خواهش د څرګندونې د پاره دې چه هغه د رڼا نعمت دوباره رانصيب کړى او کله چه دا مقصود حاصل شو نو د مونځ مقصود حاصل شو. (الموسوعة الكويتية الفقهية: ۲۷/ ۲۸۰).

[1]) شرح الكرماني: ۹۳/۴ عمدة القاري: ۲۷۴/۴.

[2]) شرح الكرماني: ۹۳/۴ عمدة القاري: ۲۷۴/۴.

[3]) شرح الكرماني: ۹۳/۴ عمدة القاري: ۲۷۴/۴.

[4]) عمدة القاري: ۲۷۵/۴-۲۷۴.

[5]) عمدة القاري: ۲۷۳/۴ الأبواب والتراجم: ۲۱۵/۲ سراج القاري: ۱۹/۳.

[6]) شرح الكرماني: ۹۳/۴ عمدة القاري: ۲۷۵/۴.

[7]) شرح الكرماني: ۹۳/۴ التوضيح لابن الملقن: ۴۸۸/۵ عمدة القاري: ۲۷۵/۴.

حضور پاك نه او كړې شو.([1])

⑨ دَ امام بخاري رحمه الله دَ ترجمة الباب مطابق چه كله دَ مونځ گذار مخې ته اور وي ليكن دَ دغه مونځ گذار مقصود دَ دغه اور عبادت كول نه وي بلكه د الله تعالى رضامندى ئې مخې ته وي نو په داسې مونځ كښې هيڅ كراهت نشته دې.([2])

دَ جماتونو دَ قبلې والا ديوال كښې هيټر يا گيس يا ليمپ وغيره دَ لگولو حكم: موجوده وخت كښې بعضې داسې علاقې چرته چه ډيره زياته يخنى وى. هلته په جماتونو كښې چه كومې هيټرې دَ قبلې طرف ته لگولې شى دې دپاره چه مونځ گذار حضرات دَدې په تاؤ سره دَ يخنئى نه بچ شى او دَ جمات ماحول په دې سره گرم وي يا دَ رڼا په خاطر دَ گيس ليمپ، موم بتئ يا ډيوه وغيره دَ قبلې ديوال كښې لگولې شى نو دَ ضرورت په وجه دَدې شرعاً گنجائش شته. خو بياهم په ظاهرى توگه دَ مجوسيانو دَ مشابهت نه دَ بچ كيدو په خاطر انتظاميه له پكاردى چه داسې هيټرې يا نورې اور والا څيزونه دې مخامخ دَ قبلې والا ديوال كښې نه لگوى. بلكه ښى طرف ته او گس طرف ته اودَ مونځ گذارو شاه طرف ته دې لگوى. يا كه هم دَ قبلې طرف ته لگول وى نو دَ مونځ گذارو دَ سرونو نه پورته دې په ديوال كښې لگوى.([3])

۲۰ - بَابٌ: كَرَاهِيَةِ الصَّلاَةِ فِي الْمَقَابِرِ

دا باب دې په قبرستان كښې دَمونځ كولو دَ مكروه كيدو په بيان كښې

قوله: كَرَاهِيَةِ: بعضې نسخو كښې "كراهة الصلاة" دې نه چه "كراهية الصلاة"، په معنوى اعتبار سره هيڅ حرج نشته، ځكه چه كراهة او كراهية دواړه مصادر دى.([4])

قبرستان كښې دَ مونځ حكم: قبرستان كښې دَمونځ دَ جواز يا عدم جواز په باره كښې دَ ائمه

---

[1]) التوضيح لابن الملقن: ٤٨٨/٥ عمدة القاري: ٢٧٥/٤.

[2]) عمدة القاري: ٢٧٥/٤.

[3]) (و)لا [يكره] إلى(مصحف أو سيف مطلقًا أو شمع أو سراج) أو نار توقد، لأن المجوس إنما تعبدالجمر، لا النار الموقدة، قنية. (الدرالمختار، كتاب الصلاة، باب: ما يفسد الصلاة وما يكره فيها: ٨٩/١دارالكتب العلمية).ومن توجه فى صلاته إلى تنور فيه نار تتوقد أو كانون فيه نار يكره، ولو توجه إلى قنديل أو إلى سراج لم يكره، كذا فى محيط السرخسى وهو الأصح، كذا فى خزانة الفتاوى. (الفتاوى الهندية، كتاب الصلاة، الباب السابع: فيما يفسد الصلاة وما يكره فيها وما لا يكره، الفصل الثاني: فيما يكره فى الصلاة وما لا يكره: ١٠٨/١). (نجم الفتاوى، كتاب الصلاة، مسجد میں نمازیوں کے سامنے ہیٹر لگانے کا حکم: ٥٦٥/٢) (خير الفتاوى، احكام المساجد، مسجد میں گیس کے ہیٹر دائیں بائیں لگائے جائیں، یا انسانی قد سے اوپر لگائے جائیں: ٥٥٠/٦) بعضې علاقې ډيرې زياتې يخې وى په هغې كښې دَ يخنئ نه دَ بچ كيدو دَپاره مختلف څيزونه استعماليږى. په هغې كښې يو دَ گيس هيټر هم دې چه په مكان، دوكان او جماتونو كښې لگولې شي. دَدې گيس دَ هيټر په پليټونو باندې د سروټكو شكل جوړشوې وى كله چه دا هيټر لگى نو هغه دَ سروټكو په شان برقيږى. داسې هيټرې مخې ته كيخودو سره مونځ جائز خودې مگر دَ آتش پرستو دَ مشابهت نه دَ بچ كيدو دَپاره دا دَ جمات په اطرافو كښې يا دَ سجدې دَ ځائى نه اوچت لگول پكار دى.(المسائل المهمة فيما ابتليت العامة، كتاب الصلاة، نماز کے مکروہات ومفسدات: ١١٣/٥).

[4]) عمدة القاري: ٢٧٥/٤.

اربعه دَ مذاهبو تفصیل دريِ ابوابه وړاندې باب "هل تنبش قبور مشرکی الجاهلیة ویتخذ مکانها مساجد" کښې تیر شوې دې.

دَ ترجمة الباب مقصد: دَدې ترجمة الباب نه مقصود مطلقًا دَ قبرونو په مینځ کښې دَمونځ مکروه کیدو بیان دې. او ماقبل کښې چه کوم باب: "هل تنبش قبور مشرکی الجاهلیة ویتخذ مکانها مساجد" تیر شو په هغې کښې خاص دَ قبرمخې ته اودریدو سره دَمونځ اداکولو دَ کراهت بیان وو په داسې توګه چه دَ مونځ ګذار مخې ته قبر وی. نو دا خبرې مخې ته کیخودو سره دَ تکرار قائلینو باندې رد کیږی. (۱)

حدیث باب [حدیث نمبر ۴۲۲]

-۴۲۲ حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ قَالَ أَخْبَرَنِي نَافِعٌ عَنِ ابْنِ عُمَرَ (۲) عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «اجْعَلُوا فِي بُيُوتِكُمْ مِنْ صَلاَتِكُمْ، وَلاَ تَتَّخِذُوهَا قُبُورًا».

د حدیث ترجمه: حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما فرمائی چه نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمائیلو په خپلو کورونو کښې هم مونځ کوئی دا قبرستان مه جوړوئی.

تراجم رجال: دَمذکوره حدیث شریف په سند کښې ټول پنځه راویان دی:

① مسدد رحمه الله: دا مسدد بن مسرهد الاسدی البصری رحمه الله دې. دَ دوی مختصر حالات کشف

---

(۱) تحفة القاري للكاندهلوي: ۴۹۰/۲. حضرت مولانا فخر الدین احمدصاحب نورالله مرقده فرمائی چه یوڅو صفحې وړاندې "هل تنبش قبور مشرکی الجاهلیة" اودې سره "مایکره من الصلاة في القبور" تیر شوي دې. اوهلته تفصیل بیان شوی دې چه په قبرستان کښې دَ مونځ کولو په مسئله کښې دَ فقهاؤ کرامو څه اختلاف دې. دلته امام بخاری رحمه الله مستقلاً دَدې مسئلې وضاحت کول غواړی چه په قبرستان کښې مونځ کول مکروه دی. دَدې وضاحت وجه داده چه دَ زمکې په هره حصه باندې مونځ کول جائز دی. دَ حضورپاك ارشاد دې "جعلت لی الأرض مسجدا وطهورا" اومقابر هم دَ زمکې یوه حصه ده. امام بخاری رحمه الله بیانول غواړی چه دَ اصل په اعتبارسره دَ زمکې هره یوه حصه دَ مونځ قابله وه لیکن دَ عوارضو دَ وجې نه په خاص خاص حصو کښې دَ مونځ کولو نه منع کړې شوې ده. دا عوارض کله په زمکه کښې وی اوکله په ماحول کښې وی هم دَدې عوارضو په بنیاد قبرستان کښې مونځ کول مکروه دی. ځکه چه په قبرستان کښې دَ مونځ کولوعمل دَ بت پرستو یا قبر پرستو سره تشبه پیداکوی. په دې وجه فقهاء اربعه په دې باندې متفق دی چه قبرستان کښې مونځ کول مکره دی. (ایضاح البخاري: ۱۸۰/۳).

(۲) أخرجه البخاری ایضا فی التطوع، باب: التطوع فی البیت، رقم الحدیث: ۱۱۸۷. ومسلم فی صحیحه، فی صلاة المسافرین وقصرها، باب: استحباب صلاة النافلة، رقم الحدیث: ۷۷۷. وأبوداؤد فی سننه، کتاب الصلاة، باب: فی فضل التطوع فی البیت، رقم الحدیث: ۱۴۴۸. والترمذی فی جامعه، کتاب الصلاة، باب: ماجاء فی فضل صلاة التطوع فی البیت، رقم الحدیث: ۴۵۱. والنسائی فی سننه، کتاب فی صلاة اللیل، باب: الحث علی الصلاة فی البیوت والفضل فی ذلک، رقم الحدیث: ۱۵۹۸. وابن ماجة فی سننه، کتاب الصلاة باب: ماجاء فی التطوع فی البیت، رقم الحدیث: ۱۳۷۷. وفی جامع الأصول، حرف الصاد، الکتاب الأول: فی الصلاة القسم الأول: فی الفرائض وأحکامها، الباب الأول: فی الصلاة وأحکامها، الفصل السادس: فی شرائط الصلاة، الفرع الرابع: فی أمکنة الصلاة، النوع الرابع: فی أحادیث متفرقة، رقم الحدیث: ۳۶۸۳، ۴۸۳/۵.

الباری، کتاب الإیمان، باب: من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه، لاندې او تفصیلي حالات کتاب العلم، باب: من خص بالعلم قوما دون قوم کراهیة أن لایفهموا لاندې تیر شوی دی.[1]

② یحیی رحمه الله: دا یحیی بن سعید بن فروخ القطان تمیمی رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه لاندې تیر شوی دی.[2]

③ عبیدالله رحمه الله: دا عبیدالله بن عمر بن حفص بن عبدالله بن عمر بن خطاب رحمه الله دې. دَدوی احوال کشف الباری، کتاب الوضوء، باب: التبرز فی البیوت ص: ۳۶۰ لاندې تیر شوی دی.[3]

④ نافع رحمه الله: دا مولی دَ عبدالله بن عمر القرشی رحمه الله دې. دَدوی احوال کشف الباری، کتاب العلم، باب: ذکر العلم والفتیا فی المسجد لاندې تیر شوی دی.[4]

⑤ ابن عمر رضي الله عنهما: دا حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دې. دَدوی تفصیلي احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: الإیمان وقول النبی صلی الله علیه وسلم: بنی الإسلام علی خمس لاندې تیر شوی دی.[5]

دَ حدیث شرح:

قوله: "اجعلوا فی بیوتکم من صلاتکم": یعنې تاسو نوافل په خپلو کورونو کښې ادا کوئی.

په کورونو کښې دَنوافل کولو باره کښې دَ علامه قرطبی رحمه الله موقف: په دې عبارت کښې "من صلاتکم" کښې چه کوم "من" دې، دَدې باره کښې علامه قرطبی رحمه الله فرمائی[6] چه دا دَ تبعیض دَپاره دې او په دې صورت کښې به دَ "صلاتکم" نه مراد نوافل مونځونه وی او په دې باندې دلیل دَ صحیح مسلم هغه روایت دې په کوم کښې چه راغلی دی: «إذا قضی أحدکم الصلاة فی مسجده، فلیجعل لبیته نصیبا من صلاته»[7] چه کله څوك په تاسو کښې په جمات کښې فرض مونځ اداکړی نو دَ خپل مونځ څه حصه یعنې نوافل دې په کورکښې اداکوی.

دَ قاضی عیاض رحمه الله موقف: او قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چه دَدې مونځ نه مراد فرض مونځ دې نفل نه، مراد دادې چه تاسو کله کله فرض مونځ په کورکښې هم اداکوئی دې دپاره چه

---

[1]) کشف الباری: ۲/۲، ۵۸۸/۴.

[2]) کشف الباری: ۲/۲.

[3]) کشف الباری، کتاب الوضوء، باب: التبرز فی البیوت، ص: ۳۶۰.

[4]) کشف الباری: ۶۵۱/٤.

[5]) کشف الباری: ۶۳۷/۱.

[6]) المفهم لما اشکل من تلخیص کتاب مسلم، کتاب الصلاة، ومن باب: فضل النوافل، رقم الحدیث: ۶۵۳، ٤۱۱/۲.

[7]) وحدثنا أبوبکربن أبی شیبة، وأبوکریب، قالا: حدثنا أبومعاویة، عن الأعمش، عن أبی سفیان، عن جابر، قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: إذا قضی أحدکم الصلاة فی مسجده، فلیجعل لبیته نصیبا من صلاته، فإن الله جاعل فی بیته من صلاته خیرا. (صحیح مسلم، کتاب الصلاة، ومن باب: فضل النوافل، رقم الحدیث: ۶۵۳).

هغه کسان کوم چه جمات ته نه شي راتلې لکه ښځې، غلام، مريض وغيره، هغوی ته په کورکښې په جمع سره مونځ ورکوئي.(۱)

دَ جمهورو مؤقف: دَ جمهورو په نيز داحکم دَ نوافلو په باره کښې دې نه چه دَ فرائضو باره کښې، ځکه چه دَ نوافل خو پټ او ځان له دَ ادا کولو حکم ورکړې شوې دې. دَ کوم چه بهترين طريقه هم دغه ده چه فرائض په جمات کښې دَ ادا کولو نه پس نوافل کورته په راتلو سره ادا کوئي. او يو بل دليل هم دې په کوم کښې چه فرمائيلې شوی دی چه دَ فرض مونځ نه علاوه غوره مونځ هغه دې کوم چه په کورکښې اداکړې شي.(۲)

علامه نووي رحمه الله فرمائي چه زياته صحيح خبره داده چه دَدې مونځ نه دې مراد هم نفل مونځ وی نه چه فرائض ځکه چه دَدې باب ټول احاديث هم دَدې امر تقاضا کوی. لهذا په دې حديث کښې ذکر شوې دَ مونځ امر په فرائضو باندې محمول کول صحيح نه دی.(۳) ليکن حافظ ابن حجر رحمه الله په خپله شرحه فتح الباری کښې دَ قاضی صاحب رحمه الله کلام نقل کولو نه پس فرمائي چه مذکوره حديث خودَدې خبرې احتمال لری ليکن رومبې احتمال راجح دې.(۴)

دَدې پوره تفصيل نه پس واورئي چه زمونږ په نيز دَ علامه نووي رحمه الله خبره راجح ده او کومه خبره چه حافظ صاحب رحمه الله فرمائي چه دَ حديث نه هغه احتمال هم راوځی کوم چه قاضی صاحب رحمه الله بيان کړې دې دغه ډيره لرې خبره ده. دَ سوچ خبره ده چه کله دَ نبی اکرم ﷺ حديث موجود دې چه دَ فرض مونځ نه علاوه دَ سړی افضل مونځ هغه دې کوم چه په کورکښې اداکړې شي، نو بيا دااحتمال ځنګه ممکن دې؟(۵)

په کورونوکښې دَ نوافل کولو فائدې: په احاديثوکښې ترغيب ورکړې شوې دې چه دَ نوافلو ادا کول دې په کورونوکښې اوکړې شی ځکه چه دا پټ مونځ دې، کوم چه دَ رياکارئی نه لرې وی. دَدې په وجه په کورونوکښې برکت راځی، دَدې عمل په وجه په کورونوکښې رحمت رانازليږی. دَرحمت فرښتې کورته راځی او شيطانان دَ کورونونه تختی.(۶)

قوله: "ولاتتخذوهاقبورا": دا کورونه قبرستان مه جوړوئی، دَدې جملې نه امام بخاري رحمه الله دا مسئله اخذ کړې ده چه قبرونه دَ عبادت ځايونه نه دی، لهذا په داسې ځايونوکښې مونځ اداکول مکروه دی.

ګ. ونه قبرستان نه جوړولو سره متعلق دَ حضرت شيخ الحديث رحمه الله رائې: حضرت شيخ

---

(۱) إكمال المعلم بفوائدمسلم، كتاب الصلاة، باب: استحباب صلاة النافلة في بيته، رقم الحديث: ۷۷۷، ۱٤٤/۳.

(۲) عمدة القاري: ۲۷۶/٤.

(۳) شرح النووي على مسلم، كتاب الصلاة، باب: استحباب صلاة النافلة في بيته، رقم الحديث: ۷۷۷، ۶۷/۶.

(۴) فتح الباري: ۶۸۵/۱.

(۵) فتح الملهم، كتاب الصلاة، باب: استحباب صلاة النافلة في بيته، رقم الحديث: ۷۷۷، ۱٤۳/۵.وكذا في ذخيرة العقبى، كتاب الصلاة، باب: الحث على الصلاة في البيوت، رقم الحديث: ۱۵۹۸، ۲۶۰/۱۷.

(۶) شرح النووي على مسلم، كتاب الصلاة، باب: استحباب صلاة النافلة في بيته، رقم الحديث: ۷۷۷، ۶۷/۶ ذخيرة العقبى، كتاب الصلاة، باب: الحث على الصلاة في البيوت، رقم الحديث: ۱۵۹۸، ۲۶۰/۱۷.

الحديث رحمه الله فرمائي چه د حديث پاك د دې جملې په معنى كښې مختلف اقوال دى:
يو مطلب خو دا دې چه په كورونو كښې مونځونه كوئى، په كورونو كښې مونځ نه كول دَ كورنه قبرستان جوړول دى ځكه چه په مقبره كښې مونځ نه شي كولې. لهٰذا كورونه دَ قبرستان په شان مه جوړوئى. دَدې مطلب نه دَ امام بخارى رحمه الله تائيد كيږى اودَ امام بخارى رحمه الله مقصد هم دغه دې او هم دَدې نه ترجمه ثابتيږى.
دويم مطلب دا دې چه په كورونو كښې مونځونه كوئى او په كورونو كښې قبرونه مه جوړوئى ځكه چه بيا به دغه مقبره جوړه شي او په مقبره كښې مونځ جائز نه دې.
دريم مطلب دا دې چه په قبرستان كښې كور مه جوړوئى ځكه چه كله كله مقبروته تلو سره عبرت حاصليږى. كه چرې انسان هم هلته كور جوړكړى نو بيا به دَ عبرت حاصلولو موقع پاتې نه شي بلكه عادت به شي.
څلورم مطلب دا دې چه كه چرته څوك راشى نو خوراك چائى اوبو وغيره سره دَ هغه ميلمستيا اوكړئى ځه خوراك ځنباك پرې اوكړئى كورونه دَ مقبرو په شان مه جوړوئى.(1)
دې جملې ته په كتو سره دَ يوجماعت رائې داده چه په كورونو كښې مونځ ادا كول مستحب دى ځكه چه مړى خو مونځ نه كوى، لكه چه نبى اكرم ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه تاسو دَ هغه مړو په شان مه كيږئى چه په كورونو كښې په مونځ ادا كولو باندې قادر نه دى.
بعضې فقهاؤ دَدې نه دا مستنبط كړى دى چه قبرستان دَ عبادت كولو ځائى نه دې، چنانچه په قبرستان كښې مونځ ادا كول مكروه دى. دَدې خبرې دليل دا دې چه نبى كريم ﷺ ارشاد فرمائيلې دې: په پوره زمكه كښې مونځ ادا كيدې شى سوا دَ قبرستان اوحمام نه دې دوو ځايونو كښې مونځ اداكول جائز نه دى.(2)
دَ علامه خطابى رحمه الله رائې: علامه خطابى رحمه الله فرمائي چه يوه معنى دا هم ده چه تاسو خپل كورونه صرف دَ اوده كيدو دَپاره مه استعمالوئى چه كله خو په كور كښې دَ مونځ ادا كولو نوبت هم رانه شي. چونكه خوب دَ مرګ خور ده او مړې خو مونځ نه كوى.(3)
دَ علامه توربشتى رحمه الله رائې: علامه توربشتى رحمه الله فرمائي چه يو احتمال دا هم دې چه هغه سړې كوم چه ذكر كوى او څوك چه ذكر نه كوى، دَ دوى مثال دَ ژوندى اودَ مړى په شان دې. او ژوندى خلق په كورونو كښې اوسيږى او مړه خلق په قبرونو كښې اوسيږى. نوهغه سړې څوك چه په كور كښې مونځ نه كوى هغه خپل كور ځان له دَ قبر قائمقام جوړوى لكه چه هغه پخپله دَ مړ سړى په شان وى.

(1) الكنز المتوارى: ١٤١/٤ سراج القارى: ٢١/٣.
(2) عن أبى سعيد قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الأرض كلها مسجد إلا الحمام والمقبرة. (سنن أبى داؤد، كتاب الصلاة، فى المواضع التى لا تجوز فيها الصلاة، رقم الحديث: ٤٩٢).
(3) أعلام الحديث فى شرح صحيح البخارى: ٣٩٣/١. فتح الملهم، كتاب الصلاة، باب: استحباب صلاة النافلة فى بيته، رقم الحديث: ٧٧٧، ١٤٣/٥.

دویم احتمال دادې چه قبرستان هغه ځائی دې چرته چه مونځ نه شی ادا کیدې ځکه چه هغه د هغه خلقو یعنی دَ «مړو» دَ اوسیدو ځائی دې چه په احکاماتو باندې دَ عمل کولو مکلف نه دی. دَ عمل دروازه دَ هغوی دَ طرف نه بنده شوې ده. لیکن په کورونو کښې تاسو مونځونه کوئی ځکه چه تاسو ژوندی یئی مکلف یئ دَ عمل کولو طاقت په تاسو کښې موجود دې.

دریم احتمال دادې چه بیشکه تاسو په قبرستان کښې دَ مونځ کولو نه منع کړې شوې یئ. نو تاسو په خپلو کورونو کښې مونځونه کول مه پریږدئ. که چرې تاسو داسې اوکړل نو په داسې صورت کښې به تاسو په خپلو کورونولره دَ قبرستان سره تشبیه ورکونکې جوړ شئ.[1]

دَ ملاعلی قاری رحمه الله رائې: ملاعلی قاری رحمه الله یوه معنی دا ذکر کړې ده چه تاسو په قبرستان کښې خپل دَ استوګنې ځائی مه جوړوئی دې دَ پاره چه تاسو نه دَ زړه نرمی، دَ نصیحت حاصلول اودَ رحمت حاصلول زائل نه شی «دا په دې وجه چه کله بنده په یو ځائی کښې اوسیدل شروع کړی نو هغه دَ هغه ځائی عادت شی، نوچه کوم سړې په قبرستان کښې دَ اوسیدو عادت شی نو قبرستان ته تلو کښې کوم مقصود دې هغه به فوت شی» بلکه تاسو قبرستان ته دَ قبرونو دَ زیارت دَپاره ځئ او بیا خپلو کورونو ته واپس راځئ.

او نور اقوال ذکرکولو نه پس ئی یو بل قول ذکر کړې دې چه دَ ارباب لطائف نه دَ بعضو قول دادې چه دَدې معنی داده چه تاسو خپل کورونو ته راتلونکی میلمنو دَپاره دَ کورنه دَ قبرستان په شان مه جوړوئی چه په هغوی نه خوراك کوئی او نه پرې اوبه څکوئی او نه دَ هغوی نور څه اکرام اوکړئی. «چونکه په قبرستان کښې داسې څه کار نه کیږی په دې وجه کورونه ئی دَ میلمنو دَپاره داسې جوړولو نه منع اوکړه». [2]

دَ علامه خطابی رحمه الله یو اشکال اودَ هغې جواب: علامه خطابی رحمه الله دَ یو قول تردید کړې دې چه چا دا تاویل بیان کړې دې چه دَ حدیث شریف په دې جمله کښې په کورونو کښې مړی خښولو نه منع کړې شوې ده. نودَ هغوی دا تاویل صحیح نه دې. ځکه چه حضورپاك هم په هغه کوټه کښې دفن کړې شو په کومه کښې چه حضورپاك اوسیدلو.[3]

علامه کرمانی رحمه الله دَدې داجواب ورکړې دې چه مذکوره تاویل صحیح دې ځکه چه دا خبره عین ممکن ده چه په کورونو کښې دَ خښولو جائز کیدل دَ نبی کریم ﷺ سره خاص وی لکه چه په احادیثو کښې ذکر دی چه دَ انبیاء کرامو وفات کوم ځائی کښې اوشی هغوی هم په هغه ځائی کښې خښولې شی.[4]

---

[1]) المیسرفی شرح مصابیح السنة للتوربشتی،کتاب الصلاة،باب:المساجد ومواضع الصلاة،رقم الحدیث:۴۷۹، ۲۰۵/۱.
[2]) مرقاة المفاتیح، کتاب الصلاة، باب:. الصلاة علی النبی صلی الله علیه وسلم، رقم الحدیث: ۹۲۶، ۷۴۴/۲.
[3]) أعلام الحدیث فی شرح صحیح البخاری: ۳۹۳/۱.
[4]) قال الکرمانی:أقول: هوشیئ، ودفن الرسول صلی الله علیه وسلم فیه لعله من خصائصه سیما، وقد روی: الأنبیاء یدفنون حیث یموتون".(شرح الکرمانی: ۹۴/۴) وقال ابن حجر العسقلانی رحمه الله: قلت: هذا الحدیث ....

دَ حديث شريف دَ ترجمة الباب سره مناسبت: دَ ترجمة الباب "كراهية الصلاة في المقابر" مطابقت دَ حديث شريف دَدې جملې "ولاتتخذوها قبورا" سره دې. په دې معنى كښې چه كورونو نه قبرستان مه جوړوئى په دې كښې تشبيه په عدم صلاة كښې ده. مطلب دا چه ځنګه په قبرستان كښې مونځ نه ادا كيږى نوتاسو خپل كورونه هم داسې مه جوړوئى چه په كورونو كښې هډو مونځ نه كوئى، هم دا دَ امام بخارى رحمه الله مقصد دې او هم په دې سره ترجمة الباب ثابتيږى.(۱)

دَ علامه كورانى رحمه الله رائې: علامه كورانى رحمه الله دَ حديث شريف جمله "ولاتتخذوها قبورا" ذكركولو نه پس فرمائى چه دا هغه مقام دې چه ترجمة الباب ثابتوى. وړاندې فرمائى چه په دې باندې اشكال راځى چه دا جمله خو په ترجمة الباب باندې دلالت نه كوى ځكه چه دَ حديث مبارك معنى داده چه تاسو نوافل په خپلو كورونو كښې ادا كوئى. نودَدې جواب دادې چه په دې جمله كښې دَ دوو معنو احتمال دې. يوخو هم دغه چه اعتراض كونكى ذكركړې ده او دويمه معنى داده چه په قبرستان كښې مونځ اداكول جائز نه دى. په دې معنى باندې ترجمة الباب او حديث شريف كښې مناسبت او مطابقت ښكاره دې (۲)

.... رواه بن ماجه مع حديث ابن عباس عن أبى بكر مرفوعا: "ما قبض نبى إلا دفن حيث يقبض" وفى إسناده حسين بن عبدالله الهاشمى، وهو ضعيف. وله طريق أخرى مرسلة ذكرها البيهقى فى الدلائل. وروى الترمذى فى الشمائل، والنسائى فى الكبرى، من طريق سالم بن عبيدالأشجعى الصحابى، عن أبى بكر الصديق، "أنه قيل له: فأين يدفنون رسول الله صلى الله عليه وسلم؟ قال: فى المكان الذى قبض الله فيه روحه، فإنه لم يقبض روحه إلا فى مكان طيب". إسناده صحيح، لكنه موقوف. والذى قبله أصرح فى المقصود. وإذا حمل دفنه فى بيته على الاختصاص لم يبعد نهى غيره عن ذلک، بل هومتجه، لأن استمرار الدفن فى البيوت ربما صيرها مقابر، فتصير الصلاة فيها مكروهة. ولفظ حديث أبى هريرة عند مسلم أصرح من حديث الباب، وهو قوله: "لا تجعلوا بيوتكم مقابر". فإن ظاهره يقتضى النهى عن الدفن فى البيوت مطلقا، والله أعلم. (فتح البارى: ۱/۶۸۶-۶۸۵).

(۱) مستفاد از تقرير بخارى شريف: ۲/۱۶۲. قال العلامة الدمامينى فى شرحه: "حمله البخارى على منع الصلاة فى المقابر، وتعقب بأن القصد الحث على الصلاة فى البيت، فإن الموتى لا يصلون فى قبورهم، وكأنه قال: لا تكونوا كالموتى، وليس فيه تعرض لجواز الصلاة فى المقابر، ولا منعها" (مصابيح الجامع اللدمامينى: ۲/۱۳۸).

(۲) الكوثر الجارى: ۲/۱۲۲-۱۲۱.

۲۱ - بَاب: الصَّلَاةِ فِي مَوَاضِعِ الْخَسْفِ وَالْعَذَابِ

دا باب دي خسف (په زمكه كښې دَ خښيدلو) اودَ عذاب په ځايونو كښې دَمونځ اداكولو مكروه كيدو باره كښې

دَ ترجمة الباب تشريح:

قوله: "خسف": دَ يومكان دَ هغې دَ دروازو سره په زمكه كښې خښيدلوته خسف وائى.(١) هم دې سره متعلق دَ قرآن پاك آيت: ﴿فَخَسَفْنَا بِهِ وَبِدَارِهِ﴾ سورت قصص كښې دى، بيا مونږ ورخښ كړل هغوى اودَ هغوى كورونه.(٢)

قوله: "والعذاب": دَدې ذكر دَ "الخسف" نه پس دَ ذكر العام بعد الخاص دَ قبيل نه دې. ځكه چه خسف هم عذاب دې، ليكن دَ مخصوص نوعيت عذاب، چه په زمكه كښې ورخښول، اودَدې نه پس عام قسم عذاب ذكر دې. مراد دادې چه كوم ځائى كښې عذاب نازل شوې وى كه هغه خصوصى وى چه په زمكه كښې ورخښ كړې شوې وى، يا څه بل قسم عذاب نازل وى، هلته مونځ اداكول ناخوښه، دى مكروه دى.(٣)

دَ خسف نه مراد كومه واقعه ده؟: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه خسف نه مراد هغه واقعه ده كومه چه الله تعالى آيت مبارك: ﴿فَأَتَى اللَّهُ بُنْيَانَهُم مِّنَ الْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ السَّقْفُ مِن فَوْقِهِمْ﴾ كښې بيان كړې ده.(٤)

دَدې په تشريح كښې علامه بغوى رحمه الله معالم التنزيل كښې دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل كړې دى چه نمرود بن كنعان په بابل ښاركښې يو محل جوړ كړې وو. دَ كوم اوچتوالې چه پنځه زره لاسه او پلنوالې ئى درې زره لاسه وو. دَدې مقصد دا وو چه آسمان ته اوخيژى اودَ هغه ځائى حالات معلوم كړى او دَ آسمان والوسره جنګ اوكړى. الله تعالى يوه هوا راؤليږله كومې چه دغه محل راغورزار كړو اودَ هغې چت په نمرود باندې اودَ هغه په متبعينو باندې راپريوتلو په كوم سره چه هغوى هلاك شو.(٥)

---

(١) مختار الصحاح، خ س ف: ٩٠/١. المصباح المنير فى غريب الشرح الكبير، خ س ف: ١٦٩/١. القاموس المحيط، فصل الخاء: ٨٠٤/١. لسان العرب، فصل الخاء المعجمة: ٦٧/٩.

(٢) القصص: ٨١.

(٣) عمدة القارى: ٢٧٩/٢. حضرت شيخ الحديث رحمه الله فرمائى چه په دې ترجمه كښې امام بخارى رحمه الله دَ تعميم بعد التخصيص په توګه عذاب ذكركړې، ځكه چه خسف هم دَ عذاب نه دى. لكه چه امام بخارى رحمه الله په دې ترجمه سره اشاره اوكړه چه دا حكم صرف دَخسف سره خاص نه دې، بلكه هرعذاب په دې كښې داخل دې ځنګه چه دَ حضورپاك قول: "لا تدخلوا على هؤلاء المعذبين" په دې باندې دلالت كوى. لكه چه امام بخارى رحمه الله په دې لفظ سره عموم ثابت كړې دې. (الكنزالمتوارى: ١٤١/٤، سراج القارى: ٣٠/٣).

(٤) فتح البارى: ٦٨٦/١.

(٥) معالم التنزيل للبغوى، سورة النحل، الآية: ٢٦، ١٦/٥.

صاحب روح المعانی یوقول دا هم لیکلي دي چه پخپله نمرود هغه وخت هلاك شوي نه وو بلکه د محل د بربادئی نه پس ژوندې پاتې شو او الله تعالی هغه د یوماشی په ذریعه هلاك کړو، کوم چه د هغه دماغو ته رسیدلې وو. [1]

د ترجمة الباب مقصد: په دې ترجمة الباب سره امام بخاري رحمه الله دا خودل غواړي چه د عذاب په ځایونو کښې مونځ اداکول مکروه دی. د احادیثو نه داخبره معلومه شوې ده چه د زحمت اود عذاب والا ځائې د رحمت والا ځائې مه جوړوئی. لهذا د خسف او عذاب په ځائی کښې مونځ مه کوئی. بل د عذاب والا د ځایونونه د تخصید و حکم دې. لهذا په داسې ځایونو کښې مونځونه اداکولو سره دا د قرار ځائی مه جوړوئی. د دې نه علاوه د حدیث مفهوم دې چه په داسې ځایونو کښې په ژړا سره تیریدل پکاردی. حالانکه په مونځ کښې هرچا ته ژړا نه ورځی.

یو اشکال اود هغې جواب: حضرت شیخ الحدیث رحمه الله فرمائی چه په دې باندې اشکال دادې چه مونځ د رحمت سبب دې نو د خسف په ځائی کښې خو نور هم زیات مونځونه کول پکاردی. دې د پاره چه د عذاب اثر کم شی. د دې جواب دادې چه مونځ اګرچه رحمت دې لیکن دعا هم ده او مواضع خسف کښې که چرته زیات اخلاص نه وی نو د دعا د رد کیدو اندیښنه ده. دا یاد ساتئ چه امام بخاري رحمه الله د جواز صلاة فی مواضع الخسف قائل دی. [2]

تعلیق: وَيُذْكَرُ أَنَّ عَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ كَرِهَ الصَّلَاةَ بِخَسْفِ بَابِلَ.

د تعلیق تخریج: د دې تخریج اصل [3] هغه اثر دې کوم چه المصنف لابن ابی شیبه کښې موجود دې. [4] چه حجر بن عنبس الحضرمی فرمائی چه مونږ د حضرت علی رضی الله عنه سره د نهروان طرف ته لاړو. تردې چه مونږ د بابل ښار ته اورسیدو نو د مازیګر وخت داخل شو. مونږ حضرت علی رضی الله عنه ته عرض اوکړو چه مونځ اداکړو؟ هغه چپ پاتې شو مونږ بیا (لږ ساعت پس) اووئیل چه مونځ ادا کړو؟ نوهغه بیا خاموش پاتې شو (څه جواب ئې ورنه کړو) بیا چه کله مونږ د بابل ښار نه اووتلو نو بیا هغوی رضی الله عنه د مازیګر مونځ اداکړو. بیائی اوفرمائیل چه زه داسې ځائی کښې مونځ نه اداکوم چرته چه یو قوم ته په زمکه کښې ښخولو سره عذاب ورکړې شوې وی. حضرت علی رضی الله عنه داخبره د دې ځل ارشاد اوفرمائیله.

---

[1] تفسیر روح المعانی، سورة النحل، الآیة، ۲۶، ۳۶۷/۷-۳۶۶.

[2] تقریر بخاری شریف: ۱۶۲/۲.

[3] تغلیق التعلیق: ۲۳۱/۲.

[4] عن حُجر بن عنبس الحضرمی، قال: خرجنا مع علی إلی النهروان، حتی إذا کنا ببابل حضرت صلاة العصر، قلنا: الصلاة، فسکت، ثم قلنا: الصلاة، فسکت، فلما خرج منها صلی، ثم قال: "ما کنت أصلی بأرض خسف بها ثلاث مرات".(المصنف لابن أبی شیبة، کتاب الصلاة، باب: فی الموضع الذی خسف به، رقم الحدیث: ۷۵۵۶، ۱۵۱/۲). حدثنا وکیع عن سفیان عن عبدالله بن أبی المحل عن علی أنه کره الصلاة فی الخسوف. (المصنف لابن أبی شیبة، کتاب الصلاة، باب: فی المرع الذی خسف به، رقم الحدیث: ۷۵۵۷، ۱۵۱/۲) وحدثنا ابن عیینة عن عبدالله بن شریک عن أبی المحل أن علیا مر بجانب من بابل فلم یصل بها(المصنف لابن أبی شیبة، کتاب الصلاة، باب: فی الموضع الذی خسف به، رقم الحدیث: ۷۵۵۸، ۱۵۲/۲).

هم دغه شان هم دَ حضرت علی رضی الله عنه یو اثر سنن أبی داؤد کښې دې.[1]

دَ تعليق ترجمه: ذکر کړې شوی دی چه حضرت علی رضی الله عنه به په بابل ښار کښې دَ خسف عذاب دَ نازليدو دَ وجې نه مونځ ادا کول ناخوښه ګڼړل.

دَ تعليق دَ ترجمة الباب سره مناسبت: يوه خبره خو داده چه دا تعليق دَ ترجمة الباب جز دې. اوکه چرې جدا هم دې نو بیاهم ترجمة الباب او په دې تعليق کښې مشترك امر هم دغه دې چه په داسې ځايونو کښې مونځ ادا کول مکروه دی.[2]

بابل ښار: بابل دَ يو عظيم الشان ښار نوم دې. چه پخوانۍ زمانه کښې دَ فرات درياب په دواړو طرفونو کښې واقع وو. او دَ فرات درياب به دَ دغه ښارونو په مينځ کښې تيريدلو. نن هم دَ دغه ښار کنډرې دَ فرات درياب دواړو طرفو ته موجود دی. دَ يوې اوږدې مودې پورې دا ښـار دَ عـراق دَ حکومـت دارالخلافـه وه. اودَ بخـت نصـر دَ زمـانې پـورې دَ لـوئی شـان اوشوکت والا ښار وو. ۵۲۸ قبل مسيح نه پس په دې ښار باندې داسې تباهی راغله چه دَ هميشه دَپاره دَ دغه ښار خاتمه اوشوه. بابل ښار کښې چه په هغه دورکښې دَ جادو او سحر کومه غلبه وه دَ هغې مثال چرته نه وو. دا لفظ دَ مشـهور نحوی دَ اخفش دَ بيـان مطابق غير منصرف دې. په عربی کښې دَ هر مؤنث شی نوم کله چه هغه علَم وی او دَ دريـو حروفو نه زيات وی غير منصرف وی.[3]

دَ بابل دَ تسميه وجه: په اسرائيلياتو کښې دی چه کله دَنمرود بن کنعان جوړ کړې شوې محل دَ الله تعالی په حکم سره په زمکه کښې ورخښ شو نودَ ويرې او دهشت دَ وجې نه دَ خلقو

---

[1]) حدثنا سليمان بن داؤد، أنا ابن وهيب، حدثنی ابن لهيعة، وحيبی بن أزهر، عن عمار بن سعد المرادی، عن أبی صالح الغفاری، أن عليا مر ببابل وهو يسير، فجاءه المؤذن يؤذنه بصلاة العصر. فلما برز منها أمر المؤذن، فأقام الصلاة، فلما فرغ، قال: إن حبی عليه الصلاة والسلام نهانی أن أصلی فی المقبرة، ونهانی أن أصلی فی أرض بابل، فإنها ملعونة. (سنن أبی داؤد، کتاب الصلاة، باب: فی امواضع التی لا تجوز فيها الصلاة، رقم الحديث: ۴۹۰). دَ دې حديث آخری جمله کښې حضرت علی رضی الله عنه اوفرمائيل چه زما محبوب نبی صلی الله عليه وسلم زه بابل ښار کښې دَ مونځ اداکولو نه منع کړې يم ځکه چه دهغه زمکه داسې ده چرته چه دَ الله تعالی لعنت نازل شوې دی. علامه خطابی رحمه الله ددې حديث په شرح کښې ليکی چه ددې حديث په سند کښې کلام دی. زما په علم کښې يو عالم هم دَ بابل په زمکه باندې مونځ کولو ته حرام نه دی وئيلی. علاوه ددې نه چه "جُعِلَت لی الأرضُ مسجداً وطهوراً" (زما دَ پاره ټوله زمکه دَ سجدې قابله او پاکه کړې شوې ده) کوم چه ددې نه زيات صحيح دې، ددې معارض دی. (زه فرض کړه چه) دا حديث ثبوت ته اورسی نوددې معنی به داشی چه حضورپاك دَ بابل زمکه وطن جوړول اوهلته دَ اقامت اختيارولو نه منع کړې ده ځکه چه کله هلته اقامت اختيارکړې شی نو لا محاله هلته به مونځ هم کولې کيږی. بيا چه په دې باره کښې کومه نهی راغلی ده هغه هم مخصوص ده. دَ "نهانی" په الفاظو باندې غور اوکړئ (دَ کوم معنی چه ده زه منع کړې شوم) غالبًا دَ هغه محنت اومشقت نه ويرول مقصود وو کوم چه حضرت علی رضی الله عنه په کوفه کښې اوچتولو. دَ کوفې شمير هم دَ بابل په زمکه کښې دی. دَ حضرت علی رضی الله عنه نه مخکښې خلفاء راشدينو رضی الله عنهم نه څوك هم دَ مدينې نه نه دې منتقل شوې. (معالم السنن للخطابی، کتاب الصلاة، باب: المواضع التی لا تجوز فيها الصلاة: ۱۴۸/۱).

[2]) عمدة القاری: ۲۷۹/۴.

[3]) معجم البلدان: ۱۸/۲، ط: مصر. لغاب القرآن للنعمانی: ۱۱/۲.

ژبې ګونګې شوې. په یو بل کښې ګډوډ شو. هغوی قسم قسم خبرې کول شروع کړې نو په ۷۲ ژبو کښې تقسیم شو. دا په عربي ژبه کښې تَبَلْبَلَتْ أَلسنُ الناسِ من الفزعِ سره تعبیر کړې شو. هم ددې نه د بابل ښار نوم مشهور شو. دې نه مخکښې د اهل بابل ژبه سریانی وه.[1]

حدیث باب [حدیث نمبر ۴۲۳]

۴۲۳- حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِ اللّهِ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ اللّهِ بْنِ دِينَارٍ عَنْ عَبْدِ اللّهِ بْنِ عُمَرَ -رضي الله عنهما[2]- أَنَّ رَسُولَ اللّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «لاَ تَدْخُلُوا عَلَى هَؤُلاَءِ الْمُعَذَّبِينَ إِلاَّ أَنْ تَكُونُوا بَاكِينَ، فَإِنْ لَمْ تَكُونُوا بَاكِينَ فَلاَ تَدْخُلُوا عَلَيْهِمْ، لاَ يُصِيبُكُمْ مَا أَصَابَهُمْ».

د حدیث ترجمه: حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمائی چه نبی کریم ﷺ ارشاد فرمائیلې دې چه د هغه خلقو علاقو ته مه ځئ چاته چه عذاب ورکړې شوې دې، مګر په ژړا سره. که چرې تاسو اونه ژړلې شئ نو د هغوی علاقو ته مه ځئ، داسې نه وی چه په تاسو باندې هم هغه عذاب راشی کوم چه هغوی په ګیره کښې اخستی وو.

تراجم رجال: د مذکوره حدیث شریف په سند کښې ټول څلور راویان دی:

① اسماعیل بن عبدالله رحمه الله: دا ابوعبدالله اسماعیل بن ابی اویس عبدالله بن عبدالله بن اویس بن مالک اصبحی مدنی رحمه الله دې. د دوی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: تفاضل أهل الإیمان فی الأعمال لاندې تیر شوی دی.[3]

② مالک رحمه الله: دا ابوعبدالله امام مالک بن انس بن مالک رحمه الله دې د دوی احوال کتاب الإیمان، باب: من الدین الفرار من الفتن لاندې تیر شوی دی.[4]

③ عبدالله بن دینار رحمه الله: دا ابوعبدالرحمن عبدالله بن دینار ورشی عدوی مدنی رحمه الله دې. د دوی مختصر حالات کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: أمور الإیمان او تفصیلی حالات کتاب العلم، باب: قول المحدث: حدثنا وأخبرنا وأنبأنا لاندې تیر شوی دی.[5]

---

[1] روح المعانی، النحل: ۲۶، ۳۶۷/۷-۳۶۶. معالم التنزیل للبغوی، النحل، الآیة: ۲۶، ۱۶/۵.

[2] أخرجه البخاری أیضا فی الأنبیاء، باب: قول الله تعالی: ﴿ وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًا﴾ رقم الحدیث: ۳۳۸۰، وفی المغازی، باب: نزول النبي صلی الله علیه وسلم الحجر، رقم الحدیث: ۴۴۲۰-۴۴۱۹، وفی تفسیر سورة الحجر، باب: ﴿ وَلَقَدْ كَذَّبَ أَصْحَٰبُ ٱلْحِجْرِ ﴾ رقم الحدیث: ۴۷۰۲، ومسلم فی صحیحه، فی الزهد والرقایق، باب: لا تدخلوا مساکن اللذین ظلموا أنفسهم إلاأن تکونوا باکین، رقم الحدیث: ۲۹۸۰، وفی جامع الأصول، حرف الذال، الکتاب الثالث: في ذم الدنیا، وذم أماکن من الأرض، الفصل الثاني، فی ذم أما کن من الأرض، رقم الحدیث: ۲۶۱۱، ۵۱۲/۴.

[3] کشف الباری: ۱۱۳/۲.

[4] کشف الباری: ۸۰/۲.

[5] کشف الباری: ۶۵۸/۱، ۱۲۵/۳.

④ عبدالله بن عمر رضي الله عنهما: دا حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما دي. دَ دوی احوال كشف الباری، كتاب الإيمان، باب الإيمان وقول النبي صلى الله عليه وسلم: بني الإسلام على خمس كښې تير شوی دی [1]

دَ حديث شرح:

قوله: عن عبدالله بن عمر رضي الله عنهما أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: "لا تدخلوا على هؤلاء المعذبين":

حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما فرمائی چه نبی کريم ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه دَ هغه خلقو علاقو ته مه ورځئ چاته چه عذاب ورکړې شوې دې.

قوله: لاتدخلوا: دا نهی دَ حضورپاك دَ طرف نه هغه وخت شوې وه كوم وخت چه رسول الله ﷺ دَ تبوك طرف ته تللو. هغه وخت په حجر مقام كښې دَ قوم ثمود تباه شوی مكانانو باندې تيريدل اوشو نو هغه وخت حضورپاك دا حكم اوفرمائيلو. [2]

حجر كوم يو مقام دې؟: هغه مكان دَ كوم احاطه چه دَ كانړو نه جوړه كړې شی هغې ته حجر وائی. چونكه دَ ثمودیانو آبادئی دَ كانړو په تراشلو سره جوړې كړې شوې وې ځكه ورته حجر وئيل شی. ارشاد دې: ﴿كَذَّبَ أَصْحَٰبُ ٱلْحِجْرِ ٱلْمُرْسَلِينَ﴾ دَ حجر والو رسولانِ دروغژن اوګڼړل. په ۹ھ كښې حضورپاك تبوك ته دَ تللو په وخت په دغه ښار تير شوې وو. دَ عثمانيه دولت په زمانه كښې دا دَ حجاز ريلوې سټيشن وو اودَ كانړو راتاوولو مقصود حفاظت او منع كول وی او عقل هم دَ انسان حفاظت كوی اودې منع كوی په دې وجه دې ته هم حجر وئيلې شی. ارشاد دې: ﴿هَلْ فِى ذَٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِى حِجْرٍ﴾ آيا په دې كښې دَ عقل والو دَپاره قسم دې. [3]

دَ حجر نور تفصيل كه چرته څوك كتل غواړی نو "اردو دائرہ معارف اسلامیہ" كوم چه دَ اردو لغت دَ ټولو نه لوئی كتاب دې، كښې دې اوګوری. [4]

---

[1]) كشف البارى: ۱/۶۳۷.

[2]) فتح البارى: ۱/۶۸۷.

[3]) لغات القرآن للنعمانى، الحجر: ۲/۲۷۳.

[4]) "الحجر" دَ جنوبى عرب يو ښاردې كوم چه دَ "تيما" جنوب كښې دَ وادى القرى نه دَ يوې ورځې په مسافت باندې واقع وو. دا دَ پخوانئ زمانې هم هغه تجارتی ښار وو كوم چه بطليموس او پلينى دَ (Egra) په نوم سره ذكركړې دې. دا ښار اوس موجود نه دې موجوده زمانه كښې دَدې اطلاق بد وی په هغه سپاټ زمكه باندې كوی كوم چه دَ مبرک الناقة او بير الغنم په مينځ كښې دَ غرميلو پورې خوره شوې ده. دَدې په آباده زمكه كښې ډير كوهيان دی چرته چه بدوی په ډير زيات تعداد كښې خپلو مالونو سره راځی او خيمه زن كيږی. دَ الحجر نه دوه سركونه دَ مكې طرف ته ځی يو دَ نجد سړك په كوم چه نن صبا حاجيان تيريږی او بل شاهراه مرو. په كوم باندې چه به په پخوانئ زمانه كښې زائرين مكې مكرمې ته تلل. دَ الحجر په مغرب كښې يو غر دې چه دَ شكې كانړو په پنځو منفرد چټانونو باندې مشتمل دې. كوم ته چه اثالث وائی او په دې باندې ډير ښكلې يادګارونه تراشلې جوړكړې شوی دی. (په دې كښې قصرالبنت، بيت الشيخ، بيت اخريمات، محل المجلس او ديوان شامل دې، چه دَ مرغو ....

قوله: هؤلاء المعذبين: هغه خلق چاته چه عذاب ورکړې شوې دې د هغوی علاقو ته مه ورځئ.
د صحیح بخاری په نورو روایاتو کښې دی چه کله حضورپاك مقام حجر سره تیریدو نو ارشاد ئې اوفرمائیلو: "لاتدخلوا مساکن الذین ظلموا أنفسهم" چه کومو خلقو په خپلو ځانونو باندې (د الله تعالی نافرمانه جوړیدو سره) ظلم اوکړو د هغوی کورونوته مه ورځئ. [۱]

قوله: إلا أن تکونوا باکین، فإن لم تکونوا باکین، فلاتدخلوا علیهم: مگر په ژړا سره، که چرې تاسو اونه ژړلې شئ نو د هغوی علاقې ته مه ورځئ.

.... او ځناورو ډیر زیات تراشلې شوی شکلونه او په ډیرو تختو سره ښائسته کړې شوی دی).
"چارلس ډاؤټی"، د یورپ د ټولو نه اولنې اوسیدونکې وو چاچه په کال ۱۸۷۶ء او ۱۸۷۷ء کښې د الحجر سیل کړې وو. اود دغه کانړو او په هغې باندې تراشلې شوی عمارتونو ئې په غور سره مشاهده اوکړه. هغه پسه اولګوله چه دا عمارتونه (په استثناء د دیوان) مقبرې (یعنی خاندانی د ښخولوځایونه) دی. په کوم کښې چه طاخونه اود جسمانی اجسامو باقیات موجود دی. مکې ته تلونکی زائرین یو ورځ د پاره د اثاث په غرونو باندې قیام کوې او مونځ ادا کوی. پخوانی زمانه کښې څه بې دین او متکبر خلق چه په ثمود باندې یادیدل آباد وو. د چا متعلق چه په قرآن پاك کښې وئیلې شوې دی چه هغوی به غرونه پرې کول او هلته به ئې کورونه جوړول. دغه خلق په نیغه لار باندې د راوستلو دپاره هم د دوی د قوم نه الله تعالی صالح علیه السلام پیغمبر جوړولو سره دوی له راؤلیږلو (او اوښه ئې د نشانې په توگه پیش کړه که چرې دې ته نقصان اورسولې شو نو عذاب به نازلیږی) لیکن کله چه هغه خلقو خپله بت پرستی جاری اوساتله او هغه اوښه ئې مړه کړه. حالانکه حضرت صالح علیه السلام به هغوی ددې اوښې ته د ضرر نه رسولو وینا کوله نو الله تعالی په هغوی باندې یوه زلزله نازل کړه په کوم سره چه هغوی نیست او نابود شو. د الحجر د شګلنو کانړوته سره د هغه یادګارونو چه په هغې کښې دننه تراشلو سره جوړکړې شوی دی د حضرت صالح علیه السلام په نوم باندې مدائن صالح یعنی د صالح ښار هم وئیلې شی.
د عربو د روایت مطابق حضرت ابراهیم د خپل پروردګار په حکم سره حضرت هاجره او د هغې ځوئې حضرت اسماعیل په الحجر کښې پریخودوسره تلې وو. دا هم وئیلې شی چه حضرت اسماعیل علیه السلام د خپلې مور په اړخ کښې دفن دی. په سیرت نبوی کښې هم د الحجر ذکر راځی. کله چه ۹هجری/ ۶۳۱ء کښې رسول الله ﷺ د تبوك طرف ته تشریف اوړلو نو په الحجر د حضورپاك تیریدل اوشو. صحابه کرامو غوښتل چه دلته آرام اوکړی او ددې ځائی د کوهیانو نه اوبه اوڅکی او ځانونه تازه کړی لیکن رسول الله ﷺ هغوی ته ددې اجازت ورنه کړو چه هغوی دې داسې ځائی کښې دمه اوکړی چرته چه د الله تعالی قهر نازل شوې وو.
د حال په زمانه کښې د سعودی امیر دلته یو ښار آبادول غوښتل لیکن په یو داسې مقام باندې چه د الله تعالی د طرف نه پرې لعنت او عذاب راغلې وو د نوی سره نه یو ښار آبادولو باندې د دین د علماؤ د سختو اعتراضاتو د وجې دغه منصوبه پوره نه شوه.
د ډاؤټی نه پس ملك الساتیا (Alsatia) یو سیلانی "C, Huber" دوباره د الحجر سیل اوکړو. یو ځل ۱۸۷۹ء کښې او په دویم ځل (Euting) سره ۱۸۸۴ء کښې. (اردو دائرة معارف اسلامیه، الحجر، ۹۵۷/۷-۹۴۵ دانشگاه پنجاب لاهور).

[۱]) حدثنا عبدالله بن محمد الجعفی، حدثنا عبدالرزاق، أخبرنا معمر، عن الزهری، عن سالم، عن ابن عمر رضی الله عنهما، قال: لما مر النبی صلی الله علیه وسلم بالحجر قال: لا تدخلوا مساکن الذین ظلموا أنفسهم، أن یصیبکم ما اصابهم، إلا أن تکونوا باکین، ثم قنع رأسه وأسرع السیر حتی أجاز الوادی. (صحیح البخاری، المغازی، باب: نزول النبی صلی الله علیه وسلم الحجر، رقم الحدیث: ۴۴۲۰-۴۴۱۹).

قوله: إلا أن تكونوا باكين: دَدې جملې په ذريعه په هغه ځايونو کښې په ژړا سره اودَ عبرت حاصلولو سره دَ داخليدو اجازت ورکړې شو چه که چرې داسې داخل شئ نو مباح دى. اودا جمله په دې خبره باندې هم دلالت کوى چه په دغه ځائى کښې اداً شوې مونځ فاسديږى نه.(١)

قوله: باکين: دا ژړل په هغوى باندې دَ شفقت دَ وجې نه وى، يا دَ دې ويرې نه چه چرته دَ الله تعالى عذاب په مونږ باندې هم نازل نه شى.(٢)

حضرت مولانا شبيراحمد صاحب رحمه الله فرمائى چه "بکاء" نه مراد بکاء قلب دې. خو که ورسره بکاء عين هم وى نو نوره هم بهتر ده.(٣)

قوله: لا يصيبکم ما أصابهم: داسې نه وى چه په تاسو باندې هم هغه عذاب راشى، کوم چه هغوى راګير کړى وو.

علامه خطابى رحمه الله چه فرمائى دَدې حديث معنى داده چه هغه سرى چه دَ يو داسې قوم په علاقو کښې داخل شى په کوم چه دَ الله تعالى عذاب نازل شوې وى او په هغه باندې هلته دَ داخليدو په وخت دَ عبرت، ويرې او دَ ژړا آثار ښکاره نه شى نو هغه ډير سخت زړه والا دې. اودَ خشوع په اعتبار سره ډير دَ کمى والا دې. دَ ويرې او دهشت اثر نه قبلوى، نو په داسې حالت کښې ويره ده چه داسې سړې هم هغه عذاب راګيرکړى کوم چه په هغه کلى والو باندې راغلې وو.(٤)

قوله: لا يصيبکم ما اصابهم، باندې يو شبه اودَ هغې جواب: حضرت مولانا شبيراحمد رحمه الله فرمائى چه که چرې شبه اوکړې شى چه په امت محمديه باندې دَ داسې قسم عذاب دَ نه راتلو وعده کړې شوې ده. نو اوس خو دَ دغه طرف نه امن او تسلى ده نو بيا حضور پاک عليه السلام داځنګه فرمائيلى دى چه "لا يصيبکم ما أصابهم"؟

نو ياد لرئ چه اولاً خو دغه وعده وغيره هم هغه چا ته هر وخت مستحضر وى دَ چا په زړه باندې چه دَ الله تعالى دَ ويرې تسلط نه وى ګنى دَ ويرې دَ غلبې په وخت دا ټولې وعدې يادې نه وى (او ښکاره خبره ده چه دَ نبى پاک عليه السلام په زړه باندې هروخت مکمل غلبه وه). دې نه علاوه وعده دَدې خبرې ده چه عام عذاب داسې راشى چه ټول امت هلاك شى داسې به نه کيږى. باقى په يو خاص خطه يا جماعت باندې راتلې شى. چنانچه هم پخپله په حديث کښې دى چه په دې امت کښې به خسف هم وى او مسخ هم.(٥)

---

(١) عمدة القاري: ٢٨٢/٤.
(٢) إرشاد الساري: ٤٣٤/١.
(٣) فضل الباري: ١٤٧/٣.
(٤) أعلام الحديث للخطابي: ٣٩٤/١.
(٥) فضل الباري: ١٤٨/٣-١٤٧.

دَ حديث شريف دَ ترجمة الباب سره مناسبت: دَ حديث شريف دَ ترجمة الباب سره مناسبت داسې دې چه حضورپاك هغه عذاب نازليدو والا ځائې كښې راكوز نه شو، دَ كوم چه لا زمى خاصه ده چه كله ئې هلته حصاريدل مناسب اونه ګڼړل نو هلته مونځ كول خو ډيره لرې خبره ده. يعنى عدم نزول مستلزم دې عدم صلاة ته، او عدم صلاة په وجه دَ كراهت دې. او دا باب هم دَ كراهت دَ بيانولو دَپاره قائم كړې شوې دې.(۱)

دَ حديث شريف نه مستنبط شوى احكام او اداب: دَدې حديث شريف نه چه كوم احكام مستنبط كيږى دَ هغې نه بعضې دلته نقل كولې شى:

① په كومو علاقو كښې چه دَ الله تعالى عذاب نازل شوې وى هغه ځايونه خپل وطن نه دى جوړول پكار.(۲)

② داسې علاقونه ډير په تيزئى سره بغيردَ ايساريدو تيريدل پكاردى.(۳)

③ كه چرته تلل وى نو دَ عبرت حاصلولو سره په ژړا سره، اودَ زړه په ويرې سره تلل پكار دى.(۴)

④ په دې حديث شريف كښې انسان له دَ مراقبې طرف ته رغبت وركړې شوې دې.(۵)

۲۲ - بَابٌ: الصَّلَاةِ فِي الْبِيْعَةِ

داباب دې په ګرجاګهر كښې دَمونځ كولوباره كښې

دَ ترجمة الباب تشريح: قوله:الْبِيْعَةِ، دَ عيسايانودَ عبادت ځايى ته ګرجاګهر وائى. اودې ته په عربى كښې "الْبِيْعَةِ" وائى دَ باء په كسرې سره.(۶)

"بيعة" او "كنيسه" كښې فرق: "الْبِيْعَةِ" دَ نصارىٰ عبادت خانې ته وائى اودَدې جمع "البيع" راځى. او "كنيسة" دَ يهودو عبادت خانې ته وائى اودَدې جمع "الكنائس" ده. بله دا چه اهل لغت دَ عيسايانو او يهوديانو دواړو عبادت خانودَ پاره دَ "البيعة" لفظ هم استعمالوى.(۷)

په دې تشريح سره دَدې اشكال هم جواب اوشو چه په ترجمة الباب كښې خو "الْبِيْعَةِ" ذكر دې او په حديث كښې دَ "كنيسة" ذكر دې ځكه چه دَ البيعة والكنيسة استعمال دَ يهودو او

---

(۱) عمدة القاري: ۲۸۱/٤.

(۲) فتح الباري: ۶۸۷/۱ عمدة القاري: ۲۸۳/٤.

(۳) فتح الباري: ۶۸۷/۱ عمدة القاري: ۲۸۳/٤.

(۴) فتح الباري: ۶۸۷/۱ عمدة القاري: ۲۸۳/٤.

(۵) التوضيح لابن الملقن: ۵۰۲/۵ فتح الباري: ۶۸۷/۱.

(۶) مختار الصحاح، ب ی ع: ۴۳/۱. القاموس الفقهي، حرف الباء: ۴۶/۱.

(۷) طلبة الطلبة في الاصطلاحات الفقهية، كتاب اللقطة: ۹۳/۱. المخصص لابن سيده، الأصنام: ۶۷/٤. تاج العروس، ب ی ع: ۳۶۹/۲۰.

نصارې دواړو عبادت خانو باندې کیږي.

دَ ترجمة الباب مقصد: امام بخاري رحمه الله مذکوره باب قائمولو سره دا خودل غواړي چه که دَ نصارې په معبد کښې تصویرونه وغیره وي نوهلته مونځ اداکول مکروه دي او که چرته هلته داسې څه نه وي نو څه حرج نشته دې.(١)

دَ حضرت گنگوهي رحمه الله رائې: حضرت مولانا رشیداحمد گنگوهي رحمه الله فرمائي چه کیدې شي چه دَ امام بخاري رحمه الله مراد دَدې باب نه دا وي چه که په دغه (معبد نصارې) کښې معصیت لکه شرك بالله، تصویرونه او قبرونه وغیره نه وي نو بغیردَ کراهتَ په دې کښې مونځ کول جائز دي او که په دې کښې دَ مذکوره څیزونونه څه وي نو مونځ به مکروه وي. آثار او روایات کوم چه په دې باب کښې راغلی دی دَ هغې سره دَدې معنې مطابقت واضح دې، ځکه چه دَ دغه تصویرونو وجود اودَ تصویرونو ساتل دَ هغوی دَ پاره دَ لعنت سبب جوړ شو. بیا به دغه څیز دَ هغه خلقو دَ پاره هم دَ لعنت سبب جوړیږي چه هلته هغوی سره په عبادت کښې شریك وي. اګرچه لعنت به دَدې څیزونو په جوړونکو او ساتونکو باندې زیات سخت وي په مقابله دَ هغه مسلمانانو څوك چه هلته مونځ وغیره کوي.(٢)

سابقه یو باب سره تعارض اودَ هغې حل: اشکال دادې چه دې باب او وړاندې تیرشوی باب کښې تعارض دې. داسې ځان پوهه کړئ چه وړاندې تیرشوی یو باب "من صلی وقدامه نار أو تنور" کښې بیان شو چه که دَ مونځ ګذار مخې ته اور زغیره وي لیکن دَ دَغه مونځ ګذار دَ دغه مونځ نه مقصود صرف دَ الله تعالی رضا وي نو په داسې صورت کښې مونځ ادا کولو کښې څه حرج نشته دې. خو په دې باب کښې دَ غیر مسلمو عبادت خانه کښې صرف دَ تصویر دَ وجې نه مونځ ادا کول دَ مکروه کیدو بیان دې؟

دَدې تعارض دا جواب ورکړې شوې دې چه دغه وړاندې تیر شوی باب کښې دَ مونځ مکروه کیدو وجه دا وه چه هلته دَ مونځ ګذار مخې ته دَ اور وغیره کیدو تعلق دَ هغه په اختیار سره نه وو یعنې دَ مونځ ګذار دَ اختیار نه بغیر دَ اور وغیره دَ مخې ته کیدو په صورت کښې دَ هغه مونځ ګذار په مونځ کښې څه کراهت رانغلو ځکه چه دَ هغه نیت دَ الله تعالی دَ پاره دَ مونځ کولو وو. او په دې باب کښې دَ قصد او ارادې دخل دې لکه چه حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائیل مونږ به ستاسو عبادت خانوته نه داخلیږو، لهذا اوس هیڅ تعارض باقي پاتې نه شو.(٣)

ړومبی تعلیق: وَقَالَ: عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: إِنَّا لَا نَدْخُلُ كَنَائِسَكُمْ، مِنْ أَجْلِ التَّمَاثِيلِ الَّتِي فِيهَا الصُّوَرُ.

دَ تعلیق ترجمه: اوحضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائیل چه مونږ به ستاسو ګرجاګهرو کښې هغه دَ

---

(١) عمدة القاري: ٢٨٣/٤.

(٢) لامع الدراري: ١٧١/١-١٧٠. الأبواب والتراجم: ٢١٦/٢.

(٣) فتح الباري: ٦٨٨/١ عمدة القاري: ٢٨٣/٤.

تماثيلو يعنى تصويرونو د وجې نه نه داخليږو کوم چه هلته وي.

د تعليق تخريج: دا تعليق موصولاً المصنف لبعد الرزاق کښې نقل کړې شوې دې چه کله حضرت عمر رضي الله عنه د ملك شام ته راغلو نو يو نصرانى سړى د هغه د پاره خوراك تيار کړو او هغوى ته ئې دعوت ورکولو سره اووئيل اې عمرا زه غواړم چه تاسو ماسره تشريف راوړنى او تاسو سره د خپلو ملګرو ماله راشئ او ماته عزت راکړئ. هغه سړې د نصارى لوئى پادرى وو. حضرت عمر رضي الله عنه جواب ورکړو چه مونږ ستاسو ګرجو ته د دغه تصويرونو د وجې هم نه داخليږو کوم چه هلته موجود دى. (۱)د عيسايانو د دغه لوئى پادرى نوم قسطنطين وو. کوم چه حضرت مسلمه بن عبد الله الجهني رحمه الله کيخودې وو. (۲)

د تعليق تشريح:

قوله: كنائسكم: په دې حديث شريف کښې "كنائسكم" په خطاب سره دې خود اصيلى په روايت کښې "كنائسهم" د غائب په ضمير سره دې. (۳)

حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائيل چه مونږ ستاسو په کنيساؤ کښې نه داخليږو. د کنيسه معنى پورته واضحه کړې شوې ده چه د يهودو د عبادت خانود پاره استعماليږى. او د نصارى په عبادت خانو باندې هم د دې اطلاق کيږى.

قوله: التى فيها: دا جمله د التماثيل صفت جوړيږى. او الصور به مکسور وئيلې شى کوم چه به د التماثيل د پاره بدل شى. او يا به عطف بيان. پورته د تعليق چه کومه ترجمه کړې شوې ده دغه ترکيب په خيال کښې ساتلو سره کړې شوې ده. (۴) خو د دې جملې په ترکيب کښې نور احتمالات هم موجود دى. (۵)

د تعليق د ترجمة الباب سره مطابقت: د دې اثر د ترجمة الباب سره مطابقت په دې اعتبار سره دې چه د حضرت عمر رضي الله عنه د نصارى په کنيسه کښې نه داخليدل د هغه تصويرونو د وجې وو کوم چه په هغې کښې موجود وو. که چرې هلته تصويرونه نه وې نو د هغه په دغه کنيسه د

---

(۱) عبدالرزاق عن معمر عن أيوب عن نافع عن أسلم أن عمر حين قدم الشام، صنع له رجل من النصارى طعاما، وقال لعمر: إني أحب أن تجيئني، وتكرمنى أنت وأصحابك، وهو رجل من عظماء النصارى، فقال عمر: إنا لا ندخل كنائسكم من أجل الصور التى فيها يعني: التمائيل. (المصنف لعبدالرزاق، كتاب الصلاة، باب: الصلاة فى البيعة، رقم الحديث: ۱۶۱۱، ۱/۴۱۲-۴۱۱).

(۲) فتح البارى: ۱/۶۸۸.

(۳) فتح البارى: ۱/۶۸۸، عمدة القارى: ۴/۲۸۴.

(۴) فتح البارى: ۱/۶۸۸، عمدة القارى: ۴/۲۸۴.

(۵) هغه دا دى چه "التى فيها الصور" جمله اسميه ده. داسې چه "الصور" به مبتداء مؤخروى او "فيها" خبر مقدم دې. د ها ضمير مرجع به "الكنائس" وى. دا پوره جمله به د موصول د پاره صله شى. او موصول به د خپلې صلې سره د "الكنائس" د پاره صفت شى نه چه د "التمائيل" د پاره، ځکه چه په دې سره په معنى کښې فساد راځى. (فتح البارى: ۱/۶۸۸، عمدة القارى: ۴/۲۸۴).

داخليدو نه هيڅ څيز مانع نه وو. چنانچه په دې صورت کښې به هغه هلته مونځ هم ادا کولې ځکه چه څه مانع نه وو. او په دې صورت کښې به هلته د هغه په مونځ ادا کولو کښې څه کراهت هم نه وو.[1]

دَدې خبرې تائيد دهغه اثر نه کيږي کوم چه ابن ابي شيبه رحمه الله په المصنف کښې ذکر کړې دې چه کله اهل نجران مسلمانان شو نوهغوی حضرت عمر رضي الله عنه ته خط اوليکلو چه مونږ دلته د ګرجاګهر نه زيات صفا اوښکلي زمکه نه بيامومو (نو آيا مونږ دلته مونځ ادا کړو؟) حضرت عمر رضي الله عنه هغوی ته اوليکل چه هلته (صفائي کولو سره) اوبه چړکاؤ کړئ او مونځ اداکړئ.[2]

دويم تعليق: وَكَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ يُصَلِّي فِي الْبِيْعَةِ، إِلَّا بِيْعَةً فِيهَا تَمَاثِيلُ.

دَتعليق ترجمه: حضرت ابن عباس رضي الله عنهما به په ګرجاګهر کښې مونځ ادا کولو سوا د هغه ګرجې چرته چه به صورتونه يعني تصويران وو.

دَ تعليق تخريج: حافظ ابن حجر رحمه الله تغليق التعليق کښې ليکلي دی چه ابو القاسم البغوي رحمه الله دا اثر موصولاً نقل کړې دې. وئي ګورئ: ((عبيدالله العيشي ثنا العيشي ثنا عبدالواحد بن زياد ثنا خصيف عن مقسم مولى ابن عباس قال كان ابن عباس إذا دخل الكنايس التي فيها الصور والتماثيل لم يصل فيها وخرج)) دارنګ دا تعليق امام بغوی رحمه الله په الجعديات کښې هم موصولاً نقل کړې دې. او په هغې کښې دا اضافه هم ده: "فإن كان فيها تماثيل خرج فصلى في المطر". وئي ګورئ: ((ثنا علي بن الجعد ثنا شريك عن خصيف عن مقسم عن ابن عباس أنه كان يصلي في البيع مالم يكن فيها تماثيل، فإن كان فيها تماثيل خرج فصلى في المطر)).[3]

دَ تعليق دَ ترجمة الباب سره مطابقت: دَتعليق دَ ترجمة الباب سره مطابقت بالکل واضح دې چه په دا سې ځايونو کښې دَ مونځ دَ کراهت اثبات کيږي.

حديث باب ږومبی حديث [حديث نمبر ٤٢٤]

٤٢٤ - حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدَةُ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ ذَكَرَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - كَنِيسَةً رَأَتْهَا بِأَرْضِ الْحَبَشَةِ يُقَالُ لَهَا مَارِيَةُ، فَذَكَرَتْ لَهُ مَا رَأَتْ فِيهَا مِنَ الصُّوَرِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - « أُولَئِكَ قَوْمٌ إِذَا مَاتَ فِيهِمُ الْعَبْدُ الصَّالِحُ - أَوِ الرَّجُلُ الصَّالِحُ - بَنَوْا عَلَى قَبْرِهِ مَسْجِدًا، وَصَوَّرُوا فِيهِ تِلْكَ الصُّوَرَ، أُولَئِكَ شِرَارُ الْخَلْقِ عِنْدَ اللَّهِ ».[4]

---

[1] عمدة القاري: ٢٨٤/٤.

[2] حدثنا أبوبكر قال: حدثنا سهل بن يوسف، عن حميد، عن أبي بكر، قال: "كتبتُ إلى عمر من نجران: لم يجدوا مكانا أنظف ولا أجود من بيعة، فكتب: انضحوها بماء وسدر وصلوا فيها". (المصنف لابن أبي شيبة، كتاب الصلاة، الصلاة في الكنائس والبيعة، رقم الحديث: ٤٨٦١، ٤٢٣/١)".

[3] تغليق التعليق، كتاب الصلاة، باب: الصلاة في البيعة: ٢٣٣/٢ فتح الباري: ٦٨٨/١ عمدة القاري: ٢٨٤/٤.

[4] مرتخريجه تحت باب: هل تنبش قبور مشركي الجاهلية ويتخذ مكانها مساجد، رقم الحديث: ٤١٧.

د حديث ترجمه: د حضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت دي چه حضرت ام سلمه رضي الله عنها رسول الله ﷺ ته د يوې ګرجې ذكر اوكړو كومه چه هغې په حبشه كښې ليدلې وه. كومې ته چه به ماريه وئيلې كيدل. بيا هغوى (حضرت ام سلمه رضي الله عنها) رسول الله ﷺ ته د هغه تصويرانو ذكر اوكړو چه په هغه ګرجه كښې ئې ليدلې وو. نورسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه په هغه خلقو كښې چه به يو نيك بنده (يائى داسې اوفرمائيل چه) يو بنده به مړ شو نو دغه خلقو به د هغه په قبر باندې جمات جوړولو او په هغې كښې به ئې دغه تصويرونه جوړول. دا خلق د الله تعالى په نيز بدترين خلق دى.

تراجم رجال: د دې حديث شريف په سند كښې ټول پنځه راويان دى:

① **محمد رحمه الله**: دا ابو عبدالله محمدبن سلام بن الفرج البيكندى رحمه الله دې. په دې سند كښې د دې خبرې تصريح نشته دې چه دا راوى چه د ټولونه وړاندې دې "محمد" دا كوم يو دې؟ چنانچه حافظ ابن حجر رحمه الله د ابن سكين رحمه الله په نسبت سره دا نقل كړې دى چه دا محمدبن سلام دې.[1] د دوى احوال كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: قول النبى صلى الله عليه وسلم: "أنا أعلمكم بالله"، وأن المعرفة فعل القلب لاندې تيرشوى دى.[2]

② **عبدة رحمه الله**: دا عبدة بن سليمان بن حاجب بن زراره كلابى كوفى رحمه الله دې. بعضې خلقو وئيلى دى چه د دوى نوم عبدالرحمن دې او عبده د دوى لقب دې. د دوى احوال كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: قول النبى صلى الله عليه وسلم: "أنا أعلمكم بالله"، وأن المعرفة فعل القلب لاندې تيرشوى دى.[3]

③ **هشام بن عروه رحمه الله**: دا هشام بن عروه بن زبيربن العوام قرشى اسدى مدنى رحمه الله دې. د دوى مختصر احوال كشف البارى، كتاب بدء الوحى په دويم حديث او تفصيلى احوال كتاب الإيمان، باب: أحب الدين إلى الله أدومه لاندې تيرشوى دى.[4]

④ **ابيه رحمه الله**: دا عروه بن زبير بن عوام قرشى اسدى مدنى رحمه الله دې. د دوى مختصر احوال كشف البارى، كتاب بدء الوحى، دويم حديث لاندې او تفصيلى احوال كتاب الإيمان باب: أحب الدين إلى الله أدومه لاندې تير شوى دى.[5]

⑤ **حضرت عائشه رضي الله عنها**: دا ام المؤمنين حضرت عائشه بنت ابى بكر صديق رضي الله عنهما ده. د دوى احوال كشف البارى، كتاب بدء الوحى، دويم حديث لاندى تير شوى دى.[6]

---

[1]) فتح البارى: ۶۸۸/۱.
[2]) كشف البارى: ۹۳/۲.
[3]) كشف البارى: ۹٤/۲.
[4]) كشف البارى: ۲۹۱/۱، ۴۳۲/۲.
[5]) كشف البارى: ۲۹۱/۱، ۴۳۶/۲.
[6]) كشف البارى: ۲۹۱/۱.

د حديث شرح: دمذكوره حديث مكمل تشريح وړاندې پنځه ابوابه مخکښې باب: هل تنبش قبور مشركى الجاهلية ويتخذ مكانها مساجد، رقم الحديث: ٤٢٨ تېره شوې ده.
د حديث شريف د ترجمة الباب سره مطابقت: دمذكوره حديث شريف دترجمة الباب سره مطابقت د حديث ددې جملې: "بنوا على قبره مسجدا وصوروا فيه تلك الصور" په وجه دې ځکه چه ترجمة الباب دې "الصلاة فى البيعة" اودا خبره تېره شوې ده چه په ګرجه کښې د مونځ کراهت په هغه صورت کښې دې کله چه په هغې کښې تصويرونه وى.([1])
حديث باب (دويم حديث):
د نسخو فرق: د كشف البارى دمتن د پاره چه كومه نسخه بنياد جوړه کړې شوې ده هغه د الدكتور المصطفى ديب البغا نسخه ده. په دې نسخه کښې ددې حديث شريف نه مخکښې د "باب" عنوان نشته دې. خود صحيح بخارى په نورو نسخو کښې او زمونږ په هندى نسخو کښې هم په دې مقام باندې يعنى ددې حديث نه وړاندې لفظ باب موجود دې. اګرچه ددې باب هيڅ عنوان نه دې قائم کړې شوې ليکن دا باب بغير د ترجمې موجود دې.
ددې باب فى الجمله د ماقبل باب سره تعلق د قائم مقام فصل دې. د دواړو ابوابو د اشتراك وجه دا ده چه د انبياء کرامو عليهم السلام قبرونه جماتونه جوړولو نه منع کړې شوې ده. لکه چه امام بخارى رحمه الله په دې باب سره دا بيانول غواړى چه "صلاة فى البيعة" مطلقًا مذموم دى که په هغې کښې تصوير وى اوکه نه وى.([2])
حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائى چه دويم غرض دادې چه د باب سابق نه نفى صلاة فى معابد النصارى ثابت کړې وو او دې باب سره صلاة فى معابد اليهود ثابتوى او هم دغه زما رائې ده. په باب سابق کښې د تصويرونو ذکر دې او په دې باب کښې د تصويرونو ذکر نشته دې. بل دا چه په مخکينى باب کښې د نصارى د عبادت خانې ذکر وو په کومه کښې چه تصويرونه وى او دلته د يهوديانو د عبادت خانې ذکر دې په کوم کښې چه تصويرونه نه وى. لکه چه امام بخارى رحمه الله په دې باب سره د عموم طرف ته اشاره کړې ده. په دې معنى چه د يهودو او نصارى د عبادت په ځايونو کښې که تصويرونه وى اوکه نه وى په هرصورت په دې کښې مونځ مکروه دې. د باب سابق نه د امام مالك رحمه الله د مذهب تائيد کيږى اوددې باب نه د جمهورو دمسلك تائيد کيږى.([3])

---

[1]) عمدة القارى: ٢٨٤/٤.
[2]) فتح البارى: ٦٨٩/١ عمدة القارى: ٢٨٥/٤-٢٨٤.
[3]) الأبواب والتراجم: ٢١٧/٢. سراج القارى: ٢٥/٢. علامه فخرالدين احمد صاحب رحمه الله فرمائى: زمونږ خيال دادې چه امام بخارى رحمه الله په سابقه باب کښې دا بيان کړې دې چه د يهوديانو او نصارى په عبادت خانو کښې د مونځ کولو د کراهت وجه داده چه هلته مجسمې او تصويرونه لګيدلې وى. ګنى د أصل په اعتبار سره هرځائى کښې مونځ جائز دې. "جعلت لى الأرض مسجدا" په دې وجه د أصل په اعتبار سره ....

[حديث باب: حديث نمبر ۴۲۵]

۴۳۵ و۴۳۶- حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ أَنَّ عَائِشَةَ وَعَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ (۱) قَالَا لَمَّا نَزَلَ بِرَسُولِ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- طَفِقَ يَطْرَحُ خَمِيصَةً لَهُ عَلَى وَجْهِهِ، فَإِذَا اغْتَمَّ بِهَا كَشَفَهَا عَنْ وَجْهِهِ، فَقَالَ وَهُوَ كَذَلِكَ «لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ.» يُحَذِّرُ مَا صَنَعُوا.

د حديث ترجمه: حضرت عائشه ﷺ او حضرت ابن عباس ﷺ اوفرمائيل چه كله د نبى كريم ﷺ آخرى وخت راغلو نو حضورپاك به بار بار خپل څادر مبارك په خپل مخ مبارك باندې اچولو. بيا چه به ئى كله د دې د وجې ګرمى محسوسوله نو دا به ئى د خپل مخ مبارك نه اخوا كولو. حضورپاك هم د دې اضطراب په حالت كښې وو چه ارشاد ئى اوفرمائيلو: په يهودو او نصارىٰ دې د الله تعالى لعنت وى هغوى د خپلو انبياء كرامو قبرونه جماتونه جوړ كړل (راوى وائى چه) حضورپاك د هغوى د دې عمل نه ويرول كول

تراجم رجال: د مذكوره حديث شريف په سند كښې ټول شپږ راويان دى:

.... خو مونځ صحيح كيدل ېكاردى. ليكن د تصويرونو په بنياد باندې به دغه عبادت خانو كښې د مونځ نه منع كړې شوې ده. اوس امام بخارى ﷺ ترقى كولوسره خودل غواړى چه د منكراتو د موجودګئ د وجې د مونځ منع والى صرف د يهوديانو او د نصارىٰ د عبادت ځايونو سره خاص نه دې بلكه كه د مسلمانانو په جمات كښې هم څه داسې صورت پيدا كړې شى مثلاً دا چه په جماتونو كښې قبرونه په ښكاره توګه اوساتلې شى نو چونكه په جمات كښې د قبر ساتل يو د لعنت قابل فعل دې په دې وجه كه چرته داسې صورت پيدا شى نو په دغه جماتونو كښې به مونځ كول هم د كراهت نه خالى نه وى. لكه چه امام بخارى ﷺ په دې باب كښې دا بيان كړل چه په جماتونو كښې قبرونه ساتل هم داسې دى لكه د يهوديانو او نصارىٰ په عبادت خانو كښې چه تصويرونه وى ځكه چه د جمات باره كښې صفا ارشاد فرمائيلې شوې دې: ﴿وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا﴾ [سورت الجن: ۱۸] او دا جماتونه د الله تعالى د ذكر د پاره دى نو الله تعالى سره بل څوك مه رابلئ. په دې وجه په جماتونو كښې د ځاځاص يا د عام قبر دباقى ساتلو جواز نشته دې. البته كه د قبرونو نه څه راتاؤ كړې شى او هغه د جمات نه جدا كړې شى نو ګنجائش شته دې.

بهر حال امام بخارى ﷺ باب بغير د ترجمې قائمولو سره واضحه كړه چه كه په جماتونو كښې قبرونه باقى اوساتلې شو نو په دې كښې هم مونځ مكروه دې. دغه شان دلته ترجمهٔ جديده داسې منعقد كيدې شى، باب: كراهية الصلاة في المساجد التي فيها قبور. (ايضاح البخارى: ۳/۱۸۶-۱۸۵).

(۱) أخرجه البخارى أيضا في الجنائز، باب: ما يكره من اتخاذ المساجد على القبور، رقم الحديث: ۱۳۳۰، وفي أحاديث الأنبياء، باب: ما ذكر عن بني إسرائيل، رقم الحديث: ۳۴۵۴-۳۴۵۳ وفي المغازي، باب: مرض النبي صلى الله عليه وسلم ووفاته، رقم الحديث: ۴۴۴۳، ۴۴۴۱ وفي اللباس، باب: الأكسية والخمائص، رقم الحديث: ۵۸۱۵، ۵۸۱۶. ومسلم في صحيحه، في المساجد، باب: النهي عن بناء المساجد على القبور واتخاذ الصور فيها، رقم الحديث: ۵۳۱. والنسائي في سننه، في المساجد، باب: النهي عن اتخاذ القبور مساجد، رقم الحديث: ۷۰۳. وفي جامع الأصول، حرف الصاد، الكتاب الأول: في الصلاة، القسم الأول: في الفرائض وأحكامها، الباب الأول: في وجوبها أداء وقضاء، الفصل السادس: في شرائط الصلاة، الفرع الرابع: في أمكنة الصلاة، النوع الثاني: الأمكنة المكروهة، رقم الحديث: ۳۶۷۰، ۵/۴۷۳.

① ابو اليمان رحمه الله: دا ابو اليمان حكم بن نافع بهراني حمصي رحمه الله دې. دَ دوی احوال كشف الباري: كتاب بدء الوحي، الحديث السادس لاندې تير شوي دي. [1]
② شعيب رحمه الله: دا ابو بشر شعيب بن ابی حمزه القرشي الاموی رحمه الله دې. دَ دوی احوال كشف الباري: كتاب بدء الوحي، الحديث السادس لاندې تير شوي دي. [2]
③ زهري رحمه الله: دا محمد بن مسلم، بن شهاب الزهري رحمه الله دې. دَ دوی احوال كشف الباري، كتاب بدء الوحي دَ دريم حديث لاندې تير شوي دي. [3]
④ عبيد الله بن عبد الله بن عتبه رحمه الله: دا عبيد الله بن عبد الله بن عتبه بن مسعود رحمه الله دې. دَ دوی احوال كشف الباري: كتاب بدء الوحي، الحديث الخامس او تفصيلي احوال كتاب العلم، باب: متى يصح سماع الصغير لاندې تير شوي دي. [4]
⑤ عائشه رضي الله عنها: دا ام المؤمنين زوجهٔ رسول، بنت ابی بكر صديق حضرت عائشه رضي الله عنها ده. دَ دوی تفصيلي احوال كشف الباري، كتاب بدء الوحي دَ دويم حديث لاندې تيرشوي دي. [5]
⑥ عبد الله بن عباس رضي الله عنهما: دا حضرت عبد الله بن عباس بن عبد المطلب رضي الله عنهما دې. دَدوی مختصر احوال كشف الباري، كتاب بدء الوحي څلورم حديث لاندې او تفصيلي حالات كتاب الإيمان، باب: كفران العشير، وكفر دون كفر لاندې تيرشوي دي. [6]

دَ حديث شرح:

قوله: أن عائشة وعبدالله بن عباس قالا: لما نَزَل برسول الله صلى الله عليه وسلم، طَفِقَ يطرَح خَمِيصَةً له على وجهه:

يعني حضرت عائشه رضي الله عنها او ابن عباس رضي الله عنهما اوفرمائيل كله چه دَ نبي كريم صلى الله عليه وسلم آخري وخت راغلو نو حضور پاك به بار بار خپل څادر په خپل مخ مبارك باندې اچولو.

قوله: لما نَزَل: دَ ابی ذر دَ روايت مطابق دا دَ معروف صيغه ده او فاعل ئې محذوف دې كوم چه "الموت" دې. او دَ ابی ذر دَ نسخې نه علاوه نسخو كښې دا دَ مجهول صيغه ده. نائب فاعل به په دې صورت كښې هم الموت محذوف وی. [7]

[1]) كشف الباري: ۹۷۴/۱.
[2]) كشف الباري: ۴۸۰/۱.
[3]) كشف الباري: ۱/۳۲۶.
[4]) كشف الباري: ۳۷۹/۳، ۴۶۶/۱.
[5]) كشف الباري: ۲۹۱/۱.
[6]) كشف الباري: ۴۳۵/۱، ۲۰۵/۲
[7]) التوضيح لابن الملقن: ۵۰۷/۵. فتح الباري: ۶۸۹/۱. عمدة القاري: ۲۸۵/۴.

قوله: طفِقَ: دا دَ جعَل په معنی دې.(۱)

قوله: الخَمِيصَةُ: داسې څادر په کوم باندې چه نقش ونګار شوې وی. هغې ته "الخميصة" وائی.(۲)

قوله: غتم بها كشفها عن وجهه، فقال: وهو كذلك: بیا چه به ئې دَدې دَ وجې ګرمی محسوسوله نو دا به ئې دَ خپل مخ مبارک نه اخوا کولو. حضورپاک هم دَدې اضطراب په حالت کښې وو چه ارشاد ئې اوفرمائیلو.

قوله: اغتم: مراد دادې چه کله به ئې ګرمی او ویره محسوسوله.(۳)

قوله: وهو كذلك: مراد دادې چه دَ ویرې او اضطراب هم په هغه حالت کښې وو. لکه څنګه چه دَ ویرې په حالت کښې یو سړې کله دَ خپل ځان نه کمبل او څادر وغیره اخوا کوی او کله ئې اغوندی. هم دغه کیفیت دَ رسول الله ﷺ وو.

احتمال دادې چه دَ نبی پاک ﷺ دا کیفیت شروع کیدو په وخت حضرت ام سلمه رضي الله عنها او ام حبیبه رضي الله عنها دَ حبشې په زمکه باندې دَ لیدونکې ګرجې ذکرکړې وو او لکه چه نبی پاک ﷺ ته معلومه شوې وه چه دَ هغوی دا مرض به مرض الموت ثابتیږی اودا هم ویره پیدا شوه لکه څنګه چه په تیره زمانه کښې دَ نورو انبیاؤ قبرونو سره شوی دې داسې دَ هغوی قبر سره هم اونه کړې شی. په دې وجه حضورپاک دَ یهودو او نصاریٰ دَدې قبیح فعل دَ وجې لعنت کولو سره دَدې فعل قباحت او شناعت طرف ته اشاره اوکړه.(۴)

قوله: لعنة الله على اليهود والنصارى، اتخذوا قبور أنبيائهم مساجد: یعنی یهودیانو او نصاریٰ باندې دې دَ الله تعالیٰ لعنت وی، هغوی دَ خپلو انبیاؤ قبرونو جماتونه جوړکړل.

قوله: اتخذوا: دا جمله جملهٔ مستانفه ده چه دَ ماقبل جملې سبب نه جوړیږی. یعنی دَ لعنت دَ نازلیدلو سبب. لکه چه دلته مکالمه اوشوه چه په یهودو او نصاریٰ باندې دې دَ الله لعنت ولې نازل شی؟ نو حضورپاک جواب ورکړو چه هغوی دَ خپلو انبیاؤ قبرونو جماتونه جوړکړل.(۵)

قوله: "اتخاذ": نه مراد عام دې چه هغوی په شروع کښې قبرونه دَ سجدو ځایونه جوړکړل. یا دَ یهودو اتباع کولو سره ئې قبرونه دَ سجدو ځائې جوړکړی وی، دواړه مراد دی. چنانچه دَدې بدکار شروع یهودیانو کړې وه اونصاریٰ دَ هغوی تابعداری اوکړه. او په دې کښې هیڅ شک نشته چه نصاریٰ به داسې دَ ډیرو انبیاؤ تعظیم کولو دَ چا تعظیم چه به یهودیانو کولو.(۶)

قوله: يُحَذِّرُ مَا صَنَعُوا: (راوی وائی چه) حضورپاک دَ هغوی دَ هغه عمل نه ویرول کول.

---

(۱) التوضیح لابن الملقن: ۵۰۷/۵. فتح الباري: ۶۸۹/۱. عمدة القاري: ۲۸۵/۴.

(۲) التوضیح لابن الملقن: ۵۰۷/۵. فتح الباري: ۶۸۹/۱. عمدة القاري: ۲۸۵/۴.

(۳) عمدة القاري: ۲۸۶/۴.

(۴) فتح الباري: ۶۸۹/۱. عمدة القاري: ۲۸۶/۴.

(۵) فتح الباري: ۶۸۹/۱. عمدة القاري: ۲۸۶/۴.

(۶) فتح الباري: ۶۸۹/۱.

قوله: يُحَذِّرُ مَا صَنَعُوا: دا هـ دَماقبل كلام نه جدا يو مستقل كلام دې. كوم چه دَ حديث دَ راوى نه صادر شوې دې. او دا هم لكه دَ يو سوال جواب دې چه كله په هغه نازك وخت كښې چه مرض الموت وو حضورپاك دَ يهودو او دَ نصارىٰ دَ كار مذمت اوكړو او په هغوى ئې لعنت اوكړو نو په دې كښې څه حكمت وو؟ يا دَدې څه وجه وه؟ نو راوى دَحديث جواب وركړو چه دَ نبى كريم ﷺ دَدې قول وجه دا ده چه حضورپاك خپل امت خبرداره كولو چه تاسو دَ هغوى په نقش قدم باندې تلو سره داسې مه كوئى.([1])

يواشكال اودَ هغې جواب: په دې مقام باندې يو اشكال پيدا كيږى چه حضورپاك ارشاد اوفرمائيلو چه په يهودو او نصارىٰ دې دَ الله تعالى لعنت وى چه هغوى دَ خپلو انبياؤ قبرونه دَ سجدې ځائې جوړكړو. حالانكه دا خبره خو دَ يهودو باره كښې صحيح كيدې شى چه دَ هغوى ډير زيات انبياء دنيا ته راغله ليكن دَ نصارىٰ خو دَ عيسىٰ ﷺ نه پس بل څوك نبى نه دى راغلې تردې چه رسول الله ﷺ مبارك مبعوث شو. نو بيا هغوى هم دَ يهوديانو سره دَ هغوى په قبيح فعل كښې شريك گرځول او دَهغوى باره كښې داوينا څنګه صحيح كيږى چه هغوى هم دَ خپلو انبياؤ قبرونه دَ سجدو ځايونه جوړ كړى وو؟

دَدې څو جوابونه وركړې شوى دى مثلاً:

① انبياء دَ جمع صيغه مجموعه دَ يهودو اونصارىٰ په مقابله كښې ده دَ كوم نتيجه چه به دا راوځى چه ټول انبياء به دَ يهودو مقابل راشى اودَ نصارىٰ مقابل به صرف هم يو نبى لهٰذا اشكال به ختم شى.([2])

② نبى پاك ﷺ چه كوم دَ انبياؤ ذكر كړې دې دَدې نه مراد صرف انبياء نه دى بلكه انبياء اودَ هغوى كبار متبعين كوم چه صالحين وو دواړه مراد دى. ([3])دَدې قول تائيد دَ صحيح مسلم دَهغه حديث نه هم كيږى په كوم كښې چه نبى كريم ﷺ فرمائيلى دى چه هغوى دَ خپلو انبياؤ او خپلو صالحانو خلقو قبرونه دَ سجدو ځايونه جوړكړى وو. البته نبى پاك ﷺ صرف دَ انبياؤ ذكر اوكړو. ([4])

③ أصالةً دا كار خو به هم يهوديانو كولو اوهم هغوى دَ دغه مشركانه بدعمل اصلى موجد دى. ليكن نصارىٰ دَ هغوى دا كار بد اونه ګڼړلو اوهغوى هم دَ يهوديانو سره ملاؤ شو او دَ هغوى اتباع ئې كوله په دې وجه په لعنت كښې دَ يهودو سره سره نصارى هم شريك كړې

---

[1]) فتح البارى: ٦٨٩/١، عمدة القارى: ٢٨٦/٤.

[2]) فتح البارى: ٦٨٩/١.

[3]) فتح البارى:٦٨٩/١.

[4]) عن عبدالله بن الحارث النجرانى، قال: حدثنى جندب، قال: سمعت النبى صلى الله عليه وسلم قبل أن يموت بخمس، وهو يقول: إنى أبرا إلى الله أن يكون لى منكم خليل، فإن الله تعالى قد اتخذنى خليلا، كما اتخذ إبراهيم خليلا، ولو كنت متخذا من أمتى خليلا لاتخذت أبابكر خليلا، ألا وإن من كان قبلكم كانوا يتخذون قبور أنبيائهم وصالحيهم مساجد، ألا فلا تتخذوا القبور مساجد، إنى أنهاكم عن ذلك. (صحيح مسلم، كتاب المساجد، باب: النهى عن بناء المساجد على القبور واتخاذ الصور فيها والنهى عن اتخاذ القبور مساجد، رقم الحديث: ٥٣٢).

شو (١)

③ داخبره هم پوره نه ده منلې شوې چه دَ نبي كريم ﷺ او حضرت عيسىٰ عليه السلام په مينځ كښې بل څوك نبي نه دې راغلې لكه چه سورت ياسين كښې دي: ﴿ وَاضْرِبْ لَهُمْ مَثَلًا أَصْحٰبَ الْقَرْيَةِ ۘ إِذْ جَآءَهَا الْمُرْسَلُوْنَ ۝ إِذْ أَرْسَلْنَآ إِلَيْهِمُ اثْنَيْنِ فَكَذَّبُوْهُمَا فَعَزَّزْنَا بِثَالِثٍ فَقَالُوْٓا إِنَّآ إِلَيْكُمْ مُّرْسَلُوْنَ ۝ ﴾ [يس: ١٤ - ١٣] اودَ هغوى په وړاندې دَ اهل قريه مثال بيان كړئى چه كله هلته رسولان اورسيدو، كله چه مونږ دَ هغوى طرف ته دوه اوليږل نوهغوى دوى دروغ اوګڼل بيا مونږ دريم ليږلو سره هغه ته تقويت وركړو.

په دې آيت كښې دَ رسولانونه مراد دَ اهل انطاكيه دَ هدايت او لارخودنې دَپاره دَ حضرت عيسىٰ عليه السلام دَ طرف نه ليږلې شوى قاصدان مراد اخستې شوى دى. دَ كومو دَ نومونه چه دَ حضرت كعب رضي الله عنه طرف ته دَ روايت منسوب كيدو سره بعضې مفسرينو صادق، مصدوق او شلوم يا شمعون نيكلى دى. په دې دَ وجه په دې اعتبار سره په نصارىٰ كښې هم دَ انبياؤ وجود تسليم كيدې شي. په دې صورت كښې دَلعنت مصداق دَ يهودو سره سره نيغ په نيغه نصارىٰ هم جوړيږى. (٢) ليكن په دې تقرير باندې اشكال هم پيدا كيږى چه دا خود الله تعالى رسولان نه وو بلكه دَ حضرت عيسىٰ عليه السلام رسولان وو يعنى دَ هغوى دَ طرف نه دَ دعوت پيغام وركولو سره ليږلې شوى وو. (٣)

ايا ښځه نبي كيدې شي؟: دې نه علاوه حافظ ابن حجر رحمه الله حضرت مريم عليها السلام ...لره هم په دې مقام باندې جواب وركړلو سره نبيه شمير كړې ده (٤): خودَ جمهورو مسلك په دې باره كښې هم دا دې چه هغه نبيه نه وه. بلكه ولية وه، ځكه چه نبوت دَ سړو سره مخصوص دې په ښځو كښې دَ نبوت سلسله نشته دې. (٥)

دَ حديث دَ شريف ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حديث شريف دَ ترجمة الباب سره مطابقت هم واضح دې دَ هيڅ قسم اشتباه نشته دې. هغه داسې چه كله يهود او نصارىٰ دَ خپلو انبياء كرامو قبرونه جماتونه جوړكړل نوهغوې به هلته عبادت كولو، مونځ به ئې كولو، اودَ دغه جماتونو نومونه هغوى ګرجې كيخودلې كوم ته چه "البِيَع" او "الكنائس" وائى. او بل طرف ته

---

(١) فتح الباري: ٦٨٩/١.

(٢) ﴿إِذْ أَرْسَلْنَآ إِلَيْهِمُ اثْنَيْنِ﴾ ،قال وهب: اسمهما يوحنا وبولس. ﴿فَكَذَّبُوْهُمَا فَعَزَّزْنَا﴾ يعني فقوينا. ﴿ بِثَالِثٍ﴾ . برسول ثالث وهو شمعون، وقرأ أبوبكر عن عاصم: ﴿ فَعَزَزْنَا ﴾ بالتخفيف وهو بمعنى الأول كقولك: وشددنا، وشدَّدنا، بالتخفيف والتثقيل، وقيل:أي: فغلبنا، من قولهم: من عزبز. وقال كعب الرسولان: صادق ومصدوق، والثالث شلوم، وإنما أضاف الله الإرسال إليه لأن عيسى عليه السلام إنما بعثهم بأمره تعالى. ﴿فَقَالُوْٓا﴾. جميعا لأهل أنطاكية. ﴿إِنَّآ إِلَيْكُمْ مُّرْسَلُوْنَ ﴾. (تفسير البغوي، سورة يس، الآية: ١٤، ٧/١٢). (الكشف والبيان المعروف بتفسير الثعلبي، سورة يس، الآية: ١٤، ٨/١٢٥). (البحرالمحيط، سورة يس، الآية: ١٤، ٩/٥٣) .

(٣) عمدة القاري: ٢٨٧/٤.

(٤) فتح الباري: ٦٨٩/١.

(٥) عمدة القاري: ٢٨٧/٤.

باب هم "الصلاة فی البیع" قائم کړې شوې دې. (۱)

حدیث باب (دریم حدیث) [حدیث نمبر ۴۲۶]

۴۲۶ - حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ (۲) أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «قَاتَلَ اللَّهُ الْيَهُودَ اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ».

د حدیث ترجمه: د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه الله تعالی دې یهودیان هلاک کړی هغوی د انبیاء کرامو قبرونه جماتونه جوړ کړل.

تراجم رجال: د مذکوره حدیث شریف سند کښې ټول پنځه راویان دی:

① عبدالله بن مسلمه رحمه الله: دا عبدالله بن مسلمه بن قعنب حارثی بصری رحمه الله دې. د دوی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: من الدین الفرار من الفتن لاندې تیر شوی دی. (۳)

② مالك رحمه الله: دا امام مالك بن انس رحمه الله دې. د دوی تذکره کشف الباری، کتاب بدء الوحی د دویم حدیث او تفصیلی احوال کتاب الإیمان، باب: من الدین الفرار من الفتن لاندې تیرشوی دې. (۴)

③ ابن شهاب رحمه الله: دا محمدبن مسلم، بن عبیدالله، بن عبدالله بن شهاب الزهری رحمه الله دې. د دوی احوال کشف الباری، کتاب بدء الوحی، دریم حدیث لاندې تیر شوی دی. (۵)

④ سعید بن المسیب رحمه الله: دا مشهور تابعی سعید بن المسیب بن حزن بن ابی وهب قرشی مخزومی رحمه الله دې. د دوی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: من قال إن الإیمان هو العمل لاندې تیر شوی دی. (۶)

⑤ ابوهریرة رضی الله عنه: دا مشهور صحابئ رسول حضرت ابوهریره رضی الله عنه دې. د دوی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: امور الإیمان لاندې تیر شوی دی. (۷)

---

(۱) عمدة القاری: ۲۸۵/۴.

(۲) أخرجه أبوداؤد فی سننه، فی الجنائز، باب: فی البناء علی القبر، رقم الحدیث: ۳۲۲۷. ومسلم فی صحیحه، فی المساجد، باب: النهی عن بناء المساجد علی القبور، رقم الحدیث: ۵۳۰. والنسائی فی سننه، فی الجنائز، باب: اتخاذ القبور مساجد، رقم الحدیث: ۲۰۴۷. وفی جامع الأصول، حرف الصاد، الکتاب الأول: فی الصلاة، القسم الأول: فی الفرائض وأحکامها، الباب الأول: فی وجوبها أداء وقضاء، الفصل السادس: فی شرائط الصلاة.ت الفرع الرابع: فی أمکنة الصلاة، النوع الثانی: الأمکنة المکروهة، رقم الحدیث: ۳۶۷۰، ۴۷۲/۵.

(۳) کشف الباری: ۸۰/۲.

(۴) کشف الباری: ۲۹۰/۱،۸۰/۲.

(۵) کشف الباری: ۱/۳۲۶.

(۶) کشف الباری: ۸۰/۲.

(۷) کشف الباری: ۲/۱۵۹.

دَ حديث شرح:

قوله: قاتل الله: په دې جمله کښې قاتل دَ باب مفاعله نه دَ فعل ماضي صيغه ده. ليکن په معنی دَ ثلاثی مجرد دې. يعنی دَ "قَتَلَ" په معنی دې او داسې کيږی. او معنی دا ده چه الله تعالی دې په هغوی باندې لعنت اوکړی، هغوی دې هلاك کړی. دَ قتال نه مراد په دې مقام کښې لعنت دې يعنی دَ رحمت نه لرې کيدل.[1] (باقی تشريح خو وړاندې تيره شوې ده)

٢٣ - بَابٌ: قَوْلِ النَّبِيِّ ﷺ (جُعِلَتْ لِيَ الْأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُورًا)

دا باب دې دَ نبی اکرم ﷺ دَ قول: زما دَ پاره ټوله زمکه جمات او پاکونکې جوړه کړې شوې، باره کښې دې.

دَ ترجمة الباب مقصد: په مخکينو ابوابو کښې چه په کومو ځايونو کښې دَ مونځ دَ ادا کولو دَ کراهت بيان اوشو دَ هغې دَ جواز دَ پاره په توګه دَ دليل دا باب قائم کړې شوې دې. چه کله حضور پاك "جعلت لی الأرض مسجدا وطهورا" فرمائيلی دی نو دَ دې عموم لاندې ټول ځايونه راغلی دی چه په هر ځائی کښې مونځ جائز دې البته دَ بعضې عوارضو دَ وجې کوم چه وړاندې بيان کړی شوی، کراهت راځی.

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائی چه په تير شوو ابوابو کښې چه کومه دَ کراهت خبره تيره شوې ده هغه دَ تحريم دَپاره نه وه بلکه په خلاف اولی باندې محمول ده ځکه چه دې امت ته په مخ دَ زمکه په هره يوه حصه باندې دَ مونځ کولو اجازت ورکړې شوې دې. او دَ دې باب مقصد دادې چه که چرې يو سړې په مذکوره ځايونو کښې مونځ کوی نو دَ هغه مونځ به مکروه وی ليکن مونځ به ئې کيږی. دليل دَ "جعلت لی الأرض مسجدا وطهورا" عموم دې.[2]

حديث باب [حديث نمبر ٤٢٧]

٤٢٨- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سِنَانٍ قَالَ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ قَالَ حَدَّثَنَا سَيَّارٌ- هُوَ أَبُو الْحَكَمِ- قَالَ حَدَّثَنَا يَزِيدُ الْفَقِيرُ قَالَ حَدَّثَنَا جَابِرُ[3] بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ- صلی الله عليه وسلم- «أُعْطِيتُ خَمْسًا لَمْ يُعْطَهُنَّ أَحَدٌ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ قَبْلِي، نُصِرْتُ بِالرُّعْبِ مَسِيرَةَ شَهْرٍ، وَجُعِلَتْ لِيَ الْأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُورًا، وَأَيُّمَا رَجُلٍ مِنْ أُمَّتِي أَدْرَكَتْهُ الصَّلَاةُ فَلْيُصَلِّ، وَأُحِلَّتْ لِيَ الْغَنَائِمُ، وَكَانَ النَّبِيُّ يُبْعَثُ إِلَى قَوْمِهِ خَاصَّةً، وَبُعِثْتُ إِلَى النَّاسِ كَافَّةً، وَأُعْطِيتُ الشَّفَاعَةَ».

دَ حديث ترجمه: حضرت جابر بن عبد الله رضی الله عنه بيان کړې دې چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلې دې چه ماته پنځه څيزونه داسې راکړې شوی دی چه ما نه مخکښې يو نبی ته هم نه دی ورکړې شوی. ① دَ يوې مياشتې په مسافت باندې زما رعب اچولو سره زما امداد اوکړې

[1]) عمدة القاری: ٢٨٦/٤.
[2]) الأبواب والتراجم: ٢١٧/٢ سراج القاری: ٢٧/٣.
[3]) مرتخريجه تحت کتاب التيمم، الباب الأول، رقم الحديث: ٣٢٨ رقم الصفحة: ٨٣.

شو. ② زما دَ پاره ټوله زمکه جمات او پاکونکې جوړه کړې شوه. زما دَ امت چه څوك دَ مونځ وخت رالاندې کړي نو هغه له پکار دی چه هم هلته مونځ اوکړي. ③ او زما دپاره دَ غنيمت مال حلال کړې شو. ④ (سابقه) انبياء به په خاص توګه باندې دَ خپل قوم طرف ته راليږلې شو او زه دَ ټولو خلقو طرف ته مبعوث کړې شوې يم ⑤ اوماته دَ شفاعت حق راکړې شوې دې.

تراجم رجال: دَ مذکوره حديث شريف په سند کښې ټول پنځه راويان دي.

① محمدبن سنان رحمه الله: دا محمدبن سنان عوقلي باهلي بصري رحمه الله دې. دَدوی احوال کشف الباری، کتاب العلم الحديث الأول لاندې تير شوی دی. [1]

② هشيم رحمه الله: دا ابومعاويه هشيم بن بشير بن قاسم واسطي رحمه الله دې. دَدوی احوال کشف الباری، کتاب التيمم، الباب الأول، رقم الحديث: ٣٢٨ لاندې تير شوی دی. [2]

③ سيار رحمه الله: دا ابوالحکم سيار بن ابی سيار واسطي رحمه الله دې. دَدوی احوال کشف الباری، کتاب التيمم، الباب الأول، رقم الحديث: ٣٢٨ لاندې تير شوی دی. [3]

④ يزيد الفقير رحمه الله: دا ابوعثمان يزيد بن صهيب کوفي الفقير رحمه الله دې. دَدوی احوال کشف الباری، کتاب التيمم، الباب الأول، رقم الحديث: ٣٢٨ لاندې تير شوی دی. [4]

⑤ جابربن عبدالله رضي الله عنه: دا مشهور صحابئ رسول حضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنه دې. دَدوی احوال کشف الباری، کتاب الوضوء، باب: من لم يرالوضوء إلا من المخرجين، من القبل والدبر لاندې تير شوی دی. [5]

دَ حديث شرح: دَ مذکوره حديث شريف مکمل اوتفصيلي شرح، دَ خصائص نبی ﷺ په تعداد کښې اختلاف اودَ هغې په مينځ کښې تطبيق کتاب التيمم کښې تيرشوې دې. هغه خاص دَ کتلو سره تعلق لري هغه دې اوکتلې شي. [6]

دَ حديث مبارک دَ ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حديث شريف دَترجمة الباب سره مطابقت هم بالکل واضح دې چه په دواړو کښې "جعلت لي الأرض مسجدا وطهورا" دَ اشتراك وجه ده.

......

[1] کشف الباری: ٣/٥٤-٥٣.
[2] کشف الباری، کتاب التيمم، رقم الصفحة:٨٣.
[3] کشف الباری، کتاب التيمم، رقم الصفحة:٨٨.
[4] کشف الباری، کتاب التيمم، رقم الصفحة:٨٩.
[5] کشف الباری، کتاب الوضوء ، باب: من لم يرالوضوء إلا من المخرجين، من القبل والدبر
[6] کشف الباری، کتاب التيمم، الباب الأول، رقم الحديث: ٣٢٨، رقم الصفحة: ٨٨ — ١٢٧.

۲۴ - بَابٌ: نَوْمِ الْمَرْأَةِ فِي الْمَسْجِدِ

دا باب دې د ښځې په جمات کښې د اوده کیدو باره کښې

د ترجمة الباب مقصد: شیخ الحدیث مولانا محمدزکریا صاحب کاندهلوی رحمه الله فرمائی چه امام بخاري رحمه الله دوه ابوابه ترلی دی. یو "نوم المرأة في المسجد" او دویم "نوم الرجال في المسجد".
په ظاهره د امام بخاري رحمه الله غرض د دواړو بابونو نه جواز بیانول دی ځکه چه کوم روایات ذکرکړې شوی دی هغه په جواز باندې دلالت کوی. مګر "نوم المرأة" ئې په "نوم الرجال" باندې د اهتمام د وجې مقدم کړوځکه چه ښځه محل فتنه ده. په دې وجه ممکن دی چه د عدم جواز ویره وی نو امام بخاري رحمه الله دا مقدم کولو سره جواز واضح کړو او هم په دغه محل فتنه کښې د اخته کیدو د وجې د مالکیؤ مذهب دادې چه مطلقا د ښځې په جمات کښې اوده کیدل جائز نه دی. وإن كانت عجوزة. اود ائمه ثلاثؤ په نیز جائز دی مګر خلاف اولی دی ځکه چه د فتنې محل دې اوپه نوم رجال کښې د امام مالك رحمه الله په نیز تفصیل دې فرمائی: که چرته د اوده کیدو ځائی د نائم نه وی نو په جمات کښې اوده کیدې شی اوکه بل ځائی وی نو اوده کیدل جائز نه دی. اود ائمه ثلاثؤ په نیز جائز دی مګر اولی دادی چه که چرته بل ځائی وی نو بهر دې اوده شی.(۱)
په یوه خبره باندې په ښه شان سره پوهیدل پکاردی چه د امام بخاري رحمه الله چه کوم مقصد دې د هغې نه جواز خو ثابتیږی لیکن ددې دا مطلب هیڅ کله نه دې چه د امام صاحب رحمه الله د طرف نه دا ترغیب ورکولې شی چه دا کار کوئی، بلکه مطلب دادې چه دا امور د رخصت په درجه کښې دی که چرې داسې حالت جوړشی نود فتنې نه د امن په صورت کښې د داسې کولو ګنجائش شته.

حدیث باب [حدیث نمبر ۴۲۸]

۴۲۹- حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ (۲) أَنَّ وَلِيدَةً كَانَتْ سَوْدَاءَ لِحَيٍّ مِنَ الْعَرَبِ، فَأَعْتَقُوهَا، فَكَانَتْ مَعَهُمْ قَالَتْ فَخَرَجَتْ صَبِيَّةٌ لَهُمْ عَلَيْهَا وِشَاحٌ أَحْمَرُ مِنْ سُيُورٍ قَالَتْ فَوَضَعَتْهُ أَوْ وَقَعَ مِنْهَا، فَمَرَّتْ بِهِ حُدَيَّاةٌ وَهُوَ مُلْقًى، فَحَسِبَتْهُ لَحْمًا فَخَطَفَتْهُ قَالَتْ فَالْتَمَسُوهُ فَلَمْ يَجِدُوهُ قَالَتْ فَاتَّهَمُونِي بِهِ قَالَتْ فَطَفِقُوا يُفَتِّشُونَ حَتَّى فَتَّشُوا قُبُلَهَا قَالَتْ

---

(۱) تقریر بخاري شریف: ۱۶۳/۲. فرمائی په اعتبارد قیاس د ښځې په جمات کښې اوده کیدل ناجائز کیدل پکار وو ځکه چه په دې سره یو خوبې پردګی کیږی بل دا هم ممکن دی چه حیض وغیره راشی په کوم سره چه د جمات د ناپاکه کیدلو اندیښنه ده. دریم دا چه د فتنې سبب دې نو د امام بخاري رحمه الله مقصد ددې فتنو نه د امن په صورت کښې جواز ثابتول دی چه نفس نوم مرأة فی المسجد کښې هیڅ حرج نشته دې. (الأبواب والتراجم: ۲۱۷/۲، سراج القاري: ۲۸/۲).

(۲) أخرجه البخاري أيضا في صحيحه، في فضائل أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم، باب: أيام الجاهلية، رقم الحديث: ۳۷۳۵. وفي جامع الأصول، كتاب اللواحق، الفصل الرابع، في أحاديث متفرقة من كل نوع لا يضمها معنى، ولا يحصرها فن، وهي عشرة أنواع، نوع عاشر: متفرق، رقم الحديث: ۹۴۷۶، ۷۷۶/۱۱.

وَاللهِ إِنِّي لَقَائِمَةٌ مَعَهُمْ، إِذْ مَرَّتِ الْحُدَيَّاةُ فَأَلْقَتْهُ قَالَتْ فَوَقَعَ بَيْنَهُمْ قَالَتْ فَقُلْتُ هَذَا الَّذِي اتَّهَمْتُمُونِي بِهِ -زَعَمْتُمْ- وَأَنَا مِنْهُ بَرِيئَةٌ، وَهُوَ ذَا هُوَ قَالَتْ فَجَاءَتْ إِلَى رَسُولِ اللهِ -صلى الله عليه وسلم- فَأَسْلَمَتْ. قَالَتْ عَائِشَةُ فَكَانَ لَهَا خِبَاءٌ فِي الْمَسْجِدِ أَوْحِفْشٌ قَالَتْ فَكَانَتْ تَأْتِينِي فَتَحَدَّثُ عِنْدِي قَالَتْ فَلَا تَجْلِسُ عِنْدِي مَجْلِسًا إِلَّا قَالَتْ وَيَوْمَ الْوِشَاحِ مِنْ أَعَاجِيبِ رَبِّنَا أَلَا إِنَّهُ مِنْ بَلْدَةِ الْكُفْرِ أَنْجَانِي قَالَتْ عَائِشَةُ فَقُلْتُ لَهَا مَا شَأْنُكِ لَا تَقْعُدِينَ مَعِي مَقْعَدًا إِلَّا قُلْتِ هَذَا قَالَتْ فَحَدَّثَتْنِي بِهَذَا الْحَدِيثِ.

د حديث ترجمه: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه د عربو د يوې قبيلې سره يوه حبشي وينځه وه. هغوی دا آزاده کړې وه مګر دا به هم د هغوی سره اوسيدله. هغه وائي چه يو ځل د هغوی جينئ بهر اووتله؛ د هغې په بدن باندې د تسمو سور هارو و. دغه جينئ هغه پخپله اوويستلو يا هغه د دې نه پريوتلو. هلته يو تپوس تيريدو او دغه غورزيدلي هار ئې د غوښې ټکړه اوګڼله په هغې راپريوتلو او يوېړه. هغه خلقو هغه اولټولو مګر بيا ئې موندلې شو. (دغه) وينځې اوونيل چه د قبيلې والو په ما باندې (د غلا) الزام اولګولو. بيائې زما تلاشي واخستله تردې چه زما د شرمګاه ئې هم تلاشي واخستله. زه هم هغه خلقو سره ووم چه هم هغه تپوس هلته تير شو نو هغه هغه هار هلته اوغورزولو. (دغه) وينځې اوونيل هغه هار زمونږ مخې ته راپريوتلو. (هغه) وينځې اوونيل چه ما هغه خلقو ته اوونيل چه دا هغه هار دې د کوم چه تاسو په ما باندې د غلا الزام لګولې وو حالانکه زه د دې نه برى ووم. هغه هار دادې (ستاسو مخې ته) پروت دې.

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه (د دې واقعې نه پس) هغه وينځه رسول الله ﷺ له راغله او اسلام ئې قبول کړو نو هم په جمات کښې د هغې د پاره يوه خيمه يا جونګړه جوړه کړې شوه. حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه هغه وينځه به ما له راتلله او ما سره به ئې خبرې کولې. خو چه هغه به کله هم راتلله نو په خبرو کښې به ئې دا شعر ضرور وئيلو (د کوم ترجمه چه داده) هار د ورکيدو ورځ زما د رب د عجائباتو نه ده، واورئې هم د دې (هار دې واقعې) ماله د کفرستان نه خلاصې راکړې دې. حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه ما هغې ته اوونيل چه آخر څه خبره ده چه ته کله هم ماسره کينې نو دا خبره خامخا کوې؟ حضرت عائشه رضي الله عنها او فرمائيل چه بيا هغې ماته دا واقعه واوروله.

تراجم رجال: د مذکوره حديث شريف په سند کښې ټول پنځه راويان دي.

① **عبيدالله بن اسماعيل رحمه الله:** داعبيد بن اسماعيل قرشي عبادي کوفي رحمه الله دې. د دوی احوال کشف البارى، كتاب الحيض باب: نقض المرأة شعرها عند غسل المحيض لاندې تير شوی دی.[1]

② **ابواسامه رحمه الله:** دا ابو اسامه حماد بن اسامه رحمه الله دې. د دوی احوال کشف البارى، كتاب العلم ،باب: فضل من علم وعلّم، لاندې تير شوی دی.[2]

---

[1] كشف الباري، كتاب الحيض، ص: ٣٩٨.

[2] كشف الباري: ٤١٤/٣.

④ هشام بن عروة رحمه الله: دا هشام بن عروه بن زبیر بن عوام قرشي اسدي مدني رحمه الله دي. دَ دوی مختصر احوال کشف الباري، کتاب بدء الوحي دَ دویم حدیث او تفصیلي احوال کتاب الإیمان، باب: أحب الدین إلى الله أدومه لاندې تیرشوی دی.(١)

⑤ أبیه رحمه الله: دا عروه بن زبیر بن عوام قرشي اسدي مدني رحمه الله دي. دَ دوی مختصر احوال کشف الباري، کتاب بدء الوحي، دویم حدیث لاندې او تفصیلي احوال کتاب الإیمان باب: أحب الدین إلى الله أدومه لاندې تیر شوی دی.(٢)

⑥ حضرت عائشه رضي الله عنها: دا ام المؤمنین حضرت عائشه بنت ابی بکر صدیق رضي الله عنها و رضي الله عنه ده. دَ دوی احوال کشف الباري، کتاب بدء الوحي، دویم حدیث لاندې تیر شوی دی.(٣)

دَ حدیث شرح:

قوله: عن عائشة: أن ولیدة کانت سوداء لحيّ من العرب: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه دَ عربو یوې قبیلې سره حبشي وینځه وه.

قوله: ولیدة: معنی وینځه ده. دَ ولیده اصل استعمال دَ ماشومې دَپاره کیدلو، بیا دَدې استعمال دَ وینځې دَپاره شروع شو. عام خبره ده چه که وینځه دَ کم عمر وی او که دَ ډیر عمر وی، دَدې جمع الولائد ده.(٤)

قوله: کانت سوداء: مراد دادې چه هغه غټه بنځه وه چه غنم رنګې وه. په کتابونو کښې دَ دغه وینځې دَ نوم، دَ هغې دَ قبیلې نوم اونه دَ هغه ماشومې نوم دَ چا هار چه ورك شوې وو هیڅ ذکر نشته.(٥)

قوله: فکانت معهم، قالت: فخرجت صبیة لهم، علیها وشاح أحمر من سیور: هغوی هغه آزاده کړې وه مګر هغه هم دَ هغوی سره اوسیدله. هغه وائي چه یو ځل دا ماشومه هغوی نه بهر اووتله دَ هغې په بدن باندې دَ تسمو سور هار وو.

قوله: قالت: فخرجت: په دې عبارت کښې دَ قالت فاعل حضرت عائشه رضي الله عنها ده او دَ فخرجت فاعل هغه "الولیدة" ده.(٦)

---

(١) کشف الباري: ۲۹۱/۱، ۲/ ۴۳۲.
(٢) کشف الباري: ۱/۲۹۱، ۲/ ۴۳۶.
(٣) کشف الباري: ۱/۲۹۱.
(٤) النهایه في غریب الحدیث والأثر: ۲۳۵/۵، المکتبة الإسلامیة، ریاض. مختار الصحاح، و ل د: ۲۴۵/۱. تاج العروس، و ل د: ۳۳۳/۹.
(٥) فتح الباري: ۶۸۱/۱ عمدة القاري: ۲۸۸/۴.
(٦) فتح الباري: ۶۹۱/۱.

قوله: صبية لهم: په دې جمله کښې هم ضمير دَ الحي طرف ته راګرځي. مراد دادې چه هغه جينئ هم دَدې قبيلې والو نه دَ يو کس وه. (١)

قوله: وِشاحٌ: (په کسرې دَ واؤ او په ضمې دَ واؤ) دَ څرمنې هغه پټئ يا هغه بلټ کوم چه ښځه دَ تشې نه تيرولو سره په اوګه باندې اچوی او په هغې باندې غمی اوملغلرې تکوالې شوې وی. دا لفظ دَ واؤ په همزې سره بدلول إشاح لوستل هم جائز دی. (٢)

قوله: سُيورِ: هغه تسمه يا تار په کوم باندې چه څرمن ګنډلې شی. هغې ته سَيُر وائی دَدې جمع سُيُور استعماليږی. (٣)

علامه عينی رحمه الله يو اشکال اودَ هغې جواب ذکرکړې دې چه دَدې لفظ "سيور" نه معلوميږی چه هغه پټئ دَ څرمنې وه په کوم چه ملغلرې تکوالې شوې وې. نو بيا هغه ټپوس په دې باندې دَ غوښې ګمان څنګه اوکړو چه هغه ئې اوچت کړو او ويويړو؟ نودَدې جواب دادې چه صفا خبره ده چه کله ئې په سره څرمن باندې پړقيدونکی ملغلرې اوليدلې نو ګمان ئې اوکړو چه چاقه تازه غوښه ده لهذا اوچت ئې کړو. (٤)

قوله: قالت: فوضعته، أووَقَع منها، فمرت به حُدَيَّاةٌ وهوملقًى، فحسِبَته لحمًا فخطِفَته: دغې جينئ دا پټکله کوز کړو يا هغه دَدې نه پريوتلو، هلته يو ټپوس تيريدو، اودغه پريوتلې هار ئې دَ غوښې ټکړه ګنړلو سره په هغې حمله اوکړه او ويويړو.

قوله: أووَقَع، دادَ راوی دَ شك بيان دې. په دواړو کارونوکښې يو واقع شوې دې. (٥)

قوله: حُدَيَّاةٌ: دا دَحُداةٌ تصغير دې کوم چه دَ عِنَبَةٌ په وزن باندې دې چه په اصل کښې "حُدَيئَةٌ" وو دَ ياء ساکنه نه پس همزه ده. په دې وجه ئې همزه په ياء سره بدله کړه دَ ياء په ياء کښې ادغام اوکړې شو. بيا دَ ياء دَ فتحې اشباع کولو سره الف جوړکړې شو نو حُدَيّاةٌ شو. دا معروف مرغئ ده کوم چه دَ ټپوس په نوم سره پيژندلې شی. (٦)

---

(١) عمدة القاري: ٢٨٨/٤.

(٢) المحكم المحيط الأعظم لابن سيده، و ش ح: ٤٦٩/٣. النهاية في غريب الحديث والأثر، و ش ح: ١٨٧/٥. المصباح المنير في غريب الشرح الكبير، وشح: ٦٦٠/٢. شرح الكرماني: ٩٨/٤. داسې هار کوم چه ښځې دَ ګردنئ په شکل کښې دَ اوګې اوتشې په مينځ کښې تړی. (سراج القاري: ٣٠/٣).

(٣) مختار الصحاح، س ی ر: ١٥٩/١. المصابيح المنير في غريب الشرح الكبير، س ی ر: ٢٩٩/١. تاج العروس، سير: ١١٧/١٢. شرح الكرماني: ٩٨/٤

(٤) عمدةُ القاري: ٢٨٩/٤.

(٥) فتح الباري: ٦٩١/١. عمدة القاري: ٢٨٩/٤.

(٦) المخصص لابن سيده، الأدوات التي تعتمل في القطع: ١٦٣/٣. النهاية في غريب الحديث والأثر، حدأ: ٣٤٩/١. فتح الباري: ٦٩١/١. عمدة القاري: ٢٨٩/٤.

قوله: وهوملقٍ: دا جمله حاليه ده يعنى هغه هار پريوتلې پروت وو.([1])

قوله: فخطِفَته: دا صيغه دَ سمِعَ يسمَع نه هم مستعمل ده او دَ ضرب يضرب نه هم، ليكن مشهور دَ سمع يسمع نه مستعمل ده.([2])

قوله: قالت: فالتمسوه فلم يجدوه، قالت: فاتّهموني به، قالت: فطفقوا يفتّشون، حتى فتّشوا قُبُلَها: هغه خلقو دغه اولټولو خو بيائې نه موندلو (دې) وينځې اووئيل چه دَ قبيلې والو په ما باندې (دَغلا) الزام اولګولو (دغه) وينځې اووئيل چه بيائې زما تلاشى واخستله تردې چه زما دَ شرمګاه ئې هم تلاشى واخستله.

قوله: فالتمسوه: معنى داده چه دَ قبيلې والو دغه هار اولټولو او دَ هغې باره كښې ئې دَ يو بل نه تپوسونه اوكړل.([3])

قوله: يفتّشون: بعضې رواياتو كښې دا صيغه دَ يائې متكلم سره ده. يعنى يُفَتِّشونِ، دَ كوم چه اصل هم يُفَتِّشونَني دې. يو نون تخفيفًا حذف كړې شوې دې.([4])

قوله: حتى فتّشوا قُبُلَها: ظاهره دا ده چه دا جمله دَ حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها ده كنى كه دغه كلام هم دَدې وينځې وې نو "قُبُلِي" به وې نه چه "قُبُلها"، اوكه چرې داهم دَ وينځې كلام وى لكه چه بعضو ليكلى هم دى نو بيابه وئيلى شى چه دلته وينځې خبرې كولو كښې دَ خطاب نه دَ غيوبت طرف ته التفات كړې دې.([5])

قوله: قالت: والله إني لقائمة معهم، إذ مرت الحُدَيّاة فألقته، قالت: فوقع بينهم، قالت: قلت: هذا الذي اتّهمتموني به، زعمتم وأنا منه بريئة، وهو ذا هو،

زه هم هغه خلقو سره ووم چه هغه تپوس هلته تيريدو نو هغه هغه هار هلته راغوزار كړو، (دې) وينځې اووئيل چه هغه هار زمونږ مخې ته راپريوتلو، (دې) وينځې اووئيل چه ما هغه خلقو ته اووئيل چه دا دې هغه هار دَ كوم دَ غلا چه تاسو په ما باندې الزام لګولو حالانكه زه دَهغې نه برى ووم. هغه هار دا دې (ستاسو په وړاندې) پروت دې.

قوله: زعمتم: دَدې فعل مفعول محذوف دې. يعنى "زعمتم أني أخذته".([6])

قوله: وأنا منه بريئة: دا جمله هم حاليه ده. دَ "منه" دَ "ه" ضمير مرجع "الزعم" جوړيږى په كوم چه "زعمتم" دلالت كوى. يا دَدې ضمير مرجع "وشاح" جوړيږى يعنى زه دَدې هار دَ اخستلو نه يا دَ

---

[1]) عمدة القاري: ٢٨٩/٤.
[2]) التوضيح لابن الملقن: ٥١١/٥عمدة القاري: ٢٨٩/٤.
[3]) عمدة القاري: ٢٩٠/٤.
[4]) شرح الكرماني: ٩٩/٤، عمدة القاري: ٢٩٠/٤.
[5]) شرح الكرماني: ٩٩/٤. فتح الباري: ٦٩١/١ عمدة القاري: ٢٩٠/٤.
[6]) شرح الكرماني: ٤/٩٩ عمدة القاري: ٤/٢٩٠.

پېژنولو نه بری یم.(۱)

قوله: وهوذاهو: په دې جمله کښې چه کوم دویم "هو" دې هغه به دَ "ذا" خبر شی او "ذا" مبتداء به دَ خپل خبر سره دَ اول "هو" دَپاره خبر شی. یا به "هو" خبر ثانی شی دَ ړومبی هودَ پاره. دَدې دَپاره نور هم احتمالات ممکن دی. دَ ابونعیم په روایت کښې دا جمله "هاهوذا" ده. اودَ ابن حزیمه په روایت کښې دا جمله "وهوذا کماترون" ده.(۲)

قوله: قالت: فجاءت إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم فأسلمت، قالت عائشة: فكان لها خباء في المسجد أوحفش،

حضرت عائشه رضی الله عنها اوفرمائیل چه (دَدې واقعې نه پس) هغه وینځه حضورپاك له راغله او اسلام ئې قبول کړو. نو هم په جمات کښې دَ هغې دَ پاره یوه خیمه یا وړه شان جونګړه جوړه کړې شوه.

قوله: الخباء: دَ وړئی یا وینښتو یا دې نه علاوه نه جوړې شوې خیمې ته وائی. چه په دوو یا دریو ستنو باندې لګولې شی.(۳)

قوله: حفش: بكسرة مهملة وسكون الفاء وبعدها شين معجمة داسې وړوکې کور دَ کوم چت چه دَ زمکې سره نیزدې وی یا دَ بدوانو وړې خیمې ته وایئ. (۴)

قوله: فكانت تأتيني فتحدث عندي، قالت: فلا تجلس عندي مجلسا، إلا قالت: حضرت عائشه رضی الله عنها اوفرمائیل چه هغه وینځه به ماله راتلله اوما سره به ئې خبرې کولې، خوچه هغه به کله هم راتلله نو په خبرو کښې به هغې دا شعر خامخا وئیلو.

قوله: فكانت: دَدې فاعل هغه وینځه ده اودَ کشمیهنی په روایت کښې دَدې په ځائی "فكان" دې.(۵)

قوله: فتحدث: داد مضارع صیغه ده دَ یو تاء په حذف سره، یعنی په اصل کښې "فتتحدث" وو.(۶)

ويوم الوشاح من أعاجيب ربنا   ألا إنه من بلدة الكفر أنجاني

(دَکوم ترجمه چه دا ده چه) دَ هار دَ (ورکیدو) ورځ زما دَ رب دَ عجائباتو نه ده. واؤرئی دَ هغه (هار واقعې) ماته دکفرستان نه خلاصې راکړې دې.

---

(۱) عمدة القاري: ٤/ ٢٩٠.
(۲) شرح الكرماني: ٤/ ٩٩ فتح الباري: ١/ ٦٩١ عمدة القاري: ٤/ ٢٩٠.
(۳) شرح الكرماني: ٤/ ٩٩ فتح الباري: ١/ ٦٩١ عمدة القاري: ٤/ ٢٩٠.
(۴) فتح الباري: ١/ ٦٩١ عمدة القاري: ٤/ ٢٩٠.
(۵) فتح الباري: ١/ ٦٩١.
(۶) شرح الكرماني: ٤/ ٩٩ فتح الباري: ١/ ٦٩١ عمدة القاري: ٤/ ٢٩٠.

قوله: أعاجيب: دَدي واحد "أعجوبة" دي. بعضي نسخوكښې "تعاجيب" دي. دكوم چه دَدې لفظ نه واحد نه راځي. ([1])

قوله: قالت عائشة: فقلت لها: ما شأنك، لاتقعُدين معي مقعَدًا إلاقلت هذا؟ قالت: فحدثني بهذا الحديث: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه ما هغې ته اووئيل چه آخر خبره څه ده چه کله هم ته ماسره کيني نو دا خبره خامخا کوې؟ حضرت عائشه رضي الله عنها اوفرمائيل چه بيا هغې ماته دا واقعه واؤروله.

قوله: قلتِ هذا: يعنى دا شعر ته وائى.([2])

قوله: بهذا الحديث: مراد دادې چه دا قصه.([3])

دَ حديث شريف دَ ترجمة الباب سره مطابقت: دَ مذكوره حديث شريف دَ ترجمة الباب سره مطابقت په دې جملې "وكان لها خباء في المسجد" کښې دې څکه چه خيمه دَ شپې تيرولو اودَ خوب کولو دَ پاره لګولې شى.([4])

دَ حديث شريف نه مستفاد فوائد او احكام: دَ مذكوره حديث شريف نه ډير احكامات مستنبط کيږى. په هغې کښې بعضې دلته ذکرکولې شي:

① په مسلمانانو کښې چه دَ چا څه ځائى نه وى دَ هغه دَپاره په جمات کښې شپه تيرول اوخيرې اترې کول جائز دى. دا حکم دَ سړى دَ پاره هم دې او دَ ښځې دَ پاره هم دې، شرط په کښې دا دې چه دَ فتنې نه محفوظ وى.([5])

② دَ پورته ذکرشوى مقصد دَ حاصلولو دَپاره په جمات کښې دَ سورى انتظام کول مثلاً خيمه وغيره لګول جائز دى.([6])

③ يو ښار وغيره دَ مصيبتونو اومشکلاتو دَ وجې پريخودل اودَ يو داسې ښار طرف ته سفر کول جائز دى چرته چه دَ هغه دَ پاره خير او ښيګړه متوقع وى.([7])

④ دارالکفر پريخودو سره دارالاسلام طرف ته هجرت کول هم معلوم شو ([8])

⑤ دَمظلوم سره امداد کول هم معلوميږى كه هغه مظلوم كافر ولې نه وى. په حديث کښې

[1]) التوضيح لابن الملقن: ٥١١/٥ فتح الباري: ٦٩١/١ عمدة القاري: ٢٩٠/٤.
[2]) شرح الكرماني: ٩٩/٤ عمدة القاري: ٢٩١/٤.
[3]) شرح الكرماني: ٩٩/٤ عمدة القاري: ٢٩١/٤.
[4]) عمدة القاري: ٢٨٨/٤.
[5]) شرح ابن بطال: ٩٠/٢، شرح الكرماني: ٩٩/٤، التوضيح لابن الملقن: ٥١١/٥، فتح الباري: ٦٩١/١، عمدة القاري: ٢٩٠/٤.
[6]) شرح الكرماني: ٩٩/٤، فتح الباري: ٦٩١/١، عمدة القاري: ٢٩٠/٤.
[7]) شرح ابن بطال: ٩٠/٢، شرح الكرماني: ٩٩/٤، التوضيح لابن الملقن: ٥١١/٥، فتح الباري: ٦٩١/١، عمدة القاري: ٢٩٠/٤.
[8]) فتح الباري: ٦٩١/١، عمدة القاري: ٢٩٠/٤.

دذكر شوې قصې سياق او سباق نه معلوميږي چه هغه وينځه كافره وه. حضورپاك له د راتلو نه پس هغه مسلمانه شوې وه.[1]

٢٥-بَابُ: نَوْمِ الرِّجَالِ فِي الْمَسْجِدِ

دا باب په جمات كښې د سړو د اوده كيدو باره كښې دې

دَدې باب لاندې امام بخارى رحمه الله د خپلې مدعا د ثابتولو د پاره دوه تعليقاتونه او درې احاديث ذكر كړې دى.

دَ ترجمة الباب مقصد: دَدې ترجمة الباب نه دَ امام بخارى رحمه الله مقصود هم هغه دې كوم چه دَ باب سابق نه وو، چه په جمات كښې اوده كيدل جائز دى. البته دَ سړى او ښځې په جمات كښې دَ اوده كيدو جواز بيانولو دَپاره دَ جدا جدا باب قائمولو وجه داده چه دَ ښځې په جمات كښې په اوده كيدو باندې اشكال زيات وو په نسبت دَ سړو. نو دَدې جواز ئې مستقلاً په يو باب كښې بيان كړو. دَ سابقه باب لاندې ذكركړې شوى حديث كښې چونكه دَ يوې وينځې دَ اوده كيدو ذكر وو په دې وجه په سابقه باب كښې دَ واحد صيغه "نوم المرأة" ذكركړې وو او دلته چونكه په څو رواياتونو كښې دَ سړو دَ اوده كيدو ذكر ملاويږى په دې وجه په دې ترجمه كښې دَ جمع صيغه "نوم الرجال" ذكركړې شوه. دې نه علاوه دَ صحيح بخارى بعضې نسخو كښې دَ "نوم الرجل" ترجمه هم موجود ده.[2]

امام بخارى رحمه الله دَدې وجې نه هم داباب قائم كړې دې چه بعضې رواياتونو كښې په جمات كښې دَ اوده كيدو ممانعت هم نقل دې.[3] په دې وجه امام صاحب رحمه الله دَ دغه رواياتو په مقابل كښې خپل رجحان دَ جواز والا روايات پيش كولو په ذريعه ښكاره كوى چه په جمات كښې اوده كيدل جائز دى.

---

[1] فتح البارى: ١/٦٩١، عمدة القارى: ٤/٢٩٠.

[2] عمدة القارى: ٤/٢٩١.

[3] عن عطاء قال قال رجل لابن عباس إنى يمتُّ فى المسجد الحرام فاحتلمتُ، فقال: أما أن تتخذه مبيتا أو مقيلا لا، وأما أن تنامَ تستريحَ أو تنتظرَ حاجةً فلا بأس. (المصنف لابن أبى شيبة، كتاب الصلاة، باب فى النوم فى المسجد، رقم الحديث: ٤٩١٥، ١/٤٢٧). عن عطاء و طاؤس ومجاهد أنهم كرهوا النوم فى المسجد. (المصنف لابن أبى شيبة، كتاب الصلاة، باب: فى النوم فى المسجد، رقم الحديث: ٤٩١٦، ١/٤٢٧). حدثنا وكيع عن أيمن بن نابل قال: رآنى سعيد بن جبير وأنا نائم فى الحجر، فأيقظنى وقال:مثلُك ينامُ هاهنا. (المصنف لابن أبى شيبة، كتاب الصلاة، باب فى النوم فى المسجد، رقم الحديث:٤٩١٩، ١/٤٢٧). عن عمرو الشيبانى قال: رأيتُ ابن مسعود نفّس فى المسجد ليلا، فلا يدعُ سواداً فى المسجد إلا أخرجه إلا رجلا يصلى. (المصنف لابن أبى شيبة، كتاب الصلاة، باب فى النوم فى المسجد، رقم الحديث:٤٩٢٠، ١/٤٢٧). عبدالرزاق عن يحيى بن العلاء عن حرام بن عثمان عن ابنى جابر عن جابر بن عبدالله قال: أتانا رسول الله صلى الله عليه وسلم ونحن مضطجعون فى مسجده، فضربَنا بعَسِيب كان فى يده، وقال: قوموا! لا تر قُدوا فى المسجد. (المصنف لعبدالرزاق، كتاب الطهارة، باب: الوضوء فى المسجد، رقم الحديث: ١٦٥٥، ١/٤٢٢).

رومبی تعلیق: وَقَالَ أَبُوقِلَابَةَ، عَنْ أَنَسٍ: قَدِمَ رَهْطٌ مِنْ عُكْلٍ، عَلَى النَّبِيِّ ﷺ فَكَانُوا فِي الصُّفَّةِ. [ر: ٦٤١٩]

دَ تعلیق ترجمه: حضرت ابوقلابه دَ حضرت انس رضی الله عنه نه نقل کولو سره بیان اوکړو چه دَ قبیله عکل څه خلق دَ رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او په صفه کښې ایسار شو.

دَ تعلیق تخریج: دا تعلیق دَ قصة العُرَنِیِّین جز دې. دَ کوم واقعه چه کتاب الطهارة کښې تیره شوې ده. اوهم دا تعلیق موصولاً امام بخاری رحمه الله کتاب الحدود، باب: لم یسق المرتدون المحاربون حتی ماتوا، رقم الحدیث: ... کښې ذکر کړې دې. (١)

دَ تعلیق رجال: دَدې تعلیق په سند کښې دوه راویان دی:

① ابوقلابة رحمه الله: دا مشهور تابعی حضرت عبدالله بن زید جرمی رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: حلاوة الإیمان لاندې تیرشوی دی. (٢)

② انس رضی الله عنه: دا مشهور اومعروف صحابئ رسول حضرت انس بن مالك رضی الله عنه دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب الإیمان، باب: من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه لاندې تیرشوی دی. (٣)

دَ تعلیق دَ ترجمة الباب سره مطابقت: دَمذکوره تعلیق دَترجمة الباب سره مطابقت دا سې دې چه دغه راتلونکې قبیله په صفه کښې ایساره کړې شوه نوچه کله دَ هغوی قیام هلته اوشو نو ښکاره خبره ده چه دَ هغوی اوده کیدل به هم هلته وو. اودا خبره متفق علیه ده چه صفه دَ جمات حصه وه. چه دَ تنبو (سائبان) لاندې جوړه کړې شوې وه. هم دغه خبره په ترجمة الباب کښې ده چه په جمات کښې دَ سړو اوده کیدل جائز دی.

دویم تعلیق: وَقَالَ عَبْدُالرَّحْمٰنِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ: كَانَ أَصْحَابُ الصُّفَّةِ الْفُقَرَاءُ. [ر: ٥٧٧]

دَ تعلیق ترجمه: حضرت عبدالرحمن بن ابی بکر رضی الله عنه وائی چه صفه کښې اوسیدونکی صحابه فقیران وو.

دَ تعلیق تخریج: مذکوره تعلیق امام بخاری رحمه الله وړاندې کتاب مواقیت الصلاة کښې او کتاب ا

---

(١) حدثنا موسى بن إسماعيل، عن وهيب، عن أيوب، عن أبي قلابة، عن أنس رضى الله عنه. قال: قدم رهطٌ من عُكل على النبى صلى الله عليه وسلم، كانوا فى الصفة، فاجتووا المدينة، فقالوا: يارسول الله أبْغِنا رسلاً، فقال: ما أجدلكم إلا أن تلحقوا بإبل رسول الله، فأتوها، فشربوا من ألبانها وأبوالها، حتى صحوا وسمنوا وقتلوا الراعى واستاقوا الزَّوْدَ، فأتى النبى صلى الله عليه وسلم الصريخُ، فبعث الطَّلَبَ فى آثارهم، فما ترجَّل النهارُ حتى أُتِيَ بهم، فأمر بمسامير فأحميتْ، فكحلَهم، وقطع أيديهم وأرجلهم وما حسَمَهم، ثم ألقوا فى الحَرة.. يستسقون فما سُقُوا حتى ماتوا، قال أبوقلابة: سرقوا وقتلوا وحاربوالله ورسوله. (صحيح البخارى، كتاب الحدود، باب: لم يسق المرتدون المحاربون حتى ماتوا، رقم الحديث: ٦٨٠٤).

(٢) كشف البارى: ٢٦/٢.

(٣) كشف البارى: ٤/٢.

لمناقب، باب المعاملات کښې موصولاً نقل کړې دې.[1]

د تعلیق رجال: دَدې تعلیق په سند کښې صرف یو راوی دې.

عبدالرحمن بن ابی بکر رضی الله عنه: دا دَحضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه خوئی حضرت عبد الرحمن رضی الله عنه دې. دَ دوی احوال کشف الباری، کتاب الحیض، باب: امتشاط المرأة عند غسلها من المحیض، لاندې تیر شوی دی.[2]

صفه او اصحاب صفه: حضرت مولانا محمد ادریس کاندهلوی رحمه الله دَ صفه باره کښې فرمائی چه دَ تحویل قبلې نه پس کله چه دَ مسجد نبوی مخ بیت الله شریف طرف ته شو نود قبلۀ اول طرف دیوال اودې سره متصل چه کوم ځائی وو هغه دَ هغه فقیرانو او غریبانانو دَ اوسیدودپاره پریخودې شو دَ چاچه څه کور یا ځائی نه وو. دغه ځائی دَ صفه په نوم باندې مشهور وو.

صفه په اصل کښې تنبو او دَسوری والا ځائی ته وائی. هغه کمزوری مسلمانان او شکر کونکی فقیران چه په خپل فقر باندې نه یوازې دا چه صبر کونکی وو بلکه دَ امیرانو او غنیانو نه زیات شاکر او خوشحال وو. کله چه به دَ احادیث قدسیه او کلمات نبویه دَ اوریدو په غرض دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دربار ته حاضریدل نو هم دلته به پراته وو. خلقو به دغه حضرات دَ اصحاب صفه په نوم سره یادول. لکه چه دا دَ هغه بشیر او نذیر او فقیر نبی خانقاه وه چا چه په زرګونو رجاء او رغبت فقرته دَ دنیا په بادشاهئ باندې ترجیح ورکړه.

او اصحاب صفه دَ ارباب توکل او اصحاب تبتل یوه ډله وه چه شپه ورځ به دَ نفس دَ صفائئ او دَ کتاب او حکمت تعلیم حاصلولو دپاره دَ حضور پاک په خدمت کښې حاضر وو. نه دَهغوی تجارت سره څه مطلب وو اونه ئی زمیندارئی وغیره سره څه کار وو. دې حضراتو

---

[1]) عن عبدالرحمن بن ابی بکر أن أصحاب الصفة كانوا أناسًا فقراء، وأن النبی صلی الله علیه وسلم قال: من كان عنده طعام اثنین فلیذهب بثالث، وإن أربع فخامسٌ أو سادسٌ، وأن أبابكر جاء بثلاثة. فانطلق النبی صلی الله علیه وسلم بعشرة: قال: فهو أنا وأبی وأمی، فلا أدری قال: وامرأتی، وخادم، بیننا وبین بیتٌ أبی بكر. وإن أبابكر تعشیٰ عندالنبی صلی الله علیه وسلم، ثم لبث حیث صُلّیتِ العشاءُ، ثم رجع فلبث حتی تعشیً النبی صلی الله علیه وسلم، فجاء بعدما مضی من اللیل ما شاء الله.

قالت له امرأته: وما حبسک عن أضیافک؟ أو قالت ضیفک، قال: أوَ ما عشَّیْتِیهم؟ قالت: أبَوا حتی تجی، قد عُرِضوا فأبوا، قال: فذهبت أنا فاختبأتُ، فقال: یا غُنثَرُ فجدَّع وسبَّ، وقال: كلوا لا هَنیئًا، فقال: والله لا أطعَمُه أبدًا، وآیم الله، ما كنا نأخذ من لقمة إلا ربا من أسفلها أكثر منها، قال: یعنی حتی شبعوا، وصارت أكثرَ مما كانت قبل ذلک، فنظر إلیها أبوبكر فإذا هی كما هی أو أكثر منها، فقال لامرأته: یا أختَ بنی فراس ما هذا؟ قالت: لا وقرة عینی، لهیَ الآن أكثرُ منها قبل ذلک بثلاث مرات، فأكل منها أبوبكر وقال: إنما كان ذلک من الشیطان، یعنی یمینَه، ثمّ أكل منها لقمة، ثم حملها إلی النبی صلی الله علیه وسلم فأصبحت عنده، وكان بیننا وبین قوم عقدٌ، فمضی الأجل، ففرَّقَنا اثناعشر رجلاً مع كل رجلٍ منهم أناسٌ الله أعلم كم مع كل رجل، فأكلوا منها أجمعونٌ أو كما قال. (صحیح البخاری، كتاب: مواقیت الصلاة، باب السمر مع الضیف والأهل، رقم الحدیث: ۶۰۲).

[2]) كشف الباری، كتاب الحیض، باب: امتشاط المرأة عندغسلها من المحیض.

خپلې سترګې د حضورپاك د ديدار چه د نور نه ډك وو د پاره او غوږونه د حضورپاك د كلمات قدسيه د اوريدو د پاره او بدنونه د حضورپاك د صحبت او ملګرتيا د پاره وقف كړې وو.

وان حدثوا عنها فكلي مسامع وكلي إذا حدثتهم السن تتلو

حضرت كاندهلوي رحمه الله نور هم ډير ښه تفصيل بيان كړې دې كوم چه كتلو سره تعلق لري.[1]

---

[1]) سيرت مصطفى للكاندهلوي: ۱/۴۵۲-۴۴۴. د جامعه علوم اسلاميه علامه بنوري ټاؤن، كراچۍ نه جاري "ماهنامه" "بينات" كښې د دغه صفه او اصحاب صفه سره متعلق يو ښكلې تحرير د نظر نه تير شوې وو دهغې څه حصه د عام فائدې په غرض دلته نقل كولې شي: مدينه طيبه كښې د مسجد نبوي علي صاحبها الصلوة والسلام شمال مشرقي طرف ته يو د تنبو په شكل سوري كښې يو څو بزرګانو تعليم او تربيت حاصلولو. دغه بزرګانو خپل ژوند د علم د حاصلولو د پاره وقف كړې وو. په دوي كښې يو څو حضرات داسې وو چه كله به ئې د ورځې په څه حصه كښې د ځنګل نه لرګي راوړل او خرڅول به ئې او په هغې باندې به ئې وخت تيرولو. د هغوي د احوالو او تعداد باره كښې قدما و محدثينو مستقل كتابونه ليكلي دي. په كوم كښې چه امام حديث ابونعيم اصبهاني او امام حديث ابو عبدالله حاكم او ابن الاعرابي او سلمي وغيره رحمهم الله نومونه د ذكر قابل دي. د دوي تعداد په مختلفو اوقاتو كښې ټول يو څائي كولو سره څلور سوو ته رسيږي. هسې خود رسول الله صلى الله عليه وسلم ټول ژوند مبارك هم تعليمي وو او په امت محمديه كښې صحابه كرام رضي الله عنهم د ټولو نه ړومبې متعلمين او شاګردان وو. ليكن هم د دغه علم د حصول سره د اكثر حضراتو د تجارت او د زراعت وغيره مشاغل هم وو. د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه غوندې د اهم شخصيت يو زمانه داسې تيره شوې ده چه دمدينې نه بهر عوالي مدينه كښې د هغوي قيام وو او اود مسافت د لريوالي نه علاوه د معاشي مشغوليت د وجې روزانه د حضورپاك دربار كښې د حاضرئ نه معذور وو. ليكن هغوي خپل يو انصاري ګاونډي (غالبا د هغه نوم اوس بن خولي دې) سره دا انتظام كړې وو او نمبر ئې مقرر كړې وو چه يوه ورځ دې هغه د نبي عليه السلام په دربار كښې حاضرې كوي او كومه وحي د نبوت (د قرآن كريم آيت) چه نوې نازل شوې وي يا څه اهم حديث حضورپاك بيان كړې هغه د شپې عمر فاروق رضي الله عنه ته اوروي. او بله ورځ به حضرت عمر فاروق رضي الله عنه دا خدمت پوره كوي د كوم تفصيل چه صحيح بخاري كښې موجود دې.
الغرض هغه صحابه كرام رضي الله عنهم كوم چه روزانه حاضرې نه شوه لګولې هغوي به هم د علم د حاصلولو د پاره پوره اهتمام او انتظام كولو ليكن څه حضرات داسې هم وو د چا چه شپه ورځ ژوند هم د دغه علم د حاصلولو د پاره وقف وو. د بال بچ نه ازاد، نه د تجارت سره غرض او نه د زراعت سره، مطلب چه نه ئې د خپل معاش څه فكر وو او نه د بال بچ. دا هم هغه د اصحاب صفه بزرګان دي د چا شمير چه به په يو يو وخت كښې اويا اويا پورې هم رسيدلو. هم د دغه بزرګانو نه اويا شهيدان د بيرمعونه دي كوم چه د كافرانو يو څو قبيلو بني لحيان، ورعل او ذكوان وغيره د دين د تعليم او د اسلام د تبليغ په غرض سره د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه په توګه د معلم او مبلغ غوښتو د پاره راغلي وو او حضورپاك دغه قاريان د دې ديني خدمت د پاره ليږلي وو. دغه بدګمانه قبائلو هغوي بوتلل او شهيدان كړې ئې وو. د كوم د وجې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ډير زيات خفګان رسيدلې وو او د سحر په مونځ كښې حضورپاك دعاء قنوت نازله وئيل شروع كړې وو. هم د دغه بزرګانو نه د دې شهادت د واقعې نه پس اويا داسې صحابه كرام رضي الله عنهم هم وو د چا متعلق چه د حضرت ابوهريره رضي الله عنه دا بيان صحيح بخاري كښې د عبرت او بصيرت قابل دې: ((رأيت سبعين من أصحاب الصفه، ما منهم رجل عليه رداء، إما ازار وإما كساء، قد ربطوا في أعناقهم، فمنها ما يبلغ نصف الساقين، ومنها ما يبلغ الكعبين، فيجمعه بيده كراهية أن تعرى عورته)).(صحيح البخاري، كتاب الصلاة، باب: نوم الرجال في المسجد).

ترجمه: ما اویا داسې اصحاب صفه لیدلي دي په کوم کښې چه چا سره (ځان دَ پاسه دَ اغوستلو دَپاره) څادر نه وو، یا هغوی سره صرف لنګ وو یا (دبدن پټولو دَپاره) یوه کمبله کومه چه په هغوی دَ سټ نه (لاندې) تړلې وه. ځنې کمبله خو به دَ ګیټو پورې رسیدله او ځنې به دَ پنډو پورې رسیدله (دَ رکوع سجدې په وخت) به ئې دا په لاس سره نیوله چه د (بدن) پټه حصه ښکاره نه شي.

هم دَدغه بزرګانو نه یخپله حضرت ابوهریره ﷺ هم وو په چا به چه بعضې وخت دَ اولګې نه دَ بې هوشئ دورې راتلې او په مسجد نبوي کښې دَ منبر نبوي او دَ رسول الله ﷺ دَ کور په مینځ کښې روضه کښې به بې هوشه پروت وو او دَ عامو حضراتو به دا ګمان کیدو چه په ده باندې دمرګي دوره راغلې ده حالانکه دَ سختې اولږې او دَ فاقو دَ زیاتوالي نه به په هغه دا قسم حالات راتلل. یخپله هم دَ هغوی دَ ځلې نه په صحیح بخاري کښې دا ټول تفصیل ذکر دې. آخردې دومره سختو او دَ طالبئ ددې انداز چه کوم حیرانونکې نتیجې کیدل پکار وو هغه دَ امت مخې ته راغلې او یخپله هم دَ هغوی په ژبه صحیح بخاري کښې روایت دې: «صحبت رسول الله صلی الله علیه وسلم ثلاث سنین فلم أکن في سني أحرص علی أن أعي الحدیث مني».

ترجمه: زه درې کاله (هروخت) رسول الله ﷺ سره پاتې شوم ما په خپل عمر کښې دَ خپل ځان نه زیات دَ احادیثو یادونکې حریص (ډیرشوقي) بل څوک نه دې لیدلی.

په دومره مختصر زمانه کښې چه کوم روایتونه دَ احادیثو دَ کتابونو مدونینو ته دَ هغوی نه رسیدلي دی د هغې شمیر په زرګونو دې، نه ده معلومه چه نور به څومره روایتونه وی چه دمدونین کتب حدیث پورې به دَ هغوی دَ معیار مطابق نه وی رسیدلي کوم چه یقینا دَ دغه پاك صحبت او په دې علم کښې دَ فناه کیدو دَ جذبې برکات دی. چنانچه پوره اته سوا صحابو او تابعینو ته دَ هغوی نه دَ شاګردئ شرف حاصل شو اوددینَ ډیره لویه حصه ځانله هم ددوی دَ روایتونو نه امت ته اورسیدله. هم دغه وجه ده چه دَ یورپ مستشرقین اود حدیث منکرین مستغربین اود دوی نه علاوه دَ اسلام دَ دښمنانو ټول زور په حضرت ابوهریره ﷺ باندې طعن تشنیع او عیبونه لګولو باندې خرچ کیږي. دَ وینا مطلب دادې چه آخر هغه څه اسباب وو او دَ کوم دَ وجې چه دغه اصحاب صفه دا فقر او افلاس برداشت کړې شو؟ او هغوی ئې د معاش دَ فکر طرف ته ولې متوجه نه کړې شو؟ ولې هغوي دَ زراعت و صنعت او حرفت طرف ته رغبت ورنه کړې شو؟ او ولې دهغوی دَ خیټې دمړولو اود هغوی دَ وخت تیرولو دَپاره دَ زکوٰة او صدقات انتظام کولې شو؟ اوکله چه به دَ ډیرې مجبورئ حالت راتلو او دَ اولګې دَ پاسه به اولګه لګیدله نو رسول الله ﷺ به یو یو صحابی ته دَ صفه والو نه یویو کس دَ خوراك ورکولو دَپاره خپلو کورونو ته دَ بوتلو ارشاد فرمائیلو او یخپله به ئې هم لس لس کسان ځان سره بوتلل. ځکه چه دَ ازواج مطهرات تعداد ۹ وو او لس حضورپاك وو. په دې لحاظ سره لکه چه طعام الواحد یکفی الاثنین په اصول باندې چه کوم حدیث مرفوع ذکر دې یخپله دَ پیغمبر ﷺ په کورونو کښې په هغې عمل وو. نودا خو احادیث نبویه علی صاحبها الصلوٰة والسلام شواهد او بینات دی. اوس لږ شان دَ قرآن کریم ارشاد هم واورئ: ﴿ٱلَّذِينَ أُحْصِرُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِى ٱلْأَرْضِ يَحْسَبُهُمُ ٱلْجَاهِلُ أَغْنِيَآءَ مِنَ ٱلتَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُم بِسِيمَٰهُمْ لَا يَسْـَٔلُونَ ٱلنَّاسَ إِلْحَافًا﴾ (البقرة).

ترجمه: هغه حاجت مند (ستاسو دَ امداد او تعاون مستحق دی) چه دَ الله په لار کښې (خوارئ اومحنت نه) منع کړې شوی دی. هغه (دَ رزق حاصلولو دپاره) په مخ دَ زمکه کښې (چرته) تلې نه شي. ناخبره سړې خود هغوی (سوال کولو نه) دَ بچ کیدو دَ وجې په هغوی باندې دَ مالدارو ګمان کوی (لیکن) تاسود هغوی فقر اوافلاس دَ هغوی دَ مخ دَ څهرې نه پیژندلې شئ هغوی دَ خلقو نه سوال نه کوی (چه ورپسې اولګی او) اصرار اوکړی.

دَ مفسرینو اتفاق دې چه دا آیت مبارك هم ددغه بزرګانو متعلق نازل شوي دی دَ چا دَ ژوند مقصد چه صرف تعلیم او جهاد وو. په یخو دماغو او زړه سره دَ غور کولو مقام دې چه الله تعالی اودَ هغه رسول ﷺ نه یوازې دا صورت حال قائم اوساتلو بلکه دَ هغوی تعریف اوصفت ئې په وحی متلو..........

د تعلیق د ترجمة الباب سره مطابقت: د حضرت عبد الرحمن بن ابی بکر رضي الله عنهما د قول مطابق په صفه کښې اوسیدونکی صحابه فقیران وو یعنی هغوی سره خپل هیڅ د اوسیدو ځانی وغیره نه وو چه هلته هغوی شپه تیره کړی چنانچه هغوی به هم هلته (صفه) د شپې اوده کیدل. او هم دغه په ترجمه کښې ذکر دی.

حدیث باب (رومبی حدیث) [حدیث نمبر ۴۲۹]

۴۳۰- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي نَافِعٌ قَالَ أَخْبَرَنِي عَبْدُ اللَّهِ (١) أَنَّهُ كَانَ يَنَامُ وَهُوَ شَابٌّ أَعْزَبُ لاَ أَهْلَ لَهُ فِي مَسْجِدِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم-.

د حدیث ترجمه: د حضرت نافع رحمه الله بیان دې چه حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما ماته اووئیل چه هغه به په مسجد نبوی کښې اوده کیدلو په داسې حال کښې چه هغه ځوان وو، ځلمې وو کور وغیره ئې نه وو.

تراجم رجال: د مذکوره حدیث مبارك په سند کښې ټول پنځه راویان دی:

① مسدد رحمه الله: دا مسدد بن مسرهد الاسدی البصری رحمه الله دې. د دوی مختصر احوال کشف الباری کتاب الإیمان باب: من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه او تفصیلی احوال کتاب العلم، باب: من خص بالعلم قوما دون قوم کراهیة أن لایفهموا کښې تیرشوی دی. (٢)

② یحیی رحمه الله: دا یحیی بن سعید بن فروخ القطان تمیمی رحمه الله دې. د دوی احوال کشف الباری کتاب الإیمان باب: من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه لاندې تیر شوی دی. (٣)

...... کښې هم بیان کړو. آیا دا واضح او صفا دلیل د دې خبرې نه دې چه په امت کښې څه کسان داسې کیدل پکاردی د چا پاك ژوند چه په مکمله توګه د دین د علم د پاره وقف شوی وی. د دې مقدس شغل نه علاوه د هغوی بل څه شغل نه وی. اوس پاتې شو دا سوال چه هغوی به خوراك څښاك د کوم ځانې نه کوی او د معاش ضرورتونه به څنګه پوره کوی؟ نود قرآن حکیم په تعلیماتو او د رسول الله ﷺ په تعامل کښې د دې واضح جواب صرف هم دغه ملاویږی چه د دوی د ضرورت پوره والی او تپوس پښتنه په امت محمدیه باندې فرض ده چه هغوی به یه خپل صدقات، خیرات او زکوة سره د هغوی خدمت کوی. په دې وجه په علم دین کښې مهارت او خصوصیت فرض کفایه دې فرض عین نه دې اودا د هرسړی د وس کار نه دې. (ماخوز از ماهنامه بینات، ذوالحجه ۱۴۲۸ھ بمطابق جنوری ۲۰۰۸ء).

(١) أخرجه البخاری أیضا فی التهجد، باب: فضل قیام اللیل، رقم الحدیث: ۱۱۲۱، وباب: من تعارض من اللیل نصلی، رقم الحدیث: ۱۱۵۶، وفی فضائل أصحاب النبی صلی الله علیه وسلم، باب: مناقب عبدالله بن عمر، رقم الحدیث: ۳۷۳۸، ۳۷۴۰ وفی التعبیر، باب: الاستبرق ودخول الجنة فی المنام، رقم الحدیث: ۷۰۱۵ وباب: الأمن وذهاب الروح فی المنام، رقم الحدیث: ۷۰۲۸، وباب: الأخذ علی الیمین فی النوم، رقم الحدیث: ۷۰۳۰. ومسلم فی صحیحه فی فضائل الصحابة، باب: من فضائل عبدالله بن عمر رضی الله عنهما، رقم الحدیث: ۲۴۷۹. والترمذی فی جامعه، فی الصلاة، باب: ماجاء فی النوم فی المسجد، رق الحدیث: ۳۲۱. والنسائی فی سننه، فی المساجد، باب النوم فی المسجد، رقم الحدیث: ۷۲۳. وفی جامع الأصول، حرف المیم، الکتاب الأول: فی المواعظ والرقائق، الکتاب السادس: فی المساجد ومایتعلق به أولا وآخرا، رقم الحدیث: ۸۷۵۵ ۱۱/۲۰۶.

(٢) کشف الباری: ۲/۲، ۵۸۸/۴.

(٣) کشف الباری: ۲/۲.

③ عبيدالله رحمه الله: دا عبيدالله بن عمر بن حفص بن عبدالله بن عمر بن خطاب رحمه الله دې. دَ دوى احوال كشف البارى كتاب الوضوء باب: التبرز فى البيوت لاندې تير شوى دى. [1]

④ نافع رحمه الله: دا مولى دَ عبدالله بن عمر القرشى رحمه الله دې. دَ دوى احوال كشف البارى، كتاب العلم، باب: ذكر العلم والفتيا فى المسجد لاندې تير شوى دى. [2]

⑤ ابن عمر رضي الله عنهما: دا حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دې. دَ دوى احوال كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: الإيمان وقول النبى صلى الله عليه وسلم: بنى الإسلام على خمس كښې تير شوى دى. [3]

دَ حديث شريف شرح:

قوله: وهو شاب: دا جمله اسميه ده كومه چه دَ "ينام" فعل دَ ضمير نه حال واقع كيږى. "شاب" هغه سړى ته وائى دَ چا عمر چه دَ ديرشو نه ځلويښتو كالو پورې وى، دَدې جمع "شُبّان" استعماليږى. مؤنث شابة او دَدې جمع شواب استعماليږى. [4]

دَ انسانى عمر مختلف ارتقائى ادوار: زمونږ دَ اردو ژبې سينه ډيره تنګه ده ليكن دَ عربۍ ژبې سينه ډيره كولاؤ ده. دَ انسانى ژوندون چه څومره مراحل دى دَ هغې ټولو دَپاره په عربۍ ژبه كښې جدا جدا نومونه متعين دى. مثلاً تركومې پورې چه بچې دَ مور په خېټه كښې وى هغې ته "جنين" وائى، كله چه پيدا شى هغې ته "وليد" وائى، كله چه دَ اووه ورځو شى هغې ته "صديغ" وائى، بيا چه تركومې پورې پيئ څكى هغې ته "فطيم" وائى، بيا چه كله كلك خوراك كول شروع كړى نو هغې ته "جحوش" وائى. بيا دغه شان مختلف كښې ټلو سره هغه "مترعرع، ناشئ، يافع، مراهق، حزور او غلام" سره يادېږى. بيا دې "فتى" او "شارخ" شى. بيا "مجتمع" شى. بيا "شاب" او دې نه پس په آخر كښې ورته "كهل" وئيلې كيږى.
ائمة اللغات دَدې ټولو نومونو تفصيلات خپلو كتابونو كښې جمع كړى دى. [5]

---

[1] كشف البارى كتاب الاصوء باب: التبرز فى البيوت، ص: ٣۶٠.
[2] كشف الباري: ۵۶١/۴.
[3] كشف البارى: ١/۶٣٧.
[4] المحكم والمحيط الأعظم، الشين والباء: ٢٣۶/٧. مختار الصحاح، شبب: ١۶٠/١، المصباح المنير فى غريب الشرح الكبير، ش ب ب: ٣٠٢/١.
[5] الفصل الأول: "فى ترتيب سن الغلام. عن أبى عمرو عن أبى العباس عن ابن الأعرابى، يقال للصبى: إذا ولد "رضيع وطفل. ثم: "فطيم. ثم: "دارج. ثم: "حفر. ثم: "يافع. ثم: "شدخ. ثم: "مُطَبَّخ. ثم: "كوكب.
الفصل الثانى: "أشفى فنه فى ترتيب أحواله وتنقل السن به إلى أن يتناهى شبابه."
عن الائمة المذكورين "ما دام فى الرحم فهو "جنين. فإذا ولد فهو "وليد. وما دام لم يستتم سبعة أيام فهو "صديغ. لأنه لا يَشْتَدُّ صُدْغُهُ إلي تمام السبعة. ثم ما دام يرضع فهو "رضيع. ثم إذا قطع عنه اللبن فهو "فطيم. ثم إذا غلظ وذهبت عنه ترَارَةُ الرَّضاع فهو "جَحْوَشٌ........

قوله: أعزب: دا صفت دې دَ شاب، دَ ابی ذر په روايت كښې دَعزب لفظ دې، بغيردَ الف دَ او رجل عزب دا سې سړی ته وئيلی شی چه خلمې وی، دَ چا چه ښځه نه وی. نصر ينصر نه دَدې استعمال كيږی. عازب اسم فاعل اودَدې جمع عُزّاب استعماليږی. كوم سړې چه دَ نكاح ترك كونكې وی دَ هغه دپاره په عربی ژبه كښې دَ تعزب الرجل جمله استعماليږی. اودَ چا دَ (ترك نكاح) زمانه چه ډيره اوږده شی تردې چه دَ هغه په نكاح كښې رغبت ختم شی هغه ته "العِزابة" وائی. (١)

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائی چه ناواده كړی ځوان سړی ته دَ احتلام انديښنه زياته وی. ددې باوجود به حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په جمات كښې اوده كيدو او ظاهره خبره ده چه حضور پاك ته به دَدې خبر هم وو. بيا هم حضور پاك هغه منع نه كړو نو په دې سره په جمات كښې دَ اوده كيدو جواز معلوميږی اوهم دغه دَ ترجمة الباب مقصد دې. (٢)

دَ "العلماء العزاب" تعارف: علماء او فقهاء داسې ډير تير شوی دی چاچه دَ خپل علمی او فقهی مصروفياتو دَ وجې واده نه دې كړې. دَداسې علماؤ تفصيلات شيخ عبدالفتاح ابوغده رحمه الله په خپل كتاب كښې جمع كړی دی. دَ كوم نوم چه "العلماء العزاب" دې هغه هم دَ

...... عن الأصمعي. وأنشد للهُذَلِيْ (من الوافر):

قَتَلْنَا مَخْلَداً وابْنَيْ حِرَاقٍ وآخَرَ جَحْوَشاً فَوْقَ الفَطِيْمِ

قال الأزهري: كأنه مأخوذ من "الجحش" الذي هو ولد الحمار، ثم هو إذا دب ونما فهو "دارج". فإذا بلغ طوله خمسة أشبار فهو "خماسي". فإذا سقطت رواضعه فهو"مثغور". عن أبي زيد. فإذا نبتت أسنانه بعدالسقوط فهو "متغر" بالثاء والتاء.

عن أبي عمرو، فإذا كاد يجاوز العشر السنين أو جاوزها فهو "مترعرع وناشئ". فإذا كاد يبلغُ الحلم أو بلغه فهو "يافع ومراهق". فإذا احتلم واجتمعت قوته فهو حَزَوَّر وَحَزْوَر. واسمه في جميع هذه الأحوال التي ذكرنا "غلام". فإذا خضر شاربُه وأخذ عِذارُهُ يَسيلُ قيل: بَقَل وجهُه. فإذا سار ذاقتّاء فهو "فتىً وشارخ". فإذا اجتمعت لحيتُه وبلغ غايةَ شبابه فهوَ "مُجتمع". ثم مادام بين الثلاثين والأربعين فهو "شاب". ثم هو "كهل" إلى أن يستوفي الستّين. (فقه اللغة للثعالبي، الباب الرابع عشر في أسنان الناس والدواب وتنقل الأحوال بهما وذكر ما يتصل بهما وينضاف إليهما: ٦٧/١). په اردو ژبه كښې دَ "صبی" ترجمه بچی سره كولې شی. په عربی ژبه كښې دَ عمر مختلف مرحلو دپاره جدا جدا الفاظ وئيلې كيږی. ماشوم چه ترکومې پورې دَ مور په خيټه كښې وی هغې ته "جنين" وائی. دَ پيدا كيدو نه تربلوغ پورې "صبی" دَ بلوغ نه پس ١٩كالو پورې "غلام"، دې نه پس ٣٤كالو پورې "شاب" بيا دَ ٥١ كالو پورې "كهل" اودې نه پس آخری عمر پورې "شيخ". فقهاء كرامو په دې تعبير كښې څه قدرې فرق كړی دی چه دَ پيدائش نه تربلوغ پورې صبی او غلام، دَ بالغ كيدو نه پس ٣٠ كالو پورې فتی او شاب، ٥٠كالو پورې كهل او دَ ٥٠ كالونه اخوا باندې دَ شيخ اطلاق كيږی. (قاموس الفقه، صبی: ٢١٢/٤).

(١) المحكم والمحيط الأعظم، ع زب: ٥٣٠/١. غريب الحديث للجوزي، باب العين مع الزاء: ٩١/٢. النهاية في غريب الحديث والأثر، عزب: ٢٢٨/٣. فتح الباري: ٦٩٣/١.

(٢) سراج القاري: ٣٢/٣.

كتلو ځيز دي.(١)

قوله: لاأهل له: په دې جمله كښې دَ "له" ضمير مرجع دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما ذات دې. دلته يو سوال پيدا كيږي چه عزب يا عازب هم هغه سړى ته وئيلى شى دَ كوم چه بچى نه وى، دَ چا چه ښځه نه وى. بيا چه كله دَ شاب صفت اعزب استعمال شوې وو نو بيا دَ لاأهل له دَ ذكركولو څه وجه ده؟ په ظاهره خودَ دې څه فائده نشته دې.

نودَ دې جواب دادې چه دا جمله دَ تاكيد په توګه ذكركړې شوې ده. يا دَ تعميم په توګه ذكركړې شوې ده. ځكه چه دَ أهل لفظ دَ زوجه په نسبت عام دې. يعنى دَ "لاأهل له" مطلب دادې چه دَ چا ښځه نه وى اودغه شان دَ كومې ښځې چه خاوند نه وى دَ هغې دَ پاره هم "لا أهل لها" استعماليږى.(٢)

قوله: فى مسجد: دا جار مجرور به ما قبل كښې دَ ينام سره متعلق وى.(٣)

دَ حديث مبارك دَ ترجمة الباب سره مطابقت: دَ مذكوره حديث شريف دَ ترجمة الباب سره مطابقت بالكل ښكاره دې.

دَ حديث شريف نه مستفاد امور او اداب: دَمذكوره حديث شريف نه معلوميږى چه دَ مسافر نه علاوه دَ نور كسانو هم دَ ضرورت په وخت په جمات كښې اوده كيدل جائز دى. پاتې شوه دَ احتلام انديښنه نودَ دې دَ وجې هم دَ اوده كيدو ممانعت نشته دې. البته دَدې نه احتياطى تدابير اختيارول هم لازم دى.

په جمات كښې دَ اوده كيدو باره كښې دَ ائمه كرامو مذهب: جمات كښې دَ يوكس دَ اوده كيدو باره كښې دَ فقهاؤ كرامو مختلف اقوال دى. كوم چه دلته نقل كولې شى:

دَ احنافو مسلك: جمات كښې اوده كيدل دَ احنافو په نيز مكروه دې. البته مسافر او معتكف دَپاره څه حرج نشته دې.(٤)

دَ مالكيو مسلك: دَ صحراء په جمات كښې دَ يوميلمه قيام كول جائز دى. هم دغه حكم دَ وړوكى كلى دَ جمات حكم دې. دَ ښار په لوئى جمات كښې ميلمه ايسارول جائز نه دى. او داسې سړې دَ چا چه كور وغيره نه وى بال بچ ئى نه وى يا وى ليكن دَ شپې دَ څه دَ وجې هغې ته رسيدل ممكن نه وى نودَ داسې كسانودَپاره شپه په جمات كښې تيرول جائز دى. دَارنګ دَ قيلولې دَ پاره دَ ورځې په جمات كښې سملاستل دَ هرچا دَ پاره صحيح دى. دې نه علاوه

---

(١) العلماء العزاب الذين آثرواالعلم على الزواج، دَ شيخ عبدالفتاح ابوغده رحمه الله دا كتاب دَ حلب مكتب المطبوعات الاسلاميه نه چهاپ شوې دې. ١٥۶صفحاتو باندې مشتمل دې.

(٢) فتح البارى: ٦٩٣/١ عمدة القارى: ٢٩٢/٤.

(٣) فتح البارى: ٦٩٣/١ عمدة القارى: ٢٩٢/٤ - ٢٩٣.

(٤) المبسوط للسرخسى، ما يحدث فى المسجد: ٢٥/٢٧. البحرالرائق، كتاب الصوم، باب الاعتكاف، اعتكاف المرأة: ٣٢٧/٢. فتح القدير، كتاب الصيام، باب الاعتكاف: ٣٩٨/٢.

دَمعتکف دپاره خو په جمات کښې خوراك څښاك کول په وجه د ضرورت مطلقًا جائز دی.(١)
دَشوافعو اوحنابلوُمسلک:شوافعو(٢) اوحنابله(٣)په نیزجمات کښې اوده کیدل مطلقًا جائز دی.
دَ تبليغي جماعت والو په جمات کښې اوده کيدل: په موجوده دور کښې دَ دين دَ محنت او تبليغ دَ پاره دَمسلمانانو جماعتونه اوځي. دَدوی قيام په جماتونو کښې وی نوبغيردَ څه شك او شبهې نه دَدوی قيام او طعام په جمات کښې کول دې کښې هيڅ شك نشته چه صحيح دې. يو خو په دې وجه چه هغوی اکثر مسافر وی. دويم په دې وجه هم چه هغوی په جماتونو کښې دَ اعتکاف په نيت سره اوسيږی. دريمه خبره دا چه وتونکی جماعتونو ته په ډير اهتمام سره په هداياتو کښې په جماتونو کښې دَ قيام آداب خودلې کيږی دَ کوم په وجه چه په جماتونو کښې ايساريدل اوکار کول بالکل صحيح دی.
او نن صبا خو يوه بله نه فضا قائميږی چه په جماتونو کښې دَ جماعت والو دَ انتظام اوطعام وغيره دَ پاره جدا کمره جوړولې شی. دا نور هم نه دستور دې دا عام کول پکاردی اود داسې ځائی په موجودګئ کښې هم دغه استعمالول پکار دی. بغيردَ ضرورت نه په جمات کښې دَ خوراك څښاك نه احتياط کول پکاردې. اوکه داسې څه کوټه يا دَ جمات نه بهرځائې نه وی نو بيا دَ جمات دَ آدابو خيال ساتلوسره دَ اعتکاف په نيت سره دَ خوراك څښاك او دَ اوده کيدو اجازت دې.(٤)
دَ ديني مدارسو دَ طالبانو په جمات کښې اوده کيدل: زمونږ په ديني مدارسو کښې هم په ډيرو ځايونو کښې کتلې شی چه بعضې وخت دَ طالبانو دَ اوسيدو بندوبست په جمات کښې کړې شوې وی. نودَدې حکم هم دغه دې چه که چرې دَ هغوی دَ پاره دَ جمات نه بهر دَ قيام بل څه

---

(١) التاج والإكليل لمختصر خليل، كتاب إحياء الموات، باب: المنافع المشتركة في البقاع كالشوارع والمساجد: ٦١٦/٧ الشرح الكبير للشيخ الدردير وحاشية الدسوقي، باب: موات الأرض وإحياءها: ٧٠/٤.

(٢) الأم للشافعي، جماع التيمم للمقيم والمسافر، باب: ما يوصل بالرجل والمرأة: ٧١/١. المجموع شرح المهذب، باب: الإحداث التي تنقض الوضوء، فصل: في المساجد وأحكامها: ١٧٤/٢. إعلام الساجد بأحكام المساجد، الباب الرابع فيما يتعلق بسائر المساجد: ٣٠٦/١. حاشية الورقة السابقه.

(٣) المسائل الفقهية من كتاب الروايتين والوجهين، كتاب الصلاة، مسائل في السهو والسجوده، اتخاذ المسجد مبيتا ومقيلا: ١٤٨/١.

(٤) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وأكل ونوم المعتكف وغريب إلخ. وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله: وأكل ونوم) وإذا أراد ذلك ينبغي أن ينوي الاعتكاف، فيدخل ويذكر الله تعالى بقدر مانوى، ويصلي، ثم يفعل ماشاء. فتاوى هندية. (الدرالمختار مع ردالمحتار، كتاب الصلاة، مطلب: في الغرس في المسجد: ٦٦١/١ سعيد). ويكره النوم والأكل فيه، أي: المسجد لغير المعتكف، وإذا أراد أن يفعل ذلك، ينبغي أن ينوي الاعتكاف، فيدخل فيه ويذكرالله تعالى بقدر مانوى، ولا بأس للغريب ولصاحب الدار أن ينام في المسجد في الصحيح في المذهب، والأحسن أن يتورع، فلا ينام. اهـ (الفتاوى الهندية، كتاب الصلاة، الباب الخامس في آداب المسجد: ٣٢١/٥ رشيديه). والنوم فيه لغير المعتكف مكروه، وقيل: لا بأس للغريب أن ينام فيه، والأولى أن ينوي الاعتكاف ليخرج من الخلاف.(الحلبي الكبير،كتاب الصلاة،فصل:في أحكام المسجد،ص:٦١٢،سهيل اكيدمى لاهور)

خائی نه وی نو دَ اعتکاف په نیت دَ جمات دَ آدابو خیال ساتلو سره او سیدې شی.(١)

(١) دَ احسن الفتاوي فتوی: سوال: دَعلم دَ طالبانو په جمات کښې اوده کیدل جائز دی که نه؟ بينوا توجروا.
الجواب باسم ملهم الصواب: دَ جمات جوړیدل دَ ذکر او عبادت دپاره دی. ددې قسم کارونو دپاره نه دی. په دې وجه په عام حالاتو کښې خودِ چا دپاره هم په جمات کښې اوده کیدل جائز نه دی که هغه طالب وی او که نور څوک. او که دَ مجبورئی دَ وجې نه دَ طالبانو په جمات کښې اوده کیدل وی نو په دې شرطونو سره ددې ګنجائش شته:
① دَجمات نه علاوه بل څه عارضی یا مستقل دَ قیام خائی موجود نه وی، او نه متولی او نه منتظم ددې انتظام کولې شی.
② دَ جمات دَ آدابو پوره خیال دې ساتی چه شور غوغا، خنداګانې او توقې مسخرې او فضول خبرو نه پرهیز اوکړی. دَ صفایئ پوره اهتمام او ساتی اودَ اعتکاف نیت دې اوکړی.
③ مونځ ګذاروته چه دَ هغوی نه هیڅ قسم تکلیف اونه رسی، اذان کیدو سره دې پاسی او دَ مونځونو نه پس هم چه کله خلق سنت نوافل یا ذکر او تلاوت وغیره کښې مشغول وی نو دَ هغوی په عبادتونو کښې دې خلل نه اچوی.
④ طالبان دَ ډیرې والا یا کم نه کم دَ جمات دَ آداب نه واقف او شعور والا وی، کم عمر او بې شعوره ماشومان جمات کښې اوده کول جائز نه دی. الغرض دَ ممکن حده پورې دې ددې نه دَ بچ کیدو کوشش اوکړی شی اودَ مجبورئی خبره خو جدا ده. والله اعلم. ۲۴/ ربیع آخر سنه ۸۷هـ.
(احسن الفتاوی، باب المساجد، سوال: مسجد میں سونا: ۶/۴۴۸.۴۴۷،ط ایچ ایم سعید)
سوال مثل بالا: سوال: دَ یومقیم سړی دَ پاره په جمات کښې کټ اچولو سره یا بغیردَ کټ نه سملاستل جائز دی که نه؟ بله دا چه نن صبا رواج دې چه تبلیغی جماعت حضرات هم په جمات کښې تسلی، هم په جمات کښې خوری څکې او نور معمولات پوره کوی. آیا شرعاً ددې ګنجائش شته؟ بينوا توجروا.
الجواب باسم ملهم الصواب: دَ معتکف او مسافر دپاره په جمات کښې دَ خوراك څښاك او دَ اوده کیدو ګنجائش شته. لهذا دَ تبلیغی جمات دغه دستور جائز دې ځکه چه تبلیغی حضرات هم عموماً مسافر وی. سره ددې دا بهتره ده چه دَ اعتکاف نیت دې اوکړی اوددې دې هم خیال او ساتی چه که جمات سره نیزدې څه حجره وغیره وی په کومه کښې چه تول ملګرې راتلې شی نو جمات کښې دې نه اوده کیږی او خوراك دې هم بهر کوی، په جمات کښې کټ اچول دَ چا دَ پاره هم جائز نه دی.
قال العلامة الحصكفی رحمه الله تعالى: وأكل ونوم المعتكف وغريب إلخ. وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله: وأكل و نوم) وإذا أراد ذلک ينبغی أن ينوی الاعتکاف. فيدخل ويذکرالله تعالى بقدر مانوی. ويصلی. ثم يفعل ما شاء. فتاوی هندية. (ردالمحتار، ۶۱۹/۱) والله تعالى اعلم. ۲۷/ ربیع الاول سنه:۸۹هـ
(احسن الفتاوی، باب المساجد، سوال: مسجد میں سونا: ۶/۴۴۹.۴۴۸،ط ایچ ایم سعید)
دَ فتاوی مفتی محمود فتوی: سوال: څه فرمائی علماء دین په دې مسئله کښې چه په جمات کښې اوده کیدل جائز دی که نه؟ که چرې جائز وی نو په کومو کومو صورتونو کښې اوده کیدې شی. مثلاً مسافر یا غیر مسافر یا صحیح سالم یا معتکف وغیره؟
وفی الدرالمختار: وأكل و نوم المعتكف وغريب إلخ. وفی ردالمحتار: (قوله: وأكل و نوم) وإذا أراد ذلک ينبغی أن ينوی الاعتکاف. فيدخل ويذکرالله تعالى بقدر مانوی، ويصلی، ثم يفعل ما شاء.(ص: ۴۸۹/۱) دې نه معلومه شوه چه بغیردَ معتکف او مسافر نه دَ نورو دَ پاره په جمات کښې اوده کیدل مکروه دی. لیکن که چاته سخت ضرورت وی نود ا حیله دې اوکړی چه په جمات کښې دې دَ لږ ساعت دَ پاره دَ اعتکاف نیت اوکړی او بیا دې جمات کښې داخل شی او لږ وخت دې په عبادت او ذکر کښې تیر کړی بیا دې هلته اوده سی او سحردې پاسی مونځ دې اوکړی اودَ جمات نه دې بهر راوځی. فقط والله تعالى اعلم. بنده محمد اسحاق غفرله، نائب مفتی مدرسه قاسم العلوم ملتان. ۲۳ رجب ۱۴۰۰هـ........

حديث باب: (دويم حديث) [حديث نمبر ٤٣٠]

٤٣٠- حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ (١) جَاءَ رَسُولُ اللّٰهِ - صلى الله عليه وسلم - بَيْتَ فَاطِمَةَ، فَلَمْ يَجِدْ عَلِيًّا فِي الْبَيْتِ

.... (فتاوى مفتى محمود، كتاب المساجد، مسجد ميں سونا، ٢٦١/١، جمعية پبليكيشنز، لاهور)

د فتاوى محموديه نه منتخب فتاوى: سوال: په جمات كښې اوده كيدل دعوامو يا خواصو په كښ باندې يا بغيرد كښ، بوډا وى كه ځوان وى صحيح دى كه نه؟ سره د كتابونو د حوالې تشريح اوليكئ؟

الجواب حامداومصليا: د معتكف او داسې مسافر چه د هغه ځائې وغيره نه وى صحيح دى كه په كښ كښې وى او كه بغيرد كښ نه وى، كه ځوان وى اوكه بوډا، نورو له احتياط كول پكاردى ځكه چه په جمات كښې اوده كيدل مكروه دى.

"ويكره النوم والأكل فيه، أي: المسجد لغير المعتكف، وإذا أراد أن يفعل ذلك، ينبغى أن ينوى الاعتكاف، فيدخل فيه ويذكر الله تعالى بقدر مانوى. ولا بأس للغريب ولصاحب الدار أن ينام فى المسجد فى الصحيح ى المذهب. والأحسن أن يتورع، فلا ينام، اهـ." عالمگيرى: ٣٢١/٥.

د بعضې صحابو نه بعضې وخت په جمات كښې اوده كيدل ثابت دى. لكه چه بخارى شريف كښې د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما متعلق نقل دى: ((إنه كان ينام وهو شاب أعزب لا أهل له فى مسجد النبى صلى الله عليه وسلم)) زمونږ علماؤ دا په ضرورت باندې محمول كړى دى كذافى فيض البارى. فقط والله اعلم.

دارنګ: الجواب حامد اومصليا: مستقل د جمات نه كور جوړول اوهلته كښې اوسيدل نه دى پكار دا مكروه او د جمات د احترام خلاف دى. ليكن كه په چا باندې د خوب غلبه وى او د هغه جمع پاتې كيږى او په جمات كښې د اوده كيدو سره د جمع د مونځ پابندى نصيب كيږى يا د تهجدو توفيق ملاويږى. يا د جمات حفاظت مقصود وى يا بل څه دينى ضرورت وى چه بغيرد جمات د اوده كيدو نه نه حاصليږى نو د هغه د پاره اجازت هم دى. بعضې صحابه به هم د دينى ضرورت دپاره په جمات كښې اوده كيدل فقط والله سبحانه اعلم.

دارنګ: الجواب حامداومصليا: كله چه بل ځائې موجود وى نو بيا په جمات كښې اوده كيدل او هغه هم روزمره اوده كيدل مكروه دى. ددى نه بچ كيدل پكاردى فقط والله اعلم.

دارنګ: الجواب حامد اومصليا: جمات د مونځ ځائې دې د اوده كيدو او د آرام كولو ځائې نه دې. كوم مسافر چه پرديسى وى يا څوك اعتكاف كونكې وى د هغه دپاره ګنجائش شته. تبليغى جماعتونه عموما پرديسى وى يا په جمات كښې د شپې پاتې كيدو سره په تسبيح او نوافل كښې اكثر مشغول وى. څه وخته پورې آرام هم كوى. دغه شان كه هغوى سره مقامى خلق هم شپه رونړه كړى نو په نيت د اعتكاف دې كوى. فقط والله اعلم.

دارنګ: الجواب حامداومصليا: جمات كښې كټ خورول او اوده كيدل، د جمات د احترام خلاف دى او د نورو خلقو دپاره د توحش موجب دى. نن صبا په جمات كښې كټ اچول د جمات بې ادبى ګڼرلې شى په داسې مسائلو كښې د عرف لحاظ كول پكاردى فقط والله اعلم؟

دارنګ: الجواب حامداومصليا: نفلى اعتكاف بغيرد رمضان نه هم كيدې شى اوداسې معتكف هم په جمات كښې قيام كول صحيح دى. فقط والله اعلم (فتاوى محموديه، كتاب الوقف، باب: آداب المسجد، مسجد ميں سونے اور ٹھہرنے کا بيان: ٢٣٨/١٥-٢٣١، ادارة الفاروق، كراچى).

(١) أخرجه البخارى أيضا، فى فضائل أصحاب النبى صلى الله عليه وسلم، باب: مناقب على بن أبى طالب، رقم الحديث: ٣٧٠٣، وفى الأدب، باب: التكنى بأبى تراب، رقم الحديث: ٦٢٠٤ وفى الاستئذان، باب: القائلة فى المسجد، رقم الحديث: ٦٢٨٠ وأخرجه مسلم فى صحيحه، فى فضائل الصحابة، باب: من فضائل.........

فَقَالَ «أَيْنَ ابْنُ عَمِّكِ.» قَالَتْ كَانَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ شَيْءٌ، فَغَاضَبَنِي فَخَرَجَ فَلَمْ يَقِلْ عِنْدِي. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - لإِنْسَانٍ «انْظُرْ أَيْنَ هُوَ» . فَجَاءَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، هُوَ فِي الْمَسْجِدِ رَاقِدٌ، فَجَاءَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - وَهُوَ مُضْطَجِعٌ، قَدْ سَقَطَ رِدَاؤُهُ عَنْ شِقِّهِ، وَأَصَابَهُ تُرَابٌ، فَجَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَمْسَحُهُ عَنْهُ وَيَقُولُ «قُمْ أَبَا تُرَابٍ، قُمْ أَبَا تُرَابٍ.

د حديث ترجمه: حضرت سهل بن سعد ﷺ بيان اوكړو چه يو ځل رسول الله ﷺ د حضرت فاطمه ﷺ كور ته تشريف راوړو نو په كور كښې ئې حضرت على ﷺ اونه ليدلو. نو تپوس ئې اوكړو ستا د تره ځوئې چرته دې؟ حضرت فاطمه ﷺ جواب وركړو چه زما او د هغه په مينځ كښې څه خبرې اترې ترخې شوې دى نو هغه ما ته غصه شو او د كور نه بهر لاړو او زما سره هغه قيلوله هم اونه كړه.

رسول الله ﷺ يو سړى ته اُووئيل اوګوره چه هغه چرته دې؟ (څه ساعت پس) هغه سړې راغلو خبر ئې وركړو يا رسول الله ﷺ! هغه خو په جمات كښې اوده دې. نو حضورپاك (جمات ته) تشريف راوړو نو هغه (حضرت على ﷺ) ملاست وو. څادر د هغه د اړخ نه اخوا شوې وو او په بدن باندې ئې خاورې لګيدلې وې. رسول الله ﷺ د هغه د بدن نه خاوره صفا كوله او فرمائيل به ئې پاسه ابوتراب پاسه ابوتراب.

تراجم رجال: د مذكوره حديث شريف په سند كښې ټول څلور راويان دى.

① **قتيبه بن سعيد** رحمه الله: دا ابورجاء قتيبه بن سعيد بن جميل ثقفى رحمه الله دې. د دوى احوال كشف البارى، كتاب الإيمان، باب: إفشاء السلام من الإسلام لاندې تيرشوى دى. (۱)

② **عبدالعزيز بن ابى حازم** رحمه الله: دا ابوتمام عبدالعزيز بن ابى حازم سلمه بن دينار المدنى دې. د لبنى اشجع آزادكړې شوې غلام دې. دې چه د كومو استاذانو نه د حديث روايت كوى په هغوى كښې د ده پلار، زيد بن اسلم، علاء بن عبدالرحمن، سهيل بن ابى صالح، يزيد بن عبدالله بن الهاد، هشام بن عروه، موسى بن عقبه وغيره رحمهم الله شامل دى. او د دوى نه روايت كونكو كښې حميدى، ابومصعب، على بن حجر، عمرو الناقد، يعقوب الدورقى، يحيى بن اكثم وغيره رحمهم الله شامل دى.

علامه ذهبى رحمه الله د دوى باره كښې ليكى: كان إماما كبير الشأن. فلاس رحمه الله وائى چه ما ابن مهدى د دوى نه به يو هم حديث روايت كولو سره هم نه دې ليدلې. ابن ابى خيثمه رحمه الله وائى چه ما ابن معين رحمه الله اوريدلى چه ابن ابى حازم رحمه الله د خپل پلار نه روايت كولو كښې ثقه نه دې. علامه ذهبى رحمه الله په دې باندې رد كولو سره وائى چه نه دې خو د خپل پلار او د هغه نه

.... علي بن أبي طالب رضي الله عنه، رقم الحديث: ۲٤۰۹. وفي جامع الأصول، حرف الهمزة، الكتاب الثامن: في الأسماء والكنى، الفصل الثاني: فيمن سماه النبي صلى الله عليه وسلم ابتداء، رقم الحديث: ١٥٤، ١/٣٦٣.

(۱) كشف الباري: ۲/۱۸۹.

علاوه د نورو نه په روایت کولو کښې حجت دي. ابن معین رحمه الله د دوی باره کښې وائی: صدوق. د ابوحاتم رحمه الله وینا ده چه دې د دراوردی نه زیات فقیه دې. امام ابن حنبل رحمه الله د دوی باره کښې فرمائی چه دې د حدیث په طلب کښې زیات مشهور او معروف نه وو. البته دا خبره ده چه د امام مالك رحمه الله نه پس مدینه منوره کښې د دوی نه څوك لوئی فقیه نه وو.
د دوی پیدائش ۱۰۷ هجری کښې شوې وو. او وفات ئې په ۱۸۴ هجری کښې د جمعې په ورځ په مسجد نبوی کښې د سجدې په حالت کښې شوې دې.[1]

④ ابی حازم رحمه الله: دا ابو حازم سلمه بن دینار الأعرج الزاهد المدنی رحمه الله دي. د دوی احوال کشف الباری، کتاب الوضوء باب: غسل المرأة أباها الدم عن وجهه لاندې تیرشوی دی.[2]

⑤ سهل بن سعد رضی الله عنه: دا ابو العباس ابن سعد الساعدي الأنصاری الخزرجی رضی الله عنه دي. د دوی احوال کشف الباری، کتاب الوضوء باب: غسل المرأة أباها الدم عن وجهه لاندې تیرشوی دی.[3]

د حدیث شرح:

قوله: عن سهل بن سعد، قال: جاء رسول الله صلی الله علیه وسلم بیت فاطمة، فلم یجد علیا فی البیت، فقال: "أین ابن عمك"؟

حضرت سهل بن سعد رضی الله عنه بیان اوکړو چه یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم د حضرت فاطمه رضی الله عنها کور ته تشریف راوړو نو په کور کښې ئې حضرت علی رضی الله عنه اونه موندلو. نو تپوس ئې اوکړو ستا د تره ځوئی چرته دې؟

قوله: أین ابن عمك؟: د دې جملې نه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم مراد د حضرت علی رضی الله عنه باره کښې معلومات کول وو. حضرت علی رضی الله عنه په حقیقت کښې د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د تره ځوئی وو. لیکن چه کله حضورپاك د فاطمه رضی الله عنها کور ته تشریف راوړې وو نو حضورپاك محسوس کړې وه چه د لور او خوم په مینځ کښې څه خبره شوې ده. څه د برداشت نه بهر معامله شوې ده. نو حضورپاك د ماحول د نرمولو دا پته اونه لګوله چه اې فاطمې ستا خاوند، ستا سختن چرته دې؟ یا د هغه نوم اخستو سره ئې پته اونه لګوله چه اې فاطمې علی چرته دې؟ بلکه حضورپاك دغه خپلوی او رشته داری وریادولو سره سوال اوکړو کوم چه د هغه دواړو په مینځ کښې په نسلی اعتبارسره موجود وه چه اې فاطمه ستا هغه د تره ځوئی چرته لاړو؟[4]

---

[1]) الطبقات الکبری لابن سعد: ٤٢٤/٥، الأعلام للزرکالی: ١٨/٤، میزان الاعتدال: ٦٢٦/٢، تاریخ اسلام للذهبی: ٩١٣/٤، سیر أعلام النبلاء، ٣٦٣/٨، تهذیب الهذیب: ٣٣٤/٦.

[2]) کشف الباری، کتاب الوضوء باب: غسل المرأة أباها الدم عن وجهه

[3]) کشف الباری، کتاب الوضوء باب: غسل المرأة أباها الدم عن وجهه

[4]) فتح الباری: ٦٩٣/١ عمدة القاری: ٢٩٤/٤-٢٩٣. حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله فرمائی چه مجازًا حضورپاك "ابن عمک" اووئیل یا دا چه د دې مضاف محذوف دې. په اصل کښې "أبن ابن عم أبیک" ځکه چه حضرت علی رضی الله عنه خو په اصل کښې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د تره ابوطالب ځوئی دې. د حضرت فاطمه رضی الله عنها د تره ځوئی نه دې. چونکه حضورپاك ته د هغوی په مینځ کښې د خفګان اندازه شوې وه په دې ......

قوله: کان بيني وبينه شيئ فغاضبني فخرج: حضرت فاطمه رضي الله عنها جواب ورکړو چه زما او د هغه په مينځ کښې څه خبره اتره شوې ده. نوهغه ماته غصه شو او بهر تلې دې.

دناخوښئ خبره د دواړو طرفونه شوې وه:

قوله: فغاضبني: دا د باب مفاعله نه دې د کوم خاصه چه د اشتراك معنې بيانول دی. چنانچه مطلب به دا شي چه حضرت فاطمه رضي الله عنها اوفرمائيل اې بابا جان! زما او د هغه په مينځ کښې په څه خبره باندې تکرار راغې هغه ماته غصه شو او زه هغه ته غصه شوم نو د خبرو تريخوالې د وجې هغه زمانه خفه شوې او د کوره تلې دې.(١)

د حضرت فاطمه رضي الله عنها صفا خبره: سبحان الله د نبی اکرم ﷺ د زړه ټکړه د حضرت فاطمه رضي الله عنها څومره رښتيا وئيل، صفا خبره او د انصاف بيان مخې ته راغلو حالانکه په عام توګه په داسې موقعو باندې د ښځو دا مزاج مخې ته راځي چه خپله خطا ورته مخې ته نه راځي او مقابل يعنې د خپل خاوند ټول قصور بيانوي چه هغه دا کړي، هغه دا کړي وغيره وغيره. ليکن حضرت فاطمه رضي الله عنها د دغه خفګان راتلو باوجود صرف دا اونه فرمائيل چه هغه ما ته غصه شوې دې، خفه شوې دې اوزه ئې او رټلم او لا بيا خفه هم لاړو بلکه صفا ئې عرض اوکړو چه اې باباجان! هغه هم غصه شو او زه هم غصه شوم. سبحان الله.

لوښی خو کړنګيږي: اودا څه داسې خبره هم نه ده چه په کورنئ کښې د ښځې اوخاوند په مينځ کښې څه نا څه ترخه خبره يا وړه جګړه وغيره نه وي، انسانان دی فطرت او مزاج مختلف وي او بيا د بهر د حالاتو هم په دغه معاملاتو کښې لوئی عمل دخل وي. نودا خبرې راتلل څه دومره لويه خبره نه وي. څکه چه يو ځائی کښې کله لوښی پراته وي نو هغه په خپل مينځ کښې کړنګيږي هم او شور هم پيدا کيږي.

ليکن د کتلو او غور کولو خبره داده چه په داسې حالاتو کښې هم د انصاف معامله د لاس نه خطا نه شي اودغه خفګان په سر باندې سور نه کړی شي بلکه د غصې يخيدو نه پس صلح هم کول پکاردي. او د مشرانو هم ذمه واری جوړيږی چه په طرفينو کښې د محبت او شفقت، حکمت او بصيرت سره صلحه اوکړی. لکه چه دلته د نبی اکرم نمونه زمونږ مخې ته راغله.

قوله: فلم يَقِل عندي: او زما کور کښې هغه قيلوله هم اونه کړه.

قوله: فلم يَقِل: دا د باب ضرب يضرب (قال يقيل) نه د نفي جحد بلم صيغه ده د کوم معنی چه قيلوله کول دی يعنې د غرمې وخت کښې اوده کيدل.(٢) خو د اصيلی او ابن عساکر د روايت مطابق دا صيغه د ياء په ضمې او قاف په کسرې سره ده.(٣)

........وجه حضور پاك د استعطاف په اراده داتعبير اختيارکړ او د هغه دواړو نسبی نيزديوالې ئې ذکرکړو. (سراج القاري: ٣/٣٤). حضرت علامه شبيراحمد عثمانی رحمه الله فرمائی چه په دې تعبيرکښې اشاره ده چه ستاسو دواړو په مينځ کښې د ښځې او خاوند نه علاوه بله رشته هم ده لهذا په مينه اومحبت سره اوسيدل پکاردی. (فضل الباري: ٣/١٥٢).

(١) عمدة القاري: ٢٩٤/٤.

(٢) شرح الکرماني: ١٠١/٤ فتح الباري: ٦٩٣/١ عمدة القاري: ٢٩٤/٤ إرشادالساري: ٤٣٧/١.

(٣) إرشادالساري: ٤٣٧/١.

د قيلوله حكم: د غرمې خوراك كولو نه پس لږ شان ارام كولو ته قيلوله وائي. ددې دپاره د خوب راتلل ضروري نه دی، صرف استراحت (آرام) باندې هم دَ قيلولې اطلاق كيږي.[1]
ليكن كه دَ چا اراده دَ اوده كيدو هم وي نو دَ اوده كيدو په وخت دعا وغيره وئيلو سره په اودس كښې اوده كيدل پكار دي. يعنې دَ شپې دَ وخت چه كوم سنت دی هغه دَ شپې اوده كيدو سره خاص نه دی بلكه دَ دغه سنتو تعلق صرف دَ اوده كيدو سره دې كه دَ ورځې اوده كيدل وي او كه دَ شپې، چنانچه دَ ورځې دَ اوده كيدو په وخت هم ددې اهتمام كول پكار دي.
قيلوله كول سنت عمل دې په دې سره دَ شپې په عبادت كښې امداد ملاويږي.[2] په يو حديث شريف كښې دی چه قيلوله كوئی ځكه چه شيطان قيلوله نه كوی.[3]

قوله: فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم لإنسان: "انظر أين هو"، فجاء فقال: يا رسول الله! هو في المسجد راقد:
رسول الله ﷺ يو سړی ته اوفرمائيل اوګوره چه هغه چرته دې؟ (لږ ساعت پس) هغه سړې راغلو خبر ئې وركړو يارسول الله! هغه په جمات كښې اوده دې.

قوله: لإنسان: دَ طبراني په روايت كښې دی: "فأمر إنسانا معه".[4]
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه دَ دغه انسان نه مراد به هم سهل بن سعد رضي الله عنه وی ځكه چه په

---

[1] قال الأزهري: القيلولة والمقيلُ عندالعرب الاستراحة نصف النهار، وإن لم يكن مع ذلك يوم، بدليل قوله: ﴿وَأَحْسَنُ مَقِيْلًا﴾ [الفرقان:٢٤] والجنةُ لا نوم فيها. (مرقاة المفاتيح، كتاب الجمعة، باب: الخطبة والصلاة، رقم الحديث: ١٤٠٢، ١٠٤/٣).

[2] عن ابن عباس رضى الله عنهما عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: "استعينوا بطعام السحر على صيام النهار والقيلولة على قيام الليل". (سنن ابن ماجة، كتاب الصيام، باب: ماجاء فى السحور، رقم الحديث: ١٦٩٣). عمل السلف والخلف على أن القيلولة مطلوبة لإعانتها على قيام الليل، قال حجة الإسلام: وإنما تطلب القيلولة لمن يقوم الليل ويسهر فى الخير، فإن فيها معونة على التهجد كما أن فى السحور معونة على صيام النهار، فالقيلولة من غير قيام الليل كالسحور من غير صيام النهار. (فيض القدير، حرف القاف، رقم الحديث: ٦١٦٨، ٥٣١/٤).

[3] عن أنس بن مالك رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم: قيلوا، فإن الشيطان لا يقيل. (المعجم الأوسط، من اسمه أحمد، رقم الحديث: ٢٨، ١٣/١) عن مجاهد قال: بلغ عمر أن عاملاً له لم يقل، فكتب إليه عمر رضى الله عنه: قِل، فإنى حُدِّثتُ أن الشيطان لا يقيل. قال مجاهد: إن الشياطين لا يقيلون. (المصنف لابن أبى شيبة كتاب الأدب، باب: مايذكر فى القائلة نصف النهار، رقم الحديث: ٢٦٦٧٦، ٣٣٩/٥).

[4] حدثنا الحسين بن إسحاق التسترى، ثنا يحيى الحمانى، ثنا سليمان بن بلال، عن أبى حازم، عن سهل بن سعد قال: سمعته يقول: إن كانت لأحب أسماء على رضى الله عنه إليه: أبوتراب، وإن كان ليفرح أن يدعوه بها، وما سماه أباتراب إلا رسول الله صلى الله عليه وسلم، غاضب يوما فاطمة رضى الله عنها، فخرج فاضطجع إلى الجدار، فجاء رسول الله صلى الله عليه وسلم يطلبه، فلم يجده فى البيت، فقال لفاطمة: أين ابن عمك؟، قالت: خرج آنفا مغضبا، فأمر رسول الله صلى الله عليه وسلم إنسانا معه يطلبه، فقال: مضطجع فى الجدار، وقد زال رداؤه عن ظهره، وامتلأ ترابا، فجعل رسول الله صلى الله عليه وسلم يمسح التراب عن ظهره، ويقول: اجلس يا أباتراب. (المعجم الكبير للطبرانى، سليمان بن بلال عن أبى حازم، رقم الحديث: ٥٨٠٨، ١٤٩/٦).

روايت کښې تردغه وخته د بل سړي د موجودګۍ ذکر نشته دې.([1])

قوله: هوفي المسجد راقد: په دې روايت کښې په جمات کښې د اوده کيدو ذکر دې. خو اوس د المعجم الكبير للطبراني په روايت کښې تير شو چه هغه د ديوال په سوري کښې ملاست وو.([2]) په دواړو کښې تطبيق ممکن دې چه د جمات د ديوال په سوري کښې اوده وو.

قوله: سول الله صلى الله عليه وسلم وهو مضطجع، قد سقط رداؤه عن شقه، وأصابه تراب:
نو رسول الله ﷺ جمات ته تشريف راوړو نو هغه (حضرت علي رضي الله عنه) پروت وو، څادر د هغه د اړخ نه اخوا شوې وو او په بدن باندې ئې خاورې لګيدلې وې.

قوله: وهو مضطجع: دا جمله اسميه ده چه حال به واقع کيږي. د جاء د فاعل رسول الله نه، يعنی کله چه رسول الله ﷺ جمات ته اورسيدو نو حضرت علي رضي الله عنه ئې په خپله ډډه باندې اوده اوليدلو. تقديري عبارت به داسې شي: "فجاء رسول الله صلى الله عليه وسلم إلى المسجد، ورآه وهو مضطجع".([3])

قوله: قد سقط رداؤه: دا جمله هم حاليه ده. ([4])

قوله: عن شقه: نه مراد عن جانبه دې.([5])

قوله: فجعل رسول الله صلى الله عليه وسلم يمسحه عنه ويقول: "قم أبا تراب، قم أبا تراب:
رسول الله ﷺ د هغه د بدن نه خاوره صفا کوله او فرمائيل ئې پاسه ابوتراب، پاسه ابوتراب.

قوله: أبا تراب: دې نه مخکښې حرف نداء محذوف دې اصل کښې وو قم، يا أبا تراب. ([6])

د حضرت علي رضي الله عنه کنيت د ابوتراب د تسميه وجه: دا ړومبې موقعه وه چه نبي کريم ﷺ حضرت علي رضي الله عنه ابوتراب وئيلو سره مخاطب کړو، دا د شفقت په وجه وو. دې نه مراد د خاورو پلار نه دې بلکه اې د خاورې والا مراد دې. ځکه چه هغه وخت د حضرت علي رضي الله عنه په اړخ باندې د کچه زمکې خاوره لګيدلې وه.

د حضرت علي رضي الله عنه دا کنيت ډير خوښ وو ځکه چه دا د هغه محبوب نبي ﷺ د هغه د پاره خوښ کړې وو. حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه دا بيان کړې دې لکه چه څنګه د طبراني په روايت کښې دی: «عن سهل بن سعد قال: سمعته يقول: إن كانت لأحب أسماء علي رضي الله عنه إليه: أبو تراب، وإن كان ليفرح أن يدعوه بها».([7])

---

[1]) فتح الباري: ۶۹۳/۱.
[2]) (المعجم الكبير للطبراني، سليمان بن بلال عن أبي حازم، رقم الحديث: ۵۸۰۸، ۶/۱۴۹).
[3]) عمدة القاري: ۴/۲۹۴.
[4]) أيضا.
[5]) عمدة القاري: ۲۹۴/۴.
[6]) شرح الكرماني: ۱۰۱/۴ عمدة القاري: ۲۹۴/۴.
[7]) (المعجم الكبير للطبراني، سليمان بن بلال عن أبي حازم، رقم الحديث: ۵۸۰۸، ۶/۱۴۹).

دَ حديث مبارک دَ ترجمة الباب سره مطابقت: دَ حديث شريف دَترجمة الباب سره مطابقت دَ حديث په دې جملې "وهو راقد في المسجد" کښې دى.[1] حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه دَدې باب ړومبي حديث دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما په جمات کښې اوده کيدو والا روايت دَداسې سړى په جمات کښې په اوده کيدو باندې دلالت کوى دَ چا چه بال بچ نه وى، هغه ناواده کړې وى. او دا حديث په کوم کښې چه دَ حضرت على رضي الله عنه په جمات کښې دَ اوده کيدو ذکر دې په دې کښې تعميم دې ځکه چه دې خو واده کړې وو او دَ بال بچ والا وو. نو دَ دواړو قسم کسانو په جمات کښې اوده کيدل ثابت شو. هسې په دواړو احاديثو کښې لږ فرق کول هم ممکن دى. هغه داسې چه دَ حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما سملاستل باقاعده اوده کيدل وو او دَ حضرت على رضي الله عنه سملاستل خو اوده کيدل نه وو بلکه صرف قيلوله وه چه دَ پاره دَ هغې خوب لازم نه دې. که وى نو هم اوکه نه وى نو هم دواړو صورتونو ته به قيلوله وئيلې شى.[2]

دَ حديث مبارک نه مستفاد امور و اداب: دَ مذکوره حديث شريف نه چه کوم امور او آداب وغيره مستنبط کيږى دَ هغې نه څه دلته نقل کولې شى:

① په جمات کښې دَ قيلولې په غرض سره دَ سملاستلو جواز هم معلوم شو.[3]

② کوم سړې چه په غصه کښې وى هغه سره داسې خبرې اترې کول په کوم سره چه هغه نور په غصه کښې نه راځى بلکه په هغه خبرو اترو سره انس حاصل کړى دا جائز دى.[4]

③ دَ اولاد نه علاوه دَ څه بل نوم طرف ته نسبت کولو سره کنيت کيخودل هم جائز دى.[5]

④ يو سړې په داسې کنيت سره رابلل په کوم سره چه هغه خفه کيږى نه، صحيح دى.[6]

⑤ پلار دَ خپلې لور کورته دَ هغې دَ خاوند دَ اجازت نه بغير هم تلې شى. په دې شرط چه خوم به ئې په دې تګ راتګ باندې راضى وى.[7]

⑥ دَ سخر دَ خپل خوم خاطر مدارات کول او دَ هغه دَ زړه دَ ساتلو دَ پاره داسې خبره کول په کوم سره چه دَ هغه غصه يخه شى، بهتر دى.[8]

⑦ غير مسافر او غير فقير دَ پاره هم په جمات کښې دَ اوده کيدلو جواز معلوميږى.[9]

⑧ دَ خپلولئ الفاظ په خبرو اترو کښې ذکرکولو سره دَ چا مانوس کولو هم علم اوشو.[10]

---

[1]) عمدة القارى: ٢٩٣/٤.
[2]) فتح البارى: ٢٩٤/١-٢٩٣.
[3]) التوضيح لابن الملقن: ٥١٧/٥ فتح البارى: ٦٩٤/١ عمدة القارى: ٢٩٣/٤.
[4]) فتح البارى: ٦٩٤/١ عمدة القارى: ٢٩٣/٤.
[5]) شرح الكرمانى: ١٠١/٤ التوضيح لابن الملقن: ٥١٧/٥ فتح البارى: ٦٩٤/١ عمدة القارى: ٢٩٣/٤.
[6]) شرح الكرمانى: ١٠١/٤ التوضيح لابن الملقن: ٥١٧/٥ فتح البارى: ٦٩٤/١.
[7]) شرح الكرمانى: ١٠١/٤ فتح البارى: ٦٩٤/١ عمدة القارى: ٢٩٣/٤.
[8]) شرح الكرمانى: ١٠١/٤ التوضيح لابن الملقن: ٥١٧/٥ فتح البارى: ٦٩٤/١ عمدة القارى: ٢٩٣/٤.
[9]) شرح الكرمانى: ١٠١/٤ التوضيح لابن الملقن: ٥١٧/٥ عمدة القارى: ٢٩٣/٤
[10]) عمدة القارى: ٢٩٣/٤.

⑨ دَدې حدیث شریف نه دَ حضرت علي رضی الله عنه فضیلت اومنقبت هم په ښه شان سره ښکاره کیږي.([1])

⑩ دَ کوم سړي ستر چه په لباس کښې پټ وي، هغه لباس اغوستونکي دې اګرچه دَ ستر نه علاوه دَبعضې اندام نه کیږي اخوا شوي هم وي.([2])

حدیث باب (دریم حدیث) [حدیث نمبر ۴۳۱]

- ۴۳۲ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ فُضَيْلٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ ([3]) رَأَيْتُ سَبْعِينَ مِنْ أَصْحَابِ الصُّفَّةِ، مَا مِنْهُمْ رَجُلٌ عَلَيْهِ رِدَاءٌ، إِمَّا إِزَارٌ وَإِمَّا كِسَاءٌ، قَدْ رَبَطُوا فِي أَعْنَاقِهِمْ، فَمِنْهَا مَا يَبْلُغُ نِصْفَ السَّاقَيْنِ، وَمِنْهَا مَا يَبْلُغُ الْكَعْبَيْنِ، فَيَجْمَعُهُ بِيَدِهِ، كَرَاهِيَةَ أَنْ تُرَى عَوْرَتُهُ.

د حدیث ترجمه: حضرت ابوهریره رضی الله عنه اوفرمائیل چه ما د اصحاب صفه نه اویا کسان په داسې حال کښې لیدلی دی چه هغوی کښې چا سره (دَ پاسه اچولو دَپاره) څادر نه وو. یا هغوی سره صرف لنګ وو یا (دَ بدن پټولو دَپاره) یوه کمبله، کومه چه به هغوی دَ سټ نه (لاندې) تړلې وه، اودا به په هغوی کښې دَ چا دَ ګیټو پورې رسیدله اودَ چا دَ پنډو پورې رسیدله (دَ رکوع اوسجدې په وخت کښې) به ئې هغه په لاس نیوله چه چرته دَ هغوی شرمګاه ښکاره نه شي.

تراجم رجال: دَدې حدیث په سند کښې ټول پنځه راویان دی:

① یوسف بن عیسی رحمه الله: دا یوسف بن عیسی رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف الباري، کتاب الغسل، باب: توضأ في الجنابة ثم غسل سائر جسده ولم يعد غسل مواضع الوضوء مرة أخرى لاندې تیر شوی دی.([4])

② ابن فضیل رحمه الله: دا ابوعبدالرحمن محمد بن فضیل بن غزوان کوفی رحمه الله دې. دَ دوی احوال کشف الباري، کتاب الإیمان، باب: صوم رمضان احتسابا من الإیمان لاندې تیر شوی دی.([5])

③ أبیه (فضیل بن غزوان) رحمه الله: دا ابومحمد فضیل بن غزوان بن جریر الضبي الکوفي رحمه الله دې. دا دَ ابوالفضل الکوفي پلار دې. دې چه دَ کومو مشائخو او استاذانو نه دَ حدیث روایت کوي په هغوی کښې ابوحازم الأشجعي، ابوزرعه البجلي، عکرمه، سالم بن عبدالله بن عمر، زبید الیامي، طلحه بن عبیدالله بن کریز، عاصم بن بهدله، عبدالله بن واقد بن

---

[1]) التوضیح لابن الملقن: ٥١٩/٥، عمدة القاري: ٢٩٣/٤.

[2]) شرح الکرماني: ١٠١/٤ التوضیح لابن الملقن: ٥١٩/٥.

[3]) هذا الحدیث من أفراد البخاري، وفي جامع الأصول، حرف الزاي، الکتاب الثاني: في الزهد والفقر، الفصل الثاني: فیما کان النبي صلی الله علیه وسلم وأصحابه علیه من الفقر، رقم الحدیث: ٢٨١٣، ٧٠١/٤.

[4]) کشف الباري، کتاب الغسل، باب: توضأ في الجنابة ثم غسل سائر جسده ولم یعد غسل مواضع الوضوء مرة أخری.

[5]) کشف الباري: ٣١٨/٢.

عبدالله بن عم، عبدالرحمن بن ابی نعم البجلی وغیرهم رحمهم الله شامل دی.
او دَ دوی نه روایت کونکو کښې دَ هغوی څوئی محمد بن فضیل، جریر بن عبدالحمید، عبدالله بن مبارك، اسحاق الازرق، ابن نمیر، یحیی بن سعید القطان، حفص بن غیاث، ابواسامه حماد بن اسامه، سعید بن محمد الوراق، سفیان ثوری، سیف بن عمر التمیمی، عبدالله بن داؤد الخریبی، عبدالرحمن بن محمد المحاربی، عیسی بن یونس، مروان بن معاویه الفراری وغیرهم رحمهم الله شامل دی.
امام احمد بن حنبل رحمه الله وغیره دَ دوی توثیق کړې دې. یحیی بن معین رحمه الله دَ دوی باره کښې وائی: ثقة. ابن حبان رحمه الله دَ دوی ذکر کتاب الثقات کښې کړې دې. دَ دوی وفات ۱۴۰ هجری نه ۱۵۰ هجری په مینځ کښې یو کال کښې شوې دې.[1]

④ ابی حازم رحمه الله: دا ابوحازم سلمان الاشجعی الکوفی عزة الاشجعیه رحمه الله دې. واضحه دې وی چه په دې سند کښې کوم حازم دې دَ دې نه مراد ابوحازم سلمان الاشجعی رحمه الله دې. نه چه ابوحازم سلمة بن دینار رحمه الله. دَ دې تصریح علامه ابن حجر رحمه الله او علامه عینی رحمه الله وغیره کړې ده.[2]

فائده: دَ ابوحازم کنیت والا یو بل راوی سلمة بن دینار الاعرج رحمه الله دې. په دې دواړو راویانو کښې اشتباه راځی ځکه چه په کنیتونو کښې اشتراك دې. دواړه تابعیان دی. دواړه دَ صحابه کرامو نه روایت کوی او دواړه ثقه هم دی. البته په دواړو کښې دا فرق دې چه دَ ابوحازم سلمان الاشجعی انتقال دَ اولې صدئی په اختتام باندې یعنی دَ حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله په دور خلافت کښې شوې دی او دَ ابوحازم سلمة بن دینار انتقال ۱۳۵ھ کښې شوې دې. دویم فرق دا دې چه دَ ابوحازم سلمان الاشجعی روایتونه په صحیحین کښې صرف دَ حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه دی او ابوحازم سلمة بن دینار سوا دَ حضرت سهل بن سعد رضی الله عنه دَ بل یو صحابی نه روایت نه دې اخستې. والله اعلم.[3]
دَ دغه دواړو حضراتو دَ پیژندګلو یو طریقه دا هم ده چه په کوم سند کښې دَ ابوحازم رحمه الله شیخ، حضرت ابوهریره رضی الله عنه وی نو دَ هغه ابوحازم نه مراد سلمان الاشجعی رحمه الله دې. او که چرې دَ هغه شیخ، حضرت سهل بن سعد رضی الله عنه وی نو دَ هغه ابوحازم نه مراد سلمه بن دینار اعرج کوفی رحمه الله دې.[4] تفصیل کشف الباری، کتاب العلم، باب: هل یجعل للنساء یوم علی حدة فی العلم دَ لاندې او ګورئی.[5]

---

[1] تهذیب الکمال: ۳۰۱/۲۳. سیر أعلام النبلاء: ۲۰۳/۶. التاریخ الکبیر لإمام البخاری: ۱۲۲/۷. الجرح والتعدیل: ۷۴/۷. تهذیب التهذیب: ۲۹۷/۷. تاریخ الإسلام: ۹۵۱/۳. الثقات لابن حبان: ۳۱۶/۷.
[2] فتح الباری: ۶۹۴/۱. عمدة القاری: ۲۹۴/۴.
[3] عمدة القاری: ۱۳۵/۲.
[4] إرشادالساری: ۴۳۸/۱.
[5] کشف الباری: ۱۰۱/۴.

⑤ ابی هريرة رضي الله عنه: دا مشهور صحابئ رسول حضرت ابوهريره رضي الله عنه دي. دَ دوی احوال كشف الباری، كتاب الإيمان، باب: أمور الإيمان لاندې تيرشوی دی.(١)

دَ حديث شرح: عن أبی هريرة، قال: لقد رأيت سبعين من أصحاب الصفة:
حضرت ابوهريره رضي الله عنه اوفرمائيل چه ما دَ اصحاب صفه نه اويا كسان ليدلی دی.

قوله: لقد رأيت: دَ صحيح بخاری په نورو نسخو كښې دَ "لقد" نه بغيرصرف دَ "رأيت" لفظ دې.(٢)

قوله: سبعين من أصحاب الصفة: دا اويا اصحاب رسول صلى الله عليه وسلم دَ هغه اوياؤ صحابه كرامو نه علاوه دی كوم چه په دهوكې سره دَ بير معونه په مقام باندې شهيدان كړې شوې وو. ځكه چه هغوی خود ابوهريره رضي الله عنه دَ اسلام قبلولو نه مخكښې شهيدان كړې شوې وو.(٣)

دَ اصحاب صفه تعداد: دَ اصحاب صفه دَ تعداد باره كښې اختلاف دې. دَدې وجه داده چه داخلق به دَ علم زده كولو دَ پاره راتلل او په صفه كښې به ئې قيام فرمائيلو بيا به تلل. دَدې په وجه به دَ هغوی تعداد زياتيدو او كميدو. كله كله خو به دَ هغوی تعداد دوو سوو پورې رسيدلو او په عام توګه به اوياؤ پورې دَ هغوی تعداد وو.

دَ مدارسو او خانقاهونو اصل: هم دغه صفه دَ مدرسې والو او خانقاه والو اصل دې. دَمدارسو اصل خو په دې وجه دې چه خلق به دَ علم دَ زدكړې دَپاره راتلل. اودَ خانقاه اصل په دې وجه دې چه دَدغه حضرات صحابه كرامو رضي الله عنهم اصل مقصد دَ حضورپاك نه روحانی فيض حاصلول وو. اودا اشكال دلته نه راځی چه بعضې علماؤ مدارس بدعت حسنه شمير كړی دی. ځكه چه دَ مدارسو خاص هيئت، دَ مدرسينو كيدل يا دَ ملازمينو كيدل، دَ وختونو پابندی وغيره دا هر څه هلته نه وو نولكه چه هيئت خاصه حادث دې. او اصل تعليم او متعلمين خود حضورپاك دَ زمانې نه دی. هم دغه شان دَ خانقاه حال دې چه دا هيئت خاصه نه وو.(٤)

قوله: ما منهم رجل عليه رداء: چه په هغوی كښې چا سره هم (دَ پاسه دَ اچولو) څادر نه وو.

قوله: رداء: دَ راء په كسرې سره هغه څادر په كوم سره چه دَ بدن پورتنې حصه پټولې شی.(٥)

---

(١) كشف الباری: ٦٥٩/١.
(٢) إرشادالساری: ٤٣٨/١.
(٣) عمدة القاری: ٢٩٤/٤. إرشادالساری: ٤٣٨/١.
(٤) الكنزالتواری: ١٥٦/٤ سراج القاری: ٣٥/٣.
(٥) فتح الباری: ٦٩٤/١ عمدة القاری: ٢٩٤/٤ إرشادالساری: ٤٣٨/١. علامه سيد فخرالدين احمد صاحب رحمه الله فرمائی چه يوه ترجمه خوداده چه دَ بدن دَ پورتنې حصې دَ ستر دَپاره هيڅ څه مستقل كپړا نه وه بلكه يوه كمبله به وه. كومه چه به هغوی په ستْ كښې غوټه وركولوسره تړله او دَ ټول بدن دَ ستر دَپاره به ئې استعمالوله. او يوه ترجمه شيخ الاسلام دهلوی رحمه الله كړې ده: "نبود از ايشان مردے كه بروے چادرے باشد بالائے ازار". (شيخ الاسلام، ٤١١/١)، په هغوی كښې يو سړې هم داسې نه وو چه هغه سره دَ لنګ سره دَ پاس اچولو دَ پاره څادر وی. دا ترجمه زياته صفا ده چه چا سره هم دَ بدن دَ دواړو حصو دَ پاره جدا جدا لباس نه وو. (ايضاح البخاری: ١٩٤/٣).

قوله: إما إزاروإما كساء،قدربطوافي أعناقهم: يا دَ هغوی سره لنګ وو يا (دَ بدن دَ پټولو دَپاره) یوه کمبله، کومه چه هغوی دَ سټ نه (لاندې پورې) تړلې وه.

قوله: إما إزار: مطلب دادې چه صرف ازار يعنی لنګ به وو دَ پورته حصې دَ پاره څادر وغيره نه وو.[1]

قوله: إما كساء: مطلب دا چه صرف څادر يا كمبل وغيره به وه لنګ او ازار به نه وو.[2]

قوله: قدربطوا: دَدې فعل مفعول ضمير محذوف دې كوم چه "الكساء" طرف ته راګرځی. دا فعل جمع ځکه راوړلې شو چه "الرجل" جنس دې چه دَ واحد او جمع دواړو دَپاره استعماليږي. لهذا دَ جمع په اعتبارسره ئی اووئيل: قدربطواالأكسية.[3]

قوله: فمنها ما يبلغ نصف الساقين،ومنها ما يبلغ الكعبين،فيجمعه بيده،كراهية أن تري عورته: اودا به په هغوی کښې دَ چا دَ ګيټو پورې رسيدلو اودَ چا به دَ پنډو پورې رسيدلو (دَ رکوع سجدې په وخت به ئی) هغه په لاس باندې نيولو چه چرته دَ هغوی شرمګاه ښکاره نه شی.

قوله: فمنها: کښې دَ هاء ضمير مرجع "الأكسية" دې. جمع په دې اعتبار سره چه "الكساء" پخپله اسم جنس دې دَ کوم اطلاق چه په واحد او جمع هرو دوؤ باندې کيږی.[4]

قوله: فيجمعه: أى: الواحد منهم، يعنی په دغه فقيرانو صحابه کرامو کښې دَ چا چه به دغه پورته ذکر شوې حالت وو، هغه به په خپلو لاسونو دغه څادر راغونډولو.[5]

قوله: بيده: په دې مقام باندې دَ اصيلی په نسخه کښې څه اضافه ده او هغه دا ده: "حال كونهم في الصلاة" يعنی دَ هغوی په داسې شان سره په خپلو لاسونو خپل څادر راغونډول به په دې وجه وو چه چرته دَ څادر کولاويدو سره عورت راښکاره نه شی.[6]

دَ حديث مبارک دَ ترجمة الباب سره مطابقت: دَ مذکوره حديث شريف دَ ترجمة الباب سره مطابقت دَ حديث دَدې لفظ "اصحاب صفه" په وجه دې. هغه داسې چه کله دَ دغه صحابه کرامو ﷺ استوګنه او وخت تيرول هم په دغه صفه کښې وو چه دَ شرعی جمات حصه وه نو يقيناً دَ هغوی شپه تيرول به هم هلته وو او هم دغه خبره دَ ترجمة الباب ده.

خلاصه دا چه په دې باب کښې ذکر شوی دواړه تعليقاتو او دريواړو احاديثو نه دا ثابتيږی چه دَ سړو په جمات کښې اوده کيدل جائز دی. ليکن په دې باندې ځان په ښه شان سره پوهه

---

[1]) فتح الباری: ۶۹۴/۱ عمدة القاری: ۲۹۵/۴ إرشادالساری: ۴۳۸/۱.
[2]) فتح الباری: ۶۹۴/۱ عمدة القاری: ۲۹۴/۴ إرشادالساری: ۴۳۸/۱.
[3]) فتح الباری: ۶۹۴/۱ عمدة القاری: ۲۹۴/۴ إرشادالساری: ۴۳۸/۱.
[4]) فتح الباری: ۶۹۴/۱ عمدة القاری: ۲۹۴/۴ إرشادالساری: ۴۳۸/۱.
[5]) فتح الباری: ۶۹۴/۱ عمدة القاری: ۲۹۴/۴ إرشادالساری: ۴۳۸/۱.
[6]) فتح الباری: ۶۹۴/۱ عمدة القاری: ۲۹۴/۴ إرشادالساری: ۴۳۸/۱.

كول پكاردى چه په دې باب سره د امام بخارى رحمه الله مقصود ترغيب وركول نه دى چه په جمات كښې اوده كيږئى بلكه مقصود ئى دادې چه د اوده كيدو دا اجازت صرف د ضرورت په وخت دې ځكه چه د جماتونو اصلى مقصد عبادت دې.

۲۶- بَابٌ: اَلصَّلاَةِ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ

دا باب د سفر نه په واپسئ باندې د مونځ كولو په بيان كښې دې.

د ترجمة الباب مقصد: دَدې ترجمة الباب نه مقصود دَدې امر بيان دې چه كله انسان د سفر نه واپس راشى نو مستحب دادى چه كورته د تلو نه مخكښې جمات ته لاړشي او دوه ركعته نفل د شكرانې په توګه باندې اداكړى اودَدې نه پس كورته لاړشى. هم دَدې استحباب بيانولو په غرض باندې دا باب قائم كړې شوې دې. په دې موقع باندې ادا كيدونكى مونځ د تحية القدوم من السفر په نوم سره پيژندلې شى.

علامه عينى رحمه الله فرمائى چه دا ابواب كوم چه شروع دى دا اكثر هم د جمات سره متعلق دى. لهذا د ابوابو په خپل مينځ كښې مناسبت هم يو دې يعنى جمات سره د تعلق. لهذا دَدې مناسباتو په لټون كښې دې پسې دلګيدلو ډير ضرورت نشته دې. (۱)

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائى چه دې ته تحية القدوم من السفر وائى. دا د انمو په نيز هغه وخت دى چه كله انسان د سفر نه واپس راشى نو اول دې جمات ته لاړشى دوه ركعته تحية السفر دې اوكړى دې د پاره چه شروع د مبارك مقام نه اوشى او بركت حاصل شى او په دې وجه هم چه خلق په عام توګه په جماتونو كښې راجمع كيږى نو هغوى سره ملاقات هم كيږى. (۲)

تعليق: وَقَالَ كَعْبُ بْنُ مَالِكٍ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ بَدَأَ بِالْمَسْجِدِ فَصَلَّى فِيهِ. [ر: ۴۱۵۶]

د تعليق ترجمه: حضرت كعب بن مالك رضى الله عنه اوفرمائيل چه نبى كريم ﷺ به كله د سفر نه واپس تشريف راوړو نو د تلو نه مخكښې به ئى جمات ته تشريف اوړلو او هلته به ئى (دوه ركعته) مونځ اداكولو.

---

(۱) أي: هذا باب في بيان الصلاة إذا قدم الرجل من سفر، وغالب الأبواب في هذا الموضع فيما يتعلق بالمساجد فلا يحتاج إلى زيادة طلب وجوه المناسبات، فيها.(عمدة القارى: ۲۹۵/۴).

(۲) د تقرير بخارى شريف: ۱۶۵/۲-۱۶۴. تقرير بخارى شريف په حاشيه كښې د تقرير مولوى احسان په حواله سره دا تفصيل موجود دې: د آداب سفر نه دادى چه كله واپس راشى نو اول دې جمات ته لاړ شى تحية المسجد دې اوكړى او ځه وخت دې هلته كينى چه دوستانو وغيره سره ملاويدو كښې څه تكليف نه وى. صرف مونځ كول خود هر يو د پاره مندوب دى او د مانځه نه پس كيناستل صرف د هغه چا د پاره دى د چا چه دوستان وغيره زيات وى. دَدې باب په حديث كښې د قدوم من السفر ذكر نشته دې. ليكن د امام بخارى رحمه الله په اصولو كښې استدلال بالعموم هم دې. او هم دا حديث به وړاندې شى په كوم كښې چه د سفر ذكر دې. (حاشيه تقرير بخارى شريف: ۱۶۵/۲).

دَتعليق تخريج: دا تعليق دَ سند سره پخپله امام بخاري رحمه الله په صحيح البخاري كښې هم دَ غزوه تبوك په بيان كښې ذكركړې دې. په كوم كښې چه دَحضرت كعب بن مالك رضي الله عنه اودَ هغه دوؤ نورو ملګرو رضي الله عنهم په غزوه تبوك كښې دَ نه شريكيدو قصه بيان كړې شوې ده. هم په دې كښې چه چرته حضرت كعب رضي الله عنه دَخپلې توبې تفصيلي قصه نقل كړه هم هلته هغوى دا ذكر كړې دى چه دَ حضورپاك دا معمول وو چه كله به ئى دَ يو سفر نه واپس تشريف راوړلو نو دَ ټولو نه مخكښې به ئى جمات ته تشريف اوړلو او هلته به ئى دوه ركعته مونځ ادا كړو څه وخته پورې به ايسار شو. تلونكو راتلونكو سره به ئى ملاقات كولو اودَدې نه پس به ئى خپل كورته تشريف اوړلو.(١)

دَ تعليق راوى: په دې تعليق كښې هم يو راوى دې:

حضرت كعب بن مالك رضي الله عنه: دا صحابئ رسول دې. دَ دوى پوره نوم عمرو بن القين بن كعب بن سواد بن غنم بن كعب ابن سلمه الانصارى الخزرجى العقبى الاحدى دې.

دَ دوى نه روايت كونكوكښې دَ دوى خپل خامن، عبدالله، عبدالرحمن، عبيدالله، محمد، بنوكعب، جابر، ابن عباس، ابوامامه، عمر بن الحكم. عمر بن كثير بن افلح، اودَ دوى نمسى عبدالرحمن بن عبدالله، وغيرهم رحمهم الله شامل دى.

عبدالله بن احمد بن حنبل رحمه الله فرمائي چه په زمانه د جاهليت كښې دَ دوى كنيت ابوالبشير وو. دَ اسلام نه پس نبى كريم صلى الله عليه وسلم دَدوى كنيت ابوعبدالله كيخوذو. دې نه علاوه دَ دوى دَ كنيت باره كښې يو قول دَ ابوعبدالرحمن هم دې.

دَ ابن ابى حاتم رحمه الله بيان دې چه دې دَ اهل صفه نه وو دَ ډير مشهور شاعر وو دَ ابن سيرين رحمه الله بيان دې چه دَ نبى كريم صلى الله عليه وسلم درې لوئى مشهور شاعران وو: حسان بن ثابت، عبدالله بن رواحه اوكعب بن مالك رضي الله عنهم. دَ دوى دَ پلار دَ دوى نه علاوه نو اولاد نه وو. دې دَ هغه اوياؤ كسانو نه وو چه په بيعت عقبه كښې شريك شو، په غزوه بدر كښې دوى نه وو شريك شوى. دَهغې نه پس غزوه احد او نوروغزواتو كښې شريك شو. په غزوه احد كښې چه كله دَ نبى كريم صلى الله عليه وسلم دَ شهادت دَ دروغو خبره خوره شوه نوحضرت كعب رضي الله عنه فرمائي چه هغه وخت دَ ټولو نه رومبې سړې زه ووم چاچه رسول الله صلى الله عليه وسلم ژوندې اوپيژندلو نو ما په اوچت آواز سره مؤمنانو ته دَ نبى پاك عليه السلام دَ ژوندى اوصحيح سلامت كيدو زيرې وركړو. هم په دې غزوه كښې هغوى رضي الله عنه ته دَ اوياؤ نه زيات زخمونه لګيدلى وو. بيا په غزوه تبوك كښې هم نه وو شريك شوي. بيا دَ اوردې مودې (٥٠ ورځو) نه پس الله تعالى دَ هغوى توبه قبوله كړه. دَ كومې تفصيلي قصه چه پخپله بيانوى كومه چه امام بخارى رحمه الله په خپل صحيح كښې نقل

---

(١) هذا التعليق ذكره البخارى فى صحيحه فى غزوة تبوك، وهو حديث طويل، برويه عن يحيى بن بكير عن الليث عن عقيل عن ابن شهاب عن عبدالرحمن بن عبد ابن كعب بن مالك: أن عبدالله ابن كعب بن مالك، وكان قائد كعب من بنيه حين عمى، قال: سمعت كعب بن مالك يحدثنى تخلف عن غزوة تبوك....... الحديث بطوله، يأتى إن شاء الله تعالى، وفيه. "وأصبح رسول الله قادما، وكان إذا قدم من سفر بدا بالمسجد فركع فيه ركعتين ثم جلس للناس". الحديث. (عمدة القارى: ٤/٢٩٥).

كړي ده.(١)

(١) دَ صحيح بخاري دَدغې اوږد ايمان تازه كونكى حديث ترجمه په فوائد كثيره باندې دَمشتمل كيدو دَ وجې نه دلته مكمل ذكر كولې شي.
عبدالرحمن بن عبدالله دَ خپل پلار عبدالله بن كعب نه چه خپل پلار به ئې دَ نابينا كيدو دَ وجې مخ نيولو او ګرځولو به ئې روايت كوي چه ما دَ كعب بن مالك رضي الله عنه نه واؤريدل چه هغوى اوونيل چه زه حضورپاك سره په ټولو جنګونو كښې حاضر ووم. مګر په تبوك او بدر كښې شاته پاتې شوم. مګر په بدر كښې شاته پاتې كيدونكو باندې دَ الله تعالى عتاب اونه شو. په جنګ بدر كښې دَ حضورپاك غرض دا وو چه دَ قريشو دَ قافلې تعاقب اوكړي شي. دښمنان الله تعالى ناڅاپى رامخامخ كړل او جنګ اوشو. زه په ليلة العقبه كښې دَ رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضر شوم. حضورپاك دَ ټولو نه په اسلام باندې دَ قائميدو وعده واخستله اوماته خوليلة العقبه دَ جنګ بدرپه مقابله كښې عزيز ده. اګرچه جنګ بدر ته په خلقو كښې زيات شهرت او فضيلت حاصل دې.
او په جنګ تبوك كښې دَ نه شريكيدو وجه داده چه دَدې نه مخكښې چرته هم ماسره دوه سورلۍ نه وې جمع شوې. مګر په دغه غزوه كښې زه دَ دوو سورلو مالك جوړ شوم. دې نه علاوه دَ حضورپاك دا دستور وو چه كله به ئې دَ جنګ خيال كولو نو صفا صفا پته او نښه او ځائي به ئې نه ښودلو بلكه څه په ګول مول الفاظو كښې به ئې ښكاره كول دې دپاره چه نور خلق ئې بل مقام اوګڼړي. غرض دا چه كله دَ جنګ وخت راغلو نو ګرمي ډيره سخته وه. لاره ډيره اوږده او بې اوبو او بې ګيا وه. دَ دښمن تعداد زيات وو. لهذا حضورپاك مسلمانان په پوره توګه باندې خبر كړل چه مونږ تبوك ته ځو دې دپاره چه تيارى اوكړي. هغه وخت حضورپاك سره په ګڼړ شمير كښې مسلمانان موجود وو مګر څه داسې كتاب وغيره نه وو چه په هغې كښې دَ ټولو نومونه ليكلې شوى وى. كعب رضي الله عنه وائى چه يو مسلمان داسې نه وو چه په دې جنګ كښې ئې شريكيدل نه غوښتل مګر دې سره به ئې دا خيال هم كولو چه دَ چا غيرحاضرى حضورپاك ته تر هغه وخته پورې نه شي معلوميدې تركومې پورې چه وحي رانه شي.
غرض دا چه حضورپاك دَ جنګ تيارې شروع كړو اودا هغه وخت وو چه ميوه پخيدله او په سورى كښې كيناستل ښه لګيدل. ټولو تيارې كولو مګر ما به هر سحر دا سوچ كولو چه زه به تيارې اوكړم څه تادى ده؟ زه خو هروخت تيارې كولې شم. دغه شان ورځې تيريدلې. يوسحر حضورپاك روان شو. ما وئيل چه دوى پريږده چه ځى زه به يو ورځ، دوؤ كښې تيارې اوكړم او په لاركښې به دوى سره شامل شم. غرض دا چه بل سحر ما تيارې كول غوښتل مګر اومې نه كړې شو او زه هم داسې پاتې شوم. په دريمه ورځ هم دغه شان اوشو او بيا زما هم دغه حال شو. اوس ټول خلق ډير لرې وتلى وو. ما خو ځل اراده اوكړه چه حضورپاك سره ملاؤ شم مګر په تقدير كښې مې نه وه. افسوس چه دامې كړې وې.
چنانچه دَ حضورپاك دَ تلو نه پس چه به زه په مدينه كښې ګرځيدم نوماته به يا منافقان ښكاريدل او يا به هغه خلق ښكاريدل ځوك چه كمزورې اوضعيفان او بيماران وو. ماته به ډير افسوس كيدلو. حضورپاك په لاره زه چرته هم ياد نه كړم. البته چه تبوك ته اورسيدو او ټولو خلقو كښې كيناستو نوحضورپاك اوفرمائيل كعب بن مالك چرته دې؟ دَ بنى سلمه يو سړى عبدالله بن انيس رضي الله عنه اووئيل چه يا رسول الله ﷺ هغه خو په خپل حسن اوجمال باندې ناز كولود وجې پاتې شوې دې. نومعاذ رضي الله عنه اووئيل تا ښه خبره اونه كړه. په الله قسم! اې دَ الله رسوله! مونږ خو هغه ښه سړې ګڼړو. حضورپاك چه دا واؤريده نوخاموش شو. دَ كعب بن مالك رضي الله عنه بيان دې چه كله ماته دا معلومه شوه چه حضورپاك راروان دې نوما سوچ كولو چه څه داسې حيله او بهانه په لاس راشي چه دَ حضورپاك دَ غصې نه ما بچ كړې شي. بيا ما دَ خپل كور هوښيارانو خلقو سره مشوره اوكړه چه تاسو هم په دې سلسله كښې څه سوچ اوكړئى. خو چه كله دا خبره معلومه شوه چه حضورپاك مدينې ته بالكل رانيږدې شوې دې نوزما دَ زړه نه ددې حيلې دا خيال لرې شو او ما يقين اوكړو چه دروغ مې دَ نبى پاك ﷺ دَ غصې نه بچ كولې نه شي.
سحر حضورپاك مدينې ته تشريف راوړو اوَدَ حضورپاك طريقه داوه چه دَ سفرنه به كله ....

...... واپس شو نو اول به جمات ته تلو او دوه رکعته مونځ به ئې کولو. اوس چه کوم خلق شاته پاتې شوي وو هغوي راتلل شروع شو او خپل خپل عذرونه ئې بيانول او قسمونه ئې خوړل. دا خلق اتيا کسان وو يا ددې نه څه زيات. حضورپاك د هغوي نه د دوي عذرونه قبول کړل او د هغوي نه ئې دوباره بيعت واخستو او د هغوي د پاره ئې د مغفرت دعا اوکړه او د هغوي د زړونو خيالات ئې الله تعالى ته حواله کړل.
کعب رضي الله عنه وائي چه زه هم راغلم السلام عليکم مې اووئيل. حضورپاك به داسې مسکا سره په کوم کښې چه غصه هم شامله وه جواب راکړو وئې فرمائيل راشه. زه مخې ته لاړم کيناستم. حضورپاك زمانه تپوس اوکړو کعبا ته ولې شاته پاتې شوې؟ حالانکه تا خود سورلۍ هم انتظام کړې وو. ما عرض اوکړو ستاسو فرمائيل صحيح دي. زه که چرې د بل چا مخې ته ووم نوممکن وه چه هغه ته مې څه بهانه وغيره کولو سره دروغ وئيلي وې خکه چه زه ښه وئيلي هم شم مګر الله ګواه دې چه زه پوهيږم که ما دروغ وئيلو سره تاسو راضي کړئي نو صبا به الله تعالى تاسو زمانه ناراضه کړي په دې وجه به زه هم رښتيا وايم که تاسو په ما باندې غصه ولې او نه کړئي. راتلونکي وخت کښې خو به د الله تعالى نه مغفرت او د بخښش اميد پاتې وي. په الله قسم زه قصور وار يم حالانکه په مال او دولت کښې څوك هم زما برابر نه دى مګر ماسره ددې هرڅه موجوديدو باوجود زه شريك نه شوم.
حضورپاك دې اوريدو سره اوفرمائيل کعب صحيح خبره بيان کړه. ښه ده زه او د الله تعالى د حکم په خپل حق کښې انتظار کوه. غرض زه پاسيدم او لاړم نود بنى سلمه خلق هم ماسره شو او وئې وئيل چه مونږ خو تراوسه پورې ستا هيڅ ګناه نه ده ليدلې. تا به هم د نورو خلقو په شان د حضورپاك په مخکښې څه بهانه پيش کړې وه. نو د حضورپاك دعا او مغفرت به ستا د پاره کافي شوې وې. هغوي يو شان ماته هم دغه وئيل تردې چه زما په خيال کښې راغله چه واپس حضورپاك له لاړشم او اولنې خبره غلطه ثابتولو د پاره څه بهانه پيش کړم. بيا ما د هغوي نه تپوس اوکړو چه آيا نور هم څوك شته؟ چا چه زما په شان د خپلې ګناه اعتراف کړې دې. هغوي وئيل چه او دوه کسان نور هم دي چا چه اقرار اوکړو او حضورپاك هغوي ته هم دغه اوفرمائيل څه ئې چه تاته فرمائيلي دي. ما د هغوي د نومونو تپوس اوکړو نو وئې وئيل يو مراره بن ربيع عمروي رضي الله عنه او دويم هلال بن اميه واقفي رضي الله عنه دي. دا دواړه نيکان وو او په جنګ بدر کښې شريك شوي وو. د هغوي سره ملاويدل په ما ښه لګيدل. غرض دا چه د دغه دوو کسانو نومونه اوريدو سره زما تسلي اوشوه او زه لاړم.
رسول الله ﷺ ټول خلق منع کړي وو چه دغه دريو کسانو سره به څوك خبرې نه کوي. مګر نور شاته پاتې کيدونکو او د دروغو بهانې پيش کونکو د پاره داحکم نه وو. آخر خلقو زمونږ نه جدا اوسيدل شروع کړه او مونږ داسې شو چه مونږ هډو څوك پيژني نه. لکه چه زمکه او آسمان بدل شوې وي. غرض ٥٠ شپې په دې کښې دغه شان تيرې شوې. زما دواړه ملګرى خو په کور کښې کيناستل مګر زه د همت والا ووم راوتلم به. د جمع په مونځ کښې به شريکيدم، بازار وغيره ته به تلم مګر چا به راسره خبره نه کوله.
زه به نبى کريم ﷺ له هم راغلم هغوي به په خپله مصله باندې تشريف فرما وو. ما به سلام کولو او ماته به داسې شبه کيدله چه د حضورپاك شونډې مبارکې خوزيږي کيدې شي د سلام جواب راکوي. بيا به ما د حضورپاك سره نيزدې مونځ کول شروع کړه مګر د سترګې پټولو سره به مې حضورپاك ته هم کتل چه حضورپاك څه کوي. کله به چه زه په مانځه ووم نو حضورپاك به ماته کتل او کله چه به زما نظر هغوي سره ملاويدو نو حضورپاك به مخ واړولو. په دې حال کښې موده تيره شوه او زه د خلقو د خاموشۍ نه تنګ شوم. بيا د خپل تره خوئى حضرت ابو قتاده رضي الله عنه له باغ ته راغلم او سلام مې اوکړو. د هغه ماسره ډيره مينه وه مګر په الله قسم هغه زما د سلام جواب رانه کړو. ما هغه ته اووئيل اې ابوقتاده ته ما د الله اود هغه د رسول طرفدار ګنړې او که نه؟ مګر هغه جواب رانه کړو. بيا ما قسم خوړلو سره هم دغه خبره اوکړه مګر جواب ملاؤ نه شو ما په دريم ځل هم دغه اوکړه نو ابوقتاده رضي الله عنه صرف دومره جواب راکړو الله اود هغه رسول ته ښه معلومه ده. بيا زه ټينګ نه شوم او اوښکې مې روانې شوې او واپس لاړم.
زه يوه ورځ بازار کښې روان ووم چه يو نصراني زميندار چه د شام د ملك او سيدونکې وو. د غلې خرڅولو د پاره راغلې وو هغه زما پته د چانه معلومولو نو خلقو زما طرف ته اشاره اوکړه چه ....

..... دغه کعب بن مالك رضي الله عنه دي. هغه ماله راغلو او دَ غسان دَ نصراني بادشاه يو خط ئې ماته راکړو په کوم کښې چه ليکلي وو چه ماته معلومه شوې ده چه ستاسو رسول په تا باندې ډيرزياتې کوي حالانکه الله تعالى ته ذليل کړې نه يې. ته ډير دَ کار سړې ئې، ته ماله راشه، مونږ به تا ډير په ارام سره اوساتو. ما ونيل دا بل ازميښت دې او بيامې هغه خط دَ اور په تنورکښې واچولو.

اوس لا ۴۰ ورځې تيرې شوې وې او لس ورځې پاتې وې چه دَ رسول الله ﷺ قاصد حزيمه بن ثابت رضي الله عنه راغلو ماته ئې اوونيل چه رسول الله ﷺ فرمائي چه ته دَ خپلې بي بي نه لرې اوسيږه. ما ونيل څه مطلب دې؟ طلاق ورکړم يا څه بل څه اوکړم؟ حزيمه رضي الله عنه ونيل بس جدا اوسيږه او کوروالي وغيره مه کوه. هم دغه شان حکم زما نورو دوو ملګرو ته هم شوې وو. غرض دا چه ما خپلې بي بي ته اوونيل ته خپلو خپلوانو کره لاړه شه ترڅو مې چه الله تعالى زما فيصله اونه کړي.

کعب رضي الله عنه وائي چه بيا دَ هلال بن اميه رضي الله عنه بي بي دَ حضورپاك په خدمت کښې حاضره شوه وئي ونيل اې دَ الله رسوله! هلال بن اميه رضي الله عنه زما خاوند ډير بوډا دې که زه دَ هغه کار خدمت کوم نو څه ګناه خو نشته دې؟ حضورپاك ونيل هيڅ هم نشته مګر هغه صحبت نه شي کولې. هغې عرض اوکړو حضورپه هغه کښې خوڅه داسې خواهش هم نشته دې.اودکله نه چه داخبره شوې ده ژاړي اودهغه وخت نه دهغه هم داحال دې.

کعب رضي الله عنه وائي چه ماته زما رشته دارو اوونيل چه ته هم حضورپاك له لاړشه دَ خپلې بي بي باره کښې هم داسې اجازت حاصل کړه دې دَ پاره چه هغه ستا خدمت کوي. لکه څنګه چه دَ هلال رضي الله عنه بي بي ته اجازت ملاؤ شو. ما ونيل په الله قسم زه چرې هم داسې نه شم کولې. معلومه نه ده چه حضورپاك به څه فرمائي. زه ځوان سړې يم دَ هلال رضي الله عنه په شان ضعيف نه يم. غرض دا چه دې نه پس هغه لس شپې هم تيرې شوې او زه دَ پنځوسمې شپې دَ سحرد مونځ نه پس خپل کور سره ناست ووم اوداسې ښکاريدله چه ژوند مې سخت شوې دې او زمکه زما دَپاره باوجود دَ وسعت تنګه شوې ده چه په دې کښې دَ سلع غر نه يو آواز کونکي په چغه سره اوونيل چه اې کعب بن مالك رضي الله عنه تاته زيرې درکولې شي. ددې آواز په اوريدو سره زه دَ خوشحالۍ نه په سجده راپريوتلم او يقين مې اوکړو چه اوس دا مشکل آسان شو. څکه چه حضورپاك دَ سحر دمونځ نه پس خلقو ته اوفرمائيل چه الله تعالى ستاسو قصور معاف کړې دې. اوس خو خلق ما له او زما هغه ملګرو له دَ زيرې او مبارکبادئې دَپاره راتلل. او يو سړې زبير بن عوام رضي الله عنه خپل اس زغلولو سره ماله راغلو او يو بل سړې دَ بني سلمه په سلع غر باندې اوختلو اود هغه آواز زر زما غوږونو ته اورسيدلو. دغه وخت زه دومره خوشحال شوم چه خپلې دوه کپړې مې اوويستلې او هغه ته مې ورکړې. ما سره ددغې نه علاوه نورې څه کپړې نه وې. ما دَ ابوقتاده رضي الله عنه نه دوه کپړې واخستې او وامې غوستلې. بيا دَ حضورپاك په خدمت کښې حاضر شوم. په لاره کښې دَ خلقو ډيره ګڼړه وه چه ما ته ئې مبارکې راکوله او ونيلې ئې چه دَ الله تعالى دغه انعام تاته مبارك شه. کعب رضي الله عنه وائي چه زه جمات ته لاړم حضورپاك هلته تشريف فرما وو او نور خلق هم ناست وو. طلحه بن عبيدالله رضي الله عنه زما په ليدو رامنډې کړې ماسره ئې لاس ملاؤ کړو، بيائې مبارکې راکړه. په مهاجرينو کښې داکار صرف طلحه رضي الله عنه اوکړو. الله ګواه دې چه زه به دَ هغه دا احسان کله هم هير نه کړم. کعب رضي الله عنه وائي چه بيا ما حضورپاك ته سلام اوکړو اود حضورپاك مخ مبارك دَ خوشحالۍ نه پرقيدو نو حضورپاك اوفرمائيل اې کعب دا نن ورځ دې تاته مبارك شي کومه چه دَ تولو نه ښه ده ستاد پيدا کيدو نه تر نن پورې. ما عرض اوکړو چه حضور دا معافي دَ الله تعالى دَ طرف نه شوې ده که ستاسو دَ طرف نه؟ وئې فرمائيل دَ الله تعالى دَ طرف نه معاف کړې شوې. او حضورپاك چه به کله خوشحاله وو نو مخ مبارك به ئې دَ سپوږمۍ په شان پرقيدو. اومونږ به دَ حضورپاك خوشحالي پيژندله.

بيا ما دَ حضورپاك مخې ته کيناستو سره عرض اوکړو اې دَ الله تعالى رسوله! زه دَ خپل خلاصي او معافۍ په شکريه کښې خپل ټول مال دَ الله اود هغه دَ رسول ﷺ دَپاره خيرات نه کړم؟ حضورپاك اوفرمائيل لږ شان اوکړه او څه دَخپل ځان دَ پاره هم اوساته څکه چه دا ستا دَپاره فائده مند دې. ما عرض اوکړو ټيك ده زه خپله دَ خيبر حصه پاتې کوم. ما بيا عرض اوکړو اې دَ الله رسوله! ما دَ رښتيا ونيلو په وجه خلاصي بياموندو. اوس به زه ټول ژوند کښې هم رښتيا وايم. په الله قسم زه نه شم ونيلې......

د ابن اسحاق رحمه الله بیان دي چه کله د مدینې منورې طرف ته هجرت اوشو نو نبی کریم ﷺ د حضرت طلحه بن عبیدالله رضی الله عنه او د هغه په مینځ کښې مؤاخات قائم کړې وو. خود حضرت عروه رحمه الله بیان دې چه د حضرت زبیر رضی الله عنه او حضرت کعب رضی الله عنه په مینځ کښې مؤاخات قائم کړې شوی وو. د ابن سیرین رحمه الله بیان دې چه حضرت کعب رضی الله عنه دوه داسې شعرونه اوونیل چه د قبیلهٔ دوس د اسلام راوړلو سبب جوړ شو، هغه شعرونه دادی

قضينا من تهامة كل وتر وخيبرثُمّ اغمدنا السيوفا

تخيرها، ولونطقت لقالت قواطعهن: دوسًا أوثقيفًا

یعنی مونږ د تهامه اوخیبر نه هر طاق کارکولو سره تورې په تیکوکښې کړې که چرې د هغې ژبې وې نومونږ ته به ئې ویئلی وی، چه دوس او ثقیف والو لره به ددې تورو نه زیاتې بهرې کونکې وې

کله چه قبیلهٔ دوس ته داخبره معلومه شوه نوهغوی اوونیل چه د خپل بچاؤ سامان تیارکړئی داسې نه وی چه کوم آفت په ثقیف باندې راغلې دې هسې نه چه په تاسو باندې راشی کله چه حضرت علی بن ابی طالب رضی الله عنه شهید کړې شو هغه وخت دوی وفات شو. د معاویه رضی الله عنه په خلافت کښې نابینا شوې وو. بخاری رحمه الله ددوی د وفات مختصر ذکرکړې دې چه هغوی د حضرت عثمان رضی الله عنه مرثیه کړې ده. مونږ ته دحضرت علی اومعاویه رضی الله عنهما د جنګ باره کښې د هغوی هیڅ خبره معلومه نه شوه. د بغوی رحمه الله قول دې چه ماته دا خبره معلومه شوې ده چه هغه د حضرت معاویه رضی الله عنه په خلافت کښې په شام کښې وفات شوې دی.(۱)

...... چه د رښتیا وئیلو په وجه الله تعالی په ما باندې داسې مهربانی فرمائیلې وی لکه څنګه ئې چه په ما کړې ده. د هغه وخت نه کله نه چه ما رسول الله ﷺ ته رښتیا خبره کړې ده بیا د هغه وخت نه تردې وخته پورې ما دروغ نه دی وئیلی. او زه دا امید کوم چه الله تعالی به ما د دروغو نه بچ کوی او الله تعالی په خپل رسول ﷺ باندې دا آیت نازل کړو. ﴿لَقَد تَّابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنصَارِ﴾ [التوبة: ۱۱۷] یعنی الله تعالی نبی، مهاجرین او انصار معاف کړل په الله قسم د اسلام قبلولو نه پس ما ددې نه لوئی څه انعام، احسان نه دې لیدلې چه الله تعالی د حضورپاک په مخکښې ماته د رښتیا وئیلو توفیق راکړو او زه ئې د هلاک نه بچ کړم کنې د نورو خلقو په شان به زه هم تباه او هلاک شوی ووم چا چه حضورپاک ته دروغ اووئیل. د دروغو قسم ئې اوخوړلو نو بیا دا آیت نازل شو ﴿سَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَكُمْ إِذَا انقَلَبْتُمْ﴾ [التوبة: ۹۵] یعنی دا خلق دروغژن دی.

کعب رضی الله عنه وائی مونږ دریواړه د دغه منافقانو نه جدا یو کومو چه نه ده معلومه چه څومره بهانې جوړې کړې او د دروغو قسمونه ئې اوخوړل او حضورپاک د هغوی خبره قبوله کړه او د هغوی نه ئې بیعت واخستلو او د مغفرت دعا ئې ورته اوکړه خو زمونږ معامله ئې پریخوده تردې چه الله تعالی دا ایت نازل کړو: ﴿وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا﴾ [التوبة: ۱۱۸] یعنی دغه درې ئې معاف کړل کوم چه شاته پاتې شوی وو. ددې نه هغه خلق مراد نه دی چه په قصد سره پاتې شوې وو. بلکه مطلب دادې چه مونږ د هغوی نه شاته پاتې شو چا چه قسمونه اوخوړل، عذر ئې بیان کړو، او رسول الله ﷺ د هغوی عذر قبول کړو. (صحیح البخاری، کتاب المغازی، غزوة تبوک، باب: حدیث کعب بن مالک، وقول الله تعالی عزوجل: ﴿وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا﴾ رقم الحدیث: ۴۴۱۸)

(۱) الإصابة: ۴۵۶/۵ دارالکتب العلمیه. معرفة الصحابة لأبی نعیم: ۲۳۶۶/۵. أسدالغابة: ....

د تعلیق مقصد: د مذکوره تعلیق مقصد دادې چه د نبی اکرم ﷺ د عمل په ذریعه خپله مدعا یعنی ترجمة الباب ثابت شی. چنانچه کعب بن مالك رضی الله عنه ددې خبرې ذکراوکړو چه نبی کریم ﷺ به د سفرنه واپس راتللو نوجمات ته به ئې تشریف اوړلواوهلته به ئې دوه رکعته مونځ کولو. ددې تعلیق نه پس چه امام بخاری رحمه الله کوم حدیث راوړی دی په هغې کښې د نبی کریم ﷺ د قول نه د دغه دوؤ رکعتو د سفرثبوت دې. یعنی تعلیق سره خودا وهم کیدې شو چه دا د نبی ﷺ فعل دې په دې وجه به دا د حضورپاك خصوصیت وی لیکن په حدیث کښې د قولی حکم کیدو د وجې دا احتمال ختم شو.[1]

حدیث باب [حدیث نمبر ۴۳۲]

- ۴۳۲ـ حَدَّثَنَا خَلَّادُ بْنُ يَحْيَى قَالَ حَدَّثَنَا مِسْعَرٌ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَارِبُ بْنُ دِثَارٍ عَنْ جَابِرِ[2] بْنِ عَبْدِاللَّهِ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ -قَالَ مِسْعَرٌ أُرَاهُ قَالَ ضُحًى -فَقَالَ «صَلِّ رَكْعَتَيْنِ.» وَكَانَ لِي عَلَيْهِ دَيْنٌ فَقَضَانِي وَزَادَنِي.

د حدیث ترجمه: حضرت جابر رضی الله عنه اوفرمائیل چه زه د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم. حضورپاك په جمات کښې ناست وو. مسعر اووئیل چه زماخیال دې چه محارب

.... ۴۶۰/۴ – ۴۶۱. الاستیعاب فی معرفة الأصحاب: ۱۳۲۳/۳. مختصر تاریخ دمشق لابن عساکر: ۱۷۶/۵۰. سیرأعلام النبلاء: ۵۲۳/۲. التاریخ الکبیر: ۲۱۹/۷. الجرح والتعدیل: ۱۶۰/۷. تهذیب التهذیب: ۴۴۰/۸.

[1] فتح الباری: ۶۹۵/۱.

[2] أخرجه البخاری فی صحیحه فی کتاب العمرة، باب: لا یطرق أهله إذا بلغ المدینة، رقم الحدیث: ۱۸۰۱. وفی البیوع، باب شراء الدواب والحمیر، رقم الحدیث:۲۰۹۷. وفی الوکالة، باب إذا وکل رجل رجلاً أن یعطی شیئًا ولم یبین کم یعطی فأعطی علی ما یتعارفه الناس، رقم الحدیث: ۲۳۰۹. وفی الاستقراض، باب: من اشتری بالدین ولیس عنده ثمنه، رقم الحدیث: ۲۳۸۵. وباب: حسن القضاء، رقم الحدیث: ۲۳۹۴. وباب: الشفاعة فی وضع الدین، رقم الحدیث: ۲۴۰۶. وفی المظالم، باب: من عقل بعیره علی البلاط أو باب المسجد، رقم الحدیث: ۲۴۷۰. وفی الهبة، باب: الهبة المقبوضة وغیر المقبوضة والمقسومة وغیر المقسومة، رقم الحدیث: ۲۶۰۴-۲۶۰۳. وفی الشروط، باب: إذا اشترط البائع ظهر الدابة إلی مکان، رقم الحدیث: ۲۷۱۸. وفی الجهاد، باب: من ضرب دابة غیره فی الغزو، رقم الحدیث: ۲۸۶۱. وباب: استئذان الرجل الإمام، رقم الحدیث: ۲۹۶۷. وباب: الصلاة إذا قدم من سفر، رقم الحدیث: ۳۹۸۷. وباب: الطعام عندالقدوم، رقم الحدیث:۳۰۸۹، ۳۰۹۰وفی المغازی باب: ﴿ إِذْ هَمَّتْ طَّآئِفَتَانِ مِنكُمْ أَن تَفْشَلَا وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا ﴾ رقم الحدیث: ۴۰۵۲. وفی النکاح، باب: تزویج الثیبات، رقم الحدیث: ۵۰۸۰-۵۰۷۹.وباب لا یطرق أهل لیلهإذا أطال الغیبةمخافة أن یخونهمأو یلتمس عثراتهم، رقم الحدیث:۵۲۴۳، ۵۲۴۴ وباب: طلب ا لولد، رقم الحدیث: ۵۲۴۶-۵۲۴۵. وباب: تستحد المغیبة وتمتشط الشعثة، رقم الحدیث: ۵۲۴۷. وفی النفقات، باب: عون المرأة زوجها فی ولده، رقم الحدیث: ۵۳۶۷. وفی الدعوات، باب: الدعاء للمتزوج، رقم الحدیث: ۶۳۸۷ و مسلم فی صحیحه، فی صلاة المسافرین، باب: استحباب تحیة المسجد برکعتین وکراهة الجلوس قبل صلاتهما، وأنها مشروعة فی جمیع الأوقات، رقم الحدیث: ۷۱۵. وفی جامع الأصول، حرف الصاد، الکتاب الأول: فی الصلاة، القسم الثانی: فی النوافل المقرونة بالأوقات، الفصل الرابع: فی صلوات متفرقة، تحیة المسجد، رقم الحدیث: ۴۲۵۴، ۲۴۹/۶.

اوونيل چه د چاشت په وخت نو حضورپاك (حضرت جابر ﷺ ته) اوفرمائيل چه دوه ركعته مونځ اوكړه. (حضرت جابر ﷺ اوفرمائيل چه) زما څه قرضه نبي كريم ﷺ پورې وه نوحضورپاك ماته هغه قرضه اداكړه (اود هغه مقدار نه) نې نور زيات هم راكړه.

تراجم رجال: دَ مذكوره حديث په سند كښې څلور راويان دي.

① خلاد بن يحيى رحمه الله: دا ابومحمد خلاد بن يحيى ابن صفوان الكوفي السلمي رحمه الله دې.

دَدوى تفصيلي احوال كشف البارى، كتاب الغسل، باب: من بدأ بشق رأسه الأيمن في الغسل كښې تيرشوى دى.([1])

② مسعر رحمه الله: دا ابومسلمه مسعر بن كدام بن ظهير بن عبيده بن الحارث الهلالي العامري الكوفي رحمه الله دې. دَدوى تفصيلي احوال كشف البارى، كتاب الوضوء باب: الوضوء بالمد كښې تيرشوى دى.([2])

③ محارب بن دثار رحمه الله: دَدوى پوره نوم مُحارب بن دثار بن كُردوس بن قرواش السدوسي الكوفي رحمه الله دې. دې دَ يو لوئې جماعت نه دَ حديث روايت كوى. په دغه جماعت كښې جابر بن عبدالله، ابن عمر، عبدالله بن يزيد الخطمي، اسود بن يزيد رضي الله عنهم شامل دى. اودَ دوى نه روايت كونكو كښې مسعر، زبيد اليامى، شعبه، ثورى، قيس بن ربيع رحمهم الله اويو لوئې جماعت شامل دى.

دې دَ كوفې يو لوئې نوموړې قاضي وو. سفيان ثورى رحمه الله فرمائى چه ما دَ محارب بن دثار نه افضل څوك نه دې ليدلې. احمد بن حنبل رحمه الله او يحيى بن معين رحمه الله دَدوى توثيق كړې دى. ابن عيينه رحمه الله وائى چه ما محارب بن دثار په جمات كښې كيناستو سره فيصله كونكې ليدلې دې.

عبدالله بن ادريس رحمه الله دَ خپل پلار نه روايت كوى چه هغه حكم رحمه الله اوحماد بن سليمان رحمه الله دَ محارب بن دثار رحمه الله دَ فيصلو والا مجلس كښې ناست ليدلى دى. يو دَ هغه نه ښى طرف ته او بل گس طرف ته ناست وو. دَ محارب بن دثار رحمه الله وفات ۱۱۶ هجرى كښې شوې دې.([3])

④ جابر بن عبدالله رضي الله عنه: دا مشهور صحابئ رسول حضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه دې. دَدوى احوال كشف البارى، كتاب الوضوء، باب: من لم يرالوضوء إلا من المخرجين، من القبل والدبر كښې تيرشوى دى.([4])

---

[1] كشف البارى، كتاب الغسل، باب: من بدأ بشق رأسه الأيمن في الغسل

[2] كشف البارى، كتاب لوضوء باب: الوضوء بالمد.

[3] سير أعلام النبلاء: ۲۱۷/۵. التاريخ الكبير للبخارى: ۲۸/۷. الجرح والتعديل: ۴۱۶/۸. تاريخ الإسلام: ۲۹۷/۴. ميزان الاعتدال: ۴۴۱/۳. تهذيب التهذيب: ۴۹/۱۰. تاريخ دمشق لابن عساكر: ۵۴/۵۷. إكمال تهذيب الكمال: ۸۷/۱۱ الطبقات الكبرى لابن سعد: ۳۰۷/۶.

[4] كشف البارى كتاب الوضوء، باب: من لم يرالوضوء إلا من المخرجين، من القبل والدبر.

دَ حدیث شرح:

قوله: "قال مسعر أراه قال: ضحی": داکلام مدرج دې یعنی دادَ راوئ حدیث خپل کلام دې دَ حدیث حصه نه ده. "أراه" دَ همزې په ضمې سره دَ "أظن" په معنی دې او دَ "ه" ضمیر مرجع محارب بن دثار رحمه الله دې.(١) مطلب به داشي چه محارب رحمه الله دَ حضرت جابر رضي الله عنه نه روایت کولو سره دا خبره اوکړه چه زه کله دَ نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم نوهغه دَ چاشت وخت وو.(٢)

قوله: "وکان لي علیه دین": دَ اکثرو نسخو په روایت کښې هم دغه الفاظ دی. البته دَ حموی په روایت کښې "وکان له" لفظ دې. په دې صورت کښې دَ "ه" ضمیر مرجع جابر بن عبدالله رضي الله عنه دې. یعنی "وکان لجابر علی النبی صلی الله علیه وسلم دین". دا دَین دَ حضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه دَ اوښ قیمت وو کوم چه نبی کریم ﷺ دَ هغه نه اخستې وو.

اوداهم وئیلی شوی دی چه دَ حموی په دې روایت کښې دَمتکلم ضمیر نه دَ غائب ضمیر طرف ته التفات شوې دې. یعنی دَ اکثرو په روایت کښې "وکان لي" په ضمیرِ متکلم سره وو او دَحموی په روایت کښې دَ ضمیرِمتکلم نه ضمیرغائب طرفته التفات اوشو یعنی "وکان له".(٣)

علامه نووی رحمه الله فرمائی چه دا دوه رکعته دَ سفر نه واپس راتلونکی دَپاره دی کوم چه دَ تحیة المسجد نه جدا دی.(٤)

دَ حدیث دَ ترجمة الباب سره مناسبت: په دې حدیث شریف کښې دَ سفر نه دَ واپسئ ذکر نشته دې حالانکه په ترجمة الباب کښې داقید دې چه دَ سفر نه په واپسئ باندې دې دوه رکعته مونځ اوکړې شي. لیکن هم په صحیح بخاری کښې تفصیلی روایت موجود دې په کوم کښې چه دَدې خبرې تصریح هم شته چه نبی کریم ﷺ حضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه ته داحکم دَ هغه دَ سفر نه په واپس راتلو باندې ورکړې وو.(٥)

---

(١) فتح الباري: ٦٩٥/١ عمدة القاري: ٢٩٦/٤.

(٢) شرح الکرماني: ١٠٣/٤.

(٣) فتح الباري: ٦٩٥/١، عمدة القاري: ٢٩٦/٤.

(٤) شرح النووی علی صحیح مسلم، کتاب الصلاة، باب: استحباب صلاة الضحی وأن أقلها رکعتان، رقم الحدیث: ٧١٧، ٢٢٧/٥.

(٥) حدثنا محمد بن بشار، حدثنا عبدالوهاب، حدثنا عبیدالله، عن وهب بن کیسان، عن جابر بن عبدالله رضی الله عنهما، قال: کنت مع النبی صلی الله علیه وسلم فی غزاة، فَأَبطَأ بی جَمَلی وأعیاً، فأتی علی النبی صلی الله علیه وسلم، فقال: جابر؟ فقلت: نعم، قال: ما شأنُک؟ قلت: أبطأ علیّ جملی وأعیا، فتخلَّفتُ، فنزل یَحجُنُهُ بمِحجَنِه، ثم ال: إرکَب، فرکبتُ، فلقد رأیته أکُفُّه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم، قال: تزوجتَ، قلت: نعم، قال: بکراً أم ثیباً؟ قلت: بل ثیبا، قال: أفلا جاریة، تُلاعبها وتلاعبک، قلت: إن لی أخوات، فأحببت أن أتزوّجَ امرأةً تَجمَعُهُنّ، وتَمشُطُهُنّ، وتقوم علیهن، قال: أما إنک قادم، فإذا قدمت، فالکیسَ الکیسَ، ثم قال: أتبیعُ جملَک؟ ....

علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه که چرته څوك دا سوال اوکړی چه په دې حدیث او ترجمة الباب کښې څه مناسبت دې؟ (په دې توګه چه په ترجمه کښې خو دَ سفر نه په راتلو سره په جمات کښې دَ مونځ کولو بیان دې او په دې روایت کښې خو دَ سفر نه دَ راتلو ذکر نشته دې). نو ددې جواب به دا ورکوم چه دا حدیث دَ هغه اوږد حدیث یوه ټکړه ده کوم چه دَ صحیح بخاری په کتاب البیوع او نورو ډیرو ابوابو کښې موجود دې. او په هغه اوږد روایت کښې دا خبره موجود ده چه زه په یوه غزوه کښې نبی کریم ﷺ سره ووم. هم په دغه سفر کښې حضورپاك مانه دَ یوې اوقیه چاندئی بدله کښې زما اوښ واخستو. بیا رسول الله ﷺ دَ غزوې نه واپس راغلو او زه دَ سحر په وخت (دَ چاشت په وخت کښې) واپس راؤرسیدلم نو نبی کریم ﷺ مې دَ جمات په دروازه کښې اولیدلو. نبی کریم ﷺ تپوس اوکړو چه هم دې وخت راؤرسیدې؟ نوما جواب ورکړو آوجی. بیا نبی کریم ﷺ حضرت بلال ﷺ ته اوفرمائیل چه یوه اوقیه دَ چاندئی وزن اوکړه نوهغه وزن اوکړو. نو دَ (نبی کریم ﷺ په وینا باندې) ئی په وزن کښې تیټه یعنی درنه اوتلله (یعنی زما دَ قیمت نه ئی زیات ماله راکړو). ([1])

دَ حدیث مبارک نه مستفاد امور او اداب: دَدې حدیث نه ډیر فوائد مستنبط کیږی، چونکه دا ټکړه ده دَ یو اوږد حدیث، په دې وجه دَ ټولو فوائدو بیان خو به هم په متعلقه ځائې راځی. فوری به هم دَهغه حصې دَ فوائدو بیان وی کوم چه دَ ترجمة الباب لاندې ذکرده. مثلاً

① دَ سفر نه راتلونکی سړی دَپاره مستحب دی چه هغه واپس راشی نو اول دې دوه رکعته مونځ اوکړی بیا دې کور ته ځی.

② هم دَ سحر وخت کښې دَ سفر نه دَ واپس کیدو کوشش پکار دې.

③ کوم سړې چه مشر وی اودَ هغه په واپس راتللو باندې دَ خلقو خواهش وی چه هغه سره ملاقات اوکړی، زیارت اومصافحه وغیره اوکړی نو داسې سړی له پکاردی چه واپس راشی خلقو سره دې نیزدې په څه ځائی، بهتر داده چه په جمات کښې ایسار شی دې دَپاره چه خلق دَ هغه سره ملاقات اوکړی بیا دې هغه خپل کورته ځی لکه چه په مذکوره معامله کښې نبی کریم ﷺ اوکړل.

④ چه دَ قرض دَ إداکولو بندوبست وی نو په دې کښې تاخیر نه دی کول پکار فوری ادا کول پکاردی.

⑤ افضل دادی چه کله دَ چا دَ قرض ادا کړې شی نو څه دې زیاتی ورکړې شی چه دَ هغه دَ

.... قلتُ: نعم، فاشتراه منی بأوقية، ثم قدم رسول الله صلى الله عليه وسلم قبلي، وقدمتُ بالغداة، فجئنا إلى المسجد، فوجدتُه على باب المسجد، قال: الآن قدمتَ؟ قلت: نعم، قال:فدع جملك، فادخُل، فصلِّ ركعتين، فدخلتُ فصليتُ، فأمر بلالا أن يزن له أوقيةً، فوزن لى بلال، فأرجَح لى فى الميزان، فانطلقتُ حتى وَلَّيْتُ، فقال: ادعُ لى جابراً، قلت: الآن يردعليَّ الجمل، ولم يكن شيئ أبغض إلى منه، قال: خذ جملك ولك ثمنه. (صحيح البخارى، كتاب البيوع، باب: شراء الدواب والحمر، رقم الحديث: ٢٠٩٧).

[1] شرح الكرمانى: ١٠٣/٤ فتح البارى: ٦٩٥/١٢ عمدة القارى: ٢٩٥/٤.

احسان بدله شي. ليکن دا په هغه صورت کښې دی چه د مخکښې نه شرط نه وی ځکه چه که هغه زیاتوالي مشروط شو نودا به سود شي.[1]

۲۷ -بَابٌ: إِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ

داباب دې چه کله تاسو کښې یو سړې جمات ته داخل شي نو هغه له پکار دی چه د کیناستو نه وړاندې دوه رکعته (تحیة المسجد) اوکړي.

دَدې ترجمة الباب باره کښې مختلفې نسخې دی. بعضو کښې هم داسې دی ځنګه چه پورته ذکر شو او بعضو کښې دی: "إذا دخل المسجد فليركع ركعتين" او بعضو کښې دی: إذا دخل المسجد فليركع قبل أن يجلس. "فليركع" کښې فاء کلمه دَ إذا شرطیه په جواب کښې ده.[2]

دَترجمة الباب مقصد: په دې ترجمة الباب سره امام بخاری رحمه الله دَ تحیة المسجد استحباب بیانوی. چنانچه دَدې دپاره هغوی هم دَحدیث الفاظ ترجمة الباب جوړولو سره پیش کړی دی.

دَدې ترجمې دَ الفاظو یا دَ حدیث دَ الفاظو نه پنځه مسئلې ثابتیږی. دوه مسئلې دَ إذا دخل نه، یوه مسئله دَ فليركع نه او دوه مسئلې دَ رکعتین نه. دا ټولې مسئلې نمبر وار لاندې ذکرې کولې شی:

ړومبۍ مسئله: په مکروه وختونوکښې دَ تحیة المسجد حکم: دَ ټولو نه اولنۍ مسئله کومه چه دَ "إذا دخل" نه ثابتیږی هغه داده چه "إذا" ظرفیه دې دَ کوم تقاضا چه مخې ته کولو سره ظاهری مطلب دا راوځی چه کوم وخت هم په جمات کښې داخل شی نو تحیة المسجد دې اداکړی. که هغه مکروه او ممنوع وخت وی اوکه مباح وخت وی. چنانچه په دې مسئله کښې دَ ائمه کرامو اختلاف شوې. جمهور فقهاء مثلاً: امام ابوحنیفه رحمه الله [3] امام مالک رحمه الله [4] او امام

---

[1] شرح النووی علی صحیح مسلم، کتاب الصلاة، باب: استحباب صلاة الضحی وأن أقلها رکعتان، رقم الحدیث: ۷۱۷، ۲۲۷/۵. شرح الکرمانی: ۱۰۳/۴.

[2] مذکوره باب چونکه دَ کشف الباری دَ مذکوره جلد آخری باب دی. په دې وجه په دې مقام باندې دَدې امر تجدید ضروری معلومیږی چه دکشف الباری دَ پاره منتخب کړې شوې دَ "الدکتور مصطفی دیب البغا" والا نسخې مطابق دَدې باب نمبر ۲۷ دې خو په نورو نسخوکښې کوم چه فتح الباري یا عمدة القاري کښې استعمال کړې شوی دی دَ هغې مطابق دَدې باب نمبر ۶۰ دې.
عمدة القاری: ۲۹۶/۴. إرشادالساری: ۱۰۳/۲.

[3] المبسوط للسرخسی، کتاب الصلاة، باب: مواقیت الصلاة: ۱۵۳/۱. بدائع الصنائع، کتاب الصلاة، فصل: بیان مایکره من التطوع: ۲۹۶/۱. شرح مختصر الطحاوی للجصاص، کتاب الصلاة، باب المواقیت: ۵۴۲/۱.

[4] الکافی فی فقه أهل المدینة، کتاب الصلاة، باب: الأوقات التی تکره فیها عندنا النوافل: ۱۹۶/۱. التاج والإکلیل لمختصر خلیل، کتاب الصلاة، باب: فی صلاة التطوع: ۳۷۴/۲. الفواکه الدوانی علی رسالة ابن أبی زید، کتاب الصلاة، باب: أقل الشفع: ۲۰۲/۱. دَ دخول نه مراد کیناستودپاره طهارت سره داخلیدل، چه مکروه وخت نه وی نودَ کیناستو نه مخکښې مستحب دی واجب نه دی، که چرې کیناستو نو بیا هم ....

احمد بن حنبل رحمه الله (١) ددې خبرې قائل دی چه که د جمات د داخلیدو په وخت د مکروه وختونونه یو وخت نه وی نو تحیة المسجد اداکول مستحب دی اوکه چرې مکروه وخت وی نو هغه وخت تحیة المسجد اداکول ممنوع دی.

امام شافعی رحمه الله کلمه د "إذا" عموم مخې ته کیخودو سره ددې خبرې قائل دې چه د جمات د داخلیدو کوم یو وخت هم وی تحیة المسجد اداکول جائز دی.(٢)

امام احمدبن حنبل رحمه الله په مکروه وختونوکښې د تحیة المسجد په عدم جواز کښې د جمهورو سره دې لیکن د جمعې د خطبې په وخت جمات ته د داخلیدو په صورت کښې د تحیة المسجد په جواز کښې د امام شافعی رحمه الله سره دې، اود جمهورو په نیز هغه وخت هم تحیة المسجد جائز نه دی.(٣)

دویمه مسئله: تحیة المسجد صرف په داخلیدونکی باندې دې، اوکه تیریدونکی باندې هم؟:

"إذادخل" نه دویمه مسئله دا پیدا کیږی چه په کوم قسم داخلیدو سره د تحیة المسجد حکم متوجه کیږی؟ ځکه چه داخلیدل خو په عام توګه د عبادت دپاره وی اوددې نه علاوه کله صرف د مروز دپاره وی اوکله د کیناستو دپاره. نو په دې باره کښې د جمهور فقهاؤ، امام ابوحنیفه رحمه الله (٤)

.... دا فوت نه دی. (تنبيه): علم من كلام المصنف أن المار أو الداخل على غير وضوء أو في وقت نهي لا تستحب التحية في حقه صلاة، وإنما يستحب له أن يقول أربع مرات: سبحان الله والحمدلله ولا إله إلا الله والله أكبر. قال سيدي أحمد زروق: ينبغي أن يقولها في أوقات النهي، قال الحطاب: وهو حسن لمكان الخلاف، لأن التحية بمعنى الصلاة وإن سقطت لا يسقط بدلها. (الشرح الكبير للشيخ الدردير وحاشية الدسوقي، كتاب الصلاة، في بيان حكم صلاة النافلة: ٣١٣/١).

(١) المغني لابن قدامة، كتاب الصلاة، فصل: الإنصات من حين يأخذ الإمام في الخطبة: ٢٣٧/٢. المحرر في الفقه على مذهب الإمام أحمد بن حنبل، كتاب الصلاة، باب: صلاة الجمعة: ١٥٢/١. الشرح الكبير على متن المقنع، كتاب الصلاة، مسألة: ومتى سجد بعدالسلام جلس فتشهد: ٧٣٩/١. الحاوي الكبير، كتاب الصلاة، فصل: ٤٢٩/٢.

(٢) التنبيه في الفقه الشافعي، كتاب الصلاة، باب: صلاة التطوع: ٣٥/١. الوسيط في المذهب، كتاب الصلاة، الطرف الثالث في السنن والآداب: ٢٨٣/٢. البيان في مذهب الإمام الشافعي، كتاب الصلاة، مسألة: تحية المسجد: ٢٨٦/٢. المجموع شرح المهذب، كتاب الصلاة، باب: صفة الصلاة: ٢٥٥/٣. المجموع: مسائل مهمة تتعلق بصلاة الليل: ٥١/٤. أسنى المطالب في شرح روض الطالب: ٤٨٦/١.

(٣) المغني لابن قدامة، كتاب الصلاة، فصل: الإنصات من حين يأخذ الإمام في الخطبة: ٢٣٧/٢. المحرر في الفقه على مذهب الإمام أحمد بن حنبل، كتاب الصلاة، باب: صلاة الجمعة: ١٥٢/١. الشرح الكبير على متن المقنع، كتاب الصلاة، مسألة: ومتى سجد بعدالسلام جلس فتشهد: ٧٣٩/١.الإقناع في فقه الإمام أحمدبن حنبل، فصل: يسن أن يغتسل للجمعة: ١٩٨/١.

(٤) المبسوط للسرخسي،كتاب الصلاة، باب: مواقيت الصلاة: ١٥٣/١. بدائع الصنائع، كتاب الصلاة، فصل: بيان مايكره من التطوع: ٢٩٦/١. شرح مختصر الطحاوي للجصاص، كتاب الصلاة، باب المواقيت: ٥٤٢/١.

امام شافعي رحمه الله (١) او د امام احمدبن حنبل رحمه الله (٢) په نيزجمات ته داخليدل چه کوم مقصد د پاره هم وي نو تحية المسجد به مستحب به وي.
او د امام مالک رحمه الله په نيزکوم سړي چه جمات ته د عبادت وغيره د پاره داخل شي د هغه د پاره تحية المسجد مستحب دى او هغه سړي چه جمات کښې صرف تيريدل غواړي، جمات کښې د کيناستو يا په عبادت وغيره کښې د مشغوليدو اراده ئې نه وي نو د هغه د پاره دا مستحب نه دى. (٣)

دريمه مسئله: تحية المسجد واجب دى که مستحب؟: دريمه مسئله د "فليركع" نه پيدا کيږى چه دا دوه رکعته مونځ واجب دي او که مستحب؟ په دې باره کښې ظاهريه د وجوب قائل دى. (٤)

---

(١) الحاوى الكبير، كتاب الصلاة، فصل: ٤٢٩/٢. التنبيه فى الفقه الشافعي، كتاب الصلاة، باب: صلاة لتطوع: ٣٥/١. الوسيط فى المذهب، كتاب الصلاة، الطرف الثالث فى السنن والآداب: ٢٨٣/٢.

(٢) الإقناع فى فقه الإمام أحمدبن حنبل، فصل: يسن أن يغتسل للجمعة: ١٩٨/١. الشرح الكبير على متن المقنع، كتاب الصلاة، مسألة: وكتى سجد بعدالسلام جلس فتشهد: ٧٣٩/١. المغنى لابن قدامة، كتاب الصلاة، فصل: الإنصات من حين يأخذ الإمام فى الخطبة: ٢٣٧/٢.

(٣) حاشية الصاوى على الشرح الصغير، كتاب الصلاة، النوافل المندوبة والرغائب: ٤٠٥/١. الكافى فى فقه أهل المدينة، كتاب الصلاة، باب: الأوقات التى تكره فيها عندنا النوافل: ١٩٦/١. التاج والإكليل لمختصر خليل، كتاب الصلاة باب: فى صلاة التطوع: ٣٧٤/٢. الفواكه الدوانى على رسالة ابن أبى زيد، كتاب الصلاة، باب: أقل الشفع: ٢٠٢/١.

(٤) اتفق جماعة أهل الفتوى على أن تأويل هذا الحديث محمول على الندب، والإرشاد مع استحبابهم الركوع لكل من دخل المسجد، وهو طاهر، فى وقت تجوز فيه النافلة. قال مالك: ذلك حسن وليس بواجب. وأوجب ذلك أهل الظاهر فرضا على كل داخل فى وقت تجوز فيه الصلاة. وقال بعضهم: ذلك واجب فى كل وقت، لأن فعل الخير لا يمنع منه إلا بدليل لا معارض له.
قال الطحاوى: وحجة الجماعة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم أمر سُلَيْكًا حين جاء يوم الجمعة وهو يخطب أن يركع ركعتين، وأمر مرة أخرى رجلاً رآه يتخطى رقاب الناس بالجلوس ولم يأمره بالركوع، حدثنا بحُر بن نصر، حدثنا عبدالله بن وهب، عن معاوية بن صالح، عن أبى الزاهرية، عن عبدالله بن بسر قال: جاء رجل يتخطى رقاب الناس فى يوم الجمعة، فقال له رسول الله: "اجلس فقد آذيت وآنيت"، فهذا يخالف حدث سليک، واستعمال الأحاديث هو على ما تأولها عليه جماعة الفقهاء.
قال الطحاوى: وأما قول من قال من أهل الظاهر أن عليه أن يركع فى كل وقت دخل المسجد فهو خطأ، لنهيه عليه السلام عن الصلاة عند طلوع الشمس وعند غروبها وغير ذلک من الأوقات المنهى عنها، فمن دخل المسجد فى هذه الأوقات، فليس بداخل فى أمره بالركوع عند دخوله فى المسجد، وإنما يدخل فى أمره بذلک كل من لو كان فى المسجد قبل ذلک، فأراد الصلاة، كان له ذلک، فأما من لوكان فى المسجد قبل ذلک لم يكن له أن يصلى، فليس بداخل فى ذلک.
وقدروى عن جماعة من السلف أنهم كانوا يمرون فى المسجد ولا يركعون، فروى ابن أبى شيبة عن عبدالعزيز الدراوردى، عن زيد بن أسلم قال: كان كبار أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم يخرجون ....

او جمهور فقهاء كرام د استحباب قائل دى.[1]

څلورمه مسئله: دَنفل مونځ دَ کم نه کم څو رکعاته؟ دَ "رکعتين" دَ لفظ نه دا مسئله ثابتيږي چه دَ نوافلو دَ کم نه کم دوه رکعتونه دي دَ دوو رکعتو نه کم نفل نه وي چنانچه دَ انمو نه احناف[2] او دَ مالکيه[3] په نيز او دَ حنابلو په يو روايت کښې دَ يو رکعت مونځ نه وي خود شوافع[4] اوحنابله په نيز په يو روايت کښې (کوم چه علامه مرداوي صالحي رحمه الله راجح

... . ولا يصلون. قال زيد: وقد رأيت ابن عمر يفعله ، وذكر ذلك مالك عن زيد بن ثابت، وسالم بن عبدالله، وكان القاسم بن محمد يدخل المسجد، فيجلس فيه ولا يصلي وفعله الشعبي، وقال جابر بن زيد: إذا دخلت مسجداً فصل فيه، فإن لم تصل فيه، فاذكرالله فكأنك قد صليت. (شرح ابن بطال: ١١٦/٢).

[1] المبسوط للسرخسي، كتاب الصلاة، باب: مواقيت الصلاة: ١٥٣/١. بدائع الصنائع، كتاب الصلاة، فصل: بيان مايكره من التطوع: ٢٩٦/١. شرح مختصر الطحاوي للجصاص، كتاب الصلاة، باب المواقيت: ٥٤٢/١. الحاوي الكبير، كتاب الصلاة، فصل: ٤٢٩/٢. التنبيه في الفقه الشافعي، كتاب الصلاة، باب: صلاة التطوع: ٣٥/١. الوسيط في المذهب، كتاب الصلاة، الطرف الثالث في السنن والآداب: ٢٨٣/٢. الإقناع في فقه الإمام أحمد بن حنبل، فصل: يسن أن يغتسل للجمعة: ١٩٨/١. الشرح الكبير على متن المقنع، كتاب الصلاة، مسألة: ومتى سجدبعد السلام جلس فتشهد: ٧٣٩/١. المغني لابن قدامة، كتاب الصلاة، فصل: الإنصات من حين يأخذ الإمام في الخطبة: ٢٣٧/٢. الكافي في فقه أهل المدينة، كتاب الصلاة، باب: الأوقات التي تكره فيها عندنا النوافل: ١٩٦/١. التاج والإكليل لمختصر خليل، كتاب الصلاة، باب: في صلاة التطوع: ٣٧٤/٢. الفواكه الدواني على رسالة ابن أبي زيد، كتاب الصلاة، باب: أقل الشفع: ٢٠٢/١.

[2] ومحمل حديث ابن عمر عندهم الحصر في الأشفاع، يعني: لا يجوز القعود على الأكثر أو الأقل من ركعتين، وعليه حمله صاحب الهداية إذ قال: ومعنى ما رواه شفعا لا وترا. (أوجز المسالك، كتاب الصلاة، كتاب صلاة الليل، رقم الحديث: ٢٥٣، ٥٧٠/٢). قال صاحب البدائع: التنفل بالركعة الواحدة غير مشروع. (بدائع الصنائع، كتاب الصلاة، فصل: في التطوع، فصل: في بيان مقدار مايلزم منه بالشروع في صلاة التطوع: ٢٩٣/١). الهداية، كتاب الصلاة، باب: في النوافل: ٦٧/١. ولوقال: عبده حر إن صلى اليوم صلاة، فصل ركعة قطعها، لا يتحنث في يمينه، لأن المنفي باليمين فعل الصلاة، وأن يكون المفعول صلاة، فمطلق الاسم ينصرف إلى الكامل، والركعة الواحدة ليست بصلاة كاملة، لأنها لا تفيد حكم الصلاة لأنها بتيرة، فإن النبي صلى الله عليه وسلم نهى عن البتيراء والبتيراء ركعة واحدة. (المحيط البرهاني، كتاب الصلاة، الفصل الثاني عشر: في الحلف على الأفعال: ٢٧٣/٤)

[3] واستدل به أيضاً على عدم النقصان في النافلة من ركعتين في النافلة ما عدا الوتر، وقد اختلف العلماء فيه (اتفق أبوحنيفة وأبويوسف ومحمدعلى أفضلية الرباعية نهاراً كما في "شرح المهذب: ٧٥/٥" والمغني: ٧٦٥/١. واتفق الشافعي وأحمد وأبويوسف والثوري والليث على أفضلية الثنائية ليلاً. والشافعي وأحمد منهم على أفضليتها نهاراً أيضاً، وشذ مالک في القول بعدم جواز الرباعية ليلاً استدلالاً بإفادة التركيب القصر، كما حكاه ابن دقيق العيد في العمدة): فذهبت طائفة إلى المنع وهومذهب أبي حنيفة ومالك. (التعليق الممجد على مؤطأ محمد، كتاب الصلاة، باب: صلاة الليل: ٥٠٧/١). وقال ابن رشد في بداية المجتهد، والجمهور على أنه لا يتنفل بواحدة، وأحسب أن فيه خلافا شاذا. (بداية المجتهد ونهاية المقتصد، كتاب الصلاة، الباب الثالث: في النوافل: ٢١٧/١). نيل الأوطار، كتاب الصلاة، باب الوتر بركعة وبثلاث: ٤١/٣.

[4] النجم الوهاج في شرح المنهاج، كتاب الصلاة، باب: ٣١٣/٢. الإقناع في حل ألفاظ أبي شجاع، ....

گرځولې دي، نفل مونځ يو ركعت هم كيږي.(١) ليكن د تحية المسجد مونځ د دې حضراتو په نيز هم د دوؤ ركعتو نه كم نه دي.(٢)

پنځمه مسئله: دَ تحية المسجد وخت: دَ ترجمة الباب آخرى لفظ "قبل أن يجلس" يعنى جمات ته داخليدونكې دې دَ كيناستو نه وړاندې وړاندې دوه ركعته تحية المسجد اوكړى. اوس سوال

..........كتاب الصلاة، فصل: القول فيمن تجب عليه الصلاة: ١١٩/١. فتح المعين بشرح قرة العين بمهمات الدين، كتاب الصلاة، فصل: فى صلاة النفل: ١٦٩/١.

[١] قوله (وهل يصح التطوع بركعة؟ على روايتين) وأطلقهما فى المذهب، والبلغة، وابن تميم، والنظم، ومسبوك الذهب، والمستوعب، والحاوى الصغير، والزركشى، إحداهما: يصح، وهوالمذهب صححهما فى التصحيح، وابن منجا فى شرحه، قال فى الخلاصة: يصح أن يتطوع بركعة على الأصح، قال فى التلخيص: ويصح التطوع بركعة فى أصح الروايتين ونصره فى مجمع البحرين، والمجد فى شرحه وقدمه فى الفروع، والمحرر، والهداية، والرعايتين، والحاوى الكبير، الفائق وغيرهم، وجزم به فى الإفادات، ونهاية ابن رزين، ونظمها وصححه أبوالخطاب فى رءوس المسائل، الرواية الثانية: لا يصح جزم به فى الوجيز، وهى ظاهر كلام الخرقى، ونصرها المصنف فى المغنى والشرح، وقال فيه ابن تميم، والشارح: أقل الصلاة ركعتان، على ظاهر المذهب.

فائدة: قال المجد فى شرحه، وابن تميم، والزركشى، وابن حمدان فى رعايته وصاحب الحاوى، ومجمع البحرين، وغيرهم: حكم التنفل بالثلاث والخمس حكم التنفل بركعة فيه الروايتان، ولا نعلم مخالفا قال فى الفروع: ويصح التطوع بفرد ركعة. (الإنصاف فى معرفة الراجح من الخلاف للمرداوى، كتاب الصلاة، باب: صلاة التطوع: ١٩٢/٢).

فصل: قال بعض أصحابنا: ولا يزاد فى الليل على اثنين، ولا فى النهار على أربع. ولا يصح التطوع بركعة ولا بثلاث. وهذا ظاهر كلام الخرقى. وقال القاضى: لوصلى ستا فى ليل أونهار، كره وصح. وقال أبوالخطاب: فى صحة التطوع بركعة روايتان. إحداهما، يجوز، لما روى سعيد، قال: حدثنا جرير، عن قابوس، عن أبيه، قال: دخل عمر المسجد فصلى ركعة، ثم خرج، فتبعه رجل، فقال: ياأميرالمؤمنين! إنما صليت ركعة،قال: هو تطوع، فمن شاء زاد، ومن شاء نقص. ولنا، أن هذا خلاف قول رسول الله صلى الله عليه وسلم: "صلاة الليل مثنى مثنى". ولأنه لم يرد الشرع بمثله، والأحكام إنما تتلقى من الشارع، إما من نصه، أو معنى نصه، وليس هاهنا شيئ من ذلك. (المغنى لابن قدامة، كتاب الصلاة نصل: التطوعات قسمان: ٩٢/٢).

(وهل يصح التطوع بركعة)أى: بفرد، (على روايتين) كذا فى (الهداية) إحداهما: تصح، قدمها فى المحرر و الفروع ونصرها أبوالخطاب، وابن الجوزى، وهوقول عمر. رواه سعيد: حدثنا جرير عن قابوس عن أبيه عنه. ولأن الوتر مشروع، وهوركعة. والثانية: لا، جزم بها فى الوجيز وهى ظاهر الخرقى، وقواها فى المغنى، لأنه خلاف قوله عليه السلام: صلاة الليل مثنى مثنى، ولأنه لا يجزء فى الفرض، فكذا فى النفل كالسجدة، ولم يرد أنه فعل فى غير الوتر. (المبدع فى شرح المقنع، كتاب الصلاة، التطوع بركعة: ٣٠/٢). نيل المآرب بشرح دليل الطالب، كتاب الصلاة، قيام الليل: ١٦٣/١.الروض المربع شرح زادالمستقنع، كتاب الصلاة، فصل: فى صلاة الليل: ١١٨/١.

[٢] الإقناع فى حل ألفاظ أبى شجاع، كتاب الصلاة، فى من تجب عليه الصلاة: ١١٧/١. التنبيه فى الفقه الشافعى، كتاب الصلاة، باب: صلاة التطوع: ٣٥/١. الوسيط فى المذهب، كتاب الصلاة، الطرف الثالث فى السنن والآداب: ٢٨٣/٢. الإقناع فى فقه الإمام أحمد بن حنبل، كتاب الصلاة، فصل يسن أن تغتسل للجمعة: ١٩٨/١. كشاف القناع عن متن الإقناع، كتاب الصلاة، فصل: يسن أن يغتسل للجمعة: ٤٦/٢. نيل المآرب بشرح دليل الطالب، كتاب الصلاة، سنة الوضوء وتطوعات أخرى: ١٦٤/١.

دا دي چه که چرې يو سړی جمات ته داخليدو سره تحية المسجد ادا نه کړل بلکه کيناستو، بيا پاسيدو او تحية المسجد ئې اوکړه. نو دَ ده تحية المسجد به فوت ګنړلې شي که ادا به ګنړلې شي؟ چنانچه په دې باره کښې هم دَ ائمو اختلاف دې، کوم چه دلته ذکرکولې شي:
دَ احنافو (۱) اومالکيه (۲) په نيز که چرې يو سړې جمات کښې داخليدو سره کيناستو او څه وخت پس اودريدو او تحية المسجد ئې ادا کړل نو هيڅ حرج نشته، تحية المسجد به ئې صحيح شي. ليکن افضل هم دغه دی چه دَ کيناستو نه مخکښې تحية المسجد اداکړې.
دَ شوافع پـه نيزکه چرې پـه هيره سره لږ ساعت کيناستو بيا يادېدو سره ئې تحية المسجد اداکړل نو هيڅ حرج نشته. او که چرې هيرشو ترې او ډير وخته پورې کيناستو يا پـه قصد سره کيناستو لږ ساعت يا ډير ساعت، نو په هرو دواړو صورتونوکښې به تحية المسجد فوت

(۱) وفي حاشيته المسمى بحاشية الطحطاوي، قوله: سنن تحية المسجد، أي: تحية رب المسجد لأن التحية إنما تكون لصاحب المكان لا للمكان. ويستثنى المسجد الحرام، فإن تحيته الطواف، وصرح المنلا علي: بأن من دخل المسجد الحرام لا يشتغل بتحية، لأن تحية هذا المسجد الشريف هوالطواف، لمن عليه طواف، أو أراده، بخلاف من لم يرده أو أراد أن يجلس، فلا يجلس حتى يصلي ركعتين تحية المسجد اهـ قوله: بركعتين، وإن شاء بأربع والثنتان أفضل. قهستاني. قوله: "في غير وقت مكروه، في القهستاني: إذا دخل المسجد بعدالفجر أو العصر لا يأتي بالتحية، بل يسبح، ويهلل، ويصلي على النبي صلى الله عليه وسلم، فإنه حينئذ يؤدي حق المسجد، كما إذا دخل للمكتوبة فإنه غير مأمور بها كما في التمرتاشي اهـ. وفي الدر عن الضياء عن القوت: من لم يتمكن منها لحدث أو غيره، يقول: كلمات التسبيح الأربع أربعا اهـ وهي: سبحان الله والحمدلله ولا إله إلا الله والله أكبر. قوله: قبل الجلوس، هذا بيان للأولى، كما يأتي، وهذا قول العامة وهوالصحيح. وقيل: يجلس أولا ثم يصلي. قوله: "وإن كان الأفضل فعلها قبله، هذا يدل على أنهم حملوا النهي في حديث: "فلا يجلس حتى يركع ركعتين"على التنزيه. (حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح،كتاب الصلاة فصل في تحية المسجد: ۲۹۵/۱-۳۹٤). (حاشية ابن عابدين، كتاب الصلاة، باب: الوتر والنوافل: ۱۸/۲دارالفكر،بيروت). (البحرالرائق، كتاب الصلاة، أعظم المساجد حرمة: ۳۸/۲،دارالكتاب الإسلامي). (مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح، كتاب الصلاة، فصل: في تحية المسجد: ۱٤۸/۱).

(۲) "ويكره جلوسه قبل التحية حيث طلبت ولا تسقط به، وذكر سيدي أحمد زروق عن الغزالي وغيره أن من قال: سبحان الله والحمدلله ولا إله إلا الله والله أكبر، أربع مرات، قامت مقام التحية" (شرح مختصر خليل للخرشي، كتاب الصلاة، فصل: في بيان صلاة النافلة وحكمها: ۵/۲).
فالحاصل أن تحية المسجد لها ثلاثة شروط: أن يدخل على طهارة، وأن يكون مراده الجلوس في المسجد، وأن يكون الوقت وقت جواز، والشرط الثاني يفهم من قوله فلايجلس. والأصل في ذلك قوله صلى الله عليه وسلم: إذا دخل أحدكم المسجد فلا يجلس حتى يصلي ركعتين، رواه مسلم. وفي رواية: إذا دخل أحدكم المسجد فليركع ركعتين قبل أن يجلس، والنهي على الأولى للكراهة، والأمر في الثانية على جهة الندب، وورد: أعطوا المساجد حقها، قالوا: وما حقها يارسول الله؟ قال: صلاة ركعتين قبل الجلوس، وكونهما قبل الجلوس على جهة الندب، فلوجلس لا يفوتان ولو طال زمان الجلوس. (الفواكه الدواني على رسالة ابن أبي زيد، كتاب الصلاة، باب: أقل الشفع: ۲۰۲/۱). (حاشية الصاوي على الشرح الصغير، كتاب الصلاة، النوافل المندوبة والرغائب: ٤۰۵/۱).

شی.(١) دَ حنابلو په نیز که لږ شان ساعت کیناستو په هیره سره یا په قصد سره نو تحیة المسجد نه فوت کیږی. او که زیات وخت کیناستو په هیره سره یا په قصد سره نو تحیة المسجد به فوت شی.(٢)

حدیث باب [حدیث نمبر ۴۳۳] (٣)

٤٤٤ - حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ عَامِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَمْرِو بْنِ سُلَيْمٍ الزُّرَقِيِّ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ السَّلَمِيِّ (٤) أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ «إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يَجْلِسَ».

---

(١) لوجلس فى المسجد قبل التحية وطال الفصل، فاتت ولا يشرع قضاؤها بالاتفاق، كما سبق بيانه فإن لم يطل الفصل، فالذى قاله الأصحاب: إنها تفوت بالجلوس، فلا يفعلها بعده، وذكر الأصحاب هذه المسألة فى كتاب الحج فى مسألة الإحرام لدخول الحرم وقاسوا عليها أن من دخله بغيرإحرام لا يقضيه بل فاته بمجرد الدخول كما تفوت التحية بالجلوس، وذكر الإمام أبوالفضل ابن عبدان من أصحابنا فى كتابه المصنف فى العبادات: أنه لونسى التحية وجلس ثم ذكرها بعد ساعة صلاها، وهذا غريب، وقد ثبت عن جابر رضى الله عنه قال: جاء سليك الغطفانى يوم الجمعة ورسول الله صلى الله عليه وسلم قاعدا على المنبر فقعد سليك قبل أن يصلى، فقال له النبى صلى الله عليه وسلم: أركعت ركعين؟ قال: لا، قال: قم اركعهما. رواه مسلم بهذااللفظ. ورواه البخارى أيضا بمعناه، فالذى يقتضيه هذا الحديث أنه إذا ترك التحية جهلا بها أو سهوا يشرع له فعلها ما لم يطل الفصل، وهذا هو المختار، وعليه يحمل قول ابن عبدان، ويحمل كلام الأصحاب على ما إذا طال الفصل لئلا يصادم الحديث الصحيح، وهذا الذى اختاره متعين لما فيه من موافقة الحديث والجمع بين كلام الأصحاب وابن عبدان والحديث. والله أعلم.(المجموع شرح المهذب، كتاب الصلاة، مسألة مهمة تتعلق بصلاة الليل: ٥١/٤). (أسنى المطالب فى شرح روض الطالب، كتاب الصلاة، الباب السابع: فى صلاة التطوع: ٢٠٥/١). (الغرر البهية فى شرح البهجة الوردية. كتاب الصلاة، نصل: فى بيان صلاة الليل: ٣٩٥/١).

(٢) مذكرة القول الراجح مع الدليل، كتاب الصلاة، إذا تكرر خروج الإنسان من المسجد، هل تشرع كلما خروج ورجع أم لا؟: ٩١/٣. (الفروع وتصحيح الفروع، كتاب الصلاة: من دخل المسجد فى الخطبة لم يمنع من التحية: ١٨١/٣). (الإقناع فى فقه الإمام أحمد بن حنبل، كتاب الصلاة، فصل: يسن أن يغتسل للجمعة: ١٩٨/١).

(٣) مذکوره حدیث چونکه د کشف الباري دمذکوره جلد آخری حدیث دی په دی وجه په دی مقام باندې دَدی امر تجدید ضروری معلومیږی چه دَ کشف الباري دَ پاره منتخب کړی شوی دَ الدکتور مصطفی دیب البغاء والا دَ نسخې مطابق دَدی حدیث نمبر ۴۴۴ دی خو په نورو نسخوکښې کوم چه فتح الباري یا عمدة القاري کښې استعمال کړی شوی دی دَ هغې مطابق ددې حدیث نمبر ۴۳۳دی.]

(٤) أخرجه البخارى فى صحيحه أيضا: فى التهجد، باب: ماجاء فى التطوع مثنى مثنى، رقم الحديث: ١١٦٣. ومسلم فى صحيحه: فى صلاة المسافرين، باب: استحباب تحية المسجد بركعتين وكراهة الجلوس قبل صلاتهما، وأنها، مشروعة فى جميع الأوقات،رقم الحديث: ٧١٤. وأبوداؤد فى سننه، فى الصلاة، باب: ماجاء فى الصلاة عند دخول المسجد، رقم الحديث: ٤٦٨-٤٦٧. والترمذى فى جامعه: فى الصلاة، باب: ماجاء إذا دخل أحدكم المسجد فليركع ركعتين، رقم الحديث: ٣١٦. والنسائى فى سننه: فى المساجد، باب: الأمر بالصلاة قبل الجلوس فى المسجد، رقم الحديث: ٧٣١. وفى جامع الأصول، حرف الصاد، الكتاب الأول: فى الصلاة، القسم الثانى: من كتاب الصلاة: فى النوافل، الفصل الرابع: فى صلوات متفرقة، تحية المسجد، رقم الحديث: ٢٤٥٣، ٢٤٨/٦.

دَ حديث ترجمه: دَ حضرت ابوقتاده سلمى رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه کله په تاسو کښې يو سړې جمات ته داخل شى نوهغه له پکاردى چه دَ کيناستو نه مخکښې دوه رکعته مونځ (تحية المسجد) اوکړى.

تراجم رجال: دَ مذکوره روايت په سند کښې پنځه رجال دى:

① عبدالله بن يوسف رحمه الله: دا عبد الله بن يوسف التنيسى دمشقى رحمه الله دې. دَ دوى مختصر احوال کشف البارى، کتاب بدء الوحى دويم حديث او تفصيلى احوال کشف البارى، کتاب العلم، باب: ليبلغ العلم الشاهد الغائب لاندې تير شوى دى.(١)

② مالك رحمه الله: دا مالك بن انس بن مالك بن ابى عامر المدنى رحمه الله دې دَ دوى تذکره کشف البارى، کتاب بدء الوحى دَ دويم حديث او تفصيلى احوال کتاب الإيمان، باب: من الدين الفرار من الفتن لاندې تيرشوې دې.(٢)

③ عامر بن عبدالله بن الزبير رحمه الله: دا ابو الحارث عامر بن عبدالله بن زبير بن العوام قرشى اسدى رحمه الله دې. دَ دوى تفصيلى احوال کتاب العلم، باب: إثم من كذب على النبى صلى الله عليه وسلم دَ دويم حديث لاندې تيرشوى دى.(٣)

④ عمرو بن سليم الزرقى رحمه الله: دَ دوى پوره نوم عمرو بن سُليم بن خلده بن مَخلد بن عامر ابن زُريق الزُرَقِي انصارى مدنى رحمه الله دې. دوى چه دَ کومو مشايخو نه دَ حديث روايت کوى په هغوى کښې ابوقتاده، ابوسعيد خدرى، ابوهيره، عبدالله بن زبير، عبدالله بن عمر بن خطاب، سعيد بن مسيب، عاصم بن عمرو المدينى، عبدالرحمن بن ابى سعيد خدرى، ابوحميد ساعدى رضی الله عنهم وغيره شامل دى.

اودَ دوى نه روايت کونکو کښې عامر بن عبدالله بن زبير، بکير بن عبدالله بن الاشج، زيد بن ابى عتاب، سعيد بن ابى سعيد المقبرى، عبدالله بن ابى بکر بن محمد بن عمرو بن حزم، عبدالله بن ابى سلمه الماجشون، عبدالله بن عامرالاسلمى، عبيدالله ابن عالمگيره بن معيقيب، عثمان بن ابى سليمان، ابوبکر بن محمد بن عمرو بن حزم، ابوبکر بن المنکدر او پخپله دَ هغوى ځوئى سعيد بن عمرو بن سُليم الزرقي وغيره رحمهم الله شامل دى.

محمدبن سعد رحمه الله دَ هغوى باره کښې فرمائى: كان ثقة، قليل الحديث. امام نسائى رحمه الله دَ

---

(١) کشف البارى: ١/٢٨٩، ١١٣/٤.
(٢) کشف البارى: ٢/١٨٠/٢٩٠.
(٣) کشف البارى: ١٦٢/٤.

هغوی باره کښې فرمائی: ثقة. امام عجلی رحمه الله د هغوی باره کښې فرمائی: مدنی تابعی ثقة. ابن حبان رحمه الله د هغوی ذکر کتاب الثقات کښې کړې دې. علامه ذهبی رحمه الله د دوی باره کښې فرمائی: ماعلمت فیه شیئا یشینه. ابن حجر رحمه الله فرمائی: ثقة من کبار التابعین.(۱)

⑤ ابی قتادة السلمی رضی الله عنه: دا صحابئ رسول حضرت ابو قتاده انصاری سلمی رضی الله عنه دې. د دوی تفصیلی احوال کشف الباری، کتاب الوضوء، باب: النهی عن الاستنجاء بالیمین لاندې تیرشوی دی.(۲)

د حدیث شرح: د مذکوره حدیث شریف ټول الفاظ چونکه هم د ترجمة الباب حصه وه، په دې وجه متعلقه مباحث د ترجمة الباب د تشریح لاندې بیان کړې شوی دی. علاوه د دې نه چه "إذا دخل أحدکم المسجد" په دې حکم کښې دا خبره شامل ده چه هغه دې په اودس کښې هم وی ګنی اول دې اودس اوکړی بیا دې تحیة المسجد ادا کړی.(۳)

قوله: فلیرکع: معنی "فلیصل" ده. جزء وئیلو سره کل مراد اخستې شوې دې.(۴)

قوله: رکعتین: دې نه مراد تحیة المسجد دې او د دې تثنیې په لفظ سره دا لا زم نه راځی چه د دوؤ رکعتونه زیات کول جائز نه دی. البته د دوؤ رکعتو نه کم کولو باره کښې د فقهاؤ اختلاف دې او معتبر خبره داده چه تحیة المسجد د دوؤ رکعتو نه کم ادا کول جائز نه دی.(۵)

د حدیث مبارکه د ترجمة الباب سره مناسبت: د مذکوره حدیث شریف د ترجمة الباب سره مناسبت بالکل واضح دې د هیڅ قسم اخفاء نشته دې.

(۱) تهذیب الکمال: ۵۵/۲۲، التاریخ الکبیر للبخاری: ۶ / الترجمه: ۲۵۵۹، ثقات العجلی، ص: ۴۲، الثقات لابن حبان: ۱۶۷/۵، الکاشف: ۲ / الورقه: ۱۰۰، تاریخ الإسلام: ۴۰/۴، میزان الاعتدال: ۳ / الترجمة: ۶۳۸۰، تهذیب التهذیب: ۴۴-۸/۴۵، تقریب التهذیب: ۷۱/۲.

(۲) کشف الباری، کتاب الوضوء، باب: النهی عن الاستنجاء بالیمین، ص: ۴۱۱.

(۳) إرشادالساری: ۱۰۳/۲.

(۴) تحفة الباری: ۴۸۹/۲.

(۵) التوضیح لابن الملقن: ۴۸۳/۵ عمدة القاری: ۲۷۱/۴.